نیکی کی دعوت (پشتو)

د نیکئ دعوت

(حصه اوّل)

د فیضانِ سُنّت
د دویم جِلد
یو باب



شیخِ طریقت امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی حضرتِ علّامہ مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِری رَضَوِی

دامت برکاتہم العالیہ

د نیکئ دَعوت

د فیضانِ سُنَّت د جِلد ۲ یو باب

شیخِ طریقت، امِیرِ اَہلِسُنَّت، حضرتِ علّامہ مولانا اَبُو بِلال

محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي دَامَت بَرَکَاتُہُمُ العَالِیَہ

پیشکش:

مجلسِ تَراجِم دعوتِ اسلامي

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگراں
پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: +92-21-111-25-26-92 – **Ext.** 7213
Email: translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب نوم:	د نیکۍ دَعوت
اول ځل:	رجب المرجب ، ١٤٣٩ هجری (April, 2018)
پیشکش:	مجلسِ تراجِم (دعوتِ اِسلامي)
ناشِر:	مَکْتَبَةُ الْمَدِینه
تعداد:	3000

د کتاب لوستلو دُعا

دِیني کتاب یا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندینۍ دُعا لولۍ اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی څه چه لولۍ هغه به مو یاد پاتې کیږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَ انْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَ الْاِكْرَام

ترجمه: اے الله (عَزَّوَجَلَّ) په مونږه د عِلم او حِکمت دروازې برسیره [یعني بیرته] کړې او په مونږه خپل رَحمت رانازل کړې! اے عَظَمت او بزرګۍ والا !

(مستطرف ج١، ص٤٠ دار الفکر بیروت)

(اول آخِر یو یو ځل دُرود شریف ولولۍ)

یاد داشت

د لوستلو په دوران کښې ضرورورتاً کرښه [یعني نښه] کوئ، اشاره او صفحه نمبر لیکئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په عِلم کښې به مو ترقي کیږي.

عُنوان	صفحه	عُنوان	صفحه

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

د دې کتاب په باره کښې اَهم مدني ګلونه

د خَاتَمُ المُرسَلِین، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دې: "د قیامت په ورځ به د ټولو نبیانو نه زیات زما اُمَّت وي." (مُسلِم ص۱۲۸ حدیث۳۳۱) مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي:د جَنّتیانو به ۱۲۰ صفونه وي چه په هغې کښې به ۸۰ صفونه د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ اُمَّت وي په باقي څلویښتو صفونو کښې به د ټولو نبیانو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اُمَّتونه وي. مفتي صاحب یو بل ځائ لیکي: څنګه چه حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نَبیانو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام سردار دې، هم دغسې د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّت د ټولو اُمَّتونو سردار دې. (مِراٰۃُ المناجیح ج ۸ ص۵۸۶،۵)

د اللّٰہُ رَبُّ العٰلَمِین جَلَّ جَلَالُہٗ په کروړونو کروړونو احسانونه دي چه هغه مونږه انسانان او مسلمانان جوړ کړي یو او د خپل خوږ حَبِیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اُمَّت کښې ئې پیدا کړي یو. اللّٰہ تعالٰی چه دې اُمَّت ته کوم رِفعَت و مَنزِلت [اوچت والې او لوئې والې] شان او عَظَمت او سعادت او شرافت ورکړې دې د هغې یوه وجه د دې اُمَّت اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر (یعني د نیکئ حکم ورکول او د بدو نه د منع کولو) فریضه ادا کول هم دي. چنانچه د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ کړې شوي د ترجمې والا پاکیزه قرآن" کَنزُالاِیمان مع خزائِنُ العِرفان" صفحه ۱۲۹پاره ٤ سُوْرَۃُ آلِ عِمران آیت نمبر ۱۱۰ کښې ارشاد کیږي:

کُنْتُمْ خَیْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْکَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو غوره ئې په هغه وارو اُمَّتونو کښې چه په خلقو کښې ښکاره شوي، د نیکئ حکم ورکوئ او له بدئ نه منع کوئ او په اللّٰہ (تعالٰی) ایمان لرئ.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! هر مسلمان په خپل خپل ځائ مُبَلِّغ دې که هغه د هرې شُعبې سره تعلق لري، یعني که هغه عالِم وي او که مُتَعَلِّم (یعني طالِبِ عِلم) وي، که د جُمات اِمام وي او که مُؤَذِّن، که پیر وي او که مُرید، که تاجِر وي او که خریدار، که مالِك وي او که نوکر، که افسر وي او که مزدور، که حاکِم وي او که محکوم، غرض دا چه که هغه هر ځائ اوسي یا کار روزګار کوي، د رضائے اِلٰهي د پاره دِ د ښو ښو نیتونو سره د خپل صلاحِیَّت مُطابِق خپل خوا و شا ماحول د سُنّتونو مطابق د جوړولو کوشش جاري ساتي. او د نیکئ د دعوت مَدَني کار دِ جاري ساتي، خو افسوس! په دې زمانه کښې په دې عظیم

www.dawateislami.net

مدني کار کښې ډیره زیاته سُستي کیږي، دا سُستي په تیزئ کښې د بدلولو د پاره د تبلیغ قرآن و سُنّت عالمګیر غیرسیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د ډکو اجتماعاتو، د مدني قافلو، د نیکۍ د دعوت علاقائي دوره، د مدني تربیتي کورس، د فرض عُلوم کورس، د مدني چینل او د **فیضانِ سُنّت** د درس وغیره په ذریعو په عملي کار کښې په ډیره ښه طریقه مصروف دي. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دې لیك د وخته پورې د فیضانِ سُنّت پینځه بابونه (۱) فیضانِ بِسمِ الله (۲) آدابِ طعام (۳) د خیټې قفلِ مدینه (٤) فیضانِ رَمَضان او (٥) غیبت کی تباه کاریاں په منظرِ عام راغلي دي، اوس شپږم باب "**د نیکۍ دعوت** (حصّه اوّل)" ستاسو په لاسو کښې دې چه په دې کښې د نیکۍ د دعوت د ورکولو اَهَمِّیَّت او فضیلت او د نه ورکولو د نقصانونو بیان دې (دا باب ډیر لوئ دې په دې کښې د نبیانو حِکایات ، د نیکۍ د دعوت دپاره د صحابه کرامو قربانئ، د کرامت په ذریعه د نیکۍ دعوت، د مکتوباتو [یعني خطونو] په ذریعه د نیکۍ دعوت، د وفات نه پس د نیکۍ دعوت او ماشومانو مُبلِّغِینو وغیره باندې د کار کولو نیّت دې، د مرګ څه وخت نه دې معلوم، الله تعالیٰ دِ زما ګران مجلِس "اَلْمَدِینَةُالْعِلْمِیَّه" سلامت او باکرامت لري. دې مجلِس ته وصیت کووم چه زما نه پس هم دا کار جاري وساتي او ذکر کړې شوي موضوعات مکمل کړي او دا په فیضانِ سُنّت کښې شامِل کړي. دا کتاب په ۱۲۵ قرآني آیتونو، د مدني آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ۲٤۹ ارشاداتو، په ۱۱۳عبرتناکو حِکایتونو، په ٥۱ مَدَني سپرلو او په مُختلِفو موضوعاتو باندې په سوونو مدني ګلونو ښکلې کړې شوې دې. د الله تعالیٰ د رحمت نه اُمّید دې چه د دې کتاب په لوستو سره به په اسلامي ورونړو او اسلامي خویندو کښې د نیکۍ د دعوت د عظیم مدني کار جذبه نوره هم زیاته شي. دا کتاب د غلطیانو نه د بچ کولو د پاره ډیر کوشش شوې دې او د دعوتِ اسلامي په انتِظام کښې چلیدو والا دارُالاِفتاء اهلِسُنَّت د مُفتي صاحب نه باقاعِده د دې شرعي تفتیش هم شوې دې. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما کوشش وي چه زما کتابونه، رِسالې او نعتیه کلامونه د عُلماءِ کرام د نظر نه د تیریدو نه پس منظرِ عام ته راوړې شي، د غلطیانو نه یریږم چه چرې داسې ونشي چه څه غلطه مسئَله چاپ شي او خلق په هغې عمل کوي او **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په آخِرت کښې پرې زه ونیولې شم. بهر حال خپل کوشش پوره کووم خو بیا هم کیدې شي چه غلطیانې پکښې پاتې شوي وي، لِهٰذا که په دې کښې څه شرعي غَلَطي اومومئ نو مهربانئ وکړئ او د ثواب په نیّت ما ته ضرور بِالضَّرور خبر وکړئ او ځان د اجرِ عظیم حقدار جوړ کړئ. **اِنْ شَآءَالله تعالیٰ** سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ به بې وجه په خپله خبره پورې نه نښلي بلکه د شکریه سره به رُجوع کوي.

www.dawateislami.net

د عطّار درخواست: د ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خویندو په خدمت کښې مدني عرض دې چه د دې مبارك کتاب په ذریعه د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ حاصلولو د پاره د ښو ښو نیّتونو سره هره ورځ کم نه کم دوه درسونه ورکوئ (په دې کښې یو په کور کښې ضرور ورکوئ) یعني په دوه مُختلفو وختونو کښې ئې لولئ او مسلمانانو ته ئې اَوروئ که د چا په زړه اَثر وشو او هغه د قرآن او سُنَّت په لاره روان شو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ستاسو به هم بیړئ پورې اُوځي. **رَسُولِ اکرم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: که الله تعالٰی ستا په ذریعه کوم یو کس ته هدایت ورکړي نو دا ستا د پاره د دې نه ښه ده چه ستا سره سره اوښان وي. (مُسلِم ص۱۳۱۱ حدیث ۲٤۰٦)

حضرت علّامه یحیٰی بن شَرَف نَوَوِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ نَبَوِي په شرح کښې لیکي: سره اوښان به د عَرَبو ډیر قیمتي مال ګڼړلې شو، ځکه د مثال په طور د سرو اوښانو ذکر شوې دې. د آخرت د معامِلاتو په باره کښې دَ دُنیائي ځیزونو مثال ورکول صرف د پوهه کولو د پاره دې، ګڼې حقیقت دا دې چه د همیشه باقي پاتې کیدونکي آخِرت یوه ذرّه هم دَ دُنیا او د دې په شان که څومره هم دُنیاګانې تَصَوُّر کړې شي، د هغه ټولو نه غوره ده. (شَرحِ مُسلِم لِلنَّوَوِی ج ۱۵ ص ۱۷۸)

دُعائے عطّار: یا ربِّ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه څوك هره ورځ د **فیضانِ سُنّت** دوه درسونه ورکوي یا اوري او په پینځه ویشت ورځو کښې دننه دننه دا کتاب (د نیکۍ دعوت (حصّه اوّل)) هم د اوّل نه د آخِرې پورې ولولي هغه ته په ایمان باندې اِستِقامت، په ځنکدن کښې د سرورِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار، د کلِمه وئیلو سره د دُنیا نه سفر، په قبر و حشر کښې آرام او په خپل رحمت د بې حسابه بخښلو سره په جَنَّتُ الفِردوس کښې د خپل مَدَني حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ ورنصیب کړې او د سګِ مدینه عُفِیَ عَنْہُ معاوِنینو، مُفتِّشِینو عُلمائے دین، د مجلس مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه د نګران او اراکینو او د مکتبې د مدني عملې په حق کښې هم دا ټولې دُعاګانې قبولې کړې او د ټول اُمَّت بخښنه اُوفرمائې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ہے تجھ سے دعا ربِّ رحمت، مقبول ہو فیضانِ سنت　　گھر گھر مسجد مسجد پڑھ کر اسلامی بھائی سناتا رہے

دا مې دُعا ده اے ربه د رَحمت، مقبول کړې فیضانِ سُنَّت
چه ئې درس ورکوي اسلامي ورونړه کور په کور، جُمات جُمات

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

"یا الله! فیضانِ سُنّت ډیر عام کړې"
د ۲۳ حروفو په نسبت د دې کتاب د لوستلو ۲۳ نیّتونه

فرمانِ مُصطفی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ د مسلمان نِیّت د هغه د عمل نه غوره دې. (اَلْمُعجَمُ الکَبِیر لِلطَّبَرانی ج٦ ص١٨٥ حدیث٥٩٤٢)

دوه مدني کلونه: (1) د ښه نیّت نه بغیر د یو عَمَلِ خیر ثواب هم نه کیږي.
(2) څومره چه ښه نیّتونه ډیر وي هغه همره ثواب هم ډیر کیږي.

(١) هر ځل به د حمد (٢) درود (٣) تَعوُّذ او (٤) تسمیه [یعني بِسمِ الله] نه شروع کووم (په دې صفحه باندې ورکړې شوي د دوه عربي عباراتو لوستلو سره به په څلورو واړو نیّتونو عمل وشي) (٥) د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د پاره به دا کتاب د اوّل نه تر آخرې پورې لوَلَم (٦) په کوشش سره به دا په اوداسه کښې او (٧) مخ په قبله لوَلَم (٨) د قرآني آیاتو او (٩) احادیثِ مُبارکه دیدار به کووم (١٠) کوم کوم ځائ چه به د "الله" پاك نوم راځي هلته به [تعالٰی] یا عَزَّوَجَلَّ او (١١) کوم کوم ځائ چه د "حضور" مبارك نوم راځي هلته به صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وایم (١٢) شرعي مسائِل به زده کووم (١٣) که په کومه خبره پوهه نه شوم نو د عُلَماؤ نه به تپوس

www.dawateislami.net

وکړم (١٤) د حضرت سُفیان بن عُیَینه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې قول ”عِندَ ذِکْرِ الصَّالِحِیْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ“ یعني ”د نیکو خلقو تذکِره کولو [یعني یادولو] په وخت کښې رحمت نازلیږي.“ (حِلیَةُ الاولیاء ج7ص335رقم 10750) باندې به عمل کووم او د صالِحِینو بَرَکتونه به حاصلووم. (١٥) (په خپله ذاتي نُسخه به) د ضرورت مطابق خاص خاص مقاماتو کښې نښې لګووم (١٦) (په خپله ذاتي نُسخه به) د ”یاد داشت“ والا په صفحه باندې ضروري نکات لیکم (١٧) د کتاب مکمل لوستلو د پاره به د عِلمِ دِین د حاصلولو په نیّت هره ورځ یو څو صفحې لوَلَم او دَ علمِ دِین د حاصلولو په ذریعه به د ثواب حقدار جوړیږم (١٨) نورو ته به دَ دې کتاب د لوستلو ترغیب ورکووم (١٩) په دې حدیثِ پاك تَهَادَوْا تَحَابُّوْا یعني یو بل له تحفه ورکوئ په خپل مینځ کښې به مو محبَّت زیاتیږي (موطاامام مالك ج٢ ص٤٠٧ رقم ١٧٣١) باندې د عمل کولو په نیّت به (یو یا د خپل وس مطابق زیات) دا کتابونه اخلم او نورو ته به ئې په تُحفه کښې ورکووم (٢٠) چه چا له کتاب ورکووم نو چه څومره کیدې شوه هغه له به هدف [نیتې] هم ورکووم چه تاسو دا کتاب په دومره ورځو کښې (مَثَلًا په ٢٥) ورځو کښې دننه دننه مکمّل ولولئ (٢١) چه څوك ئې نه شي لوستلې هغوئ ته به ئې زده کووم (٢٢) د دې کتاب د لوستلو ثواب به ټول اُمَّت ته بخښم (٢٣) که په کتاب وغیره کښې مې څه غلطي اوموندله نو چاپ کوونکو ته به په لیکلي صورت کښې خبر ورکووم (چاپ کوونکو او لیکونکي وغیره ته د کتابونو غلطیانې صرف په خُله وئیل خاص فائِده مند نه وي)

www.dawateislami.net

فهرست

د نیکئ د دعوت ضرورت 1

د بخښنې ډکه اجتماع 1

د جُمات د آبادَوَلو درې فَضائِل 1

الله د هیڅ چا محتاجه نه دې 2

په قرآن کښې د نیکئ د دعوت حُکم 3

هر کس دِ د خپلې مرتبې مطابق دعوت ورکوي 4

هر مسلمان مُبَلِّغ دې 4

افضل عمل هغه دې چه د هغې فائِده نورو ته ورسي 5

د ګناهونو په ژوند پښیماني 6

د ګناهونو دارُو 7

خوره ځښه او مزې کوه! 8

د دُنیا نه خوښولو ښکلې سبب 9

د اسلام به صرف نوم پاتې شي 10

صرف د نوم مسلمانان به پاتې شي 10

د کفنونو غل چه غیبي آواز واوریدو 11

آیا غیرمُسلم هم ځان زمونږ په شان جوړوي؟ 12

ناکامه عاشِق 13

د غیر شرعي عِشقِ مجازي تباهیاني 15

د یوسف عَلَیْهِ السَّلَام لَمَن د عِشقِ مجازی نه پاکه ده 16

د نادانو عاشقانو رد وشو 17

د اِمام اوزاعي ژړوونکې بیان 18

اِمام اوزاعي خوك وو 20

په خوب کښې د ربّ مهربانئ 20

د وفات عجیبه واقِعه 21

شرابي راغې مُؤَذِّن جوړ شو! 21

د بیان شوي مَدَني سپرلي په ذریعه د نیکئ دعوت 23

څه چه پخپله خورئ او اغوندئ هغه خادِمانو ته هم ورکوئ 24

عَظیمُ الشَّانه پښیماني او عجیبه کَفّاره 24

اَبُوذر غِفاري د پرهیزګارئ نمونه وو 25

دَ سَیِّدُنا اَبُو ذر غِفاري اِستِقامَت 26

قیامت ته نزدې به یو یَروونکې ځناور را اُوځي 26

خبرې کوونکې د عجیبه شکل ځناور 27

چه څوك په ژړا شو هغه به جَنَّت کښې داخلیږي 28

قابِلِ رشك مَدَني ماشوم 28

آقا ﷺ په ژړا ژړا د نیکئ دعوت ورکړو 30

د قبر په لیدو به عُثمانِ غني ژړا فریاد کولو 31

د چا قبر باغ او د چا په قبر کښې اور 32

د قبر تنهائي 32

ځواني دِ په دوکه کښې وانه چوي 33

قَلبِ سلیم څه ته وائي 34

د پینځو سره محبَّت او د پینځو نه غفلت 35

دَ سَندرو او سازونو نه تَوبه رانصیب شوه 36

د نیکئ دعوت ورکولو کښې د الله تعالٰی د یَرې نه په ژړا شو 37

څوك چه په ژړا اُووِینې نو په ژړا شه 38

رِیاکار د بیوقوفو سردار دې 39

اَعمال به ضائِع شي 40

دَ ریاکارئ عمل نه قبلیږي 41

په ریاکار باندې جَنَّت حرام دې 41

د ریاکارئ مِثال 42

د رِیا تعرِیف 43

د ریاکارئ ۸۰ مثالونه 43

د لـمانځه مُتَعَلِّق د ریاکارئ ۱۱ مثالونه 43

د مُبَلِّغِینو د پاره د ریاکارئ ۱۸ مِثالونه 44

نعت شریف لوستونکو او اوریدونکو د پاره د ریاکارئ مثالونه 47

د الله تعالٰی په لار کښې د خرچ کوونکو د پاره د رِیاکارئ ۳ مِثالونه 50

د رِیاکارئ مُتَعَلِّق مختلِف ۳۲ مثالونه 50

د رِیا د تعرِیف مُتعَلِّق په ذِکر کړې شوو مثالونو غور وکړئ 55

د رِیاکارئ د مِثالونو په باره کښې یو ضروري وَضاحت 55

ځان د رِیاکارئ د عَذاب نه او یَرَوئ! 55

د رِیاکار نښې 57

د خلقو په مخکښې خپله غَندَنه کول [ځان ته بَد وئیل] 57

هُم د رِیا نښه ده 57

د روژې په باره کښې تپوس مه کوئ 57

www.dawateislami.net

فهرست

ضرورتاً روژه ښکاره کولې شئ 57
د نیکئ په سبب څیزونه ارزان په لاس راتلَل..... 58
د مُخلِصانو د رِیا نه د بچ کیدو انداز..... 58
چرې مونږ رِیاکار خو نه یو؟..... 59
د رِیاکارئ نه د توبه کولو بَرَکت 60
د رِیا د مرض عِلاج وکړئ 60
"د اِخلاص رنړا" د لسو حُروفو په نِسبت د رَیاکارئ لس عِلاجونه . 61
(وړومبې عِلاج) د الله تَعَالٰی نه د دُعا په ذرِیعه مدد غواړئ..... 61
(دویم عِلاج) د رِیاکارئ په نُقصانونو نظر ساتئ..... 62
د ښودنې د پاره د عمل کوونکي مِثال..... 63
(دریم عِلاج) د رِیا سببونه ختم کړئ 64
(۱)د شُهرت خواهِش 64
داسې فِکرِ مدینه وکړئ 64
خپل د دروغو صِفَت خوښول حرام دي 65
(3) د مال او دولت حِرص 66
(څلورم عِلاج) په خپلو اعمالو کښې اِخلاص پیدا کړئ..... 67
دَ اِخلاص نه بغیر ثواب نه کیږي 67
د مُخلِص اعمال الله تَعَالٰی مشهوروي..... 68
مُخلِص څه ته وائي؟ 68
(پینځم عِلاج) د نِیَّت حِفاظت وکړئ 69
دَ نِیَّت تعرِیف 70
د "چل مدینه" د ووه حروفو په نِسبت د ښه نِیَّت 70
په فضیلت باندې مُشتمِل ووه فَرامِینِ مُصطفٰی ﷺ 70
(شپږم عِلاج) د عِبادت په دوران کښې د شیطاني وسوسو نه
بچ اوسئ 71
په عِبادت کښې د وَسوسو نه د خلاصي د پاره درې څیزونه
ضروري دي 71
(ووم عِلاج) که یواځې ئې او که په ګنړه کښې ئې یو شان عمل
کوئ 72
اِمام دِ په سِرّي لـمونځ کښې هم د قَواعِدِ تَجوِید خیال ساتي 73
(اتم عِلاج) نیکئ پټې کړئ 73
پټ عمل غوره دې..... 74
د عمل ښکاره کولو یو صورت 74
د عاجِزئ اِنتِها..... 75
د بَصرې د هرې کُوځې نه به د تِلاوت آواز راتلو..... 75
اوس خو په نه کوونکي عمل کښې هم رِیاکاري کیږي..... 75
(نَهَم عِلاج) صِرف په ښه صُحبت کښې اوسئ 76
د صُحبت د فوري اثَراتو مِثالونه 77
د ښه او بَد صُحبَت اَثَرات 77
د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول..... 78
د زړه او پوزې د مرض نه خلاصې..... 78
د عَجوه کجورې په هډوکي د زړه عِلاج 80
مَدَني اِنعامات 81
په مدني اِنعاماتو عمل کوونکو د پاره عظِیم زیرې 82
(لَسم عِلاج) د آورادو او وَظائِفو معمول جوړ کړئ..... 82
که د عِلاج باوجود آرام را نه شي نو بیا؟..... 84
د عِبادت تعرِیف..... 85
د رِضائے رَبُّ الانام جَلَّ جَلالُهٗ هر کار عِبادت دې..... 85
د عمل د قبولِیَّت شرطونه..... 86
د هر عمل دارومدار په نِیَّت دې..... 87
د ښو نِیَّتونو مُتَعَلِّق ۲ فَرامَینِ مُصطفٰی ﷺ 87
نِیَّت څه ته وائي..... 87
مُباح کار د ښه نِیَّت په وجه عِبادت شي 87
په مُباح کار کښې ښه نِیَّتونه نه کوونکي په نُقصان کښې دي.... 88
د نِیَّت نه کولو نُقصان او د کولو د فائِدې رِوایت..... 88
(۱) عَجِیبه غوا..... 90
(۲) د ګنې خوږ او یَخ شربت..... 90
دَ نِیَّت مُتَعلِّق یوه معلوماتي فتوی 91
د ښو نِیَّتونو توفِیق چا ته نصیب کیږي 92
بَیتُ الخَلا ته په داخلیدو کښې هم [ښه ښه]..... 93
نِیَّتونه کول پکار دي 93
پخوانو مسلمانانو به باقاعِده عِلمِ نِیَّت زده کولو..... 93
د غار عابِد..... 94
د نِیَّت په بَرَکت د بخښنې ښکُلې حِکایت..... 94
ښه نِیَّتونه مشکِل دي د دې نه خو په شا باندې کوړې خوړل
اسان دي 94

www.dawateislami.net

فهرست

د دُنیاوي نِعمتونو په وجه به د آخِرت په نِعمتونو کښې کمې راځي .. 95
د خوشبو لګولو نِیَّتونه 96
د خوشبو لګولو د غلطو نیتونو طرف ته توجُّه 97
په مَدَني قافِله کښې د سفر د نِیَّت بَرَکت..... 97
چه وروڼو ئې ګڅه ځپلئ په ښپو کړه نو..... 99
د پیزار په ښپو کولو نِیَّتونه..... 99
لوټه مخ په قِبله شوه 100
د ښو خلقو نقل هُم ښه وي..... 101
د "چل مدینه" د ووه حُروفو په نِسبت د پیزار په ښپو کولو ووه
مدني ګلونه 101
د اعلیٰ حضرت په خِدمت کښې سوال..... 103
د اعلیٰ حضرت جواب..... 103
د سرو اُوښانو نه څه مُراد دې 104
په مَدَني قافله کښې د سفر ٤٤ نِیَّتونه..... 105
د اُمَّتِ مُصطفٰی ﷺ خُصوصِیَّت 108
اَ لْحَمْدُلِلّٰه مونږه خوش نصیبه یو..... 108
د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر تعریف..... 109
د مُسلمانانو یو غټ شمیر په بې عَمَلئ کښې ګیر دې..... 110
د ګناه کوونکو په وَجه نورو ته هُم نُقصان 110
جُمات ته جندره [یعني تالا] لګیدلې وه 111
د جُمات حیرانوونکي ابادیدل..... 112
د جَمعي د لـمونځ عجیبه جذبه 112
بوډا په ژړا شو 114
د ټولو نه مخکښې څه زده کول فرض دي؟..... 114
د غُسل طرِیقه (حَنَفی) 116
د غُسل درې فرائِض..... 117
(١) خُله وینځل (یعني په خُله کښې اوبه اچول) 117
(٢) په پوزه کښې اوبه خیژول..... 118
(٣) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهیول..... 118
په روانو اوبو کښې د غُسل طریقه 119
فَوّاره د جاري اوبو په حکم کښې ده..... 119
دَ فَوّارې احتیاطونه 119
د W.C رُخ صحیح کړئ..... 120
غُسل کول کله سُنّت دي؟..... 120
په باران کښې غُسل 120
د تنګ لِباس والا طرف ته کتل څنګه دي؟ 121
په بربنډه لامبلو کښې ډیر احتیاط 121
په بالتي د لامبلو په وخت کښې احتیاط 121
ټول کلې ګیره خَرَئیلې!..... 121
جُمات اباد ساتل واجِب دي 122
په ځنګل کښې جُمات 122
د نهه غیر مُسلِمو اِسلام قبلول..... 123
د مَدَني قافِلې بَرَکت مرحبا!..... 124
د نیکئ د دعوت فضِیلت 126
د دُرود شریف فضیلت 126
د خِضَر او اِلیاس عَلَیْهِمَاالسَّلَام په باره کښې ښکُلې معلومات..... 127
انبیاءِ کرام عَلَیْهِمُ السَّلَام ژوندي دي..... 127
هر کس به د مرګ خوند ځکي..... 128
د نیکئ د دعوت ورکوونکي تعرِیف 129
د غوره بنده خُصوصِیات 130
تِلاوت، پرهیزګاري، د نیکئ دعوت او صِلۀ رِحمي 130
د عُمر او رِزق زیاتیدلو معنٰی..... 131
سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه..... 132
د خوابنې او هِنګور په مینځ کښې د صُلحې راز..... 132
کوم ځائ چه خپلوي پریښودونکې وي هلته رَحمت نه نازلیږي .. 134
د "حُسنِ سُلوك" د ٧ حُروفو په نِسبَت د صِلۀ رِحمئ ووه
مَدَني ګلونه..... 134
(١) د کوم خپل سره څه سلوك پکار دې؟ 134
(٢) د خپلوانو سره د سُلوك کولو صورتونه..... 135
(٣) که پردیس[یعني بَهر ملك] کښې وي نو خط دِ ورلیږي 135
(٤)که په پردیس کښې وي او مور او پلار ئې اوبَلي نو راتلل به
ضروري وي 135
(٥) د کوم یو خپل سره کله مُلاقات کول پکار دي؟..... 135
(٦) که خپلوان څه حاجت وړاندې کړي نو ردّ کول ګناه ده 136
(٧) صِلۀ رِحمي دا ده چه بل تَعَلُّق پریږدي او ته ئې جوړوې..... 136
د حُسنِ ظَن [یعني ښه ګُمان] ساتلو طریقه 136
د جَنّت مَحَل به هغه ته ورکول شي څوك چه..... 137

فهرست

دُښمني پټوونکو خپلوانو ته صدقه ورکول ډېر زيات غوره دي...137
د خپلوان نه چه کله سخت غم ورپېښ شو.....138
قَسَم او د هغې د کَفّارې بيان (حَنَفی).....139
د قَسَم تعريف 140
د قَسَم درې قِسمونه 140
د دروغو قَسَم خوړل ګناهِ کَبِيره ده.....141
د ټولو نه مخکښې د دروغو قَسَم شيطان خوړلې وو 141
د چا د حق خوړلو د پاره د دروغو قَسَم کوونکې جَهَنَّمي دې 143
د دروغو قسم کونکي به په حشر 143
کښې لاس او ښې پريك کړي شوي وي 143
د ووه زمَکو اميل 144
عامه لار د شريعت د اِجازت نه بغير مه ګيروئ.....144
د دروغو قَسَم کورونه شَړوي 145
يهوديانو د شانِ مُصطفٰی پټولو د پاره د دروغو قَسَم خوړلې وو.....145
شِين سترګې مُنافِق 146
جَهَنَّم ته د بوتلو حُکم به وشي 147
د دروغو قَسَم خوړلو والا تاجِر د پاره درد ناك عذاب دې.....147
د دروغو په قسم بَرَکت ختم شي.....147
د خِنزِير په شان مړې.....148
په زړه تور ټکې.....149
قَسَم دِ صِرف د رِښتياؤ خوړل شي.....149
د مُسلمان په قَسَم يقِين کول پکار دي.....149
تا غلا نه ده کړې.....149
مومن په دروغو د الله تعالٰی قَسَم څنګه خوړلې شي 150
قرآن راپورته کول قَسَم دې که نه؟.....150
دوه عِبرت ناکې فتوې 151
(۱) شرابي په لاس کښې قُرآن واغستو او قسم ئې وکړو، بيائې
مات کړو!!!.....151
(۲) د دروغو قَسَم خوړونکي ته به دَ جَهَنَّم په خوټکيدلي درياب
کښې غوپې ورکولې شي 151
د ډيرو قَسَمونو خوړلو مُمَانَعَت.....152
"چپ اوسه سلامت به ئې" د پينځلّس حروفو په نِسبَت د قَسَم
مُتعَلِّق ۱۵ مَدَني ګلونه 153
په خبره خبره قَسَم خوړل نه دي پکار.....153
که په غَلَطئ ئې قَسَم وخوړلو نو؟ 153
داسې الفاظ چه هغه قَسَم نه وي 154
د قَسَم ځلور قِسمونه.....154
داسې قَسَمونه چه د هغې په ماتوَلو کښې د کُفر ويره ده 155
يو څيز په ځان حرامول 155
د غيرِ خُدا قَسَم "قَسَم" نه دې.....156
د بل کس په قَسم ورکولو قَسم نه کيږي.....156
په قَسَم کښې د نِيَّت او غَرَض اِعتبار نشته 157
د اَګئ نه خوړلو قَسَم ئې وکړو 157
د قَسَم بعضې الفاظ.....158
د سرکارِ مَدينه ﷺ د قَسَم کولو الفاظ 158
د حضور ﷺ قَسَم خوړل.....158
د پلار قَسَم خوړل څنګه دي؟.....158
که په قَسَم کښې اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی اووائي نو قَسَم به وشي که نه؟ ..159
د غټو غټو بريتو والا بدمعاش 160
د قَسَم حفاظت کوئ.....161
د غوره کار کولو د پاره قَسَم ماتول 162
د غوره کار کولو د پاره قَسَم ماتول جائِز دي خو کَفّاره به ورکوي...162
که په ظُلم ئې د تکليف ورکولو قَسَم وکړو نو څه وکړي؟.....163
د طلاق قَسَم خوړل او [قَسَم] ورکول څنګه دي؟ 163
د قَسَم کَفّاره 164
د "يا رَحْـمَـةً لِّلْـعٰلَـمِين" د ديارلسو حروفو په نِسبَت دَ قَسَم
د کَفّارې ۱۳ مَدَني ګلونه 164
د کَفّارې د پاره د قَسَم شرطونه 164
د قَسَم کَفّاره 165
د کَفّاره اد کولو طريقه 165
د کَفّارې د پاره نِيَّت شرط دې.....166
په کَفّاره کښې د درې روژو د اِجازت صورت 166
د کفّارې ورکولو د وخت د حيثيت اِعتبار به وي چه روژې
ونيسي او که.... 167
د کَفّارې درې واړه روژې پرله پسې کيدل ضروري دي 167
په روژو دَ کَفّارې يو ضروري شرط 167
د کَفّارې د روژې دَ نِيَّت دوه احکام.....167

www.dawateislami.net

فهرست

که د قَسَم ماتولو نه مخکښې ئې کفّاره ورکړه نو ادا نه شوه.....168
د کَفّارې حقدار څوك؟.....168
دِيني او سَماجي اِدارې ته د کَفّارې د رقم ورکولو اَهَمه مَسئَله 168
واه څه به وائې د مَدَني تربِيتي کورس!.....169
د کور د کسانو د اصلاح کولو کوشش پکار دې.....171
"يا ربّ مونږه مُتَّقـي جوړ کړې" د ١٩ حروفو په نِسبَت په کور
کښې د مَدَني ماحول جوړوَلو د پاره ١٩ مَدَني ګلونه 171
واقِعۀ اِفك 175
د اِجتِماع په بَرَکت ورته جَنَّت نصيب شو 178
په خوب کښې په بارګاهِ رِسالت کښې د تِلاوت سَعادت.....180
تِلاوت کښې ژړل د ثواب کار دې.....180
د مرګ نه يو څو ورځې مخکښې اِنفِرادي کوشش 181
مُبَلِّغ په هر ځائ کښې مُبَلِّغ وي 183
د الله مَحبوب جوړوونکي خلق.....183
مُبَلِّغ محبوب نه بلکه ډير محبوب وي 184
سَيِّدُنا حسن بصري او يو مالدار 184
په لـمانځه کښې څنګه جامې پکار دي 186
د لـمانځه د پاره عِطر لګول مُستَحب دي 187
په لـمانځه کښې د لِباس د احکامو ١٤ مَدَني ګلونه 187
د لـمانځه په دوران کښې جامې اغوستل.....187
په اُوګو ځادر اچول.....188
د مکروهِ تَحرِيمي تعريف.....189
د عملِ کثير تعريف 189
په نيم لِستونړي کښې لمُونځ کول څنګه دي 190
د مکروهِ تنزِيهي تعريف 190
مَدَني قافِلې زه بالکل بدل کړم! 191
د الجامِعةُ الاشرفيه او د هغې د باني مختصر تعارُف.....192
د سُنّتو سره مَحَبّت.....193
د حافِظِ مِلَّت کَرامت 193
د حافِظِ مِلّت ځيني عاداتِ مبارَکه.....194
د رانجه لګولو په بَرَکت ئې په بوډاوالي کښې هم نظر تيز وو 194
د "اِثمِد" د خلورو حروفو په نِسبت د رانجو لګولو 4 مَدَني ګلونه...195
د نيکئ دعوت ډير خوندور عِبادت دې 197
د نيکئ د دعوت نه د محرومئ په صورت کښې د مرګ خواهِش .197
د بدمذهبئ نه توبه.....197
څه ښکُلې شان ئې دې 200
د اِيمان راوړلو نه پس د صحابۀ کرام جذبات 201
ما درې ورځې د دوبې کار وکړو!.....202
د پيرِ کامِل بَرَکتونه 202
اوښ چه کله د مړې شو.....203
چيندخه ئې چه وليده نو وتښتيدو.....204
د مُرِيد ملا مضبوطه شي.....204
د بَيعَت معنٰی.....205
د مرګ د سزا په وخت کښې د مُرِيد د خپل پير سره عقِيدَت ...205
دُکان به دِ په بل مخ واړووم 205
د قِيامته پورې راتلونکي مُريدان 206
يو اِشکال او د هغې جواب.....206
د قتل حيرانوونکي مُقَدَّمه.....207
څوك د نيکئ کوونکي په شان دې؟.....208
د ټولو عَمَل کوونکو په شان ثواب.....209
په لکونو نيکئ او په لکونو بدئ.....209
د "نيك" جوړوَلو مشين جوړ شئ.....210
په هره خبره د يو کال د عِبادت ثواب او ... .211
د نيکو ډيرې.....211
د درس ورکولو ثواب 212
د درس بَرَکت 212
د دِين قُطبِ اعظم.....214
د عرش سورې به ورته نصيب کيږی.....214
نمر به په پاؤ باندې يو ميل کښې وي.....214
د نيکئ او بدئ پيشوا.....216
د نيکئ د اِمام ښه انجام 216
د کيسټ يوې خبرې مې په زړه داسې اثر وکړو چه.....218
د جُمات اِمام لکه چه د علاقې بې تاجه بادشاه وي.....219
د ووه ٧ د پاره ووه ٧ پوره دي 220
په پټه د بې حيائي کوونکي غلط فهمي.....221
فرښته د سفر مَلګرې جوړولو والا عمل 222
د نيکئ دعوت ورکول هم جِهاد دې 223
د فاسِق د "فِسق" نه نفرت پکار دې 223

www.dawateislami.net

فهرست

د فاسِق صُحبَت سخت نقصان ورکوونکې دې 223
د نیکئ د دعوت ورکولو د پاره د فاسِقانو خوا ته تلل جائِز دي ... 224
د نیکئ دعوت ورکول صَدَقه ده 225
خبرو کولو کښې مُسکي کیدل سُنَّت دي 225
لاس ورکولو [یعني مِلاوولو] وخت کښې مُسکي کیدل د بخښنې
باعِث دي 227
د مُسکي کیدو ښه او بد نِیّتونه 228
قَهقَهه د شیطان له طرفه ده 228
قَهقَهه ګناه نه ده 229
خاموشي زیاته او خندا کمه 229
آیا صحابه به خندل؟ 229
څوك په خندا دَ لیدلو دُعا 230
مُبَلِّغ دِ د اعلان په ذریعه په جُمات کښې د خندا نه منع وکړي ... 230
په لـمانځه کښې د خندا اَحکام 230
د مُسلمان ورور د پاره مُسکې کیدل صَدَقَه ده 231
د مالي صدقې تعریف 231
پټ مرضونه یَو دَم ورك شو! 232
که دُعا زر قَبوله نه شي نو یریږئ مه 233
د دُعا د قبلیدو نُسخه 234
د بیکاره پښتورګو [یعني ګُردو] علاج وشو 234
دوه نشې 235
دَ تعلیم یافته خلقو جَهالَتونه 235
د تیرو شوو خلقو په شان ثواب 236
یو مُبَلِّغ هم د یو صحابي برابر نه شي کیدې 237
د اسلام هیبَت د زړونو نه د وَتلو سبَب 239
د دُنیا په باره کښې په خاصو معلوماتو باندې مُشتَمِل مَدَني ګلونه ... 239
دُنیا لوبې او توقې دي 239
د دُنیا معنٰی 240
دُنیا څه څیز دې؟ 241
کومه دُنیا ښه او کومه بده؟ 241
د دُنیا کوم کار د الله تعالٰی د پاره دې او کوم نه دې؟ 242
د دُنیا دار تعریف 242
د دُنیاوي څیزونو د خوندونو حیرانونکې حقیقت 242
د اِبلیس لُور 243
شین سترګي بدرنګه بوډئ 243
دُنیا خوږه او شنه ده 244
د دُنیا درې غوره کارونه 244
د څلورو څیزونو نه علاوه دُنیا لَعنَتي ده 245
دُنیا دَ ماشي د وَزَر نه هم زیاته ذلیله ده 245
د غیر مُسلمو خوشحالي عارضي ده 247
مړه بیزه [چیلئ] 248
د دوو مَهیانو ښکارکونکو حکایت 249
نافرمانه ته د خوښې څیزونه په لاس راتلَل خطرناکه خبره ده ... 249
د سمدستي سزا حِکمت 250
دَ مُبَلِّغ هم بخښنه وشوه 250
چه څوك ژاړي د هغه کار کیږي 251
د ژړا فضائل 252
د ژړیدونکو په بَرَکت د نه ژړیدونکو بخښنه 253
د مَچ د سر همره اُوښکې 253
د یو مِیل پورې به ئې د سینې ګرګُوړ اَوریدې شو! 254
د سرکارِ مَدِینه ﷺ نه پس د چا مرتبه ده؟ 254
وَنو او کانړو به هم ژړل 255
د جَنَّت او دوزخ په مینځ کښې کنډۏ دې 255
د اُوښکو د هر څاڅکي نه د یوې فرښتې پیدائش 256
ژړاکوونکې به هیڅ کله هم جَهَنَّم ته داخِل نه شي 256
د خوفِ خُدا نه ژړیدونکې به وبخښلې شي 257
که تاسو خلاصې غواړئ نو 257
تیز باران شروع شو 258
د باران په اوبو د بیمارو علاج 259
د الله تعالٰی له یَرې ژړل سُنَّت دي 259
د ژړا په شان شکل جوړ کړئ 260
په سر او ګیره کښې د وړو اچولو عجیبه وَصِیَّت 261
سپین ویښته به په قِیامَت کښې نُور وي 262
د اُوښکو نه وَچولو فضیلت 262
په کور کښې پټ ژړل ښه دي 263
اوښکې به ئې په ګیره پاکولې 263
که ژړا درنه شي نو په کوشش وژاړئ 264

www.dawateislami.net

فهرست

الله تعالٰی به په یو څاڅکې اُوښکو د اور ډیر سمندرونه مړه کړي..264
د زرو دینارو صَدَقه کولو نه غوره یو څاڅکې اُوښکې.....265
په زمکه توئ شوي د اُوښکو د څاڅکي فضیلت 265
د خوفِ خدا نه وَتلې د اُوښکې څاڅکې حورې په خپل مخ ومړلو..266
دَ ګناه باوجود خوشحاله اُوسیدل بنده جَهَنَّم ته غورزَوَلې شي! 266
په بې باکئ ګناه کول ډیره سخته خبره ده 266
..... نو لږ به موخندلې او ډیر به مو ژړلې 267
اے په خندا خندا ګناه کونکو! 267
د رِقَّت اَنګیزې دُعا اثر د کوم ځائ نه کوم ځائ ته ورسولو! 268
ځیګر درزونکي یوه رښتیني واقعه.....270
د خُدائ نه نه یَریدل د ټولو نه لویه ګناه ده.....272
دَ میلُو او شادو تماشه کتل حرام دي.....273
د خلقو په مخکښې د "نیك جوړیدونکي" د قبر اَحوال.....274
په ګناهونو پښیمانتیا توبه ده 276
د پښیمانتیا وَضاحت 276
د اوباؤ زرو وِینزو په ګنړه کښې روانه حُوره.....276
د حورو مُتَعَلِّق درې فَرامِینِ مُصطَفٰی 277
نارینه ته به حُوره ورکوله شي، جنتي زنانه ته به څه ورکول شي؟..277
د وړوکي ماشوم په جَنَّت کښې نکاح 278
د بې واده وفات کیدونکو نکاح.....278
جَنَّتي ښځې زیاتې فضیلت لرونکې دي که حُورې؟ 278
ډیر خاوندان لرونکي به په جَنَّت کښې دَ چا سره وي؟ 279
خلقو ته نفع [یعني فائِده] رَسَوَل.....280
ډاکوانو ټول لوټ کړل خو زه ئې پریښودم.....280
د ډاکوانو نه د حِفاظَت راز.....282
د سحر او ماښام تعریف.....283
د نافرمانو نه خلق کرکه کوي.....283
د انسانیت د ټولو نه لوئ خدمت کوم یو دې؟.....284
د ټولې دُنیا نه غوره.....285
د سرو اوښانو نه غوره 285
د سرو اوښانو نه څه مُراد دې؟ 286
د دولسو میاشتو په مَدَني قافله کښې د سفر د نِیَّت په برکت
کینسر ختم شو.....286
کینسر او د بیمارئ د پاره مَدَني نُسخه 287
د ګناهونو شپږ علاجونه 288
الله تعالٰی وِیني.....290
د اَمرَد دَ فِتنې نه ځان ساتئ.....292
د اَمرَد سره یواځې کیدل خطرناك دي.....292
اَمرَد د زنانه نه هم زیات خطرناك دې 292
اَمرَد سره ۱۷ شیطانان 293
د اَمرَد سره تنهائي د جائز کیدو صورت 293
نفسیاتي اَثر.....293
د نیکئ د دعوت پینځه مدني ګلونه 295
په لار کښې د ناستې حَقونه 295
د اَخوا دیخوا کتلو به هم په آخِرت کښې حساب وي 295
د سترګو د حفاظت قرآني حُکم 296
سترګې به د اور نه ډکې کړې شي.....297
د اور سلائي 297
د "زینب" د ځلورو حروفو په نِسبَت 297
د نظر په باره کښې څلور احادیثِ مبارَکه 297
نظر واړوه.....297
قَصداً مه ګوره.....297
دَ نظر دَ حِفاظت فَضِیلَت 298
د ابلیس زَهرژن غَشې.....298
د زنانه ځادر ته هم مه ګورئ 298
د خبرو په وخت کښې کوم ځائ ته کتل پکار دي؟ 298
دَ مَدَني چینل نه په مُتَأَثِّره کیدو د دولسو کسانو قبولِ اسلام 299
د نظرِ مُصطفٰی اداګاني.....301
وِیلې شوي سِیکه به په سترګو کښې اچولې کیږي 302
زه د تې بِي مریض ووم.....303
"دَ لارې حق نمبر(۲) تکلیف ورکوونکې څیز لرې کول" 305
د ازغي لرونکي خاخ لرې کولو والا بخښنه وشوه.....305
د لارې نه د تکلیف ورکونکي څیز د لرې کولو ثواب 306
د لارې د تکلیف ورکونکو څیزونو ښودنه.....306
د لارې حق نمبر(۳) "د سلام جواب ورکول" 307
په سلو کښې ۹۰ رحمتونه هغه ته حاصلیږي څوك چه 307

www.dawateislami.net

فهرست

دَ "اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ" د يوولسو حروفو په نِسبَت د سلام
۱۱ مَدَني ګلونه 309
"مصافحه کول سُنَّت دي" دخوارلسو حروفو 310
په نِسبَت د لاس ورکولو ۱٤ مدني ګلونه 310
د ناځرمه زنانه سره د مصافحه کولو عذاب 311
د لارې حق نمبر (٤) د نيکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول .. 312
اِنفِرادي کوشش د "نيکئ د دعوت" رُوح دې 313
"يا الله نرمي راکړې" د پينځلّسو حُروفو 314
په نِسبت د اِنفِرادي کوشش ۱۵ نِيَّتونه 314
د مُبَلِّغ د پاره اَهم مَدَني ګلونه 315
دَ مُسَلسَل اِنفِرادي کوشش ميوه 315
د آيتِ مُبارَکه تفسير 319
د ټولو نه غوره اعمال 319
اے کعبه! ستا قَضاخومره ښکلي ده 320
د دوزخ خوفناک حالت 320
د نيکئ دعوت ورکول د خاموشئ نه غوره دې 322
د ثواب کيدو اُمّيد 323
د قبر د رڼا سامان 323
دَ مُبَلِّغِينو قبرونه به اِنْ شآءَ الله پرقيږي 323
مريض پخپله طبيب شو 324
زُنّار څه ته وائي 325
خليفه سُليمان په ژړا شو 325
د ماتحتو په باره کښې به د ټولو نه تپوس کيږي 326
په اِقتدار حاصليدو ژړل 327
د انګور[يعني کوَر] خوړلو نه هم ويره لرل 327
د اَنګورو [يعني د کوَر] د آخرت د حِساب ويره 328
د آيت مبارَکه په تفسير کښې درې اَحاديث 328
دوه قِسمه نِعمتونه او د آخرت سوالونه 329
آه ! خوندور خوندور خوراکونه 330
د مال خوړلو شوقيان دِ سوچ وکړي 330
د ځنګدن د سختو يوه نظاره 331
د نِعمت د حساب په باره کښې نهه لړزوُنکي فرامِينِ مصطفٰی ﷺ .. 332
د زيات مال مصيبت هم زيات 333
د دولسو کالو پورې حساب و کِتاب 334
په صحابه کښې د ټولو نه د مالدار صحابي د قيامت د حساب احوال .. 335
د مالدارانو د پاره د فِکر مُقام 336
د مال و دولت ښه ښه نِيَّتونه 336
زخمي زړه لرونکې بُزرګ 338
نَفرت په مَحَبَّت کښې بدل شو 338
د يو نيک بنده په وجه د ګاونډ د سلو کورونو نه مُصيبتونه لرې کيږي . 340
درې مَدَني فيسونه 341
د محشر خوفناکه منظر کشي 343
نه پيدا کيدل قابِل رشک دي 344
کاش! چه زه په دُنيا کښې نه وې پيدا شوې 345
که په چپ لاس کښې اعمال نامه راکړې شوه نو څه به کيږي؟... 346
د فاروق او مشتاق د مزار مَدَني سپرلې 347
د ثابِت بُناني په مزار کښې لـمونځ کول 349
انبياء په قبرونو کښې لـمونځونه کوي 349
دَ روضۂ انور نه د اذان او اِقامت آواز 350
د مُومِن د فِراست نه وَيَريږئ 351
الله خپلو اولياؤ ته د غيبو علم ورکوي 352
د فِراست تعريف 352
زما د دوست خوب 353
په يو ټوکر کښې د اُحُد زَلزله ختمه شوه 355
د ذِکر شوي حديث نه عِلمِ غيب ثابتيږي 355
دَ غيب تعريف 356
د عِلمِ غيب مُتَعَلِّق دَ اَکابِرينِ اُمَّت اقوال 356
د لوح مَحفوظ په باره کښې ښکلي معلومات 358
لوح مَحفوظ کوم ځائ دې؟ 359
لوح مَحفوظ د سپينې مَلغلرې نه جوړ دې 359
د ټولو نه اول په لوح مَحفوظ کښې څه وليکلې شو؟ 359
ته د نفس منونکې جوړ شوې ئې 359
دَ قِيامَته پورې کيدونکي هره خبره په لَوح مَحفوظ کښې ليک ده 360
د "لَآاِلٰهَ اِلَّاالله" ګواهي ورکونکې به جَنَّت ته داخليږي 360
د جَنَّت حقدار څوک؟ 360
د ځوئ د پيدا کيدو زيرې 361
په اولني خيال وَلې بهر رانغلې؟ 361

www.dawateislami.net

فهرست

د وَفات نه پس هم د نیکئ دعوت.....363
د زر رکعاته لـمانځه نه غوره.....363
د مَرِې او چیندخې دوستي 364
د حدیثِ پاك بیان کوونکي مُبَلِّغ حِکایت 365
والدِ مرحوم شین لِباس اغوستې وو او په مُسکا وو.....365
آیا د خوب په ذریعه یقیني علم حاصلیږي؟.....366
په خوب کښې ئې د شراب څښلو حکم وکړو که منع ئې وکړه؟ ..367
چه کله ئې یو ځلمې په غلط اودس کولو ولیدو 368
د بې ځایه اعتراض کولو په ځائ اصلاح کونکي جوړ شئ.....369
د اَودَس طریقه (حَنَفِي).....370
د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د اوياؤ بیمارو نه شفا ده 372
د جَنَّت اته واړه دروازې بیرته کیږي.....373
نظر به کله هم نه کمزورې کیږي 373
د اَودَس نه پس د سُورۂ قَدر درې ځله لوستلو فضائِل 373
د اَودَس نه پس لوستلو والا دُعا (اول و آخِر دُرودشریف) 373
د اَودَس نه پس دا دُعا هم ولولئ (مخکښې وروستو درود شریف) .374
د ٤٠ مَدَني ګلونو رَضوي ګلدسته.....374
د ګناه نه منع کول کله فرض دي 378
امام اعظم ته به ګناهونه ښکاریدل.....379
قصداً د چا عیب معلومول څنګه دي؟ 380
د عالِم غَلَطي بیانول په دوه وجهو حرامه ده 380
د عیب پټولو باره کښې ۳ فرامِینِ مُصطفٰیﷺ.....381
د عیب لټولو ۵۹ مِثالونه 381
د هغوئ خوږو خبرو زما د زړه دُنیا بدله کړه.....384
د نرمئ اَهَمِّیَّت 386
د فرعون طرف ته د نیکئ د دعوت د پاره د لیږلو په موقع د
نرمئ حکم.....386
شرابي پولیس ته حواله کول څنګه دي؟ 387
(۱)شراب پخپله سِرکه جوړ شو ! څنګه؟.....387
(۲) شرابي ځلمې د وِلایت په مرتبه.....388
د سرو زرو ګوتئ په ګوته کولو والا کس اصلاح 390
کاش! چه مونږه هم د ګناهونو نه بچ کونکي جوړ شو 391
(۱) د سرو زرو ګوتئ ..... سکَروَټه 391
(2)د بُوتانو او دوزخیانو کالې 392
د ګوتئ ۱۹ مدني ګلونه 392
په جامعة المَدینه کښې مې داخله واخسته 394
مونږ دُنیا ته د څه د پاره راغلي یو 396
چه په جُمات کښې په زوره قدم اغستل منع دي نو.....398
په جُمات کښې د موبائل ټلئ بنده ساتئ 398
د "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم" د نُولَّسو حروفو په 399
نِسبَت د جُمات په باره کښې ۱۹ مدني ګلونه 399
د کینسر مریض جوړ شو 403
د مدني قافلې د مریضو مسافرو په باره کښې ٥ مدني ګلونه.....404
د هرې بیمارئ علاج شته دې.....406
د غیر مسلم نه د علاج یو عبرت حاصلونکې حکایت 407
د شفا کیدلو او نه کیدلو راز.....407
د کینسر روحاني علاج 407
په ښي لاس څښئ ولې چه دا سُنَّت دي.....409
په چپ لاس خوړل، څښل، ورکول او اَخِستَل دَ شیطان طریقه ده ..410
هرکار په چپ لاس وَلې . . .؟.....410
د مور او پلار فرمانبردار جوړ شو.....412
د ذِکر کړې شوي مَدَني سپرلي په 414
حقله د نیکئ د دعوت مَدَني ګلونه.....414
د مور په دُعا ځوئ ته کلمه نصیب شوه.....415
د مرګ په وخت کَلِمه وئیونکې جَنَّتي دې. 415
د کَلِمه لوستونکي حکایت 415
د قبول شوي حَج ثواب.....416
د مور یواځې پریښودونکي کس عِبرتناك مرګ.....417
په وړوکوالي کښې مور هم د خپل اولاد ګندګي برداشت کوي. ..418
په ځنکدن کښې خوفناکې چغې وهونکې ځلمې 419
مور ته جواب نه ورکونکې ګونګې شو.....419
د مور او پلار د نافرمانه عبادتونه نه قبلیږي 420
د خر په شان مړ انسان.....420
د مور ګستاخه زمکې ژوندې راښکلو! 421
توبه! توبه!! 422
د اور خاخونو ته زوړند خلق 422
د باران د څاڅکو هُمره سکروټې 422
قبر پوښتئ ماتوي.....423

www.dawateislami.net

فهرست

مور او پلار ته په ښېو پرېوځئ او مُعافي ترې اُوغواړئ.....423
د مور په ښېرو ئې ښېه کټ شوه 423
د مور او پلار د مَحَبَّت په اولاد باندې طِبّي اثرات 424
اُولدِ هاؤس او يوه بې اسره بوډۍ 425
په اُولدِ هاؤس کښې اوسيدونکو د دوو پاکستاني بُوداګانو فرياد...426
مور ئې په اُوګه کړې په تودو کانړو ٦ مِيله.....427
د حمل تکليفونه.....428
ډرائيور د مرګ نه بچ شو.....428
دَ سُنَّتو ډکه اجتماع کښې رحمتونه نازليږي 430
ذِکر څه ته وائي؟.....430
د نيکۍ د دعوت د پرېښودو نُقصانونه 432
د دُرود شريف د فضيلت حِکايت 432
د درود د حِکايت په حقله د "شَفاعَت" په باره کښې مَدَني ګلونه ..432
عُلمائے کِرام به شَفَاعت کوي 432
په کومو آيتونو کښې چه د شَفاعت انکار دې د هغې وضاحت...433
د قرآن نه د شَفاعَت ثبوت.....434
څوك څوك به شَفاعَت کوي؟.....434
د شَفاعَت اته قِسمونه 435
د شَفاعت په اُمّيد ګناه کول څنګه دي؟.....437
د کشتۍ مسافِر.....438
د ګناهونو سپېره والې نورو ته هم رسي 439
بس صرف د ځان غم کوه! 439
د ګناهونو پينځه دُنياوي نُقصانونه 440
دُعا به نه قبليږي 440
زه د ګناهونو په تِيارو کښې ورك ووم 441
اِنفِرادي کوشش کول سُنَّت دې.....443
مَدَني بيګ او تقسِيمِ رَسائل.....443
د عذاب د نازيليدو سبَب 444
نيك کس هم په عذاب کښې.....445
دَ مُعاشرتي بدو په وجه پرېشانه کيدل د اِيمان تقاضه ده 445
د نيکو خلقو د هلاك کيدو وجه 446
په خپل زړه کښې دِ ئې بَده وګڼړي 447
آيا مونږ په زړه کښې بد ګڼړو؟.....447
درې شرابي ورونړه مَدَني ماحول ته راغلل!.....448
د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نيکۍ دعوت 450
دَ جادو په باره کښې 450
د جادو او پيريانو د وجود انکار کفر دې.....450
د مالك بِن دينار پريشاني 451
آتش پرست ګاونډي مُسلمان شو.....451
زه په اور کښې پوره شل منټه ولاړ ووم! 453
دِماغ مې خوشبوداره شو 455
د مَدَني سپرلي په حقله د "نيکۍ" مُتعلِّق د نيکۍ دعوت 456
دوه فَرامَينِ مُصطفٰی 457
د ګناه ورانولو نُسخه 457
د توبه په اِراده ګناه کول کُفر دې 457
ګاونډي د ګناه نه د نه منع کولو وَبال.....458
ګاونډي به د قيامت په ورځ دعوٰی کوي 458
بې لـمانځه ګاونډي ته د لـمانځه دعوت ورکوئ.....459
اِمام ته پکار دي چه د مُقتدي ځارنه کوي.....459
فاروقِ اعظم د سحر په لـمانځه کښې د غير حاضر کس
معلومات وکړو.....460
د اِجتِماع ذِکر و نَعت په وجه جَمعه پرېښودل نه دي پکار 460
د لـمانځه په وخت کښې د اُوده کيدلو والۍ د پاره د سر چقولو عذاب .460
د فلمونو ۲۰۰۰ وي سي ډيانې ئې ماتې کړې.....461
د نيکو بندګانو شان.....462
د حضرت براء بن مالِك د دُعا د قبوليّت حِکايت.....463
سندر غاړې مُحَدِّث څنګه جوړ شو 464
د سندرو په غندنه مُشتمِل څلور رِوايات 465
د سندرو د شوقي عبرتناك انجام 466
دَ مړو ډيرې 467
آيا موسيقي واقعي د رُوح غِذا ده.....468
د ګلوکارانو او کاميډيَنو په خِدمت کښې مَدَني عرض 469
د ډانس ډائِريکټر توبه 470
زما د دُرُود و سلام سره محبّت وو 470
مرحوم مور او پلار نه مې اور چاپيره وو 471
په داتا دربار کښې راباندې لوئ کرم وشو.....471
چه کله ما په مَدَني قافِله کښې سفر وکړو.....471

www.dawateislami.net

فهرست

ایمان تازه کوونکې خوب مې ولیدو 472
د وسپنې سیخ ئې زما د مټ نه اخوا ویستلو!..... 473
ما په مَدَني مرکز کښې مختلف کورسونه وکړل..... 473
زما د پینټ شرټ والا ماړن ښځه 473
په مَدَني مرکز کښې مې اعتِکاف وکړو نو په روزګار ولګیدم..... 474
د مَدَني سپرلي په ذریعه مَدَني سپرلې..... 474
د دې ذِکر شوي مَدَني سپرلي مُتَعَلِّق مَدَني ګلونه 475
د کور کسان د دوزخ نه څنګه بچ کړو؟..... 475
مرحوم مور او پلار ته د اولاد د اعمالو پیشي 476
ګدا ته جائِز وئیل څنګه دي 477
د نیکئ دعوت پریښودونکې د حُضُورﷺ په طریقه نه دې..... 478
د نیکئ دعوت صِرف په عُلَماء نه، په عوامو هم لازِم دې 478
اَعرابي چه کله په جُمات کښې بَول وکړل..... 478
د نیکئ په دعوت کښې نرمي ضروري ده..... 479
بَول کولو کولو کښې ناڅاپه د بندولو طِبّي نقصانات..... 479
په ولاړه بَول کول د سُنّتو خِلاف دي 480
په ولاړه د بَولو [یعني مِتیازو] کولو نقصانونه 480
د بَولو د څاڅکو نه د نه بچ کیدو عذاب..... 481
آقا ﷺ ته عِلمِ غیب شته دې..... 481
په شرابي باندې د اِنفِرادي کوشش کولو نتیجه 482
ما د هغه د قتل کولو نه پس خودکُشي کوله 483
مُبَلِّغِین دِ د جُمعې بیان کوي..... 485
په هرو دوو مِنَټو کښې درې خود کُشئ..... 485
آیا په خُودکُشئ کولو بنده د مصیبته خلاصیږي؟..... 486
په اور کښې عذاب..... 486
هُم په هغه وَسله عذاب..... 486
څان د مَرئ نه د زندئ کولو[یعني تړلو یا نیولو] عذاب..... 487
تشه کڅوړه..... 487
په زړه "رِوند" او د زړه د"نَسکوریدو"معنیٰ..... 487
معافي به نه ورکولې شي 488
د بدو خبرو نه منع کوئ ګنې.....! 488
د خپلې ښځې په اِنفِرادي کوشش ورته مَدَني ماحول نصیب شو .490
نرمي او مَحَبّت مَدَني وسله ده..... 491
د واده په فضائِلو مُشتمِل څلور احادِیثِ مبارکه..... 491
د نِکاح په باره کښې فرمانِ صِدّیقي..... 492
ټوله قبیله مسلمانه شوه 493
په غټانو خلقو د اِنفِرادي کوشش کولو اَهَمِیَّت..... 495
سګِ مدِینه او شخصیات 496
د شخصیاتو نه د مَدَني قافِلو د خِدمت اغِستلو طریقه 497
ذِمّه داران دِ هم د مَدَني قافِلې والؤ ترکیب جوړوي..... 497
د مَدَني قافِلې نه په بیرته راتلو "استقبالیه اِجتِماع"..... 498
د مَدَني قافِلو د خیر خواهئ [یعني میلمستیا] حِکمتونه..... 499
خلق زمونږه خبره نه مني..... 501
د مُخالفتونو په زور کښې څنګه مَدَني کار وکړو؟..... 503
د طالوت او جالوت قُرآنی حِکایت 503
د بادشاه د ګناهونو هُمره په دوزخ کښې ننوتو..... 505
د ظالِم د مخ په لِیدَلو زړه توریږي 505
مُفتِئ اعظم هِند به د حُکمرانانو نه ډډه کوله..... 505
د والِد صاحِب ترکیب جوړ شو نو په کور کښې مَدَني ماحول جوړ شو 506
مَدَني چینل..... 508
چه کله ما ته د مَدَني چینل د کتلو سعادت نصیب شو..... 510
د بني اِسرائِیلو د تباهئ اسباب..... 512
د دِین دوه حِصّې دِ ضائِع کړې..... 513
بې وسه مسلمانان..... 514
اولاد ته سُنّتونه زده کړئ ګنې پښیمانه به ئې..... 514
د عِراق د مسلمانانو زړه خُوګوونکې داستان 515
د لـمانځه په ځائ کښې سندرې او سازونه..... 516
د کُوفې په جامع مسجد کښې جُمُعه نه کیږي 516
ټول ګِیره خَرَوونکي..... 517
د شهادت په خوشحالئ کښې د زنانؤ ګډا 517
د قُرطبه په جامِع مسجِد کښې په لـمانځه کولو پابندي ده 518
د اَتَلَّسو کالو نه د کم عُمر څلمو جُمات ته داخلیدل بند 519
د جُماتونو وجودونه ختمولې شي 519
"جُمات ډك کړئ تَحریك" وچلوئ..... 520
د اِنفِرادي کوشش بَرَکت..... 521
د مُحَدِّثِ اعظم پاکستان اِنفِرادي کوشش..... 522
د مرګ نه مخکښې د څلمي ګِیره د کور کسانو وخَرَئیله..... 523

www.dawateislami.net

فهرست

د نوم مسلمان د سُنّتو نه لرې 524
د مَدَني ماحول نه ئې منع کړلو نو هیروئني جوړ شوه پلار ئې
پښیمانه دې 525
د اولاد صحیح تربیّت کوئ ګنې پښیمانه به ئې 526
د ګناه کولو عامه آزادي 527
آیا ځوئ هم کله خپل پلار وهي؟ 528
په محشر کښې به په وهلو ټکولو د پلار ځرمن او غوښې ورژیږي ... 529
ځوك چه د کور د کسانو په وجه د مَدَني ماحول نه لرې وتل 530
غورزیدو ته نزدې شوې ووم خو بچ شوم 531
د مرګ نه پس د انجام خطرناك منظر 532
ګیره خَرَئیلو سره سمدَست مرګ 534
د ګیره خَرَوونکو نه د سرکارﷺ د نفرت عِبرتناکه واقِعه 535
د قِیامت زړه درَزَوُونکې منظر 536
که آقا ﷺ خفه شو نو بیا.....! 537
د مرګ نه مخکښې بدقِسمَتي 538
د فیشن پرستو د صُحبَت سپیره والې 538
ګیره صِرف د مُصطفٰی ﷺ د خوښې پریږده 539
دَ ګیره خَرَوونکي دیرش سزاګانې 540
زه د ډیر زیات خراب کِردار مالِك ووم 541
د دعوتِ اِسلامي د جامِعاتو او مَدرسو شمیر 543
د تعلِیمِ قرآنِ کریم مُتعَلِّق دوه اهم مَدَني ګلونه 543
آیا فیشن پرست عِزّت مند دي 544
د دُنیا مَحَبّت د ټولو ګناهونو جړه ده 544
بدترین، عزیز ترین څنګه جوړشو؟ 546
د کور کسانو ته د نیکئ د دعوت ورکولو تاکِید 547
د خوفِ خُدا اِیمان تازه کوونکې حِکایت 548
دَ عذاب نه ئې څنګه بچ کړي؟ 549
د کور کسانو ته د نیکئ خبرې وښایه 549
د بالِغ اولاد د اِصلاح مُتَعَلِّق د اعلٰی حضرت فتویٰ 549
د جَهَنَّم تعارُف 550
د جَهَنّم لړزوونکي قِصّه د جِبرئیل د خُلې نه 551
افسوس! زمونږه زړه نه لړزیږي! 552
د شپې په ځان له ځائ کښې د آیتونو په اوریدلو وفات شو 553
د کور کسانو ته هم د نیکئ دعوت ورکړئ 555
ماشوم ته د ټولو نه اوّل دین زده کړئ 555
اولاد ته د سخاوت او اِحسان تعلیم ورکول واجِب دي 556
بې اولاده ته چه کله اولاد نصیب شو 556
د اولاد غوښتونکو په خدمت کښې د نیکئ دعوت 557
د یو عالِم پلار عِبرت ناک انجام 558
د پنسِل د غلا نه د پاڼسئ د زندئ پورې 559
د آخِرت د سزا په مُقابَله کښې د دُنیا سزا هیڅ هم نه ده 560
د پلار د سیزلو د پاره لرګي راوړم 561
د ایصالِ ثواب انتِظار 562
زه خپل پلار برباد کړم! 563
د حقیقي مَدَني ماشوم خوفِ خُدا 564
د دین په کارونو کښې د حوصله ماتولو والامور پښیمانتیا 565
د سُنَّتو ډکې اِجتِماع فضیلت 566
غافِل ځلمې 567
د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نیکئ دعوت 568
کِلِمۀ طَیِّبه به فائِده ورکوي ترڅو پورې چه..... 569
د اِسلام ۸ حِصّې 569
په دُنیا کښې به هم سزا ورکوله شي 570
په آخِرت کښې به هم سزا ورکولې شي او په دُنیا کښې هم 570
ستاسو زړه نه لړزیږي! 570
د مړي بې وَسي 571
د قبر زړه درزوُونکې د نیکئ دعوت 572
عِزَّت والا به ذلیله کړي 574
د غوڅو شوو غوږونو والا کُونړ 574
د ګناه نه نه منع کول کله ګناه ده 575
د سرو زرو ګوتئ د نارینه د پاره حرامه ده 575
د شادو او د خِنزِیر په شان مخونو والا 576
د شادو او د خِنزِیر په شان مخونه 577
نن مو د مخ دانې او نښې پریشانه کوي خو..... 577
زما د تِیارو لارې روښانه شوې 578
"زه دعوتِ اسلامي سره مِینه کوُم" د ۲۲ حروفو په نِسبَت دَ درس
فیضانِ سُنَّت دوه وِیشت مَدَنی ګلونه 581
د فیضان سُنَّت نه د درس ورکولو طریقه 583

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

د نیکئ د دعوت ضرورت

د بخښنې ډکه اجتماع

د حضرت سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه **د مدینې د تاجدار** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: د الله تعالٰی څه سَیّاح (یعني سیل کوونکې) فرښتې دي، چه کله هغه د ذِکر د محفلونو په خوا تیریږي نو یو بل ته وائي: (دلته) کښینئ. چه کله ذاکِرین (یعني ذِکر کوونکي) دُعا کوي نو فرښتې د هغوئي په دُعا باندې **اٰمِین** (یعني"هم داسې دِ وشي") وائي. چه کله هغوئي په نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود شریف لولي نو هغه فرښتې هم د هغوئي سره یو ځائ درود لولي تر دې چه هغه مُنتَشِر (یعني اخوا دیخوا خواره) شي، بیا فرښتې یو بل ته وائي چه د دې خوش نصیبو د پاره زیرې دې چه هغوئي د بخښنې سره بیرته روان دي. (جَمْعُ الجَوامِع لِلسَّیُّوطی ج ۳ ص ۱۲۵ حدیث ۷۷۵۰)

د جُمات د اَبادَوَلو درې فَضائِل

سُبْحٰنَ الله! د ذِکر و درود د محفلونو به څه وائې! یاد ساتئ! د سُنَّتو ډکې اجتماعات، د درس مَدني حلقې او اجتماعِ ذکر و نعت وغیره هم د ذِکر محفلونه دي. څومره خوش نصیبه دي هغه مسلمانان کوم چه د **ښو ښو نیّتونو** سره په داسې د رحمتونو نه ډکو اجتماعاتو کښې د زړه د شوق سره شرکت کوي او بیا د **الله تعالٰی** په رحمت سره بخښلې شوي پاځي. البته په داسې د بخښنو نه ډکو اجتماعاتو کښې د شِرکت خوش بختي هر چا ته نه نصیب کیږي دا صرف د خوش قسمته خلقو برخه ده. عام طور درس او بیان په **جماتونو** کښې کیږي او په جماتونو کښې کیدونکي مدني حلقو کښې ناسته د ډیر زیات ثواب باعِث وي ځکه شیطان څوك په جُمات کښې هډو زړه لګولو ته پریږدي نه. "**د جُمات ډکولو تحریك**" جاري کړئ او جُماتونه ښه اباد کړئ او شیطان ناکامه او نامراده کړئ.

www.dawateislami.net

حضرت سَیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بن مَعقِل رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه مونږ ته به بیان کیدل چه **اَلْمَسْجِدُ حِصْنٌ حَصِینٌ مِّنَ الشَّیْطٰن** یعني جمات د شیطان نه د بچ کیدو یوه مضبوطه قلعه ده. (مُصَنَّف ابنِ اَبی شَیبہ ج ۸ ص ۱۷۲) د نور تَحریص (یعني حِرص راپیدا کولو) د پاره د جمات په فضائِلو باندې مُشتمِل **درې فرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وړاندې کیږي: (۱) بیشکه د **الله** تعالٰی کورونه ابادونکي **الله** والا دي. (اَلْمُعجَمُ الاَوسط ج ۲ ص ۵۸ حدیث ۲۵۰۲) (۲) څوك چه د جُمات سره محبَّت کوي الله تعالٰی هغه خپل محبوب [یعني خوښ بنده] جوړ کړي (ایضاً ج ٤ ص ٤٠٠ حدیث ٦٣٨٣) (۳) چه کله کوم یو بنده د ذِکر یا لـمانځه د پاره **جُمات** خپل مقام [ځائ] جوړ کړي نو **الله** تعالٰی د هغه طرف ته د رحمت نظر فرمائي لکه څنګه چه څوك ورك شوې راشي نو د هغه د کور کسان په هغه خوشحالیږي. (ابن ماجه ج ۱ ص ٤٣٨ حدیث ٨٠٠)

وہ سلامت رہا قِیامت میں　　پڑھ لئے جس نے دل سے چار سلام
میرے پیارے پہ میرے آقا پر　　میری جانب سے لاکھ بار سلام

میری بگڑی بنانے والے پر
بھیج اے میرے کِردگار سلام

په قیامت کښې هغه کس شو سلامت　　چه د زړه نه ئې کړلو پیش یو څو شماره سلامونه
زما په جانان او زما په خوږ آقا　　زما له طرفه په لکونو او بې شماره سلامونه
په مُصیبت کښې زما په کار راتلونکي　　باندې ولیکه بې حِسابه کِردګاره سلامونه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

الله د هیڅ چا محتاجه نه دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! **الله** تعالٰی په هر څه قادِر دې، هغه هیڅ کله بالکل د هیڅ چا محتاجه نه دې، هغه په خپل کامِل قدرت دا دُنیا جوړه کړه، دا ئې په قِسمونو قِسمونو ښکلي کړه او بیا ئې په دې کښې انسانان آباد کړل. **الله** تعالٰی د خلقو د هدایت د پاره وخت په وخت **رُسُل و انبیاء** عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام را ولیږل. هغه که اُوغواړي نو د **انبیاء کرامو** عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام نه بغیر هم دوران

www.dawateislami.net

کارو انسانانو اِصلاح کولې شي، خو د هغه خوښه داسې ده چه زما بندګان د نیکئ دعوت ورکړي، زما په لاره کښې تکلیفونه تیر کړي او زما د لوئ بارګاه نه اوچت درجات حاصل کړي. چنانچه **الله** تعالیٰ خپل رسولان او نَبیان عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د نیکئ د دعوت د پاره دُنیا ته را لیږل او په آخِره کښې ئې خپل خوږ حَبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم را ولیږلو او په خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ئې د نُبُوَّت سِلسِله ختمه کړه. بیا ئې دا عظیمُ الشّان مَنصَب د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ اُمَّت ته حواله کړو چه پخپله په خپل مینځ کښې د یو بل اصلاح کوي او د **نیکئ د دعوت** دا اَهمه فریضه ادا کوي. دغسې تر قیامته پورې **هر مسلمان په خپل خپل ځائ مُبَلِّغ دې** اګر که هغه د هرې شُعبې سره **تَعَلُّق** لري، یعني که هغه عالِم وي او که د جُمات امام وي، که پیر وي او که مُرید، که سوداګر وي او که نوکر، که افسر وي او که مزدور، که حاکِم وي او که محکوم، غَرَض دا چه کوم کوم ځائ هغه اوسیږي یا کار روزګار کوي، د خپل صلاحِیّت مطابق دِ خپل خواؤ شا ماحول د سُنّتو مطابق د جوړلو کوشش کوي او **د نیکئ د دعوت** مدني کار دِ جاري ساتي.

میں مُبلّغ بنوں سنتوں کا، خوب چرچا کروں سنتوں کا
یا خُدا درس دوں سنتوں کا، ہو کرم بہرِ خاکِ مدینہ

چه زه جوړ شم مُبَلِّغ د سنّتونو، چه تبلیغ وکړمه زه د سُنّتونو
یا الله چه درس کووم د سنّتونو کرم وکړه په ما په خاطر د مدینې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په قرآن کښې د نیکئ د دعوت حُکم

خدائے رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ د خپل پاك قرآن په مختلفو مقاماتو کښې د نیکئ د دعوت ترغیب ورکړې دې، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مکتَبَۃُ الْمدینه چاپ شوي د ترجمې والا پاکیزه قُرآن، "کَنزُ الْاِیمان مع خَزائِنُ الْعِرفان" صفحه ۱۲۸ کښې په څلورمه سیپاره سُوْرَۃُ اٰلِ عِمرٰن آیت ۱۰٤ کښې ارشاد شوې دې:

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او په تاسو کښې دِ داسې یوه ډله وي چه نیکۍ ته رابَلل کوي او د ښو خبرو حکم ورکوي او د بدو خبرو نه منع کوي او هم دا خلق کامیابۍ ته رسیدونکي دي.

هر کس دِ د خپلې مرتبې مطابق دعوت ورکوي

مشهور مُفَسِّر حَکیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي **احمد یار خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **"تفسیرِ نعیمي"** کښې د دې آیتِ کریمه نه لاندې فرمائي: **اے مسلمانانو!** تاسو ټول یوه داسې ډله کیدل پکار یئ یا داسې ډله جوړ شئ، یا داسې ډله جوړ شوي اوسئ چه هغه (ډله) ټولو کړو [بې لارې] خلقو ته د خیر (یعني د ښیګړې) دعوت ورکړي.کافِرانو ته د ایمان، فاسِقانو ته د تقوٰی، غافِلانو ته د بیدارئ، جاهِلانو ته د علم او معرِفت، خشک مِزاجو ته **د عِشق د خوند**، اُودو ته د رابیداریدو او د ښو خبرو، د ښو عقیدو او د ښو عملونو [حکم وکړي] په ژبه او قلم او عمل سره، په قُوّت سره، په نرمئ سره (او حاکِم خپل محکوم او ماتحت ته) په سختئ سره حکم وکړي، او د بدو خبرو، بدو عقیدو ، بدو کارونو، بدو اِرادو، بدو خیالونو نه خلق (د خپل خپل منصب مطابِق) د ژبې، زړه، عمل، قلم او د تُورې په ذریعه منع کړي. نور فرمائي:

هر مسلمان مُبَلِّغ دې

ټول مسلمانان مُبَلِّغ [یعني د نیکۍ بَلَنه ورکوونکي] دي،په ټولوباندې فرض دي چه‌خلقو ته د ښو خبروحکم‌وکړي او د بدو خبرو نه ئې منع کړي. (تفسیرِ نعیمي ج۲ ص۷۲ بِتَغَیُّر) لږ مخکښې حضرت مفتي صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خپل تفسیرِ نعیمي کښې د **بُخاري شریف** دا حدیثِ پاك نقل کړې دې چه تاجدارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ اٰيَةً** یعني "زما د طرفه ورسوئ اګر که صرف یو آیت وي." (صحیح بُخاری ج۲ ص۴۶۲ حدیث۳۴۶۱)

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچا دوں ہو تو فیق ایسی عطا یا الٰہی

د نیکئ دعوت چه خور کړم په هر ځائ کښې توفیق داسې را ته راکړې یا اِلٰهی

افضل عمل هغه دې چه د هغې فائِده نورو ته ورسي

مشهور مُفَسِّر حَکیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي **احمد یار خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نور فرمائي: "په اسلام کښې تبلیغ ډیر **اَهَم عِبادت** دې ځکه چه د ټولو عبادتونو فائِده خپل ځان ته رسي خو د تبلیغ فائِده نورو ته هم رسي. د "**لازِم**" (یعني صرف ځان ته د فائدې رسوونکي عمل) نه"**مُتَعَدّی**" (یعني داسې عمل چه نورو ته هم فائِده ورکوي) **غوره** دې. (په رِوایت کښې دي چه) چا د **حُضُورِ اَنوَر** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس وکړو چه بهترین [یعني د ټولو نه غوره] بنده څوك دې؟ وئې فرمائیل: د الله تعالٰی نه ویریدونکې، صِلۀ رِحمي (یعني د خپلوانو سره ښه سلوك) کوونکې، د ښو خبرو ښودونکې او د بدو نه منع کوونکې. (الزُّهدُ الکَبِیر لِلبَیهَقی ص۳۲۷ حدیث۸۷۷) **حضرت سَیِّدُنا حَسَن** (بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) فرمائي: "چه څوك د ښو خبرو حکم کوي او د بدو نه منع کوي هغه د **الله** تعالٰی هم خلیفه [یعني نائِب] دې، د هغه د رسول (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هم او د هغه د کتاب (یعني د قرآنِ کریم) هم." (په حدیثِ پاك کښې دي) که مسلمانانو تبلیغ پریښودو نو په هغوئ باندې به ظالِم بادشاهان مُسَلَّط کیږي اود هغوئ دُعاګانې به نه قبلیږي. (رُوحُ المَعانی ج٤ ص٣٢٦) اَمیرُ المُؤمِنِین **حضرت سَیِّدُنا ابوبکر صِدّیق** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه اے خلقو! د نیکئ حکم کوئ، د بدو نه منع کوئ ستاسو ژوند به په خیر تیریږي. اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الکَرِیْم فرمائي: چه تبلیغ بهترین [یعني غوره] جِهاد دې (تفسِیرِ کبِیر ج٣ ص٣١٦) څنګه چه تبلیغ کول بهترین عبادت دې هم دغسې تبلیغ پریښودل بدترین جُرم او پریښودونکې ذلیل او خوار دې. (تفسیرِ نعِیمي ج٤ ص٧٢ بِتَغَیُّر)

اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی شیرِخُدا کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الکَرِیْم فرمائي: کوم زړه چه نیکي نیکي ونه ګنړي او بدي بده ونه ګنړي نو د هغې (زړه) پاسنئ حِصّه به داسې نسکوره کړې شي لکه څنګه چه کڅوړه نسکوره کړې شي او بیا د کڅوړې دننه [موجود] څیزونه وشیندلې شي. (مُصَنَّف ابنِ ابی شَیبه ج٦ ص٦٦٧ رقم ١٢٤، ١٢٥)

www.dawateislami.net

د ګناهونو په ژوند پښیماني

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا هر طرف ته ډیر زیات ګناهونه کیږي تر دې چه که د ځیني داسې کس خوا ته ورشئ چه هغه په ظاهره نیك ښکاري نو هغه هم ځیني وَخت د عقیدې په خرابیانو، د ژبې په بې احتیا طئ، د سترګو په ګناه او د بد اخلاقئ په آفتونو کښې اخته وي، آه! هر طرف ته ګناهونه ګناهونه او بس ګناهونه ښکاري! نیك بندګان بیشکه موجود دي خو د هغوئي شمیر ډیر زیات کم شوې دې. په داسې ناسازه حالاتو کښې اَلحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سُنَّتو ډك تحریك دعوتِ اسلامي وُجُودِ مَسعُود [یعني برکتي ماحول] د ډیر لوئ نعمت نه کم نه دې. راشئ! د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تړون وکړئ او د خپل ایمان حفاظت او د اَعمالو اصلاح وکړئ. ستاسو د شوق پیدا کولو او [د نیکو د] حِرص زیاتولو د پاره یو **مدني سپرلې** وړاندې کووم چنانچه د **بابُ المَدینه** (کراچئ) د علاقې کیمارئ د اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: د ډیرې مودې نه زه د ګناهونو په مرض کښې اخته ووم، په خبره خبره کنزلې کول او بد رد وئیل، د جنګ جَګړو او د شرارتونو او فسادونو غوندې ناخوښه کارونه زما په عادت کښې شامل شوي وو او د فِلمونو ډرامو د کتلو او د سازونو او سَندرو اَوریدلو شوق خو مې د لیوَنتوب د حده پورې ډیر وو. زما د توبه کولو سبب داسې جوړ شو چه ما به په یو بنګله کښې د ډرائیور په طور نوکري کوله، یوه ورځ چه د کار نه وزګار شوم نو په **تې وي** روم [یعني د تې وی په کوټه] کښې کښیناستم. هلته ما ته د **مدني چینل** په ذریعه د سُنَّتو ډك بیان د اوریدو سعادت حاصل شو، بیان زما زړه او ټول بدن په لړزان کړو، ما ته خپل د ګناهونو نه په ډك ژوند د پښیمانئ احساس وشو، ما د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې د خپلو ګناهونو نه د زړه د اخلاص سره توبه اووِیستله او د سُنّتو لار مې اِختیار کړه. چه کله په مدني چینل باندې د رَمَضانُ المُبارَك د یوې میاشتې د تربِیَتي اِعتکاف ترغیب ورکړې شو نو ما لَبَّیْك اُووئیلو او د یوې میاشتې د تربیتي اعتکاف نِیَّت مې وکړو. د دې لیك د وخته پورې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې نِیّت د عمل کولو سره د دعوتِ اسلامي په **عالمي مدني مرکز**

فیضانِ مدینه بابُ المَدینه (کراچۍ) کښې د اِعتکاف برکتونه حاصلووم. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ اعتکاف چه ختم شي نو سمدستي به د دولسو میاشتو په مَدَني قافِله کښې سفر کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د ګناهونو دارُو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! د مَدَني چینل په بَرَکت د ګناهونو مریض جوړ شو او د رَمَضانُ المُبارك د پوره میاشتې اعتکاف او هغه هم د دَعوتِ اسلامي په عالَمي مدني مرکز بابُ المَدینه کراچۍ کښې د کولو نیك بختي ورنصیب شوه او سمدستي د دولسو میاشتو د سنّتونو د تربیّت د مدني قافلې د مسافر جوړیدو نِیَّت هم ورنصیب شو، بهر حال هر چا له پکار دي چه د ګناهونو د مرض علاج وکړي که په ګناهونو کولو کولو کښې د توبه وِیستلو نه بغیر مرګ راغې او **الله** تعالٰی خفه شو نو یقین وکړئ چه د ډیر غټ نقصان سره به مخامخ شو. د **الله** تعالٰی د نیك بندګانو اداګانې هم څومره ښکلې وي، هغوئي د نیکو کولو باوجود د **الله** تعالٰی نه یریږي او د ګناهونو په علاج پسې ګرځي. چنانچه حضرت سَیِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه زه یو ځل د یو عبادت کوونکي ځلمي سره په بَصره کښې په یو ځائ تیریدم نو یو **طبیب** مې ولیدو چه هغه ته ډیر سړي او زنانه او ماشومان په لاسونو کښې د اوبو نه ډکې بوتلې نیولې د خپلو بیمارو علاج غوښتونکي ناست وو. ما سره چه کوم عبادت ګُزار ځلمې وو هغه اُووئیل: اے طبیبه آیا تاسو سره **د ګناهونو د عِلاج** هم څه دارو شته دې؟ هغه اُووئیل: آو شته دې. ځلمي اُووئیل: ما ته ئې راکړئ. هغه جواب ورکړو: د ګناهونو د علاج نُسخه د لسو څیزونو نه جوړه شوي ده (۱) د فقر او عاجزئ د وَنې جرړې واخله بیا (۲) په هغې کښې د توبې هریړه ګډه کړه. بیا (۳) هغه د رضائے اِلٰهي په چټُو [بَټ کمالي] کښې واچوه او (٤) د قَناعت په کانړي (یعني ډبلئ) باندې ئې ښه میده کړه. (٥)بیا هغه د **تقوٰی** او پرهیزګارئ په دیګ کښې واچوه او (٦) ورسره په هغې کښې د حیااوبه هم ګډې کړه. بیا (۷) هغې له د **محبَّت اِلٰهي** په اور باندې جوش ورکړه (۸) د هغې نه پس

هغه د شُکر په کنډولي [یعني پیاله] کښې واچوه. او (۹) د اُمِّید و رَجا [اَسرې] ببوزې ورته او وَهه او بیا ئې (۱۰) د حمد و ثناء په قاشوغه وخښه. که تا دا هر څه وکړل نو یاد ساته چه دا نُسخه به تا ته دَ دُنیا او د آخرت په هر مرض او مُصیبت کښې فائِده درکوي. (اَلمُنَبِّهات ص۱۱۱)

کب گناہوں سے کنارا میں کروں گا یا ربّ! نیک کب اے مرے اللّٰہ ! بنوں گا یا ربّ!
کب گناہوں کے مرض سے میں شفا پاؤں گا! کب میں بیمار، مدینے کا بنوں گا یا ربّ!

د ګناهونو نه به کله ډډه کومه ربه! زما **الله!** کله به نیك کارونه کومه ربه!
کله به جوړ د ګناهونو د مرضه شمه! کله به زه د مدینې غمونه کومه ربه!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوره څښه او مزې کوه!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن د غیر مُسلمو ګمراه کوونکي تحریکونه په دُنیا کښې هر ځائ دَ خپل مذهب د سلامتیا او بقا بلکه د ترقئ د پاره په کوششونو کښې لګیا دي خو افسوس! دَ دُنیا په **محبَّت** کښې مَست مُسلمانان دَ دُنیا د روزګارونو نه نه وزګاریږي. افسوس په کروړونو افسوس! د دې زمانې د مسلمانانو اکثریت لکه چه فقط "**خوره څښه او مزې کوه**" د خپل ژوند مقصد ګرځولې دې، نورو ته د لـمانځه او د سنّتونو د نصیحت غم د چا سره دې! بلکه د دوئي سره خو د آخِرت د ګټې حاصلولو د پاره دومره وخت هم نه وي چه په اطمِنان سره [یعني په قلاره] خپل لـمونځ وکړې شي او هغه د غم نه ډك زړه به چرته پیدا کړو چه هغه د سُنَّتو د محبَّت نه ډك وي. بس هر وخت دُنیا او دَ دُنیا د ترقئ فکرونه دي.! د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ کړې شوي د ۱۲۵ صفحو په کتاب "شُکر کے فضائِل" صفحه ۱۰۳ کښې دي: حضرت سَیِّدُنا امام حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: څوك چه صرف خوراك څښاك او جامه د الله تعالٰی نِعمتونه ګنړي، یقِیناً د هغه عِلم کم دې. (الزّهد لابن المُبارك ص۱۳٤ رقم ۳۹۷)

دیتا ہوں تجھے واسِطہ میں پیارے نبی کا
اُمّت کو خُدایا رہِ سنّت پہ چلا دے (وَسائِلِ بخشِش ص۱۰۰)

په خاطر د خوږ نبي درنه دا غواړم په سُنّتو کړې روان اُمَّت اے خدایا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دُنیا نه خوښولو ښکلې سبب

زمونږه حالت خو دادې چه دَ دُنیا محبَّت په زړه کښې د کمیدو نوم نه اخلي او هر وخت دَ دُنیا د نعمتونو او سهولتونو په زیاتولو پسې مَنډې ترړې وهو خو د الله تعالیٰ نیك بندګانو او حقیقي عاشِقانِ رسول به دَ دُنیا [د دولت] نه په بچ کیدلو او دَ دُنیا د نعمتونو په کمۍ شُکر ادا کولو چنانچه "شُکر کے فضائِل" صفحه نمبر ٦٨ کښې ورکړې شوې عبرتناك روایت واورئ او عبرت واخلئ: حضرت سَیِّدُنا مَجمَع انصاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دَ یو بُزُرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په باره کښې بیان کوي چه هغوئي اُوفرمائیل: "د الله تعالیٰ دا احسان چه زه ئې دَ دُنیا (د سهولتونو او اسانو) نه بچ کړې یم، د دې (یعني دَ دُنیا) د فراخۍ (مثلاً د مال دولت وغیره) په صورت کښې دَ ورکړو شوو نعمتونو نه غوره دې. ځکه چه الله تعالیٰ د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره دُنیا نه ده خوښه کړې، ځکه ما ته هغه نعمتونه کوم چه الله تعالیٰ د خپل نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره خوښ کړي دي، د هغه نعمتونو نه خوارِه دي، کوم چه هغه د خپل نبي (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د پاره ناخوښه کړي دي. (شُعَبُ الاِیمان ج٤ ص١١٧ حدیث٤٤٨٩ مُلَخَّصاً) د دُنیا د مال او دولت ډیر والې او د دې ښه ډیر سهولتونه په لاس راتلل بیشکه نِعمَت دې خو د دې څیزونو نه بچ اوسیدل د دې نه غټ نِعمَت دې.

پیچھا مرا دُنیا کی محبَّت سے چُھڑا دے
یا ربّ! مجھے دیوانہ محمد کا بنا دے

دَ دُنیا د محبَّت نه خلاصې راکړې دیوانه د محمَّد مې کړې اے خدایا!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د اسلام به صرف نوم پاتې شي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي ورځ په ورځ حالات نور هم خرابیږي، داسې ښکاري لکه چه اوس صرف د اسلام نوم پاتې دې، په کروړونو افسوس! د مسلمانانو د ژوند انداز ډیر زیات د غیر مسلمو په شان شوې دې، په ډیره تَوَجُّه سره دا روایت واورئ په خپل زړه کښې خفګان پیدا کړئ او که کیدې شي نو اوښکې اوبَهیَوَئ،چنانچه د حضرتِ سیِّدنا عَلِيُّ المُرتَضٰی شیرِخُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم نه رِوایت دې: د **الله** تعالی د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ غیب نِشان دې: نزدې ده چه په خلقو به هغه وخت راشي، چه د اسلام به صرف نوم او د قرآن به صرف (رسم و) راوج پاتې شي، د هغوئ جماتونه به آباد وی خو د هدایت نه تش [یعني خالی]، د هغوئ عُلَماء به د اسمان نه لاندې [په مخلوق کښې] د ټولو نه بد خلق وي، د هغوئ نه به فِتنه اُوځي او په هغوئ کښې به ور وګرځي. (شُعَبُ الاِیمان ج۲ ص۳۱۱ حدیث ۱۹۰۸)

صرف د نوم مسلمانان به پاتې شي

مشهور مُفَسِّر حَکیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك نه لاندې فرمائي: "(د اسلام به صرف نوم پاتې شي یعني هغه) داسې چه د مسلمانانونومونه به اسلامي وي او خپل ځان ته به مسلمانان هم وائي خو طور طریقې به ئې ټولې د کافرانو په شان وي څنګه چه نن صبا لیدلې شي یا د ارکانِ اسلام نومونه او شکلونه خو به موجود وي خو مقصد به ئې ختم شي (مَثَلًا) د لـمونځ نقشه خو به وي خو خُشوع و خُضُوع [یعني د بدن عاجِزي او د زړه حاضري]به نه وي، **زکوٰۃ** به اوباسي خو د خپل قوم سره خیر ښیګړه به ختمه شي،**حج** به کوي خو صرف د سیل (او مزې) د پاره،جهاد به کیږي خوصرف دَمُلك د قبضې (یعني بادشاهي حاصلولو)د پاره." مُفتي صاحب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دَ حدیثِ پاك دَ دی حصّې (د قرآن به صرف رسم و رواج پاتې شي) په وضاحت کښې فرمائي: رسم نقش ته هم وائي او طریقې ته هم، دلته دواړه معنې صحیح دي یعني د **قرآن** نقشونه به په کاغذ وي او لفظونه به ئې په ژبه وي خو د دې احترام به په زړه کښې نه وي او عمل به په بدن کښې نه وي یا به د رسم په طور قرآن لوستلې او [کور وغیره کښې] ایښودلې شي، په عدالتونو

کښې د دروغو د قسمونو د پاره او په کورونو کښې به په مړو پسې د لوستلو د پاره (دا استعمالیږي خو) د عمل (کولو) د پاره به د عیسایانو قانون وي. (د حدیث د دې حصّې، "د هغوئي جماتونه به اباد وي خو د عبادت نه خالي" مطلب دا دې چه) د جماتونو تعمیر خو به ډیر په اوچت شان، په نقشو او رنګ روغن ښکلي، د بِجلئ فِتِنګ هم ډیر ښه خو لـمونځ کوونکي به پکښې نه وي، د هغوئي اِمامان به بے دِینه وي، یعني جماتونه به د هدایت په ځائ د بے دینئ خورولو مرکزونه جوړ شي، د هر جُمات نه به د لاؤډ سپیکر په ذریعه آوازونه راځي خو (د هغه بے دِینه عُلَماء) هغه درسونه به ډیر زیات خطرناك زهر وي، چه په هغې کښې به د قرآن په نوم باندې کُفر او [د دین خلاف] بغاوت خوریږي. (دَ حدیثِ پاك د آخري حصّې په شرح کښې فرمائي:) یعني بې دِینه عُلَمائے سُوء (یعني بد مذهبه او بې عَمله عالِمَان) به ډیر زیات وي، او د هغوئي فِتنه به د ټولو مسلمانانو نه (داسې) چاپیره شي لکه د دائِرې لیك چه د کوم ځائ نه شروع شوې وي او بیرته هغه ځائ ته را ورسي نو دائِره مکمله شي. (مِراٰةُ المناجیح ج۱ ص۲۲۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د کفنونو غل چه غیبي آواز واوریدو.....

یاد ساتئ! د دې مطلب په جماتونو کښې کیدونکي د عُلمائے حق دَ درسِ قرآن و حدیث او ایمان تازه کوونکي بیانونه بالکل نه دې، د دې حضراتو درسونه او بیانونه د اُمَّت د پاره د هِدایت ذریعه او د رحمتونو د نازلیدو باعِث او د بخښنې سبب وي، چنانچه مشهور بزرګ **حضرت سَیِّدُنا حاتِم اَصَم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو ځل د "بلخ" په ښار کښې بیان کولو، د بیان په دوران کښې ئې د ګنهګارانو سره د ښیګړې کولو د جذبې په وجه د بخښنې دُعا اوغوښتله: "اے پروردګاره په دې اجتماع کښې چه څوك د ټولو نه زیات ګنهګار دې ته په خپل رحمت د هغه بخښنه وکړې:" یو د **کفنونو غل** هم هلته موجود وو، چه کله شپه شوه نو هغه د کفن غلا کولو په غَرَض مقبرې [یعني ادیرې] ته لاړو، چه څنګه ئې **قبر** وکنستو نو یو غیبي آواز وشو: "**اے د کفنونو غله!** نن د ورځې د

حاتِم اَصَم په اجتِماع کښې ستا بخښنه شوې ده ته نن شپه بیا وَلې ګناه کوې!" چه دا ئې واوریدل نو هغه په ژړا شو او هغه په صدق [یعني په رښتیني] سره توبه او وِیستله. (تذکِرَۃُالاَولِیاء ص۲۲۲ مُلَخَّصاً)

مجھے دیدے ایمان پر اِستقامت پئے سیّد مُحتَشَم یا الٰہی
مرے سر پہ عِصیاں کا بار آہ مولیٰ! بڑھا جاتا ہے دم بدم یا الٰہی

زمیں بوجھ سے میرے پھٹتی نہیں ہے
یہ تیرا ہی تو ہے کرم یا الٰہی (وسائل بخشش ۸۲)

ما ته راکړې په ایمان اِستِقامت په خاطر د سَیِّدِ مُحتَشم یا اِلٰهي
زما په سر بوج د ګناهونو آه مولیٰ! نور هم زیاتیږي دم په دم یا اِلٰهي
نه چوي زمکه زما په ډیرو ګناهونو دا دې ستا ډیر لوئ کرم یا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آیا غیرمُسلم هم ځان زمونږ په شان جوړوي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده واقِعي! د نیکانو خلقو دیدار کول او صُحبت [یعني د هغوئ سره ناسته ولاړه]، د هغوئ د بیان برکت او د عاشقانِ رسول په اجتماعاتو کښې شرکت د دواړو جهانو د پاره د خوش بختئ خبره ده. د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چه د مُبَلِّغ په زړه کښې په ګناهونو کښې د اخته مسلمانانو سره همدردي پکار ده، د پوهه کولو سره سره د ګنهګارانو د پاره د دعائے خیر کولو نه هم غفلت نه دې پکار. دا خو د تبع تابِعِین د ښکلي وخت واقعه ده. افسوس اوس خو عملي طور د دِین نه مسلمانان ډیر لري وتي دي، د نن صبا په مسلمانانو خدائے خبر چه څه شوي دي چه هغوئ سُنّتونه هیر کړي دي او د غیرو په فیشن کولو کښې فخر محسوسوي، د غیر مسلمو په شان جامې اغوستل لکه چه د دوئ په نِزد د ډیرې خوش بختئ خبره ده! آیا تاسو چرې غیرمُسلم هم داسې لیدلې دې چه هغه حقیقی طور ځان د مسلمان

www.dawateislami.net

په شان جوړ کړې وي! (لکه یو موټې کِیره، د سُنّت مطابق زُلفې، عِمامه [یعني پټکې] شریف او د سنّت مطابق کپړې وغیره ئې وي) کله به هم نه وي لیدلې. دا خلق ډیر چالاکه او مَکار دي، هغوئې خپلې باطِله او بدبو داره طور طریقې نه پریږدي او کله هم د مسلمانانو طریقې نه خپلوي خو په کروړونو افسوس! د غیرو طور طریقې د خپلولو کم عقلي خو اوس د مسلمانانو په دماغو کښې پخه شوې ده.

اے زما د غفلت په خوب اُوده اسلامي ورونړو! د خدائے د پاره را بیدار شئ!! د دې نه مخکښې چه د مرګ فرښته راشي او تاسو د همیشه همیشه د پاره د دې دُنیا نه لرې کړي، راویښ شئ او نور اسلامي ورونړه هم رابیدار کړئ!! ګنې یاد ساتئ.

نہ سمجھو گے تو مِٹ جاؤ گے اے مسلمانو!
تمہاری داستاں تک بھی نہ ہوگی داستانوں میں

ورك به شئ مسلمانانو که پوهه نه شوئ
نوم به هم ستاسو څوك نه اخلي په قِیصو کښې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

ناکامه عاشِق

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د مسلمانانو حالات نن د بیانولو لائِق نه دي، هر سړې د ګناهونو سیلاب په مخه کړې دې، په دې حالاتو کښې د تبلیغ قُرآن و سُنّت د عالمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** مدني ماحول د ډیر لوئ نعمت نه کم نه دې، د دې سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې کښې د شامِلیدو والؤ په ژوند کښې حیرانَوونکي بدلیدل بلکه مَدَني اِنقِلاب راپورته شي. په دې باره کښې یو **مدني سپرلې** اُوګورئ، چنانچه د بابُ المَدینه (کراچئ) د مَلِیر د علاقې یو اسلامي ورور په خپل ژوند کښې د راتلونکي مَدني انقِلاب په باره کښې څه داسې لیکي: زه په بدقِسمتئ سره په **عِشقِ مجازي** کښې ګرفتار شوې او په ګناهونو کښې ډوب شوې ووم، یوه ورځ زه خبر شوم چه د هغې د کور خلقو د "هغې" واده د بل چا سره وکړو، د

دې واقعې نه پس زما ژوند تیریدل ډیر ګران شو، آخِر **زما هُم هغه انجام وشو کوم چه په عشق مجازي کښې د شیطان په لاس کښې د لوبیدونکو په سوونو ناکامه او نامراده عاشقانو کیږي** یعني زه [په ژوند] تنګ شوم **اود چرسو، افِیمو، شرابو، پوډرو او انجکشنو** [یعني د نشې د ستنو] **په شان تباه کوونکو نشو کښې اخته شوم.** په خپل غلط ګُمان کښې د زړه د خوشحالولو د پاره به شاید چه داسې نشه نه وي پاتې چه ما به نه وي کړي. په ژوند داسې تنګ شوې ووم چه **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ډیر ځله مې د خود کُشئ [یعني د ځان وژلو] ناکامه کوشش هم وکړو، د ځان ختمولو د پاره مې د ډیټولو، پیټرولو او تیزابو پورې څیزونه وخښل خو لا د ساګانو شمیر به مې نه وو پوره. د رَبُّ العٰلَمِین جَلَّ جَلَالُه دَ بې نیازئ نه قربان شم چه د دومره نافرمانو باوجود ئې په ما د رحمت دروازه بَنده نه کړه، د اللّٰه دَ کرم سبب څه داسې جوړ شو چه زما ملاقات د دعوتِ اسلامي په خوشبودار مَدني ماحول کښې شامِل د یو **عاشِقِ رسول** سره وشو. چه د هغوئ خوږې خبرې مې واوریدلې نو په زړه کښې مې بیا د ژوندي اوسیدو خواهِش رابیدار شو، د هغوئ د **اِنفِرادي کوشش**[1] په بَرَکت په ۲۹ **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** ۱٤۲۷ھ (2006ء) ما ته د دعوتِ اسلامي د عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه د روحانِیّت نه ډك مقام ته د راتلو سعادت نصیب شو. دلته مې چه هر طرف ته په شنو شنو عمامو [یعني پټکو] کښې عاشِقانِ رسول ولیدل نوزما ایمان تازه شواو سمدستي د ۱٤۲۷ھ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پوره میاشتې په اجتِماعي اعتِکاف کښې کښیناستم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ماګنهګار ته هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو نیولو سعادت حاصل شو، **د مَدَني ماحول په برکت زما د زړه نه د عشقِ مجازی خیال اُووَتو، بد سوچونه مې ختم شو، ما ګِیره پریښوده، شنه شنه عِمامه مې په سر کړه او د سُنّت مطابق جامې مې واغوستلې** او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د پینځه وخته لـمونځ پابند جوړ شوم او د دې لیك د وخته پورې د دې مُقدَّسې جذبې سره د مدني کارونو په کوشش کښې یم چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي".**

[1] د "اِنفِرادي کوشش" الفاظ چه کوم ځائ هم راځي د دې مطلب دې "جُدا جُدا په یو یو ګس کوشش کول"

www.dawateislami.net

عطا ئے حبیبِ خدا مَدَنی ماحول ہے فَیضانِ غوث و رضا مَدَنی ماحول
بَفَیضانِ احمد رضا اِن شاءَ اللّٰہ یہ پُھولے پھلے گا سدا مَدَنی ماحول

(وسائل بخشش ص ٦٠٤)

عطا ده د حبیبِ خدا مدني ماحول دې فیضان د غوث و رضا مدني ماحول
په برکت د احمد رضا اِن شآء الله په ترقئ به روان وي سدا مدني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د غیر شرعي عِشقِ مجازي تباهیاني

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! چه د عشقِ مجازي په اور کښې سوزیدونکې یو بې فائده عاشِق د یو عاشقِ رسول د اِنفرادي کوشش په نتیجه کښې د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښې شامِل شو او د عشقِ رسول جام څښلو کښې کامیاب شو. بس په هغه باندې د الله تعالیٰ کرم وشو ګنې د **عشقِ مجازي** معامَله داسې عجیبه ده چه څوك په دې کښې یو ځل اخته شي نو بیا د هغه د دې نه روغ وتل مشکل وي. نن صبا د عشقِ مجازي خرابه هوا ډیره خوره شوې ده، د دې د ټولو نه غټه وجه د ډیرو مسلمانانو د اسلامي معلوماتو کمې او د دیني ماحول نه لري والې دې. هم په دې وجه هر طرف ته د ګناهونو سیلاب راغلې دې! په تې وي، V.C.R او انټرنیټ وغیره باندې عِشقِیه فِلمونه او د ګناهونو نه ډکو ډرامو کتلو په وجه یا د عشق بازئ په باره کښې په دروغو مُشتمِل اخباري خبرونو او وَرسره وَرسره ناولونو، بازاري ماهنامو او ډائجِسټونو کښې فرضي [د ځان نه راجوړې کړي شوي] قیصې لوستلو یا په کالجونو او یونیورسټو کښې دَ مخلوط (یعني د هلکانو او جینکو په ګډوډ) کلاسونو کښې د ناستې په وجه یا د نامحرمو خپلوانو سره په یو ځائ ناسته ولاړه او په خپل مینځ کښې د اَزادئ ساتلو په وجه د یو نه یو سره **عِشق** پیدا شي. **اول** د یو طرفه وي او بیا چه کله وړومبې کس هغه بل ته هم [د هغه سره د عشق کولو] خبر ورکړي نو ځیني وخت **دوه طرفه** شي او بیا عام طور د ګناهونو طوفان راپورته شي. په فون باندې په بې شرمه خبرو زړه

www.dawateislami.net

تشول بلکه د بې پردګئ د ملاقاتونو سلسلې شروع شي، یو بل له خطونه او تُحفې ورلیږلې کیږي، پټ په پټه د واده کولو قَسمونه او وَعدې کیږي، که د کور خلق پکښې رکاوټ جوړ شي نو بعضې وخت کښې دواړه وتښتي، د هغې نه پس په اخبارونو کښې د هغوئي خبر مشهور شي او د خاندان عِزَّت تباه و برباد شي، کله په عدالتونو کښې د واده ترکیب جوړیږي او **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ کله دغسې بې نکاح ..... او بیا د داسې بې رَحمه خلقو ناجائِزه بچي په ډیرانونو کښې مړه موندلې کیږي او داسې هم کیږي چه که په تیښته کښې کامیاب نه شي نو ځان مړ کړي څنګه چه د دې خبرُونه هره ورځ په اخبارونو کښې چاپ کیږي.

د یوسف عَلَیْهِ السَّلَام لَمَن د عِشقِ مجازی نه پاکه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا د اسلامي معلوماتو د کمئ دَور دې، جَهالت پخې ډیرې اچولي دي، بعضې بې هُوده عاشِقان په خپلو ناپاکو عشق بازیانو باندې د پرده اچولو د پاره تر دې پورې وائي چه حضرت سَیِّدُنا یوسُف عَلَیْهِ السَّلَام هم د زُلیخې سره عِشق کړې وو! (**مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ) داسې بالکل نه وو، یقیناً داسې بکواس کوونکي نادان عاشقان په ډیره غټه خطا کښې پراته دي. د خپل نفس د شرارتونو په مُعامَله کښې د شیطان په خبرو کښې راتلل او بې سوچه د یو نبي عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په باره کښې ژبه خوزول د ایمان د پاره ډیر زیات خطرناك دي. **یاد ساتئ!** د نبی عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام **په شان کښې وړه غوندې ګستاخي کول هم کُفر دي.** حضرت سَیِّدُنا **یوسف** عَلَیْهِ السَّلَام د **اللّٰه** تعالٰی نبی دې او هر نبی معصوم دې. د نبی نه بالکل هیڅ مذموم [یعني غلط] حرکت نه شي کیدې. چنانچه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ کړې شوي د ترجمې والا پاکیزه قرآن "کَنزُالاِیمان مع خزائِنُ العِرفان" صفحه ٤٤٥ پاره ١٢ سُوْرَۂ یُوْسُف آیت نمبر ٢٤ کښې اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ارشاد فرمائي:

وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهٖ ۚ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَاۤ اَنْ رَّاٰ بُرْهَانَ رَبِّهٖ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او بیشکه هغه ښځې د ده اِراده وکړه او ده به هم د ښځې اِراده کړې وې که د خپل رب دلیل ئې نه وې لیدلې.

صدرُالافاضِل حضرت مولانا سَیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه فرمائي: **اللّٰه** تعالٰی د انبیاؤ عَلَیْهِمُ الصَّلٰوةُوَالسَّلَام پاك نفسونه د اخلاقِ ذَمِیمه او افعالِ رَذِیله (یعني د بدو اخلاقو او ذلیله کارونو) نه پاك پیدا کړي دي او د هغوئي پیدائِش ئې د اخلاقِ شریفه، طاهره، مُقدَّسه سره فرمائیلې دې ځکه هغوئي د هر بد کار نه منع وي. په یو روایت کښې دا دي چه کله **زُلیخه** په هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام پسې شوله نو هغه وخت هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام خپل والِد ماجِد حضرت سَیِّدُنا **یعقوب** عَلَیْهِ السَّلَام ولیدو چه خپله مبارکه ګوته ئې په مبارکو غاښونو کښې نیولي ده او د بچ کیدو اشاره فرمائي. (خزائِنُ العِرفان)

حقیقت هم دا دې چه **عشق** صرف د **زُلیخې** د طرفه وو د حضرت سَیِّدُنا یوسُف عَلَیْهِ السَّلَام لَمَن د دې نه قطعاً یقیناً پاکه وه. په دولسمه سیپاره د سُوْرَۂ یُوْسُف په آیت نمبر ۳۰ کښې د مصر د شریفانو د ځینو ښځو قول په دې شان نقل کړې شوې دې:

وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ امْرَاَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰىهَا عَنْ نَّفْسِهٖ ۚ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ؕ اِنَّا لَنَرٰىهَا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۰﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او په ښار کښې ځینو ښځو اُووئیل چه د عزیز ښځه د خپل ځلمي زړه ښویول غواړي، بیشکه د هغه مِینه د دې په زړه کښې ننوتـي ده، مونږ ته خو دا ښکاره خود رفته [یعني د ځان نه ناخبره] ښکاري.

حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه فرمائي: "**زُلیخې** رَغبت لرلو خو حضرت سَیِّدُنا **یوسُف** عَلَیْهِ السَّلَام د طاقت او قدرت لرلو باوجود د دې (یعني د زُلیخې طرف ته د رغبت) نه بچ وو. **اللّٰه** تعالٰی په قُرآنِ کریم کښې د هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام د بچ کیدو د عمل ډیر صفت بیان کړو." (اِحیاءُ العُلوم ج۳ ص۱۲۹)

د نادانو عاشقانو رد وشو

د دې نه اَظْهَرُ مِنَ الشَّمْسِ وَاَبْيَنُ مِنَ الْاَمْس یعني د نمر نه زیات روښانه او د تیرې شوې ورځې نه زیاته یقیني معلومه شوه چه د نن صبا کوم **نادان عاشِقان** چه خپل د ګناهونو نه ډك سخا

بدبوداره عشق د صحیح ثابتولو د پاره **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د حضرت سَیِّدُنا **یوسف** عَلَیْہِ السَّلَام او **زُلیخې** واقعه دلیل جوړوي، دا د حُکمِ قرآني سراسر خلاف او په ډیرو صورتونو کښې رسا کفر ته رسوونکې خبره ده. په سُوْرَۂیُوْسُف کښې صرف د **زُلیخې** د طرف نه د عشق ذِکر دې او په یو ځائ کښې هم پکښې څه اشاره قدرې هم نه موندل کیږي چه ګنې **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ حضرت سَیِّدُنا **یوسف** عَلَیْہِ السَّلَام هم د هغې په عشق کښې شریك وو. لهذا څوك چه حضرت سَیِّدُنا **یوسف** عَلَیْہِ السَّلَام هم په عشق کښې شریك ګنړي، هغوئ دِ دَ دې نه توبه وکړي او تجدیدِ اِیمان دِ هم وکړي یعني دَ توبه وِیستلو سره دِ دَ نوي سر نه مسلمان شي. د الله تعالیٰ د نبي عَلَیْہِ السَّلَام شان ډیر عظیم وي او هغوئ د ګناهونو نه معصوم وي.

یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته خپل حقیقي محبَّت او د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوخ او د رښتینې مَحَبَّت رانصیب کړې. یاالله عَزَّوَجَلَّ! دَ دُنیا محبَّت زمونږ دَزړونو نه اوباسې. یاالله! کوم مسلمانان چه د ګناهونو نه ډك د "عشقِ مجازي" په جال کښې نښتي دي هغوئ راخلاص کړې او د خپل خوږ مَدَني محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زُلفو قیدیان ئې جوړ کړې.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محبت غیر کی دل سے نکالو یارسولَ اللّٰه
مجھے اپنا ہی دیوانہ بنا لو یارسولَ اللّٰه

اوباسئ زما د زړه نه د غیر محبَّت یا رسولَ اللّٰه
ماته خیرات راکړئ د خپل محبَّت یا رسولَ اللّٰه

(د عِشقِ مجازي په باره کښې د عجیبه معلوماتو حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مکتبۃُالمَدینه چاپ شوې کتاب، "پردے کے بارے میں سوال و جواب" د صفحه 318 نه 356 پورې ولولئ)

د اِمام اوزاعي ژړوونکې بیان

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! راځئ چه د مشهور مُحدِّث حضرت سَیِّدُنا اِمام اوزاعي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ

اللّٰہِ الْھادِی د نیکئ په دعوت باندې مُشتمِل د غافلانو د رابیدارولو والا، د غم نه ډك او عبرت انګیز بیان واورو چنانچه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري **مَکتبۃُالمَدینه** چاپ شوي د ۱۲۵ صفحو کتاب "شُکر کے فضائِل" کښې د صفحه ۳۲ نه ۳۳ پورې دي چه: حضرت سَیِّدُنا اِمام اَوزاعي رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په بیان کښې ارشاد اُوفرمائیلو: اے خلقو! د دې (دُنیاوي) نِعمتونو په ذریعه د **الله** تعالٰی د **لمبې** وهونکي هغه اور نه د بچ کیدو مدد حاصل کړئ چه هغه به د زړونو نه راتاؤ شي، بیشکه تاسو په داسې (پاتې کیدونکي)کور کښې ئې چه په هغې کښې د (اوګد عُمر په ذریعه) د اوسیدو اوګده موده هم لږه ده او دې ته تاسو د هغه تیرو شوو خلقو په ځائ اوسیدونکي رالیږلي شوي ئې، کومو چه د دُنیا ښُکلا او د دې رنړا ګانو او سپرلو ته مخ کړې وو، د هغوئ عمرونه تاسو نه زیات اوګده او د هغوئ ونې ستاسو نه اوچتې وې او نښې ئې غټې وې. هغوئ غرونه وخیرل د ګټو ختان ئې پریك کړل، په ښارونو کښې ګرځیدل، زیات طاقت لرونکي وو او د هغوئ وجودونه [د لرګو] د ستَنو په شان وو. د هغې باوجود زمانې د هغوئ عُمرونه ډیر زر ختم کړل، د هغوئ نښې ئې ورانې کړې. د هغوئ کورونه ئې وران او ختم کړل او د هغوئ ذِکر ئې هیر کړو. اوس نه تاسو هغوئ وینئ او نه د هغوئ آواز اورئ. هغوئ د دروغو په اُمّیدونو باندې خوشحاله وو، شپې او ورځې به ئې په غفلت کښې تیرولې. بیا تاسو خبر ئې چه د شپې په هغوئ باندې د **الله** تعالٰی عذاب راغې نو سحر په هغوئ کښې اکثر کسان په خپلو کورونو کښې نسکور پراته وو او کوم چه پاتې شو هغوئ د **الله** تعالٰی په عذاب، د هغه د نعمتونو په اخستو او په هلاکت کښې د اخته شوو خلقو د (ورانو) کورونو نښو ته حیران پاتې شو. په دې کښې نښې دي د هغوئ د پاره څوك چه د درد ناك عذاب نه یَریږي او عِبرت دې د هغوئ د پاره څوك چه په زړونو کښې د **الله** تعالٰی ویره لري.او اوس دهغوئ نه پس ستاسومودہ کمه پاتې ده او دُنیا عارضي ده او زمانه داسې راغله چه نه عَفوودرګزر [یعني نه یو بل ته بخښنه کول] پاتې دي او نه نرمي پاتې ده بلکه د بدئ، د پاتې غمونو، د عبرتناکې سختئ، د باقي پاتې سزاګانو د نښو، د فسادونو د سیلابونو، د پرله پسې زلزلو او د بدترینه پاتې شوو خلقو دور دې. د دوئ د ګناهونو په وجه په وجه او **لمده** کښې خرابئ

www.dawateislami.net

ښکاره شوې. خو تاسو د هغوئي په شان مه کیږئ کوم چه اوګدو اُمّیدونو او اوګدو مودو په دوکه کښې اچولی وو او هغوئي صرف د خواهشاتو منونکي پاتې شو. مونږه د **الله** تعالیٰ نه سوال کوو چه مونږه او تاسو هغه خلق جوړکړي څوك چه د خپل نَڈ [یعني مَنَښتې] حفاظت کوي او هغه پوره کوي او خپل (حقیقي) ځائ [یعني آخرت] پیژني او [د هغې د پاره] ځان تیار ساتي." (تاریخِ دِمِشق لِابنِ عساکر ج ۳۵ ص۲۰۸ رقم ۳۹۰۷)

موت ٹھہری آنیوالی آئیگی جان ٹھہری جانے والی جائیگی
رُوح رگ رگ سے نکالی جائے گی تجھ پہ اِک دن خاک ڈالی جائے گی
قبر میں میّت اُترنی ہے ضَرور
جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضَرور

مرګ دې ستا لیکلې اَو راځي به ساه ختل لیکلي شوي دي اُوځي به
رُوح به دِ د رګ رګ نه ویستلې شي په تا به یو ورځ خاورې اړولې شي
قبر ته به تا ښکته کوي ضرور ستا د کړو بدله به درکوي ضرور

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اِمام اوزاعي څوك وو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حضرت سَیِّدُنا اِمام عبدُ الرّحمٰن اوزاعي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه چه د چا ژړوونکې بیان هم اوس اوس واوریدو، دوئي جَیِّد عالِم، زبردست مُفتي او د اَهلِ شام ډیر لوئ اِمام تیر شوې دې، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اویا زره فتوې ورکړي دي، تبع تابِعِي وو. پیدائِش مبارَك ئې په سن ۸۸ هجري کښې او وفات شریف ئې په رَبِیعُ الاوّل۱۵۷هجري کښې شوې وو. (حَیاةُ الحَیَوان ج۱ ص۱۹۸)

په خوب کښې د ربّ مهربانئ

حضرت سَیِّدُنا اِمام اوزاعی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائی: ما یو ځل په خوب کښې د خُدائے غفّاردیدار وکړو، **الله** تعالیٰ اُوفرمائیل: اے عبدُالرّحمٰن! ته ئې چه د نیکئ دعوت ورکوې او د بدو نه منع

کوې؟ ما عرض وکړو: جي آو زما خوږ خوږ پروردګاره، هم ستا په فضل و کرم د دې توفیق رانصیب شوې دې. زما مولٰی! ما د دُنیا نه په اسلام پورته کړه. په دې باندې الله تعالٰی او فرمائیل: په سُنّت هم. (حِلیَةُ الاولیاء ج٦ ص١٥٣ رقم ٨١٣١)

د وفات عجیبه واقِعه

حضرت سَیِّدُنا اِمام اوزاعی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په بیروت کښې اوسیدلو، یو ځل د بیروت حَمام ته ورداخِل شو، د حمّام مالِك د بې خیالئ په وجه دروازه د باهر نه بنده کړه او لاړو. څه ورځې پس چه هغه راغې او د حَمام دروازه ئې بیرته کړه نو حضرت **سَیِّدُنا اِمام اوزاعی** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپل ښې لاس د رُخسار(یعني مخ) نه لاندې کړې مخ په قبله ملاست وو او رُوح ئې د بدن نه وَتلې وو. (ابنِ عساکر ج٣٥ ص٢٢٢) **د الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطِر دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سرکارِ مدینہ کی سنّت پہ جو چلتے ہیں
اللہ کے وہ بندے زندہ ہیں مزاروں میں

د سرکارِ مدینه په سنّتونو چه عمل کړي بندګان هغه، قبرونو کښې ژوندي دي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

شرابي راغې مُؤَذِّن جوړ شو!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ژوند په مقصد پوهیدلو، د دې [مقصد] د حاصلولو، د مرګ د تیارئ د ذِهن جوړلو او د شریعت په دائِره کښې د اوسیدو په ذریعه د دُنیا سره سره د خپل آخِرت د ښائِسته کولو جذبه موندلو د پاره د تبلِیغِ قرآن و سُنّت عالمګِیر غیر سیاسي تحرِیك **دعوتِ اِسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. اُوګورئ! د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول څومره وران کاري خلق سَمَوي! د سنّتو د تربیّت په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول په ملګرتیا

www.dawateislami.net

کښې د سُنَّتو ډك سفر د زمانې شړلي خلق د کوم ځائ نه کوم ځائ ته رسوي! چنانچه د مهاراشټر (هِند) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه د ګناهونو په مرض کښې ډیر زیات اخته شوې ووم. د ټولې ورځې د مزدورئ کولو نه پس به چه ما کومې روپئ ګټلې د شپې به مې په هغې مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **شراب څښل، ښې مزې به مې کولې، شور شغرب به مې کولو، کنزلې به مې کولې، مور او پلار او چم ګاونډ والا به مې ښه تنګول، د دې نه علاوه زه سخت جواري او بدترینه بیلمانځه هم ووم.** په هم دې غفلت کښې زما د ژوند قیمتي ورځې بربادیدلې، آخِر دا چه زما د قسمت ستورې روښانه شو. داسې وشو چه زما ملاقات د دعوتِ اسلامي د یو ذمّه دار اسلامي ورور سره وشو. هغوئ په ما اِنفِرادي کوشش وکړو او ما ته ئې په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر کولو ترغیب راکړو، د هغوئ خوږو خبرو په ما داسې اثر وکړو چه ما انکار ونکړې شواو زه سمدستي د درې ورځو د مَدَني قافِلې مُسافِر جوړ شوم. په مَدَني قافِله کښې راته د عاشِقانِ رَسول صُحبت حاصل شو او د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مَکْتَبَةُالْمَدِینه د چاپ کړې شوو رسالو د اوریدلو موقع هم په لاس راغله. د هغې راته دا برکت نصیب شو چه زما په شان پوخ بې لمَانځه، شرابي او جُواري توبه وِیستله، لـمونځونه ئې شروع کړل بلکه صدائے مدینه لګوونکې (یعني د سحر د لـمانځه د پاره مسلمانان راپاڅولو والا) او نور خلق د مَدَني قافلو مسافر جوړولو والا جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! **زما په اِنفِرادي کوشش** (د دې بیان ورکولو پورې) **دیرش اسلامي ورونړه د مَدَني قافِلو مسافِر جوړ شوي دي** او زه دا وخت په یو جُمات کښې **مؤَذِّن** یم او د مَدَني کارونو کولو کوشش کووم.

چھوڑیں مے نَوشیاں مت بکیں گالیاں آئیں توبہ کریں قافِلے میں چلو
اے شرابی تُو آ، آجواری تُو آ چُھوٹیں بد عادتیں قافِلے میں چلو
ہوگا لُطفِ خدا، آؤ بھائی دُعا مل کے سارے کریں، قافِلے میں چلو

(وسائل بخشش ص615)

www.dawateislami.net

مه کوئ نور کنزل، پریږدئ ټولې نشې راشئ توبه وکړئ قافلو کښې لاړ شئ
اے شرابي راشه، اے جُواري راشه بَد عادت به پریږدئ قافِلو کښې لاړ شئ
مهربان دې خُدا، راشئ وکړئ دُعا په شرِیکه ټول راځئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د بیان شوي مَدَني سپرلي په ذریعه د نیکئ دعوت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! بیلمانځه، شرابي، جُواري، د مور او پلار زړه ازراروونکې، ګاونډیان تنګولو والا، کنزلې کوونکې، بې پرواه ځلمې د مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي د "انفرادي کوشش" په نتیجه کښې د مَدَني قافِلې مُسافر جوړ شو، هلته د **عاشِقانِ رسول** په صحبتونو کښې د سُنَّتو ډکې رسالې اوریدو او د توبه کولو نه پس د سُنَّتو مَدَني ګلونه تقسیموونکې، صدائے مدینه لګولو والا، جمات ته د اذان په ذریعه رابلونکې جوړ شو او پخپله هم د مَدَني قافلې مسافر شو او نور خلق ئې هم د مَدَني قافلو مسافر جوړ کړل. اے د خوږ نبي عاشقانو! **یاد ساتئ!** لـمونځ په هر عاقِل بالِغ، مسلمان نارینه او زنانه فرض دې. لـمونځ کوونکې د جَنَّت حقدار دې او بې عُذره د یو وخت لـمونځ قضا کولو والا په زرګاؤ کلونه د دوزخ د اور حقدار دې. **شرابي** او **جواري** په دواړو جهانونو کښې ذلیله او خوار او د دوزخ د خوفناکو سزاګانو حقدار دې، مور او پلار ته بد رد وئیلو والا سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه په داسې حال کښې ولیدل چه هغوئ د اور په خاخونو رازوړند شوي وو.

د **ګاونډي** ډیر زیات حقونه دي: فرمانِ **مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: هغه به جَنَّت ته نه ځي د چا ګاونډي چه د هغه د آفتونو نه په امن کښې نه وي. (مُسلِم ص ٤٣ حدیث ٨٣.(٤٦)) یو مسلمان ته کنزل کول حرام او دوزخ ته بوتلونکې کار دې.

www.dawateislami.net

څه چه پخپله خورئ او اغوندئ هغه خادِمانو ته هم ورکوئ

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** د ۲٤٦ صفحو په چاپ شوي کتاب "**مُنتخب حدیثیں**" صفحه ۱۵٦ نه ۱٦۰ کښې د کنزلو کولو او په هغې باندې د پښیمانتیا وغیره په باره کښې د ورکړي شوي مضمون نه څه حِصّه په تَصَرُّف سره وړاندې کیږي، واورئ او د دې نه ښکلي ښکلي ایمان تازه کوونکي **مَدَني گلونه** راټول کړئ، هغه دا چه په **بُخاري** شریف کښې دي چه: حضرت سَیِّدُنا مَعرُور رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ما د حضرت سَیِّدُنا ابوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره په "رَبَذَه"(یو مقام چه د مدینې نه درې منزِله لرې دې) کښې ملاقات وکړو، هغوئي او د هغوئي غلام یو شان جامې اغوستې وې، ما په دې باره کښې د هغوئي نه تپوس وکړو نو حضرت سَیِّدُنا ابوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل چه ما د یو کس سره جَګړه وکړه او هغه ته مې د مور په حقله بد اُووئیلو نو **حضورِ پُرنُور** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل چه اے ابوذره! تا د ده د مور په نِسبت بد الفاظ اُووئیل ته داسې سړې ئې چه په تا کښې د جاهِلِیَّت خَصلت دې. ستاسو وِینزې او غُلامان (یعني مَرَیان) ستاسو (دیني) ورونړه دي، **الله** تعالٰی دوئي ستاسو ماتحت جوړ کړي دي نو چه د چا ورور د هغه ماتحت وي، هغه له پکار دي چه څه پخپله خوري هغه په هغه هم اُوخوري او څه چه پخپله اغوندي [هغسې] هغه ته هم ورواغوندي او تاسو هغه خادمانو ته داسې تکلیف مه ورکوئ چه هغه هغوئي بې وسه کړي او که تاسو هغوئي له داسې تکلیف ورکوئ (یعني چه څه د مَشَقّت کار ترې اخلئ) نو پخپله هم په کار کښې د هغوئي مدد کوئ. (صحیح بُخاري ج۱ ص۲۳ حدیث۳۰)

عَظیمُ الشّانه پښیماني او عجیبه کَفّاره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حضرت سَیِّدُنا ابُوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه کوم کس ته غلط الفاظ وئیلي وو، هغه حضرت سَیِّدُنا **بِلال حَبَشي** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ دې. هغه الفاظ مَعَاذَ الله څه کنزله نه وه، بس دومره ئې ورته وئیلي وو چه (اے د تورې مور ځویه) حضرت سَیِّدُنا بِلال حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه کله په دربارِ رِسالت کښې د دې شِکایت وکړو نو **سرکارِ مدِینه** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ابوذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورتِلو او نصیحت ئې ورته وکړو. د هغې نه پس چه په حضرت سَیِّدُنا ابُوذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ څه تیر شو هغه داسې داستان دې چه د اوریدونکي په بدن لړزان راولي، دا واورئ او د **الله** تعالٰی د یَرې نه ولړزیږئ: هغه دا چه کله حضرت سَیِّدُنا **اَبُوذَر غِفاري** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دربارِ رِسالت نه خپله ملامتیا واوریدله نو فوراً د حضرت سَیِّدُنا **بِلالِ حَبَشي** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې پښیمانه حاضر شو او یو دم ئې خپل ښکلې رُخسار(یعني مخ) په زمکه کیښودو او په ډیره زیاته عاجزئ، په ژړا ژړا او په زارئ ئې اُووئیل: "**اے بِلاله!** تر څو چه ته د خپلې ښېې تلې زما په دې مخ پورې ونه مړې زه به تر هغې پورې کله هم دا مخ د زمکې نه پورته نه کړم." د حضرت سَیِّدُنا **اَبُوذَر غِفاري** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ډیرو زیاتو زارو آخِر حضرت سَیِّدُنا **بِلال** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مجبوراً په نه زړه خپله ښپه د سَیِّدُنا اَبُو ذَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مُبارك مخ باندې کیښوده او فوراً ئې ترې لرې کړه او حضرت سَیِّدُنا **اَبُو ذَر غِفاري** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ئې مُعاف کړو. (اِرشادُ السّاری ج۱ ص۱۹۷)

اَبُوذر غِفاري د پرهیزګارئ نمونه وو

حضرت سَیِّدُنا عَلّامه قَسطَلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې واقعې په باره کښې دا هم فرمائیلي دي چه حضرت سَیِّدُنا **اَبُوذَرغِفاري** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دا پیغور حضرت سَیِّدُنا **بِلالِ حبشي** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته هغه وخت کړې وو چه د هغه وخته پورې حضرت سَیِّدُنا اَبُوذَر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته د داسې الفاظو د حُرمت (یعني حرام کیدو) عِلم نه وو شوې. ګنې د حضرت سَیِّدُنا اَبُو ذَر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په شان تقوٰی دار او پرهیزګاره انسان نه د داسې خَبرې تَصَوُّر هم نه شي کیدې. ځکه **حُضورِ پُرنور** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف په دې الفاظو هغوئي پوهه کړو چه په تا کښې تر اوسه د جاهِلِیَّت خَصلت باقي دې." او زَجر او توبِیخ (یعني رټل) هم د هغوئي د اوچتو مرتبو په وجه وشو چه د دومره لوئ شان لرونکي سړي د خُلې نه دومره وړه او کمزورې خبره وَتل نه وو پکار. (اَیضاً)

www.dawateislami.net

دَ سَیِّدُنا اَبُو ذر غِفاري اِستِقامَت

حضرت سَیِّدُنا **اَبُوذَر غِفاري** رضی اللہ تعالیٰ عنہ ډیر په شروع شروع کښې اِسلام راوړونکې صحابي دې، تر دې چه د بعضې عُلَمائے کِرام رحمہم اللہ تعالیٰ قول دې چه په اسلام قبلولو کښې د باهَر (د حِجاز [یعني د عَرَبو د خاورې] نه د باهَر) په صحابه کِرامو کښې د هغوئي پینځم نمبر دې.د هغوئي رضی اللہ تعالیٰ عنہ د مسلمانیدو پوره حال په بُخاري شریف کښې په تفصیل سره ذِکر کړې شوې دې. د هغوئي د ایماني جذبې حال دا وو چه د اسلام قبلولو نه یو څو ورځې وروستو به ئې په اوچت آواز کښې هره ورځ د کافرانو د ګنړې په مخکښې د خپل اسلام راوړلو اعلان کولو، کُفّارِ مَکّه به په هغوئي راکیښودل او دومره به ئې اووهلو چه بیهوشه به شو خو چه څنګه به په هوش کښې راتلو بیا به ئې د خپل اسلام اعلان کولو. (مُنتخب حدیثیں ص۱۵۷) **د اللہ تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خدایا بَحَقِّ بِلال و ابو ذَر — مجھے دین پر استِقامت عطا کر
الٰہی نہ کچھ پوچھنا روزِ محشر — مجھے بخش بہرِ بِلال و ابوذَر
الٰہی برائے بِلال و ابوذَر
مجھے خُلد میں دے جوارِ پیمبر

په خاطر د بِلال او ابوذر اے خدایا — په دِین اِستِقامت راکړې ما ته خدایا
اِلٰهی په مَحشَر کښې هیڅ تپوس رانه مه کړه — مغفرت را د بلال او ابوذر په خاطِر خدایا
اِلٰهی راکړه په خاطِر د بلال او ابوذر — ما ته جَنَّت کښې خوا د حبیب یا خدایا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

قیامت ته نزدې به یو یَروونکې ځناور را اُوځي

برائے کرم! د نیکئ د دعوت ورکولو په اَهَمِّیَّت د پوهه کیدو کوشش وکړئ. چه کله قیامت نزدې راشي نو خلق به د نیکئ دعوت ورکول پریږدي، د هغوئي د اصلاح به هیڅ اُمِّید پاتې نه وي. د

دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه د چاپ کړې شوي ترجمې والا پاکیزه قرآن "کَنزُالاِیمان مَعَ خزائِنُ العِرفان" صفحه ۷۱۲ پاره ۲۰ سُورَةُ النَّمْل آیت ۸۲ کښې د رَبِّ کَرِیم جَلَّ جَلَالُهٗ فرمانِ عظِیم دې:

وَ اِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَیْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰیٰتِنَا لَا یُوْقِنُوْنَ ﴿۸۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او چه کله خبره په هغوئي پوره شي مونږ به د زمکې نه د هغوئي د پاره یو ځناور را اوباسو چه هغه به د خلقو سره خبرې کوي ځکه چه خلقو به زمونږ په آیتونو ایمان نه راوړو.

خبرې کوونکې د عجیبه شکل ځناور

حضرت صدرُالافاضِل مولانا سَیِّد مُحمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیت په تفسیر کښې فرمائي: یعني په هغوئي به د **الله** غضب وي او عذاب به پرې واجِب شي او حُجَّت به پرې پوره شوې وي، داسې چه خلق به اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر (یعني د نیکئ حُکم کول او د بدو نه منع کول) پریږدي او د هغوئي د صحیح کیدو به هیڅ اُمّید پاتې نه وي یعني قیامت به رانزدې شي او د هغې نښې به ښکاره کیدل شروع شي او هغه وخت به توبه فائِده نه ورکوي. نور فرمائي: هغه ځناور ته دَآبَّةُ الْاَرْض وائي، دا به **د عجیبه شکل ځناور** وي دا به د کوهِ صفا (چه په مَکَّه مُکَرَّمه زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًاوَّتَعْظِیْمًا کښې موجود دې) نه را اُوځي او په ټولو ښارونو کښې به ډیر زر ګرځي، واضحه صحیح خبرې به کوي، د هر سړي په تندي به یوه نښه لګوي، د ایماندارو په تندي به د موسٰی عَلَیْهِ السَّلَام په همسا باندې نوراني [یعني د رڼړا] کرښه راښکاري، د کافِر په تندي به د حضرت سُلیمان عَلَیْهِ السَّلَام په ګوتې تور مُهر لګوي. نور فرمائي: او په فصیح ژبه (یعني صفا الفاظو) کښې به وائي هٰذَا مُؤْمِنٌ وَّهٰذَا كَافِرٌ (یعني) دا مؤمِن دې او دا کافِر دې. نور فرمائي: یعني په قُرآنِ پاك به ئې ایمان نه راوړلو، چه په هغې کښې د بَعث (یعني د قیامت په ورځ د راپاڅولو) او حِساب او عذاب او خُرُوج دَابَّةُ الْاَرْض (یعني د ځناور د راوتلو) بیان دې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چه څوك په ژړا شو هغه به جَنَّت کښې داخلیږي

مَکِّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه تعالٰی د یرې نه په ژړا د سُورَۃُالتَّکاثُر د لوستلو په باره کښې په ډیر زیات ښکلي انداز کښې **د نیکئ دعوت** ارشاد کړو. هغه دا چه د حضرت سَیِّدُنا جَرِیر بِن عبدُاللّٰه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې، د نَبیانو سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته او فرمائیل: زه ستاسو په مخکښې سُورَۃُالتَّکاثُر وایم په تاسو کښې **چه څوك په ژړا شو هغه به جَنَّت ته داخلیږی.** چنانچه سرکارِ مدِینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ولوستلو. په مونږه کښې څه په ژړا شو او څه نه . چا چه نه شو ژړلې هغوئي عرض وکړو: **یا رسولَ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ د ژړا کوشش وکړو خو ژړا رانغله. سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: زه ستاسو په مخکښې دا بیا لوَلَم چه چا وژړل، د هغه د پاره به **جَنَّت** وي او څوك چه نه شي ژړلې هغه دِ د ژړا په شان شکل جوړ کړي. (نوادرُالاصول ج۱ ص۶۱۱ حدیث ۸۶۲)

قابِلِ رشك[1] مَدَني ماشوم

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې رِوایت کښې زمونږ د خوږ آقا، مَکِّي مَدَني مُصطفٰی په انتهائي عجیبه انداز کښې د نیکئ د دعوت ورکولو زړه نرموونکې بیان دې. د دې رِوایت نه دا معلومه شوه چه زما آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله** تعالٰی په عطا سره چه چا له اُوغواړي، څه اُوغواړي ورکوي، ځکه خو ئې اُوفرمائیل: **"چه څوك په ژړا شو هغه به جَنَّت ته داخلیږي."** په دې رِوایت کښې د قرآن کریم د آخِرې سیپارې د ۸ آیتونو د سُورَۃُالتَّکاثُر ذِکر دې، چه د دې د لوستونکي د پاره د یو زر آیتونو ثواب دې، په دې کښې د قبر او آخِرت او د دوزخ ډیر زیات لړزوونکې بیان دې، کاش چه! مونږه دکنزُالاِیمان نه د دې ترجَمه یاده کړو او چه کله هم دا سُورت وایو یا اورو چه د **الله** تعالٰی د یرې نه ژړیدل رانصیب شي. راځئ! چه د دې سورت په باره کښې د یو داسې مَدَني ماشوم د آخِرت غم پیدا کوونکې حِکایت واورو، چه هغه په عَمَلي طور د **الله** تعالٰی د یرې نه ډك د

[1] رشك (یعني چه کاش! ما ته هم دا نعمت نصیب شوې وو)

نیکئ دعوت ورکړو او هر یو ئې حیران کړو! هغه داسې چه یو بزرګ د یوې مدرسې مخې ته یو مَدَني ماشوم په ژړا ولاړ ولیدو. د ژړا د وجهې پوښتنه ئې ترې وکړه هغه اُووئیل چه، زمونږه استاذ صاحِب راته د نن په سبق کښې په تختئ باندې څه آیاتِ کریمه لیکلي دي، هغه ما ژړوي، چه دا ئې اُووئیل، نو تختئ ئې ورمخکښې کړه. په هغې کښې لیکلي وو:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۙ﴿۱﴾ حَتّٰى زُرۡتُمُ الۡمَقَابِرَ ؕ﴿۲﴾ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ۙ﴿۳﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُوۡنَ ؕ﴿۴﴾ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُوۡنَ عِلۡمَ الۡیَقِیۡنِ ؕ﴿۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: د الله په نوم شروع چه ډیر زیات مهربانه او رحم کوونکې دې. تاسو غافِله و ساتلئ د ډیر مال لټې تردې چه د قبرونو مخ مو ولیدو. آو آو زر به پوهه شئ. بیا آو آو زر به پوهه شئ. آو آو که د یقین عِلم مو لرلې نو د مال سره به مو مِینه نه لرلې.

مدني ماشوم مسلسل ژړل، هغه بزرګ چه د هغه دا ژړا ولیدله نو بې حده مُتَاَثِّره شو او وئې فرمائیل: ځویه! د دې سُورت سبق د دې ځائ پورې نه پوره کیږي بلکه مخکښې هم شته، چه هغه به کیدې شي تا ته صبا درکړې شي. دا ئې چه اُووئیل نو هغوئې ورته دسُورَةُالتَّکاثُر باقي آیتونه هم واورول چه هغه دا دي:

لَتَرَوُنَّ الۡجَحِیۡمَ ۙ﴿۶﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَیۡنَ الۡیَقِیۡنِ ۙ﴿۷﴾ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ یَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِیۡمِ ﴿۸﴾ (پ۳۰ التکاثر:۱تا۸)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیشکه ضرور به جَهَنَّم وِینئ. بیا بیشکه هغه به په یقیني کتو سره اُووینئ. بیا بیشکه ضرور په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په حقله پوښتنه کیږي.

مَدَني ماشوم چه د جَهَنَّم ذِکر واوریدو نو په لړزان شو، او په رپیدو رپیدو را غوزار شو او په لاس ښپو وهلو وهلو کښې ئې ساه ورکړه. د هغه استاذ یو دم رامخکښې شو او هغه بزرګ ئې ونیولو. خلق راجمع شو، د مرحوم مَدَني ماشوم مور او پلار هم را ورسیدل او هغه بزرګ ئې د قاتِل

په طور په عدالت کښې پیش کړو. قاضي صاحب هغه بزرګ ته د خپلې صفائي د بیان کولو اُووئیل نو هغوئي ورته ټوله قِصه بیان کړه. چه قاضي واوریدله نو وئې فرمائیل: دا مَدَني ماشوم ډیر زیات سعادت مند وو او د خوفِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ په تُوره شهید شوې دې او هغه بزرګ ئې په عزّت سره بَري کړو. (مُلَخّص از نُزهَةُ المَجَالِس ج۲ ص ۹٤)

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مَدَنی منے کے خوفِ خدا پر فدا، سنتے ہی آیتیں ڈھیر جو ہو گیا

کاش! مل جائے مجھ کو بھی ایسی وِلا، میرے مرنے کا باعِث ہو خوفِ خُدا

د مَدَني ماشوم په خوفِ خُدا شَم فِدا په اوریدو د آیتونو ئې رُوح شو جُدا

کاش! نصیب شي ما ته هم داسې وِلا[1] زما هم دَ مرګ باعِث شي خوفِ خُدا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آقا ﷺ په ژړا ژړا د نیکئ دعوت ورکړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! زمونږ خوږ خوږ آقا د مدینې والا مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د الله تعالٰی د یرې په حالت کښې په ژړا ژړا د نیکئ دعوت د ارشاد فرمائیلو یو زړه نرموونکې رِوایت اُوکورئ، هغه دا چه د "**اِبنِ ماجه**" حدیثِ پاك دې: حضرت سَیِّدُنا بَرَاء بِن عازِب رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه مونږه د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په یوه جنازه کښې شریك وو، هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبر په غاړه کښیناستلو او دومره ئې **وژړل** چه د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چشمانِ اقدس (یعني پاکیزه سترګو) نه بهیدلو اوښکو باندې خاوره لَمدِه شوه. بیا ئې اُوفرمائیل: د دې (قبر) دپاره تیارې وکړئ.

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج ٤ ص ٤٦٦ حدیث ٤١٩٥)

[1] وِلا یعني وِلایت

د قبر په لیدو به عُثمانِ غني ژړا فریاد کولو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! زمونږه خوږ خوږ آقا، مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د الله تعالٰی د یرې نه په ژړا ژړا د نیکئ دعوت** ارشاد اُوفرمائیلو، زما آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قَبر و حَشر په معامِلاتو کښې د هر قِسم د عذاب نه یقیني طور د محفوظه کیدو باوجود د قبر د حالاتو د حقیقي معرِفت (یعني پیژندلو) په وجه د **الله** تعالٰی د یرې په سبب د دې په ذِکر کولو وژړیدلو. اَمِیرُ الْمُؤْمِنِین ذُوالنُّورَین، جامِعُ القُرآن حضرت سَیِّدُنا عُثمان بِن عَفَّان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به د قطعي جَنَّتي کیدو باوجود هم د قبر د لیدلو په موقع خپلې اوښکې نه شوې ودرولې. چنانچه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۶۹۵ صفحو په کتاب "**الله والوں کی باتیں**"(جِلد اوّل) صفحه ۱۳۹ کښې دي: دَ اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا **عُثمان غني** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ غُلام (حضرت سَیِّدُنا) **هاني** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) فرمائي چه اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به چه کله د کوم یو قبر په خوا کښې ودریدلو نو دومره به ئې ژړل چه په اوښکو به د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ګِیره مبارکه لَمْده شوه. (ترمِذِي ج٤ ص١٣٨ حدیث٢٣١٥) په **المَوَاعِظُ العَصْفُورِیَه** کښې دا حِکایت لږ په تفصیل سره بیان کړې شوې دي او په هغې کښې څه داسې هم دي چه کله د حضرت سَیِّدُنا **عُثمان غني** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه د قبر په لیدلو باندې د ډیرې زیاتې ژړا د سبب تپوس وکړې شو نو وئې فرمائیل: ما ته خپله **تنهائي** [یعني یواځې کیدل] رایاد شي ځکه چه په قبر کښې به په خلقو کښې زما سره هیڅ څوك هم نه وي، (بیا ئې د نیکئ د دعوت مَدَني ګُلونه عنایت کړل او) وئې فرمائیل: د چا د پاره چه د هغه دُنیا قید خانه ده د هغه د پاره د هغه قبر جَنَّت او د چا د پاره چه د هغه دُنیا جَنَّت ده د هغه قبر د هغه د پاره قید خانه ده، د چا د پاره چه دَ دُنیا ژوند د قید په طور وو، مرګ د هغه د خلاصي پیغام دې، چا چه په دُنیا کښې د نفس خواهشات پریښودل هغه به په آخِرت کښې پوره پوره حصّه مومي، غوره کس هغه دې‌چه مخکښې د دې نه چه دُنیادې پریږدي دهغې نه مخکښې هغه دُنیا پریښي وي او خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ ته د پیش کیدو نه مخکښې د هغه عَزَّوَجَلَّ نه راضي شوې وي. د هر کس د قبر معامله د هغه دَ دُنیاوي ژوند په مطابق ده یعني که په نیکو کښې ئې ژوند تیر کړې وي نو راحتونه [یعني آرام] دې او که په ګناهونو کولو کښې مړ شو نو هلاکت او هلاکت دې. (موعظۂ حسنه، ص٦١، ٦٢)

د چا قبر باغ او د چا په قبر کښې اور

د **الله** تعالیٰ نیك بندګان د قبر په دننه حالاتو باندې ډیر غور کوي او افسوس مونږ ډیر ځله قبرونه وِینو خو عِبرت نه اخلو، کاش! چه مونږه هم په فکرمندئ سره سوچ کوونکي جوړ شو. د بَهر نه یو شان ښکاریدونکي قبرونه د دننه نه یو شان نه وي، د چا قبر د دننه نه ګلِ ګلزار او د جنّت باغ وي او د چا په قبر کښې سرې سکروټې او ماران، لړمان وي او دا هم یاد ساتئ چه په قبر کښې به عقل صحیح سلامت وي، لِهٰذا کوم نیك بندګان چه د ایمان د سلامتیا سره د **الله** تعالیٰ او **رسول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا سره د دُنیا نه رخصت شي، هغوئي به د مرګ نه پس د **الله** تعالیٰ رحمت ته رسیږي او د هغوئی به صرف مزې او مزې وي خو د ګناهونو نه ډك ژوند تیرولو کښې چه د **الله** تعالیٰ او د **رسول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ناراضګئ سره کوم خلق مري او قبرونو ته کوزیږي، د هغوئي ډیر بد حال وي. وَلې چه عقل او هوش ټول صحیح وي ځکه مړې په قبر کښې په هر څه پوهیږي، د لیدلو او اوریدلو طاقت ختمیږي نه، بلکه نور زیات شي او مړې ډیر څه ویني او اوري، د هغه دوستان او د کور خلق چه د هغه د خخیدو نه پس بیرته روان شي نو هغه ئې صفا صفا ویني تر دې چه د هغوئي د ښپو ښکالو [آواز] هم اوري.

د قبر تنهائي

صرف دومره سوچ وکړئ چه د ګناهونو په وجه په قبر کښې بالفرض څه عذاب هم نه وي او صرف دومره معامله وشي چه بنده په توره تِیاره قبر کښې دغسې یواځې پروت وي، نو قسم په خدائے! چه په دې کښې هم څه ډیر عِبرت دې، سوچ خو وکړئ! د هغه وخت به څنګه پاس کیږي او د قبر په داسې خوفناکې تِیارې او د تنهائي [یعني د یواځې اوسیدلو] د سختې یَرې په ځائ کښې به په ګنهګار انسان څه تیریږي! هر عقلمند کس د دې نه څه نه څه اندازه لګولې شي. دا خو مې صرف د احساس پیدا کولود پاره عرض وکړو ګنې د قبر داسې داسې عذابات منقول دي چه د هغې په اوریدو د سړي ویښته نیغ ودریږي. چنانچه د **حضرت** سَیِّدُنا مَسروق رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه

رِوایت دې: کوم کس چه په غلا یا شرابو څښلو یا زنا کښې اخته وي او مړ شي په هغه باندې به دوه ماران مُسَلَّط کړې شي، هغه به مسلسل د هغه غوښې په شوکولو شوکولو خوري. (کتابُ ذِکرالموت مع موسوعه امام ابنِ ابی الدُّنیا ج۵ ص۴۷۶ رقم ۲۵۷) صرف دومره فکر وکړئ چه که صرف په یو لـمونځ قضا کولو یا د یو ځل دروغو وئیلو په وجه یا د یو ځل غِیبت کولو په وجه یا د یو ځل بدنظرئ په وجه یا د یو ځل سندره اوریدو یا فلم کتلو یا د یوې کنزلې کولو یا یو ځل په غُصّه د شریعت د اجازت نه بغیر د چا د رټلو په وجه یا د یو ځل ګِیرې خرولو په سزا کښې بنده ونیولې شي او په تنګ قبر کښې په تورو تِیارو او په خوفناکه تنهائې کښې واچولې شي نوځه به پرې تیریږي!یقیناً د **الله** تعالیٰ نه ویریدونکو د پاره صرف دا تَصَوُّر هم په لړزان کولو والا دې. دا خو صرف دُنیاوي تَصَوُّر دې ګني د **الله** تعالیٰ د ناراضګئ په صورت کښې به چه د مرګ نه پس د قبر د کومو عذاباتو سره مخامخ کیدل وي هغه څوك برداشت کولې شي! په "حِلیَةُ الاولیاء" کښې رِوایت دې: چه کله بنده په قبر کښې خخ کړې شي نو د هغه د ویرولو د پاره هغه ټول څیزونه راشي د کومو څیزونو نه به چه هغه په دُنیا کښې ویریدو او د **الله** تعالیٰ نه به نه ویریدو." (حِلیةُ الاولیاء ج۱۰ ص۱۲ رقم ۱۴۳۱۸) مونږه د عذابِ قبر او د جَهَنَّم نه د **الله** تعالیٰ امان غواړو.

کر لے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

(وسائل بخشش ص۶۶۷)

وکړه توبه لوئ دې د الله رَحمت ګني قبر کښې به پیښ شي درته لوئ زحمت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

ځواني دِ په دوکه کښې وانه چوي

مشهور وَلِيُّ الله **حضرت سَیِّدُنا مَنصور بِن عَمَّار** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په یو ځلمي باندې د **انفرادي کوشش** کولو په دوران کښې هغه ته د نیکئ دعوت ورکولو کښې اُوفرمائیل: اے ځلمیه ستا

www.dawateislami.net

ځواني تا په دوکه کښې وا نه چوي، ډیرو ځوانانو توبه کولو له اوګده میعادونه ورکړي وو، اوګده اُمّیدونه ئې تړلي وو، مرګ ئې یاد نه وو او وئیل به ئې چه: زه به صبا یا بل صبا توبه وکړم، هغوئې د توبه کولو نه غافِله پاتې شو. آخِر د قبرونو خیټو ته لاړل. هغوئې ته مال، غلام، مور پلار او اولاد هیڅ فائِده ورنکړه. څنګه چه د قرآنِ مجِید په پاره ۱۹ سُورَۃُ الشُّعَرآء آیت نمبر ۸۸ نه ۸۹ کښې ارشاد دې:

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّ لَا بَنُوْنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴿۸۹﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: په هغه ورځ چه نه به مال پکارراځي او نه ځامن خوهغه څوك چه د الله په بارګاه کښې حاضر شو د سلامت زړه سره.

ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے مکیں ہو گئے لا مکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په خاورو کښې ګډ شو شان لرونکي څنګه څنګه خوار و زار شو مکان لرونکي څنګه څنګه
شول ختم غټ نام لرونکي څنګه څنګه وخوړل زمکې ځلمي ټُوان لرونکي څنګه څنګه
دا دنیا د زړه لګولو ځائ نه دې ځائ د عِبرت دې د تماشو ځائ نه دې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قَلبِ سلیم څه ته وائي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! "قَلبِ سلیم" یعني سلامت زړه، د دې نه مُراد دې زړه د بدو عقیدو نه پاك ساتل. صَدرُالْاَفَاضِل حضرت علّامه مولانا سَیِّد مُحَمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې آیتونو لاندې فرمائي: څوك چه دَ شِرك، کُفر او نِفاق نه پاك وي هغه ته به دَ هغه مال هم فائِده ورکوي کوم چه ئې د الله تعالٰی په لار کښې خرچ کړې وي او اولاد هم کوم چه صالِح

www.dawateislami.net

(نیك عَمَله) وي څنګه چه په حدیث شریف کښې دي چه کله بنده وَفات شي د هغه عملونه هم مُنقَطَع (یعني بند) شي سِوا د دریو نه، **یوه صَدَقهٔ جارِیه، بل هغه مال چه د هغې نه خلق ګټه** [یعني فائِده] **واخلي، دریم نیك اولاد کوم چه دَ هغه دَ پاره دُعا کوي.** [مُسلِم ص ۸۸٦ حدیث ۱٦۳۱] (خزائِنُ العِرفان ص ۵۹۳)

میزاں پہ سب کھڑے ہیں اعمال تُل رہے ہیں
رکھ لو بھرم خدارا عطّار قادِری کا (وسائل بخشش ص ۱۹۵)

ټول وَلاړ دي په میزان اَعمال تَلَل شي
په خاطر د الله بچ کړه عطّار قادري

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د پینځؤ سره محبَّت او د پینځؤ نه غفلت

د **غفلت** نه رابیدارووونکي د نیکئ د دعوت پینځه مَدَني ګلونه اُوګورئ، **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي: سَیَأْتِیْ زَمَانٌ عَلٰی اُمَّتِیْ یُحِبُّوْنَ خَمْسًا وَیَنْسَوْنَ خَمْسًا [یعني] زما په اُمَّت به هغه زمانه زر راشي چه هغه به د پینځؤ سره محبَّت کوي او پینځه به هیر کړي ﴿۱﴾ یُحِبُّوْنَ الدُّنْیَا وَیَنْسَوْنَ الْاٰخِرَةَ دَ دُنیا سره به محبَّت کوي او آخِرت به هیر کړي ﴿۲﴾ وَیُحِبُّوْنَ الْمَالَ وَیَنْسَوْنَ الْحِسَابَ د مال سره به محبَّت کوي او حساب به هیر کړي ﴿۳﴾ وَیُحِبُّوْنَ الْخَلْقَ وَیَنْسَوْنَ الْخَالِقَ د مخلوق سره به محبَّت کوي او خالِق به هیر کړي ﴿٤﴾ وَیُحِبُّوْنَ الذُّنُوْبَ وَیَنْسَوْنَ التَّوْبَةَ د ګُناهونو سره به محبَّت کوي او توبه به هیره کړي ﴿۵﴾ وَیُحِبُّوْنَ الْقُصُوْرَ وَیَنْسَوْنَ الْمَقْبَرَةَ د محلونو [یعني اوچتو مانړو] سره به محبَّت لري او مُقبَره (یعني اِدِیره) به هیره کړي. (مُکَاشَفَةُ القُلوب ص ۳٤)

وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی جہاں تاک میں ہر گھڑی ہو اَجَل بھی
بس اب اپنے اِس جَہل سے تو نکل بھی یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

www.dawateislami.net

هغه څه د عَیش و عِشرت مَحَل وي چه په سر رازوَړنده ثُوره د اَجل وي
پریږده دا جَهل که در کښې عَقل وي د دې نه پس د ژوند انداز چه دِ بدل وي
دا دنیا د زړه لګولو ځائ نه دې ځائ د عِبرت دې د تماشو ځائ نه دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دَ سَندرو او سازونو نه تَوبه رانصیب شوه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د **الله** تعالٰی د رضا حاصلولو د پاره، په زړه کښې د الله تعالٰی ویره رابیدارولو، د مرګ د یاد پیدا کولو، ځان د عذابِ قبر او د جَهَنَّم نه د ویرولو د پاره د ګناهونو عادت د ختمولو، خپل ځان د سُنّتو پابند جوړولو، په زړه کښې د عِشقِ رَسول شَمع بَلَوَلو او په جَنَّت الفِردوس کښې د مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګاونډ د موندلو د شوق زیاتولو د پاره د تَبلِیغِ قرآن و سُنّت د عالمګِیر غیر سیاسي تحرِیك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې هر وخت شامِل اوسئ، هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول سره په مَدَني قافلو کښې د سُنّتو ډك سفر کوئ او د **فِکرِ مدینه** په ذریعه هره ورځ د **مَدَني انعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمه دار ته جمع کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحرِیص [یعني د نیکئ د حِرص زیاتولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروم: دَ بابُ الاسلام (سندھ) د یو اسلامي ورور د لِیك خُلاصه ده چه زه دَ دُنیا په مَزو کښې د ژوند تیرولو والا یو مَست ځلمې ووم، د لـمونځونو نه ډیر لرې او د سُنّتو نه محرومه ووم، دَ دُنیا په بې شمیره خرابو کارونو مثلاً په سَندرو، سازونو او فِلمونو او ډرامو وغیره وغیره ګناهونو کښې اخته ووم. زما په مَدَني ماحول کښې دَ راتګ سبب څه داسې جوړ شو چه په خوش قِسمتئ سره په **رَمَضانُ المُبارك** ۱٤۲۹ھ (2008ء) کښې **مَدَني چینل** شروع شو او په کیبل باندې د هغې مَدَني سلسلې شروع شوې، د **الله** تعالٰی په رحمت چه ما هغه سلسلې وکتلې نو زما ډیرې خوښې شوې، بیا ما اکثر مَدَني چینل کتل شروع کړو، یو ځل راته په مَدَني چینل باندې د سُنّتو ډك بیان **"کالے بچھو"** [یعني تور

www.dawateislami.net

لړمان] د اوریدو سعادت نصیب شو، زه د **الله** تعالیٰ د یرې نه په لړزان شوم، ما سمدستي د کِیرې پرینبودلو نیّت وکړو او کله مې چه په مَدَني چینل باندې **"گانوں کے 35 کُفریہ اشعار"** [یعني د سندرو ۳۵ کُفریه شعرونه] والا بیان واوریدو نو زه وَیَریدم او د سَندرو اَوریدو نه مې هم توبه وکړه. په مَدَني چینل باندې چه کله د **بَیعَت** [یعني د مُرید جوړولو] ترکیب کیدلو نو **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زه د **حضُور غوثِ اعظم** سَیِّدُنا شیخ عَبدُالقادِر جِیلاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مرید او قادري جوړ شوم. د **الله** تعالیٰ په رحمت مې د جَمعې د لـمانځه پابندي شروع کړې ده. او د **الله** تعالیٰ په کرم! د دې لیك وړاندې کولو په وخت کښې په عالَمي مَدَني مرکز **فیضانِ مدینه** بابُ المَدینه (کراچئ) کښې د دعوتِ اسلامي په انتظام کښې کیدونکي د **روژې مبارکې** د پوره میاشتې د سُنَّتو ډك اعتِکاف کښې شریك یم.

مَدَنی چینل سنّتوں کی لائیگا گھر گھر بہار — مَدَنی چینل سے ہمیں کیوں والِہانہ ہو نہ پیار
اے گناہوں کے مریضو! چاہتے ہو گر شفا — آن کرتے ہی رہو تم مَدَنی چینل کو سدا
اِس میں عصیاں سے حفاظت کا بہت سامان ہے — اِن شآءَ اللہ خُلد میں بھی داخِلہ آسان ہے

(وسائلِ بخشش ص۶۰۵،۶۰۶)

مَدَني چینل به راوړي کور په کور سپرلي د سنّت — مَدَني چینل سره به زمونږ وَلې نه وي محبَّت
اے د گناهونو مریضانو! که غواړئ شِفا — گورئ مَدَني چینل تاسو سَدا
دې کښې دې د گناهونو نه د بچ کیدو ډیر سامان — اِن شآء الله جَنَّت ته به شئ داخل ډیر آسان

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکئ دعوت ورکولو کښې د اللهتعالیٰ د یَرې نه په ژړا شو

زمونږه بزرگانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به دَ نیکئ د دعوت د ورکولو یوه موقع هم نه ضائِع کوله، که په لاره به روان وو بلکه د سفر په دوران کښې به ئې هم چه موقع موندله نو "**د نیکئ دعوت**" به ئې ورکولو ځنگه چه حضرت سَیِّدُنا اِبراهِیم بن بَشَّار رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه زه د **فَسَوي** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه سره دَ شام مُلك ته روان ووم چه په لاره یو سړې په تیزئ سره دَ هغوئ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مخې له راغې او د سلام کولو نه پس ئې عرض وکړو: "اے **ابو یُوسف**! ما ته څه نصیحت وکړئ." دا ئې چه

www.dawateislami.net

واوریدل نو هغوئي په ژړا شو او (د نیکۍ په دعوت کښې ئې ورته داسې) اُوفرمائیل: اے وروره! بیشکه د شپې او ورځې (زر زر) تلل راتلل، ستا دَ بدن د وِیلې کیدو، عُمر ختمیدو او هر دَم دَ مرګ رانزدې کیدو خبر ورکوي. ځکه زما وروره! تاسودَ هغې پورې هیڅ کله مُطمَئِن مه کښینئ تر څو چه درته د خپلې **ښې خاتمې** معلومات نه وي شوې او تر څو چه درته دا معلومه نه شي چه جَنَّت ته به ځم او که دوزخ ته؟ او چه ترڅو درته دا معلومه نه شي چه ستا پروردګارعَزَّوَجَلَّ ستا د ګناهونو او غفلتونو په وجه ستا نه ناراضه دې او یا درنه د خپل فضل او رحمت په سبب راضي دې. **اے کمزوریه انسانه!** خپله عاجزي مه هیروه! ته د یو ناپاکه څاڅکي نه پیدا شوې ئې او انجام دِ **مړ کیدل** او **سخا کیدل** دي. که ته اوس په دې نصیحت نه پوهیږې نو ډیر زر ده چه پرې پوهه به شې، چه کله ته قبر ته کُوز کړې شې. نو هلته به په ګناهونو پښیمانه ئې خو [هلته به پښیماني] پکار نه راځي. دا ئې چه اُوفرمائیل نو هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په ژړا شو او هغه کس هم دَ ډیرو جَذباتو په وجه په ژړا شو. راوي وائي چه: هغه دواړه مې په ژړا ولیدل نو زه هم په ژړا شوم، تر دې چه هغه دواړه را اوغورزیدل او بې خوده [یعني بې هوشه] شول. (ذَمُّ الْهَوٰی ص۴۳۷ مُلَخَّصًا)

مجھے سچی توبہ کی توفیق دیدے پئے تاجدارِ حرم یا الٰہی
جو ناراض تُو ہو گیا تو کہیں کا رہوں گا نہ تیری قسم یا الٰہی (وسائل بخشش ص82)

ما ته راکړې توفیق د رِښتینې توبې په خاطِر د تاجدارِ حرم یا اِلٰهي
که ناراضه شوې ته رانه رَبه هیڅ به هم پاتې نه شم ستا قسم یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

څوك چه په ژړا اُووِینې نو په ژړا شه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو ولیده! زمونږه بُزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُتَعَالٰی به د **الله** تعالٰی نه دومره یَریدل! چه بعضې وَخت به د نیکۍ د دعوت ورکولو په وخت کښې د **الله** تعالٰی د یَرې نه په ژړا

www.dawateislami.net

شول. نن هم که څوك د نیکئ دعوت ورکولو ورکولو کښې د **الله** تعالٰی د یَرې نه وژاړي، په ژړا ژړا بیان وکړي، په ژړا ژړا دُعا وکړي، که په تِلاوتِ قُرآن یا نعت شریف اوریدو کښې په ژړا شي نو دا دَ هغه دَ پاره ډیره د نیك بختئ خبره ده. په هغه د **ریاکارئ** بدګُماني کول بالکل نه دي پکار ځکه چه په مسلمان باندې بدګماني کول حرام او جَهَنَّم ته بوتلو والا کار دې. د خلقو په باره کښې بدګُماني کول او [د هغې په سوچونو کښې] زړه خوړَل د خپل ځان بربادي ده، حضرت سَیِّدُنا **مَکحُول** دِمَشقي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: چه کله څوك په ژړا اُووِینې نو ته هم په ژړا شه او هغه ریاکار مه ګنړه، ما یو ځل یو ژړیدونکې کس "ریاکار" ګنړلې وو نو زه **یو کال د ژړا نه محرومه شوې ووم.** (تَنبِیهُ المُغتَرِین ص۱۰۷)

یادِ نبی میں رونے والا ہم دیوانوں کو
لاکھ پرایا ہو وہ پھر بھی اپنا لگتا ہے

مَحَبّت کښې چه څوك ژاړي د نبي که هر څومره وي پردې راته خپل ښکاري

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

رِیاکار د بیوقوفو سردار دې

په دُعا وغیره کښې ژړیدو والا د ښکاره دلیل نه بغیر ریاکار ګنړلو والا بیشکه ګنهګار او دَ جَهَنَّم دَ اور حقدار دې البَته پخپله ژړیدو والا ته ۱۱۲ ځله سوچ کول پکار دي چه هغه وَلې ژاړي! که په ځان ئې د ریا شك هم وي نو چه تر څو ئې اِصلاح نه وي شوي تر هغې دِ نه ژاړي. یقیناً **ریاکار** [یعني خلقو ته خپل عبادت ښودونکې] **دَ بیوقوفو سردار دې** ځکه چه یو انسان د خپل ځان نه دَ مُتَاثِره کولو د پاره، د هغه د طرفه د خپل صِفَت اوریدلو نه عارضي مزې اغستلو د پاره، خپل ځان دَ هغه په نظر کښې د نیك بنده جوړیدو خواهِش لرلو د پاره، چه دې را ته په ښه نظر اُوګوري او دا په زړه کښې خوشحاله شي او صرف دَ دې معمولي خوند اغستلو د پاره د رَبِّ کائِنات عَزَّوَجَلَّ د طرف نه حاصلیدو والا عَظِیمُ الشَّان انعامونه ضائِع کړي او د هغه د محرومئ اِنتِها په دُنیا کښې هم دا ده چه پخپله د دې ملامتیا حقدار ریاکار ته دا هم معلومه نه شي چه د رِیاکارئ په ذریعه چه د چا په

www.dawateislami.net

نظر کښې هغه نیك جوړیدل غوښتل، هغه کس د هغه نه مُتَاثِره هم شو او که نه! فرض کړئ که هغه مُتَاثِره شوې هم وي او د ده په غیر موجودګئ کښې ئې د ده صِفَت هم کړې وي نو بیا هم عام طور د چا نه خپل صِفَت اوریدل ډیر کم نصیب کیږي! او که چا ئې مخامخ صِفَت وکړو نو هم صرف په هلاکت کښې به ئې اضافه وشي. یقین وکړئ! چه که چرې د یو زارئ فریاد او ژړا کوونکي یا د عبادت ښکاره کوونکي په باره کښې خلقو ته معلومه شي چه دا **ریاکاري** کوي نو خلق به هغه کس په زړه کښې ډیر زیات بد ګنړي نو دا سوچ دِ وکړي چه **الله** تعالیٰ ته خو هر څه معلوم دي او په داسې حالت کښې به هغه عَزَّوَجَلَّ څومره سخت ناراضه کیږي!

آج بنتا ہوں معزز جو کھلے حشر میں عیب
ہائے رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یا ربّ (وسائل بخشش ص ۹۱)

نن جوړیږم مُعَزَّز که په مَحشر کښې مې ښکاره شولو عیب
افسوس په مخکښې د مخلوق به شم رُسوا یا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَعمال به ضائِع شي

د **ریاکارئ** نه دَ بچ کیدو او بچ کولو د جَذبې زیاتولو په نِیَّت په دې باره کښې "د نیکۍ دَ دعوت" په طور یو څو آیَتونه او رِوایات وړاندې کووم. یَقیناً چه د آخِرت په مُقَابَله کښې د دُنیا خوښولو والا نادانو ریاکارو د عَملونو ثواب به ضائِع شي.

په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ کړې شوي دَ ترجمې والا پاکیزه قُرآن، "کنزُالْاِیمان مَع خزائِنُ الْعِرفان" صفحه ٤١٨ نه د ٤١٩ پورې په دولسمه سیپاره **سُوْرَۃُ هُود** آیت نمبر **۱۵** کښې د **الله** تعالیٰ عِبرتناك ارشاد دې:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا نُوَفِّ اِلَيْهِمْ اَعْمَالَهُمْ فِيْهَا وَهُمْ فِيْهَا لَا يُبْخَسُوْنَ ﴿۱۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: څوك چه د دُنیا ژوند او ښکُلا غواړي مونږ به په دې کښې د هغوئي [د اعمالو] پوره میوه ورکړو او په هغې کښې به کمې نه کوو.

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د دې آیت په تفسیر کښې فرمائي چه ریاکارو ته به هم په دې دُنیا کښې د هغوئي د نیکو بدله ورکړې شي او په هغوئي باندې به د زرّې همره ظُلم هم نه کیږي. (تفسِیرِ طَبَری ج ۷ ص۱۳)

ریاکاریوں سے بچا یا الٰہی بنا مجھ کو مُخلِص بنا یا الٰہی

بچ مې کړه ریاکارئ نه یا اِلٰهي جوړ کړه ما مُخلِص جوړ کړه یا اِلٰهي

دَ ریاکارئ عمل نه قبلیږي

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه په چاپ کړې شوي د ۱۶۶ صفحو کِتاب "**ریاکاری**" [اُردو] صفحه ۱۶ کښې دي: تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې: "**الله** تعالٰی هغه عمل نه قَبلوي په کوم کښې چه د وري د دانې هُمره هم رِیا (یعني ښودَنه) وي." (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج۱ ص ۳۶ حدیث ۲۷)

دکھاوے سے مجھ کو الٰہی بچانا مجھے اپنی رحمت سے مخلِص بنانا

بچ مې کړه ریاکارئ نه یا اِلٰهي په رحمت مې خپل مُخلِص بنده کړه جوړ

په ریاکار باندې جَنَّت حرام دې

د مَکّي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرت نِشان دې: **الله** تعالٰی په هر ریاکار باندې جَنَّت حرام کړې دې. (جَمْعُ الْجَوامِع لِلسُّیُوطِی ج ۲ ص ۲۴۲ حدیث۵۳۲۹)

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! څوك چه د اِیمان سره دَ دُنیا نه لاړ شي، که **الله** تعالٰی اُوغواړي نو بې حِسابه به ئې اُوبخښي او که اُوغواړي نو سزا به ورکړي او بیا به ئې جَنَّت ته داخِل کړي. لِهٰذا [د دې جُملې یعني]**په ریاکار باندې جَنَّت حرام دې،** په شرح کښې حضرت عَلّامه **مُحَمَّد** عَبدُالرَّءُوف مَناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د بیان کړې شوي حدیث لاندې لیکي: یعني ریاکار مُسلمان به ابتداءً [یعني په شروع کښې] جَنَّت ته نه دا خلیږي. (فَیضُ القدیر لِلمَناوی ج ۲ ص ۲۸٦ تَحتَ الحَدِیث ۱۷۲۵)

خطائیں مری عَفو غفّار کر دے ریاکاریوں سے تُو بیزار کر دے

خطاګانې اے غَفّاره زما معاف کړې
ریاکارئ نه نفرت راکړې زړه مې صاف کړې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ریاکارئ مِثال

حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد **مُحَمّد** بِن **مُحَمّد** بِن **مُحَمّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د **ریاکارئ** په باره کښې د پوهه کولو د پاره دا مثال ورکوي: مَثَلًا څوك چه ټوله ورځ د بادشاه مخې ته ولاړ وي لکه څنګه چه د خدمت ګارو عادت وي، خو د هغه مقصد بادشاه ته نزدې کیدل نه وي بلکه د هغه یوې وِینزې ته کتل ئې مقصد وي نو دا (یعني د هغه سړي ودریدل) یقیناً د بادشاه سره ټوقې کول دي. نو د دې نه به بله سپکه او د نفرت قابِله کومه خبره وي چه یو سړې د **الله** تعالٰی عِبادت د هغه کمزوري بنده ته د ښودلو د پاره وکړي کوم چه هغه ته بِالذَّات (یعني ذاتي طور) نه ګټه رسولې شي او نه تاوان. (اِحیاءُ العُلوم ج ۳ ص ۳٦۹ مُلخَّصاً)

اخلاص نیکیوں میں اے ربِّ کریم عقلِ سلیم دے مجھے قلبِ سلیم دے

راکړې اِخلاص په نیکو کښې اے رَبِّ کریم عقلِ سلیم راکړې ما ته قلبِ سلیم راکړې

د رِیا تعرِیف

د **ریاکارئ** دَ بعضو نقصانونو معلومات خو وشو، راځئ! اوس دا معلومات کوو چه د ګناهونو نه ډکه ریاکاري څه ته وائي! نو واورئ دَ رِیا تعریف دا دې: "**د الله** تعالیٰ **د رِضا نه علاوه په بله اراده عِبادت کول.**" یعني د عِبادت کولو غرض ئې دا وي چه خلق د هغه د عبادت کولو نه خبر شي د دې د پاره چه هغه د هغه خلقو نه مال حاصِل کړي یا خلق د هغه صِفَت وکړي یا هغه نیك بنده وګنړي یا د هغه عِزَّت وغیره وکړي. (الزَّواجر ج۱ص۸٦)

د ریاکارئ ۸۰ مثالونه

(کوم مِثالونه چه وړاندې کیږي هغه اګر چه دَ ریاکارئ دي خو په ډیرو ځائیونو کښې د نِیَّت د فرق په اعتبار سره په احکامو کښې فرق کیدې شي)

د لـمانځه مُتعَلِّق د ریاکارئ ۱۱ مثالونه

(۱) د یو کس د دې د پاره په پابندئ سره لـمونځ کول چه خلق هغه ته پوخ لـمونځ ګُزاره اووائي.

(۲) د یو حافِظ په تراوِیح کښې د دې د پاره "ختم کول" یعني قُرآن کرِیم لوستل چه خلق به پیسې راکړي.

(۳) د خپل واده په ورځ یا په کور کښې د مړي کیدو په ورځ، د دې د پاره د سُنّتو ډکه اجتِماع کښې حاضِریدل یا د جَمعې د لـمانځه پابندي کول یا صدائے مدینه لګول (یعني مسلمانان د سحر لـمانځه له راپاڅولو د پاره د کور نه وَتل) چه خلق حیران شي او اُووائي چه واه واه! په داسې موقع هم دې کس په نیکو کارونو کښې ناغه ونکړه! (حالانکه د دې نه علاوه که هغه بې غمه ناغې کوي!)

(٤) د **خلقو** توجُّه ځان ته د راګرځولو [یعني د مُتَاَثِّره کولو] د پاره د هغوئي په مخکښې په اِطمِنان او **خُشُوع و خُضُوع** [یعني په قلاره او عاجزئ] لـمونځ کول.

(٥) که چرې د ښې شپې په اِجتِماعِ ذِکر و نَعت کښې دَ شپې رُونړَوَلو [یعني وِیښ پاتې کیدو] یا د شپې د تَهَجُّد کولو موقع په لاس ورشي نو د ورځې د خلقو په مخکښې ځکه سترګې مړل یا

www.dawateislami.net

ستوماني وِیستل وغیره چه ټول خبر شي چه دا دَ شپې نه وو اُوده شوې بلکه دَنیکو حاصلولو دَپاره وِیښ پاتې شوې وو.

(٦) د نورو په مخکښې د دې د پاره اِشراق و چاښت او اَوَّابِین او تَهَجُّد ادا کول چه خلق مې نفلونه ادا کوونکې وګنړي.

(٧) د چا په باره کښې چه خلق دا نیك ګُمان لري چه دا کس تَهَجُّد ګُزاره دې او نفلې روژې هم نِیسي او په حقیقت کښې داسې نه وي خو چه کله د دې خاصیتونو په باره کښې څوك بل چا ته دَ ده صِفَت کوي نو دې په دې نِیَّت مُسکې شي او سر ښکته کړي چه پریږده چه په دوئي باندې زما د نیکو کارونو کولو اثر قایم پاتې شي.

(٨) تَهَجُّد ته د پاڅیدلو سعادت موندلو په وخت ځکه په زوره زوره ټُوخیدل یا داسې معامِلات کول [یعني د دروازې یا د لوښو آواز پیدا کول وغیره] چه ښځه مې یا د کور نور خلق راوِیښ شي، ما اُووِیني او خبر شي چه واه! دې د تَهَجُّد کولو د پاره راپاڅیدلې دې!

(٩) د لـمونځ کولو نه پس د ډیر ساعته پورې په جُمات کښې د دې د پاره ناست اوسیدل چه خلق راته نیك سړې اووائي.

(١٠) په لـمانځه کښې هر وخت په وړومبي صف کښې ځکه ځائ نیول چه خلق را نه مُتَاثِره شي او صِفَت مې وکړي.

(١١) د وړومبي صف نه په پاتې کیدو د خلقو په مخکښې د دې د پاره په ظاهره افسوس کول چه خلق مُتَاثِره شي او ما د وړومبي صف حریص [یعني وړې] وګنړي.

د مُبَلِّغِینو د پاره د ریاکارئ ١٨ مِثالونه

(١) په اِجتِماع وغیره کښې ځکه بیان کول چه خلق مې د بیان صِفَت وکړي او ما ته ښه مُبَلِّغ اووائي.

(٢) چه مُبَلِّغ د بیان په دوران کښې په زړه اثر کوونکي جُملې د دې د پاره په زور دار آواز کښې بیانوي او د جوش په انداز کښې شِعرونه وائي چه اوریدونکي زما د صِفَت په انداز کښې نعرې

www.dawateislami.net

ولګوي، په اوچت آواز کښې سُبْحٰنَ اللهِ اُووائي، واه واه وکړي، د مرحبا په نعرو شاباش راکړي، د بیان صِفَت مې وکړي او زبردست بیان کوونکې مُبَلِّغ راته اووائي.

(۳) په بیان کښې د دې د پاره ښکلې جُملې، دَقِیق [یعني مُشکِل] الفاظ، عربي او انګریزي مقولې وغیره شامِلول چه خلق مې تعلیم یافته وګنړي او رانه مُتَاثِره شي.

(٤) چه خلق مې د **الله** تعالیٰ **په لار کښې قربانئ** ورکوونکې وګنړي د دې د پاره د بیان په شُروع کښې د مُبَلِّغ [یعني بیان کوونکي] داسې خبرې کول، مَثَلًا: زه مسلسل د شپږو ورځو نه په سفر کښې یم، اوس هم د دیارلسو ګینټو د سفر نه پس دلته را ورسیدم، ډیر ستړې هم یم، ډوډئ مې هُم لا نه ده خوړلې خو د بیان کولو د پاره حاضر شوم وغیرها.

(٥) اسلامي ورونړو ته مثلًا داسې وئیل: زه خو د پینځه وِیشتو میاشتو نه د مَدَني قافلې مُسافِر یم، وَقفِ مَدینه یم، د فلانئ ورځې نه هره ورځ بیان کووم، نن صبا د ډیرو ورځو نه مسلسل د مَدَني مشورو ترکِیب دې، هره میاشت دوه (یا څلور) ځله د درې ورځو په مَدَني قافلو کښې سفر کووم، د دومره کلونو نه مې هره میاشت د درې ورځو په مَدَني قافله کښې د سفر ترکیب دې او دَ دې خبرو کولو سبب په خلقو کښې خپل عِزَّت جوړول وي چه خلق ښه شاباش راکړي، چه اسلامي ورونړه د دې مِثالونه ورکوي، د دِین د پاره ډیرې قربانئ ورکوونکې را ته او وائي.

(٦) چه په جوش کښې راشي او په یوه ورځ کښې د **فیضانِ سُنّت** نه پنځوس یا سل ځله درس ورکړي چه ښه واه واه راته او وئیلې شي، د حوصله افزائي په نوم مې صِفَت وشي، چه د دعوتِ اسلامي غټ ذمه داران را له شا اوټپوي او د تحفو حاصلولو ترکیب جوړ شي.

(۷) که چرې د یو غټ شخصیت په مخکښې د سُنّتو ډك بیان کولو موقع په لاس ورشي نو ښه [په زِیر او زوَر] برابر او ښُکلي انداز کښې بیان کول چه په هغه باندې مې اثر پریوځي او صِفَت مې وکړي.

www.dawateislami.net

(۸) د مُبَلِّغ د سیاسي، حکومتي یا دُنیاوي شخصیاتو سره تعلقات ساتل د دې د پاره چه خلقو ته معلومه شي یا دا پخپله چا ته وئیلې شي چه فلانکې فلانکې شخصیت زما نه مُتَاثِره دې، دا خلق ما ته د دُعاګانو وائي، فلانکي خو زما لاسونه ښکل کړل، دوئي زما ډیر احترام کوي.

(۹) د یو مُبَلِّغ ترکیبونه جوړول چه په څه طریقه کوم یو افسر یا وزیر وغیره د هغه کور ته راشي چه خلقو ته معلومه شي چه واه! غټ غټ خلق د ده عقیدت مند دي ده ته دَ دُعا د پاره یا دَ برکت حاصلولو د پاره حاضریږي.

(۱۰) یو دُنیاوي غټ شخصیت ته د اصلاح خبره کول یا د هغه په خطا باندې هغه رټل، د دې د پاره چه په خلقو باندې دا اثر پریوځي چه واه واه! دا خو د غټو غټو په رُعب کښې هم نه راځي او د شریعت حکم بیانولو کښې د هیڅ چا لِحاظ هم نه کوي.

(۱۱) که چرې یو غټ سړي باندې ئې ګِیره پریښوده یا بدنام کس ئې توبه وِیستلو ته تیار کړو نو د خپل ذات نه د مُتَاثِره کولو د پاره په بیان کښې یا اسلامي ورونړو ته خپلې کارنامې (یا مَدَني سپرلي) اورول.

(۱۲) د خلقو سره ناست یا د بیان په دوران کښې یا د خبرو کولو په دوران کښې د دې د پاره نظر ښکته ساتل چه خلق را نه **مُتَاثِره** شي، چه د حیا نه نظر ښکته ساتونکې او د سترګو قُفلِ مدینه لګوونکې را ته اووائي. (حالانکه چه کله د خلقو نه جُدا شي نو بې غمه ئې سترګې اخوا دیخوا تاویږي او نظر ئې خطا کیږي)

(۱۳) په ځان له ځائ کښې د دې د پاره خاشِعانه [یعني په قلاره قلاره] لـمونځ کول چه بیا د نورو په موجودګئ کښې هم په لـمانځه کښې خُشُوع قایمه ساتلې شم، یا سترګې د ښکته ساتلو مشق [یعني چل زده] کول چه بیا د خلقو په مخکښې هم سترګې ښکته ساتلې شم او د خلقو په زړونو کښې مې مُقام جوړ شي. (دا ډبله رِیا ده، یعني په ځان له ځائ کښې داسې مشق کول هم ریا ده ځکه چه د دې مقصد د **الله تعالیٰ** رضا نه ده، بلکه په بندګانو باندې د خپلې پرهیزګارئ رُعب قائِمَوَل دي)

www.dawateislami.net

(١٤) د دې مقصد د پاره په پابندۍ سره د فِکرِ مدینه په ذریعه د مَدَني انعاماتو خانې ډکول او په مَدَني انعاماتو باندې د عمل کولو خپل شمیر نورو ته ښکاره کول چه خلق مې صِفَت وکړي او خلق مې مثال ورکوي چه فلانکې د مَدَني انعاماتو پوخ عامِل [یعني عمل کوونکې] دې، د هغه په دومره دومره مَدَني انعاماتو عمل دې.

(١٥) د دې د پاره د دِین خدمت کول او په مَدَني قافلو کښې سفر کول او د دِیني کارونو د پاره ښه ډیر وخت ورکول او د دې د پاره تکلیفونه برداشت کول چه خلق د ده د قربانو واه واه وکړي، او دَ دِیني کارونو د پاره ئې ډیر کوشش کوونکې وګنړي.

(١٦) دَ دُنیا په مُختلِفو مُلکونو کښې د **الله** په لاره کښې په دې نِیَّت سفر کول چه اسلامي ورونړه د ده د قربانو شاباسې ورکړي، د ده مثالونه ورکوي او ده ته بَینُ الاقوامي مُبَلِّغ اووائي.

(١٧) هره ورځ په پابندۍ سره د دې د پاره صدائے مَدینه لګول یعني خلق د سحر لـمانځه ته د راپاڅولو د پاره د کور نه وَتل چه خلق د ده صِفَت وکړي چه دا خو نه د تِیارې نه یریږي، نه د سپو د غپلو نه یریږي، نه د یخنۍ او باران پروا کوي او واه! دَ شپې که هر څومره ناوخته اوده شي دا بیا هم په **صدائے مدینه**[1] لګولو کښې ناغه نه کوي.

(١٨) خلقو ته د نیکۍ دعوت په دې نِیَّت ورکول چه خلق دا د مسلمانانو عظیم خیر خوا وګنړي یا څوك د بدو نه ځکه منع کول چه خلق د ده نه مُتَاثِره شي چه" واه! دا خو ډیر غټ **غیرتي** انسان دې ځکه چه ګناه او ویني نو بالکل خاموشه نه شي پاتې کیدې."(کاش! چه په خپل کور کښې کیدونکې هر بد کار لیدو باندې هم د هر یو غیرت رابیدار شي، زړه ئې پرې خُوګ شي او د اصلاح کولو د سعادت کوشش ورنصیب شي)

نعت شریف لوستونکو او اوریدونکو د پاره د ریاکارۍ 16 مثالونه

(١) په اِجتِماع وغیره کښې په دې غرض تلاوت کول یا نعت شریف لوستل چه خلق پیسې

[1] د سَحَر لـمانځه ته د راپاڅولو د پاره خلقو ته په کوڅو وغیره کښې نعرې وهلو ته صدائے مدینه وائي.

راکړي، طعام را باندې اُوخوري، [د روپو ډکه] لِفافه راته راکړي، د جامو جوړه راته راکړي د آواز او انداز وغیره شاباشې راکړي، دَ تلفُّظ دَ اَدا کولو دَ طریقې او د کلام وئیلو صِفَت مې وکړي.

(۲) نعت شریف لوستو لوستو کښې د حدائِقِ بخشش شریف وغیره شعرونه په کثرت سره ځکه شاملول چه خلق اووائي: واه! واه! ده ته خو ډیر زیات او څنګه سخت سخت شعرونه یاد دي!

(۳) د کتاب د کتلو نه بغیر ځکه نعتونه لوستل چه اوریدونکي اووائي چه واه! واه! ده ته خو ډیر نعتونه یاد دي!

(٤) د نعت خوان (یا مُبَلِّغ) د یو مشکِل شعر تشرِیح ځکه بیانول چه خلق مې پوهه وګنړي او د **معلوماتو** شاباشې راکړي.

(٥) که یو نعت خوان نایاب [یعني په مُشکِله پیدا کیدونکې] کلام پیدا کړي یا د یو کلام نوې طرز جوړ کړي (یا د بل چا نه طرز راپټ کړي) او بیا ئې وساتي او په ښه شپه [یعني لویه شپه] وغیره یوه خاص موقع باندې ئې په غټه اجتِماع کښې ځکه لولي چه اوریدونکو ته ډیر خوند ورکړي او په زوره زوره سُبحٰنَ الله اووائي او شاباش راکړي، ډیرې نعرې ولګوي او نور نعت خوانان مې هم په صِفَت کولو باندې مجبوره شي.

(٦) نعت خواني، تِلاوتِ قُرآن، بیان وغیره ټول په یو ځل باندې یادولو کښې ځکه ماهر جوړیدل چه خلق ده ته په هر څه کښې ماهِر [یعني اُستاذ] اووائي.

(۷) د مالدارو ګَرَه په شوق تلَل، د هغوئي یا د هر یو دِیني او دُنیاوي شخصیت [یعني غټ کس] په موجودګئ کښې ځکه نعت شریف لوستل چه مالداران "نوټونه" را اوباسي او غټان خلق شاباشې راکړي چه نفس مې خوشحاله شي.

(۸) باهَر مُلکونو ته د عِزَّت، شُهرَت [یعني مشهور کیدلو] یا د نذرانو په خواهش نعت لوستلو له تلَل او چه ورسره ورسره ئې دا مقصد هم وي چه زما د نوم سره "بَینُ الاقوامي شُهرَت یافته نعت خوان" اُووئیلې او په اشتهارونو کښې ولیکلې شي.

www.dawateislami.net

(۹) په T.V چینل باندې ځکه نعت لوستل (یا بیان کول) چه ښه مشهور شم، چه بیا مې خلق په لارو کښې ودروي او په عِزَّت راسره ملاقات کوي، خپلو محفلونو ته مې غواړي او خدمت مې کوي، په مِیډیا کښې مشهور شم یا د فلانکي چینل مشهور او معروف نعت خوان (یا مُبَلِّغ) راته اووائی یا داسې [صِفَت] په اشتهاراتو کښې ولیکلې شي، چه V.C.D مې جاري شي او ښه نوم مې وشي.

(۱۰) د نعت خوان (یا مُبَلِّغ) د شُهرت او واه! واه! د پاره خپله C.D یا V.C.D جاري کول.

(۱۱) بیان کولو یا اوریدلو یا دُعا کولو، یا مُناجات یا نعت شریف لوستلو یا اوریدو کښې ځکه د ژړا په شان آواز ویستل، د ژړا په شان شکل جوړول، دَ سترګو نه په رپوَلو یا ټینګې بندولو باندې په زور اوښکې راویستل یا بیا بیا سترګې وچول چه خلق زما طرف ته تَوَجُّه وکړي او په ښه نظر راته اُوګوري.

(۱۲) په اِجتِماعِ ذِکرونعت کښې ځکه مخکښې مخکښې کښیناستل، نعتونو اوریدو کښې سر ډیر تاوهل، په اوچت آواز واه واه! سُبْحٰنَ اللهِ وَئیل، نعرې لګول، سر ښه ډیر تاوهل چه خلق مې عاشِقِ رسول وګنړي.

(۱۳) په مُناجات یا نعت شریف اوریدو کښې په چغو چغو ژړلو او پورته پورته کیدلو دَ خلقو تَوَجُّه ځان ته راګرځول غوښتل، که چرې زړه ئې نرې شوې وو او په جوش کښې ولاړ شوې وو، خو اوس د هغه حالت نه وتلې په خپل حالت کښې د راتلو نه باوجود په ولاړه ولاړه د لاس ښپو خوزولو سلسله جاري ساتل چه خلق دا ونه وائي چه دا دومره زر په خپل حالت کښې څنګه راغې! یا ځکه په زمکه باندې غورزیدل، لاس ښپې وهل چه خلق مې ونیسي [لاس ښپې راله] ومږي، په هوش کښې د راوستلو د پاره کوشش ئې وکړي، اوبه پرې وڅښي او دې "هُو هُو" کوي او په قلاره قلاره په هوش کښې د راتلو انداز اختیاروي او دغسې د خلقو په نظر کښې خپل ځان په عاشقانو کښې ورشامِل کړي.

www.dawateislami.net

(١٤) په نعت وغیره اوریدو ځکه د مدینې په جُدائي کښې اسویلي کول بیا بیا مدینه مدینه وئیل چه خلق ئې "د مدینې عاشق" وګنړي.

(١٥) په اِجتِماعِ ذِکر و نعت کښې صرف د بِریاني او کهِچړا وغیره خوړلو د پاره شرکت کول.

(١٦) د مُناجات، نعت او مَنقَبَت وغیره لیکونکي د هغې په مقطع [آخري شعر] کښې خپل تَخَلُّص ځکه لیکل چه نیك نامي مې وشي، شاباش راکړې شي، په خلقو باندې مې رُعب پریوځي چه واه واه! دا خو ډیر ښه شاعِر دې.

د الله تعالیٰ په لار کښې د خرچ کوونکو د پاره د رِیاکارۍ ۳ مِثالونه

(١) په دیني کارونو کښې ځکه چنده ورکول چه خلق را ته سَخي اووائي.

(٢) په غریبانو کښې ځکه خیرات تقسیمول چه هغوئي د ده نه راتاؤ شي حاجي صاحب! خان صاحب! ورته اووائي، ګنړه ورته جوړه کړي، ده ته سوال زاري وکړي، ده ته ژړا فریاد وکړي.

(٣) د مریضانو، غم زپلو او سیلاب وهلو وغیره دَ خدمت د پاره ځکه مَنډې تررې وهل چه خلق ورته دَ مُصیبت وهلو سره خیر ښیګړه کوونکي یا بهترین سماجي کارکُن [یعني غړې] اووائي.

د رِیاکارۍ مُتَعَلِّق مختلِف ۳۲ مثالونه

(١) د قِراءت طریقه ځکه زده کول چه خلق را ته "قاري صاحِب" اووائي.

(٢) د قاري صاحب په اجتِماعاتو کښې د حاضرو خَلقو د شمیر مُطابِق (او د اِمام صاحِب په ښکاره لـمونځونو کښې دَ مُقتَدیانو د کمي زیاتي په حساب سره) د تجوِید د قواعِدو خیال ساتل او د آواز په ښکلي کولو کښې د کمي زیاتي کولو نه مقصد د حاضرو خلقو خوشحاله کول وي. (کاش چه! د الله تعالیٰ د رضا د پاره په پټو لـمونځونو کښې هم د ضرورت مُطابق د تجوید د قواعِدو د خیال ساتلو عادت جوړ شي)

www.dawateislami.net

(۳) د خپل ځان د پاره دَ عاجِزئ الفاظ مثلًا فقیر، ګنهګار، بې کاره وغیره ځکه وئیل یا لیکل چه خلق مې عاجزه طبیعت لرونکې وګنړي، د عاجزئ صِفَت مې وکړي. (د زړه د اخلاص نه بغیر د ځان د پاره داسې الفاظ وئیل مُنافَقَت هم دې)

(٤) د خلقو سره د دې د پاره په ډیر ښه انداز مُلاقات [په خیر راغلې وغیره] کول چه خلق مې خوش طبیعته او اخلاقي وګنړي.

(٥) په دُعا وغیره کښې که د ټولو په مخکښې ژړا ورشي نو اوښکې ځکه زر زر وچول چه په خلقو دا اثر پریوځي چه دا د ریاکارئ نه د بچ کیدو د پاره زر زر اوښکې پاکوي.

(٦) د خلقو په زړونو کښې خپل مقام جوړولو د پاره داسې جُملې وئیل: زه د ګناهونو نه ډیر یریږم، زه د بدې خاتمې نه یریږم، آه! په توره تِیاره قبر کښې به راسره څه کیږي! آه! دَ قیامت په ورځ به حساب څنګه ورکووم!

(۷) په خلقو باندې دَ دُنیا نه دخپلې بې تَعلُقَئ او د خپلې پرهیزګارئ رُعب [دبدبه] اَچولو دپاره داسې وئیل: زه خو د مالدارانو او غَټانو سره د مُلاقات کولو نه ځان ساتم (او که دا خبره ئې د دې دپاره وي چه مالداران وغیره سپك ګنړي نو دَ تَکَبُّر[خپل ځان لوئې ګنړلو] په آفت کښې هم اخته شو)

(۸) د چا د مُصیبت په باره کښې چه واوري نو ځکه ځان خفه غوندې ښکاره کول یا د همدرئ جُملې وئیل چه خلق مې رحم دِله وګنړي. (البتّه د غم وهلي مسلمان د زړه ساتلو په نِیَّت د **الله تعالیٰ** د رضا د پاره د هغه په مخکښې داسې کول عِبادت او دَ آخرت د ثواب باعِث دي)

(۹) په لاس کښې ځکه تسبِیح ګرځول، او ښکاره کول، یا د خلقو په مخکښې ځکه شونډې خوزول یا هغوئې ته د آواز اورولو د پاره ښکاره درود او اَذکار وئیل چه نیك وګنړلې شي.

(۱۰) د خلقو په مخکښې خوراك څښاك او ناسته ولاړه کښې د سُنّتو ښه ډیر خیال ساتل چه خلق مې په سُنّتو باندې عمل کوونکې وګنړي. (کاش چه! په ځان له ځائ کښې هم د خوراك څښاك او په نورو کارونو کښې په سُنّتو باندې د عمل کولو ذهن جوړ شي.)

www.dawateislami.net

(۱۱) په دعوت کښې یا د نورو په مخکښې ځکه کم خوراك کول چه خلق مې **مُتَّبِعِ سُنَّت** (یعني په سُنّتو باندې عمل کوونکې) او **قَلِیلُ الغِذاء** (یعني کم خوراك کوونکې) وګنړي. (افسوس! دا ریاکار چه کله په کور کښې وي یا د آزادۍ لرونکو دوستانو په مینځ کښې ناست وي نو د نورو حِصّه هم خوري)

(۱۲) چا ته خپل نیك کار ښودل او هغه ته دا وئیل چه "دا خبره بل چا ته مه کوه" د دې د پاره چه دغه کس **مُتَاثِرِه** شي چه واه! دا خو ډیر **مُخلِص** [یعني اِخلاصي] سړې دې چه چا ته خپل نیك عمل ښکاره کول نه غواړي.

(۱۳) د خپل نوم سره حافِظ وئیل یا لیکل، د دې د پاره چه خلق را ته په ښه سترګه اُوګوري، **ماشآءالله** اُووائی،اِحترِاماً راته حافِظ صاحِب یا حافِظ جي اووائي، دَ دُعاګانو خواست راته وکړي. (که د رِیا نیّت نه وي نو د حافِظ خپل ځان ته حافِظ وئیل او حافِظ لیکل منع نه دي)

(۱٤) دَ دې د پاره د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** اعتِکاف کول، یا د ټولو په مخکښې ځکه تِلاوت کول، یا په ژړا ژړا دُعا کول چه خلق مې نیك بنده وګنړي.

(۱۵) د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** اعتِکاف د دې د پاره کول چه هسې [بې خرچې] مې د پیشمني او روژه ماتي ترکیب جوړ شي.

(۱٦) د مړي په موقع باندې منډه ترړه کول او په جنازه وړلو او مړي خخولو [د قبر کار کولو] کښې د ټولو نه مخکښې مخکښې کیدل چه خلقو ته [خِدمتي] ښکاره شم او د مړي وارثان را نه مُتَاثِرَه شي او د هغوئ په نظر کښې ښه سړې جوړ شم.

(۱۷) د نیکو په کارونو کښې حصّه اخستو کښې ښه مخکښې مخکښې اوسیدل د دې د پاره چه خلق مې د نیکو حریص [یعني وړې] وګنړي.

(۱۸) خپلې **دِیني کارنامې** ځکه بیانول چه اوریدونکې دا دَ دِین ډیر غټ **خادِم** وګنړي او د ده د **عَظَمَتونو** صِفَت وکړي. مثلًا د خپلو فضائِلو قائِل کولو د پاره داسې وئیل: زه خو د پینځلَّسو کالو نه د نیکۍ دعوت عام کولو کښې لګیا یم، زه دومره موده د دعوتِ اسلامي په فلانکۍ فلانکۍ ذِمه دارۍ باندې مقرر ووم، ما په دومره علاقو بلکه مُلکونو کښې مَدَني کار کړې دې، ما په

www.dawateislami.net

سوونو خلقو کِیرې پریښودي دي، عمامې [یعني پټکي] مې پرې تړلي دي، په مَدَني کارونو مې لګولې دي، د هغوئ تربِیَّت مې کړې دې، فلانکې فلانکې ذِمَّه دار هم ما مَدَني ماحول ته راوستې دي وغیره وغیره.

(۱۹) که د مطالعې په دوران کښې یو د حِکمت نه ډك مَدَني ګُل معلوم کړي نو هغه د نورو نه پټ ساتل او بیا په غټه اجتماع کښې بیانول د دې د پاره چه د واه! واه! او د سُبْحٰن الله سُبْحٰن الله شور جوړ شي، په خلقو مې د معلوماتو رُعب پریوځي او صِفَت مې وشي.

(۲۰) د خپل فِی سَبِیْلِ الله اِمامت یا دیني تدریس [یعني اُستاذئ] د دې د پاره خلقو ته یادګیرنه کول چه خلق رانه مُتَاثِره شي او د قدر په نظر راته اُوګوري.

(۲۱) په ښو [یعني لویو] شپو یا اجتِماعاتو وغیره کښې ځکه په ښه طرز کښې اذان کول چه خلق مې د آواز او انداز واه! واه! وکړي.

(۲۲) د سودا اخستلو یا په چا باندې په مزدورئ د کار کولو په وخت کښې خپل دِیني مَنصب مثلًا دِیني طالِبِ عِلم کیدل یا حافِظِ قرآن یا دَ جُمات اِمام یا مُؤَذِّن یا مُبَلِّغ کیدل وغیره په دې وجه ښودل چه هغه راسره رِعایت وکړي او یا هډو پیسې وانخلي.

(۲۳) د کتاب یا رسالې لیکلو په وخت کښې په دې نِیَّت عِبرت انګیز رِوایات او ښه زړه راښکونکي حِکایات او ښه ښه مَدَني ګُلونه شاملول چه لوستلونکي په ډیرو صِفَتونو او شاباشي راکولو مجبوره شي.

(۲٤) د خپل حج او عُمرې شمیر، دَ هرې ورځې دَ تِلاوتِ قُرآن مقدار، د پوره رَجَبُ المُرَجَّب او شَعبانُ المُعَظَّم او د نورو نفلي روژو، نفلونو، دَ درود شریف دَ ډیروالي وغیره ځکه په ښکاره ښودنه کول چه واه! واه! وشي او د خلقو په زړونو کښې مې اِحتِرام پیدا شي.

(۲۵) د وړو او غټو کتابونو د نومونو سره یا د نومونو نه بغیر د خپلې ډیرې مطالعې ښودنه کول د دې د پاره چه اسلامي ورونړه مې د عِلمِ دِین شوقین وګنړي او نورو ته دَ دې مثال ورکوي.

www.dawateislami.net

(۲٦) د دې د پاره حج کول یا د کړي حج ښودنه کول چه خلق را ته حاجي اووائي او د مُلاقات د پاره را له را حاضِر شي، په زارو زارو راته د دُعاګانو درخواست کوي، چه اَمیلونه راواچوي، تُحفې وغیره راله راکړي. (که په خلقو خپل عِزَّت کول یا تُحفې وغیره حاصلول ئې مقصد نه وي بلکه د تحدیثِ نِعمَت [یعني په نعمت د خوشحالیدو] وغیره ښه ښه نِیّتونه لري، نو خپل حج او عُمره ښکاره کول عزیزان او خپلوان راجمع کول او "محفِلِ مَدینه" [یعني د اجتِماعِ ذِکرونعت] کولو مَنع نشته بلکه د آخِرت د ثواب کارونه دي)

(۲۷) د ساداتِ کِرام اِحترام، لاس ښکُلول وغیره د دې د پاره کوي چه د سَیِّدانو په زړونو کښې مې عِزَّت پیدا شي یا راته خلق د اهلِبَیتو [یعني سَیِّدانو] سره محبَّت کوونکې اووائي.

(۲۸) زِیارتونو ته په کثرت سره د دې دَ پاره تلَل، هر ځائ کښې په عُرسونو کښې مخکښې مخکښې کیدل چه خلق را ته دَ اولِیائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی عاشِق اووائي.

(۲۹) سرکارِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې د پاره بیا بیا یادول یا د یولسمې شریفې نیاز [خیرات] ځکه کول یا د هغوئي په مَنقَبَت کښې ځکه ډیر سر تاوهل چه خلق مې د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه عاشق وګنړي.

(۳۰)دخپل پیر صاحِب ددې د پاره ډیر خِدمَت کول، د خلقو په مخکښې د دې خِدمَتونو ذِکر کول، هغوئي ته ځکه ډیر نزدې نزدې کیدل چه خلق مې د پیر مُقَرَّب [ډیر نزدې کس]، مَنظُورِ نظر او خاص خادِم وګنړي، عِزَّت مې وکړي، لاس مې ښکُل کړي، دَ عِزَّت په ځائ مې کښینوي، د دُعاګانو عرض را ته وکړي، تُحفې نَذرانې را کړي، د پیر صاحب د پاره ما سفارشي جوړ کړ ي.

(۳۱) د پیر و مُرشِد نه پاتې شوې څیز د نورو په موجودګئ کښې د دې د پاره زر زر اُوخوري چه خلق مې د "تَبَرُّك حرِیص" [د خوړدې حِرص لرونکې] وګنړي. (او که څوك ورته نه ګوري نو تَبَرُّك له لاس هم نه ورورې یا ئې د نورو مخې ته ور اوښوئیوي)

(۳۲) د نورو په مخکښې ځکه خاموشه اوسیدل یا په اشاره یا د لِیك په ذریعه خبرې کول چه خلق مې سَنجِیده، خاموش طبعه او دَ ژبې قُفلِ مدینه لګولو والا وګنړي. (اګر که په کور کښې او د ازادو دوستانو سره ښه په زوره زوره خاندي او د زمري په شان برمبیږي یعني شور کوي)

www.dawateislami.net

د رِیا د تعرِیف مُتعَلِّق په ذِکر کړې شوو مثالونو غور وکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ذِکر کړې شوي مثالونه په ذِهن کښې د ساتلو سره سره یو ځل بیا د **ریاکارئ په تعریف** باندې نظر واچوئ څنګه چه په بهارِ شرِیعت جِلد۳ صفحه ۶۲۹ کښې دي: "د رِیا یعني ښودنې د پاره (نیك) کار کول او "**سُمعه**" یعني ځکه نیك کار کول چه خلق ئې واوري او ښه ئې وګنړي، دا دواړه څیزونه ډیر بد دي، د دې د پاره عِبادت کولو باندې ثواب نشته بلکه ګناه ده او دا کس د عذاب حقدار دې." دَ رِیاکارئ په تعرِیف کښې دا هُم شامِل دي چه په خَلقو باندې دَ خپلې عِبادت ګُزارئ رُعب قائِمول، خپل صِفَت، واه واه او خپل عِزَّت غوښتل یا ئې د هغه نیك کار په وجه د جامو جوړه یا د رقم لِفافه، ډوډئ یا مِټهائي یا د بل څه نذرانې [شُکرانې] د حاصلولو مقصد وي. بله دا چه په ذِکر کړې شوو مِثالونو کښې "**حُبِّ جاه**" یعني "د عِزّت او شُهرَت **مَحَبّت**" هم موجود دې. ځکه چه د رِیاکارئ یو ډیر غټ سبب "**حُبِّ جاه**" هُم دې.

د رِیاکارئ د مِثالونو په باره کښې یو ضروري وَضاحت

یاد ساتئ! د رِیاکارئ دا ټول مِثالونه د لوستونکو او اوریدونکو په خپل ځان کښې د **رِیاکارئ** لټولو دَ پاره دي، د بل چا د ریاکار ګنړلو دَ پاره نه دي ځکه چه دَ رِیاکارئ تَعَلُّق د زړه سره دې او د چا د زړه په حالاتو باندې هر کس نه شي خبریدلې. لِهٰذا د دې مِثالونو نه په قِیاس [مطلب] اغستو په کوم یو مسلمان باندې بدګُماني کول نه دي پکار، بدګُماني حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې او دغه رنګ د چا په باره کښې تَجَسُّس کول (یعني ګُناه لټول)، د هغه پرده (یعني عیب) ښکاره کول او په هغه کښې دا (یعني د رِیاکارئ) نښې لټول د دې د پاره چه هغه بدنام کړې شي، **دا هُم حرام دي.**

ځان د رِیاکارئ د عَذاب نه او یَرَوئ!

برائے کرم! دَ خپلو نیکو جائِزه واخلئ چه چرې په هغې کښې **رِیا** خو نه ده پټه شوې! ځکه چه رِیا د مِیږې د چال نه هم په قلاره چال په نیك عمل کښې داخلیږي، حقِیقت دا دې چه په رِیا

کښې چه کوم خوند دې هغه نه په ښه خوراکونو کښې شته او نه د مال او دولت په ډېر والي کښې شته، د دې نه بچ کیدل ډېر ډېر او ډېر زیات ضروري دي ځکه چه دا "خوند" جَهَنَّم ته رسَوُنکې دې. لِهٰذا که په خپل یو نیك عمل کښې د رِیا شُبه (یعني شك) هم اومومئ نو توبه اوباسئ او خپل ځان وَیَروئ ځکه چه **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې:"بیشکه په جَهَنَّم کښې یوه دَرَه [یعني یوه کنده] ده چه د هغې نه جَهَنّم هره ورځ څلور سوه ځله پناه غواړي، **الله** تعالٰی دا دَرَه [یعني کنده] د اُمّتِ مُحَمّدِیَّه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه **رِیاکارو** د پاره تیاره کړي ده کوم چه د قُرآنِ پاك حافِظان، د غَیرُ الله د پاره صَدَقه کوونکي، د **الله** تعالٰی د کور حاجیان او د **الله** تعالٰی په لاره کښې وَتُونکي وي." (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر ج۱۲ ص۱۳۶ حدیث۳) که یو اسلامي ورور یا اسلامي خور په ذِکر کړې شوو مِثالونو کښې په ځان کښې یو مِثال اُووِیني نو لازِماً دِ د **رِیاکارئ** عِلاج وکړي خو هسې نه چه اصل نیکئ یا نیك بختي پریږدي ځکه چه، که په پوزه باندې مچ کښیني نو مچ ترې الوځوي پوزه نه پریك کوي.

بچا لے رِیا سے بچا یاالٰہی　　تُو اِخلاص کر دے عطا یا الٰہی

د رِیا نه مې ته بچ کړې یا اِلٰهي　　ته اِخلاص را ته عطا کړې یا اِلٰهي

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(د تفصِیلي معلوماتو د پاره دَ مَکتَبۃُالمَدِینه چاپ شوې د ۱۶۶ صفحو کِتاب "رِیاکاری" ولولئ)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی الله!　　اَسْتَغْفِرُالله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د رِیاکار نښې

اَمِیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ مولائے کائِنات، عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی شِیرِخُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْہَہُ الْکَرِیْم ارشاد فرمائیلې دې چه: د رِیاکار درې نښې دي: (۱) چه یواځې وي نو په عمل کولو کښې **سُستي** کوي او چه د خلقو په مینځ کښې وي نو **تُندي** کوي (۲) که صِفَت ئې وکړې شي نو عمل نور زیات کړي او (۳) چه **غَندَنه** ئې وکړې شي [یعني بد یاد شي] نو په عمل کښې کمې وکړي. (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقْتِرَافِ الْکَبَائِر ج۱ ص۸٦)

د خلقو په مخکښې خپله غَندَنه کول [ځان ته بَد وئیل] هُم د رِیا نښه ده

حضرت سَیِّدُنا خواجه حَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: څوك چه په ګنړه کښې خپله غَندَنه کوي (یعني ځان ته بدکار، ګُنهګار وغیره وائي) هغه په اصل کښې خپل **صِفَت** کوي (ځکه چه داسې کس ته خلق ښه سړې او عاجز طَبِیعته وائي او د هغه صِفَت کوي) او دا هُم د رِیا په نښو کښې یوه نښه ده. (تَنْبِیہُ الْمُغْتَرِّین ص۲٤)

یاد ساتئ! د خپل ځان د پاره د عاجِزئ الفاظ استِعمالول هله رِیاکاري ده چه د **رِیاکارئ** نِیَّت لري او بیا [په دې نِیَّت داسې کول] ګناه ده او هم دغسې که صِرف په ژبه د عاجِزئ خبرې کوي او په زړه کښې ئې هغه حالت نه وي نو مُنافَقَت دې او دا هم ګناه ده.

د روژې په باره کښې تپوس مه کوئ

حضرت سَیِّدُنا اِبراهِیم بِن اَدهم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د خپل ورور نه د هغه د روژې په باره کښې تپوس مه کوه، ځکه چه که هغه اُووائي چه زه روژه یم نو د هغه نفس به **خوشحاله شي** او که وائي چه روژه نه یم نو د هغه نفس به **خفه** شي او دا دواړه د **رِیا نښې** دي. (تَنْبِیہُ الْمُغْتَرِّین ص۲٤)

ضرورتاً روژه ښکاره کولې شئ

ضرورتاً په روژه ښکاره کولو کښې باك نشته ځنګه چه فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: چه کله چا ته بَلَنه [یعني د طعام دعوت] ورکړې شي او هغه روژه وي نو هغه ته پکار دي چه اُووائي: زه روژه یم. (صَحِیح مُسلِم حدیث۱۱۵۰ ص۵۷۹)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي اَحمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یاد ساتئ چه د نفلي روژې پټول غوره دي خو دلته (مَثَلًا د چا کره تلې وي او هغه ورته د طعام دعوت ورکړي نو هلته) د پټولو په وجه به یا د کور د خاوند په زړه کښې دُښمني پیدا شي یا غم او خفګان، (د رضائے اِلٰهي په نِیَّت) د مسلمان زړه خوشحالول هم عِبادت دې ځکه د روژې ښکاره کولو حکم ورکړې شوې دې. (مِراٰةُالْمناجِیح ج۳ ص۱۹۹)

د نیکئ په سبب څیزونه ارزان په لاس راتلَل

حضرت سَیِّدُنا اِمام **اَحمد** بِن **حَجَر مَکِّي شافِعِي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د رِیاکارئ د قِسمونو په بیان کښې فرمائي: د دې نه هم زیاته خَفِي (یعني پټه) رِیا دا ده چه (په خپلو نیکو) نه خو د خلقو د خبریدو خواهِش لري او نه د عِبادت په ښکاره کیدو خوشحالیږي، اَلبته په دې خبره خوشحالیږي چه د مُلاقات په وخت کښې ورته خلق وړومبې سلام وکړي او خلق ورسره په فراخه تندي ملاقات وکړي، د ده صِفَت وکړي او د ده د ضروریاتو په پوره کولو کښې تادي وکړي، په خرڅولو او اخِستلو کښې د ده لِحاظ وساتي (مَثَلًا که هغه څه اخِستل غواړي نو ارزان ئې ورکړي یا ئې ورله هسې ورکړي) او چه کله د خلقو خوا ته ورشي [نو دا خواهِش لري] چه هغوئي د ده د پاره ځائ پریږدي. (دې د اِحتِرام په ځائ کښینوي، د دُعاګانو د پاره ورته زاري وکړي، د ده سره په تِیټ [قلاره] آواز کښې خبرې وکړي، لاس ورته جوړه ونیسي، خوشامَدې ئې وکړي وغیره) او چه کله یو کس په دې خبرو کښې سُستي وکړي نو دا خبره خپلې نیکئ په زړه کښې د غټو ګنړلو په وجه د ده په زړه باندې سخته تیره شي. لکه د ده نَفس چه د هغه عِبادت په بدله کښې خپل اِحتِرام غواړي، تر دې چه که دا فرض کړې شي چه ده دا نیکئ هډو کړې نه وې نو بیا به د ده نفس د دې اِحتِرام خواهِش نه لرلې. (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقْتِرافِ الکَبَائِر ج۱ص۹۳)

د مُخلِصانو د رِیا نه د بچ کیدو انداز

نور فرمائي: لِهٰذا مُخلِص بندګان همیشه د **خَفي** (یعني پټې) رِیا نه یَرِیږي او نور خلق چه څومره کوشش د خپلو ګُناهونو پټولو کوي دوئي د هغوئي نه زیات د خپلو نیکو پټولو حِرص لري او د دې

وجه صِرف دا ده چه هغوئي خپلې نیکئ خالِصې کول غواړي او غواړي چه **الله** تعالیٰ د قِیامت په ورځ د خلقو په مخکښې هغوئي ته اجر ورکړي ځکه چه هغوئي ته د دې خبرې یقِین دې چه **الله** تعالیٰ صرف هغه اعمال قبلوي کوم چه په **اِخلاص** شوي وي او هغوئي په دې هم پوهه دي چه د قِیامت په ورځ به خلق سخت مُحتاجه او وَږي وي او د هغوئي مال او اولاد به د هغوئي هیڅ په کار را نه شي سِوا د هغې نه څوك چه د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې د قَلبِ سَلِیم (یعني د ګُناهونو نه محفوظ زړه) سره حاضِر شوې وي. (اَلزَّواجِرُ عَنِ اقْتِرافِ الکَبَائِر ج۱ ص۹۳)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چرې مونږ رِیاکار خو نه یو؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ ته پکار دي چه په **دِیایندارئ** سره په خپل ځان غور وکړو چه چرې مونږه په **ځان له ځائ** کښې په عِبادت کښې **سُستي** او د خلقو په مخکښې **تُندي** خو نه کوو؟ چرې مونږه د نیکئ کولو نه پس هغه **بغیر د ضرورته** خلقو ته خو نه ښکاره کوو؟ بیا که د هغې په باره کښې څوك زمونږه **صِفَت** وکړي نو "دَ ډیرې خوشحالئ نه" په خپل عمل کښې **زیاتې** خو نه راولو؟ او د صِفَت نه کولو په وجه مونږه **خفه** کیږو خو نه، او په هغه عمل کښې مو **کمې** خو نه راځي؟چرې داسې خو نه ده چه دَ خلقو په مخکښې نیکئ کول مونږ ته ډیرخوند راکوي او په یواځې ځائ کښې خوند نه راکوي؟ چرې مونږه د خلقو په مخکښې ځان ته بد (یعني بدکار، ګُنهګار، مُجرِم، فَقِیر، کم تر، عاجِز او مِسکِین) د خپل ځان نه د مُتاثِره کولو د پاره خو نه وایو؟ مونږه د خپل مُبَلِّغ کیدو او د سُنَّتو ډکې مَدَني حُلیې وغیره نه د فائِده اوچتولو د پاره زمونږ نه مُتاثِره کیدونکو دُکاندارانو نه ځکه سودا خو نه اخلو چه هغه ئې مونږ ته هسې یا په ارزان قِیمت راکړي؟ که د دې سوالونو په جوابونو کښې آو راشي نو ډیره زر توبه وکړئ او د **اِخلاص** حاصلولو کوششونه شروع کړئ ځکه چه چرې داسې ونشي چه د توبه وِیستلو نه مخکښې مرګ راشي او د **رِیاکارئ** په وجه دوزخ ته غوزار کړې شئ.

www.dawateislami.net

د رِیاکارئ نه د توبه کولو بَرَکت

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي اَحمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لِیکي: یاد ساتئ چه په رِیاکارئ کولو عِبادت ناجائِزه کیږي نه (یعني داسې نه ده چه که په رِیاکارئ ئې لـمونځ وکړو نو هغې ته به ګنې لـمونځ پریښودل وائي) بلکه د **نه قبلیدو** ویره وي، که رِیاکار په آخِره کښې د رِیا نه (په رِښتیا) توبه اوباسي نو په هغه باندې د رِیا د عِبادت **قضا** [راګرځول] واجِب نه دي بلکه د توبې په **بَرَکت** به تیر شوي **د رِیا ناقبوله عِبادتونه هُم قبول شي.** مُطلقاً د رِیا نه پاك کیدل ډیر مُشکِل دي هیڅ څوك دِ هم د رِیا د یَرې نه عِبادتونه نه پریږدي بلکه د رِیا نه د بچ کیدو دُعا دِ کوي. (مِراٰةُ المناجِیح ج۷ ص ۱۲۷)

تِرے رَحم و کرم پر آس میں نے باندھ رکھی ہے
بڑی اُمید ہے آقا! کرم روزِ جزا ہوگا (وسائلِ بخشش ص188)

ژوند تیروومه په طمعه ستا دَ رحم و کرم
اُمِّید لرم آقا! په ورځ د جزا ستا د کرم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د رِیا د مرض عِلاج وکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که مونږه په خپل زړه کښې د **رِیا د مرض نښې** محسوس کړو نو د توبه کولو نه پس په **عِلاج** کولو کښې ناراستي کول نه دي پکار. چه کله مونږه د خپل **باطِن د پاك کولو** کوشش کوو نو اِنْ شَآءَ الله تَعَالٰی زمونږه ظاهِر به هُم پاك شي. **د مدینې د تاجدار** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: څوك چه د خپل **باطِن اِصلاح** کوي نو **الله** تَعَالٰی به د هغه **د ظاهِر اِصلاح** (هُم) اُوفرمائي.“ (اَلجَامِعُ الصَّغِیر للسُّیُوطِی ص۵۰۸ حدیث ۸۳۳۹)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

”د اِخلاص رنړا“ د لسو حُروفو په نِسبت د رَیاکارئ لس عِلاجونه

(١) د **الله** جَلَّ جَلالُہٗ نه د دُعا په ذرِیعه مدد اُوغواړئ (٢) د رِیاکارئ په نُقصانونو نظر ساتئ (٣) د رِیا سببونه ختم کړئ (٤) په خپلو اَعمالو کښې اِخلاص پیدا کړئ (٥) د نِیَّت حِفاظت کوئ (٦) د عِبادت په دوران کښې د شیطاني وَسوَسو نه ځان ساتئ (٧) که یواځې ئې او که په ګنړه کښې ئې، یو شان عمل کوئ (٨) نیکئ پټې ساتئ (٩) صِرف په ښه صُحبت کښې اوسئ (١٠) د اَورادو او وَظائِفو معمول جوړ کړئ.

اوس د دې عِلاجونو وَضاحَت اُوګورئ:

(وړومبې عِلاج) د اللہ تَعَالٰی نه د دُعا په ذرِیعه مدد غواړئ

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِن یعني دُعا دَ مُؤمِن وَسله ده. (اَلْمُستَدرَک لِلحاکِم ج٢ص١٦٢حدیث١٨٥٥) د شیطان خِلاف جنګ کښې دا وَسله اِستِعمالوئ او د خُدائے غَفَّار د کَرم نه ډك دربار کښې داسې **دُعا** کوئ: یارَبَّ الْعٰلَمِینَ: ما ته د **رِیاکارئ** د بیمارئ نه **شِفا** راکړې، زما خالي ځولئ د اِخلاص د نه ختمیدونکي دولت نه ډکه کړې. زما مُقابَله د هغه دُښمن (یعني شیطان) سره ده چه هغه ما وِیني او زه هغه نه وِینم خو ته هغه **وِیني**، اے **الله** جَلَّ جَلالُہٗ! ما د دې دُښمن د **مَکر او دوکې** نه بچ کړې، اے **الله** زه د دې خبرې نه ستا پناه غواړم چه **د خلقو په نظر** کښې خو دِ زما حال ډیر ښه وي، هغوئي دِ ما نیك او پرهیزګاره ګنړي خو ستا په دربار کښې دِ زه **د سزا حقدار** شم.

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی (وسائل بخشش ص78)

زما هر عمل دِ وي بس ستا د پاره کړې داسې اِخلاص راعطا یا اِلٰهي

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

(دویم عِلاج) د رِیاکارئ په نُقصانونو نظر ساتئ

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! مونږ ته پکار دي چه د **رِیاکارئ** آفتونه او د دې نُقصانونه په خپل نظر کښې ساتو ځکه چه د بنده زړه د هغې پورې یو شې **خوښوي** تر څو چه هغه د ځان د پاره فائِده مند ګڼړي خو چه کله هغه ته د هغه څیز په باره کښې معلومه شي چه دا څیز ما ته **نُقصان راکوي** نو هغه د هغې نه ځان ساتي مَثَلًا یو اسلامي ورور د خوند او خوږوالي په وجه **شَهد** ډیر خوښوي خو که هغه ته څوك اووائي چه دا **شَهد** چه ته څښل غواړې په دې کښې **زَهر** ګډ دي نو هغه به بیا په هغې کښې موجود خوند او خوږوالي ته نه ګوري بلکه زهرو ته به ګوري او هغه به بالکل **نه څښي**. هُم دغسې خلقو ته خپل نیك عمل **ښکاره** کول او د هغوئي له طرفه **واه واه** کیدل یقِیناً نفس ته ډیر **خوند** ورکوي بلکه د هَغه خوند په وجه د عِبادت مُشَقَّت هم اَسان شي، خو که مونږه د دې خوند په ځائ د **رِیاکارئ** په ذریعه کیدو والا **د زهرو نه هم خطرناك نُقصانونو** ته سوچ وکړو نو د دې نه بچ کیدل به زمونږ د پاره لږ اَسان شي ځکه چه دَ زَهرو نُقصان صِرف دَ دُنیا د حده پورې دې او "**رِیا**" د آخِرت دَ پاره تباهي ده. آیا دَ**رِیاکارئ** هُم دا نُقصان څه کم دې چه په نیك عمل کښې دَ **مُشَقَّت** برداشت کولوباوجود دَ ثواب نه سرې **محرومه** پاتې شي! د هغه **مزدور** به څه حال وي چه ټوله ورځ په نمر کښې په هغه **خوَلې** بهیږي او چه کله د **مزدورئ** اغستو وخت راشي نو د هغه مزدوري حصاره کړې شي او هغه ته اُووئیل شي چه تا فلانئ فلانئ **غَلَطي** کړې ده ځکه ته د مزدورئ اغستو حقدار نه ئې. خو آه! **رِیاکار** خو د ثواب نه د **محرومئ** سره سره د اور دَ عذاب هم حقدار دې، هٰغه اِنسان څومره **نادان** دې چه په یو څیز هغه لَکونه ګټلې شي خو صِرف د لږ ساعت د خوشحالئ د پاره ئې په معمولي پیسو خرڅ کړي، بالکل هم دغه شان هغه **عِبادت ګزار** څومره ناپوهه دې چه د عِبادت په ذریعه دَ **خالِق** جَلَّ جَلالُہٗ د نزدِیکت حاصلولو په ځائ دَ **مخلوق** خوشحالولو کوشش وکړي، دا رِیاکار داسې وګڼړه چه د **اللہ تَعَالٰی نافرمانئ** ته تیار شو او د دې په بدله کښې ئې د خلقو نه د **هغوئي محبّت** اوغوښتو، د **اللہ تَعَالٰی** د **ناراضئ** په بدله کښې ئې دا اوغوښتله چه خلق مې صِفَت وکړي، د **اللہ تَعَالٰی** دَ**ناراضئ** په بدله کښې ئې دَ خلقو رضا کول او

www.dawateislami.net

خوشحالول اوغوښتل او باقي پاتې کیدونکي **جَنَّتي نِعمتونه** ئې د فاني دُنیا په بدله کښې خرڅ کړل! بیا ټول خلق راضي ساتل د **شودو** [یعني د پئیو] د نهر جاري کولو په شان [نه کیدونکې کار] دې ځکه چه که څه خلق په یوه خبره **خوشحالیږي** نو په هُم هغه خبره ځیني خلق **خفه** کیږي.

عطا کر دے اِخلاص کی مجھ کو نعمت
نہ نزدیک آئے رِیا یا اِلٰہی (وسائل بخشش ص ۷۷)

را عطا کړې د اِخلاص ما ته نِعمت چه نزدې ما ته را نه شي رِیا یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ښودنې د پاره د عمل کوونکي مِثال

خلقو ته د ښودلو او اورَوَلو د پاره د عمل کوونکي **مِثال** د هغه کس په شان دې چا چه خپل جیب د کانړو نه ښه ډك کړو او ښکاره ئې نیولې وو او دَ سودا اخستلو د پاره بازار ته لاړو، چه خلقو د هغه بهر ته راوتې جیب ولیدو نو په حیرانتیا سره ئې اُووئیل: "واه! اُوګورئ! د ده جیب د روپو نه څومره ډك دې!" خو هغه ته به د خلقو د دې **واه واه** کولو نه علاوه هیڅ فائِده ونه رسي ځکه چه کله هغه دُکاندار ته د رقم ادا کولو د پاره د خپل جیب نه د روپو په ځائ کانړي را اوباسي نو **ذلیله او رُسوا** به شي. هم دغسې به دَ **ښودلو** او **اورَوَلو** دَ پاره عمل کوونکي رِیاکار ته د خلقو د طرف نه **د هغه په صِفَت** کښې د وَئیلو شوو **جُملو** نه سِوا هیڅ فائِده حاصله نه شي او نه به هغه ته د قِیامت په ورځ څه ثواب په لاس ورشي. (اَلزَّوَاجِرُ عَنِ اقْتِرَافِ الْکَبَائِر ج ۱ ص ۸۶ بِالتَّصَرُّف)

بڑی کوششیں کی گنہ چھوڑنے کی
رہے آہ! ناکام ہم یا الٰہی (وسائل بخشش ص ۸۲)

ډیر کوشش مې د ګناه پریښودو وکړو خو آه! زه شومه ناکامه یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

(دریم عِلاج) د رِیا سببونه ختم کړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د هرې بیمارئ څه نه څه سبب وي که سبب ختم کړې شي نو بیماري هم لاړه شي. هُم دغه شان د **رِیاکارئ** هم بُنیادي طور درې **سببونه** دي، که د دې درې څیزونو نه ځان خلاص کړې شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د رِیاکارئ نه بچ کیدل به بې حده **آسان** شي. هغه درې اسباب دا دي: ﴿۱﴾ **حُبِّ جاه یعني د شُهرت خواهِش** ﴿۲﴾ **د غَندَني** [مَذَمَّت یعني بَد یادِیدَلو] **ویره** ﴿۳﴾ **د مال او دولت حِرص.**

(۱)د شُهرت خواهِش

د حُبِّ جاه تعریف دې: "د شُهرت او عِزَّت خواهِش لرل." د حُبِّ جاه په غَندَنه [مَذَمَّت] کښې **حُجَّةُ الاِسلام** اِمام **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د شُهرت مَقصد د خَلقو په زړونو کښې خپل عِزَّت جوړول دي او دا خواهِش د هر فَساد جرړه ده. مونږ ته پکار دي چه د "حُبِّ جاه" یعني د **شُهرت د خواهِش** دَ خَتمَولو د پاره په اَحادِیثِ مُبارَکه کښې د دې په باره کښې ښودلو شوو نُقصانونو باندې غور او فِکر وکړو، چنانچه په دې باره کښې **ځلور فَرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوکورئ: ﴿۱﴾ د **اللّٰه** تَعَالٰی فرمانبرداري د بندګانو د طرف نه د شوي **صِفَت د مَحَبَّت** سره د ګډولو نه ځان ساتئ، چرې ستاسو اعمال برباد نه شي. (فِردَوسُ الاَخبار لِلدیلمی ج۱ ص۲۲۳ حدیث ۱۵٦۷) ﴿۲﴾ دَ مال او مَرتَبې **مَحَبَّت** د مُؤمِن په زړه کښې **مُنافَقَت** داسې زیاتوي څنګه چه اوبه شِین بوټې رازرغونوي. (اِحیاءُ العُلوم ج۳ ص۳٤۲،۲۸٦) ﴿۳﴾ دوه وړې شرمښان د چیلو په رَمه کښې دومره تباهي نه راولي څومره تباهي چه حُبِّ مال و جاه (یعني د مال و دولت او د عِزَّت و شُهرت مَحَبَّت) د مُسلمان په دِین کښې راولي (تِرمِذِی ج٤ ص۱٦٦ حدیث ۲۳۸۳) ﴿٤﴾ خپل صِفَت خوښول بنده ړوند او کُونړ کړي. (فِردَوسُ الاَخبار لِلدیلمی ج۱ ص۳٤۷ حدیث ۲۵٤۸)

داسې فِکرِ مدینه وکړئ

په **کوشش** سره داسې سوچ او فِکر (یعني فِکرِ مدینه) وکړئ چه: د خلقو زما په صِفَت کښې یو څو خبرې کول یا ما ته د **صِفَت** په نظر کتل، یا شُهرت حاصِلیدل د نَفس د پاره یَقیناً د **خوند**

باعِث دي خو د خلقو د طرفه کیدونکي صِفَت ما ته د قِیامت په ورځ په بارګاهِ اِلٰهي کښې کامیابي نه شي راکولې ځکه چه دا صِفَت کوونکي خلق خو به پخپله د سزا د یَرې نه په لړزان وي. [بله دا چه] د دوئي په **صِفَت** کولو خو نه زما **رِزق** زیاتیدې شي، نه مې ورسره **عُمر** زیاتیدې شي او نه به پرې را ته په آخِرت کښې څه **مُقام او مَرتَبه** راکړې شي، لِهٰذا د داسې خلقو د طرف نه د کیدونکي **صِفَت خواهِش لرلو څه فائِده ده!** زه وَلې دوئي ته د **ښودَلو** د پاره نیك عَمَل وکړم بلکه زه به صِرف د خپل **رَب** تَعَالٰی **د رضا د پاره عِبادت کووم.** اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی

خپل د دروغو صِفَت خوښول حرام دي

اِمامِ اَهلِسُنَّت اعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **فَتاوٰی رَضَوِیَّه** جِلد ۲۱ صفحه ۵۹۷ کښې لیکي: که څوك خپل د دروغو صِفَت خوښوي چه خلق په هغه فَضائِلو د هغه ثنا (یعني صِفَت) وکړي کوم (فَضِیلت او صِفَت) چه په هغه کښې نشته، بیا خو صرِیح [یعني ښکاره] حرامِ قطعي دي. قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی (یعني الله تعالٰی فرمائي):

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِیْنَ یَفْرَحُوْنَ بِمَاۤ اَتَوْا وَّ یُحِبُّوْنَ اَنْ یُّحْمَدُوْا بِمَا لَمْ یَفْعَلُوْا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿۱۸۸﴾ (پ ٤، ال عمران: ۱۸۸)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هیڅ کله مه ګڼړه هغوئي، څوك چه خوشحالیږي په خپلو کړو باندې او غواړي چه بې کړو د هغوئي صِفَت وکړې شي داسې خلق هیڅ کله د عذاب نه لرې مه ګڼړه او د هغوئي د پاره درد ناك عذاب دې.

آج بنتا ہوں معزز جو کُھلے حَشر میں عیب
ہائے رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یا رب (وسائل بخشش ص۹۱)

نن جوړیږم مُعَزَّز که په مَحشر کښې مې ښکاره شولو عیب
افسوس په مخکښې د مخلوق به شم رُسوا یا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

(2) د خلقو د غَندَنې [يعني مَذَمَّت] ويره

د خلقو د طرف نه د غَندَنې کيدو (يعني د بَد وئيلو) ويره په داسې طريقه لرې کيدې شي چه تاسو خپل دا ذِهن جوړ کړئ چه د چا د غَندَنې کولو (يعني بد وئيلو) په وجه خو به نه زما مرګ زر راشي او نه به زما په رِزق کښې کمې زياتې وشي، چه زما **رب** تَعَالٰی زما نه **راضي** وي نو بيا د خلقو غَندنه [يعني مَذَمَّت] او د هغوئي د طرفه خفګان ښکاره کول زما **هيڅ نُقصان هم** نه شي کولې. دا خلق خو پخپله مَجبوره او عاجِزه دي چه د ځان د پاره د فائِدې او نُقصان او د ژوند او مرګ **مالِکان** نه دي نو زه ولې د دوئي د غَندنې [يعني بد وئيلو] د يَرې نيك عمل وکړم يا پريږدم، **ما ته صِرف د خپل رَب** تَعَالٰی **د قَهر او د غَضَب نه ويره پکار ده.**

(3) د مال او دولت حِرص

د **مال او دولت د حِرص** نه د خلاصي موندلو د پاره خپل ذهن داسې جوړ کړئ چه د مال ورکولو او حصارولو په باره کښې د خلقو زړونه د **الله** تَعَالٰی په قبضه کښې دي، زه چه د کومو خلقو په وجه د **رِياکارئ** يعني د ښودنې عمل کوونکې يم هغوئي خو پخپله **مجبوره** دي، رِزق ورکوونکې ذات صِرف او صِرف د ټول کائِنات ساتونکې **الله** تَعَالٰی دې. څوك چه د خلقو د مال لالچ لري هغه ذليله او رُسوا شي او که هغه ته مال په لاس ور هُم شي نو د ورکوونکي د اِحسان نه لاندې راشي، نو چه کله د **رِياکارانه عمل** په ذريعه مال په لاس راتلل هُم **يقيني** نه دي او د ذِلَّت او رُسوائي پوره **انديښنه** هم پکښې شته دې نو بيا زه ولې د نيکو کارونو په ذريعه خَلق مُتاثِره کړم او د هغوئي نه د **مال** حاصلولو کوشش وکړم؟ بس **زه به د خپل رَب** جَلَّ جَلَالُهٗ **د رضا د پاره عِبادت او د هر قِسم نيك کارونه کووم.** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

پيچھا مرا دُنيا کی محبت سے چُھڑا دے يا رب مجھے ديوانہ مدينے کا بنا دے (وسائل بخشش ص١٠٠)

د دُنيا د مَحبَّت نه خلاصې راکړې يا الله ما دِيوانه د مدينې کړې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(څلورم عِلاج) په خپلو اعمالو کښې اِخلاص پیدا کړئ

د رسولِ اکرم صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: د **الله** تَعَالٰی د پاره په **اخلاص** عمل وکړئ ځکه چه **الله** تَعَالٰی هُم هغه اعمال قبلوي کوم [اعمال] چه د هغه د پاره په اِخلاص کولې شي او دا مه وایه چه دا (عمل) د **الله** تَعَالٰی د پاره او د خَپلوَلَئ د پاره. (سُنَنِ دار قطنی ج۱ ص۷۳ حدیث۱۳۰)

دَ اِخلاص نه بغیر ثواب نه کیږي

دَ **دعوتِ اِسلامي** د اِشاعَتِي اِداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ترجَمې والا پاکیزه قُرآن، "کَنزُ الْاِیمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان" صفحه ۸۹۲ او ۸۹۳، سیپاره ۲۵ سُوْرَۃُ الشُّوْرٰی آیت ۲۰ کښې **الله** تَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾ (پ۲۵، شوریٰ: ۲۰)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: څوك چه د آخِرت فَصل غواړي مونږ به د هغه د پاره فصل زیات کړو او څوك چه د دُنیا فَصل غواړي مونږ به هغه ته د هغې نه څه ورکړو او په آخِرت کښې د هغه هیڅ حِصّه نشته.

دَ تَفسِیر نُورُالعِرفان نه د دې آیتِ مُبارکه د مُختلِف حِصّو تفسیر اُوګورئ: (**څوك چه د آخِرت فَصل غواړي**) یعني د **الله** (تَعَالٰی) **رضا** غواړي او جَنابِ مصطفٰی صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **خوشحالول** غواړي، د رِیا د پاره دِ اعمال نه کوي (**مونږ به د هغه فَصل زیات کړو**) یعني هغه ته به د زیاتو نیکو **توفیق** ورکړو، نیك کارونه به ورته آسان کړو، د اعمالو **ثواب** به ورته بې حِسابه ورکړو. (**او څوك چه د دُنیا فَصل غواړي**) یعني چه صِرف دَ دُنیا ګټلو د پاره نیکئ کوي، د عِزَّت او **واه اواه** د پاره عالِم یا حاجي [وغیره] جوړ شي، (د مالِ) غنیمت (حاصلولو) د پاره غازي (جوړ شي)، (**او په آخِرت کښې د هغه هیڅ حِصّه نشته**) ځکه چه هغه د آخِرت د پاره هډو اعمال کړي نه دي. معلومه شوه چه **رِیاکار د ثواب نه محرومه**

پاتې کیږي خو شرعاً د هغه عمل صحیح دې، د رِیا په لـمانځه به فرض ادا شي خو ثواب پرې نشته ځکه ئې د فِي الْاٰخِرَةِ (یعني په آخِرت کښې د هغه هیڅ حِصّه نشته) قید لګولې دې. (نُورُ العِرفان ص ۷۷٤)

د مُخلِص اعمال الله تَعَالٰی مشهوروي

د **حُضورِ پاك**، صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِیشان دې: "که په تاسو کښې یو کس په داسې سخت خَټ کښې [دننه] څه عمل وکړي چه د هغې نه څه دروازه وي او نه **روزان** [یعني روشندان]، بیا به هم د هغه عمل ښکاره شي او څه چه کیدونکي دي ضرور به کیږي." (مُسندِ اِمام احمد بِن حنبل ج٤ ص٥٧ حدیث ١١٢٣٠)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك نه لاندې لیکي: د دې فَرمانِ عالي مَقصَد دادې چه په **رِیا** کولو ته خپل عِبادت وَلې **بربادوې**! ته په **اِخلاص** نیکئ کوه، پټ (عِبادت) کوه. **الله** تَعَالٰی به ستا نیکئ پخپله خلقو ته وښائي د خلقو زړونه به تا نیك ګنړل شروع کړي. دا ډیره زیاته مُجَرَّبه (یعني ازمائیلې شوي خبره) ده، بعضې خلق پټ **تَهَجُّد** کوي خلق هغوئي ته هسې [یعني د لیدلو نه بغیر] تَهَجُّد ګُزار وئیل شروع کړي. د تَهَجُّد بلکه **د هرې نیکئ** نُور په مخ باندې ښکاره کیږي چه د هغې شپه او ورځ مُشاهَده (یعني لیدل) کیږي، خلق حُضُورِ غوثِ پاك (او) خواجه اجمیري (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِمَا) ته **وَلِي** وائي، وَلې چه رب تَعَالٰی ئې پرې وائي. دا دي د دې فِرمانِ عالي ښکاریدل. (مِراٰةُ المناجِیح ج ۷ ص ١٤٥)

مُخلِص څه ته وائي؟

"**اِنسان مُخلِص** کله وي" په دې باره کښې د اَسلافِ کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی څلور قَولونه اُوګورئ: (۱) د حضرت سیِّدُنا یَحیٰی بِن مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه تپوس وکړې شو: **اِنسان کله مُخلِص وي؟** وئې فرمائیل: چه کله د هغه عادت د پئیو د ماشوم په شان شي ځکه چه د پیئ څښُونکي ماشوم څوك صِفَت وکړي نو په هغه ښه نه لګي او که غَندَنه [یعني مَذَمَّت] ئې وکړي نو بده پرې نه لګي. نو چه څنګه هغه د خپل صِفَت او غَندَنې نه بې پرواه وي هم دغسې که اِنسان د خپل صِفَت او

غَندَنې پرواه نه کوي هغه ته **مُخلِص** وئیلې شي. (تَنبِیهُ المُغتَرِّین ص٢٤) (٢) حضرت ذُالنُّون مِصري رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه نه چا تپوس وکړو: **بنده ته به څنګه معلومه شي چه هغه مُخلِص دې؟** وئې فرمائیل: چه کله هغه په اعمالِ صالِحه (یعني نیکو) کښې د پوره کوشش کولو باوجود دا خبره خوښوي چه زه مُعَزَّز (یعني عِزَّتمند) نه ګنړلې شم (اَیضاً ص٢٣) (٣) د یو اِمام نه تپوس وکړې شو: **مُخلِص څوك دې؟** وئې فرمائیل: مُخلِص هغه دې څوك چه خپلې **نیکئ** داسې **پټې** کړي څنګه چه خپلې **بدئ پټوي** (الزَّوَاجِر ج١ص١٠٢) (٤) یو بل بُزُرګ رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه ته عرض وکړې شو: د اِخلاص حد دَ کوم ځائ پورې دې؟ وئې فرمائیل: دا چه **تا ته هډو دا خواهش پاتې نه وي چه خلق دِ ستا صِفَت وکړي.** (اَیضاً)

یکساں ہو مدح و ذم مجھ پہ کر دو کرم
نہ خوشی ہو نہ غم تاجدارِ حرم (وسائلِ بخشش ص271)

چه یو شان لګي په ما صِفَت او ذَم[1] داسې وکړه کرم
چه پرې نه وي خوشحالي نه راته غم تاجدارِ حَرَم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(پینځم عِلاج) د نِیَّت حِفاظت وکړئ

د **رِیاکارئ** نه د بچ کیدلو د پاره د خپل نِیَّت حِفاظت ضروري دې یعني تاسو چه کوم عمل کوئ د هغې مقصد څه دې! که د **رِیاکارئ** بُوئي پکښې محسوس کړئ نو فوراً د خپل نِیَّت اِصلاح وکړئ او دا ذِهن جوړ کړئ چه صِرف هغه عمل به قبلیږي کوم چه د رِضائے اِلٰهی د پاره وکړې شي که ما خلقو ته د ښودَنې یا اورولو د پاره کومه نیکي وکړه نو قبلیدل خو یو طرف ته پریږده، دَ جَهَنَّم حقدار به وګرځم! شیطان اګر که ډیر راښکل وکړي خو د رِیا او ښودنې د نِیَّت نه بچ کیدل

[1] مَذَمَّت ، غَندَنه

www.dawateislami.net

او ښه نِیَّت کول ضروري دي. حضرت سَیِّدُنا نُعَیم بِن حَمَّاد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په شاګانو باندې د کوړو وَهل خوړَل زمونږ د پاره د (ښه) **نِیَّت** کولو په مُقابَله کښې ډیر اسان دي. (تَنبِیهُ المُغتَرِّین ص۲۵)

دَ نِیَّت تعرِیف

نِیَّت لُغوي طور د زړه **پخې** اِرادې ته وائي او شرعاً د عِبادت اِرادې ته نِیَّت وئیلې شي. (مَاخوذ از نُزهَةُ القَاری شرح صحیحُ البُخَاری ج۱ ص۲۲٦) د نِیَّت **اَهَمِّیَّت** په زړه کښې د راپیدا کولو د پاره ووه رِوایتونه اُوګورئ:

د "چل مدینه" د ووه حروفو په نِسبت د ښه نِیَّت په فضیلت باندې مُشتمِل ووه فَرامِینِ مُصطفٰی ﷺ

(۱) د اعمالو دار و مدار په ښه **نِیَّتونو** دې او د هر کس د پاره هم هغه څه دي د څه چه هغه نِیَّت وکړي- (بُخَاری ج۱ ص٦ حدیث ۱) (۲) د مُسلمان نِیَّت د هغه د عَمل نه غوره دې- (اَلمُعجَمُ الکَبِیر ج٦ ص ۱۸۵ حدیث ۵۹٤۲) (۳) رښتینې نِیَّت د ټولو نه **غوره عمل** دې- (اَلجَامِعُ الصَّغِیر ص۸۱ حدیث ۱۲۸٤) (٤) **ښه نِیَّت** به بنده **جَنَّت** ته داخِلوي (اَلفِردوس بِمَاثور الخطاب ج٤ ص۳۰۵ حدیث ٦۸۹۵) (۵) **الله** تَعَالٰی د آخِرت په **نِیَّت** باندې دُنیا **ورکوي** خو د دُنیا په **نِیَّت** باندې د آخرت **ورکولو** نه اِنکار کوي- (اَلزُّهد لِابنِ مُبَارک ص۱۹۳ حدیث ۵٤۹) (٦) رِښتینې نِیَّت د عرش سره مُعَلَّق [یعني زوړند] دې پس چه کله یو بنده په رِښتیني نِیَّت کوي نو عرش په خوزیدو شي بیا هغه بنده اُوبخښلې شي- (تَارِیخ بَغداد ج۱۲ ص٤٤٤ حدیث ٦۹۲٦) (۷) چا چه د نیکئ اِراده وکړه بیا ئې هغه [نیکي] ونکړه نو د هغه د پاره به یوه نیکي لیکلې شي. (صحیح مُسلِم ص۷۹ حدِیث ۱۳۰)

اچّھی اچّھی نیّتوں کا ہو خدا جذبہ عطا　　بندۂ مُخلِص بنا کر عفو میری ہر خطا

د ښو ښو نِیَّتونو جذبه راکړې یا خُدا
کړې مُخلِص ما، معاف کړې زما هره خطا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

(شپږم عِلاج) د عِبادت په دوران کښې د شیطاني وسوسو نه بچ اوسئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اِخلاص د قبولِیَّت کُنجي (یعني چابي) ده، لِهٰذا څنګه چه د نیك عمل نه مخکښې په زړه کښې **اِخلاص** کیدل ضروري دي هُم دغه شان د هرې نیکئ او عِبادت په دوران کښې هغه قایم ساتل هم ضروري دي ځکه چه شیطان مُسلسل زمونږ په زړونو کښې د وَسوسو اچولو په کوشش کښې لګیا وي. حضرت سَیِّدُنا فُضیل بِن عِیاض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: څوك چه په خپلو اعمالو کښې د ساحِر (یعني جادُوګر) نه زیات **چالاکه** نه وي (هغه به د شیطان په دوکه کښې راشي او) ضرور به په رِیاکارئ کښې ونځښلي. (تَنبِیهُ المُغتَرِّین ص۲۳)

په عِبادت کښې د وَسوسو نه د خلاصي د پاره درې څیزونه ضروري دي

د **عِبادت** په دوران کښې د شیطاني وسوسو نه د خلاصي د پاره درې څیزونه ضروري دي (۱) هغه وسوسه پیژندل (۲) هغه ناخوښه ګڼړل او (۳) د هغې د قبلولو نه اِنکار کول. مَثَلاً چا چه ښه ښه **نِیَّتونه** وکړل اودَ تَهَجُّد لـمونځ ئې شروع کړو،اوس ورته د لـمانځه په دوران کښې شیطان په زړه کښې د **رِیاکارئ** دا وسوسه ورواچوله چه کله خلق زما د تَهَجُّد ګُزارئ نه خبر شي نو هغوئي به زما نه ډیر مُتاثِره شي، اوس د دې وَسوسې فوراً پیژندل چه دا د شیطان له طرفه ده د هغه لـمونځ ګُزاره د پاره ډیر ضروري دي.بیا ئې چه **ناخوښه** هم وګڼړي چه د **خالِق** جَلَّ جَلَالُه د رضا د پاره کوونکي عمل نه د **مخلوق** د مُتاثِره کولو کوشش د **اللّٰه** تَعَالٰی **غضب** ته دعوت ورکول دي، بیا د هغه وسوسې نه **خپله تَوَجُّه واړوي**. اګر چه دا کار **مُشکل** ضرور دې خو نامُمکِنه نه دې، په شروع کښې دا کار بې حده مشکل ښکاري، خو چه کله په کوشش سره د یو مَودې پورې په دې باندې صبر وکړي نو د **اللّٰه** تَعَالٰی په فضل و کرم او توفِیق دا کار اَسان شي، زمونږه کار کوشش کول دي، کامیابي ورکوونکي ذات **ربِّ کائِنات** جَلَّ جَلَالُه دې: سیپاره ۲۱ سُوْرَةُ العَنْکَبُوت آیت ۶۹ کښې **اللّٰه** تَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۶۹﴾

(پ۲۱، العنکبوت:۶۹)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او چا چه زمونږ په لار کښې کوشش وکړو ضرور به مونږ هغوئ ته خپلې لارې وښائیو او بیشکه الله د نیکو [خلقو سره] مَل دې.

تو شیطاں کے شَر سے بچا یا الٰہی
ہو دل وسوسوں سے صَفا یا الٰہی
مجھے وسوسوں سے بچا یا الٰہی
ہو شَر دُور شیطان کا یا الٰہی

بچ مې کړې شر د شیطان نه یا اِلٰهي
زړه مې کړې د وسوسو نه صفا یا اِلٰهي
بچ کړه ته دَ وَسوسو نه ما یا اِلٰهي
کړه د شیطان شر را نه جُدا یا اِلٰهي

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

(ووم عِلاج) که یواځې ئې او که په ګنړه کښې ئې یو شان عمل کوئ

حضرت سَیِّدُنا ابُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه د رسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: چه کله بنده عَلانیه [یعني د خلقو په مخکښې] لـمونځ کوي نو هُم ښه [لـمونځ کوي] او که خُفیه [یعني پټ] لـمونځ کوي نو هُم ښه [ئې کوي] نو **الله** تَعَالٰی فرمائي چه دا زما رښتینې بنده دې. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۴ ص۴۶۸ حدِیث۴۲۰۰)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدِیثِ پاك نه لاندې لیکي: یعني په دې بنده کښې **رِیاکاري** نشته دې دا بنده **مُخلِص** دې که دا رِیاکار وې نو **عَلانِیه** [یعني د خلقو په مخکښې] لـمونځ به ئې په **ښه** شان کولې او **خُفیه** (یعني ځان له ځائ کښې) به ئې **معمولي** شان کولې، چه دا خُفیه (یعني ځان له ځائ کښې) هم په ښه شان [لـمونځ] کوي نو بیا ضرور **مُخلِص** دې. (مِراٰۃُ المَنَاجِیح ج۷ ص۱۴۰)

اِمام دِ په سِرّي لـمونځ کښې هم د قَواعِدِ تَجوِید خیال ساتي

خورو خورو اِسلامي ورونړو! مونږ ته پکار دي چه که مونږه ځان له یُو اَو که د اسلامي ورونړو په مینځ کښې یُو چه په دواړه ځائیونو کښې مونږه عمل په یو شان د کولو ښه کوشش وکړو. مَثَلاً په څه خُشوع و خُضوع چه د خلقو په مخکښې لـمونځ کوو هُم هغه انداز په ځان له ځائ کښې هُم قائِم وساتو، اِمام صاحِب ته پکاردي چه څنګه په جَهري (یعني د اوچت آواز والا قِراءَت په) لـمونځونو کښې د تَجوِید د قَواعِدو خیال ساتي، په سِرّي (یعني پټ قِراءَت والا) لـمونځونو کښې هم داسې کوي. بله دا چه مونږه کوم کار د خلقو په مخکښې کول نه خوښوو چه هغه په تنهائي [یعني ځان له ځائ کښې] هُم نه کوو. د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیّین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُبِین دې: ”کوم کار چه د خلقو په مخکښې کول نه خوښوئ هغه په تنهائي [یعني ځان له ځائ] کښې هم مه کوئ.“ (اَلْجامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطي ص۴۸۷ حدیث۷۹۷۳)

بچا مجھ کو شیطاں کی مکاریوں سے　　خدا بہرِ حیدر ریاکاریوں سے

بچ کړې ما د شیطان د مکارئ نه　　الله په خاطِر د حَیدر، رِیاکارئ نه

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(اتم عِلاج) نیکۍ پټې کړئ

خورو خورو اِسلامي ورونړو! کاش چه! دا سعادت رانصیب شي چه مونږه خپلې نیکۍ هم داسې پټې کړو څنګه چه خپل ګناهونه پټوو او بس هم دا کافي وګنړو چه **الله** تَعَالٰی زمونږ د نیکو نه خبر دې. بِالخُصوص د پټې نیکۍ کولو نه پس د نَفس پوره نِګراني [یعني خَوکۍ] کول پکار دي ځکه چه کیدې شي چه د دې عِبادت ښکاره کولو حِرص نفس ته جوش ورکړي او نفس څه په داسې

شان د نښلولو ترکیب وکړي چه خپل دا عِبادت خلقو ته ښکاره کړه ځکه چه دغسې په نیکو پټو ساتلو چه خلق ستا د مقام او مرتبې نه خبر نه شي نو هغه غرِیبانان خو به ستا د پیروئ [یعني ستا په نقشِ قدم تللو] نه محرومه پاتې شي، په داسې شان کښې به ته د خَلقو مُقتدا (یعني پیشوا او لارښودونکې) څنګه جوړ شې؟ ستا په ذریعه به د نیکۍ دَعوت څنګه عام شي؟ وغیره.په داسې حالت کښې دَاللہ تَعَالٰی نه د اِستِقامت او ثابِت قدم اوسیدو دُعا کول پکار دي او د خپل عمل په بدله کښې په لاس راتلونکې د جَنَّت عَظِیمُ الشَّانه او د همیشه نِعمت یادول پکار دي. خپل ځان یَرول پکار دي ځکه چه څوك د اللہ تَعَالٰی د عبادت په ذریعه د هغه د بندګانو نه اَجر [یعني بدله] غواړي په هغه باندې د اللہ تَعَالٰی غضب نازلیږي او دا هم کیدې شي چه د نورو په مخکښې د خپل عمل ښکاره کولو په وجه هغه د هغوئ په نِزد محبوب [یعني ګران] خو شي خو د اللہ تَعَالٰی په نِزد د هغه مقام او مرتبه اوغورزیږي! نو چرې دغه شان زما عمل هم ضائِع نه شي! بیا خپل نفس داسې پوهه کړئ چه زه څنګه دا عمل د خلقو د صِفَت په بدله کښې خرڅ کړم هغوئ خو پخپله عاجِزه او بې وَسه دي، نه خو هغوئ ما ته رِزق راکولې شي او نه د مرګ او ژوند مالِکان دي.

پټ عمل غوره دې

د پټ عمل په فضائیلو دِ هم غور وکړي څنګه چه د نبیِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: د ښکاره عمل په مقابَله کښې **پټ عمل غوره** دې. (شُعَبُ الاِیمان ج۵ ص ۳۷۶ حدِیث ۷۰۱۲)

د عمل ښکاره کولو یو صورت

داسې کس د چا چه پیروي کیږي هغه خلقو ته د رَغبت ورکولو په نِیَّت داسې عمل ښکاره کولې شي هله چه په دې ښکاره کولو کښې رِیا شامِله نه وي. نو په دې وَرَل اِخلاص سره عمل ښکاره کولو کښې هغه د ثوابِ عظیم حقدار دې. چنانچه په یو حدِیثِ پاك کښې دي: چه کله د ښکاره عمل پیروي وکړې شي نو هغه (ښکاره کیدونکې عمل) په پټه د کوونکي عمل نه غوره دې. (اَیضاً)

د عاجِزئ اِنتِها

خپل پټ عمل د تَحدِیثِ نِعمَت یا د نورو د رَغبت د پاره ښکاره کولو نه مخکښې ډیر په ښه طریقه سره د غور کولو حاجت دې چه دا چرې د شیطان دوکه خو نه ده! چرې زه خو به په رِیاکارئ کښې پرې نه اُوځم. په دې باره کښې زمونږه د بُزُرگانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین اِنکِساري [یعني عاجِزي] بې مِثاله ده. چنانچه حضرت سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما چه څومره اعمال په **ښکاره** کړي دي، هغه د نه کیدو برابر ګنړم ځکه چه کله خلق ګوري نو هغه وخت **اِخلاص** باقي ساتل زمونږه په شان خلقو د قُدرت نه بهر وي. (تَنبِیهُ الْمُغتَرِّین ص۲۶)

د بَصرې د هرې کُوڅې نه به د تِلاوت آواز راتلو

حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: په یوه زمانه کښې به د بصرې د هرې کُوڅې نه د ذِکرِ اِلٰهی او د قُرآنِ کرِیم د تِلاوت اوچت آوازونه راتلَل او دغسې به په خلقو کښې د ذِکر و اَذکار رَغبت پیدا کیدلو. اِتِّفاقاً په هغه زمانه کښې یو عالِم صاحِب "**د رِیا په بارِیکو**" باندې یوه رِساله ولیکله: نو ټولو خلقو په اوچت آواز کښې ذِکر و تِلاوت کول بند کړل. په دې باندې ډیرو خلقو اُووئیل چه: کاش! دې عالِم صاحِب دا رِساله نه وې لیکلې! (کِیمیائے سعادت ج۲ ص۶۹۲)

اوس خو په نه کوونکي عمل کښې هم رِیاکاري کیږي

حضرت سَیِّدُنا فُضَیل بِن عِیاض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: مونږه مخکښې د خلقو دا حالت خو لیدلې وو چه هغوئي به په هغه نیکو کښې رِیا کوله کومې [نیکئ] به چه هغوئي کولې او اوس د خلقو حالت دا دې چه هغوئي په هغه خبرو [یعني هغه نیکو] کښې رِیا کوي کومې چه هغوئي نه کوي. (تنبِیهُ الْمُغْتَرِّین ص۲۵) یعني مخکښې به خلقو د مخلوق د راضي کولو د پاره نیك کارونه کول او اوس نیك کار هم نه کوي صِرف د نیکانو شکل جوړ کړي او د دې خبرې یقین ورکولو کوشش کوي چه هغوئي نیك کارونه کوي پس دوئي د پخوانو **ریاکارو** نه هُم بدتر دي.

نیکیاں چُھپ کر کریں ایسی ھِدایت دے خدا ہم کو پوشیدہ عبادت کی تو لذّت دے خدا

چه ګوو پټې نیکۍ راکړې داسې هِدایت خُدایا
مونږه ته راکړې خوند د پټ عِبادت خُدایا

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(نَهَم عِلاج) صِرف په ښه صُحبت کښې اوسئ

که چا ته د **الله** تَعَالٰی د مُخلِصو بندګانو او عاشِقانِ رَسُول صُحبت نصیب شي نو ډیره د خوش بختۍ خبره ده، د هغوئي د نَزدیکت او د هغوئي د طرف نه وخت په وخت ورکړي شوي د نیکۍ د دعوت په بَرَکت به د نورو فائِدو سره سره اِنْ شَآءَاللہ تَعَالٰی **د رِیاکارۍ عِلاج** هُم کیږي. دا یاد ساتئ چه صِرف او صِرف ښه صُحبَت اختیارول پکار دي او د بدو خلقو د سوري نه هُم تښتیدل پکار دي. د **مَکّي مَدَني سُلطان** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِیشان دې: د ښه او بد ملګري مِثال د مُشك راغستونکي او د بټۍ تَودَوونکي په شان دې، مُشك راغستونکې به تا ته **تُحفه** درکوي یا به ئې ته د هغه نه په پیسو واخلې یا به تا ته د هغې نه **خوشبو** راځي، او بټۍ تَودَوونکې به یا ستا جامې **سیزي** یا به تا ته د هغه نه **خراب** بُوئي راځي. (صحِیح مُسلِم ص۱٤۱٤ حدِیث۲٦۲۸)

چَنگے بندے دی صحبت یارو جیوَیں دکان عطاراں سودا بھاوَیں مُل نہ لَیّے حُلّے آن ہزاراں
بُرے بندے دی صحبت یارو جیوَیں دکان لوہاراں کپڑے بھاوَیں کُنج کُنج بَیّے چِنگاں پَین ہزاراں

(یعني د ښه سړي صُحبت [یعني ناسته ولاړه] د عَطّار (یعني د عطر خرڅوونکي) د دُکان په شان دې چه که د هغه نه سړې څه نه هُم اخلي نو خوشبو خو ورته راځي او د بد کس صُحبت د لوهار د دُکان په مِثال دې، چه که جامې ترې هر څومره راټولې ساتي، سپرغۍ (یعني بَخَري) ورته ضرور رارسي)

www.dawateislami.net

د صُحبت د فوري اثَراتو مِثالونه

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! هر صُحبت خپل اثر ضرور لري، مَثَلًا که ستاسو مُلاقات دیو داسې اسلامي ورور سره وشي،چه د هغه د یو عزیز د مرګ په وجه د هغه په سترګو کښې د اوښکو **لمدوالي** وي، په مخ باندې ئې **د غم اثر** ښه ښکاره وي او د خبرو نه ئې **خفګان** ظاهِرېږي د هغه داسې حالت چه اُووِینئ نو د لږ ساعت د پاره به تاسو هُم **غمژن** شئ. او که تاسو ته د داسې اِسلامي ورور سره د ناستې اِتِّفاق وشي چه د هغه مخ د څه کامیابئ په وجه د **خوشحالئ** نه پړقیږي، په شُونډو ئې **مُسکا** خوره وي او د هغه د خبرو نه د **خوشحالئ** اِظهار کیږي نو هسې به تاسو هُم د څه وخت د پاره د هغه په **خوشحالئ** کښې شرِیك شئ.

د ښه او بَد صُحبَت اَثَرات

هُم دغه شان که څوك د داسې خلقو صُحبَت اختیاروي چه هغه د فِکرِ آخِرت نه بالکل **غافِله** [یعني بې خَبَره] وي او په ګناهونو کولو کښې د هیڅ قِسم **شرم** نه **محسوسوي** نو غالِب ګُمان دې چه هغه به هُم ډیر زر د هغوئي **په شان** شي او که څوك د عاشِقانِ رسول صُحبَت اِختیار کړي چه د هغوئي زړونه د **فِکرِ مدینه** نه ډك وي، هغوئي شپه او ورځ دَ آخِرت دَ کامیابئ د پاره د خپلې اِصلاح په کوشش کښې مصروفه اوسي، چه د هغوئي سترګې د **الله** تَعَالٰی د **یَرې** نه ژاړي نو ډیر اُمّید دې چه دا حالتونه د هغه کس په زړه کښې هُم راپیدا شي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

بُری صحبتوں سے بچا یا الٰہی
بنا مجھ کو اچّھا بنا یا الٰہی

بدو صحبتونو نه بچ کړه ما یا اِلٰهي جوړ کړه ښه جوړ کړه ما یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! دَ ښه ښه مَدَني صُحبَت موندلو د پاره تاسو ته د پریشانه کیدو هیڅ ضرورت نشته، د تَبلِیغ قُرآن و سُنَّت عالمگِیر غیر سیاسي تَحرِیك دعوتِ اسلامي سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، د دې په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی اوچت اَخلاقي اوصاف [یعني صِفَتونه] په غیر مَحسوسه طرِیقه ستاسو د کِردار حِصَّه جوړیږي. هر اِسلامي ورور ته پکار دي چه هغه په خپل ښار کښې کیدونکي د دعوتِ اسلامي په هفته واره **د سُنَّتو ډکه اِجتِماع** کښې شِرکت کوي او د سُنَّتو د تربِیَّت په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر کوي. په دې مَدَني قافِلو کښې د سفر په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی د خپل تیر شوي ژوند په طور طریقو د غور کولو موقع په لاس درشي او زړه به مو د آخِرت بهتر کولو د پاره بې قراره شي، د دې په نتِیجه کښې به د ګناهونو په ډیر والي پښیمانه شئ اود توبه کولو سعادت به درحاصِل شي. د عاشِقانِ رَسُول سره په مَدَني قافِلو کښې د مُسلسل سفر کولو په نتِیجه کښې به ستاسو په خُله د بَدو رَدو او بې فائِده خبرو په ځائ دُرودِ پاك وَظِیفه شي او ژبه به مو د تِلاوتِ قُرآن او ذِکرونعت عادت واخلي،د غُصّې په ځائ نرمي، د بې صبرئ په ځائ صبر وتَحَمُّل [برداشت] او د تَکَبُّر په ځائ به درته عاجِزي اود اِحتِرامِ مُسلِم جذبه نصِیب شي. د دُنیاوي مال و دولت د لالچ نه به خلاص شئ او د نیکو حِرص به درنصِیب شي، غَرَض دا چه: بیا بیا د **الله** جَلَّ جَلالُہٗ په لار کښې د سفر کوونکي په ژوند کښې به مَدَني اِنقِلاب راشي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. اِسلامي خویندو ته هُم پکار دي چه په خپل ښار کښې کیدونکي د اِسلامي خویندو په هفته واره سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کښې د پابندئ سره شِرکت کوي.

د زړه او پوزې د مرض نه خلاصې

ستاسو د ترغِیب او تحرِیص [یعني حِرص پیدا کولو] د پاره د عاشِقانِ رَسُول د صُحبت د بَرَکت نه ډك یو **مَدَني سپرلې** تاسو ته بیانووم چنانچه د **مُراد آباد** (یُو پي هِند) د یو اسلامي ورور د لِیك خُلاصه ده: د تبلِیغ قُرآن و سُنَّت عالمگِیر غیر سِیاسي تَحرِیك "**دعوتِ اسلامي**" د خُوشبوداره مَدَني ماحول

سره د تړون نه مخکښې زه د ګُناهونو په سمندر کښې غرق ووم، د لـمونځونو نه لرې او د فیشن پرستۍ په سپیره والي کښې د ګیریدو په وجه زما د ژوند ورځې چه هغه یقیناً قِیمتي ملغلرې دي په غفلت کښې تیریدلې.د روحاني مرضونو نه علاوه زه په جِسماني مرضونو کښې هُم ګرفتار ووم، چنانچه د پوزې د هډوکي غټیدو سره سره زه د زړه په مرض کښې هُم اخته ووم، چه د هغې په وجه به زه په سخت تکلیف کښې ووم. آخِر د ګُناهونو تورې وریځې لرې شوې. داسې وشو چه ما ته د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره سفر کوونکي **مدني قافِله** کښې د سفر سعادت رانصِیب شو، د عاشِقانِ رَسُول د صُحبت په وجه زما په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راغلو او ما د ټولو تیرو شوو ګُناهونو نه توبه اوویستله او د سُنّتو په لار روان شوم، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دا بَرَکت هم رانصیب شو **چه د مدني قافِلې نه بیرته راغلم نو زما د پوزې غټ شوې هډوکې صحیح شوې وو او څه ورځې پس مې د زړه مرض هُم ختم شو.**

دل میں گر دَرد ہو ڈر سے رُخ زَرد ہو پاؤگے فَرحتیں قافلے میں چلو
ہے شفا ہی شفا، مرحبا! مرحبا! آ کے خود دیکھ لیں، قافلے میں چلو

(وسائل بخشش ص۶۱۲)

که په زړه کښې مو وي درد، هُم د یَرې نه مخ زَرد خوشحالۍ به اومومۍ قافلو کښې لاړ شئ ده شِفا او شِفا، مرحبا! مرحبا! راشئ تاسو اُوګورئ، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو ولیده د زمانې یو وران کاري کس ته چه کله په مَدَني قافِله کښې د سفر سعادت او په هغې کښې دَ عاشِقانِ رَسُول صُحبَت نصیب شو نو د هغه د اِصلاح سَبَب هم وشو او بِفَضْلِهٖ تَعَالٰی هغه د جِسماني بِیمارو نه هم صِحَت یاب [یعني جوړ] شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د هغه د پوزې غټ شوې هډوکې هُم صحیح شو او د زړه د خطرناك مرض نه هُم خلاص شو. ضِمناً

[یعني د دې سره] د ثواب ګټلو په نِیَّت د زړه د عِلاج یوه مَدَني نُسخه ستاسو په خِدمت کښې حاضِروم. هغه دا چه:

د عَجوه کجورې په هډوکي د زړه عِلاج

د **یو** مُقامي اخبار په کالَم کښې لیکلي شوي یوه واقِعه په تَصَرُّف سره عرض کووم: د ۸٤ کالو د یو ډیر غټ پخواني فوځي افسر بیان دې چه د شپږ پنځوسو کالو په عُمر کښې زه د زړه په مرض کښې اخته شوم، ما خپل مرض پټ ساتل غوښتل ځکه چه ددې په ښکاره کیدو زما د فوځ نوکرئ ته خطره رسیدې شوه ځکه ما د ډاکټري عِلاج نه ډډه کوله. په دې کښې ما ته یو صاحِب اُووئیل چه د مدینې مُنَوَّرې د مشهورو کجورو **عَجوه** هډوکي نري میده کړه او هره ورځ سحر د هغې پوډر نِیمه قاشوغه د اوبو سره تیروه. ما په هغه مَدَني نُسخه عمل وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په حیرانوونکي طور زما صِحت ښه شو. دا نسخه هغه (د 2010-12-23 د اخبار مُطابِق) نن هُم استِعمالوي او شائِد چه د هغې په بَرَکت د ۸٤ کالو په عُمر کښې هُم هغه نه صِرف صحت مند او د روزانه په کارونو کښې په تُندئ سره لګیا وي بلکه د هغه زړه هم د ځوانانو په شان مضبوط دې. هُم په هغه اخباري کالم کښې دا هُم دي چه په 1995ء کښې د پاکستان یو مشهور ترِین شَخصِیَّت ته ډاکټرانو اُووئیل چه ستاسو د زړه درې نالئ [یعني والونه] بند شوي دي په دې خبره هغه د **انجِیو پلاستي** (Angioplasty) کولو د پاره لندن ته د تلَلو فیصله وکړه. ما (یعني هغه پخواني فوجي افسر) هغوئي ته هُم دا مَدَني نُسخه اوښودله او مشوره مې ورکړه چه تاسو د یوې میاشتې پورې دا عِلاج وکړئ، که فائِده ونشوه نو بیشکه بیا تاسو **انجیوپلاستي** وکړئ هغوئي دا مَدَني نُسخه واخِسته او استعمالول ئې شروع کړل، میاشت پس لندن ته لاړو، هلته هغوئي د دُنیا یو نُومَوَړي کارډیالوجِسټ (یعني د زړه د مرضونو ماهِر) سره رابِطه وکړه، هغه د هغوئي ټیسټونه وکړل، د ټیسټونو رپورټونه ئې چه وکتل نو هغوئي ته ئې اُووئیل چه ستاسو زړه مُکمَّل طور صحیح دې، تاسو ته د هیڅ قِسم عِلاج ضرورت نشته. هغوئي د زَړو ټیسټونو رپورټونه د هغه مخې ته کیښودل، هغه دواړه ټیسټونه د یو بل سره وکتل او د دې خبرې نه ئې اِنکار وکړو چه دا دواړه ټیسټونه ګنې د یو کس

www.dawateislami.net

دي. ـدِه دا چه هغوئي پاکستان ته بیرته راغلو او هغه **مَدَني نُسخه** ئې خپل معمُول جوړه کړه. په 2009ء کښې هغوئي بیا خپل ټیستونه وکړل او د زړو ټیستونو سره ئې وکتل نو د دې خبرې په ښودلو ئې خلق حیران کړل چه د هغوئي زړه مُکمَّل طور صِحَت مند دې او د 1995ء نه واخله تر 2009ء پورې د هغوئي په زړه کښې د هیڅ قِسمه فرق نه وو راغلې، هغوئي دا مَدَني نُسخه نن هُم اِستِعمالوي او خپلو بې شمیره دوستانو باندې ئې هُم اِستِعمالوي.

نہ ہو آرام جس بیمار کو سارے زمانے سے
اُٹھا لے جائے تھوڑی خاک اُن کے آستانے سے (ذوقِ نعت)

په مرض دِ که پوهه نه شي طبیبان د زمانې
لګه خاوره کړه راپورته د آقا د آستانې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مَدَني اِنعامات

د فساد نه ډك دې دور کښې **دَعوَتِ اِسلامي** "د نیك جوړیدو نُسخه" په نوم د **"مَدَني اِنعامات"** د سوالونو په شکل کښې عِنایت کړې ده. د اسلامي ورونړو د پاره ۷۲، د اسلامي خویندو د پاره ۶۳، او د دِیني طالِب عِلمانو د پاره ۹۲، د دِیني طالِباتو د پاره ۸۳ او د مَدَني ماشومانو [وړو هلکانو او جینکو] د پاره ٤٠ او د خُصوصي اسلامي ورونړو (یعني چارا ګانو او کنړو) د پاره ۲۷ **مَدَني اِنعامات** دي. بیشمیره اسلامي ورونړه، اسلامي خویندې او طالِبِ عِلمان وغیره د مَدَني انعاماتو مُطابق عمل کوي او هره ورځ د اُوده کیدو نه مخکښې (یا په بل مناسِب وخت کښې) **"فِکرِمَدینه"** یعني د خپلو اعمالو جائِزه اخلي او د مَدَني اِنعاماتو " **د جیبي سائِز**" په رِساله کښې ورکړې شوې خانې ډکوي. په دې مَدَني اِنعاماتو باندې د عمل کولو نه پس د نیك جوړیدو او د ګناهونو نه د بچ کیدو لاره د **اللّٰه تَعَالٰی** په فضل و کرم هواریږي او د دې په بَرَکت د سُنَّتو د پابند جوړیدو، د ګُناهونو نه د نفرت

www.dawateislami.net

کیدو او د اِیمان د حِفاظت د فِکر او سوچ ذِهن جوړیږي. د یو باکِرداره مسلمان جوړیدو د پاره د مَکْتَبَةُالْمَدِیْنَه د یو شاخ نه د مَدَني اِنعاماتو رِساله حاصِله کړئ او هره ورځ فِکرِمَدِینه (یعني خپل حِساب) کوئ او په هغې کښې ورکړې شوي خانې ډکوئ او د هِجري سن مُطابِق د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

په مدني اِنعاماتو عمل کوونکو د پاره عظِیم زیرې

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوونکي څومره بختور وي د دې اندازه د دې **مَدَني سپرلي** نه ولګوئ هغه دا چه د حیدرآباد(بابُ الاِسلام سِندھ)دیو اسلامي ورور څه په دې ډول حَلفِیَّه (یعني په قسم سره) بیان دې چه دَ **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په یوه شپه ما ته په خوب کښې د **رَحْمَةُ الْلِّعٰلَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لِیدلو عَظِیم سعادت رانصیب شو. مُبارَکو شونډو حَرَکت وکړو او د رحمت ګُلونه ترې ریژیدل شُروع شو، الفا څه داسې وو: **څوك چه په دې مِیاشت کښې هره ورځ په پابندئ سره د مَدَني انعاماتو مُتَعَلِّق فِکرِ مدینه کوي، اللّٰه تعالٰی به د هغه بخښنه وکړي.**

مَدَنی اِنعامات کی بھی مرحبا کیا بات ہے
قُربِ حق کے طالبوں کے واسطے سوغات ہے

څه به وائې د مَدَني اِنعاماتو مرحبا نزدیکت د رب غوښتونکو لره ده تُحفه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(لَسم عِلاج) د اَورادو او وَظائِفو معمول جوړ کړئ

خوږو اِسلامي ورونړو! د رِیاکارئ نه د بچ کیدو د پاره د بیان شوو عِلاجونو سره سره د خپل وَس مطابِق اوّل آخِر د درود شرِیف لوستو سره دا ۸ روحاني عِلاجونه هُم وکړئ، د دې سره به د رِیاکارئ وَسوسې لرې کیږي.

www.dawateislami.net

(۱) هره ورځ دا دُعا درې ځله لولئ **الله تعالیٰ** به مو د غټې او وړې د هر قِسم رِیا نه لرې ساتي. دُعا دا ده: ''اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُ بِكَ اَنۡ اُشۡرِكَ بِكَ وَاَنَا اَعۡلَمُ وَ اَسۡتَغۡفِرُكَ لِمَا لَا اَعۡلَمُ ''[1]

(۲) چه کله هُم په زړه کښې د رِیاکارئ خیال پیدا شي نو ''اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم'' یو ځل لوستو نه پس د چپې اُوګې طرف ته درې ځله تُف تُف کوئ.

(۳) هره ورځ لس ځله ''اَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم'' لوستونکي باندې د شیطان نه د حِفاظت د پاره **الله تعالیٰ** یوه فرِښته مُقرر کوي.

(٤) سُورَۃُ الۡاِخۡلَاص ۱۱ ځله سحر (د نیمې شپې تیریدو نه د نمر د وړومبئ پلوشې ځلیدو پورې سحر دې) لوستلونکي باندې که شیطان سره د خپل لښکره د ګناه کولو کوشش وکړي، ګُناه به پرې ونکړي شي تر څو ئې چه دا (لوستونکې) پخپله ونکړي.

(٥) سُوۡرَۃُ النَّاس لوستو سره هم وسوسې لرې کیږي.

(٦) **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: ''**صُوفِیائے کرام** رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي چه څوك سحر ماښام یو وِیشت یو وِیشت ځله ''**لَاحَول شریف**'' [لولي] او اوبه پرې دموي او څښې ئې نو د شیطان د وسوسو نه به د ډیره حده پورې په اَمن کښې اوسي.'' (مِراٰۃُ المَنَاجِیح ج۱ ص۸۷)

(۷) هُوَالۡاَوَّلُ وَالۡاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالۡبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ (پ27 الحدید3). لوستلو سره فوراً وسوسه لرې کیږي.

---

[1] اے الله عَزَّوَجَلَّ زه قصداً ستا د شرِیك جوړولو نه ستا پناه غواړم او په ناپوهئ کښې داسې عمل کولو باندې ستا نه د بخښنې سوال کووم.

(۸) د سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْخَلَّاقِ ،﴿اِنْ یَّشَاْ یُذْهِبْكُمْ وَیَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِیْدٍ ۙ وَّ مَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِیْزٍ ۙ﴾ کثرت [یعني زیات لوستل]، دا یعني وسوسه د جرړې سره پریك کوي. (مُلَخَّص از فَتاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه ج۱ ص۷۷۰)

رِیا کاری سے ہر دَم تُو بچانا خدایا بندۂ مُخلِص بنانا

بچ مې کړې رِیاکارئ نه هر دَم خُدایا جوړ مې کړې مُخلِص بنده اے زما خُدایا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

که د عِلاج باوجود آرام را نه شي نو بیا؟

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! که د ډیر عِلاج نه پس هُم ارام را نه شي نو یَرِیږئ مه بلکه عِلاج جاري ساتئ "**اُمِّید دې چه آخِر به کامیاب شئ.**" ځکه چه که مونږه عِلاج پریښودو نو داسې شوه لکه ځان مو چه مُکمَّل طور شیطان ته حواله کړو او داسې خو به هغه مونږه په قلاره نه پریږدي. ځکه مونږ ته پکاردي چه د **رِیاکارئ** نه د ځان خلاصولو کوشش جاري ساتو. د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتِي اِدارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** په چاپ شوي کِتاب **مِنهاجُ العابِدِین** کښې چه **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزا رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه څه فرمائیلي دي د هغې خُلاصه ده: که تاسو دا محسوسه کړئ چه د **الله** تعالٰی نه د پناه غوښتو باوجود هُم شیطان تاسو نه نه قلاریږي او د لِب راتلو کوشش کوي نو د دې مطلب دا دې چه **الله** تعالٰی ته ستاسو د مُجاهِدې [یعني کوشش]، طاقت او صبر اِمتِحان اغستل مقصود دي، یعني **الله** تعالٰی ازمیښت کوي چه تاسو د شیطان سره مُقابله او جنګ کوئ یا د هغه نه مغلوبه کیږئ [یعني شِکست خورئ]. (مِنهاجُ العَابِدِین (عَرَبِی) ص٦٤)

رِیا کاریوں سے بچا یا الٰہی سیّہ کاریوں سے بچا یا الٰہی

---

[1] (د دې دُعا د آیت حِصّه ستاسو د معلومات د پاره په بریکټ کښې بنده او په بدل رَسمُ الخط کښې واضِحه کړې شوې ده)

بچ مې کړې رِیاکارو نه یا اِلٰهي بچ مې کړې سِیاه کارو[1] نه یا اِلٰهي

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی اللّٰہ! اَسْتَغْفِرُاللّٰہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د عِبادت تعرِیف

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! اوس د رِیاکارئ بیان وکړې شو او دا هُم معلومه شوه چه رِیاکاري په **عِبادت** کښې کیږي لِهٰذا **د عِبادت تعریف** هُم عرض کووم، بیا نور د نیکئ دعوت پیش کولو سره اِنْ شَآءَاللّٰہ تعالٰی د عِبادت قِسمونه او بیا د نِیَّت مُتعَلِّق څه د عرض کولو مې هُم نِیَّت دې. **د عِبادت** په **تعریف** کښې عُلَماءِ کِرام فرمائي: څوك د عِبادت لائِق ګڼړل او د هغه د څه قِسم تعظِیم کول "عِبادت" دې او که د عِبادت لائِق ئې نه ګڼړي نو هغه به صِرف **تعظِیم** وي عِبادت به نه وي، څنګه چه په لمانځه کښې په ولاړه لاس تړل عِبادت دې خو که د لاس تړلو دا عمل په بارګاهِ رِسالت کښې د مُبارَکو جالو مخې ته وي، یا په صلٰو و سلام لوستلو کښې وي، [هُم دا عمل که] د یو بُزرګ د تشریف راوړو په موقع وي، د تَبَرُّکاتو د زیارت په وخت کښې وي، د یو وَلِیُّ الله د مزار مخې ته وي، د خپل پیر صاحِب، اُستاذ یا د مور او پلار وغیره د پاره وي نو دا عِبادت نه بلکه صِرف تعظِیم دې.

د رِضائے رَبُّ الانام جَلَّ جَلَالُہٗ هر کار عِبادت دې

د **عِبادت** مفهوم ډیرلوئ دې او په دې کښې د رِضائے رَبُّ الانام جَلَّ جَلَالُہٗ د پاره کیدونکې هر کار شامِل دې، څنګه چه په فتاوٰی رَضَوِیَّه جلد29 کښې د **غَمزُالْعُیُون** او **رَدُّالمُحتار** په حواله لیکلې شوي دي: "عِبادت هغه دې چه د هغې په کولو ثواب ورکولې کیږي او د هغې دار و مدار د ثواب

[1] کُناهُونه

www.dawateislami.net

په نِیَّت وي.“ تاجُ العُرُوس کښې نقل شوي دي: ”عِبادت هغه کار دې چه د هغې په کولو رب را کیږي.“ (فتاوٰی رَضَوِیَّه ج۲۹ص۶۴۷، ۶۴۸) د **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د لِیك خُلاصه ده:کوم کار چه د **الله** تعالٰی د راضي کولو د پاره وکړې شي هغه **عِبادت** دې. (مُلَخَّص از تفسِیرِ نَعِیمي ج۱ ص۷۷)

د عمل د قبولِیَّت شرطونه

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! یاد ساتئ! د عَمَل د قبلیدو د پاره د آخِرت د ثواب نِیَّت ضروري دې چنانچه د دَعوتِ اِسلامي د اِشاعتِي اِداري مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن، ”کَنزُالْاِیمان مَع خَزائِنُ الْعِرفان“ صفحه ۵۲۹ پینځلسمه سیپاره سُوْرَۂ بَنِی اِسْرآءِیْل آیت 19 کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

وَ مَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَ هُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓىِٕكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۱۹﴾

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او څوك چه آخِرت غواړي او د هغې د پاره هغسې کوشش وکړي او وي ایمان والا نو د هغوئ کوشش پکار راغي.

د **دې** آیتِ کَرِیمه نه لاندې صدرُالافاضِل حضرت عَلّامه مولانا سَیِّد مُحمّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د عمل د قبولِیَّت د پاره درې ځِیزونه پکار دي: (۱) **طالِبِ آخِرت** کیدل یعني چه [د آخِرت] **د ثواب نِیَّت** ئې وي (۲) **سَعِی** (یعني کوشش کول) یعني عمل په اِهتِمام سره د هغې د حقونو سره ادا کول (۳) **اِیمان**، چه دا د ټولو نه زیات ضروري دې. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۵۵۴)

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د دعوتِ اسلامي د سُنَّتونو د تربِیَّت په **مَدَني قافِلو** کښې سفر او هره ورځ د **فِکرِ مَدِینه** په ذرِیعه د مَدَني **اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او دَهرې مَدَني مِیاشتې په اولني تارِیخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته دَ جمع کولو معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللهتعالٰی په خاطِر د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د بدو نِیّتونو نه خلاصې او د ښو ښو نِیَّتونو عادتونه درنصِیب شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د هر عمل دارومدار په نِیَّت دې

د **قُرآنِ مَجِید** نه پس د ټولو نه مُعتَبَر کِتاب **بُخاري شریف** دې، د دې د ټولو نه اولنې حدِیثِ پاك دې: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات یعني دَ اعمالو دار و مدار په نِیَّتونو دې. (بُخاری ج۱ ص۶ حدیث۱) د دې حدیث پاك په باره کښې شارِح بُخاري حضرت مُفتي شریفُ الحق اَمجدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د دې حَدِیث دا مطلب دې چه د اعمالو ثواب صِرف په نِیَّت دې، بغیر دَ نِیَّت نه د هیڅ قِسم ثواب حقدار نه دې. (نُزهَةُ القاری ج۱ ص۱۷۲)

د ښو نِیَّتونو مُتَعَلِّق ۲ فَرامَینِ مُصطفٰی ﷺ

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۸۵۳ صفحو کتاب "جہنم میں لے جانے والے اعمال" کښې په صفحه ۱۷۳ تا ۱۷٤ نه د ښو نِیَّتونو د فضائِلو په باره کښې دوه فرامَینِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوګورئ: (۱) رِښتیني نِیَّت د ټولو نه غوره عمل دې. (اَلْجامِعُ الصَّغِیر ص۸۱ حدیث۱۲۸٤) (۲) ښه نِیَّت به بنده جَنَّت ته داخِلوي. (اَلْجامِعُ الصَّغِیر ص۵۵۷ حدیث۹۳۲٦)

نِیَّت څه ته وائي

نِیَّت، د زړه پخې اِرادې ته وائي که هغه د هر څیز [اِراده] وي. او په شرِیعت کښې (نِیَّت) د عِبادت اِرادې ته وائي. (نُزهَةُ القاری ج۱ ص۱٦۹)

مُباح کار د ښه نِیَّت په وجه عِبادت شي

ډیر کارونه مُباح دي، مُباح هغه جائِز عمل یا کار ته وائي چه د هغې کول او نه کول یو شان وي یعني په داسې کار کولو نه ثواب کیږي نه ګناه. مَثَلًا خوراك څښاك، اُوده کیدل، ګرځیدل، دولت جمع کول، تُحفه ورکول، ښې جامې اغوستل یا ډیرې جامې کول وغیره مُباح کارونه دي، که لکه شان تَوَجُّه وکړې شي نو مُباح کار **عِبادت** جوړیدې شي او په هغې ثواب ګټلې شي، د دې په

طریقه بیانولو کښې زما آقا **اعلٰحضرت**، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: هر مُباح (یعني داسې جائِز عمل چه د هغې کول او نه کول یو شان وي) په ښه نِیَّت مُستَحَب کیږي. (فتاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه ج ۸ ص ۴۵۲) فُقَهائے کِرام فرمائي: د مُباحاتو (یعني داسې جائِز کار چه په هغې نه ثواب وي او نه گُناه د دې) حُکم د جُدا جُدا نِیَّتونو په اِعتِبار بدلیږي، ځکه چه کله په دې (یعني د یو مُباح په ذریعه) طاعات (یعني د عِبادت) د پاره قُوَّت حاصلول یا طاعات (یعني عِباداتو) ته رسیدل مقصود وي نو دا (مُباحات یعني جائِز څیزونه هُم) عِبادات شي مَثَلًا خوراك څښاك، اُوده کیدل، مال گټل او وَطِي کول[1]. (اَیضاً ج ۷، ص ۱۸۹، رَدُّالمُحتار ج ٤ ص ۷۵)

په مُباح کار کښې ښه نِیَّتونه نه کوونکي په نُقصان کښې دي

که یو مُباح کار په بد نِیَّت وکړې شي نو **بد** [کار] به شي او که په ښه نِیَّت وکړې شي نو **ښه** [کار] به شي. او که هیڅ نِیَّت هُم نه وي نو مُباح به وي او په قِیامت کښې به ئې حِساب کیږي. لِهٰذا عقلمند هغه دې چه په هر مُباح کار کښې کم نه کم یو دوه ښه نِیَّتونه کوي، که کولې شي نو زیات نِیَّتونه دِ کوي ځکه چه څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه هُمره به ثواب هُم زیات کیږي. د نِیَّت فائِده دا هُم ده چه که د نِیَّت کولو نه پس هغه کار په څه وجه ونکړې شي نو بیا به ئې هُم د نِیَّت ثواب وشي. څنگه چه فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: **نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ** یعني د مسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه غوره دې. (اَلمُعجَمُ الکَبِیر لِلطَّبَرانی ج ٦ ص ۱۸۵ حدیث ۵۹٤۲)

د نِیَّت نه کولو نُقصان او د کولو د فائِدې رِوایت

مُحَقِّق عَلَی الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِین، حضرت عَلَّامه شَیخ عَبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په رِوایت کښې راغلي دي، چه کله فرښتې د بندگانو اعمال نامې آسمانونو ته یوسي او په دربارِ اِلٰهي کښې ئې وړاندې کړي نو **الله** تعالٰی فرمائي: **اَلْقِ تِلْكَ الصَّحِیْفَةَ اَلْقِ تِلْكَ الصَّحِیْفَةَ** یعني "دا

[1] یعني د ښځې او خاوند "یو ځائ کیدل"

www.dawateislami.net

اعمال نامه اوغورزوه، دا اعمال نامه اوغورزوه" فرښتې عرض کوي: **یااللّٰه** جَلَّ جَلالُہٗ! ستا دې بنده چه کوم نیك اعمال کړي وو هغه مونږ د لیدلو او اوریدلو نه پس لیکلې وو. **اللّٰه** تعالٰی اِرشاد فرمائي **لَمْ یُرِدْ وَجْهِیْ** یعني "دې بنده په دې اعمالو کښې زما د رِضا نِیَّت نه وو کړې،" ځکه دا زما په دربار کښې قبول نه دي. بیا یوې بلې فرښتې ته **اللّٰه** تَعَالٰی دا حُکم فرمائي **اُکْتُبْ لِفُلَانٍ کَذَا وَکَذَا** یعني "د فُلانکي بنده په اعمال نامه کښې فلانکي فلانکي عمل ولیکه." فرښته عرض کوي: "**یا اللّٰه!** دا عمل خو هغه بنده نه دې کړې!" **اللّٰه** تَعَالٰی ارشاد فرمائي: اګر چه هغه دا عمل نه دې کړې خو **د هغه نِیَّت د دې عمل د کولو وو ځکه به زه د هغه په نِیَّت باندې هغه ته د دې عمل اجر [یعني ثواب] ورکووم.** (حِلْیَۃُ الْاَوْلِیاء ج۲ ص۳۵٦ رقم ۲۵٤۸ وغیرہ) حضرت سَیِّدُنا شَیخ عَبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نور فرمائي: په حدِیثِ مُبارکه کښې دا هُم راغلي دي، **نِیَّۃُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِہٖ** د مومِن نِیَّت د هغه د عمل نه غوره دې." (اَلْمُعجَمُ الْکَبِیر ج٦ ص۱۸۵ حدیث ۵۹٤۲) ښکاره خبره ده چه په نیك عمل خو به ثواب هله ورکول شي چه کله نِیَّت ښه وي او که نِیَّت بد وي نو په نیك عمل هیڅ ثواب نشته، خو په ښه نِیَّت به په هر حال کښې ثواب ورکول شي که عمل وکړي او که نه. ځکه چه د مومِن نِیَّت د هغه د عمل نه غوره دې.

ځکه بعضې بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین فرمائي:

ہر کرا اندر عمل اِخلاص نَیست　　در جہاں از بندگانِ خاص نَیست

یعني چه د چا په عمل کښې اِخلاص نه وي هغه په دُنیا کښې د **اللّٰه** تعالٰی په خاص بندګانو کښې نه دې شمار

ہر کرا کار از برائے حق بُوَد　　کارِ اُو پَیوَستَہ بارَونق بُوَد

یعني د چا عمل چه د رِضائے اِلٰهي د پاره وي همیشه د هغه عمل ځلیدونکې وي. (اَشِعَّۃُ اللمعات ج۱ ص۳۹)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښه نِیَّت ښه او بد نِیَّت بده مِیوه نِیِ . بلکه کله کله د **بد نِیَّت** بده میوه په هُم هغه موقع ښکاره شي. په دې باره کښې دوه حِکایتونه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم چنانچه

www.dawateislami.net

(۱) عَجِیبه غوا

حضرت سَیِّدُنا عَبدُاللّٰه بِن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: یو بادشاه یو ځل د خپل مُلك په دوره اُووَتلو. په دې دوران کښې د یو کس په کور کښې میلمه شو، (هغه کوربه خبر نه وو چه دا بادشاه دې) کوربه ماښام خپله غوا ولوشله نو بادشاه حیران پاتې شو ځکه چه هغې د دیرش غواګانو هُمره شوده [یعني پیځ] وکړل! هغه [یعني بادشاه] په زړه کښې هغه **عجیبه غوا** د هغه نه په زور د اغستلو **بد نِیَّت** وکړو. بله ورځ ماښام هغه غوا د هغې په نِیمه شوده وکړل، بادشاه چه [په دې خبره] خپله **حیرانتیا** ښکاره کړه نو کوربه اُووئیل: "بادشاه د خپلې رِعایا[یعني عوام] سره د ظُلم کولو نِیَّت کړې دې د هغې د سپیره والي په وجه نن شوده نِیم وشو ځکه چه کله بادشاه ظالِم وي نو بَرَکَت ختم شي" دا عجیبه خبره ئې چه واوریده نو بادشاه هغه **عجیبه غوا** په ظُلم د اغستو نِیَّت ختم کړو. چنانچه بله ورځ غوا بیا هم هغه هُمره شوده [یعني پیځ] وکړل څومره به ئې چه مخکښې کول. د دې واقعې نه بادشاه ډیر عِبرت واغستو او هغه په خپله رِعایا[یعني عوامو] باندې ظلم کول پریښودل.
(مُلَخَّص از شُعَبُ الایمان ج ٦ ص٥٣ حدیث٧٤٧٥)

(۲) د ګني خوږ او یَخ شربت

د اِیران د بادشاهانو لقب به د پخوا نه "کِسریٰ" وو ځنګه به چه د مِصر ټول بادشاهان "فِرعون" نومیدل. یو ځل یو کِسریٰ بادشاه د خپل لښکر نه جُدا شو او د یو باغ دروازې ته ورسیدو، هغه د څښلو د پاره اوبه اوغوښتلې نو یوې ماشومې **د ګني خوږ او یَخ شربت** راوړو. بادشاه چه وڅښلو نو ډیر خوندَور وو، هغه د ماشومې نه تپوس وکړو چه ته دا څنګه جوړوې؟ هغې اُووئیل چه په دې باغ کښې د ډیر ښه قِسم ګنو فصل کیږي، مونږه په خپلو لاسو ګني نچوړوو او شربت ترې اوباسو! بادشاه ورته د یو بل ګِلاس فرمائِش وکړو، په دې دوران کښې د بادشاه **نِیَّت خراب** شو او هغه د ځان سره دا فیصله وکړه چه زه به دا باغ د دوئي نه په زور واخلم او بل باغ به دوئي له ورکړم. په دې کښې هغه ماشومه په ژړا راغله او وئې وئیل چه: زمونږه د

www.dawateislami.net

بادشاه **نِیَّت** خراب شوې دې. بادشاه اُووئیل: دا تا ته څنګه معلومه شوه؟ وئیل ئې: مخکښې به په اسانئ ګنې نچوړیدو او اوس مې ترې د ډیر زور لګولو باوجود هُم اوبه ونه وِیستې شوې.'' بادشاه فوراً په زور د باغ اغستو بد **نِیَّت** ختم کړو او وئیل ئې: یو ځل بیا لاړه شه او کوشش وکړه، چنانچه هغه لاړه او په اسانئ ئې ترې شربت نچوړ کړو او را ئې وړلو. (حیاۃُالحَیَوان الکبریٰ ج۱ ص۲۱۶، المنتظم فی تاریخ الملوك والامم لابن جوزی ج۱۶ ص۳۱۰)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چه کله هُم په یو سُنَّت وغیره باندې د عمل کولو موقع وي هغه وخت په زړه کښې د نِیَّت حاضر کیدل ضروري دي. مَثَلًا د جامو اغوستلو په وخت کښې چا ښې لِستونړې مخکښې واغوستو، یا ئې د وِیستلو په وخت کښې مخکښې چپ لِستونړې اووِیستو او هُم دغسې د پیزار په ښپو کولو او وِیستلو کښې ئې هم د عادت مطابِق هُم دا ترکِیب وي، دا ټول سُنَّت دي خو د عمل کولو په وخت کښې ئې په زړه کښې په **سُنَّت** باندې د عمل کولو **نِیَّت** بالکل نه وو نو دې عمل ته ''عِبادت'' نه بلکه ''عادت'' وائي د سُنَّت ثواب به نه کیږي.

دَ نِیَّت مُتَعلِّق یوه معلوماتي فتٰوی

د **دعوتِ اِسلامي** د ماتحت ''دارُالاِفتاءاَهلِسُنَّت'' د نِیَّت مُتَعلِّق یوه معلوماتي فَتٰوی اُوګورئ: بیشکه بغیر د نِیَّت نه د یو عملِ خیر ثواب هُم نه کیږي بلکه دغسې (بغیر د نِیَّت نه) دا **عِبادتونه** ''عادتونه'' جوړ شي. په یو **عملِ خیر** کښې د **نِیَّت** مطلب دا دې چه کوم عمل کیږي چه زړه د هغې طرف ته **مُتَوَجِّه** وي او هغه عمل د **اللّٰه** تعالیٰ د رِضا د پاره کول شي، د دې نِیَّت نه په عِبادت او عادت کښې فرق کول مقصود وي. د دې نه معلومه شوه چه د زړه **مُتَوَجِّه** کیدل او د **اللّٰه** تعالیٰ **په رِضا نظر ساتل نِیَّت دې** او هُم د دې [خبرې] نه په عِبادت او عادت کښې فرق واضِحه کیږي لِهٰذا که په عبادت کښې نِیَّت وکړې شي نو ثواب به مومي او که نِیَّت ونکړې شي نو عمل عادت جوړ شي او په هغې ثواب هم نه کیږي څنګه چه حضرت عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي:

www.dawateislami.net

اَلنِّیَّةُ لُغَةً: اَلْقَصْدُ وَشَرْعاً تَوَجُّهُ الْقَلْبِ نَحْوَالْفِعْلِ اِبْتِغَاءً لِّوَجْهِ اللّٰهِ وَالْقَصْدُ بِهَا تَمْیِیْزُ الْعِبَادَةِ عَنِ الْعَادَةِ۔

یعني دَ نِیَّت **لُغوي مَعنٰی** ده: قصد او اِراده" او **شرعي معنٰی** ده: چه کوم عمل کوې، د هغې طرف ته زړه مُتَوَجِّه کول او چه هغه عمل د **الله** تعالٰی د رِضا د پاره کول شي او د نِیَّت کولو نه مقصد په "عِبادت" او "عادت" کولو کښې فرق کول وي. (مِرقاةُ المفاتیح ج۱ ص۹٤) خو د دې سره دا یاد ساتئ چه ډیر زیات اعمال داسې دي چه په هغې کښې مونږه دا محسوسوو چه دا مونږه صرف د عادت په طور کوو حالانکه په هغې کښې هم "د عِبادت نِیَّت" موجود وي او د هغې احساس ځکه کم وي چه په شروع کښې یا کله خاص طور چه څومره توجُّه ورکولې شي هغسې [توجُّه] د هغه عمل بیا بیا کولو په وجه برقراره نه پاتې کیږي. خو که اصلًا (یعني بالکل) هیڅ نِیَّت هم نه وي نو په هغې واقِ هیڅ ثواب نشته. وَاللّٰهُ تعالٰی وَرَسُولُه اَعلَم عَزَّوَجَلَّ وَ صَلَّی اللّٰه تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د ښو نِیَّتونو توفِیق چا ته نصیب کیږي

حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد **مُحمّد** بن **مُحمّد** بن **مُحمّد** غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: هر مُباح کار (یعني جائِز کار چه د هغې په کولو کښې نه ثواب وي او نه گُناه) د یو یا زیاتو نِیَّتونو اِحتِمال [یعني اِمکان] لري چه د هغې په ذریعه هغه مُباح کار ډیر ښه **عِبادت** شي او د هغې په ذریعه اوچتې دَرَجې حاصلیږي. هغه انسان په څومره غټ نُقصان کښې دې څوك چه مُباح کارونه د **ښو نِیَّتونو** په ذریعه د ثواب کارونه جوړولو په ځائ د ځناورو په شان غفلت کوي او ځان د ثوابونو نه محرومه ساتي. د بنده د پاره مُناسِب نه دي چه [په ذِهن کښې پیدا کیدونکې یو] خیال یا یوه لحظه (یعني معمولي وخت) او اینبودونکې یو قدم سپك یعني غیر اهم وګنړي، ځکه چه د دې ټولو کارونو په باره کښې به د قیامت په ورځ تپوس کیږي چه دا دِ ولې کړې وو؟ او په دې کښې ستا مَقصد څه وو؟ دا خبره (یعني د مُباح کار عِبادت جوړیدل) صرف د هغه مُباح اعمالو په باره کښې ده په کومو کښې چه کَراهت نه وي. ځکه نبیِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **حَلَالُهَا حِسَابٌ وَحَرَامُهَا عَذَابٌ**

www.dawateislami.net

یعني د دې د حلالو حساب دې او په حرامو عذاب. (اَلفِردَوس بماثورِ الخِطاب ج ۵ ص ۲۸۳ حدیث ۸۱۹۲) نور فرمائي: د چا په زړه کښې چه د آخِرت د ښیګړو د جمع کولو جذبه وي د هغه د پاره داسې نِیَّتونه کول اَسان وي البتَّه د چا په زړه کښې چه د دُنیاوي نعمتونو غلبه وي د هغه په زړه کښې داسې نِیَّتونه نه راځي بلکه که څوك ئې ورياد کړي بیا هُم په هغه کښې د داسې قِسم نِیَّتونو جَذبه نه پیدا کیږي او که نِیَّت ئې وي نو هُم صرف یو خیال غوندې وي د حقیقي نِیَّت سره د هغې هیڅ تَعَلُّق نه وي! (اِحیاءُ العُلوم ج ۵ ص ۹۸)

بَیتُ الخَلا ته په داخلیدو کښې هم [ښه ښه] نِیَّتونه کول پکار دي

بیتُ الخَلا ته په داخلیدو کښې هم نِیَّتونه کول پکار دي، یو بُزُرګ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: زه په هر کار کښې نِیَّت کول خوښووم تر دې چه په خوراك، څښاك، اوده کیدو او بیتُ الخَلا (یعني فَلَش) ته دَ داخِلیدو د پاره هم. (اِحیاءُ العُلوم ج ۵ ص ۹۸) یو صاحِب د کوټې په سر وِیښته وړول [یعني کټ کول]. هغوئي خپلې ښځې ته آواز وکړو چه زما ګُمنز راوړه. ښځې ترې تپوس وکړو چه: آیا آئِینه هُم دروړم؟ هغوئي د لږ ساعت د پاره خاموشه شو. بیا ئې اُوفرمائیل: آو. یو اوریدونکي د جواب زر نه ورکولو د وجهې تپوس وکړو نو وئې فرمائیل: ما د یو نِیَّت سره خپلې ښځې ته د ګُمنز راوړلو وئیلي وو، چه کله هغې د آئِینه راوړلو تپوس وکړو نو هغه وخت د آئِینې په باره کښې زما څه نِیَّت نه وو لِهٰذا ما د نِیَّت جوړلو د پاره غور و فِکر وکړو، تر دې چه **الله تعالٰی** زما په زړه کښې نِیَّت پیدا کړو نو بیا ما اووئیل چه آو هغه هم راوړه. (قُوتُ القُلُوب ج ۲ ص ۲۷٤)

پخوانو مسلمانانو به باقاعِده عِلمِ نِیَّت زده کولو

حضرت سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: "څنګه به چه سَلَف (یعني پخوانو مسلمانانو) نور عِلم حاصلولو، هم دغسې به ئې د عمل کولو د پاره **عِلمِ نِیَّت** هُم زده کولو." (اَیضاً ص ۲٦۸) حضرت سَیِّدُنا سَرِي سَقَطِي رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: "په خُلوصِ نِیَّت [یعني د اِخلاص په نِیَّت] دوه رکعاته ادا کول ستا

www.dawateislami.net

دپاره د اویا حدیثونو لیکلو نه غوره دي.“یا ئې داسې اُوفرمائیل چه ”د ووه سوه حدیثونو لیکلو نه غوره دي.“ (اَیضاً ص۲۷٦) حضرت سَیِّدُنا اِبنِ مُبارك رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائیلي دي: ”ډیر واړه عملونه داسې دي چه نِیَّت هغه غټ عمل جوړ کړي.“ (اَیضاً ۲۷۵)

د غار عابِد

خلقو ته دَ ښودنې او واه واه کولو په نِیَّت کیدونکي د غره هُمره غټ غټ اعمال هم نه قبلیږي چنانچه مَنقُول دي: د بني اِسرائِیلو یو عابِد (یعني عبادت کوونکي) په یو غار کښې د څلویښتو کالو پورې د **الله** تعالٰی عِبادت وکړو. فرِښتو به د هغه اعمال اسمانونو ته وړل او هغه به نه قبلیدل. فرښتو عرض وکړو: ”اے زمونږه پروردګاره ستا د عِزَّت قسم! چه مونږه ستا طرف ته صحیح (اعمال) راوړي دي.“ **الله** تعالٰی اُوفرمائیل: اے زما فرښتو! تاسو رښتیا اُووئیل، خو (په عبادت کښې د هغه نِیَّت بد دي) هغه غواړي چه د هغه مرتبه هر چا ته معلومه شي (یعني د رِیا او شُهرت غوښتونکي دې). (اَیضاً ص۲٦٤)

د نِیَّت په بَرَکت د بخښني ښکُلي حِکایت

مَنقُول دي چه یو عَجَمي (یعني غیرِ عَرَبي کس) د یو څو (عَرَبیانو) کسانو په خوا تیریدلو چه هغوئي ناست وو او په ټوقو او مَسخرو کښې مصروفه وو. (د عَرَبئ خبرې ئې چه واوریدې نو) هغه غریب ته داسې ښکاره شوه چه هغوئي د **الله** تعالٰی ذِکر کوي، هغه د حُسنِ نِیَّت (یعني د ښه نِیَّت) په وجه د هغوئي په شان وئیل شروع کړل. وائي چه **الله** تعالٰی د ښه نِیَّت په وجه هغه عَجَمي اُوبخښلو. (اَیضاً ص۲٦۳)

ښه نِیَّتونه مشکِل دي د دې نه خو په شا باندې کوړې خوړل اسان دي

دَ **ښو** ښو نِیَّتونو کولو د پاره ضروري دي چه ذِهن حاضر وي، څوك چه د ښو نِیَّتونو عادت نه لري هغه ته په شروع کښې په تکلیف سره د دې عادت جوړول پکار دي لِهٰذا په شروع کښې د دې [د عادت جوړولو] د پاره په ښکته سر او پټو سترګو داسې مُتوَجّه کیدل فائِده مند دي چه ذِهن

www.dawateislami.net

د مُختلِفو سوچونو نه پاك وي. چه اخوا ديخوا ګورئ راګورئ، بدن ګَرَوئ [جامې، وِينښته وغيره] سَمَوئ، څه څيز ګرِدئ يا اوچتوئ يا په تادئ نِيَّتونه کول غواړئ نو شايد چه وئې نه کړې شئ. د نِيَّتونو د عادت جوړولو د پاره به تاسو ته د دې په اَهَمِّيَّت باندې د نظر ساتلو سره په سنجيدګئ سره مخکښې خپل فِکر جوړول پکار وي. حضرت سَيِّدُنا نُعَيم بِن حَمَّاد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: زمونږ د پاره په شاګانو باندې کوړې خوړل د ښه نِيَّت کولو نه اسان دي.“ (تَنبِيهُ المُغتَرِّين ص۲۵)

د دُنياوي نِعمتونو په وجه به د آخِرت په نِعمتونو کښې کمې راځي

دَ حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام ابو حامِد محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اِرشادِ عالي دې: ”د الله تعالٰی د نِعمتونو نه خوندونه اغستل ګُناه نه ده، خو د دې به تپوس ضرور کيږي او د چا نه که په حِساب کښې تپوس وکړې شو نو هغه به هلاك شي او څوك چه په دُنيا کښې مُباح څيزونه استعمالوي اګرچه هغه ته به د قِيامت په ورځ د هغې په وجه عذاب نه کيږي خو د هغې په حِساب به ترې د آخِرت نعمتونه کم کړې شي، سوچ خو وکړئ! د څومره غټ نُقصان خبره ده چه انسان د فاني نعمتونو په حاصلولو کښې ډيره تادي وکړي او د دې په بدله کښې د آخِرت د نعمتونو د ک په ذريعه نقصان وکړي.“ (اِحياءُ العُلوم ج۵ ص۹۸)

دُنيوی لذّات کا دل سے مٹا دے شوق تُو کر عطا اپنی عبادت کا الٰہی ذوق تُو

اوباسې زما د زړه نه شوق د دُنيا د خوندونو
راکړې شوق يا اِلٰهي بس ستا د عبادتونو

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د خوشبو لګولو نِیَّتونه

د **الله** تعالیٰ په بې شمیره نِعمتونو کښې **خوشبو** هم یو ډیر خوږ نعمت دې. د دې استعمالول مُباح دي (یعني نه ثواب دې او نه ګناه)، دا **نعمت** په داسې طریقه استعمالول پکار دي چه دا **عبادت** جوړ شي او ثواب په لاس راشي. چنانچه د دې استعمال د "عبادت" جوړولو د پاره ښه ښه نِیَّتونه کول پکار دي. چه کله هم څه کار شروع کوئ نو یو دم ئې مه شروع کوئ، مخکښې لږ صبر کوئ، په ذِهن زور راوړئ او **ښه ښه نِیَّتونه** کوئ. مَثَلًا که خوشبو لګوئ نو د هغې بوتل راغستو نه مخکښې او که راغستې مو وي نو د هغې نه د سر لرې کولو نه مخکښې ښه په تَوَجُّه سره، سر ټیټ کړئ، که کیدې شي نو سترګې هم بندې کړئ او په ډیره توجُّه سره **نِیَّتونه** وکړئ. د عطرو په ذریعه مُختلف ثوابونه ګټلو د پاره عارِف بِاللّٰه، مُحَقِّق عَلَی الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِین، حضرت علّامه شَیخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: په مُباح کارونو کښې به د ښه نِیَّت کولو ثواب هم ورکول شي، مَثَلًا په خوشبو لګولو کښې د اِتِّباعِ سُنَّت [یعني په سنَّت د عمل کولو] او (جُمات ته د تلو په وخت کښې) د جُمات د تعظیم (نِیَّت هم کیدې شي)، که د دماغ تازه کولو او خپل اسلامي ورونړه د ناخوښه بُوئي نه د بچ کولو نِیَّتونه وي نو **د هر نِیَّت به جُدا جُدا ثواب** ورکول شي. (اشعة اللمعات ج۱ ص۳۷) دلته حسبِ حال نور نِیَّتونه هم شامليدې شي مَثَلًا چه بوتل را اخلم نو بِسْمِ الله به لولم، چه د بوتل نه سر لرې کووم نو بِسْمِ الله به لولم، په بِسْمِ الله لوستلو به ئې لګووم، مسلمانانو او فرښتو ته به خوشبو او فَرحَت (یعني خوشحالي) رسووم (خصوصاً که په ګرمئ کښې په جامو کښې د خوَلې په وجه بدبوئي پیدا کیږي نو دا نِیَّت هم کیدې شي) د ځان نه بدبوئي لرې کولو باندې به مسلمانان د **غِیبت** نه بچ کووم، (د لمانځه نه مخکښې لګولو کښې دا نِیَّت هم کیدې شي) د لمانځه د پاره زِینت [یعني ښکُلا] حاصلووم. عطر چه بوئي کووم نو **دُرُود شریف** به وایم، (خوشبو نِعمَت دې ځکه به په لګولو او بوئي کولو) اَلْحَمْدُلِلّٰه وایم. خوشبو لګووم چه عقل مې زیات شي، د دې نه به د دِیني احکامو (دِیني تعلِیم، دِیني تدرِیس،سُنَّتونو نه ډك بیان وغیره) په پوهه کیدو مدد حاصلووم." په "**اِحیاءُ العُلوم**" کښې دي: حضرت سَیِّدُنا اِمام شافِعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: **د چا خوشبو چه ښه وي د هغه عقل زیاتیږي.**" (اِحیاءُالعُلوم ج۵ ص۹۸)

د خوشبو لګولو د غلطو نیتونو طرف ته توجُّه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په خوشبو لګولو کښې شیطان اکثر بنده په غلطو نِیَّتونو کښې اخته کوي. لِهٰذا په عطر لګولو کښې د ښو ښو نِیّتونو خُصوصي اِهتِمام کول پکار دي. چنانچه د **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمانِ عالي دې: په دې نِیَّت خوشبو لګول چه خلق واه واه وکړي یا ئې قِیمتي خوشبو لګولو کښې په خلقو باندې د خپلې مالدارئ د رُعب اچولو نِیَّت وي نو په دې صورتونو کښې به خوشبو لګوونکې ګنهګار وي او دغه خوشبو به د قِیامت په ورځ د مُردار نه هُم زیاته بدبوداره وي. (اَیضاً)

دُنیا پسند کرتی ہے عطرِ گُلاب کو　　لیکن مجھے نبی کا پسینہ پسند ہے

دُنیا خوښوي عطر د ګُلاب　　ما ته خوښه ده خوَله د خوږ نبي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په مَدَني قافِله کښې د سفر د نِیَّت بَرَکت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت په **مَدَني قافِلو** کښې سفر او هره ورځ د **فِکرِ مَدینه** په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تارِیخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللهُ تعالٰی په خاطِر د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدو نِیَّتونو نه به درته خلاصې او د **ښو نِیَّتونو** به درته عادت نصیب شي. د **کورنګئ** (بابُ المَدینه کراچئ) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده، زه په فوج کښې نوکر ووم او یو ماډرن [شوشا ناك] ځلمې ووم، البَتّه لـمونځ به مې کولو. د مور صاحِبې د بیمارئ په وجه په ډیر خفګان کښې ووم، یو اسلامي ورور راباندې **اِنفِرادي کوشش** وکړو او په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو ترغِیب ئې راکړو، ما هغوئ ته خپله مجبوري بیان کړه چه: مور صاحِبه مو سخته بیماره ده په داسې حالت کښې هغه نه شم پرېښودلې ځکه سفر نه شم کولې. هغوئ راته مشوره راکړه:

"چه تاسو صرف په مَدَني قافِله کښې **دَ سفر کولو نِیَّت** وکړئ [یعني داسې] چه کله هُم راته موقع په لاس راغله سفر به وکړم او نن د **تَهَجُّد** لـمونځ وکړئ او په زارو زارو دمورصاحِبې د روغ صِحّت د پاره دُعا وکړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ضرور به کرم کیږي." هغوئي دا خبره څه په داسې ښکُلي انداز کښې وکړه چه زړه ته مې کُوزه شوه او **دَ سفر کولو نِیَّت** مې وکړو. د شپې راپاڅیدم تَهَجُّد مې ادا کړو او ډیره په ژړا ژړا مې دُعا اوغوښته، بیا **د سحر د لـمانځه** د پاره جُمات ته روان شوم، چه بیرته کور ته را ورسیدم نو حیران پاتې شوم ځکه چه زما هغه کمزورې او بیماره مور چه هغه پخپله بیتُ الخَلا (یعني فَلَش) ته هم نه شوه تلَلې، په اطمِینان ناسته وه او جامې ئې وِینځلې! ما ورته عرض وکړو چه موري! تاسو ارام وکړئ چرې طبیعت مو زیات خراب نه شي، زه به پخپله جامې اُووِینځم. هغې اُووئیل: ځویه! اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نن په ما نه څه درد شته او نه راته څه تکلِیف شته، ما ته نن ځان ډیر ښه ښکاري. دا مې چه واوریدل نو زما په سترګو کښې د خوشحالئ اوښکې راغلې، زما په زړه کښې دا سکون پیدا شو چه **د سفر د نِیَّت** په بَرَکت دُعا قبوله شوې ده. د اسلامي ورور سره مې چه مُلاقات وشو نو تفصِیل مې ورته عرض کړو، هغوئي راله حوصله نوره هُم زیاته کړه او همدردانه مشوره ئې راکړه چه نور مه ناوخته کوئ او په **مَدَني قافِله** کښې سفر وکړئ. لِهٰذا زه د **عاشِقانِ رسول** سره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت د مَدَني قافِلې مُسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر او په دې دوران کښې د عاشِقانِ رسُول د صُحبت په بَرَکت زمونږه په کور کښې مَدَني ماحول جوړ شو، زما په شان ماډرن ځلمي ګِیره پریښوده، عمامه ئې په سر کړه او د سُنّتو په خِدمت کښې لګیا شو، زما مور صاحِبه او زما د بچو مور دواړه د اسلامي خویندو په اجتِماع کښې شِرکت کوي. غور وکړئ ما صرف په مدني قافِله کښې د سفر **نِیَّت** وکړو او د هغې په سبب بَرَکتونه بَرَکتونه شو نو معلومه نه ده چه په مَدَني قافلو کښې د سُنَّتو ډك سفر به څه مَدَني سپرلي وي! کاش چه هر اِسلامي ورور هره مِیاشت کم نه کم د درې ورځو په **مَدَني قافله** کښې سفر کول خپل عادت جوړ کړي.

اچّھی نیّت کا پھل پاؤ گے بے بدل　　سب کرو نیّتیں قافِلے میں چلو
دُور بیماریاں اور ناداریاں　　ہوں ٹلیں مشکلیں قافلے میں چلو

www.dawateislami.net

که د ښه نِیَّت میوه، تاسو غواړئ ښه سیوا وکړئ ټول نِیَّتونه قافلو کښې لا ړ شئ
لرې به شي بیمارئ، هُم به لرې ناداری شي به لرې مشکلونه قافلوکښې لا ړشئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د مَدَني قافِلې د نِیَّت کوونکي بیړئ پورې وَته. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مور د صحت سره سره د ټول کور د پاره د آخِرت د سکون حاصلولو د تیّارئ ذریعه هم په لاس ورغله. واقعي ښه نِیَّت خو آخِر ښه نِیَّت وي او بیا په ښه نِیَّت د مدني قافلې د سفر به څه وائې!

چه وړومبې ئې ګڅه څپلئ په ښپو کړه نو.....

دَ **حضور** مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت علّامه مولانا سردار احمد قادِري چشتي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو شاګِردِ رشید فرمائي چه زه کله په 1955ء کښې د دوره حدیث شرِیف نه فارغ شوم او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه مې رُخصت واغستو، د روانیدو په وخت کښې ما په غَلَطئ کښې وړومبې ګڅه څپلئ په ښپو کړه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ولیدل او زه ئې فوراً بیرته اوبلَلم، ما ته د خپلې غَلَطئ احساس وشو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (ما ته د نیکئ دعوت راکړو، وئې) فرمائیل: پیزار په ښپو کولو کښې **سُنَّت** دا دي چه وړومبې ښې پیزار په ښپو کړې شي او د پیزار وِیستلو سُنَّت دا دي چه مخکښې د چپې ښپې نه اُووِیستلې شي.'' (حیاتِ مُحَدِّثِ اعظم ص ۸۵)

د پیزار په ښپو کولو نِیَّتونه

که هر کار وي د یو دم شروع کولو په ځائ مخکښې لږ په صبر سره د **نِیَّت** کولو عادت جوړول پکار دي مَثَلًا **که پیزار په ښپو کوئ** نو لږ صبر وکړئ او د موقعې په مُناسَبت مخکښې دا **نِیَّتونه** وکړئ: ❁ په سُنَّتو باندې د عمل کولو په نِیَّت به پیزار په ښپو کووم ❁ په روانه کښې د پیزار آواز پیدا کیدل سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ناخوښه وو ځکه په لاره تلَلو یا په پوړو ختلو

www.dawateislami.net

کوزیدلو کښې به دا خیال ساتم چه آواز پیدا نه شي ❁ اول به بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ لولم بیا به پیزار په ښپو کووم ❁ د پیزار په ذریعه به د **عبادت** د پاره د مدد حاصلولو په غرض خپلې ښپې د زخمي کیدو او ګنده کیدو نه د ساتلو کوشش کووم ❁ په ښپو کولو کښې به مخکښې د ښي پیزار په ښپو کولو سُنَّت ادا کووم ❁ سُنَّتِ **تنظِیف** به ادا کووم یعني ښپې به د خاورو او خِیرو وغیره نه ساتم. هم دغه شان د موقعې په مُناسبت نور نِیَّتونه هُم کیدې شي. هُم دغه شان **د پیزار وِیستلو په وخت** کښې هم د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ لوستلو، د ګڅ پیزار مخکښې وِیستلو، که موقع وي نو د بُزرګانو سره د مُشابَهَت په نِیَّت پیزار مخ په قبله ایښودلو وغیره **نِیَّتونه** هم کیدې شي. پیزار **مخ په قبله** اِیښودلو په باره کښې عرض دې، د حضور مُجَدِّدِ اعظم پاکستان حضرت مولانا سردار احمد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ شاګرد او مُرِید زما مخدوم او مُحترم حضرت مُفتي عبدُاللَّطِیف صاحِب اَطَالَ اللّٰہُ عُمۡرَہٗ په صُحبت کښې د یو څو ورځو تیرولو سَګِ مَدِینه عُفِیَ عَنۡہُ ته سعادت نصیب شوې وو، په هغه ورځو کښې مې د مُفتي صاحِب دا عمل ولیدو چه زمونږه بې ترتیبه پراته پیزار به ئې په خپلو مُبارکو لاسو مخ په قبله کول، زه حیران شوم او د دې سبب معلومول مې ترې غوښتل نو وئې فرمائیل چه ما قِبله اُستاذِ ګرامي حضور مُجَدِّدِ اعظم پاکستان حضرت مولانا سردار احمد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په دې کارونو لیدلې وو چه هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ به نه صِرف پیزار بلکه هر څیز مخ په قبله ایښودل خوښول او د دې عمل په باره کښې ئې د سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د دې حِکایت طرف ته اِشاره وکړه. چنانچه:

لوټه مخ په قِبله شوه

یو ځل د جِیلان شرِیف د مشائِخِ کرام رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِم یوه ډله د حضور **غوثِ اعظم** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په مبارك خِدمت کښې حاضِره شوه، هغوئي د غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ لوټه مُبارکه ولیدله چه هغه مخ په قِبله نه وه (نو د هغې طرف ته ئې د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ توجُّه را وګرځوله) هغوئي خپل خادِم ته د جلال په نظر وکتل. هغه د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ دَ جلال تاب را نه وړې شو او یو دم راغوزار شو او ساه ئې وختله. بیا ئې یو نظر په لوټه واچولو نو هغه پخپله **مخ په قِبله** شوه. (بَهجَۃُ الاَسرار ص۱۰۱)

د ښو خلقو نقل هُم ښه وي

دا عام دستور دې چه دَ چا سره **مَحَبَّت** وي د هغه هره ادا هغه ته ښکُلي ښکاري، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ سګِ مَدِینه عُفِیَ عَنه د سرکارِ غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه او حضور مُجَدِّدِ اعظم پاکستان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه سره ډیر **مَحَبَّت** لري. لِهٰذا چه د کله نه راته د هغوئ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دا اَدا معلومه شوې ده د هغې نه پس مې دا اَدا خپل عادت جوړه کړي ده او دا کوشش مې وي چه زما خپله لوټه، پیزار او نور څیزونه مخ په قِبله وي. د ښو ښو نِیَّتونو سره د **الله** والؤ اداګانو ادا کولو کښې یقِیناً بَرَکتونه او بَرَکتونه وي او ولې به نه وي ځکه چه د مدینې د تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشبوداره فرمانِ دې: **اَلْبَرَکَةُ مَعَ اَکَابِرِکُم** یعني بَرَکت ستاسو د بُزُرګانو سره دې. (اَلْمُعجَمُ الْاَوسَط ج٦ ص٣٤٢ حَدِیث٨٩٩١)

د "چل مدینه" د ووه حُروفو په نِسبت د پیزار په ښپو کولو ووه مدني ګلونه

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوې د ۳۲ صفحو رِسالې "**۱۰۱ مدنی پھول**" د صفحه ۲۰ نه ۲۲ پورې نه (بِالتَّصَرُّف) عرض دې: **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (۱) پیزار په کثرت سره اِستِعمالوئ ځکه چه بنده تر څو پورې پیزار په ښپو کړې وي لکه هغه چه [په سوَرلئ] سور وي (یعني کم سترې کیږي) (مُسلِم ۱۱٦۱ حدِیث ۲۰۹٦) (۲) پیزار په ښپو کولو نه مخکښې څنډئ چه که چرې څه خزنده [مار، لړم وغیره] یا کانړي وغیره پکښې وي چه هغه ترې اُوځي، وائي چه په یو ځائ کښې یو صاحِب چه د طعام د یو دعوت نه فارغه شو او څنګه ئې څپلئ په ښپو کړه نو د خُلې نه ئې یوه چغه اُووَتله او د ښپې نه ئې وِینې بهیدل شروع شو. اصل کښې خبره دا وه چه د خوراك په دوران کښې چا یو تیره هډوکې غورزولې وو او هغه په څپلئ کښې دننه پریوتې وو او په ښپو کوونکي څپلئ د څنډلو نه بغیر په ښپو کړې نو ښپه ئې زخمي شوه. (۳) سُنَّت دا دي چه مخکښې ښې پیزار په ښپو کړئ بیا ګڅ او د وِیستلو په وخت کښې مخکښې ګڅ پیزار اوباسئ بیا ښې. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چه کله په تاسو کښې څوك پیزار په ښپو کوي نو د ښئ طرف نه شروع کول پکار دي او چه کله ئې اوباسي نو مخکښې د چ طرف نه شروع کول

www.dawateislami.net

پکار دي چه ښۍ ښپه په ښپو کولو کښې وړومبۍ او په وِیستلو کښې آخِري پاتې شي. (بُخارِی ج٤ ص٦٥ حدِیث ٥٨٥٥) په **نُزهَةُ القاری** کښې دي: جُمات ته د داخِلیدو په وخت کښې حُکم دا دې چه مخکښې ښۍ ښپه جُمات ته داخِله کړي او چه کله د جُمات نه اُوځي نو مخکښې دِ چپه ښپه اوباسي. جُمات ته د داخِلیدو په وخت کښې په دې (یعني د پیزار په ښپو کولو د ترتیب په) حَدِیث باندې عمل کول ګران دي. **اَعلٰحضرت اِمام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حل دا ارشاد کړې دې: چه کله جُمات ته ننوځۍ نو مخکښې ګڅه څپلۍ اوباسۍ او ښپه په څپلۍ د پاسه کیږدۍ بیا ښۍ څپلۍ اوباسۍ او جُمات ته داخِل شۍ. او چه کله د جُمات نه بهر ته اُوځۍ نو مخکښې چپه ښپه بهر کړۍ او په څپلۍ د پاسه ئې کیږدۍ بیا ښۍ ښپه بهر کړۍ او ښۍ څپلۍ په ښپو کړۍ او بیا ګڅه په ښپو کړۍ. (نُزهَةُ القاری ج٥ ص٥٣٠) حضرت سَیِّدُنا اِبنِ جَوزي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: څوك چه پیزار همیشه د په ښپو کولو په وخت کښې د ښۍ ښپې نه او د وِیستلو په وخت کښې د چپې ښپې نه شروع کوي هغه به د توري د بِیمارۍ نه په حفاظت کښې اوسي. (حیاةُ الحیوان ج٢ ص٢٨٩) (٤) نارِینه دِ مردانه او ښځې دِ زنانه پیزار اِستِعمالوي (٥) چا حضرت سَیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته عرض وکړو چه یوه ښځه (د سړو په شان) څپلۍ په ښپو کوي. هغې رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اُوفرمائیل: **رَسُولُ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سړو په شان [ځان جوړوونکو] ښځو باندې لعنت فرمائیلې دې (ابوداؤد ج٤ ص٨٤ حدیث ٤٠٩٩) **صَدرُ الشَّریعه، بَدرُ الطَّرِیقه** حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یعني ښځو ته مردانه پیزار نه دي په ښپو کول پکار بلکه هغه ټولې خبرې چه په هغې کښې د سړو او د ښځو د پاره فرق وي په هغې کښې د هر یو د پاره د بل طرز اِختیارول (یعني نقل کول) منع دي، نه دِ سړي د ښځو طرز اختیاروي او نه دِ ښځې د سړو طرز اختیاروي. (بهارِ شرِیعت ج٣ ص٤٢٢) (٦) چه کله کښینۍ نو پیزار اوباسۍ ځکه چه د دې نه ښپو ته ارام رسي (٧) که استِعمالیدونکې پیزار په نسکور پروت وي نو هغه په مخ کوئ. (د تنګدستۍ یو سبب) نسکور پیزار لیدل او هغه نه په مخ کول(هُم دې). په زرګاؤ سُنَّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي دوه کِتابونه، د (٣٠٤ صفحو) بهارِ شریعت حصّه ١٦ او د ١٢٠ صفحو کتاب **"سُنَّتیں اور آداب"** هَدِیه کړۍ او ولولۍ.

www.dawateislami.net

د اعلٰی حضرت په خِدمت کښې سوال

زما د آقا **اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت** مولانا شاه اِمام **احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خِدمت کښې څه داسې عرض وکړې شو: څه غریبانان مُسلمانان په غرض د **تبلِیغ صلٰوة** (یعني دَ لـمانځه د تبلِیغ د پاره) د څه ذاتي لالچ نه بغیر فِیْ سَبِیلِ الله نیمه شپه پاڅیدل او لاړل د ښار نه بهر کلو ته پیدل، [او بیا صبا ئې] د نمر او تندې تکلیفونه برداشت کړل او بله ورځ بیرته راغلل، بعضې خلق په هغوئې کښې وږي تږي هم شامِل وو، د هغوئې په کوشش تقریباً سل مسلمانان لـمانځه ته تیار شو. بیان دِ کړې شي چه د هغوئې د پاره څه اجر دې چه نور هِمَّت ئې هم زیات شي. زمونږ په دې نیك کار کولو یو کس اُووئیل چه: ''د دې څه فائِده ده! هر څوك به د خپل ځان د پاره لـمونځ کوي تاسو ولې کوشش کوئ.'' او هغه کس څنګه دې څوك چه د خلقو حوصله کمزوري کوي؟

د اعلٰی حضرت جواب

زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام **احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه څه په دې ډَول **جواب** ارشاد کړو: د لـمانځه دعوت ورکوونکو د پاره د هغوئې په **نِیَّت** باندې اجرِ عظیم دې، نـ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''که الله تعالٰی ستا په ذریعه یو کس ته هِدایت ورکړي نو دا ستا د پاره د دې نه ښه ده چه ستا سره **سره** [یعني د سُور رنګ] **اوښان** وي.'' (صحیح مُسلِم ص۱۳۱۱ حدیث۲٤۰٦)

د هِدایت د پاره په تلو راتلو کښې چه هغوئې څومره قَدَمونه اغستي وي په هر قَدَم باندې لس نیکۍ دي، (چنانچه الله تعالٰی په سیپاره ۲۲ سُورهٔ یٰسٓ آیت ۱۲ کښې ارشاد فرمائي:)

وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ؕ

(پ۲۲ سورهٔ یٰس:۱۲)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او مونږه لیکو څه چه هغوئې مخکښې ولیږل او څه نښې ئې چه وروسته پریښودې.

داسې وئیل **چه تاسو ولې کوشش کوئ** شیطاني خبره ده. اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر (یعني د نیکۍ حُکم ورکول او د بدو نه منع کول) فرض دي، د فرض نه حِصارول شیطاني کار دې.(د ښکار نه د منع کولو باوجود) په بنی اِسرائِیلو کښې چا چه (د خیالي په ورځ) د مهیانو ښکار کړې وو هغوئې هم شادوکان

www.dawateislami.net

جوړ کړې شو او چا چه هغوئي ته د نصیحت کولو نه منع کړي وه (هغوئي هم تباه شو) (د منع کوونکو قول په سیپاره 9 سُوْرَۃُ الْاَعْراف آیت 164 کښې بیان کړې شوې دې)

لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: ولې نصِیحت کوئ هغه خلقو ته، چه الله هغوئي لره هلاك کوونکې دې یا هغوئي ته سخت عذاب ورکونکې دې.

(یوې ډلې د ګُناه نه د منع کولو نصیحت کولو، بلې ډلې دا ډله د ګناه نه د منع کولو د کارِ خیر نه منع کوله نو دا بله ډله هُم) تباه شوه او نصیحت کوونکي بچ پاتې شو. او دا وئیل چه "**د دې** (یعني د لـمانځه د دعوت ورکولو د کار) **څه فائِده ده!**" د ټولو نه سخته خبره ده، داسې وئیونکي ته تجدِیدِ اِسلام او تجدِیدِ نکاح کول پکار دي. (وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَم) (مُلَخَّص از فَتاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه ج ۵ ص ۱۱۷)

د سرو اُوښانو نه څه مُراد دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې مُبارکه فَتوٰی کښې د نیکئ دعوت ورکوونکو حوصله کمزوري کولو والا دا جُمله "**تاسو ولې کوشش کوئ**" شیطاني خبره قرار کړې شوې ده او د دې غَندَنه [یعني دا بده ګنړلې] شوې ده، د دې نه دِ هغه خلق عِبرت حاصِل کړي څوك چه کله کله مُبَلِّغِینو ته وائي چه "پریږده پریږده، د ده د پوهه کولو څه فائِده ده، دې خو د نیکئ خبره هډو مني نه" (ګناه هډو پریږدي نه، هډو سمیږي نه، په سمه لار هډو راځي نه) دا جُمله بالکل غَلَطه او غَلَطه ده یقِیناً پوهه کول د فائِدې نه خالي نه وي، که نِیَّت ښه وي نو د اِصلاح د پاره پوهه کول د ثواب کار دې نو آیا په "ثواب" کیدو کښې "فائِده" نشته؟ "دا خو هډو مني نه!" د دې د وئیلو ستاسو څه مطلب دې؟ آیا تاسو ته نه ده معلومه چه د مُبَلِّغ ذِمّه واري "په چا مَنل" نه دي صِرف "رسَوَل" دي. په چا د منلو والا ذات د رَبِّ کائِنات جَلَّ جَلَالُه دې. په دې فَتوٰی کښې د "مُسلِم شرِیف" دا حدِیثِ پاك بیان کړې شوې دې چه: "که **الله تعالٰی** ستا په ذریعه یو کس ته هِدایت ورکړي نو دا ستا د پاره د دې نه ښه ده چه ستا سره **سره** [یعني د سُور رنګ] **اوښان** وي." (صحیح مُسلِم ص۱۳۱۱ حدیث۲٤۰٦)

حضرت عَلّامه یحییٰ بِن شَرَف نَوَوِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدِیثِ نَبَوِي په شرح کښې لیکي: ”سُور [یعني د سُور رنګ] اوښ به دعَرَبو قِیمَتي مال ګڼرلې شو، ځکه دَ مِثال په طور باندې د سرو اوښانو ذِکر شوې دې. د آخِرت د کارونو مِثال په دُنیاوي څیزونو ورکول صِرف د پوهه کولو د پاره دي ګڼې حقیقت هُم دا دې چه د همیشه پاتې کیدونکي آخِرت یوه ذرّه هُم د دُنیا او د دې په شان چه څومره دُنیاګانې تَصَوُّر کیدې شي، د هغه ټولو نه غوره ده.“ (شرحِ مُسلِم لِلنَّوَوِي ج۱۵ ص۱۷۸)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حَدِیثِ پاك نه لاندې فرمائي: یعني یو کافِر مسلمان جوړول د دُنیا د غټ دولت نه هم غوره دي بلکه د کافِر وژلو [یعني قتل کولو] نه غوره ده چه هغه ته ترغِیب ورکړې شي او مسلمان کړې شي چه (که الله ته منظوره وه نو) د دې په سَبَب به د هغه (راتلونکې) ټول نسل مسلمان وي. (مِراٰةُالمناجِیح ج۸ ص۴۱۶)

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو — لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہو ں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو — پاؤ گے بَرَکتیں قافلے میں چلو

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ — وګټئ ډېر رَحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ — شي به لرې آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په مَدَني قافله کښې د سفر ٤٤ نِیَّتونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه د شوي سوال په ذریعه دا هُم معلومه شوه چه د لـمونځونو جذبه لرونکو د هغه زماني مسلمانانو به هُم د نیکئ د دعوت د پاره په قافِلو کښې سفر کولو او اوس خو په فیضانِ رَضا [یعني د اعلیٰ حضرت په بَرَکت] د دې مدني کار د پاره د تبلِیغ قرآن و سُنَّت عالَمګِیر غیر سیاسي مَدَني تحرِیك، **دعوتِ اِسلامي** هُم قایم شوې دې. او د دې مَدَني کار د دې لِیك د وخته پورې د دُنیا زِیات و کم ۲۰۰ مُلکونو ته رسیدلې دې! دَ سُنَّتو دَ مَدَني

www.dawateislami.net

قافِلې د مسافرو خو قِسمت رابیدار شي او د نیکو انبارونه ئې جوړ شي، په دې مَدَني سفر کښې چه څومره ښه ښه نِیَّتونه کوئ اِنْ شَآءَاللہ تعالٰی په هغه حِساب به مو ثوابونه هُم زیاتیږي. مَثَلًا د موقع په مُناسَبَت دا نِیَّتونه کیدې شي: ❁ که د شرعي فاصِلې سفر وي نو په سفر د روانیدو دوه رَکعته نفل به ادا کووم ❁ په خپله ذاتي خرچه به سفر کووم ❁ ډوډئ به په خپل خرچ خورم ❁ هره پیره به د سوَرلئ دُعا لولم او که موقع راغله نو نورو ته به ئې هُم لولم ❁ که د یو اسلامي ورور سِیټ نه وو نو خپل سِیټ به ورته پریږدم او په زارئ به ئې په خپل سِیټ کښینووم ❁ په بس یا ریل ګاډي کښې مې که څوك سپین ګیرې یا بیمار مسلمان ولیدو نو هغه ته به خپل سِیټ پریږدم ❁ د مَدَني قافِلې والؤ خِدمت به کووم ❁ د امیرِ قافِله اِطاعت [یعني فرمانبرداري] به کووم❁ د ژبې، سترګو، او د خیټې قُفلِ مَدینه به لګووم یعني د فُضولو خبرو او فُضول اخوا دیخوا کتلو نه به ځان ساتم او د خواهِش نه به کم خوراك کووم ❁ په سفر کښې به هُم په هره موقع په مَدَني اِنعاماتو عمل کول جاري ساتم ❁ په اودس، لـمانځه او قُرآن پاک لوستلو کښې مې چه کومې غَلَطیانې وي هغه به د عاشِقانِ رسول په صُحبت کښې صحیح کووم.(چا ته چه زده وي هغه دِ دا نِیَّت وکړي چه نورو ته به ئې زده کووم) ❁ سُنّتونه او دُعاګانې به یادووم او ❁ نورو ته به ئې زده کووم او ❁ په هغې به ټول عُمر عمل کووم ❁ ټول فرض لـمونځونه به د جُمات په وړومبي صف کښې د جَمعې او تکبِیرِ اُولٰی سره ادا کووم ❁ د تَهَجُّد، اِشراق، ځاښت او اَوّابِین لـمونځونه به ادا کووم ❁ یو ساعت به هُم نه ضائِع کووم، که وَزګار وختونه وو نو **الله الله** به کووم، دُرود شریف به لولم، (د درس او بیان په دوران کښې د څه لوستلو نه بغیر په خاموشئ سره صرف اوریدل وي) ❁ "صدائے مدِینه" به لګووم یعني د سحر د لـمانځه د پاره به مسلمانان راپاڅووم ❁ چه په لاره کښې کله هُم جُمات وِینم نو په اوچت آواز به صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! او صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد لولم او نورو ته به ئې هم لولم ❁ که چرې بازار ته د تلو ضرورت شو نو خاص طور به نظر ښکته ساتم او د بازار دُعا به لولم او که موقع وه نو نورو ته به ئې هم لولم ❁ د مسلمانانو سره به په خوش اخلاقئ او ګرم جوشئ ملاقات

www.dawateislami.net

کووم ❁ ښه ډیر اِنفِرادي کوشش به کووم ❁ په مدني قافلو کښې د سمدستي سفر کولو د پاره به مسلمانان تیاروم ❁ د نیکئ دعوت به ورکووم ❁ درس به ورکووم ❁ که موقع راغله نو د سُنَّتو ډك بیان به کووم ❁ کوم ځائ ته چه قافِله لاړه د هغه ځائ د یو بُزُرگ مزار شریف ته به د مَدَني قافِلې سره یو ځائ حاضریږم ❁ د سُنّي عالِم دیدار به کووم ❁ که د مَدَني قافِلې یو مُسافِر بیمار شو نو د هغه خِدمت به کووم ❁ که د یو مُسافر سره خرچه کمه شوه نو د اَمِیرِ قافِله په مشوره به د هغه مالي اِمداد کووم ❁ په سفر کښې به د ځان د پاره، د کور د کسانو او د اُمَّتِ مُسلِمه د پاره د خیر دُعا کووم ❁ په کوم جُمات کښې مو چه قافِله وي د هغې د اودس خانو او د جُمات صفائي به کووم ❁ که چا راباندې بې وجه سختي وکړه نو هُم صبر به کووم ❁ که د ستومانئ وغیره په وجه غُصّه راغله نو د ژبې قُفلِ مدینه به لګووم او صبر به کووم ❁ که په یو جُمات کښې د مَدَني قافلې حصارولو اِجازت را نه کړې شو نو د چا سره د خبرو اړلو په ځائ به دا د خپل اِخلاص کمې ګنړم او د دُعائے خیر د پاره لاس پورته کولو سره سره به د مَدَني قافِلې سره بیرته ځم ❁ که چا راسره جَګړه کوله نو په حق باندې د کیدو باوجود به د هغه سره جَګړه نه کووم او په حدیثِ پاك کښې ورکړې شوي د دې زِیري حقدار به جوړیږم، چه په هغې کښې نَبِيّ کَرِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چه په حق باندې د کیدو باوجود جَګړه نه کوي زه د هغه د پاره د جَنّت [د دننه طرف] په غاړه کښې د یو کور ضمانتي یم. (اَبُوداؤد ج٤ص٣٣٢حدِیث٤٨٠٠) ❁ که چا ظُلماً اووَهلم نو هُم د جواب ورکولو په ځائ به شُکر ادا کووم چه د **الله** تعالٰی په لار کښې د وَهلو خوړلو باوجود په دین باندې د مضبوط اوسیدلو "سُنَّتِ بِلالي" ادا شو ❁ که زما په وجه د یو مسلمان زړه ازار شو نو هُم په هغه وخت به په عاجزئ د هغه نه بخښنه غواړم ❁ ولې چه هر وخت د یو ځائ اوسیدلو په وجه د حق تلفئ [یعني د یو بل د حق ضائِع کولو] اِمکان زیات وي ځکه به د بیرته راتلو په وخت کښې په ډیره زیاته عاجزئ سره د ټولو نه بخښنه غواړم ❁ د (شرعي) سفر نه په بیرته تلو به د کور

www.dawateislami.net

د کسانو د پاره د تُحفې ورلو سُنَّت ادا کووم ❁ (که سفر شرعي وو نو) چه بیرته اورسم او مکروه وخت نه وو نو په جُمات کښې به د سفر [نه د رارسیدو] دوه رَکعته نفل ادا کووم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اُمَّتِ مُصطفٰی ﷺ خُصوصِیَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اللهُ رَبُّ العِباد جَلَّ جَلالُہٗ د دې اُمَّت خُصوصِیّت بیانولو کښې په پاره ٤ سُورَه آلِ عِمران آیت ۱۱۰ کښې اِرشاد فرمائي:

كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو غوره ئې په هغه وارو اُمَّتونو کښې چه په خلقو کښې ښکاره شوي، د نیکئ حکم ورکوئ او له بدئ نه منع کوئ او په الله (تعالٰی) ایمان لرئ.

اَلْحَمْدُلِلّٰه مونږه خوش نصیبه یو

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ مونږ خوش نصیبه یو چه مونږ گنهگاران د **الله** تعالٰی د خوږ حبِیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتیان یو، یقِیناً زمونږه گران گران او خوږ خوږ آقا، مَکِّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټولو نَبیانو کښې د ټولو نه افضل او اعلٰی دې او د هغوئ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر د هغوئ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت هم د ټولو تیرو شوو اُمّتونو نه غوره دې. د غوره کیدو سَبَب دا بالکل نه دې چه گنې په دې اُمّت کښې به ډیر زیات مالداران وي یا به دوئ سره ډیر دُنیاوي تعلیم وي، یا به گنې په دوئ کښې ډیر زیات اِ ِینیران او ډاکټران وي او نه د فضیلت وجه دا ده چه گنې دوئ به جنگیالي، نران او طاقتور وي یا گنې دوئ ځکه غوره دي چه دوئ به ډیر زیات چالاکه او هوښیار وي بلکه د دوئ د غوره کیدو وجه خو دا ده چه دوئ به اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر (یعني د نیکئ حُکم ورکولو او د بدو نه منع کولو) په اَهم مَنصَب باندې وي. **الله** تعالٰی دِ وکړي چه مونږه خپل دا اوچت مَنصَب پیژندلو کښې کامیاب شو.

www.dawateislami.net

د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَ نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر تعرِیف

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په "تَفسِیرِ **نَعِیمي**" کښې د دې آیاتِ کرِیمه نه لاندې فرمائي: "**اَلْمَعْرُوْف**" او "**اَلْمُنْکَر**" کښې ټولې نیکئ د **مُستَحَبّاتو** نه د **اِیمانِیّاتو** پورې (یعني د مُستَحَبّاتو نه د اِسلامي عقیدو پورې) شامِلې دي، او ټولې بَدئ د **مکرُوهاتو** نه د **کُفرِیاتو** پورې (یعني دَ ناخوښه خبرو نه واخله د هر قِسم کُفره پورې) شامِلې دي. او د "**اَمر**" (معنٰی حُکم ده) یعني (دلته) د حُکم نه مُراد د هر قِسم حُکم دې، که په ژبه وي، که د قلم په ذرِیعه وي، یا په طاقت وي،که هغه مَشَرانو ته د عرض کولو په انداز وي یا ملګرو ته د مشورې په طور یا کشرانو ته د دباؤ په انداز کښې حُکم ورکول وي، یعني ستاسو شان دا دې چه د هرې نیکئ په هره طرِیقه حُکم ورکوئ او هره ښیګړه په هره طریقه خوروئ او د هر قِسم بدئ په هره طریقه ختموئ او خلق د هغې (یعني بدئ) نه منع کوئ. نور فرمائي: په دې آیتِ مُقَدَّسه کښې چه لکه داسې فرمائیلې شوي دي چه اے د مَحبُوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمّته! تاسو زما د صِفَتِ هِدایت مَظهر (یعني ښکاره کوونکي) ئې، ځکه تاسو غوره اُمّت ئې، ستاسو په وجه به ټول خلق فائِدې اوچتوي، زه به ستاسو په ذرِیعه خلقو ته اِیمان، قُرآن او عِرفان (یعني د الله پیژندل) ورکووم او ستاسو په رنړا به هغوئي ته د جَنّت لار ښایم، څوك چه ما ته رارسیدل غواړي هغه دِ ستاسو په ډله کښې شامِل شي. (تفسِیرِ نَعِیمی ج۱ ص ۲۲۲)

سُنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں
نیک ہوجائیں مسلمان مدینے والے

بس د دِین کار کښې لګیا شو مونږه عام کړو سُنّتونه
نیك دِ شي مسلمانان ټول اے تاجدار د مدینې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د مُسلمانانو یو غټ شمیر په بې عَمَلۍ کښې ګیر دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په مسلمانانو کښې د نیکۍ د دعوت عام کولو چه نن څومره ضرورت دې شائِد چه مخکښې کله هم دومره ضرورت نه وو. افسوس په کروړونو افسوس!نن د مُسلمانانو یو غټ شمیر په بې عَمَلۍ کښې ګیر دې، نیکۍ کول د نَفس د پاره بې حده ګران او ګناه کول ډیر اَسان شوي دي، د جُماتونو شړیدل او د سینماګانو او کلبونو ابادیدل، د دِین درد لرونکي په سرو سترګو ژړوي. د ټي وي، وي سي آر، دِش اِنټِینا، اِنټرنیټ او کیبل غلط استعمالونکو د خپلو سترګو نه د حیا پرده لرې کړي ده، د خپلو ضرورتونو پوره کولو او د سهولتونو حاصلولو د حد نه زیات کوششونو د مسلمانانو غالِب شمیر د آخِرت د فِکر نه بالکل غافِله کړې دې. کنزل کول، تُهمت لګول، بدګُماني، غِیبت، چُغلي، د خلقو عیبونه لټول، د خلقو عیبونه ښکاره کول، دروغ وئیل، د دروغو وعدې کول، د بل مال ناحقه خوړل، وِینه توئیَول، خلقو ته د اِجازتِ شرعي نه بغیر تکلیف ورکول، قرض بیرته نه ادا کول، د چا نه عارضي طور څه څیز راوړل او بیا بیرته نه وروړل، مسلمانان په بدو القابو [یعني بدو نومونو] یادول، د بل څیز د هغه د رضا او د شرعي اجازت نه بغیر استعمالول، شراب څښل، جُواري کول، غلا کول ،زِنا کول،فِلمونه او ډرامې کتل، سندرې اوسازونه اوریدل،د سُود او رِشوت ورکړه راکړه، د مور او پلار نافرماني کول او هغوئ تنګول، په امانت کښې خیانت کول، بدنظري کول، د ښځو ځان د سړو په شان او د سړو ځان د ښځو په شان جوړول، بې پردګي، غُرور، تَکَبُّر، حسد، رِیاکاري،په زړه کښې د یو مسلمان سره بُغض و کِینه ساتل،شُماتَت (یعني د یو مسلمان په مرض،تکلیف،یا نقصان کیدو خوشحالیدل)،دَ غُصّې په حالت کښې د شریعت د حد نه تیریدل، د ګُناهونو حِرص، حُبِّ جاه[یعني د عِزّت خواهش لرل]، بُخل، خپله رائے خوښول وغیره ګناهونه زمونږ په مُعاشَره کښې په بې باکۍ سره کول شي.

د ګناه کوونکو په وَجه نورو ته هُم نُقصان

ډیر ګناهونه داسې دي چه د هغې په وجه نیغ په نیغه [یعني براهِ راست] نورو ته هُم نقصان رسي،

www.dawateislami.net

مَثَلًا که څوك د غلا ګناه کوي نو د هغه کس نقصان به هُم کیږي د چا چه څه څیز غلا کړې شي، بالکل هم دغه حال د ډاکه اچوونکو او د وَسلې په زور د موبائِل وغیره اغستونکو دې. دُنیاوي نقصانونه خو یو طرف ته پاتې شو د ګناه کوونکي اصل غټ نُقصان خو د آخِرت دې. **اے د سُنّتو درد لرونکو عاشِقانِ رَسول!** لږ سوچ وکړئ!! د ګناهونو په دلدل [یعني ختو] کښې نښتي خلق به څوك را اوباسي؟ اخلاقي او نورو لِحاظونو سره مخ په ښکته لویدونکي خلق به د کِردار د اوچت والي طرف ته څوك راپاروي؟ جَهَنَّم ته بوتلونکي کارونه کولو والا به د جَنّت طرف ته بوتلونکي کارونو ته څوك رابلي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ ته پخپله د یو بل د اِصلاح کوشش کول پکار دي. یو څو رِښتیني حکایتونه اُوګورئ او په زړه کښې "د نیکئ د دعوت" جذبه زیاته کړئ.

جُمات ته جندره [یعني تالا] لګیدلې وه

د تبلِیغ قرآن و سُنّت عالمګیر غیر سیاسی تَحرِیك **دعوتِ اِسلامي** د عاشِقانِ رسُول د سُنّتونو د تربِیَّت **مَدَني قافِلې** د درې ورځو، دولسو ورځو، یوې میاشتې او د دولسو میاشتو د پاره د **الله تعالیٰ** په لار کښې سفر کوي. د عاشِقانِ رسول یوه **مَدَني قافِله** د سُنّتو د تربِیَّت د پاره د بابُ الاِسلام (سِندھ) یو کلي ته ورسیده د هغه کلي **جُمات ته جَندره [یعني تالا]** لګیدلې وه ، د خلقو په ترکیب ئې چه کله د جُمات دروازه بیرته کړه نو د مَدَني قافِلې مسافِرو چه دا ولیدل نو غمژن شو چه د ډیرې مودې نه د صفائي نه کولو په وجه جُمات په دوړو خړ پړ شوې وو او هر طرف د جولاګانو [غنړو] جالونه خواره وو. د مَدَني قافِلې والؤ په تپوس د کلي خلقو اُووئیل چه "ډیره موده وشوه چه د دې ځائ مسلمانانو لـمونځ کول پریښودي دي او د هغې په وجه اِمام صاحِب هم تلې دې، ځکه مو جُمات ته تالا لګولي ده." افسوس! جُمات بند کړې شوې وو او په کلي کښې هر طرف ته ګناهونه کیدل، په اکثرو دُکانونو کښې سندرې او سازونه غږیدل او په **ټي وي** باندې د فلمونو ښودلو سلسله جاري وه.

www.dawateislami.net

د جُمات حیرانوونکي ابادیدل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! اوس د مسلمانانو حالت ورځ په ورځ خومره خرابیږي! حالانکه یوه زمانه داسې هُم وه چه شپه او ورځ به جُماتونه اباد وو، چنانچه **حُجَّةُ الْاِسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "نیك خلق به د آخِرت د فِکر په سَبَب په جُماتونو کښې پراته وو چه که خومره کیدې شي چه د دې لږ ژوند د مُهلت نه فائِده واخلي او د آخِرت ابدي [یعني همیشه پاتې کیدونکي] نِعمتونه جمع کړي. د عِبادت کوونکو د ګنړې په وجه به هلکانو د خوراك څښاك څیزونه خرڅول، دغسې به د خوراك څښاك څیزونه هم عبادت کوونکو ته په اسانئ ترلاسه کیدل." سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ هغه خومره پاك دَوَر وو چه جُماتونه به شپه او ورځ اباد وو او آه! نن چه د جُماتونو شړیدو ته اُوګورې نو زړه ډیر زیات خفه شي. اے د مرګ یقین ساتونکو اِسلامي ورونړو! چه د چا نه کیدې شي نو د حلال روزګار او د مور او پلار او بچو وغیره د پالنې او د بندګانو نور حقُونه سر ته رَسَولو نه پس چه درسره څه وزګار وخت وي هغه ضرور په ذِکر و درود، فِکرِ آخِرت او ښه صُحبت کښې د تیرولو کوشش کوئ. (کیمیائے سعادت ج۱ ص۳۳۹) زمونږه د خوږ خوږ آقا، د مدینې والا مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ذرّه وخت به هُم د ذِکرُ **الله** تعالٰی نه بغیر نه تیریدو. کاش! چه مونږ ته هم د قِیمتي وخت قدر رامعلوم شي.

یا خدا قَدر وقت کی دیدے　　کوئی لمحہ نہ فالتو گزرے

دَ وَخت قدر رانصیب کړې زما خدایا　　چه یو وَخت مې هُم تیر نه شي بې فائِدې

د جَمعې د لـمونځ عجیبه جذبه

پخوانو مسلمانانو به د جَمعې د لـمونځونو هُم زبردست اِهتِمام کولو چناچه **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: (پاره 18 سُورۃُ النُّور آیت 37 کښې د رَبِّ غَفُور جَلَّ جَلالُهٗ فرمانِ نُورٌ عَلٰی نُور دې:)

www.dawateislami.net

رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِیْهِمْ تِجَارَةٌ وَّ لَا بَیْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَ اِیْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ یَخَافُوْنَ یَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِیْهِ الْقُلُوْبُ وَ الْاَبْصَارُ ۙ﴿۳۷﴾ (پ۱۸ النور: ۳۷)

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: هغه نارینه چه ئې نه غافِله کوي کومه سودا او اخستل خرڅول د الله (تعالیٰ) د یاده او د لـمانځه کولو نه او د زکٰوة ورکولو نه، یَرِیږي د هغه ورځې نه چه په هغې کښې به پړمخ شي زړونه او سترګې.

د دې آیت کَرِیمه نقل کولو نه پس سَیِّدُنااِمام ابُو حامِد مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد **غزالي** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بیان دې چه بعضې مُفَسِّرِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین لیکي چه په دې کښې د هغه نیکو خلقو طرف ته اشاره ده چه که په هغوئي کښې به یو **لوهار** د ګُزار وهلو د پاره خپل څټکې اوچت کړې وو او په دې حالت کښې به ئې د **اذان** آواز واوریدو نو په اوسپنه د ګوزار کولو نه بغیر به ئې څټکې فوراً کیښودو او که موچي یعني څرمن ګنډلو والا به ستن په څرمن کښې ټومبلي وه نو چه څنګه به ئې د اذان آواز په غوږو ولګیدو نو د ستن وِیستلو نه بغیر به ئې ستن او څرمن هُم په هغه ځائ پریښودل او فوراً به د **جُمات** طرف ته روان شو. یعني د پورته کړي څټکي یو ګُزار کول یا ستن بل طرف ته وِیستل هُم د هغوئي په نِزد ناوخته کولو کښې شمار وو حالانکه په دې کښې څومره وخت لږي! (کِیمیائے سعادت ج۱ ص۳۳۹)

میں پانچوں نَمازیں پڑھوں با جماعت — ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی
میں پڑھتا رہوں سُنّتیں، وقت ہی پر — ہوں سارے نوافل ادا یا الٰہی
دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت — رہوں باوُضو میں سدا یا الٰہی

چه د جَمعې سره کومه ټول لـمونځونه — کړې داسې توفیق را عطا یا اِلٰهي
چه ادا کړم سُنَّتونه ټول په وخت — هم نفلونه مې شي ټول ادا یا اِلٰهي
راکړې شوق د تِلاوت او عِبادت — هم چه اوسم په اودس کښې سَدا[1] یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] همیشه

www.dawateislami.net

بوډا په ژړا شو

د **عاشِقانِ رَسُول** د یوې میاشتې یوه **مَدَني قافِله** د **الله تَعَالٰی** په لار کښې په سفر وه. په دې دوران کښې په یو ځائ کښې د سُنّتو ښودلو او زده کولو **مَدَني حلقه** کښې د"غُسل فرائِ " اوښودل شو نو یو بُوډا په ژړا شو او وئیل ئې چه"زما عُمر اویا کاله دې خو ما ته د **غُسل فرائِض** معلوم نه وو، نن د مدني قافِلې په بَرَکت ما ته د غسل فرائِض زده کول نصیب شو، افسوس! ما ته خو دا هُم نه وو معلوم چه په غُسل کښې فرائِض هم وي!"

د ټولو نه مخکښې څه زده کول فرض دي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه د اویا کالو کس ته د غُسل فرائِض نه معلوم نه وو د دې واقعې نه تاسو د مَدَني قافِلو د ضرورت او اَهَمِّیَّت اندازه لګولې شئ. مونږه که چرې یو مسلمان بیمار یا په لوَږه او تنده کښې ګرفتار یا بې روزګاره او قرضدار یا په آفتونو او دُنیاوي مصیبتونو کښې ګیر اُووِینو نو زړه مو پرې خُوګ شي او داسې پکار هُم دي خو د ګناهونو د زیات والي په وجه خپل آخِرت په خطره کښې اچولو والا او خپل ځان د قبر او جَهَنَّم حقدار جوړولو والا مسلمانانو باندې مو زړه بالکل نه خوګیږي دا خبره د افسوس وړ ده داسې ښکاري لکه چه د دُنیاوي مصیبتونو په مُقابَله کښې د آخِرت مصیبتونه کمتر ګڼړلې شي! حالانکه د "بدني مریض" په مُقابَله کښې روحاني یعني **د ګناهونو مریض** د زیاتې توجُّه حقدار دې ځکه چه مسلمان ته د دُنیا د تکلیفونو په وجه د آخِرت سکون نصیب کیدې شي خو ګنَهګار د ګناهونو په وجه د دوزخ کندې ته رسیدې شي. لِهٰذا د دې خبرې ډیر سخت ضرورت دې چه د عِلمِ دِین زنړا خوره کړې شي ځکه چه معلومات وي نو هله به بنده د ګُناهونو نه ډډه کوي،که د ګناه او ثواب نه هډو خبر نه وي نو د سُنَّتو ډك ژوند به څنګه تیر کړې شي!افسوس په کروړونو افسوس! نن صبا نادان مسلمان د نفس او شیطان په دوکه کښې ګیر په دې فاني جهان خو ځان او زړه قربانوي خو د فَرائِضو عِلم نه لري حالانکه سرکارِ دوعالَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ بَني آدم، رَسُولِ مُحتَشم

www.dawateislami.net

صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلې دې: ''طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیْضَۃٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ یعني عِلم حاصلول په هر مسلمان باندې فرض دي.'' (اِبنِ ماجه ج۱ ص۱٤٦ حدِیث۲۲٤)

د دې حدیثِ پاك نه د سکول او کالِ [دُنیاوي] تعلِیم مُراد نه دې بلکه د دې نه ضروري عِلمِ دِین مُراد دې. لِهٰذا د ټولو نه مخکښې **اسلامي عَقائِد** زده کول فرض دي، د هغې نه پس د لـمانځه فرائِض، شرائِط او مُفسِدات (یعني لـمونځ څنګه صحیح کیږي او څنګه ماتیږي) بیا چه کله **رَمَضانُ المُبارَك** تشریف راوړي نو چه په چا روژې فرض وي د هغه د پاره د روژو ضروري مسائِل، په چا چه زکوٰة فرض وي د هغه د پاره د زکوٰة ضروري مسائِل، هم دغه شان د حج فرض کیدو په صورت کښې د حج، که نِکاح کول غواړي نو د نِکاح، تاجِر ته د تِجارت، اخستونکي ته د اخستلو، نوکري کوونکي او نوکر ساتلو والا ته د اِجارې، وَعَلٰی هٰذَا الْقِیاس (یعني هُم په دې باندې د قیاس کولو سره) **هر مسلمان عاقِل و بالِغ زنانه او نارینه باندې د هغه د موجوده حالت مُطابق مسئَلې زده کول فرضِ عَین دي.** هُم دغه شان د هر یو د پاره د حلال او حرام مسائِل زده کول هم فرض دي. او مسائِلِ قَلب (یعني باطِني مسائِل) یعني فرائِضِ قَلبِیه (باطِني فَرائِض) مَثَلًا عاجِزي او اِخلاص او **تَوَکُّل** وغیره او د هغې د حاصلولو طریقه او **باطِني ګناهونه** مَثَلًا تَکَبُّر، رِیاکاري، حَسَد، بَدګُماني، بُغض و کِینه، شُماتَت(یعني د چا په مُصِیبت خوشحالیدل) وغیره او د هغې عِلاج زده کول په هر مُسلمان فرض دي.(د تفصِلي معلوماتو د پاره فَتاوٰی رَضَوِیَّه جِلد ۲۳ ص 613-624 اُوګورئ) د مُهلِکاتو یعني په هلاکت کښې اخته کوونکو څیزونو لکه وَعده خِلافي، دروغ، غِیبت، چُغلي، بُهتان[یعني تُهمَت]، بد نظري، دوکه، اِیذاءِ مُسلِم[یعني مسلمان ته تکلِیف ورکول] وغیره وغیره د ټولو صغِیره او کَبِیره ګناهونو په باره کښې ضروري احکام زده کول هم فرض دي چه بیا د دې نه بچ کیدل کیدې شي. ډرائیور او سُوَرلئ، ښځه او خاوند، مور او پلار او اولاد، ورور او خور، ګاونډي او خپلوان، قرضداري او قرضه ورکوونکې، سُپروائِزر او ټیکیدار، مزدور او ګیلکار، خان او زمیندار، څه څیز په کرایه ورکوونکې او په کرایه اخستونکې، حکم کوونکې او ماتحت، اُستاذ او شاګِرد، ډاکټر او حَکِیم، مُقِیم او مُسافِر، قَصّاب او د مهیانو ښکار کوونکې، چنده کوونکې او چنده ورکوونکې،

www.dawateislami.net

د جُمات، مَدرسې، اَدِیرې یا د سما اِدارې مُتَوَلّیان [یعني د کمیټو مشران او مِیران]، ځاروې خرڅوونکې او ساتونکې، شپونکې، دوبې، درزي، ترکانې، لوهار، په دې آخِري ذکر کړې شوو پینځوو کاریګرو باندې د وِینځلو، ګنډلو او جوړونکو وغیره وغیره د هر یو د پاره د هغه د موجوده حالت مُطابق ضروري مسائِل زده کول **فرضِ عَین** دي. د شیطان دې وسوسې ته هیڅ کله هم تَوَجُّه مه ورکوئ چه که زده هُم کړل نو بیا خو به پرې عمل کول ضروري وي بلکه د شَریعت دا حُکم په دِماغو کښې کښینوئ چه حَسبِ حال [یعني د خپل حالت مطابِق] **فرض عُلوم** نه زده کول ګُناه ده او د نه زده کولو په وجه ګُناه کول د ګُناه د پاسه ګُناه، حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې.

خدایا ہم اسلامی اَحکام سیکھیں بچائیں جو دوزخ سے وہ کام سیکھیں

خدایا رازده کړې مونږ ته اِسلامي احکامونه
چه مو بچ کړي د دوز نه رازده کړې هغه کارونه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د غُسل طرِیقه (حَنَفی)

خوږو خوږو اِسلامي وروڼرو! تاسو اوس واوریدل چه د اوياؤ کالو یو اِسلامي ورور د مَدَني قافِلې والؤ په مَدَني حلقه کښې شریك شو نو هغه ته د غُسل د فرائِضو په باره کښې وړومبي ځل معلومات وشو، هُم دغسې به معلومه نه ده چه څومره مسلمانان داسې وي چه هغوئي ته به دا احکام نه وي معلوم. لِهٰذا په دې باره کښې د نیکئ د دعوت د ثواب ګټلو په نِیَّت د غُسل طریقه (حَنَفی) وړاندې کووم، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب، "**د لمانځه اَحکام**" د [رسالې "**د غُسل طریقه**" د] صفحه **۳** نه شروع کیدونکي مضمون نه د ضروري ردّ و بدل کولو سره عرض دې: د نِیَّت نه بغیر به هُم غسل وشي خو ثواب به نه کیږي، ځکه د ژبې خوزولو نه بغیر په زړه کښې داسې نیّت وکړئ چه زه د پاکئ حاصلولو د پاره غُسل کووم. مخکښې دواړه لاسونه د ګِیټو [مړوندونو] پورې درې درې ځله اُووِینځئ، بیا د استنجا ځائ اُووِینځئ که نجاست

www.dawateislami.net

پرې لګیدلې وي او که نه، بیا که په بدن چرې نجاست لګیدلې وي نو هغه لرې کړئ بیا د لـمونځ په شان اودس اوکړئ خو ښپې مه وِینځئ، خو که په چوکئ (کټکي) وغیره باندې غُسل کوئ نو بیا ښپې هم اُووِینځئ، بیا په بدن باندې د تیلو په شان اوبه ومږئ، خصوصاً په جمي کښې (په دي دوران کښې صابُن هم لګولې شئ) بیا درې ځله په ښئ اوګه باندې اوبه اوبهیوئ بیا درې ځله په چپه اوګه باندې، بیا په سر او په ټول بدن باندې درې ځله،بیا د غسل د ځائ نه جُدا شئ، که د اودس په وخت کښې مو ښپې نه وي وِینځلي نو اوس ئې اُووِینځئ، په لامبلو کښې قبلې ته مه مخ کوئ، په لامبلو کښې په ټول بدن باندې لاس راښکاږئ او مږئ ئې،په داسې ځائ کښې لامبئ چه څوک هم نه ویني او که داسې[ځائ] نه وي نو نارینه دِ خپل ستر (دنامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره) په څه پیړه ټوټه [کپړه] باندې پټ کړي، که پیړه ټوټه نه وي نو د ضرورت مطابق دِ دوه یا درې ټوټې د ځان نه راتاؤ کړي ځکه چه که نرئ ټوټه وي نو د اوبو سره به په بدن پورې ونځښلي او مَعَاذَالله [یعني د الله پناه] زنګونان یا ورنونه به پـکښې ځلیږي. زنانه ته خو نور هم د ډیر احتیاط ضرورت دې. د غسل په دوران کښې هیڅ قِسم خبري مه کوئ، څه دُعا هم مه لولئ، د لامبلو نه پس په تولیه وغیره باندې بدن وچولو کښې څه باک نشته،د لامبلو نه پس فوراً کپړې واغوندئ. که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته نفل ادا کول مُستحب دي. (عَالمګیري ج۱ص۱٤، مأخوذ بهارِ شرِیعت ج۱ص۳۱۹ وغیره)

د غُسل درې فرائِض

(۱) خُله وِینځل [یعني په خُله کښې اوبه اچول] (۲) په پوزه کښې اوبه خیژول (۳) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهیول. (فَتاوٰی عَالمګیري ج۱ ص۱۳)

(۱) خُله وینځل (یعني په خُله کښې اوبه اچول)

په خُله کښې لږې شان اوبه اچول او هغه تُوکل خُله وِینځل نه دي بلکه چه د خُلې په هره پُزه، په هرکُټ، د شُونډو نه واخله د حَلق د جرړې پورې په هرځائ اوبه اوبهیږي. هم دغه شان د [جامنو] د غاښونو شاته د اننګو [یعني د مَخ] دننه طرف باندې، دغاښونو په سُورو او جرړو او د

www.dawateislami.net

ژبې په هره ډډه باندې بلکه د حلق د غاړې پورې اوبه اوبهیږي.که روژه مو نه وي نو غړغړه هم اوکړئ ځکه چه دا سُنَّت ده. که په غاښونو کښې مو د چالیه دانې یا د غوښې تِیلۍ نښتې وي نو هغه راخلاصول ضروري دي. خو که په راخلاصولو کښې دَ ضَرَر (یعني نُقصان) ویره وي نومعاف دي. د غُسل نه مخکښې که په غاښونو کښې تِیلۍ وغیره محسوس نه شوې او پکښې پاتې شوې او لـمونځ ئې هم اوکړو، وروستو معلومې شوې نو هغه دِ راخلاصې کړي او اوبه بهیول پرې **فرض** دي. مخکښې ئې چه کوم لـمونځ کړې وو هغه وشو. کوم رِقیدلې غاښې که په مساله ټینګ کړې شوې وي یا په سِیم تړلې شوې وي او د سِیم یا مَسالې نه لاندې اوبه نه رسي نو معاف دي. (بهارِ شریعت ج۱ ص۳۱٦. فتاوٰي رَضَوِیّه مُخرَّجه ج۱ ص۴۳۹، ۴۴۰) په څه طریقه چه دغُسل دپاره یو ځل خُله وِینځل فرض دي په دغه طریقه درې ځله خُله وِینځل په اودس کښې سُنَّت دي.

(۲) په پوزه کښې اوبه خیژول

په تادئ تادئ د پوزې سر ته اوبه لګولو باندې کار نه کیږي بلکه د کوم ځائ پورې چه نرم ځائ دې یعني د سخت هډوکي د شروع پورې وِینځل لازمي دي. او دا هله کیدې شي چه اوبه د بوئ کولو په شان پورته راښکاږئ.داخیال ساتئ چه د وِینښته همره ځائ هم د وِینځلو نه پاتې نه شي ګني غُسل به نه کیږي. په پوزه کښې دننه که د پوزې اوبه اوچې شوي وي نو د هغې راخلاصول فرض دي. او د پوزې د وِینښتو وِینځل هم فرض دي. (اَیضاً ص۴۴۲، ۴۴۳)

(۳) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهیول

د **سر** وِینښتو نه واخله د ښپو د تَلو پورې د بدن په هره **پُرزه** او هر هر ځائ باندې اوبه بهیدل ضروري دي، د بدن ځیني ځائیونه داسې دي چه که احتیاط ونکړې شي نو هغه به وچ پاتې شي او غُسل به ونشي. (بهارِ شریعت ج1 ص۳۱۷) د اودَس، غُسل، لـمانځه، د جُمعې د لـمانځه، د قضا لـمونځونو، د سفر د لـمانځه، د جنازې د لـمانځه وغیره په باره کښې ضروري احکام زده کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِدارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوې کِتاب "د لـمانځه اَحکام" ولولئ.

www.dawateislami.net

په روانو اوبو کښې د غُسل طریقه

که په روانو اوبو مثلاً په دریاب، یا نهر کښې ئې ولامبل نو په هغې کښې د لږ ساعت تیرولو سره به د درې ځله وِینځلو ترتیب او اودس، دا ټول سنّتونه ادا شي. د دې هم ضرورت نشته چه اندامونو ته درې ځله حرکت ورکړې شي.که په تالاب وغیره ولاړو اوبو کښې ئې ولامبل نو اندامونو ته درې ځله حرکت ورکولو یا ځائ بدلولو سره به تَثلِیث (تَثْـ ـلِیْـ ـثْ) یعني د درې ځله وِینځلو سُنّت ادا شي. په باران کښې (یا د نل یا فُوارې لاندې) ودریدل په روانو اوبو کښې د ودریدلو په حکم کښې دي. په روانو اوبو کښې ئې اودس اوکړو نو هم هغه لږ ساعت په هغې کښې اندام حصارول او په ولاړو اوبو کښې حرکت ورکول د درې ځله وِینځلو قائِم مقام دي. (بهارِ شرِیعت ج۱ ص۳۲۰) د اودس او د غُسل په دې ټولو صورتونو کښې خُله وِینځل او په پوزه کښې اوبه خیژول ضروري دي.

فَوّاره د جاري اوبو په حکم کښې ده

فَتاویٰ اهلِسُنّت (غیرمطبوعه) کښې دي: د فوّارې (یا نل) نه لاندې غسل کول په جاري اوبو کښې د غسل کولو په حکم کښې دي لِهٰذا د دې نه لاندې د غسل کولو په وخت کښې که د اودس او غسل کولو د وخت همره حِصار شو نو د تَثلِیث (یعني درې ځله وِینځلو) سنّت به ادا شي چنانچه په "دُرِّمُختار" کښې دي: که په روانو اوبو، غَټ حوض [یعني تالاب] یا په باران کښې د اودَس او غُسل کولو د وخت همره حِصار شو نو هغه پوره سُنّت ادا کړل. (دُرِّمختار ج۱ ص۳۲۰) یاد ساتئ! په غُسل یا اودس کښې خُله وِینځل او په پوزه کښې اوبه خیژول وي.

دَ فَوّارې احتیاطونه

که ستاسو په غُسل خانه کښې فوّاره (SHOWER) وي نو هغه په ښه طریقه سره اُوګورئ چه د هغې طرف ته مخ کولو کښې په بربنډه لامبلو کښې مخه یا شا خو د قبلې شریف طرف ته نه کیږي! په اِستِنجا خانه کښې هم د دې احتیاط کوئ. د قبلې طرف ته مخه یا د شا کیدو مطلب دا

www.dawateislami.net

دې چه د ٤٥ درجه په زاویه کښې دننه دننه وي. لِهٰذا دا احتیاط هم ضروري دې چه د ٤٥ ډګري د زاویه (ANGLE) نه باهر وي. د دې مسئَلې نه اکثر خلق ناخبره دي.

د W.C رُخ صحیح کړئ

مهرباني اوکړئ د خپل کور وغیره د ډبلیو. سي (W.C) او فوّارې رُخ که غلط وي نو د دې اصلاح اوکړئ.**زیات** احتیاط په دې کښې دې چه **W.C** د قبلې نه د ۹۰ په درجه باندې یعني په لـمانځه کښې د سلام ګرځولو په طرف کړئ [یعني د قبلې نه داسې په ډډه چه بولو ته ناست ئې او د سلام ګرځولو په شان خپلې اُوګې ته اُوګورئ نو ستاسو مخ قبلې ته راشي]. ګیلکار عام طور د تعمیراتي سهولت او د ډیزائِن خیال ساتي د قِبلې د آدابو پرواه نه کوي. مسلمانانو ته د مکان د فاني بهترئ په ځائ د آخرت په حقیقي بهترئ باندې نظر ساتل پکار دي.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے
بھائی نہیں بھروسا ہے کوئی زندگی کا (وسائل بخشش ص ۱۸۵)

زر زر وکړه څه نیکئ آخِرت جوړ کړه
زما وروره د مرګي وخت معلوم نه دې

غُسل کول کله سُنّت دي؟

د جُمُعې، د وړوکي اختر، د غټ اختر او د عَرَفې په ورځ (یعني ۹ ذُوالحجّةُالحرام) او د اِحرام تړلو وخت کښې غسل کول سُنَّت دي. (فتاویٰ عالمگیري ج۱ص۱٦)

په باران کښې غُسل

د **خلقو** په مخکښې د سِتر ښکاره کیدو په حالت کښې لامبل حرام دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج۳ص۳۰٦) په باران وغیره کښې چه هم لامبئ نو د پاجامې یا پرتوګ د پاسه بل رنګِین پیړ څادر راتاوهئ چه که پاجامه [یا پرتُوګ] د اوبو په وجه [په بدن پورې] ونخښلي نو چه د ورنونو وغیره رنګ پکښې نه ځلیږي.

د تنګ لِباس والا طرف ته کتل څنګه دي؟

د **تیزي** هوا لګیدو په وجه یا په باران کښې یا د سَمندر په غاړه یا په نهر وغیره کښې اګر که پیړو جامو کښې لامبي او جامې [په بدن پورې] داسې وڅښلي چه د سِتر د یو پوره اندام مَثلاً د ورون مکمل چاپیره هَیئَت (پیړوالې) پکښې معلومیږي په داسې حالت کښې د بل چا د پاره دغه اندام ته د کتلو اِجازت نشته. هم دا حکم د تنګ لِباس والا کس د سِتر یو راوتلي پوره اندام طرف ته د کتلو دې.

په بربنډه لامبلو کښې ډیر احتیاط

په **غسل خانه** کښې چه یواځې بربنډ لامبئ یا په داسې پاجامه [یا پرتوګ] کښې لامبئ چه د هغې د [بدن سره] د نَښتو په وجه د ورنونو وغیره رنګ ځلیدې شي نو په داسې حالت کښې دَ قبلې طرف ته مخه یا شا مه کوئ.

په بالتې د لامبلو په وخت کښې احتیاط

که د بالتې په ذریعه غُسل کوئ نو احتیاطاً هغه په چوکئ (STOOL) وغیره باندې ګرځوئ چه بالتې ته څاڅکي نه کیږي او په غسل کښې د استعمالو والا مَګ [یعني د لاستي لوټه] په فرش باندې مه ګرځوئ.

ټول کلې ګِیره خَرَئیلې!

د سُنَّتو د تربِیَّت دیوې میاشتې یوه مَدَني قافِله د خپل سفر په دوران کښې (د بابُ الاِسلام، سِندھ) د **ضِلَع دادُو** د یوکلي یو **جُمات** ته ورسیده، هلته مُؤَذِّن صاحِب موجود نه وو لِهٰذا پخپله ئې **اذان** وکړو، چه کله د جَمعې وخت شو نو یو څو کسان لـمانځه له راغلل او **مدَني قافلې** والؤ ته ئې اُووئیل چه جَمعه هُم تاسو راکړئ [وَلې چه] چه دلته په جُمات کښې د جَمعې لـمونځ نه کیږي، هر سړې خپل خپل لـمونځ کوي ځکه چه په پوره کلي کښې یو کس هُم د **ګِیرې** والا نشته چه اِمام جوړ شي.“

www.dawateislami.net

جُمات اباد ساتل واجِب دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي د عِبرت مُقام دې. د دُنیا په **محبّت** کښې ډیر سپیره والې دې چه د دې مَصروفِیَّت د دغه کلي اوسیدونکي د **الله** تعالیٰ د عِبادت نه **محرومه** کړل او د **الله** تعالیٰ کور یعني جُمات شړ شو! **یاد ساتئ!** جُمات اباد ساتل د **مَحَلّي** [یعني ګاونډ] په مُسلمانانو باندې واجِب دي چنانچه په **فتاویٰ رَضَوِیَّه شریف** کښې د سابِقه [یعني د تیر وخت د] شراب خرڅوونکو جوړ شوي یو جُمات په باره کښې **سوال** وشو چه هغه هغوئي د توبه کولو نه پس په حلال مال جوړ کړې وو. د هغې په جواب کښې زما آقا اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په "فَتاویٰ رَضَوِیَّه" جِلد 8 صفحه 125 کښې فرمائي: هغه جُمات کوم چه هغوئي د توبه کولو نه پس په مالِ حلال جوړکړې دې بیشکه شرعي جُمات دې او په هغې کښې لـمونځ خو کیږي کیږي بلکه د دې په خوا و شا کښې اوسیدونکو باندې د هغې اباد ساتل **واجِب** دي، په هغې کښې پینځه وخته اذان و اِقامت، جَمعه او اِمامت کول ضروري دي، که داسې ونکړي نو ګنهګار به وي او څوك چه په هغې کښې د لـمانځه کولو نه منع کوي هغه به په هٰغه سختو ظالِمَانو کښې شمار وي دَچا په باره کښې چه **الله** تعالیٰ فرمائي:

وَ مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ یُّذْكَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ وَ سَعٰى فِیْ خَرَابِهَا ؕ

(پ۱ البقرة: ۱۱٤)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د هغه نه زیات ظالِم به څوك وي، چه منع کوي د الله د جُماتونو نه په هغې کښې د هغه د نوم اغستلو نه او د هغې د شړَوَلو کوشش وکړي. (فتاویٰ رَضَوِیَّه ج۸ ص۱۲۵)

په ځنګل کښې جُمات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې سره مُتَعَلِّق یوه خبره عرض کووم. چه په کوم ځائ کښې مسلمانان د سره هډو اوسیږي نه، په داسې شړ ځائ کښې جوړ شوې جُمات د سره هډو د جُمات په حُکم کښې نه دې چنانچه د یو سوال په جواب کښې زما آقا اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په "فَتاوٰی رَضَوِیَّه" جِلد ۱٦ صفحه ۵۰۵ کښې فرمائي:

چه کله دا خبره صحیح وي چه هغه ځائ نه شي آبادیدلې او هغه جُمات به هُم په کار نه راځي نو هغه جُمات نه شو، هغه خښتې او روپئ په بل جُمات کښې لګولې شئ، په "عالمګیري" کښې دي چه "که چا په ځنګل یا شړه کښې جُمات جوړ کړو چه هلته څوك نه اوسیږي او د خلقو تیریدل هم په هغه ځائ کم وي نو هغه جُمات نه دې ځکه چه په هغه ځائ کښې د جُمات جوړولو حاجت نشته." (فتاویٰ عالمگیري ج ۵ ص ۳۲۰)

کرے مسجدیں جو بھی آباد مولیٰ تُو رکھ اُس مسلمان کو شاد مولیٰ

چه کړي څوك جُماتونه آباد مولیٰ ته کړې هغه مسلمان ښاد مولیٰ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نهه غیر مُسلِمو اِسلام قبلول

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! راشئ او په ټوله دُنیا کښې **د نیکئ د دعوت عام** کولو درد لرُونکي "**مَدَني تَحرِيك**" یعني د تبلِیغ قرآن و سُنّت عالمګیر غیر سیاسي تحرِیك، **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره تړون وکړئ او د "خپل ځان او د ټولې دُنیا د اِصلاح په کوشش" کښې مصروف شئ. د خپلې اِصلاح د کوشش کولو د پاره د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش د پاره د عاشِقانِ رسول په **مَدَني قافِلو** کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو د تر ِیب او تَحرِیص [یعني د نیکو د حِرص زیاتولو] د پاره یو خوشبوداره مدني سپرلې بیانووم. چنانچه د بابُ الاِسلام (سِندھ) د مشهور ښار **حیدرآباد** نه یوه **د درې ورځو مَدَني قافِله** "ټنډو آدم" ښار ته ورسیده، په دریمه ورځ یو کس راغلو او د جُمات نه بَهر ودریدو او د امِیرِ قافِله سره ئې د ملاقات خواهِش ښکاره کړو، د ملاقات په دوران کښې هغه سړي اُووئیل چه زه غیر مُسلِم یم او د **اسلام** ډیر صِفَت ئې وکړو. اَمِیرِ قافِله چه د اسلام طرف ته د هغه خواهِش ولیدو نو په هغه باندې ئې **اِنفِرادي کوشش** وکړو، د هغې په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه په لږ ساعت کښې اِسلام قبول کړو او وئیل ئې چه ما سره لا ړ شئ او زما د کور کسانو ته هُم د اسلام دعوت وړاندې کړئ. **مَدَني قافلې**

www.dawateislami.net

والا د هغه کور ته لاړل او هغوئي ته ئې د اسلام دعوت وړاندې کړو، د هغې په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د نهه کسانو ټوله کورَنۍ مسلمانه شوه. اَمِیرِ قافِله هغه نوي مسلمان نه تپوس وکړو چه ستاسو په زړه کښې د مخکښې نه د دِینِ اسلام محبّت وو نو په مسلمانیدو کښې مو دومره وخت ولې واغستو؟ هغه اُووئیل چه د کوم اسلام نه زه مُتاثِره شوې یم هغه په کتابونو کښې خو لیکلې شوې وو خو په موجوده مسلمانانو کښې نه ښکاریدو. چه کله مې د عاشِقانِ رسول د سُنَّتو ډکه دا **مَدَني قافِله** ولیدله نو زما زړه دې طرف ته راښکودې شو او ما ستاسو د ناستې ولاړې جائِزه اغستل شروع کړل، زه د درې ورځو نه ستاسو کارونه [ناسته ولاړه] وِینم. په تلو راتلو کښې نظر ښکته ساتل، په مُسکا ملاقات کول، بیا ستاسو سـ ینې جامې، په سرونو د شنو عمامو تاجونه، په مخونو نُور، وغیره مې چه ولیدل نو **په کتابونو کښې لیدلې حقیقي اِسلام ما ته ستاسو په کِردار کښې ښکاره شو.** چه د هغې په وجه ما دا سوچ وکړو چه اوس د دوئي په لاس مسلمانیدل پکار دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې بیان ورکولو په وخت کښې نن صبا هغه نَوې مُسلمان شوې اِسلامي ورور په یو جُمات کښې مُؤَذِّن دې او مسلمانانو ته دَ نیکئ او د لـمانځه دعوت هُم ورکوي او د هغوئي مَدَني ماشومان د دعوتِ اسلامي په **مَدرَسَةُ الْمَدینه** کښې د قرآنِ کرِیم تعلِیم حاصلوي.

آیئے عاشِقیں، مل کے تبلیغِ دیں — کافِروں کو کریں، قافِلے میں چلو
کافِر آجائیں گے، راہِ حق پائیں گے — اِنْ شَآءَاللہ چلیں، قافِلے میں چلو
کُفر کا سر جھکے، دیں کا ڈنکا بجے — اِنْ شَآءَاللہ چلیں، قافِلے میں چلو

عاشقانو راځئ، ټول تبلِیغ چه د دِین — کافرانو ته کړو، قافلو کښې لاړ شئ
کافِران به راځي، حقه لار به موي — اِن شآء الله راځئ، قافلو کښې لاړ شئ
سر د کُفر به شي ښکته، دبدبه د دِین اوچته — اِن شآء الله راځئ، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د مَدَني قافِلې بَرَکت مرحبا!

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د مَدَني قافِلې بَرَکت په کروړونو مَرحَبا! ټول اسلامي ورونړه هره میاشت کم

www.dawateislami.net

نه کم درې ورځې او په کال کښې د یوې میاشتې په مدني قافِله کښې د عاشِقانِ رسُول سره د سُنَّتو ډك سفر سعادت ضرور حاصلوئ. په بیان کړي شوي خوشبوداره ښکلي "مَدَني سپرلي" کښې مَاشَآءَاللهد نهه غیرمُسلِمو د هِدایت موندلو او د اسلام لَمَن ته د راتللو ایمان تازه کوونکې بیان دې. واقعي ډیر بختور دي هغه اسلامي ورونړه چه د چا په کوششونو څوك غیر مُسلِمه د کُفر د تِیارو نه را اُوځي او د ایمان رڼا حاصِله کړي او یا یو مسلمان د ګناهونو نه توبه وکړي او د سُنَّتو ډك ژوند تیرول شروع کړي.

یا رَبِّ مُصطفٰی جَلَّ جَلَالُہٗ! زمونږه بې حِسابه بخښنه وکړې. مونږه د سُنّتو مُخلِص مُبَلِّغین جوړ کړې، په پابندئ سره په مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو سعادت راکړې، په مَدَني اِنعاماتو د عمل کولو او نورو ته هم په مَدَني اِنعاماتو د عمل کولو د ترغیب ورکولو توفِیق راکړې.

نہ نیکی کی دعوت میں سستی ہو مجھ سے بنا شائقِ قافلہ یا الٰہی (وسائل بخشش ص ۸۵)

چه نه وي سُستي زما د نیکۍ په دعوت کښې شوقي جوړ کړې د قافلو ما یا اِلٰهی

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د غِیبت تعریف

د چا پټ عیب د هغه د بدئ په طور بیانول. (بهارِ شریعت ج۳ ص۵۳۲)

د چغلئ تعرِیف

د چا خبره د ضَرَر (یعني نُقصان) رَسَولو په اِراده نورو ته رَسَول چُغلي ده.

(عُمدَۃُ القاری ج۲ ص۵۹٤ تحتَ الحَدِیث ۲۱٦)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

د نیکئ د دعوت فضِیلت

د دُرود شریف فضیلت

(د صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحمّد فضیلت)

حضرت سَیِّدُنا ابُو اَلمُظفَّر **مُحمّد** بِن **عَبدُ اللّٰه خَیّام** سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما یوه ورځ لار هیره کړه، ناڅاپه مې یو صاحِب ولیدلو هغوئي اُووئیل: "زما سره راځه." زه د هغوئي سره شوم. زما گُمان شو چه دا حضرت سَیِّدُنا **خِضَر** عَلَیْهِ السَّلَام دې. ما ترې تپوس وکړو نو هغوئي خپل نوم **خِضَر** اوښودلو، د هغوئي سره یو بل بُزُرگ هُم وو، ما ترې د هغوئي د نوم تپوس وکړو نو وئې فرمائیل: دا **اِلیاس** (عَلَیْهِ السَّلَام) دې. ما عرض وکړو: **اللّٰه** تعالٰی دِ په تاسو رَحمت اُوفرمائي، آیا تاسو دواړو حَضَراتو د **اللّٰه** تعالٰی د **خوږ حبِیب** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کړې دې؟ هغوئي اُوفرمائیل: آو. ما عرض وکړو: د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوریدلې اِرشادِ مُبارك راته بیان کړئ چه زه ئې ستاسو نه رِوایت کړې شم. هغوئي اُوفرمائیل چه مونږ د **اللّٰه** تعالٰی د رسُول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلې دې چه څوك په ما درودِ پاك لولي د هغه زړه د نِفاق نه داسې پاك کړې شي څنگه چه په اوبو باندې ټوټه [یعني کپړه] پاکیږي. او چه څوك "صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد" لولي نو هغه په خپل ځان باندې د رَحمت اویا دروازې پرانیزي. (القَولُ البَدِیع ص۲۷۷، جَذبُ القُلُوب ص۲۳۵)

ساقیٔ حوضِ کوثر پہ لاکھوں سلام دونوں عالم کے سرور پہ لاکھوں سلام
جس کا ابرِ کرم سب پہ سایہ فگن ایسے پیارے پیَمبَر پہ لاکھوں سلام

جس کی خوشبو سے طیبہ کی گلیاں بَسیں
ایسے جِسمِ مُعَطّر پہ لاکھوں سلام

www.dawateislami.net

په ساقیِ کوثر ډیر ډیر سلام د دواړو جهانو په سرور ډیر ډیر سلام
د چا د رحمت سورې چه خور دې په ټولو په داسې ښکلي پیغمبر ډیر ډیر سلام
د چا خوشبو چه خوره د طَیبه په کوڅو ده په داسې وجودِ مُعَطَّر ډیر ډیر سلام

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د خِضَر او اِلیاس عَلَیْهِمَا السَّلَام په باره کښې ښکُلي معلومات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د "صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد" لوستلو عادت جوړکړئ او په خپل ځان باندې د رحمتونو بیشمیره دروازې پرانیزئ. په بیان شوي رِوایت کښې د حَضَراتِ سَیِّدَینا **خِضَر و اِلیاس** عَلَیْهِمَا الصَّلٰوۃ وَالسَّلَام ذِکرِ خیر دې. د رَحمتونو د نازِلیدو او د بَرَکتونو حاصلیدو په اُمّید د دې حضراتو په باره کښې د اِیمان تازه کوونکو معلوماتو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب "**ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت**" نه دوه **عرض و اِرشاد** وړاندې کووم، واورئ او ایمان تازه کړئ.

عرض: حضرتِ خِضَر عَلَیْهِ السَّلَام نبي دې او که نه؟

اِرشاد: د جمهورو (یعني اکثرو) مذهب هُم دا دې او صحیح هم دا ده چه هغوئ **نبي** دې، ژوندې دې. (عُمدَۃُ الْقَاری ج۲ ص۸٤، ۸٥)

انبیاءِ کرام عَلَیْهِمُ السَّلَام ژوندي دي

(بیا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل) څلور نَبیان ژوندي دي چه هغوئ ته (د وفات په صورت کښې) وَعدۂ اِلٰهِیَّه تر اوسه نه ده راغلې، داسې خو هر نبي ژوندې دې (څنګه چه په حدِیثِ پاك کښې راغلي دي): اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَنْ تَاْکُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِیَاءِ فَنَبِیُّ اللّٰهِ حَیٌّ یُّرْزَقُ. یعني بیشکه **الله** (تعالٰی) حرام کړي دي په زمکه باندې چه د انبیاء (عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃ وَالسَّلَام) بدنونه خراب کړي نو د **الله** (تعالٰی) نبیان ژوندي دي [هغوئ ته] روزي ورکولې لیږي. (ابنِ ماجه ج۲ صفحه۲۹۱ حدیث۱٦۳۷)

په انبیاء عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃ وَالسَّلَام د یو مختصر وخت د پاره صرف د وَعدۂ اِلٰهِیَّه د تصدِیق د پاره مرګ راځي د هغې نه پس هغوئ ته بیا حقیقي حِسّي دُنیاوي (یعني د دُنیا د ژوند په شان ژوند) ورکول شي.

www.dawateislami.net

خیر په هغه څلورو کښې دوه په اسمان کښې دي او دوه په زمکه دي. خِضَر او اِلیاس عَلَیْهِمَاالسَّلَام په زمکه دي او اِدرِیس او عِیسٰی (عَلَیْهِمَاالسَّلَام) په اسمان کښې دي. (تفسِیر دُرِّ منثور ج ۵ ص ۴۳۲)

هر کس به د مرګ خوند څکِي

عرض: حُضور دې (څلورو) نبیانو ته به مرګ راځي؟

ارشاد: ضرور به راځي:(پاره ٤ اٰلِ عِمران آیت ۱۸۵ کښې دي) كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونکې به مرګ څکِي) (بیا ئې اُوفرمائیل) چه کله دا(یعني د سیپاره 27 سُورۂ رحمٰن) آیت (26) نازِل شو كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۚ﴿۲۶﴾ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: په زمکه چه څومره دي ټول به فنا [یعني ختم] کیږي) فرښتې خوشحاله شوې چه مونږه بچ شو ځکه چه مونږه په زمکه نه یو. چه کله بل (یعني سیپاره ٤ سورۂ اٰلِ عِمران آیت ۱۸۵ نازِل شو) كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونکې به مرګ څکِي) نو فرښتو اُووئیل چه اوس مونږه هم لاړو (یعني مونږ ته به هُم مرګ راځي) (رُوحُ البیان ج ۹ ص ۲۹۷، ۲۹۸، ملفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۴۸۳، ۴۸۵)

انبیا کو بھی اَجَل آنی ہے مگر ایسی کہ فقط آنی ہے
پھر اسی آن کے بعد ان کی حیات مثلِ سابِق وُہی جسمانی ہے

رُوح تو سب کی ہے زندہ اُن کا
جسمِ پُر نور بھی رُوحانی ہے (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: د سرکارِ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ذِکر کړې شوو شِعرونو خلاصه دا ده چه په سیپاره ٤ سُورۂ اٰلِ عِمران آیت ۱۸۵ کښې راغلي د رَبُّ الْاَنَام جَلَّ جَلَالُه اِرشادِ ګرامي " كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هر ساه لرونکې به مرګ څکِي." مطابق په انبیاءِ کرامو عَلَیْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام مرګ راځي خو فقط د یو ساعت د پاره، بیا د پخوا په شان هغوئي ته رُوح بیرته ورکړې شي. د هر انسان رُوح ژوندې اوسي خو د انبیاءِ کرام مبارك بدن هم سلامت اوسي: په حدِیثِ پاك کښې دي: اَلْاَنْبِيَاءُ اَحْيَاءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ یعني

www.dawateislami.net

انبیاءِ کرام عَلَیۡہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي او لـمونځ هم کوي. (ابو یَعلٰی ج۳ ص۲۱۶ حدیث۲٤۱۲)
په یو بل حدِیث پاك کښې دي: "بیشکه **الله** تعالٰی په زمکه باندې حرام کړي دي چه هغه د انبیاءِ کرام بدنونه اُوخوري، د **الله** تعالٰی نَبیان ژوندي دي او هغوئ ته روزي ورکولې کیږي." (اِبنِ ماجه ج۲ ص۲۹۱ حدیث۱٦۳۷)
هر نبي ژوندې دې، چه هر نبي ژوندې دې نو بیا به زما گران آقا، مَکِّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولې ژوندې نه وي او عاشِقِ رسُول اعلٰی حضرت به په بارگاهِ رِسالت کښې په شوق او جذبه ولې عرض نه کوي چه:

تُو زندہ ہے وَ اللہ تو زندہ ہے واللہ
مرے چشم عالم سے چُھپ جانے والے (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: اے زما د ظاهِري او دُنیاوي سترگو نه پټه او په ظاهِره ما ته نه ښکاره کیدونکیه زما خوږه آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! قسم په خدائے! تاسو ژوندي ئې، قسم په خدائے! تاسو ژوندي ئې.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکئ د دعوت ورکوونکي تعرِیف

په قُرآنِ کریم کښې د **الله** تعالٰی فرمانِ عالیشان دې:

وَ مَنۡ اَحۡسَنُ قَوۡلًا مِّمَّنۡ دَعَاۤ اِلَی اللّٰہِ وَ عَمِلَ صَالِحًا وَّ قَالَ اِنَّنِیۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۳۳﴾

(پ۲٤، حٰمٓ السّجدہ: ۳۳)

مفہومِ ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د هغه نه زیاته د چا خبره ښه ده څوك چه د الله طرف ته بلل کوي او نیکي کوي او وائي چه زه مسلمان یم.

د دې آیتِ مبارکه نه لاندې **صدرُ الاَفَاضِل** حضرت علّامه مولانا سَیِّد مُحمّد نعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ لیکي: حضرتِ عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا فرمائي چه زما په نِزد دا آیت د مُؤَذِّن [یعني د اذان ورکوونکي] په حق کښې نازِل شوې دې او یو قول دا هُم دې چه څوك په هره طریقه د **الله** تعالٰی طرف ته رابلل کوي هغه (یعني هر د نیکئ دعوت ورکوونکي) په دې کښې داخِل دې.

www.dawateislami.net

جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے
میں دیتا ہوں اُس کو دُعائے مدینہ (وسائل بخشش ص ۱۵۲)

د نیکۍ دعوت چه خور کړي څوك په مِینه زه کووم د هغه د پاره دُعائے مدینه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د غوره بنده خُصوصِیات

حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو ځل په مِنبرِ اَقدَس باندې تشریف فرما وو چه یو صحابي عرض وکړو: "یارسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خلقو کښې د ټولو نه غوره څوك دې؟" وئې فرمائیل: په خلقو کښې هغه کس د ټولو نه غوره دې څوك چه په کثرت سره دَ قرآنِ کریم تِلاوت کوي،زیات مُتَّقِي [یعني پرهیزګار] وي، **د ټولو نه زیات د نیکۍ حُکم ورکوونکې او د بدئ نه منع کوونکې وي** او د ټولو نه زیات صِلۀ رِحمي (یعني د خپلوانو سره ښه سُلوك)کوونکې وي. (مُسنَدِ اِمام اَحمد ج۱۰ ص۴۰۲ حدیث۲۷۵۰۴)

تِلاوت، پرهیزګاري، د نیکۍ دعوت او صِلۀ رِحمي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ډیر زیات ثواب ګټلو په نِیَّت د بیان شوي حدیثِ مبارك په رڼړا کښې د "نیکۍ د دعوت" وړاندې کولو سعادت حاصِلووم. په دې رِوایت کښې د ټولو نه **غوره بنده** څلور خصوصیات بیان کړې شوي دي: (۱) په کثرت سره تِلاوت (۲) ډیره پرهیزګاري (۳) د ټولو نه زیات د نیکۍ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول او (٤) د خپلوانو سره ښه سُلوك کول. واقعي دا څلور واړه ډیر زیات ښه صِفَتونه دي **الله** تعالٰی دِ ئې مونږ ته نصیب کړي.اٰمین.ددې څلورو واړو فضائِل اُوګورئ: (۱) د حضرت سَیِّدُنا ابوهُریره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه رَسُولِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د قِیامت په ورځ به قرآن لوستونکې راشي نو قُرآن به عرض کوي: **یارَبّ** تعالٰی! ده ته حُلَّه (یعني د جَنّت جامې) واغُونده نو هغه ته به **د کَرامَت حُلّه** (یعني د بُزرګۍ جَنَّتي جامې) ورواغوستَوَلې شي. قُرآن به بیا عرض کوي: "**یارَبّ** تعالٰی! په دې کښې اِضافه [یعني زیات والې] اُوفرمایه،" نو هغه ته به **د کرامت تاج** په سر کړې شي. قُرآن به بیا عرض کوي:"**یا رَبّ** تعالٰی! د ده نه **راضي** شه،" نو

www.dawateislami.net

الله تعالٰی به د هغه نه راضي شي. بیا به هغه قُرآن لوستونکي ته اُووئیل شي: قُرآن لوَلَه او د جَنَّت په درجاتو تیریږه، او په هر آیت به هغه ته یو نِعمَت ورکول شي. (ترمذی ج٤ ص٤١٩ حدیث٢٩٢٤) **(٢)** پرهیزګارو ته په آخِرت کښې د کامیابئ زیرې اَورَوَلې شوې دې چنانچه په پاره ٢٥ سُوْرَةُ الزُّخْرُف آیت ٣٥ کښې اِرشاد کیږي: **وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِیْنَ** ﴿۳۵﴾ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او آخِرت ستاسو د رَبّ سره د پرهیزګارو د پاره دې. (پ٢٥، الزُّخرُف:٣٥) **(٣)** د حضرتِ سَیِّدُنا کَعبُ الاَحبار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِرشاد دې:"جَنَّتُ الفِردَوس خاص د هغه کس د پاره دې څوك چه **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَ نَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر** کوي." (یعني د نیکئ حُکم ورکوي او د بدو نه منع کوي) (تَنبِیهُ المُغتَرِّین ص٢٣٦) **(٤) فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې:که د چا دا خوښه وي چه د هغه په عُمر او رِزق کښې اِضافه وکړې شي نو هغه ته پکار دي چه د خپل مور او پلار سره ښه سُلوك وکړي او د خپلوانو سره صِلَهٔ رِحمي [یعني ښه سلوك] کوي. (اَلتَّرغِیب والتَّرهِیب ج٣ ص٢١٧ حدیث ١٦)

د عُمر او رِزق زیاتیدلو معنٰی

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ١١٩٧ صفحو کتاب "***بهارِ شریعت***" جِلد ٣ صفحه ٥٦٠ کښې صَدرُ الشَّرِیعه، بَدرُ الطَّرِیقه حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په حدیث کښې راغلي دي چه د "صِلهٔ رِحم سره عُمر زیاتیږي او په رِزق کښې وُسعَت (یعني زیاتې) کیږي." بعضو عُلَماؤ د دې حدیث ښکاره معنٰی مُراد اغستې ده. یعني دلته قضا مُعَلَّق مراد ده ځکه چه قضا مُبرم مخکښې وروستو کیدې نه شي.[1]

اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَلَا یَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّ لَا یَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۴۹﴾ (پ١١ یونس ٤٩)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: چه کله د هغوئ وعده پوره شي نو یو ساعت به نه په شا کیدې شي او نه به په مخکښې تلې شي.

[1] دلته د قضا نه مُراد قِسمت دې. د قضا قِسمونه او د دې په باره کښې د تفصیلاتو زده کولو د پاره د **مکتبةُ المدینه** چاپ شوې بهارِ شریعت جلد اوّل د صفحه ١٤ نه ١٧ پورې ولولئ، خَصوصاً د مَجلِس **اَلمَدِینةُ العِلمِیه** د طرف نه ورکړې شوي حواشي بیمثاله او د بې شمیره وسوسو عِلاج دې.

او بعضې (عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام) فرمائي چه د عمر زیاتیدو دا مطلب دې چه د مرګ نه پس هم د هغه ثواب لیکل شي لکه هغه چه اوس هم ژوندې دې یا دا مُراد دې چه د مرګ نه پس هُم د هغه ذِکرِ خیر په خلقو کښې پاتې وي. (رَدُّ المُحتار ج ۹ ص ۶۷۸)

سمدستي ئې د ترور سره روغه وکړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا په خبره خبره خلق د خپلو سره کور پرېږدي، لِهٰذا په خپل مینځ کښې د مَحَبّت قائِمولو د خواهِش په ښه نِیَّت او د نور ثواب ګټلو د پاره د خپلوانو سره د ښه سُلوك په باره کښې د نیکئ د دعوت په ذریعه نور **مَدَني ګلونه** وړاندې کووم: **حضرت** سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یو ځل د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حدیث بیانولو، په دې دوران کښې ئې اُوفرمائیل: هر قاطِعِ رِحم (یعني د خپلوانو سره تعلُّق پرېښودونکې) دِ زمونږ د محفِل نه پاڅي. یو ځلمې پاڅیدو او د خپلې ترور کره لاړو چه د هغې نه د هغه د ډیرو کلونو زوړ خفګان وو، چه کله دواړه د یو بل نه راضي شو نو هغه ځلمي ته ترور اُووئیل: ته لاړ شه او د دې سبب معلوم کړه، چه آخِر داسې ولې وشو؟ (یعني د سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د اعلان څه حِکمت دې؟) ځلمې چه کله حاضِر شو او تپوس ئې وکړو نو حضرتِ سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل چه ما د **حُضورِ انور** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا اوریدلي دي:"په کوم قوم کښې چه قاطِعِ رِحم (یعني د خپلوانو سره تعلُّق پرېښودونکې) وي، په هغه قوم باندې د **الله** تعالٰی رَحمت نه نازِلیږي." (اَلزَّوَاجِرْ عَنِ اقْتِرَافِ الْکَبَائِر ج ۲ ص ۱۵۳)

د خوابنې او هِنګور په مینځ کښې د صُلحې راز

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! پخواني مسلمانان څومره خوفِ خُدا لرونکي وو! خوش نصیبه ځلمې د **الله** تعالٰی د یَرې په سبَب فوراً د خپلې ترور کره حاضِر شو او د صُلحې [یعني کور روغولو] ترکیب ئې وکړو. ټولو ته پکار دي چه غور وکړي چه په خاندان کښې مې د چا، چا سره څه نه څه کور وران دې که داسې وي نو بیا که شرعي عُذر نه وي نو فوراً دَ خاندان خفه کسانو سره د "روغې جوړې" ترکیب شروع کړئ.که زاري او عاجزي کول درته پکښې پیښ

www.dawateislami.net

شي هُم نو زاري او عاجزي وکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی عِزّت به مومئ. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰه يعني څوك چه د **الله** تعالٰی د پاره عاجِزي کوي **الله** تعالٰی هغه ته اوچت والې [يعني عِزّت] ورکوي. (شُعَبُ الاِیمان ج ٦ ص ٢٧٦ حدیث ٨١٤٠) خپله کورنئ او معاشره کښې د **امن** قايمولو د پاره د دعوتِ اسلامي د خوشبودار مَدَني ماحول سره تړون وکړئ او هره مياشت کم نه کم د دري ورځو د پاره په **مدني قافله** کښې د سُنَّتُو ډك سفر کوئ او د **مَدَني اِنعاماتو** مطابق خپل ژوند تيروئ. ستاسو د ترغِيب او تَحرِيص [يعني د نيکئ د حِرص راپيدا کولو] د پاره يو **مَدَني سپرلې** وړاندې کووم، هغه دا چه د **بابُ المَدينه** (کراچئ) د يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چه د ډيرې مودې نه زما د مور او ښځې يعني د **خوانې او هِنګور** په مينځ کښې ډيرې جَګړې کيدلې، آخِر دا چه ښځه مې **خفه شوه** او لاړه د پلار کره کښيناستله. زه ډير زيات پريشانه ووم، نه پوهيدم چه دا مسئَله څنګه **حل** کړم. په دې دوران کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** جاري کړې شوي د "مَدَني مُذاکرې" **وي سي ډي** (VCD) "*گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!*" [يعني "**کور د اَمن ځائ څنګه جوړ شي**"] په لاس راغله. چه موضوع مې ولوستله نو په ډير اُمّيد مې دا **وي سي ډي** پخپله هم وکتله او خپلې والِده **مُحترمې** ته مې هُم اوښودله او يوه **وي سي ډي** مې خپلې سخرګنئ ته وليږله. زما د والِده صاحِبه هغه **وي سي ډي** دومره **خوښه** شوه چه هغې دوباره وکتله او ما ته ئې اُوفرمائيل: "**راځه ځويه چه ستا د سخرګنئ کره لاړ شو**" زه ډيرحيران شوم او د اطمِينان ساه مې واغسته او په سوچ کښې پريوتم چه راته ښکاري کوم کار چه ما د ډير زيات اِنفِرادي کوشش باوجود ونکړې شو هغه دې **وي سي ډي** وکړو. زما سخرګنئ ته چه لاړو نو والِده صاحِبه په ډير **مَحَبّت** زما ښځه **رضا** کړه او بيرته ئې د ځان سره کور ته راوستله. هم دغسې زما ښځې هم ښه سلوك ښکاره کړو او کور ته د رارسيدو په دويمه ورځ ئې خپلې خوانې (يعني زما مور) ته اُووئيل چه مورې زما کوټه ډيره غټه ده او د کور نور کسان چه په کومه کوټه کښې اوسيږي هغه لږه وړه ده،تاسو زما کوټه واخلئ او زه به په هغه وړه کوټه کښې اوسيږم. زمونږه کور چه په جَګړو او فسادونو کښې اخته وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي په بَرَکت "**د اَمن ځائ**"جوړ شو.(د مَدَني مُذاکرې ذِکرکړې شوي **وي**

www.dawateislami.net

سي ډي " گھر امن کا گہوارہ کیسے بنے!" د مَکتبۃُ المَدینه نه هدیةً اغستې کیدې شي او د دعوتِ اسلامي په ویب سائِټ www.dawateislami.net کتلې او اوریدلې هم شي)

کوم ځائ چه خپلوي پریښودونکې وي هلته رَحمت نه نازلیږي

"طَبَراني" کښې حضرت سَیِّدُنا اَعمَش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه منقول دي، حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یو ځل د سحر په وخت کښې په مجلِس کښې تشریف فرما وو، هغوئي اُوفرمائیل: زه قاطِعِ رِحم (یعني د خپلوانو سره تعلُّق پریښودونکي) ته د الله تعالٰی قسم ورکووم چه هغه د دې ځائ نه پاڅي چه بیا مونږ د الله تَعَالٰی نه د بخښنې دُعا اُوغواړو ځکه چه د قاطِعِ رِحم (یعني د خپلوانو سره تعلُّق پریښودونکي) د پاره د آسمان دروازې بندې وي. (یعني که هغه دلته موجود وي نو رَحمت به نه نازلیږي او زمونږه دُعا به نه قبلیږي) (اَلمُعجمُ الکَبِیر ج۹ ص۱۵۸ رقم ۸۷۹۳)

د "حُسنِ سُلوک" د ۷ حُروفو په نِسبَت د صِلۀ رِحمئ ووه مَدَني گلونه

د دَعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوي د ۱۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشریعت" جِلد ۳ صفحه ۵۵۹ او ۵۶۰ نه د "حُسنِ سُلوك" د ووه حُروفو په نِسبَت ووه مَدَني گلونه قبول کړئ:

(۱) د کوم خپل سره څه سلوك پکار دې؟

په حدیثونو کښې مُطلقاً (یعني د څه پابندئ نه بغیر) ذَوِالْقُرْبٰی (یعني خپلوان) فرمائیلې شوي دي خو دا خبره ضرور ده چه د خپلوانو مُختلِف درجات دي ځکه د صِلۀ رِحم (یعني د خپلوانو سره د حُسنِ سُلوك) په درجاتو کښې هُم فرق وي. د مور او پلار مرتبه د ټولو نه زیاته ده د هغوئي نه پس د ذُو رِحم مَحرم، (یعني هغه کورني خپلوان د چا سره چه د نَسَبي خپل کیدو په وجه د همیشه د پاره نِکاح حرامه وي) د هغوئي نه پس [د نَسَب د خپلوئ په وجه] د نورو خپلوانو سره د هغوئي د مَرتبو په حِساب (یعني په خپلوئ کښې د نزدیکت د ترتیب مطابق) (رَدُّالمُحتار ج ۹ ص۶۷۸)

(۲) د خپلوانو سره د سُلوك كولو صورتونه

د صِلۀ رِحم (يعني د خپلوانو سره د سُلوك) هم مُختلف صورتونه وي، هغوئي ته هَدِيه او تُحفه وركول او كه هغوئي ته په څه خبره كښې ستا د اِمداد ضرورت وي نو په هغه كار كښې د هغوئي مدد كول،هغوئي ته سلام كول،د هغوئي مُلاقات له تلَل،د هغوئي سره ناسته ولاړه كول،د هغوئي سره خبرې اَترې كول، د هغوئي سره د مَحَبّت او مهربانئ سلوك كول. (دُرَر.ج۱ص۳۲۳)

(۳) كه پرديس[يعني بَهر ملك] كښې وي نو خط دِ وراليږي

كه دا كس په پرديس كښې وي نو خپلوانو ته دِ خط ليږي، د هغوئي سره دِ خط و كِتابَت جاري ساتي چه بې تعَلُّقي پيدا نه شي او كه كيدې شي نو وطن ته دِ راشي او دَ خپلوانو سره دِ تعَلُّقات تازه كړي، په داسې كولو به مَحَبّت زياتيږي. (رَدُّالمُحتار ج۹ص۶۷۸)(دَ فون او انټرنيټ په ذريعه هم د رابطې تركيب فائِده مند دې)

(٤)كه په پرديس كښې وي او مور او پلار ئې اوبَلي نو راتلل به ضروري وي

كه په پرديس كښې وي او مور او پلار ته د ده د خِدمت حاجت وي نو را دِ شي او د هغوئي خِدمت دِ كوي، د پلار نه پس د نيكه [يعني د پلار پلار] او د مشر ورور مرتبه ده ځكه چه مشر ورور د پلار په ځائ وي، مشره خور او ترور [يعني د مور خور] د مور په ځائ وي، او عُلَماؤُ تره ته د پلار په شان وئيلي دې او حديث: عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ اَبِيْهِ (يعني د سړي تره د پلار په شان وي) نه هم دا نتيجه اُوځي. د دوئي نه علاوه نورو ته خط ليږل يا تُحفه ليږل كا وي.

(٥) د كوم يو خپل سره كله مُلاقات كول پكار دي؟

د خپلوانو سره دِ په وقفه وقفه ملاقات كوي يعني كه يوه ورځ ملاقات ته ورشي نو بله ورځ دِ نه ورځي وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاس (يعني هم د دې نه دِ اندازه واخلي) ځكه چه د دې سره مَحَبّت او اُلفت زياتيږي، بلكه اَقرِبا (يعني نزدې خپلوانو) سره دِ جُمعه په جُمعه ملاقات كوي يا په مياشت كښې يو

www.dawateislami.net

ځل، او ټوله قبیله او خاندان دِ په اِتِّفاق اوسیږي، چه کله هغوئي په حق وي نو د نورو سره دِ مقابَله کوي او په حق خبره کښې دِ ټول په اِتِّفاق کار کوي. (دُرَر، ج۱ص۳۲۳)

(٦) که خپلوان څه حاجت وړاندې کړي نو ردّ کول ګناه ده

چه یو نِزدې خپل څه حاجت وړاندې کړي نو د هغه حاجت دِ پوره کوي، د هغه حاجت ردّ کول قطعِ رِحم (یعني خپلوي ماتول) دي. (اَیضاً) (یاد ساتئ! صِلۀ رِحمي کول واجِب دي او قطعِ رِحمي کول حرام او جَهَنّم ته بوتلونکې کار دې)

(۷) صِلۀ رِحمي دا ده چه بل تَعَلُّق پریږدي او ته ئې جوړوې

صِلۀ رِحمي (یعني د خپلوانو سره ښه سُلوك) صِرف دا نه دې چه که هغه ښه سلوك کوي نو ته هم ښه سلوك کوې، داسې کول خو په حقیقت کښې مُکافاة یعني د بدل کار دې یعني چه هغه ستا کره څه څیز راولیږو نو تا د هغه کره ور ولیږو، هغه تاسو کره راغې ته د هغه کره وَرَغلې. په حقیقت کښې **صِلۀ رِحمي** (یعني د خپلوانو سره ښه سُلوك) دا دې چه هغه تَعَلُّق پریږدي او ته ئې جوړوې، هغه ستا نه جُدا کیدل غواړي، لاپروائي کوي او ته د هغه سره د خپلوئ د حقونو خیال او لِحاظ ساتې. (رَدُّالمُحتار ج۹ص۶۷۸)

د حُسنِ ظَن [یعني ښه ګُمان] ساتلو طریقه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ذِکر کړې شوي ووه واړه **مَدَني ګلونه** د ډیرې توجُّه وړ دي، بِالخصوص ووم **مَدَني ګل** چه په هغې کښې د "بدل" ذکر دې د دې په باره کښې عرض دې چه نن صبا عام طور هم داسې "د بدل کار" کیږي. که یو خپل هغه ته د واده دعوت ورکوي نو دا هم هغه ته دعوت ورکوي، که هغه دعوت ورنکړي نو دا ئې هم نه ورکوي. که هغه یو خپل ده ته د ډیرو کسانو دعوت ورکړو او دې بل بیا د کمو کسانو دعوت ورکړو نو په دې باندې هغې وړومبې ډیر زیات خفګان ښکاره کوي او اعتراضونه او غیبتونه کوي. هم دغسې که یو خپل د ده په غم ښادئ کښې شریك نه شي نو دې هم د هغه په غم ښادئ کښې نه شریك کیږي او دغسې د

دواړو په مینځ کښې جُدائي نوره هم زیاته شي. حالانکه که څوك زمونږه په غم ښادئ کښې نه وي شریك شوې نو د هغه په باره کښې د نیك ګُمان ساتلو ډیرې لارې وتلې شي. مَثلاً هغه نه راتلونکې به بیمار شوې وي، د هغه نه به هیر شوي وي، څه ضروري کار به ئې پیښ شوې وي، یا څه سخته مجبوري به ئې وي چه د هغې ښکاره کول به هغه ته ګران وي وغیره. که هغه د خپلې غیر حاضرئ سبب ښکاره کړي یا نه، مونږ ته د ثواب او د جنّت لاره هوارَوَلو د پاره نیك ګُمان ساتل پکار دي. چنانچه **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: **حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ** یعني ښه ګُمان ښه عِبادت دې. (ابو داؤد ج٤ ص٣٨٨ حدیث٤٩٩٣)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي **احمد یار خان** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك مُختلف مطلبونه لیکي: یعني د مسلمانانو په باره کښې ښه ګُمان کول، د هغوئ په باره کښې **بدګماني** نه کول دا هم په ښو عبادتونو کښې یو **عِبادت** دې. (مِراٰۃُ المَناجِیح ج٦ ص٦٢١)

د جَنّت مَحَل به هغه ته ورکول شي څوك چه....

فرض کړئ چه زمونږه یو خپل د سُستئ په سبَب یا په څه بَلَه وجه قصداً زمونږ کره رانغلو یا ئې مونږه خپل دعوت ته ونه بَلَلُو بلکه که هغه زمونږه سره ښکاره بدسُلوکي هم وکړه بیا هم مونږ ته حوصله غټه ساتل پکار دي او تَعَلُّقات برقرار ساتَل پکار دي، د **حضرت** سَیِّدُنا اُبَیّ بِن کَعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه د مدینې د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: د چا چه دا خوښه وي چه د هغه د پاره (په جَنّت کښې) مَحَل جوړ کړې شي او د هغه دَرَجات اوچت کړې شي، هغه ته پکار دي چه څوك په هغه ظلم وکړي دا هغه مُعاف کړي او څوك چه هغه محروم کړي [یعني څه څیز یا دعوت وغیره ور نکړي] دې ئې هغه ته ورکړي او څوك چه د هغه سره تعَلُّق پریږدي دې د هغه سره تعَلُّق جوړ کړي. (اَلمُستَدرَك لِلحاکِم ج٣ ص١٢ حدیث٣٢١٥)

دُښمني پټوونکو خپلوانو ته صدقه ورکول ډیر زیات غوره دي

بهرحال که څوك زمونږه سره ښه سُلوك کوي او که نه مونږ ته ښه سلوك کول جاري ساتل پکار

www.dawateislami.net

دي. د "مُسنَدِامامِاَحمد" په حدِیثِ پاك کښې دې: اِنَّ اَفْضَلَ الصَّدَقَةِ اَلصَّدَقَةُ عَلٰی ذِی الرَّحِمِ الْکَاشِح بیشکه د ټولو نه زیاته غوره صَدَقه هغه ده کومه چه دُښمني پټوونکي [یعني پټه ساتلو والا] خپلوانو باندې وکړې شي. (مُسنَدِ اِمامِ اَحمد ج۹ ص۱۳۸ حدیث۲۳۵۸۹)

د خپلوان نه چه کله سخت غم ورپیښ شو

امیرُ الْمُؤمِنِین حضرت سَیِّدُنا ابُوبکر **صِدِّیق** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته خپل د ترور ځوئ غریب او بې وسه، مهاجِر بَدري صحابي حضرتِ سَیِّدُنا مِسطَح رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه سخت خفګان ورسیدو او دوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به [د دې نه مخکښې] د هغوئي [یعني د حضرتِ سَیِّدُنا مِسطَح رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ] خرچ برداشت کولو هغه داسې چه هغوئی د سَیِّدُنا ابُوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ګرانه لُور یعني اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا باندې د تُهمت لګوونکو سره مُوَافَقَت [یعني ملګرتیا] کړې وه. (هغه اوګده قِصّه ده، هغې ته "واقِعۂ اِفك" وائي د هغې ذِکر په صفحه ۱۷۶ راروان دې) په دې وجه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خرچ نه ورکولو قسم وخوړلو. په دې باندې د سیپاره ۱۸ سُورَۃُالنُّور آیت ۲۲ نازِل شو. هغه آیتِ مُبارکه دا دې:

وَ لَا یَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَ السَّعَةِ اَنْ یُّؤْتُوْۤا اُولِی الْقُرْبٰى وَ الْمَسٰكِیْنَ وَ الْمُهٰجِرِیْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ۪ وَ لْیَعْفُوْا وَ لْیَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ یَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۲۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او قسم دِ نه خوري هغه څوك چه په تاسو کښې فَضِیلت لرونکي او وَس لرونکي دې خپلوانو او مِسکِینانو او د **الله** په لار کښې هِجرت کونکو ته د ورکړې نه، او پکار ده چه مُعاف ئې کړي او له خبرې تیر شي آیا تاسو دا نه خوښوئ چه **الله** مو وبخښي او الله بخښونکې مهربانه دې.

چه کله زمونږه **خوږ نبی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آیت ولوستلو نو حضرت سَیِّدُنا ابُوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُووئیل: بیشکه زه غواړم چه **الله** (تعالٰی) زما بخښنه وکړي او ما به چه د مِسطَح (رَضِیَ اللّٰہُ

تَعَالٰی عَنْہُ) سره کوم سُلوك کولو هغه به کله هم نه بندووم چنانچه هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) هغه (مالي اِمداد) جاري کړو. د دې آیت نه معلومه شوه چه څوك د څه خبرې قسم اُوخوري بیا ورته معلومه شي چه د هغې کول غوره دي نو پکار ده چه هغه کار وکړي او **د قسم کَفَّاره** ادا کړي، په صحیح حدیث کښې هم داسې راغلي دي. نور فرمائي: د دې آیت نه د حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فضِیلت ثابِت شو، د دې نه د هغوئي د شان او مرتبې اوچت والې معلومیږي چه **الله** تعالٰی هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) ته (په آیتِ قُرآني کښې)اُولُوالفَضل (یعني فضیلت والا) اُوفرمائیلو. (خَزائِنُ العِرفان ص۵۶۳) **د الله** تعالٰی **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

بیاں ہو کس زَباں سے مرتبہ صدّیقِ اکبر کا ہے یارِ غار محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا

مقامِ خوابِ راحت چَین سے آرام کرنے کو
بنا پہلوئے محبوبِ خدا صدّیقِ اکبر کا (ذوقِ نعت)

څوك بیانولې شي مرتبه د صِدِّیق اکبر یارِ غار دې مَحبوبِ خُدا د صِدِّیق اکبر
مقام جوړ شو د سکون او د ارام د خوب د پاره په څنګ کښې د محبوبِ خُدا د صِدِّیقِ اکبر

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

قَسَم او د هغې د کَفّارې بیان (حَنَفی)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اَمیرُ المُؤمِنِین عاشِقِ اکبر، حضرتِ سَیِّدُنا **صِدِّیق اکبر** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په واقعه کښې د **قَسَم** او په تفسیر کښې **د قَسم د کَفَّارې** ذکر دې، ولې چه نن صبا د ډیرو خلقو په خبره خبره د قسمونو خوړلو عادت عام دې، ډیر ځل د دروغو قسم هم خوړل شي، نه د توبه کولو نه خبر وي او نه د کَفّارې په باره کښې څه معلومات لري، لِهٰذا اُمَّت سره د ښیګړې کولو د ثواب

www.dawateislami.net

ګټلو د حِرص په سَبَب **د نیکئ د دعوت** په طور لږ په تفصیل سره د قَسَم او د هغې د کَفّارې په باره کښې **مَدَني ګلونه** وړاندې کووم، قبول ئې کړئ. دا د شروع نه واخله د آخِرې پورې ولولئ یا د بعضې اسلامي ورونړو په شریکه د دې درس ورکول به صرف فائِده مند نه بلکه اِنْ شَآءَاللّٰه تَعَالٰی ډیر زیات فائِده مند به ثابت شي.

د قَسَم تعریف

قَسَم ته په عَرَبي ژبه کښې "**یَمِین**" وائي او د دې مطلب دې: "ښي طرف" ولې چه عَرَبو به د **قَسَم** خوړلو یا د قَسَم ورکولو په وخت کښې یو بل له ښي لاس ورکولو ځکه د قَسَم نوم "**یَمِین**" پریوتو، یا داسې چه **یَمِین** دَ "**یُمْنْ**" نه جوړ شوې دې چه د دې معنٰی ده "بَرَکت او قُوّت". وَلې چه په قَسَم کښې د **اللّٰه** تَعَالٰی بَرَکَتي نوم هُم یادوي او په هغې باندې په خپله خبره کښې طاقت [یعني وزن] پیدا کوي ځکه دې ته **یَمِین** وائي یعني دَ بَرَکت او قُوَّت والا خبرې. (مُلَخَّص از مِراٰةُ المَناجِیح، ج۵ ص۱۹٤) په شرعي اِعتِبار سره قَسَم هغه **عَقْد** (یعني وعدې) ته وائي چه د هغې په ذریعه قسم کوونکې د یو کار کولو یا نه کولو پخه اِراده کوي. (دُرِّمُختار ج۵ ص٤٨٨) مَثَلاً چا داسې اُووئیل: "قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! زه به صبا ستا ټول قَرض ادا کړم" نو دا قسم دې.

د قَسَم درې قِسمونه

قَسَم په درې قِسمه وي: (۱)**لَغْو** (۲) غَمُوس (۳) مُنعَقِده.

(۱) لَغْو دا دې چه د یو تیر شوي یا موجوده کار په باره کښې په خپل خیال کښې (یعني په ناپوهئ کښې) هغه صحیح ګڼړي او قَسَم اُوخوري او په حقیقت کښې هغه خبره د هغې خِلاف وي، مَثَلاً چا قسم وخوړو چه: "قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! زَید په کور کښې نشته" او د هغه په معلوماتو کښې هم داسې وه چه زید په کور کښې نشته او هغه په خپل ګُمان کښې صحیح قَسَم خوړلې وو خو په حقیقت کښې زید په کور کښې وو نو دا قَسَم "**لَغْو**" دې، دا مُعاف دې او د دې کَفّاره نشته **(۲) غَمُوس** دا دې چه د یو تیر شوي یا موجوده اَمر (یعني کار) په باره کښې قصداً قَسَم اُوخوري مَثَلًا

www.dawateislami.net

څوك قسم اُوخوري چه:"قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! زَید په کور کښې دې" او هغه ته معلومه وي چه په حقیقت کښې زید په کور کښې نشته نو داسې قَسَم ته "**غَمُوس**" وائي او داسې قَسَم خوړلو والا سخت ګنهګار شو، اِستِغفار او توبه پرې فرض ده خو کَفّاره پرې نشته **(۳) مُنعَقِده** دا دې چه د آئِنده د پاره قسم اُوخوري مَثَلًا داسې اووائي: "قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! زه به صبا ستاسو کره ضرور درځم."خو صبا رانغلو نو قَسَم مات شو، هغه به کَفّاره هم ادا کوي او په بعضو صورتونو کښې به ګنهګار هم وي. (فَتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۲)

خُلاصه دا شوه چه قَسَم کوونکې که د یوې تیرې شوې یا موجوده خبرې په باره کښې قَسَم وکړي نو هغه به یا رِښتینې وي یا دروغژن، که رِښتینې وو نو هیڅ باك نشته او که دروغژن وي او هغه قَسَم هغه په خپل خیال کښې [یعني په ناپوهئ کښې] په رِښتیا خوړلې وو نو بیا هم باك نشته یعني ګناه هم نه ده او کَفّاره هم پرې نشته، خو که هغه ته معلومه وي چه زه د دروغو قسم خورم نو ګنهګار شو خو کَفّاره پرې نشته او که هغه د **آئِنده د پاره** د یو کار کولو یا نه کولو **قَسَم** وخوړو نو که هغه خپل قَسَم پوره کړو نو صحیح ده ګنې کَفّاره به هم ورکوي او په بعضو صورتونو کښې به د قَسَم ماتولو په وجه ګُنهګار هم وي. (د دې صورتونو تفصِیل مخکښې راروان دې)

د دروغو قَسَم خوړل ګناهِ کَبِیره ده

د **رسُولِ** بې مِثال صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې:"د **الله** تَعَالٰی سره شِرك کول، د مور او پلار نافرماني کول، یو ساه لرونکې قتل کول او **د دروغو قَسَم** خوړل کَبِیره ګناهونه دي." (بُخاری ج۴ ص۲۹۵ حدیث۶۶۷۵)

د ټولو نه مخکښې د دروغو قَسَم شیطان خوړلې وو

حضرتِ سَیِّدُنا **آدم صَفِیُّ الله** عَلَیْہِ السَّلَام ته د سجده نه کولو په وجه شیطان مردود شوې وو لِهٰذا هغه هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام ته د نُقصان رَسَولو موقع لټوله. **الله** تَعَالٰی حضراتِ سیِّدَینا **آدم و حَوّا** عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام و رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته فرمائیلي وو چه په جَنّت کښې اوسیږئ او چه کوم ځائ هم زړه غواړي خورئ

www.dawateislami.net

څښئ البتّه د دې "وَنې" خوا ته مه ورځئ. شیطان په څه طریقه د حضراتِ سیّدَینا **آدم وحَوّا** عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام و رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا خوا ته ور ورسیدو او ورته ئې اُووئیل: زه تاسو ته "**شَجَرِ خُلد**" وښایم، حضرتِ سَیِّدُنا **آدم صَفِیُّ الله** عَلَیْهِ السَّلَام منع کړو نو شیطان **قَسَم** وخوړو چه زه تاسو سره ښیګړه کوونکې یم. هغوئي سوچ وکړو چه د **الله** پاك د دروغو قَسَم څوك خوړلې شي! چه دا سوچ ئې وکړو نو حضرتِ سیِّدَتُنا حَوّا رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا د هغې نه لږ څه وخوړل بیا ئې حضرتِ سَیِّدُنا **آدم صَفِیُّ الله** عَلَیْهِ السَّلَام ته ورکړل نو هغوئي هُم وخوړل. (مُلَخَّص از تفسِیرِ عبدُ الرَّزاق ج۲ ص۷۶)

څنګه چه په سیپاره ۸ سُوْرَۃُ الْاَعْراف آیت ۲۰ او ۲۱ کښې اِرشاد شوې دې:

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّیْطٰنُ لِیُبْدِیَ لَهُمَا مَا وُرِیَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَیْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِیْنَ ﴿۲۰﴾ وَقَاسَمَهُمَاۤ اِنِّیْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِیْنَ ﴿۲۱﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیا شیطان د هغوئي په زړونو کښې وسوسه واچوَله چه په هغوئي ښکاره کړي د هغوئي د شرم څیزونه کوم چه د هغوئي نه پټ وو او وئیل ئې: تاسو خپل ربّ د دې وَنې نه ځکه منع کړي ئې چه تاسو چرې دوه فرښتې جوړې نه شئ یا همیشه ژوندي اوسیدونکي، او هغوئي ته ئې قَسَم وخوړو چه زه تاسو دواړو سره ښیګړه کوونکې یم.

صَدرُ الاَفَاضِل حضرت عَلّامه مولانا سَیِّد مُحَمَّد نعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په تَفسِیر **خَزائِنُ الْعِرفان** کښې لیکي: معنٰی دا ده چه اِبلِیس مَلعُون [لعنَتي] د دروغو قَسَم وخوړلو او حضرت (سَیِّدُنا) آدم (عَلَیْهِ السَّلَام) ته ئې دوکه ورکړه او **د دروغو وړومبې قَسَم کوونکې اِبلِیس دې،** حضرتِ آدم (عَلَیْهِ السَّلَام) ګُمان هم نه لرلو چه څوك د **الله** تَعَالٰی قَسَم په دروغو خوړلې شي. ځکه هغوئي د هغه په خبره اِعتِبار وکړو.

www.dawateislami.net

د چا د حق خوړلو د پاره د دروغو قَسَم کوونکي جَهَنَّمي دي

د نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظیم دي: څوك چه په قَسَم خوړلو د یو مسلمان حق اُوو اللّٰہ تَعَالٰی د هغه د پاره جَهَنّم واجِب کړي او په هغه باندې جَنّت حرام کړي. عرض وکړې شو: یا رسُولَ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اګرکه هغه معمولي څیز وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: "اګرکه د پِیلُو خاخ وي." (مُسلِم ص۸۲حدیث ۲۱۸.(۱۳۷)) پِیلُو یوه وَنه ده چه د هغې د څانګو او جرړو نه مِسواك جوړوي.

د دروغو قسم کونکي به په حشر کښې لاس او ښپې پریك کړي شوي وي

یو حَضرَمي (یعني د یَمَن د ښار "حَضْرَمَوت" اوسیدونکي) او یو کِندي (یعني د قبیلۀ کِندَه یو کس) د مدینې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د یَمَن د یوې زمکې په باره کښې خپله مُقَدَّمه پیش کړه، حَضرَمي عرض وکړو:"یا رَسُولَ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما زمکه د ده پلار زما نه په زور اَغستې وه، اوس هغه د ده په قبضه کښې ده." نو نَبِیِّ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تپوس وکړو: "آیا ستا سره څه ګواهي شته ؟" عرض ئې وکړو:"نه، خو زه به ده له قَسَم ورکووم چه د اللّٰہ تَعَالٰی قَسَم دِ اُوخوري چه ده ته دا نه ده معلومه چه هغه زما زمکه ده کومه چه د ده پلار زما نه په زور قبضه کړي وه." کِندي د قَسَم خوړلو د پاره تَیّار شو نو رَسُولِ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: "څوك چه (د دروغو) قَسَم اُوخوري او د چا مال لاندې کړي هغه به په بارګاهِ اِلٰهي کښې په داسې حالت کښې پیش کیږي چه دَ هغه ښپې او لاسونه به پریك کړې شوي وي."چه دا ئې واوریدل نو کِندي اُووئیل: دا زمکه د هغه (یعني حَضرَمي) ده. (سُنَنِ ابو داؤد ج۳ ص۲۹۸ حدیث۳۲٤٤)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یارخان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك لاندې لیکي: سُبْحٰنَ اللّٰہ! دا دې اثر د هغه مبارکې ژبې چه په دوو خبرو کښې د هغه (کِندي) د زړه حال بدل شو او رِښتیا خبره ئې وکړه او په زمکه د خپلې دعوې نه دست برداره شو. (مِراٰۃُ المَناجِیح ج۵ ص۴۰۳)

www.dawateislami.net

د ووه زمَکو امیل

د **رِشوَتونو** په ذریعه په پرَدو ځائیونو بِلدِنګونه جوړولو والا، د خلقو نه په اِجاره اغستي د کروندې زمکې لاندې کوونکو زمینداروِ، خانانو او خیانت کوونکو زمینداروِ ته سخت یَریدل او فوراً توبه وِیستل پکار دي او د چا حقونه ئې چه لاندې کړي دي هغه فوراً ادا کول پکار دي ځکه چه په "**مُسلِم شریف**" کښې د **سرکارِ نامدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "کوم کس چه د چا یوه لویشت زمکه په ناحقه طور واخلي نو هغه ته به دَ قیامت په ورځ د ووه زمَکو طَوق (یعني اَمیل) ور په غاړه کړې شي." (صحیح مُسلِم ص۸٦۹ حدیث۱٦۱۰)

عامه لار د شریعت د اِجازت نه بغیر مه ګیروئ

بعضې خلق عامه لار[دَ شریعت] دَ اِجازت نه بغیر ګیره کړي چه په هغې کښې ډیر صورتونه د خلقو د پاره د سخت تکلیف باعِث جوړیږي، مَثَلاً (۱) په غټ اختر کښې د قربانئ ځاروي د خرڅولو یا په کرایه باندې د ساتلو د پاره یا د حلالولو د پاره بعضو ځائیونو کښې بعضې خلق بې د شرعي اِجازته پوره پوره کوڅې ګیري کړي (۲) په لار کښې د تکلیف ورکوونکي حده پورې کچره [ډیران، خَزَلې] یا ملبه اچوي، د تعمیراتو د پاره غیر ضروري طور د شګو او سریا دلئ جوړې کړي او هم دغسې د تعمیراتو پوره کیدو نه پس په میاشتو میاشتو پاتې شوې سامان او ملبه پرته وي (۳) د غم ښادئ د دعوتونو او نیازونو [خیراتونو] په موقعو په کوڅو کښې دیګونه پخول شي او د هغې په وجه کله کله په زمکه کښې قوتي [یعني کډې] جوړې شي او بیا په هغې کښې د کچرې او ګنده اوبو په ذریعه ماشي پیدا کیږي او بیمارئ خوریږي (٤) عامې لارې اوکني خو د ضرورت پوره کیدو باوجود ئې نه بیرته ډکوي او نه ئې هوارَوي (٥) د اوسیدو یا کاروبار د پاره په ناجائِزه طریقه ځائیونه داسې قبضه کړي چه [د هغې په وجه] د خلقو لار تنګه شي. د دې ټولو د پاره د غور مقام دې.د **دعوتِ اسلامي** دَ اِشاعتي ادارې مَکتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۸۵۳ صفحو کتاب"**جهنّم میں لے جانے والے اعمال** (جلد اوّل)" صفحه ۸۱٦ کښې اِمام اِبنِ حَجَر مَکِّي شافِعِي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ کبیره ګناه نمبر

۱۵ کښې دا فِعل (یعني دا کار) گناهِ کبیره قرار کړې دې، فرمائي: ”په عامه لار کښې غیر شرعي تَصَرُّف کول [یعني کار لرل] چه د هغې په وجه خلقو ته سخت نُقصان رسي“ د دې په سَبَب بیانوَلو کښې لیکي: دا ځکه چه د داسې کولو په وجه خلقو ته تکلیف رسي او دا په ظلم د هغوئي حقونه لاندې کول دي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”چا چه یوه لویشت زمکه د ظلم په طور واغسته، د قیامَت په ورځ به د ووه واړو زمَکو نه د هغه همره حِصّې طوق [یعني امیل] جوړ کړې شي او هغه ته به ور په غاړه کړې شي.“ (صحیح بُخاري ج۲ ص۳۷۷ حدیث۳۱۹۸)

د دروغو قَسَم کورونه ورانوي

د دروغو د قَسَم دَ نُقصاناتو نقشه زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه **اِمام احمد رضا خان** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن داسې بیان کړې ده، فرمائي: **د دروغو قَسَم** کورونه ورانوي. (فتاوٰی رَضَوِیَّہ مُخَرَّجہ ج۶ ص۶۰۲) په یو بل مقام کښې لیکي: د دروغو قَسَم په تیره شوې خبره قَصداً (خوړونکي باندې اگر چه) کَفّاره نشته، خو د دې سزا دا ده چه **د جَهَنَّم په خوټکیدلو اوبو کښې به غوپې ورکولې شي.** (فتاوٰی رَضَوِیَّہ ج۱۳ ص۶۱۱)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! لږ سوچ وکړئ چه **اللہ** تَعَالٰی چا چه مونږه پیدا کړي یو، پوره کائِنات ئې تَخلَیق [یعني جوړ] کړې دې، چه هغه ته هره هره خبره ښکاره ده، یو څیز د هغه نه پټ نه دې، تر دې چه د زړونو په حال هم هغه ډیر ښه خبردار دې، هغه رحمٰن او رَحِیم هم دې او قَهّار و جَبّار هم دې، د هغه رَبُّ الانام په نوم اغستلو د دروغو قَسَم خوړل څومره د غټې نادانئ خبره ده او هغه هم د دُنیا د عارضي (ختمیدونکي) فائِدې یا د یو څو روپو د پاره!

یهودیانو د شانِ مُصطفٰی پټولو د پاره د دروغو قَسَم خوړلې وو

د یهودیانو عالِمَانو او د هغوئي سردارانو **ابُو رافِع، کِنانہ بِن اِبِی الْحُقَیق، کَعْبُ بِن اشرف او حُیَیّ بِن اَخطَب د اللہ** تَعَالٰی هغه عهد [یعني وعده] پټه کړه کومه چه په رَسُولِ مُحتَرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د اِیمان راوړلو مُتَعَلِّق په تَوریت شرِیف کښې اغستې شوي وه. هغه داسې چه هغوئي هغه [آیتونه] بدل

www.dawateislami.net

کړل او د هغې په ځائ ئې په خپلو لاسو بل څه ولیکل او **د دروغو قَسَم** ئې وخوړو چه دا د **الله** تَعَالٰی د طرفه دي، دا هر څه هغوئي د خپلې ډلې د جاهِلانو نه د رِشوَتونو او مال و زر حاصِلولو د پاره کړي وو. د هغوئي په باره کښې دا آیتِ مُبارکه نازِل شو:

اِنَّ الَّذِیۡنَ یَشۡتَرُوۡنَ بِعَهۡدِ اللّٰهِ وَ اَیۡمَانِهِمۡ ثَمَنًا قَلِیۡلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمۡ فِی الۡاٰخِرَةِ وَلَا یُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا یَنۡظُرُ اِلَیۡهِمۡ یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ وَلَا یُزَكِّیۡهِمۡ ۪ وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۷۷﴾

(پ3 آل عمران ۷۷)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: څوك چه د الله د عهد او د خپلو قَسَمونو په بدله کښې د دُنیا ذلیل قِیمَت اخلي په آخِرت کښې د هغوئي هیڅ حِصّه نشته او الله به نه د هغوئي سره خبرې کوي او نه به د هغوئي طرف ته نظر فرمائي د قِیامت په ورځ، او نه به هغوئي پاك کوي او د هغوئي د پاره دردناك عذاب دي. (تفسِیرِ خازن ج۱ ص۲۶۵)

شِین سـ ګې مُنافِق

یو مُنافق چه نوم ئې **عَبدُالله** بِن نَبتَل ووهغه به **درسُولِ اکرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې حاضر اوسیدو او د دې ځائ خبره به ئې یهودیانو ته رَسَوَله، یوه ورځ حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل مبارك کور کښې تشرِیف فرما وو، حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: اوس به یو سړې راځي چه د هغه زړه ډیر زیات سخت دې او د شیطان په سترګو ګوري، په لږ ساعت کښې **عَبدُ الله** بِن نَبتَل راغې، د هغه سترګې شنې وې، حضور سَیِّدِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته اُوفرمائیل: ته او ستا ملګري مونږ ته ولې کنزلې کوئ؟ هغه **قَسَم** وخوړو چه زه داسې نه کووم او خپل ملګري ئې راوستل، هغوئي هم **قَسَم** وخوړو چه مونږه تاسو ته کنزلې نه دي کړي، په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو:

اَلَمۡ تَرَ اِلَی الَّذِیۡنَ تَوَلَّوۡا قَوۡمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ ؕ مَا هُمۡ مِّنۡكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ ۙ وَیَحۡلِفُوۡنَ عَلَی الۡكَذِبِ وَهُمۡ یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۴﴾ (پ۲۸ مجادلة ۱۴)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا تاسو هغوئي ونه لیدل څوك چه د داسې خلقو دوستان شو په چا چه د **الله** غَضَب دې، هغوئي نه ستاسو نه دي او نه د هغوئي نه، هغوئي **د دروغو قَسَمونه** خوري. (خزائِنُ العِرفان)

جَهَنَّم ته د بوتلو حُکم به وشي

منقول دي چه د قیامت په ورځ به یو کس د **الله تَعَالٰی** په بارګاه کښې ودرولې شي، **الله تَعَالٰی** به د هغه جَهَنّم ته د بوتلو حُکم اُوفرمائي. هغه به عرض کوي: یا **الله!** زه په څه وجه جَهَنَّم ته لیږلې شم؟ ارشاد به وشي: لـمونځونه د هغې د وخت تیرولو نه پس کولو او زما د نوم **د دروغو قَسَمونو** خوړولو په وجه. (مُکاشَفَةُ القُلُوب ص۱۸۹)

د دروغو قَسَم خوړلو والا تاجِر د پاره درد ناك عذاب دې

حضرت سَیِّدُنا اَبوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه د **الله تَعَالٰی** مَحبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې: "درې کسان داسې دي چه د هغوئي سره به **الله تَعَالٰی** نه خبرې کوي او نه به په هغوئي د کرم نظر فرمائي او نه به هغوئي پاك کوي بلکه د هغوئي د پاره دردناك عذاب دې." هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه د **الله تَعَالٰی** حَبِیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره درې ځله ارشاد اُوفرمائیله نو ما عرض وکړو: هغوئي خو تباه او برباد شو، هغه خلق څوك دي؟ ارشاد ئې اُوفرمائیل: (۱) په تکَبُّر خپل لَنګ [پرتوګ وغیره د کِیټو/ پرکو نه ښکته] زوړندَولو والا او (۲) احسان زبَاتَلو [یعني یادولو] والا او (۳) د دروغو په قَسَمونو خوړلو خپل مال خرڅوونکې. (صحیح مُسلِم ص۶۷ حدیث۱۷۱ (۱۰۶))

د دروغو په قسم بَرَکت ختم شي

د دې رِوایت نه دِ خصوصاً هغه تاجِران او دُکانداران عِبرَت واخلي څوك چه د **دروغو په قَسَمونو** خوړلو خپل مال خرڅوي، د څِیزونو عیبونه پټولو او په بیکاره او خراب مال باندې زیاته ګټه حاصلولو د پاره بې شمیره **قَسَمونه** خوري او په دې د هیڅ قِسم شرم نه محسوسوي، د دوئي د پاره د شرم مقام دې ځکه چه د **رَسُولِ اکرم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: د دروغو په قَسَم سودا خرڅه شي او بَرَکت ختم شي. (کَنزُ العُمّال ج۱۶، ص۲۹۷ حدیث۴۶۳۷۶) یو بل ځائ کښې فرمائي: "قَسَم سامان خرڅولو والا دې او بَرَکت ختمولو والا دې." (صحیح بُخاری ج۲ ص۱۵ حدیث۲۰۸۷)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د دې حدیثِ پاك نه لاندې فرمائي: د بَرَکت ختمیدو نه مُراد آئِنده د کاروبار بندیدل وي یا په روان کاروبار کښې نُقصان کیدل وي، یعني که تا **د دروغو په قَسَم** په چا خراب مال خرڅ کړو نو هغه خو به یو ځل دوکه اُوخوري خو بیا به نه راځي او بل ته به هُم وائي چه مه ورځه، او کوم رقم چه تا د هغه نه حاصل کړو په هغې کښې به بَرَکت نه وي ځکه چه په حرام کښې بَرَکت نه وي. (مِراٰةُالمَناجِیح ج٤ص٣٤٤)

د خِنزِیر په شان مړې

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَکْتَبَةُالْمَدِیْنَه** د (۳۲ صفحو) په رِساله **"کفن چوروں کے اِنکِشافات"** کښې دي: **یو** ځل د خلیفه عبدُالمَلِك خوا ته یو کس یَریدلې حاضر شو او وئیل ئې: **بادشاه سَلامت!** زه ډیر زیات ګُنهګار یم اودا معلومات غواړم چه آیا زما دپاره مُعافي شته او که نه؟ **خَلیفه** اُووئیل: آیا ستا ګناه د زمکې او د آسمان نه هم غټه ده؟ هغه اُووئیل: آو غټه ده. **خَلیفه** تپوس وکړو: آیا ستا ګناه د لَوح و قلم نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَلیفه** بیا تپوس وکړو: آیا ستا ګناه د عرش او کُرسئ نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَلیفه** اُووئیل: وروره یقیناً ستا ګناه د **الله** تَعَالٰی د رَحمت نه غټه نه شي کیدې. دا ئې چه واوریدل نو [د **الله** تَعَالٰی د رحمت په اُمّید] د هغه د سترګو نه اوښکې روانې شوې او په چغو چغو په ژړا شو. خلیفه اُووئیل: وروره آخِر تا داسې کومه ګُناه کړې ده! هغه اُووئیل: **صاحِبه!** زه ډیر سخت شرمِنده یم خو بیا ئې هم تاسو ته عرض کووم، د دې د پاره چه کیدې شي زما د توبې څه لار رااُوځي. بیا هغه خپل **خوفناك داستان** اورول شروع کړل: وئیل ئې: بادشاه سلامت! زه **د کفنونو غل** یم، نن شپه ما د **پینځۀ قبرونو** نه عِبرت حاصِل کړو او توبه وِیستلو ته تیار شوم. بیا هغه د پینځۀ قبرونو عِبرتناك حالات بیان کړل، **د یو قبر حال** هغه داسې بیان کړو: د **کفن** غلا کولو د پاره چه کله ما **دویم قبر** اوکنستلو نو یو خوفناك منظر مې ولیدو! څه وِینم **چه د مړي مخ د خِنزیر په شان شوې دې او هغه په زنځیرونو تړلې شوې دې.** غیبي آواز راغلو: ده به **د دروغو قَسَمونه** خوړل او **حرامه روزي** به ئې ګټله. (مَاخوذ اَز تَذکِرَةُالواعِظِین ص٦١٢)

www.dawateislami.net

په زړه تور ټکې

د **خاتَمُ المُرسَلِین، رَحمَةٌ لِّلْعٰلَمِین** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "څوك چه قَسَم اُوخوري او په هغې کښې د ماشي د وَزَر هُمره دروغ شامِل کړي نو هغه "قَسَم" به دَ قِیامت د ورځې پورې د هغه په زړه باندې (تور) ټکې جوړ شي." (اِتحافُ السَّادة لِلزَّبیدی ج۹ ص۲۴۹)

قَسَم دِ صِرف د رِښتیاؤ خوړل شي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! وَیَریږئ! ولړزیږئ!! یَقِیناً د **اللہ** تَعَالٰی عذاب هیڅ څوك هم نه شي برداشت کولې که په تیر شوي وخت کښې مو **د دروغو قَسَمونه** خوړلي وي نو فوراً توبه اوباسئ او دا خبره ښه پخه یاده ساتئ چه که چرې دَ قَسَم خوړولو حاجت پیښ شي نو صِرف او صِرف **د رښتیاؤ قَسَم** خورئ.

د مُسلمان په قَسَم یقِین کول پکار دي

که یو مسلمان زمونږه په مخکښې په یوه خبره **قَسَم** اُوخوري نو مونږ ته ښه گُمان ساتل پکار دي او د هغه په خبره یقین کول پکار دي، اِمام شَرَفُ الدِّین نَوَوِي رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه د مسلمان ورور په **قَسَم** اِعتِبار کول او هغه پوره کول مُستَحَب دي په شرط د دې چه د فساد وغیره اِمکان پکښې نه وي. (شرحِ مُسلِم لِلنَّوَوِی ج۱۴ ص۳۲)

تا غلا نه ده کړې

حضرتِ سَیِّدُنا ابُو هُریره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د **اللہ** تَعَالٰی د **مَحبُوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې:(حضرت) عِیسیٰ بِن مریم یو کس په غلا کولولیدو نو هغه ته ئې اُوفرمائیل: "تا غلا وکړه،" هغه اُووئیل: "بالکل نه، په هغه [ذات] مې دِ قَسَم وي د چا نه سِوا چه هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته" نو (حضرت) عِیسٰی (عَلَیْہِ السَّلَام) اُوفرمائیل: ما په **اللہ** ایمان راوړو او خپل ځان مې دروغژن کړو. (صحیح مُسلِم ص۱۲۸۸ حدیث۲۳۶۸)

مومِن په دروغو د الله تعالیٰ قَسَم څنګه خوړلې شي

اللهُ اَکبر! تاسو ولیده! حضرت سَیِّدُنا **عیسٰی روحُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام د **قَسَم** خوړلو والا سره څومره عظیم سلوك وکړو. **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د هغه قسم خوړلو والا د پریښودو په باره کښې د حضرت سَیِّدُنا **عِیسیٰ رُوحُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام مُقَدَّس جذبات داسې بیانوي: یعني د دې قَسَم په وجه تا رِښتینې ګڼړم ځکه چه مومِن بنده په دروغو د **الله** (تعالیٰ) قَسَم نه شي خوړلې وَلې چه د هغه په زړه کښې د الله (تعالیٰ) د نوم تعظِیم وي، د خپل ځان مُتَعَلِّق د غلط فهمئ ګُمان کووم چه زما سترګو په کتلو کښې غَلَطي وکړه. (مِراٰۃ ج٦ ص٦٢٣)

د الله تَعَالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

قرآن راپورته کول قَسَم دې که نه؟

د **قُرآنِ** کریم قَسَم خوړل، **قَسَم** دې، البَتّه قُرآنِ کریم صِرف راپورته کول یا په مینځ کښې ایښودل او په هغې لاس ایښودل او بیا څه خبره کول **قَسَم** نه دې. "**فتاوٰی رَضَوِیّه**" جِلد13 ص574 کښې دي: د دروغو په خبره د قُرآنِ مجید **قَسَم خوړل** سخته عظِیمه ګُناهِ کبیره ده او په رښتیا خبره د قُرآنِ مجید **قَسَم** خوړلو کښې باك نشته او که ضرورت وي نو [د قَسَم په وخت کښې ئې] په لاس کښې راغستې هم شي خو داسې کول **قَسَم** ډیر زیات سخت کړي، بې ضرورته داسې کول نه دي پکار. او په صفحه 575 کښې دي: خو مُصحَف (یعني قرآن) شریف په لاس کښې نیول یا پرې د پاسه لاس کیښودل او څه خبره کول که د **حَلْف** او قَسَم سره نه وي نو شرعي قَسَم به نه ګڼړل شي (قُرآنِ کریم صِرف راپورته کول یا په هغې لاس ایښودل یا په مینځ کښې ایښودل به شرعاً قَسَم نه ګڼړل شي) **مَثَلًا** که داسې اووائي چه زه په قرآنِ مجید لاس ګرِدم او وایم چه داسې به کووم او بیا هغسې ونکړي نو کَفَّاره به پرې نه راځي [ځکه چه شرعي قَسَم نه وو شوې] **وَاللہُ تعالٰی اَعْلَم.**

دوه عِبرت ناکې فتوې

(۱) شرابي په لاس کښې قُرآن واغستو او قسم ئې وکړو، بیائې مات کړو!!!

فتاوٰی رَضَوِیّه جِلد ۱۳ صفحه ۶۰۹ کښې د یو شرابي په باره کښې د حُکم معلومولو د پاره څه داسې تپوس شوې دې چه هغه د څلورو ګواهانو په مخکښې **قرآنِ مجید** راواغستو او قَسَم ئې وخوړو چه بیا به شراب نه څښم خو بیا ئې وڅښل. د دې د تفصیلي جواب په آخِره کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: که هغه قرآن راغستې وو او د قرآن په نوم ئې **قَسَم** خوړلې وو یا ئې د **الله** تَعَالٰی په نوم قَسَم خوړلې وو او په ژبه ئې ادا کړې وو او بیا ئې قَسَم مات کړې دې نو په هغه کَفَّاره لازِم ده که هغه قرآنِ مجید راغستې وو او **قَسَم** ئې خوړلې وو نو دا ډیره سخته خبره ده چه قرآن ئې راغستې وو او بیا ئې د دې خلاف ورزي کړې ده او بیا ئې د شرابو نشه وکړه د دې نه د قرآن مجید توهِین [یعني بې ادبئ] ته خبره ورسیده او هغه د قرآن عظیم حق وهلې دې نو په دې سخت کار باندې (یعني چه د قَسَم لفظ ئې نه وي وئیلې او صِرف قرآنِ مجید ئې په لاس کښې راغستې وي نو په دې باندې) **کَفَّاره** نشته بلکه د دې د پاره په هغه باندې لازم دي چه فوراً توبه وکړي او د هغه بد کار (یعني د شرابو نشه) آئِنده د نه کولو پوخ نِیَّت وکړي ګنې د **الله** تَعَالٰی د طرفه دِ د دردناك عذاب او د جَهَنّم د اور اِنتِظار وکړي. وَالْعِیاذُ بِاللهِ تَعَالٰی (یعني او د هغې نه د الله تَعَالٰی پناه). او که په ژبه ئې **قَسَم** نه وي ادا کړې بلکه هُم هغه قرآن راغستل ئې قَسَم ګنړلې وي نو د هغې هم هغه حُکم دې چه په هغې کَفَّاره نشته بلکه د درد ناك عذاب اِنتِظار دِ کوي.

(۲) د دروغو قَسَم خوړونکي ته به دَ جَهَنّم په خوټکیدلي دریاب کښې غوپې ورکولې شي

سوال: په دروغو د **الله** تَعَالٰی د **قَسَم** خوړلو څه کفّاره ورکول پکار دي؟ او که په یو وخت کښې ډیر ځله په دروغو د **الله** تَعَالٰی **قَسَم** اُوخوري نو یوه **کفّاره** ورکړي یا د هر**قَسَم** جُدا جُدا [کفّاره

www.dawateislami.net

ورکړي]؟

جواب: د دروغو قَسَم ئې که په تیره شوې خبره قصداً وخوړو نو د هغې هیڅ کفّاره نشته، د دې سزا دا ده چه **د جَهَنّم په خوټ کیدلي دریاب کښې به غوپې ورکولې شي.** او که د آئِنده [راتلونکي وخت] په څه خبره ئې قَسَم وخوړو او هغه ونشوه نو د هغې کفّاره شته دې، که یو قَسَم ئې خوړلې وي نو یوه او که لس ئې خوړلي وي نو لس [کفّارې دي]. وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَم (یعني الله تَعَالٰی د ټولو نه زیات پوهیږي)

د ډیرو قَسَمونو خوړلو مُمَانَعَت

د رَبِّ کریم جَلَّ جَلَالُہٗ په دویمه سیپاره سُوْرَۃُ الْبَقَرہ آیت ۲۲٤ کښې فرمانِ عظیم دې:

وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او الله د خپلو قَسَمونو نښه مه جوړوئ.

صدرُ الاَفَاضِل حضرت علّامه مولانا سَیِّد مُحمّد نعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې آیت نه لاندې لیکي: بعضې مُفَسِّرِین (رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی) دا هم لیکي چه د دې آیت نه په کثرت سره د قَسَم خوړلو نه مُمَانَعَت ثابتیږي. (حاشِیۃُ الصَّاوی ج۱ ص۱۹۰) حضرت سَیِّدُنا اِبراهِیم نَخَعِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: چه کله مونږه ماشومان وو نو زمونږه مشرانو به په قَسَم خوړلو او په وعده کولو مونږه وهلو.

(صحیح بُخاری ج۲ ص۵۱٦ حدیث۳٦۵۱)

تُو جھوٹی قسموں سے مجھ کو سدا بچا یا ربّ! نہ بات بات پہ کھاوں قسم، خدا یا ربّ!

د دروغو د قَسَم نه مې کړې بچ سدا یا ربّ!
چه نه خورم په خبره خبره قَسَم خُدا یا ربّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

”چپ اوسه سلامت به ئې“ د پینځلّس حروفو په نِسبَت د قَسَم مُتعَلِّق ۱۵ مَدَني ګلونه

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۱۸۲ صفحو کتاب *بهارِ شریعت جلد* **۲** صفحه ۲۹۸ نه ۳۱۱ پورې او ۳۱۹ نه د قَسَم او د هغې د کَفّارې مُتعلِّق **۱۵ مَدَني ګلونه** وړاندې کیږي، (ضرورتاً بعضې بعضې ځائ کښې تَصَرُّف شوې دې)

په خبره خبره قَسَم خوړل نه دي پکار

(۱) قَسَم خوړل جائِز دي خو چه څومره کیدې شي کمې پکښې غوره دې او په خبره خبره **قَسَم** خوړل نه دي پکار او بعضو خلقو قَسَم خپل عادت جوړ کړې وي او په اِراده یا بې اِراده ئې په ژبه (قَسَم) راځي او د دې هم پرواه نه کوي چه خبره رښتیا ده او که دروغ! دا ډیر سخت عیب دې او د غیرِ خُدا **قَسَم** مکروه دې او دا شرعاً **قَسَم** هم نه دې یعني د دې په ماتولو **کَفّاره** نه لازِمه کیږي.

که په غَلَطئ ئې قَسَم وخوړلو نو؟

(۲) که په **غَلَطئ** ئې **قَسَم** وخوړلو مَثَلاً دا ئې وئیل غوښتل چه اوبه راوړه یا اوبه به څښم خو د خُلې نه ئې او وتل چه ”**قَسَم** په خُدائے اوبه به نه څښم“ نو دا هم قَسَم دې که مات ئې کړو نو **کَفّاره** به ورکوي. (بهارِ شریعت ج۲ ص۳۰۰)

(۳) **قَسَم** ماتول که په خپل اختیار وي یا د بل په **مجبوره** کولو وي، قصداً (یعني په اِراده سره) وي یا په هیره، په هر صورت کښې پرې **کَفّاره** شته دې بلکه که په بیهوشئ یا جُنون [یعني لیونتوب] کښې ترې قَسَم مات شو بیا هم پرې کَفّاره واجِب ده هله چه په هوش کښې ئې قَسَم خوړلې وو

www.dawateislami.net

او که په بیهوشئ یا جُنُون (یعني لیونتوب) کښې ئې قَسَم وخوړو نو دا قَسَم نه دې ځکه چه عاقِل کیدل شرط دې او دا عاقِل نه دې. (تَبیِینُ الحقائِق ج۳ ص۴۲۳)

داسې الفاظ چه هغه قَسَم نه وي

(٤) دا الفاظ قَسَم نه دي اګر چه د دې په وئیلو به ګنهګار وي هله چه په خپله خبره کښې دروغژن وي: که زه داسې وکړم نو په ما دِ د **الله** (تعالیٰ) غَضَب وي. په ما دِ د هغه لعنت وي. په ما دِ د هغه عذاب وي. په ما دِ د خُدائے قَهر نازل شي. په ما دِ آسمان راپریوځي. ما دِ زمکه ژوندې راښکاړي. ما دِ خُدائے اووهي. په ما دِ د خدائ لعنت وي. د **رسولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شَفاعَت مې دِ نصیب نه شي. زما دِ د خدائے دیدار نصیب نه شي. دَ مرګ په وخت کښې مې دِ کلِمه نصیب نه شي. (فَتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵٤)

د قَسَم څلور قِسمونه

(٥) بعضې قَسَمونه داسې وي چه د هغې پوره کول ضروري وي، [اوّل] مَثَلاً د داسې کار کولو **قَسَم** ئې وخوړو چه د هغه کار **بې قَسَمه** پوره کول هُم ضروري وو یا ئې د ګناه نه د بچ کیدو **قَسَم** وخوړو (ځکه چه د ګناه نه د بچ کیدو قَسَم ونه خورې بیا هم د ګُناه نه بچ کیدل ضروري دي) نو په داسې صورت کښې قَسَم رښتیا [یعني پوره] کول ضروري دي. مَثَلًا دا ئې اُووئیل چه قَسَم په خدائے د ماسپښین لـمونځ به ضرور کووم، یا غلا یا زِنا به نه کووم. (د قَسَم) **دویم** (قِسم) هغه دې چه د هغې ماتول ضروري وي مَثَلًا د ګناه کولو یا د فرائِضو او واجِباتو نه ادا کولو **قَسَم** ئې وخوړو، لکه داسې **قَسَم** اُوخوري چه لـمونځ به نه کووم یا به غلا کووم یا به د مور او پلار سره خبرې نه کووم نو قَسَم دِ مات کړي. **دریم** هغه چه د هغې ماتول مُستَحَب دي مَثَلًا چه د داسې اَمر (یعني کار) قَسَم ئې وخوړو چه د هغې نه علاوه [بل کار] غوره وي نو دا **قَسَم** دِ مات کړي او هغه دِ وکړي کوم چه غوره دې. **څلورم** هغه چه د مُباح قَسَم ئې وخوړو یعني (د کوم کار) چه کول او نه کول یو شان وي په هغې کښې د قَسَم باقي ساتل [یعني حِفاظت کول] غوره دي. (المَبسُوط لِلسَّرخسی ج٤ ص۱۳۳)

www.dawateislami.net

(٦) د **الله** تَعَالٰی چه هر څومره نومونه دي په هغو کښې چه په کوم نوم **قَسَم** اُوخوري **قَسَم** به وشي اګرکه په عامو خبرو کښې په هغه نوم قَسَم خوړل شي او که نه. مَثَلًا په **الله** تَعَالٰی مې دِ قَسَم وي، په خُدائے مې دِ **قَسَم** وي، په رَحمٰن مې دِ **قَسَم** وي، په رَحِيم مې دِ **قَسَم** وي، په پروردګار مې دِ **قَسَم** وي، هم دغه شان د **الله** تَعَالٰی د کوم صِفَت قَسَم چه خوړل کيږي د هغې قَسَم ئې وخوړو نو قَسَم وشو مَثَلًا د خُدائے په عِزّت و جلال مې دِ **قَسَم** وي، د هغه په کِبريائي مې دِ **قَسَم** وي، د هغه په بُزُرګئ يا په لوئي والي مې دِ **قَسَم** وي، د هغه په عَظَمَت مې دِ **قَسَم** وي، د هغه په قُدرت او طاقت مې دِ **قَسَم** وي، په قرآن مې دِ **قَسَم** وي، په کلامُ الله مې دِ **قَسَم** وي.

(٧) په دې الفاظو هُم **قَسَم** کيږي: حَلفيه وايم. **قَسَم** خورم. زه شهادت [ګواهي] ورکووم. **الله** ګواه کووم چه داسې خبره ده. زما دِ **قَسَم** وي. لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله زه به داسې کار نه کووم. (اَيضاً)

داسې قَسَمونه چه د هغې په ماتوَلو کښې د کُفر ويره ده

(٨) که دا کار وکړم يا مې کړې وي نو يهودي به يم يا نصراني يا کافِر يا د کافرو ملګرې به يم. يا د مرګ په وخت کښې مې دِ اِيمان نصيب نه شي. بې اِيمانه دِ مړ شم. کافِر دِ د دُنيا نه لاړ شم. او دا الفاظ ډير سخت دي ځکه چه که د دروغو داسې **قَسَم** ئې وخوړو يا ئې داسې **قَسَم** مات کړو نو په بعضو صورتونو کښې به کافِر شي. څوك چه داسې **قَسَم** په دروغو اُوخوري د هغه په باره کښې ئې په حديث کښې فرمائيلي دي: "**هغه هُم هغسې دې څنګه چه هغه اُووئيل**" يعني که د يهودي کيدو قَسَم ئې خوړلې وي نو يهُودي شو. هُم دغسې ئې که او وئيل: "اللّٰه ته معلومه ده چه ما داسې نه دي کړي." او دا خبره هغه دروغ وکړه نو د اکثرو عُلَماوُ په نِزد کافِر دې. (بهارِ شريعت ج۲ ص۳۰۱)

يو څيز په ځان حرامول

(٩) څوك چه يو څيز په ځان حرام کړي مَثَلًا اووائي **چه فلانکې څيز په ما حرام دې** نو په دې وئيلو به هغه څيز حرام نه شي ځکه چه **الله** (تعالٰی) يو څيز حلال کړې وي هغه څوك حرامولې شي؟ خو (چه يو څيز ئې په ځان حرام کړو) د هغې په کار راوستلو (يعني اِستِعمالولو) به کفّاره لازِميږي

www.dawateislami.net

یعني دا هُم قَسَم دې. (تَبیِینُ الحقائِق ج۳ص۴۳۶) **ستا سره خبرې کول حرام دي** دا (هُم) قَسَم دې. که خبرې ئې وکړې نو کَفّاره به پرې لازِمه وي. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۸)

د غیرِ خُدا قَسَم "قَسَم" نه دې

(۱۰) د غیرِ خُدا قَسَم "قَسَم" نه دې مَثَلًا ستا قسم. د ځان قَسَم. ستا د ژوند قَسَم. د خپل ژوند قَسَم. ستا د سر قَسَم. د خپل سر قَسَم. د سترګو قَسَم. د ځوانئ قَسَم. د مور او پلار قَسَم. د اولاد قَسَم. د مَذهب قَسَم. د دِین قَسَم. د عِلم قَسَم. د کعبې قَسَم. د عرشِ اِلٰهی قَسَم. د **رسولُ الله** قَسَم. (اَیضاً ص۵۱)

(۱۱) په خدائے او په رسُول مې دِ قَسَم وي دا کار به نه کووم دا قَسَم نه دې. (اَیضاً ص۵۷،۵۸)

(۱۲) که دا کار مې وکړو نو د کافِرو نه دِ بدتر شم (که دا ئې اُووئیل) نو (دا) قَسَم دې او که داسې ئې اُووئیل چه که دا کار مې وکړو نو کافِر به زما نه غوره [یعني افضل] وي نو دا قَسَم نه دې. (اَیضاً ص۵۸)

د بل کس په قَسم ورکولو قَسم نه کیږي

(۱۳) د بل کس په **قَسَم** ورکولو **قَسَم** نه کیږي مَثَلاً دا ئې اُووئیل چه: **ستا دِ په خُدائے قَسَم وي دا کار وکړه.** نو په داسې وئیلو (چا ته ئې چه اُووئیل) د هغه **قَسَم** ونشو یعني [د هغه کار] په نه کولو پرې کَفّاره نه لازِمیږي. یو کس د چا خوا ته ورغلو هغه راپاڅیدو ته ځان تیار کړو ده ورته اُووئیل: **قَسَم** په خُدائے مه راپاڅه او (چا ته ئې چه اُووئیل) هغه راپاڅیدو [یعني ودریدو] نو په هغه **قَسَم** خوړولو والا کَفّاره نشته. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۹،۶۰)

(۱٤) دلته یوه قاعِده یاد ساتل پکار دي چه د هغې په **قَسَم** کښې هر ځائ لِحاظ ساتل ضروري دي هغه دا چه د **قَسَم** د ټولو الفاظو نه به هغه معنې اغستې شي په کومو [معنو] کښې ئې چه اهلِ عُرف [یعني د هغه ځائ د رواج مطابق] اِستعمالوي مَثَلًا چا **قَسَم** وخوړو چه یو مکان ته به هم نه ځم او جُمات یا خانه کعبې ته لاړو نو **قَسَم** ئې مات نه شو اګرچه دا هم مکانونه دي، هم دغسې حَمّام [غسل خانې] ته په تلو کښې به هم دا **قَسَم** نه ماتیږي. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۶۸)

په قَسَم کښې د نِیَّت او غَرَض اِعتبار نشته

(۱۵) په **قَسَم** کښې به د الفاظو لِحاظ ساتل شي، د دې خبرې لحاظ به نه کیږي چه د دې **قَسَم** غَرَض [یعني مطلب] څه دې یعني د هغه الفاظو چه په خبرو اَترو کښې کومه معنٰی وي هغه به مُراد ګنړله شي د **قَسَم** خوړولو والا د نِیَّت او مقصد اعتِبار به نه وي مَثَلًا **قَسَم** ئې وخوړو چه "د فلانکي د پاره به د یوې پیسې یو څیز هم نه اخلم" او د یوې روپئ څیز ئې ورله واخستو نو **قَسَم** مات نه شو حالانکه د دې خبرې مَطلب دا وي چه نه به ورله د پیسې اخلم او نه د روپئ خو د دې لفظ دا معنٰی نه ګنړل شي لِهٰذا د دې اِعتِبار نشته او یا ئې **قَسَم** وخوړو چه "په دروازه به باهر نه اُوځم" او په دیوال واوښتو یا ئې پوړئ ولګوله او [په هغې] باهر ته لاړو نو **قَسَم** مات نه شو اګرچه د دې مطلب دا دې چه د کور نه به باهر نه اُوځم. (دُرِّمُختار ورَدُّالمُحتار ج۵ ص۵۵۰)

په دې باره کښې دَ حضرت سَیِّدُنا اِمام اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو **حِکایت** واورئ چنانچه:

د اَګئ نه خوړلو قَسَم ئې وکړو

یو کس قَسَم وخوړو چه اګئ به نه خورم او بیا ئې دا قَسَم وخوړو چه کوم څیز چه د فلانکي کس په جیب کښې دې هغه به ضرور خورم. بیا ئې چه وکتلو نو د هغه په جیب کښې اګئ وه. د کروړونو حَنَفیانو عظیم اِمام حضرت سَیِّدُنا اِمام اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه تپوس وکړې شو نو وئې فرمائیل: هغه اګئ یوې چرګې ته کیږدئ او چه کله ترې چرګُوټې رااُوځي نو هغه دِ سُور کړي او بیا دِ ئې اُوخوري یا دِ پکښې ښوروا پخه کړي او د ښوروا سره دِ ئې اُوخوري. (په دې صورت کښې به قَسَم پوره شي) (الخیراتُ الحِسان ص۱۸۵)

د الله تَعَالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د قَسَم بعضي الفاظ

که **وَاللّٰه بِاللّٰه تَاللّٰه** ئې اُووئیل نو درې قَسَمونه شو. په خُدائے چه، قَسم دې چه، ـَلفِ شرعي وایم، **اللّٰه** حاضِر ناظِر ګنړم او وایم. **اللّٰه** سَمِیع اوبَصِیر ګنړم او وایم. BY GOD دا ټول د قَسَم الفاظ دي. "**اللّٰه** حاضِر ناظِر ګنړم او وایم" داسې وئیلو سره خو به قَسَم وشي خو **اللّٰه** تَعَالٰی ته حاضِر ناظِر وئیل ممنوع [یعني منع] دي.

د سرکارِ مَدینه ﷺ د قَسَم کولو الفاظ

نَبِیِّ کَرِیم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اکثر"**وَمُقَلِّبِ الْقُلُوب**" (یعني قَسَم دې د زړونو د بدلولو والا) یا "**وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ**" (یعني قَسَم دې په هغه د چا په مبارك لاس کښې چه زما ساه ده) په الفاظو قَسَم اِرشاد فرمائیلو ځنګه چه حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عُمَر (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا) نه رِوایت دې چه رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه زیات تر کوم قَسَم اِرشاد فرمائیلو هغه دا وو: **وَمُقَلِّبِ الْقُلُوب** یعني قَسَم دې د زړونو د بدلَولو والا. (بُخاری ج٤ ص٢٧٨ حدیث٦٦١٧)

د حضور ﷺ قَسَم خوړل

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه په چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب "**ملفُوظاتِ اعلیٰ حضرت**"صفحه ٥٢٨ کښې دي چه زما آقا اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته عرض وکړې شو: [که څوك] د حُضُور (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) **قَسَم** اُوخوري او د هغې خِلاف وکړي نو کَفّاره به پرې لازمیږي که نه؟ نو وئې فرمائیل: نه. (فتاوٰی عالمگیری ج٢ ص٥١)

د پلار قَسَم خوړل څنګه دي؟

د **اللّٰه** تَعَالٰی **مَحبُوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو چه حضرتِ سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په سُورلۍ سور روان دې او هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دخپل پلار **قَسَم** خوړلو. حُضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اِرشاد اُوفرمائیلو: "**اللّٰه** تَعَالٰی تاسو د پلار د **قَسَم** خوړلو نه منع کوي، څوك چه **قَسَم** خوري نو د **اللّٰه** تَعَالٰی **قَسَم** دِ خوري یا دِ چپ اوسي." (صحیح بُخاری ج٤ ص٢٨٦ حدیث٦٦٤٦)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت **مُفتي احمد یار خان** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یعني د غیرِ خُدا د **قَسَم** خورَلو نه منع فرمائیلي شوي دي. ولې چه د عَرَب اوسیدونکو به عام طور د پلار او نیکونو **قَسَم** خورلو ځکه د دې ذکر وکړې شو، د غیرِ خُدا **قَسَم** خورل مکرُوه دي. (مرقاةُالمفاتیح ج٦ ص٥٧٩)

د **الله** تَعَالٰی نه مُراد د ربّ تَعالٰی ذاتي او صِفاتي نومونه دي لِهٰذا د قُرآنِ **مجید قَسَم** خورل جائِز دي ځکه چه قُرآنِ شریف د **کَلامُ الله** نوم دې او **کَلامُ الله** صِفَتِ اِلٰهی دې، په قُرآنِ مجید کښې د زمانې، اِینځر او ښونه [یعني زیتُون] قَسَمونه اِرشاد شوي دي هغه شَرعي قَسَمونه نه دي او دا احکام په مونږه جاري دي په ربّ تَعَالٰی باندې نه. (مِراٰةُالمناجیح ج٥ ص١٩٤، ١٩٥)

که په قَسَم کښې اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی اووائي نو قَسَم به وشي که نه؟

فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي: که په قَسَم کښې ئې اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی اُووئیلو نو د هغې پوره کول واجِب نه دي په شرط د دې چه د اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی لفظ د دې خبرې سره **مُتَّصِل** (لګیدلې) وي او که فاصِله پکښې راغله مَثَلًا قَسَم ئې وخوړو او چپ شو یا ئې په مینځ کښې بله څه خبره وکړه بیا ئې اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی اُووئیلو نو **قَسَم** باطِل [یعني ختم] نه شو. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج٥ ص٥٤٨) **حضرت** سَیِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دې چه رسُولِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "څوك چه **قَسَم** اُوخوري او اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی ورسره اووائي نو حانِث (یعني قَسَم ماتوونکې) به نه وي."
(تِرمِذی ج٣ ص١٨٣ حدیث١٥٣٦)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت **مُفتي احمد یارخان** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یعني د قَسَم سره **مُتَّصِل** (یعني فوراً وریسې) اووائي اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی. خُلاصه دا ده چه که د وعدې یا قَسَم سره مُتَّصِل اِنْ شَآءَاللهُ تَعَالٰی اُووئیل شي نو د دې برخِلاف کولو کښې نه گُناه شته او نه کَفّاره. (مِراٰةُالمناجیح ج٥ ص٢٠١)

www.dawateislami.net

د غټو غټو بریتو والا بدمعاش

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د عِلمِ دِین حاصلولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډك اِجتِماعات هم اهمه ذریعه ده، تاسو هم په خپل ښار کښې کیدونکي د دعوتِ اِسلامي په هفته واره اِجتِماع کښې شرکت کوئ، د دې اِجتِماعاتو په بَرَکت د څنګه څنګه وران کارو خلقو په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راغلو، د دې یو څرك په دې **مَدَني سپرلي** کښې اُوګورئ، چنانچه یو عالِم صاحِب چه د دعوتِ اِسلامي مُبَلِّغ هم دې، هغوئي اُووئیل چه په ۱۹۹۵ء کښې یو کس چه په هغه باندې د ډاکې وهلو زیات و کم ۱۱ کیسونه وو چه په هغې کښې یوه د قتل مُقَدّمه هم شامله وه. یو کال ئې په جیل کښې هم تیر کړې وو. په محکمۀ نهر کښې نوکر هم وو. تنخواه ئې ۳۰۰۰ (یعني درې زره) وه خو هغه به په ناجائِزه طریقو مَثَلًا [سرکاري] وَنو خرڅولو او په غلا اوبه ورکولو ماهانه ۱۰۰۰۰ (یعني لسو زرو) روپو پورې ګټلې. هغه غټ غټ بریت پریښي وو، د شکل نه به ئې ویره کیدله. یوه ورځ پرې ما **اِنفِرادي کوشش** وکړو او د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع دعوت مې ورکړو خو هغه زما دعوت قبول نه کړو، ما هِمّت جاري وساتو او په وقفه وقفه به مې ورته دعوت ورکولو. آخِر دا چه زیات و کم دوه کاله پس هغه زما دعوت قبول کړو او هغه سره د "**طمانچې**" په اِجتِماع کښې شریك شو. اِتِّفاقاً په هغه ورځ زما بیان وو چه هغه د جَهَنّم د عذاب مُتَعَلِّق وو. **د جَهَنّم د تباه کارو** ئې چه واوریدل نو د سخت یخ موسم باوجود د هغه **بدمعاش** جامې په خولو لَمدې شوې. د اِجتِماع نه پس هغه مسلسل ژړل او دا ئې وئیل چه: هائے زما به څه کیږي! ما خو ډیر ګناهونه کړي دي. بیا هغه درې ورځې تبې وکړې. هغه ته د خپلو ګناهونو ډیر زیات اِحساس شوې وو. توبه ئې وکړه او لـمونځونه کول ئې هم شروع کړل. **بل** زیارت هغه ته بیا په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو سَعادت نصیب شو او د جَنَّت په موضوع ئې بیان واوریدو نو اُمِّید ئې پیدا شو. په قلاره قلاره هغه په **مَدَني رنګ** کښې رنګ کیدلو. تر دې چه هغه د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل شو. هغه د خپل کور نه **ټي وي** لرې کړو (ځکه چه په هغې کښې به صِرف د

www.dawateislami.net

ګناهونو نه ډکې چینلې کتلې شوې، او "مَدَني چینل" نه وو شروع شوې) د ګیرې پریښودو او شنې عمامې په سر کولو سَعادت ئې هم حاصل کړو. دا بیان ورکولو وخت کښې هغه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني کارونو کښې مصروف دې او تنظیمي طور په صوبائي سطح باندې د مَجلِس خُدّامُ الْمَساجِد په ذِمّه دارئ باندې موجود دې.

اگر چور ڈاکو بھی آجائیں گے تو سُدھر جائیں گے گر ملا مَدَنی ماحول
گنہگارو آؤ، سیہ کارو آؤ گناہوں کو دیگا چھڑا مَدَنی ماحول
(وسائلِ بخشش ص۲۰۳)

سم به شي غله او ډاکون هم که نصیب شو ورته مدني ماحول
ګنهکارو راشئ، وران کارو راشئ خلاصې به درکړي د ګناه نه مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د قَسَم حفاظت کوئ

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي ترجَمې والا پاکیزه قُرآن "کَنْزُالْاِیْمَان مَع خَزَائِنُ الْعِرْفَان" صفحه ۵۱۶ نه ۵۱۷ څوارلسمه سیپاره سُوْرَةُ النَّحْل آیت نمبر ۹۱ کښې اِرشاد دې:

وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَ لَا تَنْقُضُوا الْاَیْمَانَ بَعْدَ تَوْكِیْدِهَا وَ قَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَیْكُمْ كَفِیْلًاؕ اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۹۱﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د **الله** وعده پوره کړئ چه کله وعده وکړئ او **قَسَمونه** د پخولو نه پس مه ماتوئ او تاسو **الله** په ځان باندې ضامِن کړې دې، بیشکه **الله** ستاسو د کارونو نه خبر دې.

www.dawateislami.net

او په ووه مه سیپاره سُوْرَۃُ المآئِدہ آیت ۸۹ کښې **الله** تعالیٰ فرمائي:

وَاحْفَظُوْٓا اَیْمَانَكُمْ ؕ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان : او د خپلو **قَسَمونو** حِفاظت وکړئ.

صَدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا **سَیِّد محمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْھَادِی په تفسِیر "خَزَائِنُ الْعِرْفَان" کښې د دې آیت لاندې لیکي: یعني هغه پوره کړئ که په هغې کښې شرعاً څه باك نه وي او دا هم حفاظت دې چه د **قَسَم** خوړلو عادت پریږدي.

د غوره کار کولو د پاره قَسَم ماتول

حضرت سَیِّدُنا عَدي بِن حاتِم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما له یو سړې راغلو او هغه سل دِرهمه غوښتل، زه ترې خفه شوم او ورته مې اُووئیل: ته زما نه صرف سلو دِرهمو غوښتلو د پاره راغلې ئې حالانکه زه د حاتِم (طائي) ځوئ یم، **قَسَم په خُدائے** چه! نه ئې درکووم. بیا ما اُووئیل چه: که ما د **رَسُولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا اِرشادِ پاك نه وې اوریدلې چه "چا چه د یو کار قَسَم وخوړو بیا هغه د هغې نه د غوره څیز سوچ وکړو نو هغه دِ هغه غوره کار وکړي." ځکه زه تا ته ٤٠٠ دِرهمه درکووم. (صحیح مُسلِم ص۸۹۹ حدیث۱٦٥۱)

د غوره کار کولو د پاره قَسَم ماتول جائِز دي خو کَفّاره به ورکوي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د غوره کار کولو د پاره د قَسَم ماتولو اِجازت شته دې خو د ماتولو نه پس به **کَفّاره** ورکول وي څنګه چه حضرت سَیِّدُنا **اَبُوالاحْوَص عوف اِبن مالِك** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د خپل والِد نه رِوایت فرمائي: ما عرض وکړو: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اُوفرمائې چه زه د خپل تره د ځوئ خوا ته څه غوښتلو پسې ورځم نو هغه ئې ما ته نه راکوي، نه صِلۂ رِحمي کوي، بیا چه کله هغه زما ضرورت مند شي نو ما له راځي او زما نه څه غواړي. ما **قَسَم** خوړلې دې چه نه به هغه ته څه ورکووم، نه به [د هغه سره] صِلۂ رِحمي کووم. نو ما ته حُضورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم راکړو چه کوم کار غوره دې هغه وکړم او د خپل قَسَم **کَفّاره** ورکړم. (سُنَنِ نَسائی ص٦١٩ حدیث۳۷۹۳)

که په ظُلم ئې د تکلیف ورکولو قَسَم وکړو نو څه وکړي؟

که چا ته ئې په ظُلم د تکلیف ورکولو **قَسَم** وکړو نو د دې **قَسَم** پوره کول ګناه ده. د دې **قَسَم** په بدله کښې به کَفّاره ورکوي. چنانچه په بُخاري شریف کښې دي، د رَحمتِ عالَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دې:که څوك د خپل اهل [یعني د کور د کسانو] مُتَعَلِّق هغوئي ته د تکلیف او ضرر (یعني نقصان) رسَوَلو د پاره **قَسَم** اُوخوري نو په خدائے چه هغه ته ضَرَر ورکول او **قَسَم** پوره کول د **الله** تعالٰی په نِزد زیاته ګُناه ده د دې [خبرې] نه چه هغه د هغه **قَسَم** په بدله کښې کفّاره ورکړي کومه چه **الله** تعالٰی په هغه مُقرّره کړي ده. (بُخاری ج٤ ص٢٨١ حدیث ٦٦٢٥، فتاوٰی رَضَوِیّه ج ١٣ ص٥٤٩)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك نه لاندې فرمائي: یعني چه څوك د خپل کور په کسانو کښې د چا د حق وَهلو **قَسَم** اُوخوري مَثَلًا دا چه زه به د خپلې مور خِدمت نه کووم یا به د مور او پلار سره خبرې نه کووم، د داسې **قَسَمونو** پوره کول ګناه ده. په هغه واجِب دي چه داسې **قَسَمونه** مات کړي او د کور د کسانو حقونه ادا کړي، **یاد ساتئ**! دلته دا مطلب نه دې چه د دې **قَسَم** نه پوره کول هم ګنې ګناه ده او پوره کول ئې ګنې زیاته ګناه ده بلکه مطلب دا دې چه داسې **قَسَم** پوره کول ډیره غټه ګناه ده، دا نه چه پوره کول ئې ګنې ثواب دې، اګرچه د **ربّ** تعالٰی د نوم بې اَدَبي په قَسَم ماتولو کښې وي ځکه په هغې باندې کَفّاره واجب کیږي خو دلته **قَسَم** نه ماتول د زیاتې ګناه سبَب دې. (مِراٰةُ المَناجِیح ج٥ ص١٩٨ مُلَخَّصاً)

د طلاق قَسَم خوړل او [قَسَم] ورکول څنګه دي؟

د چا نه د طلاق **قَسَم** اغستل د منافِق طریقه ده مَثَلًا چا ته دا وئیل: "**قَسَم** اُوخوره چه که فلانکې کار ما کړې وي نو په ما دِ ښځه طلاقه وي." چنانچه زما آقا **اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت،** مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **فتاوٰی رَضَوِیَّه** جلد١٣ صفحه ١٩٨ کښې حدِیثِ پاك

نقل کوي: مُؤمِن د طلاق قَسَم نه خوري او نه چا له د طلاق قَسَم ورکوي خو مُنافِق[یعني منافِق د طلاق قَسَم خوري او بل له د طلاق قَسَم ورکوي]. (اِبنِ عَساکِر ج ۵۷ ص ۳۹۳)

د قَسَم کَفّاره

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي ترجَمې والا پاکیزه قُرآن "کَنْزُالْاِیْمَان مَع خَزَائِنُ الْعِرْفَان" صفحه ۲۳۵ وومه سیپاره، سُوْرَةُ المآئِدہ آیت ۸۹ کښې اِرشادِ رَبُّ الْعِباد دې:

لَا یُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِیْۤ اَیْمَانِكُمْ وَ لٰكِنْ یُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَیْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗۤ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِیْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِیْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ لَّمْ یَجِدْ فَصِیَامُ ثَلٰثَةِ اَیَّامٍ ؕ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَیْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ؕ وَ احْفَظُوْۤا اَیْمَانَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰیٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

(پاره ۷، المآئده: ۸۹)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: **الله** تاسو نه نیسي ستاسو د غلط فَهمئ په **قَسَمونو** خو په هغه **قَسَمونو** مو نیسي کوم چه تاسو مضبوط کړل، نو د داسې **قَسَم** بدله لسو مسکینانو ته طعام ورکول دي په خپل کور والو چه څه خورئ د هغې په اوسط، یا هغوئ ته جامې ورکول دي یا یو بَردَه (یعني غُلام) ازادول، نو چه څوك په دې کښې هیڅ هم ونه موي نو د درې ورځو روژې، دا بدله ده ستاسو د **قَسَمونو**، چه کله **قَسَم** اُوخورئ او د خپلو **قَسَمونو** حِفاظت کوئ. هم دغه شان **الله** تاسو ته خپل آیتونه بیانوي چه تاسو احسان اُومنئ.

د "یا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِین" د دیارلسو حروفو په نِسبَت دَ قَسَم د کَفّارې ۱۳ مَدَني کُلونه

د کَفّارې د پاره د قَسَم شرطونه

(1) د قَسَم د پاره یو څو شرطونه دي، که هغه نه وي نو کَفّاره به پرې نه وي. چه قَسَم خوړلو والا (1) مسلمان (2) عاقِل (3) بالِغ وي. د کافِر قَسَم ، قَسَم نه دې یعني که د کُفر په زمانه کښې

www.dawateislami.net

ئې **قَسَم** وخوړو بیا مسلمان شو نو د هٰغه **قَسَم** ماتولو کَفّاره به پرې نه واجِب کیږي. او **مَعَاذَاللّٰه** (یعني د الله تَعَالٰی پناه) که د **قَسَم** خوړلو نه پس مُرتد شو نو **قَسَم** باطِل شو یعني که بیا مسلمان شو او [هغه] **قَسَم** ئې مات کړو نو کَفّاره پرې نشته او (4) په **قَسَم** کښې دا شرط هم دې چه هغه څیز د څه **قَسَم** ئې چه خوړلې وي عَقلًا مُمکن وي یعني د کیدلو قابِل وي، اګرچه مُحالِ عادي وي [یعني عادتاً د هغې کیدل نه شي کیدې] او (5) په **قَسَم** کښې دا شرط هم دې چه **قَسَم** او هغه څیز د څه **قَسَم** ئې چه خوړلې وي دواړه ئې په یو ځل وئیلي وي که په مینځ کښې ئې فاصِله وي نو **قَسَم** به ونشي مَثلًا بل چا هغه ته اُووئیل چه اووایه، په خُدائے مې دِ **قَسَم** وي! ده اُووئیل: په خُدائے مې دِ **قَسَم** وي! هغه ورته اُووئیل: اووایه، فلانکې کار به کووم، او ده اُووئیل [فلانکې کار به کووم] نو دا قَسَم نه شو. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۱)

د قَسَم کَفّاره

(۲) د قَسَم کَفّاره غلام ازادَوَل یا لسو مِسکِینانو باندې طعام خوړل یا هغوئ ته د اغوستو جامې ورکول دي یعني دا اختیار شته چه په دې درې کارونو کښې کوم یو غواړي او دِ ئې کړي. (تبیِینُ الحقائِق ج۳ ص۴۳۰) (یاد ساتئ چه کوم ځائ کَفّاره ده نو هغه صرف د راتلونکي وخت [خبرې] په قَسَم ده، د تیر شوي یا موجوده [خبرې] مُتَعَلِّق خوړلي شوي قَسَم باندې کَفّاره نشته. مَثَلًا دا ئې اُووئیل چه:"په خُدائے مې دِ قَسَم وي! ما پرون یخې اوبه یو ګِلاس هم نه دي څښلي." که څښلې ئې وې او ورته یاد وو او د هغې باوجود ئې د دروغو قَسَم خوړلې وو نوګنهګار شو، توبه دِ وکړي، کَفّاره پرې نشته)

د کَفّاره اد کولو طریقه

(۳) (لسو) مِسکینانانو باندې به دواړه وخته په مړه خیټه طعام خوري او په کومو مسکینانو ئې چه سحر [یا غرمه] وخوړله هم په هغوئي دِ ئې ماښام هم اُوخوري، په نورو [بدلو] لسو مسکینانانو باندې طعام خوړلو سره به کفّاره ادا نه شي. او داسې کیدې شي چه [یا] په لسو واړو ئې په یوه ورځ (دواړه وخته) اُوخوري یا هره ورځ په یو یو (دوه وخته) یا ئې په یو د لسو ورځو پورې دواړه وخته اُوخوري. او په کومو مسکینانانو ئې چه اُوخوري چه په هغوئي کښې څوك ماشوم نه

www.dawateislami.net

وي او په خوړلو کښې اِباحَت (یعني د خوراك اِجازت ورکول) او تَملِیك (یعني مالِك جوړول چه که غواړي وئې خوري یا ئې که غواړي یوسي) دواړه صورتونه کیدې شي او دا هم کیدې شي چه د خوړلو په ځائ هر مِسکین ته نِیم صاع غنم یا یو صاع وربشې ورکړي (یو صاع په څلورو کلو کښې ۱٦۰ ګرامه کم او نیم صاع په دوه کلو کښې ۸۰ ګرامه کم وي) یا دِ ئې د هغې د قِیمَت مالِك کړي یا دِ ئې هره ورځ یو یو مِسکین ته په قدر د **صَدَقۂ فِطر** [یعني د یوې فِطرې همره] ورکوي یا دِ ئې په بعضو اُوخوري او بعضو ته دِ ئې ورکړي. غَرَض دا چه د هغې (یعني د کَفّارې ادا کولو) ټول صورتونه د هغې نه (یعني د مَکتَبَۃُ المدینه د چاپ شوي بهارِ شریعت جِلد۲ صفحه ۲۰۵ نه ۲۱۷ پورې ورکړې شوي (د ظِهار) د کَفّارې د بیان نه)معلوم کړئ فرق پکښې دومره دې چه هلته (یعني د ظِهار په کفّاره کښې) شپیته مِسکینان وو (او) دلته (یعني د قَسَم په کفّاره کښې) لس دي. (دُرِّ مُختار و ردُّ المُحتار ج۵ ص۵۲۳)

د کَفّارې د پاره نِیَّت شرط دې

(٤) د **کَفّاره** ادا کیدو د پاره **نِیَّت** شرط دې د نِیَّت نه بغیر به نه ادا کیږي خو که هغه څیز کوم ئې چه مِسکِین ته ورکړو او د ورکولو په وخت کښې ئې نِیَّت او نکړو خو هغه څیز تر اوسه د مِسکِین سره دې او اوس ئې نِیَّت وکړو نو ادا شوه څنګه چه زکوٰۃ فقیر ته په ورکولو کښې په نِیَّت کولو کښې هم دا شرط دې چه تر اوسه که هغه څیز د فقیر سره باقي وي نو نِیَّت به کار وکړي ګنې نه. (حاشِیۃُ الطّحطاوی علی الدّر المُختار ج۲ ص۱۹۸)

(٥) که په رَمَضان کښې د **کَفّارې** طعام ورکول غواړي نو ماښام او پیشمَنې دواړو وختو کښې دِ ئې پرې اُوخوري یا دِ په یو مِسکِین باندې د شلو ورځو پورې د ماښام طعام اُوخوري. (الجوهرۃُ النیرہ ص۲۵۳)

په کَفّاره کښې د درې روژو د اِجازت صورت

(٦) که د غُلام ازادَوَلو یا لسو مِسکینانو ته د ډوډئ یا جامو ورکولو قدرت نه لري نو پرله پسې دِ **درې روژې** ونیسي. (اَیضاً)

د کفّارې ورکولو د وخت د حیثیت اِعتبار به وي چه روژې ونیسي او که....

(۷) عاجِزه (یعني مجبوره) کیدل به د هغه وخت په اعتبار سره وي چه کله **کفّاره** ادا کول غواړي مَثَلًا چه څه وخت ئې **قَسَم** مات کړې وو هغه وخت مالدار وو خو د کفّارې ادا کولو په وخت (په مالي اِعتبار) **مُحتاجه** دې نو په روژو **کفّاره** ادا کولې شي او که د قَسَم ماتولو په وخت کښې مُفلِس (او مِسکِین) وو او اوس (د کفّارې ادا کولو په وخت کښې) مالدار دې نو په روژو [نیولو] (کفّاره) نه شي ادا کولې. (الجوهرةُ النیرہ ص ۲۵۳ وغیرها)

د کَفّارې درې واړه روژې پرله پسې کیدل ضروري دي

(۸) که پرله پسې ئې درې روژې ونه نیولې یعني په مینځ کښې ئې فاصِله ورکړه نو **کفّاره** به نه ادا کیږي اګر که د څه مجبورئ په وجه پکښې ناغه راغلي وي، تر دې چه که زنانه ته حیض وشو نو د مخکښې [نیولي شوو] روژو اِعتبار به نه وي یعني اوس دِ د پاك کیدو نه پس (بیا د سره نه) **پرله پسې درې روژې** ونیسي. (دُرِّمُختار ج۵ ص۲٦)

په روژو دَ کَفّارې یو ضروري شرط

(۹) په روژو د **کفّارې** ادا کولو یو شرط دا هُم دې چه دَ ختمیدو پورې (یعني د درې واړو روژو پوره کیدو پورې) په مال قدرت نه لري مَثَلًا که د دوه روژو نیولو نه پس دومره مال په لاس ورغې چه **کفّاره** پرې ادا کولې شي نو اوس په روژو (کفّاره) نه شي ادا کیدې بلکه که دریمه روژه ئې هم نیولي وي او دَ نمر پریوتو نه مخکښې په مال قادِر شو نو **روژې کافي نه دي** اګرچه که په مال قادِر کیدل داسې شوي وي چه د هغه مُورِث (یعني وارِث جوړوونکې [دغه وخت]) په حق ورسیږي او هغه ته په تَرکه (یعني وِراثَت) کښې دومره په لاس ورشي چه هغه دَ **کفّارې** د پاره کافي وي. (دُرِّمُختار ج۵ ص۵۲٦)

د کَفّارې د روژې دَ نِیَّت دوه احکام

(۱۰) په دې روژو کښې د شپې نه [یعني د روژې د بندیدلو د وخت نه مخکښې مخکښې] **نِیَّت** شرط دې او دا هم ضروري دي چه د **کفّارې** په نِیّت وي مُطلق د روژې نِیَّت کافي نه دې. (مَبسوط ج٤ ص١٦٦)

که د قَسَم ماتولو نه مخکښې ئې کفّاره ورکړه نو ادا نه شوه

(۱۱) د **قَسَم** ماتولو نه مخکښې **کفّاره** نشته، او که ور ئې کړه نو ادا نه شوه یعني که د **کفّاره** ورکولو نه پس ئې **قَسَم** مات کړو نو اوس دِ بیا [کَفّاره] ورکړي ځکه چه مخکښې ئې کومه ورکړې ده هغه **کفّاره** نه ده، خو د فقیر نه ورکړې شوې [خیز] بیرته نه شي اغستې. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص٦٤)

د کَفّارې حقدار څوك؟

(۱۲) **کَفّاره** هم هغه مِسکینانو ته ورکولې شي چا ته چه زکوٰة ورکولې شي یعني خپل مور او پلار، اولاد وغیره چا ته چه زکوٰة نه شي ورکولې [هغوئ ته] **کَفّاره** هم نه شي ورکولې.(دُرِّمُختار ج٥ ص٥٢٧)

(۱۳) د قَسَم د **کَفّارې** قِیمت په جُمات کښې نه شي لګولې، نه ئې دَ مړي په کفن کښې لګولې شي یعني کوم کوم ځائ چه زکوٰة نه شي لګولې هلته د **کَفّارې** قِیمَت هم نه شي ورکولې. (عالمگیری ج۲ ص٦٢) (د قَسَم او کَفّارې په باره کښې د تفصیلي معلوماتو دپاره ددعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوې د ۱۱۸۲ صفحو کتاب **بهارِ شریعت** جِلد۲ صفحه۲۹۸ نه ۳۱۱ پورې لوستل ضروري دي)

دِیني او سَماجي اِدارې ته د کَفّارې د رقم ورکولو اَهَمه مَسئَله

که یوې دیني یا د مسلمانانو سَماجي اِدارې ته د کَفّارې رقم ورکول غواړي نو ورکولې ئې شي خو دا به ورته وئیل ضروري وي چه دا د [قَسَم] د کَفّارې رقم دې چه هغوئ هغه رقم جُدا کیږدي او په بیان کړې شوې طریقه ئې په کار راولي یعني یو مِسکِین باندې د لسو ورځو پورې دواړه وخته یا په لسو مِسکینانو دواړه وخته ډوډئ خوړل وغیره. که دِیني اِداره ئې په دِیني کارونو کښې خرچ کول غواړي نو د حِیله کولو شرعي طریقه داده، مَثَلًا یو مِسکین هره ورځ د یوې صَدَقۀِ فِطر یا لس مِسکینان په یوه ورځ د یوې یوې صَدَقۀِ فِطر مالِکان جوړ کړي او هغه ئې د خپل طرفه د دِیني کارونو د پاره وړاندې کړي.

تُو جھوٹی قَسَم سے بچا یا الٰہی مجھے سچ کا عادی بنا یا الٰہی!

www.dawateislami.net

د دروغو د قَسَم نه مې کړې بچ یا اِلٰهي ته راکړې عادت صرف د سچ یا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُالله
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

واه څه به وائې د مَدَني تربِیتي کورس!

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دروغو د قَسَمونو نه د توبې جذبه موندلو د پاره په خبره خبره د قَسَم خوړلو عادت ختمولو د پاره، ضروري دِیني معلومات حاصلولو او په سُنَّتو د عمل کولو عادت جوړَولو د پاره د "**دعوتِ اِسلامي**" په مَدَني ماحول کښې د **٦٣ ورځو مَدَني تربیتي کورس** کیږي، د چا نه چه کیدې شي هغه دِ دا ډیر فائِده مند مَدَني تربِیتي کورس ضرور وکړي، ستاسو د ترغیب او تَحرِیص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره یو **مَدَني سپرلې** وړاندې کیږي، چنانچه د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: زمونږ د علاقې یو ځلمې چه هغه د مو و پلار صرف یو ځوئ وو، د غلط صُحبت په وجه د **چرسو** په نشه اخته شو، د کور نه باهر اوسیدل د هغه عادت جوړ شو، پلار به ئې اکثر دا اَدِیرې [یعني مُقبرې] نه د چرسیانو د مینځه را پاڅولو او کور ته به ئې راوستلو. د کور ټول کسان د هغه په وجه ډیر خفه وو. یوه ورځ یو اسلامي ورور په هغه باندې **اِنفِرادي کوشش** وکړو او هغه ته ئې د **مَدَني تربیتي کورس** کولو ترغیب ورکړو د هغه خوش قِسمتي وه چه هغه تیار شو او د **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مرکز **فیضانِ مدینه** ته راغلو. په کور کښې خوشحالي خوره شوه! ټول کور والؤ دُعاګانې کولې چه دا نیك جوړ شي خو بیا هم یَریدل چه دا چرې بیرته را نه شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ یو څو ورځې پس د هغه څه داسې فون راغې چه "تربیتي کورس ما ته ډیر خوند راکوي، داسې ښکاریږي لکه فیضانِ مدینه ته چه د مَدِینې مُنَوَّرې نه براهِ راست فیض [یعني

www.dawateislami.net

بَرَکتونه] راروان وي ما د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړې ده، اوس زه د جَمعې سره لـمونځونه کووم، سُنّتونه زده کووم او زه په ډیر سکون یم.“

اَلْحَمْدُلِلّٰه د **مَدَني تربیتي کورس** نه چه بیرته راغلو نو واقِعي هغه بالکل بدل شوې وو. د هغه په بدلیدَلو باندې د کور ټول کسان بلکه د ټول ګاونډ والا هم حیران وو. ښکلي نُوراني ګِیره ئې پریښې وه او په سر ئې د شنې شنې عمامې تاج پړقیدلو. هغه چه څنګه راغلو نو د کور په کسانو ئې هم **اِنفرادي کوشش** شروع کړو چه د هغې به بَرَکت ئې والِد صاحِب هُم **ګِیره** پریښوده او د **عمامې شریفې** تاج ئې هُم په سر کړو او په پابندئ سره ئې **د سُنَّتو ډکې هفته واره اِجتِماع** کښې شریك کیدل شروع کړل. والِده مُحترمه ئې د ”**دَرسِ نِظامي**“ او خور ئې د ”**شریعت کورس**“ کولو نِیَّتونه وکړل. د هغه ځلمي هلك پلار مُبلِّغِ دعوتِ اسلامي ته څه داسې اُووئیل چه زه د دعوتِ اِسلامي والؤ د پاره د بَرَکت دُعا کووم، خصوصاً د هغوئ د پاره چا چه زما په ځوئ ”اِنفِرادي کوشش“ وکړو او سمدستي ئې د **٦٣ ورځو مَدَني تربیتي کورس** کولو د پاره بوتلو ځکه چه مونږه د ده د عادتونو نه ډیر زیات پریشانه وو، د هغه والِده خو دومره پریشانه شوې وه چه یوه ورځ ئې د ډیره خفګانه د مَنګوړو [یعني کټملو] مصاله راوړه او وئیل ئې چه یا ئې زه خورم چه مړه شم او یا ئې ده ته ورکووم چه دې مړ شي. اوس د هغه والِده په ژړا ژړا دُعاګانې کوي چه **الله** تعالٰی دِ دعوتِ اسلامي والا سلامت لري ځکه چه د دوئي په کوششونو **زما وران کارې ځوئ نیك جوړ شو.**

اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ تم آجاؤ دیگا سکھا مَدَنی ماحول
تُو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے نہیں ہے یہ ہرگز بُرا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص۶۰۴)

که لرې ته جذبه د سُنّتو زده کولو راشه چه درته ئې کړي زده مَدَني ماحول
ته پریږده ګیره او په سر کړه عمامه هیڅ بد نه دې ډیر دې ښه دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د کور د کسانو د اصلاح کولو کوشش پکار دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو ولیده! د اِنفِرادي کوشش هم څه ښکلي سپرلي دي! چه وران کارې ځلمې د **٦٣ ورځو مَدَني تربیتي کورس** کښې شریك شو او د هغې په بَرَکت د ګناهونو نه توبه ګار شو او د کور د خلقو د اِصلاح کولو کوشش ئې شروع کړو. واقعِي مونږ ټولو ته د خپل ځان او ورسره ورسره د کور د ګسانو د اِصلاح کوشش کول هم پکار دي، راځئ چه! په کور کښې د **مَدَني ماحول** جوړَوَلو کوشش د پاره "د سُنَّتو د باغ" نه **مَدَني ګلونه** راټول کړو.

"یا ربّ مونږه مُتّقي جوړ کړې" د ۱۹ حروفو په نِسبَت
په کور کښې د مَدَني ماحول جوړوَلو د پاره ۱۹ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ کور ته د ننوتلو او وَتلو په وخت کښې په اوچت آواز کښې سلام کوئ.

﴿۲﴾ مور صاحِبه یا والِد صاحب [یعني پلار] هم چه راشي نو تعظِیماً ودریږئ.

﴿۳﴾ اسلامي ورونړه دِ په ورځ کښې کم نه کم یو ځل د والِد صاحِب [یعني د پلار] او اِسلامي خویندې دِ د مور صاحِبې لاس او ښې ښکُلَوي.

﴿٤﴾ د مور او پلار په مخکښې آواز ټِیټ ساتئ، د هغوئ په سترګو کښې سترګې بالکل مه اچوئ [یعني نیغ ورته مه ګورئ].

﴿٥﴾ د هغوئ حواله کړې شوې هر یو کار چه خِلاف شرع نه وي فوراً کوئ.

﴿٦﴾ سنجیده [یعني غلې، قلار] اوسئ. په کور کښې د شور شَغرب، ټوقو ټقالو، بې فائِدې خبرو کولو او په خبره خبره غُصّه کیدلو، د خوراك په څیزونو کښې عیب راویستلو، د کشرانو خویندو ورونړو د رټلو، وَهلو، د کور د مشرانو سره د نښتلو او زیاتې خبرې او بحثونو کولو که ستاسو

www.dawateislami.net

عادت وي نو خپل سُلوك بالکل بدل کړئ، د ټولو نه د معافئ غوښتلو او د تَلافئ [یعني د حقوقُ العِباد ادا] کولو ترکیب جوړ کړئ.

﴿۷﴾ په کور کښې او باهر هم په هر ځائ کښې که تاسو سنجِیده شئ نو اِنْ شَآءَاللهتَعَالٰی په کور کښې به هم د دې بَرَکتونه ښکاره شي.

﴿۸﴾ مور ته او که د بچو مور [یعني کور والا] هُم وي نو هغې ته او په کور کښې (او بهر) د یوې ورځې ماشوم ته هم [د تا او ستا په ځائ] "تاسو" وائې.

﴿۹﴾ د خپل ګاونډ په جُمات کښې د ماسخُتن د جَمعې د وخت نه واخله دوه ګینټو کښې دننه دننه اوده کیږئ. کاش!چه په تَهَجُّد کښې مو سترګې وغړیږي ګنې کم نه کم د سحر لـمونځ خو به په اَسانئ (د جُمات په وړومبي صف کښې د جَمعې) سره د کولوسعادت درنصیب کیږي او بیا [د ورځې به] په کار کښې سُستي هم نه محسوسوئ.

﴿۱۰﴾ که د کور کسان په لـمانځه کښې سُستي کوي، او د فِلمونو، ډرامو، او سندرو او سازونو په ګناهونو کښې اَخته وي او تاسو د کور مشر نه ئې، او غالِب ګُمان هم دا وي چه ستاسو به څوك نه مني نو د بیا بیا رټلو په ځائ ، په ټولو په نرمئ سره د مَکتَبَةُالمَدینه نه جاري شوي د سُنَّتو ډکو بیانونو کیسټې او آډیو سي ډیانې واوروئ او وِیډیو سي ډیانې پرې اُوګورئ، **مَدَني چینل** پرې اُوګورئ.اِنْ شَآءَاللهتَعَالٰی"مَدَني نتیجې" به ئې رااُوځي.

﴿۱۱﴾ په کور کښې هم که څوك هر څومره او رټې تر دې که وَهل هم اُوخورئ، صبر صبر او صبر کوئ. که تاسو ژبه خوزوله [یعني د هغوئ د بدسُلوکئ جواب هم ورکولو] نو د مَدَني ماحول جوړیدو به بیا هیڅ اُمّید نه وي بلکه نور فَساد پیدا کیدې شي ځکه چه په بې موقع سختئ کولو شیطان کله کله په خلقو کښې ضِد پیدا کوي.

www.dawateislami.net

﴿۱۲﴾ د مَدَني ماحول جوړولو یوه ډیره غوره ذریعه دا هم ده چه په کور کښې هره ورځ د **فیضانِ سُنّت** درس ضَرور ضَرور ورکوئ یا اورئ.

﴿۱۳﴾ د خپل کور د ګسانو د آخِرت د بِهترئ د پاره د زړه د اِخلاصه دُعا هم کوئ ځکه چه **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِن یعني دُعا د مومِن وَسله ده. (اَلْمُستَدرَك لِلحاکِم ج۲ ص۱۶۲ حدیث۱۸۵۵)

﴿۱۴﴾ د سخر په کور کښې اوسیدونکي زنانه دِ [په دې مَدَني ګلونو داسې عمل کوي] چه کوم ځائ د کور ذِکر شوې دې هلته سخرګنئ او چه کوم ځائ د مور او پلار ذِکر شوې دې هلته دِ د خوابښې او سخر سره هم هغسې ښه سُلوك کوي هله چه څه مانِع شرعي [یعني د شریعت د طرفه منع] نه وي. خو دا احتیاط ضروري دې چه هِنګور دِ د سخر لاس او ښپې نه ښکُلوي او دغسې دِ زُوم د خوابښې [لاس او ښپې نه ښکُلوي].

﴿۱۵﴾ مَسائِلُ الْقُرآن صفحه ۲۹۰ کښې دي: د هر لـمانځه نه پس دا دُعا د اوّل و آخِر دُرود شریف سره یو ځل لولئ اِنْ شَآءَاللّٰہ تَعَالٰی بال بچي به مو د سُنّتو پابند جوړ شي او په کور کښې به مو مَدَني ماحول قایم شي. (دُعا دا ده:) (اَللّٰھُمَّ) رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾ [1] ("اَللّٰھُمَّ" د قرآن د آیت حِصّه نه ده)

﴿۱۶﴾ نافرمانه ماشوم یا غټ کس چه کله اُوده وي نو یوولس یا یو وِیشت ورځې د هغه سر ته ودریږئ او دا آیاتِ مبارکه صرف یو ځل په دومره آواز لولئ چه د هغه سترګې نه غړیږي: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ﴿۲۱﴾ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾ [2] (اوّل آخِر یو یو ځل دُرود شریف) **یاد ساتئ!** که

---

3 مفهوم ترجمۂ کَنزُالاِیمان: اے زمونږه ربه مونږ ته راکړې زمونږه په ښځو او زمونږه په اولاد کښې د سترګو ښوالې او مونږه د پرهیزګارو اِمام جوړ کړې.

4 مفهوم ترجمۂ کَنزُالاِیمان: بلکه هغه کمال شرف لرونکې قرآن دې په لوح محفوظ کښې.

غټ بنده نافرمانه وي نو په اُودو د هغه سر ته وظیفه لوستلو کښې که د هغه د سترګو غړیدو ویره وي خاص طور چه د هغه خوب خخ نه وي، او دا معلومات هم مُشکِل وي چه اوده دې او که صِرف سترګې ئې پټې کړي دي لِهٰذا چه کوم ځائ د فساد اندیښنه وي هلته دا عمل کول نه دي پکار. خاص طور ښځه دِ په خپل خاوند دا عمل نه کوي.

﴿۱۷﴾ او نافرمانه اولاد فرمانبرداره جوړولو د پاره د مقصد د حاصِلیدو پورې د سحر [د لـمانځه] نه پس د آسمان طرف ته مخ کوئ او "یاشَهِیدُ" یووِیشت ځله لولئ. (اوّل آخِر یو یو ځل دُرود شریف)

﴿۱۸﴾ د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق د عمل کولو عادت جوړ کړئ او د کور په کومو کسانو کښې چه څه نرمي محسوسوئ هغوئي ته او که تاسو پلار ئې نو خپل اولاد ته په نرمئ او حِکمت په **مَدَني اِنعاماتو** د عمل کولو ترغیب ورکوئ، د **الله** تَعَالٰی په رَحمت به په کور کښې مَدَني اِنقلاب راشي.

﴿۱۹﴾ په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ او د کور د کسانو د پاره هم دُعا کوئ. په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو په بَرَکت په کورونو کښې د **مَدَني ماحول** جوړیدو "**مَدَني سپرلي**" خوریږي.

رَوَیّے سے تیرے ہیں گھر والے بد ظن — تو کیسے بنے گا بھلا مَدَنی ماحول
تُو کرنا نہ گھر میں لڑائی بِھڑائی — وگرنہ نہ بن پائے گا مَدَنی ماحول
تُو بک بک نہ کر لب پہ قفلِ مدینہ — لگا گھر میں بن جائے گا مَدَنی ماحول
تُو نرمی و حکمت کو اپنالے بھائی! — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
نہ کر مسخری خوب سنجیدہ ہو جا — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
جو اَخلاق سے تیرے ماں باپ ہیں خوش — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
تو نظریں جھکا کر کے کر بات سب سے — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
تُو گھر میں سبھی کو دکھا مَدَنی چینل — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
سدا گھر میں دے درسِ فیضانِ سنّت — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
تُو ماں باپ کی دست بوسی کیا کر — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
تُو چھوٹوں پہ شفقت بڑوں کا ادب کر — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
پڑے ڈانٹ کیسی ہی تُو سَہ لیا کر — تِرے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول

www.dawateislami.net

اگر ہو پِٹائی نہ کر لب کشائی ترے گھر میں بن جائیگا مَدَنی ماحول
دُعا کر یہ شام وسَحَر گِڑگڑا کر
بنے میرے گھر میں خدا مَدَنی ماحول

ستا په سلوك ټول کور دې خفه ستا نه نو څنګه به جوړ شي مَدَني ماحول
مه کوه ته په کور کښې جنګ جَګړه ګني جوړ به نه شي بیا مَدَني ماحول
مه کوه بده وَینا، په خُله ته ولګوه قُفلِ مدینه جوړ به شي مَدَني ماحول
ته نرمي او حِکمت کړه اِختیار وروره! ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
مه کوه ټوقې ټقالې ښه سَنجیده شه ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
که راضي وي ستا په اخلاق مور او پلار ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
په ښکته سترګو کوه د هر یو سره خبرې ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
په کور کښې په ټولو ګوره مَدَني چینل ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
همیشه کوه په کور کښې درسِ فیضانِ سُنّت ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
ښکُلوه ته د خپل مور و پلار لاسونه ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
کړه وړو سره نرمي او د غټو کړه ادب ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
که هر څومره رټل شي ته کړه صبر ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
که اُوخورې وهل، په خُله هیڅ مه وایه ستا په کور کښې به جوړ شي مَدَني ماحول
دا دُعا غواړه سحر و ماښام په ژړا ژړا
الله زما په کور کښې جوړ کړې مَدَني ماحول

واقِعۀ اِفك

په صفحه ۱۳۹ کښې د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په حِکایت کښې چه د کومې **واقِعۀ اِفك** اِشاره ورکړې شوې وه هغه په **خَزَائِنُ الْعِرفان** کښې داسې بیان کړې شوې ده: په سن 5 هِجري کښې د **غَزوۀ بَنِی اَلْمُصْطَلِق** نه د بیرته راتللو په وخت کښې قافِلې مدینې ته نِزدې په یو ځائ کښې پړاؤ وکړو [یعني دمه ئې وکړه] نو **اُمُّ الْمُؤمِنِین** حضرتِ عائِشه صِدّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د ضرورت د پاره یو ګُټ ته تشریف یوړو، هلته د هغوئ (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) اَمیل وشلیدو، د هغې په کتلو پسې مصروفه شوه،

www.dawateislami.net

دلته قافِله روانه شوه او د هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) مَحمِل شریف (یعني پرده لرونکي ګَجاوه) ئې په اوښ وتړله او د هغوئي خیال دا وو چه اُمُّ المُؤمِنِین (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) په دې (پرده لرونکي ګَجاوه) کښې ده، قافِله روانه شوه. هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) تشریف راوړو او دقافِلې [د دمې کولو] په ځائ کښیناستله. او دا خیال ئې وکړو چه زما په کتلو پسې به قافِله ضرور بیرته راځي، په قافِله پسې وروستو به د [قافلې نه] غورزیدونکي ځیزونه راټولو د پاره یو صاحِب وریسې وو، په دې موقع باندې دا کار د حضرت صَفوان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ذِمّه وو، چه کله هغوئي راغلو او اُمُّ المُؤمِنِین (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) ئې ولیدله نو په اوچت آواز کښې ئې "اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیْہِ رَاجِعُوْنَ" اُووئیلو. هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) په ټوټه [یعني کپړه] باندې پرده وکړه، حضرت صَفوان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپله اُوښه کښینوله او اُمُّ المُؤمِنِین (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) په هغې سوَرَه شوه او لښکر ته ورسیدله. د تورو زړونو خاوندانو مُنافِقانو ګنده وَهمونه (یعني فساد اچوونکي شکونه) خواره کړل، او د هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) په شان کښې ئې بدې خبرې کول شروع کړل بعضې مُسلمانان هم د هغوئي په دوکه کښې راغلل او د هغوئي (صاحِبانو) په ژبه هم بعضې بې ځایه (یعني نامناسبه) خبرې راغلې، اُمُّ المُؤمِنِین (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) بِیماره شوه او یوه میاشت بِیماره وه، په دومره وخت کښې هغوئي ته خبر نه وو چه د هغوئي په باره کښې منافِقِین څه بکواس کوي. یوه ورځ د اُمِّ مِسطح د خُلې نه هغوئي ته د دې خبرې معلومات وشو، د دې (د خفګان) نه د هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) مرض نور زیات شو او د خفګان نه ئې دومره وژړل چه د هغوئي اوښکې نه ودریدلې او نه د یو ساعت د پاره خوب ورتللو، په دې حال کښې په سَیِّدِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې وحي نازله شوه او د اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د پاك کیدو په باره کښې دا آیتونه (یعني د سُورۂ نُور ډیر آیتونه) نازِل شو او د هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) شرافت او مرتبه اللّٰه تعالٰی دومره زیاته کړه چه د قُرآنِ مجِید ډیر آیتونه د هغوئي (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) په طَهارت (یعني پاکئ) او فضیلت کښې نازِل شو. په دې دوران کښې سَیِّدِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مِنبر د پاسه په قَسَم سره فرمائیلي وو: ما ته د خپل کور والؤ پاکي او صِفَتونه په یقین سره معلوم دي نو چا چه د هغوئي په باره کښې بَد وئیلي دي د هغه د طرفه ما ته څوك معذِرت [یعني د معافئ غوښتلو د پاره ځان] پیش کولې شي؟

www.dawateislami.net

حضرت عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل چه مُنافِقِین یقیني طور دروغژن دي، **اُمُّ المُؤمِنِین** یقِیني طور پاکه ده. **اللّٰه** تعالٰی (خو) د سیّدِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاك وجود د مچ د ناستې نه (هم) په حفاظت کښې ساتلې دې ځکه چه هغه په ګندونو کښیني (نو بیا دا) څنګه کیدې شي چه هغه د بدې ښځې د صُحبت نه ستاسو (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) حِفاظت او نکرِي! او دغسې **عُثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هم د هغې (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) د طَهارت [یعني پاك کیدلو] بیان وکړو! او وئې فرمائیل: چه **اللّٰه** تعالٰی ستاسو سورې په زمکه پرې نه ښودو چه چرې په دې سورې د چا ښپه را نه شي، کوم پروردِګار (جَلَّ جَلَالُہٗ) چه ستاسو سورې په حِفاظت کښې ساتي نو دا چرې کیدې شي چه هغه ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اَهل (یعني بیبیانې مُبارکې) په حِفاظت کښې او نه ساتي! حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل چه د یوې سپګې وِینه د لګیدو په وجه پروردګارِ عالَم (جَلَّ جَلَالُہٗ) تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د پیزار وِیستلو حُکم درکړو، کوم پروردګارِ عالَم (جَلَّ جَلَالُہٗ) چه ستاسو په پیزار مُبارَك دومره وِینه لګیدل هم ښه ونه ګنړل (نو دا) نه شي کیدې چه هغه ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اَهل ګنده کیدل برداشت کړي. دغسې ډیرو **صحابه** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم) او ډیرو **صحابِیاتو** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُنَّ) قَسَمونه وخوړل، د آیتونو نازِلیدو نه مخکښې هُم د حضرت **اُمُّ المُؤمِنِین** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) د طرفه نه زړونه مُطمَئِن وو، آیتونو نازِلیدو د هغوئې (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) عِزَّت او شرافَت نور هم زیات کړو نو دَ بد وَیونکو بَد وئیل د **اللّٰه** تعالٰی او د هغه د **رسول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د غټو غټو **صحابه کرام** عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان په نِزد باطِل دي او د بد وئیونکو د پاره ډیر زیات سخت مُصِیبت دې. (خَزائِنُ العِرفان ص٥٦٢)

بنتِ صدّیق آرامِ جانِ نبی — اُس حَرِیمِ بَراءَت پہ لاکھوں سلام
یعنی ہے سورۂ نُور جن کی گواہ — اُن کی پُرنور صُورت پہ لاکھوں سلام (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا: زما د آقا اعلٰحضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دواړو شعرونو په ترتیب سره خُلاصه داسي ده: (۱) **اُمُّ المُؤمِنِین** حضرتِ عائِشه صِدّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا چه د **امیرُ الْمُؤمِنِین** حضرت سَیِّدُنا صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قابِلِ اِحترِامه شهزادګۍ [یعني لُور] ده او زمونږه د خوږ خوږ آقا مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارك زړه آرام ده، د چا پاك کیدل چه د **اللّٰه** تعالٰی د رحمت نه ډکې بارګاهِ عالي نه بیان شوي دي، په هغوئې

www.dawateislami.net

دِ زمونږ د طرفه په لکونو سلامونه وي (۲) زمونږه په خوږه مور (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) چه مُنافِقِینو تُهمت ولګوو نو **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د سُورۂ نُور آیاتِ مُبارکه نازِل کړل او د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د پاکئ او طهارت اِعلان ئې اُوفرمائیلو او د قِیامت د قائِمیدو پورې ئې د هغوئي په ډیر لوئي عِزّت او پاکئ مُهر ولګولو. زمونږه د داسې عَظَمت لرونکي پاکې مور په نُوراني صُورت دِ په لکونو سلامونه وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اِجتِماع په بَرَکت ورته جَنَّت نصیب شو

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ چاپ شوي د ۱۳۲ صفحو کتاب "**توبہ کی روایات و حکایات**" صفحه ۷۵ نه ۷۷ پورې دي: حضرت سَیِّدُنا صالِح مُرّي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په اِجتِماع کښې د خپل بیان په دوران کښې خپلې مخې ته ناست یو ځلمي ته اُوفرمائیل: "یو آیت ولوله." نو هغه د سُوْرَۃُ الْمُؤمِن اتلَّسم آیت تِلاوت کړو:

وَ اَنْذِرْهُمْ یَوْمَ الْاٰزِفَةِ اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَی الْحَنَاجِرِ كٰظِمِیْنَ ؕ مَا لِلظّٰلِمِیْنَ مِنْ حَمِیْمٍ وَّ لَا شَفِیْعٍ یُّطَاعُ ﴿۱۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او هغوئي وَیَروه د هغه نِزدې راتلونکي آفت د ورځې نه چه کله به زړونه مرو ته راپورته شي د غم نه ډک. او د ظالِمانو نه څوك دوست شته او نه څوك سفارش کوونکې، چه د هغه خبره اُومنلې شي.

دا آیتِ مُبارکه ئې چه واوریدو نو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائیل: څوك د ظالِم دوست یا مددګار څنګه کیدې شي؟ ځکه چه هغه خو به **الله** تعالٰی نیولې وي. بیشکه تاسو به سرکشي کوونکي **ګنهګاران** اُوویِنئ چه هغوئي به په **زنځیرونو** کښې کلك تړلي شوي د **جَهَنّم** طرف ته بوتلل شي او هغوئي به بربنډ وي، د هغوئي بدن به سُست، مخونه تور او سترګې به ئې د یَرې نه شنې شوي وي. هغوئي به **چغې وهي**: مونږ هلاك شو! مونږ برباد شو! مونږ په زنځیرونو کښې ولې تړلي شوي یو؟ مونږه چرته بوځئ؟ او دا زمونږ سره څه کیږي؟ فرښتې به هغوئي د اور په کوړو وهي او زغلوي، کله به هغوئي پړمخ غورزیږي او کله به هغوئي په زمکه په راښکلو بوځي چه کله

www.dawateislami.net

په ژړا ژړا د هغوئي اوښکې ختمې شي نو د **وِینو اوښکې** به ئې بهیدل شروع شي، د هغوئي زړونه به اوړقیږي او حیران او پریشانه به وي که چا هغوئي یو ځل ولیدل نو بیا به هغوئي ته نه شي کتلې او نه به خپل زړه کلك کړې شي بلکه دا یروونکې منظر که چا ولیدو نو د هغه په بدن به لړزان خور شي.

دا ئې چه اُوفرمائیل نو حضرت سَیِّدُنا صالِح مُرّي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په ژړا شو د افسوس یو اسویلې ئې وکړو او وئې فرمائیل: "افسوس څنګه یروونکې منظر به وي." دا ئې چه اووئیل نو بیا په ژړا شو. د هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په ژړا حاضِر خلق هم په ژړا شو. په دې دوران کښې یو ځلمې ودریدو: او وئیل ئې: "یا سیِّدي! آیا دا ټول منظر به د قیامت په ورځ وي؟" هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه جواب ورکړو: "آو، خو دا منظر به دومره اوګد نه وي ځکه چه کله هغوئي جهنّم ته غوزار کړې شي نو د هغوئي آوازونه راتلل به بند شي." دا ئې چه واوریدل نو هغه ځلمي یوه چغه اووهله او وئیل ئې:"افسوس! ما خپل ژوند په غفلت کښې تیر کړو، افسوس! ما په بې عملئ کښې وخت برباد کړو، افسوس! ما د **الله** تعالٰی په اِطاعَت او فرمانبردارئ کښې سستي کړې ده، آه! ما خپل ژوند بیکاره ضائِع کړو." دا ئې اوئیل او په ژړا شو. لږ ساعت پس هغه د ربِّ کائِنات جَلَّجَلَالُهٗ په بارګاه کښې داسې دُعا وکړه:"اے زما پروردګاره! زه ګنهګار د توبې د پاره ستا په دربار کښې حاضِر یم، زما ستا نه سِوا د بل چا سره هیڅ غرض نشته،دګناهونو معافي راته وکړه او ما قبول کړه، زما سره په ټولو حاضرو خلقو خپل فضل او کرم وکړه او مونږ ته د عطاء او بخښنې خیرات راکړه، **یَااَرْحَمَ الرَّاحِمِیْن!** (یعني اے د ټولو نه زیات رحم کوونکیه) ما د ګناهونو پیټې ستا په وړاندې کیښودو اوپه رښتیني زړه ستا په بارګاه کښې حاضِر یم. که تا زه قبول نه کړم نو یقیناً زه به هلاك شم." دا ئې چه اووئیل نو هغه ځلمي یوه سلګئ اووهله او غوزار شو، بیا د بیمارئ په بستره پروت وو او یو څو ورځې پس وفات شو. د هغه په جنازه کښې بې شمیره خلق شریك شو، په ژړا ژړا د هغه د پاره دُعاګانې وکړې شوې. حضرت سَیِّدُنا **صالِح مُرّي** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه به اکثر په خپل **بیان** کښې د هغه ذِکر کولو. یوه ورځ چا په خوب کښې هغه ځلمې ولیدو نو تپوس ئې ترې وکړو: **مَافَعَلَ اللهُ بِكَ** یعني

www.dawateislami.net

الله تعالیٰ ستا سره څه معامِله اُوفرمائیله؟ نو هغه جواب ورکړو چه:"ما ته د حضرت سَیِّدُنا **صالِح مُرّي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د اجتماع نه برکتونه نصیب شو او زه جنّت ته داخِل کړې شوم." (کِتابُ التَّوابِین ص۲۵۰ ۲۵۲)

د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په خوب کښې په بارګاهِ رِسالت کښې د تِلاوت سَعادت

خوږو خوږو اسلامي ورنړو! تاسو ولیده! د باعمله مُبلِّغِینو بیان د اثر نه څومره ډك وي، د خوفِ خُدا لرونکي مُبَلِّغ بیان کله کله د ګنهګار په زړه داسې اثر وکړي چه د هغه دُنیا او آخِرت ښائِسته شي. سَیِّدُنا **صالِح مُرّي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ډیر زبردست قاري هم وو، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په قِراءَت کښې ډیر درد وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یو ځل ما په خوب کښې د **جنابِ رِسالت مآب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخکښې د قُرآنِ کریم د تِلاوت کولو سعادت حاصِل کړو، **تاجدارِ رِسالت** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: **اے صالِح!** دا خو قِراءَت وشو زړا کومه ده؟ (اِحیاءُ العُلوم ج۱ ص۳۶۸)

د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

تِلاوت کښې ژړل د ثواب کار دې

خوږو خوږو اسلامي ورنړو! د قرآنِ کریم په تِلاوت کولو کښې ژړل مُستحب دي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: د قرآنِ پاك په تِلاوت کولو کښې ژاړئ او که نه شئ ژړلې نو د ژړا په شان شکل جوړ کړئ. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۲ ص۱۲۹ حدیث۱۳۳۷)

عطا کر مجھے ایسی رقّت خدایا　　کروں روتے روتے تِلاوت خدایا

راکړې ما ته داسې رِقّت[1] خُدایا　　چه کووم په ژړا ژړا تِلاوت خُدایا

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] نرم زړه

www.dawateislami.net

د مرګ نه یو څو ورځې مخکښې اِنفِرادي کوشش

خورو خورو اسلامي ورنړو! د تلاوت کولو یا اوریدلو په وخت کښې زړه نرې نرې کیدل، د سترګو نه اوښکې جاري کیدل د لوئي سعادت خبره ده خو د شیطان د وار نه خبردار اوسئ! ژړا یو داسې عمل دې چه په دې کښې د رِیاکارئ خطره ډیره زیاته وي. لِهٰذا په دُعا وغیره کښې خاص طور د نورو په مخکښې په ژړا کښې د رِیا نه بچ کیدل ضروري دي ځکه چه ریاکار د [جَهَنّم د] اور د عذاب حقدار وي. په تِلاوت او نعت کښې د اخلاص سره د ژړَلو او ژړَوَلو شوق زیاتولو د پاره د تبلیغِ قرآن و سُنّت عالمګیر غیر سیاسي تَحریك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعلُّق مضبوط ساتئ، د خپل ایمان د حِفاظت د پاره فِکرمند اوسئ، د لـمونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنّتو عمل کوئ، د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق ژوند تیروئ او په دې باندې د اِستِقامت موندلو د پاره هره ورځ د **"فِکرِ مدینه"** په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشیې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمّه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د سُنّتو د تربِیّت په مَدَني قافِله کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه! ستاسو د ترغیب او تَحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره یو **مدني سپرلې** واورو: د **بابُ المَدینه** (کراچئ) یو مُبَلِّغ چه هغه به هره ورځ په پابندئ سره **چوك درس** ورکولو. یو کس چه هغه به د سُنَّتو ډك تحرِیك "دعوتِ اِسلامي" نه خوښولو هغه صِرف د تَعَصُّب [یعني بُغض] په وجه په تاپه کښې د مُبَلِّغ خِلاف د دروغو رپورټ درج کړو چه دا په علاقه کښې فساد خوروي پولیس راغلو او هغه **عاشِقِ رسول** ئې تاپې ته بوتللو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي "مُبَلِّغ" په هر ځائ کښې **مُبَلِّغ** وي چنانچه د یو مُجرِم سره ئې ملاقات وشو او په هغه ئې "اِنفِرادي کوشش" وکړو او هغه ئې د تبلیغِ قرآن و سُنّت د عالمګیر غیر سیاسي تَحریك دعوتِ اسلامي په هفته واره **اجتِماع** کښې شریك کیدو ته تیار کړو، هغه اُووئیل چه زه د قید نه خلاص شم نو ضرور به حاضریږم، آیا تاسو سره هلته زما ملاقات کیدې شي؟ **مُبلّغ** اُووئیل: اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی. بیا ئې

www.dawateislami.net

ورته خپله حلقه نمبر وغیره اوښودل چه زه په اجتماع کښې په هغه ځائ کښې یم. پولیس چه د هغه ښکُلي اَخلاق ولیدل نو په حقیقت پوهه شو، د هغه "**عاشِقِ رسول**" نه ئې معافي اوغوښتله او په عِزّت کښې ئې رخصَت کړو. یو څو میاشتې پس چه هغه **مُجرِم** کله د جیل نه راخلاص شو نو د تبلیغِ قرآن و سُنّت عالمګیر غیر سیاسي تَحریك دعوتِ اسلامي عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه بابُ المَدینه (کراچئ) کښې کیدونکي هفته واره د سُنَّتو ډکه **اِجتِماع** ته را ورسیدو، هغه بیان واوریدو، په ذِکر و دُعا کښې د هغه زړه نرم شو هغه په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه وکړه. د دُعا نه پس د هغه مُبلِّغ سره د ملاقات د پاره چا چه په تاپه کښې هغه ته د نیکئ دعوت ورکړې وو چه کله د هغوئ ښودلي شوي حلقې ته ور ورسیدو نو یو اسلامي ورر ورته اُووئیل: چه اوس په دې **تیرې شوې سِه شنبه** [یعني د نهې په ورځ] **هغه مُبَلِّغ وفات شوې دې**. چه دا ئې واوریدل نو هغه په چغو چغو په ژړا شو چه په ژوند کښې اول ځل چا **د "نیکئ دعوت"** راکړو او د هغه په وجه ما توبه وکړه. هائے افسوس! زما د خپل هغه مُحسِن [یعني اِحسان کوونکي] سره بیا ملاقات هم ونشو. یو عاشِقِ رسول په هغه اِنفِرادي کوشش کولو کښې هغه ته داسې ذهن ورکړو چه اوس تاسو د هغوئ سره ملاقات خو نه شئ کولې خو هغوئ ته فائِده رَسَوَلې شئ او د هغې یوه طریقه دا هم ده چه د هغوئ د اِیصالِ ثواب د پاره نن سحر سمدستي د سُنّتو د تربِیّت د یوې میاشتې په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر وکړئ. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ هغه سمدستي د یوې میاشتې د پاره د عاشِقانِ رسُول سره په مَدَني قافِله کښې په سفر روان شو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ نن هغه "**مُجرِم**" د **دعوتِ اِسلامي** مُبلِّغ دې او مخکښې ئې دا حالت وو چه **د شرابو اډې** به ئې چلولې.

آپ تھانے میں بھی، جیل خانے میں بھی ہر جگہ پر کہیں، قافلے میں چلو

تاسو تاپه کښې هم، په جیل خانه کښې هُم

هر ځائ هُم دا وائې، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

مُبَلِّغ په هر ځائ کښې مُبَلِّغ وي

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! واقعِي مُبَلِّغ په هر ځائ کښې مُبَلِّغ وي، هر وخت او په هر ځائ کښې خپل لِباس او خپل انداز د سُنّتو مطابِق ساتي، که په علاقه کښې وي او که په بازار کښې وي، که په جنازه کښې وي او که د واده په جَنج کښې وي، که په دواخانه کښې وي او که په هسپتال کښې وي، که په باغ کښې وي او یا که د چا د خخولو د پاره مُقبرې [ادیرې] ته راغلې وي، چه چرې ورته موقع په لاس ورشي سمدستي **د نیکئ د دعوت** مَدَني گُلونه وَرول شروع کړي او د خپل ځان د پاره د ثواب ډیره ذخیره جوړه کړي. د ذِکر کړي شوي **مَدَني سپرلي** نه دا هم معلومه شوه چه د مرحُوم عاشِقِ رسُول مُبَلِّغ خومره ښکُلي جذبه وه چه ظُلماً تانې ته راوستې شو نو هلته هُم د نیکئ د دعوت په کار کښې لگیا شو او د شرابو د اډې د چلونکي د توبه وِیستلو او د هغه د دعوتِ اِسلامي د مُبَلِّغ جوړیدلو سبب جوړ شو او پخپله د همیشه په خوب اوده شو.

د الله تعالیٰ دِ په مرحوم عاشِقِ رسُول مُبَلِّغ باندې رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ النّبیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تِری سنّتوں پہ چل کر مری روح جب نکل کر
چلے تم گلے لگانا مَدَنی مدینے والے (وسائلِ بخشش ص۲۸۷)

چه په سُنّتو ستا روان یم روح مې اُوځي
خپلې غاړې ته مې تینگ کړئ مدني خوږه سرداره

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د الله مَحبوب جوړوونکي خلق

د **بې قراره** زړونو قرار، د رسولانو د سالار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې:" آیا زه تاسو ته د داسې خلقو په باره کښې خبر درنکړم چه هغوئ نه د نَبیانو (عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) نه دي او نه

www.dawateislami.net

د شَهیدانو نه، خو د قیامَت په ورځ چه اَنبِیاء (عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) او شُهَداء د هغوئي مقام [یعني مرتبه] اُووِیني نو رَشك به کوي، هغوئي به د نُور په مِنبرونو اوچت وي، دا هغه خلق دي څوك چه د الله تعالیٰ بندګان د الله تعالیٰ محبوب (یعني ګران) جوړَوي او هغوئي په زمکه ګرځي او (خلقو ته) نصیحت کوي." عرض وکړې شو: هغوئي خلق څنګه د الله تعالیٰ مَحبُوب (یعني ګران) جوړوي؟ وئې فرمائیل: هغوئي خلقو ته د الله تعالیٰ د محبوبو (یعني خوښو) خبرو حُکم ورکوي او د الله تعالیٰ د ناخوښه خبرو نه ئې منع کوي، پس چه کله خلق د هغوئي اِطاعت کوي (یعني د هغوئي خبره مني) نو الله تعالیٰ به هغوئي خپل مَحبوب جوړ کړي. (شُعَبُ الاِیمان ج۱ ص۳٦۷ حدیث٤٠٩)

مُبَلِّغ محبوب نه بلکه ډیر محبوب وي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د **نیکئ د دعوت** ورکونکو شان څومره اوچت وي چه د قیامت په ورځ به انبیاءِ کرام عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام او شُهَدائے عُظّام هُم چه په هغوئي د الله تَعالیٰ اِنعام او اِکرام اُووِیني نو رشك به کوي.ددې عَظَمَت او شان سبب به څه وي؟هُم دا چه هغوئي به د **نیکئ د دعوت** او د بدو نه د منع کولو په ذریعه خلق باعمله جوړوي او دغسې به هغوئي د الله تَعالیٰ مَحبوب جوړوي. چه نور خلق د الله تَعالیٰ مَحبوب جوړوي نو پخپله به ولې محبوب نه وي!

اللہ کا محبوب بنے جو تمہیں چاہے اُس کا تو بیاں ہی نہیں کچھ تُم جسے چاہو (ذوقِ نعت)

د الله هغه محبوب شي چه کړي ستا سره محبّت

د هغه به څنګ قِسمت وي ته چه کړې چا سره محبّت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سَیِّدُنا حسن بصري او یو مالدار

د "**نیکئ د دعوت**" د ثواب په ګټلو کښې به زمونږه اولیاءِ کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی مخکښې مخکښې وو او په دې معامَله کښې به د چا په رُعب کښې هم نه راتلل چنانچه حضرت سَیِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپلو شاګردانو سره چرې تشریف وړلو چه یو **رئیس** (یعني مالدار) ئې ولیدلو، هغه ځان ډیر

www.dawateislami.net

زیات ساز کړې وو او د خپلو غلامانو په ګنړه کښې په اس سور روان وو. هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هغه نه تپوس وکړو: د کوم ځائ په اراده روان ئې؟ عرض ئې وکړو: د **بادشاه** دربار ته روان یم. هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په هغه باندې "اِنفِرادي کوشش" وکړو او هغه ته ئې اُوفرمائیل: اے وروره تاسو ښه ښکُلې لِباس اغوستې دې، د پاسه هم پرې خوشبو هم لګولې ده او په هره طریقه مو په ښکاره ځان ساز کړې دې، یقیناً دا صرف د دې د پاره چه په **شاهي دربار** کښې تاسو شرمِنده نه شئ حالانکه دا بادشاه د دې ختمیدونکي کمزوري دُنیا بادشاه دې او د ده درباریان ستاسو په شان بې اِختیاره انسانان دي. اوس لږ غور وکړئ چه صبا د قیامت په ورځ به چه کله د **الله** تعالٰی په دربارِ شاهي کښې حاضِریدل وي، هلته به انبیاءِ کرام عَلَیْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام او اولیاءِ عُظام هُم وي، د هغه ځائ د پاره تاسو د خپل "باطِن" د جوړولو او ښکُلي کولو څه انتِظام کړې دې؟ آیا هلته به تاسو د ګناهونو د ګندګئ او د بدکارو د بدبوئ سره حاضریږئ؟ هغه مالدار سړي په ډیره زیاته تَوَجُّه سره د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ارشادات اوریدل، هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هغه نه تپوس وکړو: آیا تاسو کله په خپل اَس باندې د هغه د طاقت نه زیات بوج اچولې دې؟ عرض ئې وکړو: نه جي. وئې فرمائیل: تاسو په خپل اس خو زړه سوزوئ خو په خپل کمزوري بدن رحم نه کوئ چه مسلسل پرې د ګناهونو بوج باروئ، لږ فِکر خو وکړئ! که ژوند هم دغسې د ګناهونو نه ډك تیر کړو نو د مرګ نه پس به مو څه انجام کیږي! هغه مالدار سړي د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د "اِنفِرادي کوشش" او **د نیکئ د دعوت** نه بې حده مُتَاَثِّره شو، د اس نه راکوز شو او د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مُرید شو او **الله** والا جوړ شو. (سچی حِکایات ج۵ ص۲۰۸ بِتَصَرُّف)

د اللهُ تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نفس یہ کیا ظلم ہے جب دیکھو تازہ جُرم ہے
ناتُواں کے سر پہ اِتنا بوجھ بھاری واہ واہ! (حدائقِ بخشش شریف)

www.dawateislami.net

شرحِ کلامِ رضا: **زما سردار** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې شعر کښې فرمائي: اے بدکاره نفسه! ستا ظلم او سِتم په ما نور ډېر زیات شو! ته ورځ په ورځ زما په ګناهونو کښې اِضافه کوې زه ډېر کمزوري بنده یم او ته زما په سر د ګناهونو درونده بوج باروې. (معلومه شوه چه نفسِ اَمّاره یعني د ګناهونو د پاره راپاروُنکې نفس زمونږه دُښمن دې، مونږ ته هر وخت د هغه د دوکې نه ځان ساتل پکار دي)

آہ! ہر لمحہ گنہ کی کثرت و بھرمار ہے
غَلَبۂ شیطان ہے اور نَفسِ بد اَطوار ہے (وسائلِ بخشش ص۱۲۸)

هر لحظه مې په کثرت د ګناهونو کښې تیریږي
غلبه ده د شیطان، او ظالم نفس مې نه پوهیږي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په لـمانځه کښې ځنګه جامې پکار دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! **اولیاءُ الله** رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به د خانانو او مالدارانو د خوشامَدو او په دروغو د هغوئي د صِفَتونو کولو په ځائ هغوئي ته د اصلاح مَدَني ګُلونه وړاندې کول او هغوئي ته به ئې په واضحه الفاظو کښې نصیحت کولو. د دولت مندو خوشامَدې دِ هغه څوك کوي څوك چه د هغوئي نه د دُنیا د ذلیله دولت حاصلولو لالچ لري، **اَهلُ الله** د قَناعَت په مَدَني دولت مالداره وي، د هغوئي سترګې د دولت مندو د فاني مال طرف ته نه وي بلکه د رَحمَتِ ذُوالجَلال طرف ته وي! **یاد ساتئ!** د مالدارانو د دولت په وجه د هغوئي د تعظیم کولو سخته منع راغلي ده چنانچه منقول دي: څوك چه د یو مالدار د هغه د مالدارئ په وجه تواضُع [یعني تعظیم] وکړي د هغه په درې حِصّو کښې دوه حِصّې دِین لاړو. (کَشفُ الخِفاء ج۲ ص۲۱۵ رقم ۲۴۴۲) په بیان کړې شوي **حِکایت** کښې د آخِرت فِکر ورکړې شوې دې چه د حکمرانانو،وزیرانو اوافسرانو خوا ته ورتلو د پاره خو ښکُلې جامې اغوستې او ښه ډَوَل او سِنګار اختیارولې شي خو د **الله** تعالیٰ په مُقَدَّسه بارګاه کښې د ودریدو د پاره د هیڅ قِسم اهتمام کولو ذِهن نشته. مونږ چه د دُنیا د یو "غټ سړي" خوا ته ځو یا داسې ځائ ته ځو چه هلته به مو ډېر خلق ویني نو د سر وِینښته، جامې، عِمامه، څادر

www.dawateislami.net

وغیره ښه په احتیاط سره سم کړو خو "لـمونځ" چه د **الله** تعالی د عَظَمت لرونکي دربار د حاضرئ موقع ده هغه وخت د ځان ښکُلي کولو هیڅ اهتِمام نه کوو! کم نه کم دومره خو پکار ده چه د یو غټ سړي خوا ته یا [د واده وغیره] د ډوډئ دعوت ته تلَلو په وخت کښې چه انسان کومې جامې اغوندي هم هغه دِ جُمات ته د حاضریدو په وخت کښې اغوندي.

جُمات ته د حاضِرئ د پاره د زِینت [یعني ښکُلا] اختیارولو مُتعَلِّق په قُرآنِ کریم، اَتَمه سِیپاره سُورَۃُ الاَعراف آیت ۳۱ کښې ارشاد کیږي:

خُذُوْا زِیْنَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: خپل زینت واخلئ چه کله جُمات ته ځئ.

د لـمانځه د پاره عِطر لګول مُستَحب دي

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا **سَیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي** رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په تفسِیر "خَزائِنُ العِرفان" کښې د دې آیت لاندې لیکي: یعني د زینت [ښکُلي] جامې او یو قَول دا دې چه ګُمنز کول، خوشبو لګول په زِینت کښې شامِل دي او سُنّت دا دي چه سړي په غوره انداز (یعني ښه شکل او ښه حالت) کښې د لـمانځه د پاره حاضِر شي ځکه چه په لـمانځه کښې د خپل رَبّ نه مُناجات [یعني دُعا غوښتل] دي نو د دې د پاره زِینَت کول او **عِطر لګول مُستَحَب** دي. دَ **مُسلِم شریف** په حدیث کښې دي چه په زمانۀ جاهِلِیَّت کښې به د ورځې سړو او د شپې ښځو په بربنډه طواف کولو. په دې آیت کښې د ستر پټولو او د جامو اغوستلو حکم ورکړې شو او په دې کښې دلیل دې چه سِترِ عورت په لـمانځه، طواف او هر حال کښې واجِب دې. (خزائِنُ العِرفان ص۲۴۸)

په لـمانځه کښې د لِباس د احکامو ۱۴ مَدَني ګُلونه

د لـمانځه په دوران کښې جامې اغوستل

(۱) د لـمانځه کولو په دوران کښې کُرته [قمیص] یا پاجامه [پرتوګ] اغوستو یا لنګ تړلو سره **لمُونځ ماتیږي.** (غُنْیَہ ص۴۵۲ وغیرھا)

(۲) د لـمانځه په دوران کښې د سَتر ښکاره کیدو او هم په دې حالت کښې یو رُکن ادا کولو یا درې ځله د سُبحٰنَ الله وئیلو په مقدار وقفه تیریدلو سره لـمونځ هم **فاسِدیږي** (یعني ماتیږي). (دُرِّمُختار ج۲ ص۴٦۷)

په اُوګو څادر اچول

(۳) په لـمانځه کښې سَدَل یعني جامه زوړندوَل **مکروهِ تَحریمي** دي. مَثَلًا په سر یا اُوګه باندې څادر یا رومال وغیره داسې اچول چه دواړه سرونه ئې زوړند وي. خو که یوه ډډه ئې [په یوه اُوګه اچولو نه پس د څادر په هغه بله ډډه د پاسه] په بله اُوګه ورواچوله او بله ډډه زوړنده وي نو باك نشته.

(٤) نن صبا خلق په یوه اُوګه داسې رومال اچوي چه د هغې یو سر په خیټه د پاسه زوړند وي او بل سر ئې په شا زوړند وي. داسې لمُونځ کول **مکروهِ تَحریمي** دي. (بهارِ شریعت ج۱ ص٦۲٤)

(٥) په دواړو لِستونړو کښې که یو لِستونړې هم د نیم مړوند[1] نه زیات پورته ټول شوې وي نو لمُونځ به **مکروهِ تَحریمي** وي. (اَیضاً. دُرِّمُختار ج۲ ص٤۹۰)

(٦) د نورو جامو لرلو باوجود صِرف په پاجامه [یا پرتوګ] یا لنګ کښې لـمونځ کول **مکروهِ تَحریمي** دي. (عالمګیری ج۱ ص۱۰٦)

(۷) (په لـمانځه کښې) د کُرتې [قمیص] وغیره تنړئ [بټنې] خلاصې کیدل چه سینه پکښې ښکاره وي **مکروهِ تَحریمي** دي خو که لاندې ترې بله څه جَامه [کپړه وغیره] وي چه سینه ترې نه ښکاري نو مکروهِ تنزیهي دي. (بهارِ شریعت ج۱ ص٦۳۰)

(۸) داسې جامې اغوستل چه په هغې د ساه لرونکي څیزونو [مَثَلاً څناور، انسان وغیره] تصویرونه وي په هغې کښې لـمونځ کول مکروهِ تَحریمي دي د لـمانځه نه علاوه هم داسې جامې اغوستل جائِز نه دي. (ایضاً ص٦۲۷)

---

[1] د لاس د کِیټې نه د څنګلې د سره پورې شرعي مړوند دې.

www.dawateislami.net

د مکروهِ تَحرِیمي تعریف

دا د واجِب په مقابَله کښې دې، ددې په کولو لمُونځ ناقِصه کیږي او کونکې ګنهګاریږي اګر چه د دې ګُناه د حرام نه کمه ده او یو څو ځله دا کول کبیره (ګُناه) ده. (بهارِ شریعت ج۱ ص۲۸۳) کوم لمُونځ چه مکروهِ تَحرِیمي شي هغه واجِبُ الاِعاده وي یعني داسې لمُونځ د سره نه بیا کول واجِب وي. د مکروهِ تَحریمي داسې صورتونه هم شته چه په هغې کښې د سجده سهو کولو سره لمُونځ صحیح شي. د دې د تفصیلي معلوماتو د پاره د د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکتَبَةُالمَدِینه کتاب "د لـمانځه اَحکام" ولولئ.

(۹) د نورو جامو لرلو باوجود د کار په جامو کښې لمُونځ کول **مکروهِ تنزیهي** دي.
(شرحُ الوِقایة ج۱ ص۱۹۸)

(۱۰) په څټ [یعني په اَستر، اُلټه] جامې اغوستلو یا په سر کولو سره لمُونځ کول **مکروهِ تنزیهي** دي.
(فتاوٰی رَضَوِیَّه ج۷ ص۳۵۸ نه ۳٦۰ پورې)

(۱۱) د ناراستئ په وجه سر تور سر لمُونځ کول **مکروهِ تنزیهي** دي. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۴۹۱) که په لـمانځه کښې خولئ [ټوپئ] یا عمامه شریف اوغورزیږي نو راپورته کول ئې غوره دي هله چه د عَمَلِ کثیر حاجت پیښ نه شي ګنې فاسِد به شي. او که بیا بیا راپورته کول غواړي نو پریږدئ ئې او که د نه راپورته کولو نه خُشُوع و خُضُوع مقصود وي نو نه راپورته کول غوره دي.
(دُرِّ مُختار و رَدُّالمُحتار ج۲ ص۴۹۱)

(۱۲) که څوك په سرتوره لمُونځ کوي یا د هغه د سر نه ټوپئ پریوتې وي نو بل کس دِ هغه ته ټوپئ نه په سر کوي.

د عملِ کثیر تعریف

عَمَلِ کثیر لمُونځ فاسِد کوي [یعني ماتوي] هله چه نه د لـمانځه د اعمالو نه وي او نه د لـمانځه د اِصلاح د پاره شوې وي. [په لـمانځه کښې] د څه کار کولو والا چه د لرې نه داسې ښکاري چه دا

www.dawateislami.net

په لـمانځه کښې نه دې بلکه که غالِب ګُمان هم وي چه په لـمانځه کښې نه دې نو بیا هم عَمَلِ ګَثیر دې. او که د لرې نه کتونکې په شك او شبه کښې دې چه دا په لـمانځه کښې دې او که نه نو عَمَلِ قلیل دې او لمُونځ به ئې نه ماتیږي. (دُرِّمُختار ج۲ ص٤٦٤)

په نیم لِستونړي کښې لمُونځ کول څنګه دي

(۱۳) د نیم لِستونړي کُرته یا قمیص کښې لـمونځ کول **مکروهِ تنزیهي** دي هله چه د هغه سره نورې جامې وي. حضرت صَدرُ الشَّرِیعه مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ”د چا سره چه جامې موجودې وي او صِرف د نیم لِستونړي [قمیص] یا بنین واغوندي او لمُونځ پکښې کوي نو کراهتِ تنزیهي دې او که جامې ورسره نه وي نو کراهت هم نشته.“ (فتاوٰی امجدیّه ج۱ ص۱۹۳)

(١٤) مُفتیٔ اعظم پاکستان حضرت قِبله مُفتي وقارُ الدِّین قادِري رَضَوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د نیم لِستونړي والا کُرته، قمیص یا شرټ د کار د جامو په حُکم کښې شامِل دي (وَلې چه د کار په جامو کښې انسان دَ مُعَزّزو [عِزّت مندو] خلقو مخې ته د ورتلَلو نه ډډه کوي) نو چه څوك د نیم لِستونړي والا کُرته [قمیص، شرټ] کښې د نورو خلقو مخې ته ورتلل نه خوښوي د هغوئي لمُونځ **مکروهِ تَنزِیهي** دې او کوم خلق چه په داسې جامو کښې د ټولو مخې ته په ورتلَلو کښې هیڅ عیب نه ګنړي، د هغوئي لمُونځ مکروه نه دې. (وَقَارُ الفتاوٰی ج۲ ص۲٦٤)

د مکروهِ تنزِیهي تعریف

د کوم کار کول چه شَرع نه خوښوي، خو د دومره حده پورې (ناخوښه) نه چه په هغې د عذاب وَعِید [یعني خبر] ورکړې شوې وي او دا د سُنّتِ غیر مؤکَّده په مقابله کښې دې. (بهارِ شریعت جِلد اوّل ص۲۸٤) کوم لمُونځ چه مکروهِ تنزِیهي شي د هغې دوباره کول غوره دي او که وئې نه کړي نو ګنهګار نه شو.

مرے دل سے دُنیا کی چاہت مٹاکر کر اُلفت میں اپنی فنا یا الٰہی

(وسائلِ بخشش ص۷۸)

www.dawateislami.net

لرې زما د زړه نه د دنیا محبّت کړه ستا په مینه کښې مې کړه فَنا یا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مَدَني قافِلې زه بالکل بدل کړم!

په خپل زړه کښې د **نیکئ د دعوت** د بې شمیره ثوابونو حِرص راپیدا کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره هر وخت تړلي اوسئ او په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د عاشِقانِ رسول سره په **مَدَني قافله** کښې د سُنّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د شوق زیاتولو د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروروم. چنانچه د علاقه اندهیري (بمبئ. اَلهِند) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: ما د سکول په نهم کِلاس کښې تعلیم حاصلولو، د ماډرن او وران کارو هلکانو سره مې دوستي شوه او زه په قِسم قِسم ګناهونو کښې اَخته شوم چه په هغې کښې چرس، بَنګ، شراب او د جینکو سره عِشق کول شامِل دي. تر دې چه یوه ورځ مې د کور (د روپو ساتلو) بکس مات کړو، روپئ مې ترې اوویستلې او "ګُوا" ښار ته وتښتیدم. آخِر دا چه یوه ورځ بیا کور ته راغلم. سکول مې پریښودو او د A.C د مُرمّت کار مې شروع کړو. یو څو میاشتې پس د **دعوتِ اسلامي** یو عاشِقِ رسُول ما ته د هفته وارې **د سُنّتو ډکې اجتماع** دعوت راکړو خو ما خبره اخوا د وا کړه. هغه غریب د **اِنفِرادي کوشش** کولو د پاره ډیرې پیرې زما سره ملاقات وکړو خو زه اجتماع ته د تلَلو د پاره راضي نه شوم. یو ځل هم هغه اسلامي ورور زما په مشر ورور باندې "اِنفِرادي کوشش" کولو چه په دې کښې زه هلته ور ورسیدم. مشر ورور مې هغه اسلامي ورور ته د ځان د پاره معذرت وکړو او زما طرف ته ئې مخ را وګرځولو او ما ته ئې اُووئیل: ته په **مَدَني قافِله** کښې لاړ شه. زه انکار کولو والا ووم چه بې اختیاره مې د خُلې نه "ښه" اُووَتله حالانکه زه د دې نه هم خبر نه ووم چه **مَدَني قافِله** څه ته وائي! **اَلْحَمْدُلِلّٰه**عَزَّوَجَلَّ **مَدَني قافلې زه بالکل بدل کړم!** زما سترګې وغړیدې، د ګناهونو نه مې نفرت پیدا شو او د نیکو سره مې محبّت پیدا شو، ما د ګناهونو د ډك ژوند نه توبه وکړه، د لمُونځونو پابندي مې شروع کړه، مَدَني قافلې د ګناهونو نه

www.dawateislami.net

ډك ماحول کښې غټ شوې زما په شان سخت نافرمانه د لمُونځونو او سُنّتو پابند جوړ کړو. د دې بیان ورکولو وخت کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د دُنیائے اَهلِسُنّت په عظیم الشَّانه درسگاه جامِعه اشرفیه مبارکپور (یُو پي هِند) کښې د درسِ نِظامي کولو سعادت حاصلووم.

چُھوٹ جائیں گناہ، آپ پائیں پناہ تھوڑی ہمّت کریں، قافلے میں چلو
تم سُدھر جاؤ گے گر اِدھر آؤ گے سیکھنے سنّتیں، قافلے میں چلو
فضلِ مولیٰ سے جب آئیں گے پائیں گے
جذبۂ علمِ دیں قافلے میں چلو

خلاص به شئ له گناه، اومومئ به پناه وکړئ لږ شان هِمّت، قافِلو کښې لاړ شئ
دلته راشئ که تاسو، نیك به شئ تاسو زده کړئ ښکلي سُنَّتونه، قافلو کښې لاړ شئ
په فضل د مولیٰ، چه راځئ وبه مومئ جذبه د عِلمِ دِین، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دا امِعةُ الاشرفیه او د هغې د باني مختصر تعارُف

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د مُبَلِّغ دعوتِ اِسلامي د اِنفِرادي کوشش د اِستِقامَت په بَرَکت آخِر د علاقې وران کارې او په گناهونو کښې اخته نَشَئ ځلمې په مَدَني ماحول کښې شامِل شو او په جامِعةُ الاَشرفیه (مبارکپور الهِند) کښې ئې داخِله واخسته او طالِبِ عِلمِ دین جوړ شو. د بَرَکت حاصلولو د پاره د ثواب په نِیّت د ماهنامه اشرفیه "حافِظِ مِلّت نمبر" (رَجَبُ المُرَجَّب ۱۳۹۸ھ بمطابق 14 جنوری 1978ء) په مدد د جامِعةُ الاَشرفیه او د هغې د باني د ذِکرِ خیر کولو سعادت حاصلووم. د دُنیائے اَهلِسُنَّت د عظیمُ الشَّاني دیني درسگاه الجامِعةُ الاَشرفیه (مُبارکپور) باني اُستاذُ العُلَماء، جَلالَةُ العِلم، حافِظِ مِلَّت حضرت عَلّامه شاه عبدُ العزیز مُحَدِّث مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دې. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **۲۹ شَوالُ المُکَرَّم** ۱۳۵۲ھ بمطابق 14جنوري 1934ء کښې د خپل اُستاذِ مُکَرّم **صَدرُ الشَّرِیعه، بَدرُ الطَّرِیقه** حضرت علّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په حُکم د

www.dawateislami.net

خپلو سبقونو د مکمّل کولو نه پس مبارکپور ته تشریف راوړو. هغه وخت دلته یوه مَدرَسه د "مِصباحُ العُلوم" په نوم باندې قائِمه وه. د حضرت حافِظِ مِلّت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ د ډیرو زیاتو کوششونو په نتیجه کښې **اللہ تعالٰی** هم په هغه وړه شان مدرسه کښې بَرَکت عطا کړو او آخِر دا مَدرسه په یوه ډیره لویه جامِعه کښې بدله شوه او د جامِعه اَشرفیه په نوم مشهوره شوه. د دې ادارې نه فارِغُ التَّحصیل کیدونکي (حضرات) د دې د قدیم نوم "مِصباحُ العُلوم" په نِسبت **مصباحي** نومیږي.

د سُنّتو سره مَحَبّت

حافِظِ مِلّت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ به په خپل هر عمل کښې د سُنّتو ډیر زیات خیال ساتلو. یو ځل د حضرت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ ښئ ښپه زخمي شوه، یو صاحِب دوائي راوړه او وئیل ئې: حضرت! دوائي حاضِره ده. د جَمي (یعني د یخنئ) زمانه وه حضرت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ موزې په ښپو کړي وې. هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ مخکښې د چپې ښپې موزه اوویستله، هغه صاحِب اُووئیل: حضرت ستاسو خو ښئ ښپه زخمي ده! هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ اُوفرمائیل: د چپې ښپې نه مخکښې ویستل سُنَّت دي.

د حافِظِ مِلَّت کَرامت

د الجامِعۃُ الاَشرفیه باني حافِظِ مِلّت حضرت علّامه شاه عبدُالعزیز مُحَدِّث مُراد آبادي رَحمَۃُاللہِ تَعَالٰیعَلَیہ ډیر لوئ بزرگ وو. د هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ د مبارك ژوند حالات لیکونکو د هغوئي ډیر کرامات بیان کړي دي. په هغې کښې یو دا هم دې چه جامِع مسجد مبارك شاه هم مخکښې ډیر مختصر وو او ضعیفه شوې هم وو، د آبادئ زیاتیدو سره د جُمات غټول هم ضروري وو، بهرحال زوړ جُمات شهید کړې شو او نوي بنیادونه کیښودې شو او د جُمات د غټولو کار شروع شو. د مُبارك پور مسلمانانو ډیر د زړه په شوق او مینه د دې په جوړولو کښې هم حِصّه واغسته، حضرت **حافِظِ مِلّت** رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ د دې کار هم رهنما او مشر وو، حضرت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیہ د جامِع مسجد د پاره په ډیره توجُّه او کوشش چنده راټوله کړه، د مبارك پور په خلقو کښې ډیر جوش او جذبه وه، د غریبئ باوجود مسلمانانو د خپل دیني غیرت پوره پوره ثبوت ورکړو، سړو د خپلې ګټې په ذریعه او

www.dawateislami.net

زنانۀ د خپلو [سرو او سپینو زرو د] کالو وغیره په ذریعه اِمداد وکړو. د چت اچولو نه پس حاجي محمّد عُمر د ډیرې وارخطائې په حالت کښې په منډه منډه د حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خوا ته راغلو او وئیل ئې: حافِظ صاحب د جامع مسجِد چت په ښکته راروان دې [یعني د غورزیدو خطره ئې ده] اوس به څه کیږي! حاجي [محمّد عُمر] صاحِب د دې خبرې سره په ژړا شو. حضرت حافِظِ مِلّت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فوراً پاڅیدلو، اودس ئې وکړو او د حاجي صاحِب سره د کوره اُووَتلو، او خپل ګاونډي خان محمّد صاحِب ئې د ځان سره روان کړلو، جامع مسجد ته چه ور ورسیدلو نو بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ئې ولوستو او یو څو لرګي ئې ورته ودرول. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ چت داسې برابر او سم شو چه نن هم ورته اُوګورئ نو پرې پوهه به هم نه شئ چه د چت کومه حِصّه راښکته شوي وه!

د حافظِ مِلّت ځیني عاداتِ مبارَکه

د اودس کولو د پاره به مخ په قبله کښیناستلو. د حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه پاجامه کله هم دومره اوګده چا نه ده لیدلې چه ګیټئ [پرکې] ئې پرې پټې شوي وي. رښتیا خبره خودا ده چه د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه انداز او لِباس به چا ولیدو نو پوهه به شو چه شرعي انداز داسې وي. په سفر او حَضَر (یعني په سفر او وطن دواړو ځائیونو) کښې د حضُور حافِظِ مِلّت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په ښکلي ښکلي عادتونو کښې دا هم شامل وو چه د ډوډئ نه مخکښې به ئې دواړه لاسونه د ګِیټو پورې وِینځل او ډوډئ به ئې په خُله کښې ښه میده کوله، خوراك به ئې که د طبیعَت مطابق وو یا د طبیعت خِلاف، خو عیب به ئې پکښې نه بیانولو، د ډوډئ نه فوراً پس به ئې اوبه نه څښلې بلکه څه ساعت پس به ئې څښلې. هم دغه رنګ چه اوبه به ئې کله هم څښلې نو د شُومَلو په انداز [یعني په ورو ورو ګُوټُونو] او په درې ساګانو کښې به ئې څښلې.

د رانجه لګولو په بَرَکت ئې په بوډاوالي کښې هم نظر تیز وو

د حضُور حافِظِ مِلّت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه عُمر مبارك د اویاؤ کالو نه اَوُښتې وو، د هغه وخت واقعه ده چه په ریل ګاډي کښې په سفر وو، په کوم برت چه تشریف فرما وو، اِتِّفاقاً یو داکټر صاحِب هم په هغه برت ناست وو، ډاکټر صاحِب ورسره خبرې شروع کړې نو د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ډیر

www.dawateislami.net

عِلم نه ډیر متاثِره شو، او ساعت په ساعت به ئې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه طرف ته په حیرانئ سره کتل، د خبرو په دوران کښې ډاکټر صاحِب خپله حیراني ښکاره کړه او وئیل ئې: مولانا صاحِب! زه د سترګو ډاکټر یم، زه وِینم چه په دې عُمر کښې هم ستاسو په نظر کښې هیڅ فرق نه دې راغلې، بلکه ستاسو سترګې د ماشومانو په شان ځلیږي، دا را ته اووائې چه آخِر د دې د پاره څه استعمالوئ؟ وئې فرمائیل: ډاکټر صاحِب! زه څه خاص دوائي وغیره خو نه استعمالوم، خو یو عمل دې چه په هغې کښې ناغه نه راولم، [هغه دا چه] زه د شپې د اُوده کیدو په وخت کښې د سُنَّت مُطابق رانجه استعمالووم او زما یقین دې چه د سترګو د پاره په دُنیا کښې د دې عمل نه غوره بله دوائي نه شي کیدې. د **اللّٰه تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مسلکِ اعلیٰ حضرت کا اِک گلِستاں — علمِ صدرُ الشَّریعہ کا بحرِ رَواں
علم سے جس کے سَیراب سارا جہاں — لہلہانے لگا دین کا بُوستاں

جس طرف دیکھئے اس قدم کے نشاں
حافظِ دین و ملت پہ لاکھوں سلام

د مَسلکِ اعلیٰ حضرت یو گلِستان — د عِلمِ صَدرُ الشَّرِیعه بَحرِ روان
چه په عِلم ئې اوبه شو ټول جهان — شین زرغون شولو د دین ښکلې بوستان
هر طرف ئې د قدم چه دې نِشان — په حافِظِ دِین مِلّت بې شماره سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د "اِثمِد" د څلورو حروفو په نِسبت د رانجو لګولو 4 مَدَني ګلونه

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د حضُور حافِظِ مِلّت د سُنّتو سره **مَحَبّت** مرحبا! او د سُنّتو په مَحَبَّت کښې د سُنَّتو مطابِق د رانجو لګولو بَرَکت په دُنیا کښې هم د نظر د حِفاظت په صورت

[1] دریاب

www.dawateislami.net

کښې ښکاره شو، که څه مجبوري نه وي نو تاسو هم هره ورځ د سُنَّتو مطابق د رانجو لګولو نِیَّت وکړئ. ستاسو د اَسانئ د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه د چاپ شوې رسالې "۱۰۱ مَدَنی پھول" [اُردو] صفحه ۲۷ او ۲۸ نه د رانجو په باره کښې څلور مَدَني ګلونه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم، قبول ئې کړئ او د خپل زړه په مَدَني ګُلدسته کښې ئې ولګوئ: (۱) د "سُنَنِ ابنِ ماجه" په رِوایت کښې دي:"په ټولو رانجو کښې غوره رانجه "اِثمِد" دي ځکه چه دا نظر روښانه کوي او بانړه رازرغونَوي." (ابنِ ماجه ج٤ ص١١٥ حدیث٣٤٩٧) (۲) د کانړي رانجه اِستعمالولو کښې باك نشته او تور رانجه یا کاجَل د زِینَت په اِراده (یعني د ښکُلا په نِیَّت) د نارِینه د پاره لګول مکروه دي او که د زِینَت مقصد ئې نه وي نو کراهَت نشته. (عالمگیری ج٥ ص٣٥٩) (۳) رانجه د اوده کیدو په وخت کښې لګول سُنّت دي. (مِراٰةُ الْمَناجِیح ج٦ ص١٨٠) (٤) د رانجو استعمالولو د درې منقولو طریقو خُلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: (۱) کله په دواړو سترګو کښې درې درې سلایان(۲) کله په ښئ سترګه کښې درې او په ګڅه سترګه کښې دوه، (۳) او کله په دواړو سترګو کښې دوه دوه او بیا په آخِره کښې یو سلائي په رانجو کښې اووهئ او وار په وار ئې په دواړه سترګو کښې پورې کړئ. (اُنْظُر: شُعَبُ الاِیمان. ج٥ ص٢١٨ ٢١٩) داسې کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په درې واړو طریقو عمل کیږي.

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د تَکْرِیم [یعني عِزّت] چه به څومره هم کارونه وو، هغه ټول به زمونږه **خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښئ طرف نه شروع کول،لِهٰذا اوّل په ښئ سترګه کښې رانجه لګوئ بیا ئې په ګڅه سترګه کښې لګوئ. په قِسم قِسم زرګاؤ سُنَّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِ شریعت" حصّه ١٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "سُنّتیں اور آداب" هدیه کړئ او ولولئ. د سنّتو د تربِیَّت یوه غوره ذریعه د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هم دې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د نیکئ دعوت ډیر خوندور عِبادت دې

د **نیکئ دعوت** ورکولو کښې کله هم سُستي کول نه دي پکار، که دا مَدَني کار په اِخلاص د **اللهتعالیٰ** د رضا د پاره وکړې شي نو بیشکه ډیر خوندور عبادت دې. چنانچه د امِیرُ المُومِنِین حضرت سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ارشاد دې: ما د عِبادت خوند په څلورو څیزونو کښې اوموندلو: (۱) د **الله تعالیٰ** د فرائِضو په ادا کولو کښې (۲) د **الله تعالیٰ** حرام کړې شوي څیزونو نه په بچ کیدو کښې (۳) د **الله تعالیٰ** د رضا د حاصلولو په غَرَض د نیکئ حُکم ورکولو کښې (٤) د **الله تعالیٰ** د غَضَب نه د بچ کیدو د پاره د بدئ نه په منع کولو کښې. (اَلمُنَبِّهات ص۳۷)

د نیکئ د دعوت نه د محرومئ په صورت کښې د مرګ خواهِش

صحابیِ رَسُول حضرت سَیِّدُنا اَبي بَکره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په یوه موقع وفرمائیل: د بل یو سا لرونکي د مرګ په ځائ زه خپل مرګ خوښووم، دا ئې چه واوریدل نو حاضِرو خلقو عرض وکړو: تاسو داسې په څه وجه وائې؟ وئې فرمائیل: زه یریږم چه چرې په ژوندون داسې زَمانه ونه وِینم چه په هغې کښې زه **د نیکئ حُکم نه شم ورکولې او د بدو نه منع نه شم کولې** ځکه چه په داسې زمانه کښې هیڅ خیر نشته. (شرحُ الصُّدور ص۱۱، اِبنِ عساکِر ج۶۲ س۲۱۵)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! زمونږه د اسلافو څومره ښکلي جذبه وه! څنګه مَدَني سوچ به ئې لرلو او د **نیکئ د دعوت** سره ئې څومره زیاته مینه لرله ځکه چه د هغوئ په نِزد د نیکئ د دعوت نه بغیر لکه چه د ژوند هیڅ تَصَوُّر نه وو او نن زمونږه حالت دا دې چه د نیکئ د دعوت په زرګاؤ موقعې راځي خو بیا هم مونږ څه پرواه نه کوو. حالانکه ډیرې موقعې داسې هم راشي چه په هغې کښې **نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** یعني د بدو نه منع کول **واجِب** شي خو افسوس د هغې طرف ته هم زمونږ هیڅ توجُّه نه وي.

د بدمذهبئ نه توبه

د **نیکئ د دعوت** جذبه موندلو د پاره، جذبه نوره زیاتولو د پاره، د بدعقیدګئ د ختمولو درد په

زړه کښې نور زیاتولو د پاره او د بې لارې خلقو د اصلاح کولو په ذریعه خپل ځان د جَنَّت حقدار جوړولو د پاره د تبلیغ قرآن و سُنّت د عالمګیر غیر سیاسي تَحریك، **دعوتِ اِسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت تعلق مضبوط ساتئ، د خپل ایمان د حفاظت د پاره فِکرمند اوسئ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتو عمل کوئ، د **مَدَني اِنعاماتو** مُطابِق ژوند تیروئ او په دې باندې د اِستِقامَت موندلو د پاره هره ورځ د **"فِکر مَدِینه"** په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اِسلامي ذِمّه دار ته جمع کوئ او خپل دې مَدَني مَقصد چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو په **مَدَني قافِله** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص [د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروم، د پنجاب (پاکستان) د یو اسلامي ورور د لیکلي بیان خُلاصه ده: د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د شاملیدو نه مخکښې زما ناسته ولاړه د بدعقیده خلقو سره وه. کم نه کم دیارلس کاله د هغوئي د ضَلالت نه ډك صُحبت کښې د اوسیدو په وجه زما عقائِد هم **مَعَاذَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د هغوئي په شان شوي وو او عملي حالت مې هم ډیر ښه نه وو ، د فلمونو، ډرامو، سندور او سازونو شوقي ووم او زما په مخ باندې ګِیره هم د سُنّت مطابق نه وه بلکه وړه غوندې وه. زما د جنرل اسټور خوا ته نِزدې جُمات ته به یو دِیني طالِبِ عِلم اسلامي ورور د **فیضانِ سُنّت** د درس ورکولو او مَدرَسَةُ المَدِینه (برائے بالِغان) لګولو د پاره راتلَلو. غالِباً د صَفَرُالمُظَفّر۱٤۲۰ھ بمطابق جون 1999ء واقعه ده چه د ښار په سطح باندې د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکې اجتماع زبردسته تیاري جاري وه. په هغه ورځو کښې هم هغه دیني طالِبِ عِلم اسلامي ورور د یو بل اسلامي ورور سره زما دُکان ته تشریف راوړو، هغوئي ما ته سلام وکړو، ما به دعوتِ اسلامي والا ګُمراه کُنړل ځکه به مې ورته د نَفرت په سترګه کتل، په دې وجه ما د هغوئي د سلام جواب ورنکړو او نه مې څه توجُّه ورکړه او د دُکان په صفائي کښې مصروف شوم. هغوئي لږ ساعت ودریدل او بیا ئې په ډیر نرم انداز کښې په مُسکا مُسکا په ښار کښې د کیدونکي

www.dawateislami.net

اجتِماع دعوت راکړو، ما د هغوئ د دعوت قبلولو نه انکار وکړو او بد رد وئیل مې ورته شروع کړل. زما د دې سُلوك په وجه د هغوئ په مخونو د خفګان اثرات ښکاره شو خو د هغوئ صبر او برداشت ته سلام! غریبانانو په خُله هیڅ هم ونه وئیل. د هغوئ د دې انداز نه زه ډیر زیات متاثِره شوم. چه ماښام مې دُکان بند کړو او کور ته لاړم او د ډوډئ خوړلو نه فارِغ شوم نو ما ته د هغه دواړو عاشِقانِ رسول دعوت راکول را یاد شو ما سوچ وکړو چه ورځم او ګورم چه دوئ په خپله اجتماع کښې څه کوي! چنانچه زه هسې د کتلو د پاره ورغلم، خو زه څه خبر ووم ځکه چه زما خو اُوده نصیب راوِیښ شو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د اجتِماع په دوران کښې ما ته په غړیدلو سترګو په وِیښه د مدینې د تاجدار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضۂ انور رُوح تازه کوونکو ښکلو جالو دِیدار وشو! په هغه اجتِماع کښې د سردار آباد (فیصل آباد) نه تشریف راوړونکي مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي د سُنّتو ډك بیان وکړو. د اجتماع نه پس هغوئ د ډیر شفقت [یعني مهربانئ] په انداز کښې په ما انفِرادي کوشش وکړو، د هغې په نتیجه کښې ما په **مَدَني قافِله** کښې د سفر کولو نِیَّت وکړو او ډیر زر ما ته د عاشِقانِ رسول سره د درې ورځو په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو سعادت نصیب شو. زمونږه مَدَني قافِله یو جُمات ته لاړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په اوله شپه په ما ګنهګار باندې ډیر زیات کرم وشو. څه وِینم چه د مسجِدُ النَّبَوِیّ الشَّریف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام انګڼ دې او زه ئې جارو کووم. په دې کښې ښکُلي جالئ برسیره شوې او د اُمّت غمخُوار، مکّي مَدَني سردار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر تشریف راوړو او زما نوم ئې واغستو او ما ته ئې ارشاد اُوفرمائیلو:"**خپل دننه** (یعني باطِن) **هم پاك کړه.**" د دې خوب نه زما په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته شو!حالانکه د دې نه مخکښې **مَعَاذَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زه دَ حَیاتُ النّبی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُنکِر ووم او **مَعَاذَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما هم دا عقیده وه چه سرکارِ مَدینه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه نه وینې او نه اوري او نه زمونږه په باطِني حالاتو خبردار دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په ما حق واضحه شو چه سرکارِ نامدار، د مدینې تاجدار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه نومونو نه څه بلکه زمونږه د زړونو په حالت هم خبردار دې.اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ما د باطِله عقیدو نه په رښتیني توبه وکړه. هغه ورځ او د نن ورځ زما په مخ باندې یو مُوټې ګِیره ده، په سر

www.dawateislami.net

مې د عِمامې تاج او په بدن مې د سُنّتو مطابِق مَدَني لِباس وي او زمونږه ټول کور په مَدَني رنګ کښې رنګ شوې دې د **الله تعالیٰ** شان اُوګورئ چه کوم عاشِقِ رسول زما دُکان ته راغلې وو او ما ته ئې د اجتِماع دعوت راکړې وو او چا چه د اِجتِماع نه پس په ما باندې اِنفِرادي کوشش کړې وو هغه تَرَقّي کوله کوله تر دې چه د دعوتِ اسلامي د مرکزي مجلِسِ شُورٰی رُکن جوړ شوې دې! دا بیان ورکولو وخت کښې زه تقریباً د لسو کالو نه په **مَدَني ماحول** کښې یم او دریو کالو نه راته مسلسل په مَدَني قافِلو کښې د سفر سعادت رانصیب دې. په دې دوران کښې د تحصیل مُشاورت د نګران د ذِمّه دارئ او درې ځله راته بنګله دیش ته د عاشِقانِ رسول سره په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو سعادت حاصِل شوې دې. **الله تعالیٰ** دِ ما ته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت راکړي. د اِخلاص سره دِ د مَدَني کار کولو سعادت او د ایمان او خیر سره دِ د مَدینې په کوڅه کښې شهادت رانصیب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النّبیِّ الاَمِین** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سیکھنے سنّتیں، مسجد آؤ چلیں لائے ہیں قافِلہ عاشقانِ رسول
یاد رکھنا سبھی چھوڑنا مت کبھی دامنِ مصطَفٰے عاشقانِ رسول

کاش! دُنیا میں تم دو بَفَضلِ خدا
دیں کا ڈنکا بجا عاشقانِ رسول (وسائلِ بخشش ص ۴۸۹)

راځئ چه ځُو جُمات ته او زده کړو سُنّتونه راغلي ده قافِله، د عاشِقانِ رسول
واورئ دا یاد ساتئ، کله هم مه پریږدئ لَمَن د خوږِ مُصطفٰی عاشِقانِ رسول
کاش چه ته په دنیا کښې، په فضل د خُدا خور کړې دِین د مُصطفٰی عاشِقانِ رسول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

څه ښکُلې شان ئې دې

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! تاسو ولیده! د خُدائے رَحمٰن جَلَّ جَلَالُہٗ څه ښکُلې شان دې! چه کله په چا مهربانه شي نو په خپل رَحمت د هغه خراب قِسمَت ښکُلې کړي، څوك چه د هغه د خوږِ حبیب

www.dawateislami.net

صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شانِ عَظَمت نِشان نه بې خبره وي د هغه زړه د بدعقیدګۍ د ګندګۍ نه صفا کړي او د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شان بیانولو والا ئې جوړ کړي، څنګه چه تاسو اوس په دې مَدَني سپرلي کښې وکتلو. د **الله تعالٰی پټ تدبِیر** د چا په باره کښې څه دې دا هیڅ چا ته هم نه ده معلومه، بې شمیره داسې خلق چه **د مکّې مدینې د تاجدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عَظَمت لرونکي شان نه به ئې نه صِرف اِنکار کولو بلکه د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه به ئې نفرت کولو او د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خِلاف په مقابِله کښې ولاړ وو، پاك پروردګار جَلَّ جَلَالُہٗ هغوئي د اسلام د دولت څخه مُشَرّف کړل او په خپل خوږ رسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې ځان قربانونکي ئې جوړ کړل! راځئ چه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۲۷٤ صفحو کتاب "صحابۂ کرام کا عِشقِ رسول" صفحه ۷۸ او ۷۹ نه د داسې بعضې حضراتو جذبات واورو:

د اِیمان راوړلو نه پس د صحابۂ کرام جذبات

(۱) حضرت سَیِّدُنا ثُمَامَه بِن اُثال یَمامي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه د اهلِ یمامه سردار وو، د ایمان راوړو نه پس ئې اُوفرمائیل:"په خُدائے مې دِ قسم وي! چه زما په نِزد د زمکې په سر باندې یو مخ هم ستاسو د مخ نه زیات مَبغُوض (یعني قابِلِ نفرت) نه وو نن هم هغه مخ ما ته د ټولو مخونو نه محبوب (یعني ګران) دې. په **الله تعالٰی** مې دِ قسم وي! زما په نِزد یو دین هم ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دین نه زیات بد نه وو، نن هم هغه دین ما ته د ټولو دینونو نه محبُوب (یعني ګران) دې. په **الله تعالٰی** مې دِ قسم وي! زما په نِزد یو ښار هم ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ښار نه زیات مَبغُوض (یعني قابِلِ نفرت) نه وو، په **الله تعالٰی** مې دِ قسم وي! نن هم هغه ښار زما په نِزد د ټولو ښارونو نه زیات مَحبُوب (یعني ګران) دې." (بُخاری ج۲ ص۱۳۲ حدیث ٤۳۷۲) (۲) حضرت سَیِّدَتُنا **هِند بِنتِ عُتبَه** (دابوسُفیان بِن حرب بي بي) چا چه د حضرت سَیِّدُنا اَمِیرِحمزه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ځیګر په غاښونو چې لې وو، د اِیمان راوړو نه پس ئې اُووئیل:"**یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د زمکې په سر د یوې خیمې اوسیدونکي هم زما په نظر کښې ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خیمې د اوسیدونکو نه زیات مبغوض (یعني قابِلِ نفرت) نه وو خو نن زما په نظر کښې د زمکې په سر د یوې خیمې اوسیدونکي هم ستاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خیمې د اوسیدونکو نه زیات محبوب (یعني ګران) نه

www.dawateislami.net

دي.'' (ایضاً ج۲ ص۵٦۷ حدیث۳۸۲۵) (۳) د حضرت سَیِّدُنا صَفوان بِن اُمَیَّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بیان دې چه د (غزوۂ) حُنَین په ورځ رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته مال را عطا کړو، حالانکه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په نظر کښې مبغوض ترینِ خَلق (یعني په ټول مخلوق کښې د ټولو نه بد) وو. هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته [مسلسل مال] راکولو، راکولو تر دې چه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په نظر کښې مَحبُوب ترینِ خلق (یعني په جهان کښې د ټولو نه خوږ) شو. (سُنَنِ تِرمِذِی ج۲، ص۱٤۷ حدیث٦٦٦)

شرابِ عشقِ احمد میں کچھ ایسی کیف و مستی ہے　　کہ جاں دیکر بھی اِک دو گھونٹ مل جائے تو سَستی ہے

په مستئ د شرابِ عِشقِ احمد که ورکړې ځان　　که قربان شي په دوه ګُوټه نو بیا هم دې ډیر ارزان

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

ما درې ورځې د دو کار وکړو!

زمونږه اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام به د ظاهري سره سره په باطني طور هم **د نیکئ د دعوت** ترکیب فرمائیلو، چنانچه د اِمامُ الطّائِفه حضرت سَیِّدُنا جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو مُرید چه هغه په بصره کښې ګوشه نشین وو، د هغه په زړه کښې یوه ورځ د یوې ګناه خیال راغې، د هغه بد خیال په سپیره والي د هغه **د مخ رنګ تور شو**، هغه ډیر وَیَریدو، درې ورځې پس توروالي ختم شو، هم په هغه ورځ ورته د پیر و مُرشِد [جُنید بغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه] چیټئ را ورسیده، په هغې کښې لیکلي شوي وو: خپل زړه په قابو کښې ساته، ستا د مخ د توروالي وِینځلو د پاره ما درې ورځې **د دوبي کار** وکړو. (تَذکِرَۃُ الاَولِیاء، اَلجُزءُ الثَّانی ص۱۸) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د پیرِ کامِل بَرَکَتونه

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دې **حِکایت** نه معلومه شوه چه سَیِّدُنا جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه روشن ضمِیر پیر وو، **الله** تعالٰی هغوئي ته د ډیر لرې نظر عطا کړې وو، ځکه خو هغوئي په **بصره**

شرِیف کښې موجود د خپل مُرید د زړه حالت معلوم کړو، د هغه **تور مخ** ئې هم ولیدو او د لرې نه ئې د باطِني توجُّه کولو په ذریعه د مُرِید د مخ توروالې هم اُووِینځلو! د دې **حِکایت** نه دا درس هم حاصِل شو چه د کامِل پیر په بَرَکت انسان د ګناهونو نه بچ اوسي او که څه خطا ترې وشي نو هُم بِاِذْنِ اللهِ تَعَالٰی د پـیر و مُرشِد د تَوَجُّه په سبَب به د هغې مخ نیوې (یعني د اِصلاح اسباب) هم وشي لِهٰذا ضرور د یو پیرِ کامِل مُرید جوړیدل پکار دي او دا هم معلومه شوه چه د **الله تعالٰی** د یاد لرلو په وجه په مخ باندې د نُورانِیّت یوه خاص نُور ښکاري او د ګناهونو کولو په وجه زړه هم تور شي او مخ هم سپیره شي.

ترے ہاتھ میں ہاتھ میں نے دیا ہے ترے ہاتھ ہے لاج یا غوثِ اعظم
مریدوں کو خطرہ نہیں بحرِ غم سے کہ بیڑے کے ہیں نا خدا غوثِ اعظم
نکالا تھا پہلے تو ڈوبے ہوؤں کو
اور اب ڈوبتوں کو بچا غوثِ اعظم (ذوقِ نعت)

ستا په لاس کښې مې درکړې دې خپل لاس ستا په لاس کښې مې عِزّت دې یا غوثِ اعظم
خطره نشته مُریدانو ته د غم له دریابه د بیړئ دې چلوونکې زما غوثِ اعظم
چه ډوب شوي راوِیستلې وو مخکښې تاسو ډوبیدونکي هم کړئ بچ یا غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اوښ چه کله د مرې شو

د یو جامِع شرائِط پیرِ کامِل په مُرِید جوړیدلو کښې او ځان د چا کولو کښې ډیرې فائِدې دي چنانچه د **مُحَقِّق عَلَی الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِین**، حضرت علّامه **شَیخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د اولِیاءِ کرام رَحِمَهُمُ اللهُ السَّلَام په سِیرت باندې مُشتمِل کتابِ مُستَطاب "اَخْبارُ الْاَخْیار" کښې د حضرت سَیِّدُنا شَیخ حُسّامُ الدِّین رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په حالاتو کښې بیان شوي د دوه خوندور خیالي حِکایاتو په ذریعه د پیرِ کامِل په ذریعه مُرِید ته رسیدونکو فائدو باندې ځان پوهه کولې شئ. چنانچه فرمائي: یوې مرې یو اوښ په ځنګل کښې په څریدلو ولیدو نو ورته ئې ووئیل: اے اوښه د چا

www.dawateislami.net

شه: اوښ جواب ورکړو: ”زه ستا شوم.“ یوه ورځ اوښ د یوې ونې شنې شنې پاڼې خوړلې چه د هغه پیزوان (یعني د پوزې پړې) د وَنې په یو خاخ کښې ډیر سخت ونښتو، اوښ په ځان راخلاصولو کښې ناکامه شو نو هغه په دې سخته کښې مړې ته آواز وکړو! هغه مړې د ځان سره نورې مړې هم راوستلې، ټولو په شریکه په وَنه کښې نښتې رسۍ په غاښونو وشوکوله، او دغسې اوښ راخلاص شو. (اخبارُ الْاَخْیَار ص۱۷۷)

چیندخه ئې چه ولیده نو وتښتیدو

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دې خیالي حِکایت په ذریعه په ډیر ښکُلي انداز کښې په دې خبره باندې د پوهه کولو کوشش شوې دې چه د آزاد اوسیدو په ځائ ”د چا جوړ شئ“ ځکه چه څوك د یو پیرِ کامِل [مُرید] شي نو په مُشکِل وخت کښې د پیرِ کامِل په بَرَکت خلاصې مومي. په دې باره کښې یو بل **خوندور حِکایت** واورئ: په یو مجلِس کښې یو څو کَسان جمع وو، ناڅاپه یوه چیندخه په ټوپونو را ووتله، د هغې په لیدَلو یو هوښیار سړې د هغه ځائ نه وتښتیدو. خلقو (هغه یریدونکې اوګنرلو او) ورپورې ئې اوخندل. چه کله د هغه نه دا تپوس وکړې شو چه ته ولې د چیندخې نه وَیَریدې؟ نو هغه هوښیار سړي اُووئیل چه زه د چیندخې نه نه یریږم، البَتَّه د دې خبرې نه یَریږم چه په هغې پسې چرې **مار** نه وي راروان! هم دغسې که یو درویش پخپله کمزورې وي خو د هغه سلسله ډیره زیاته مضبوطه وي نو د هغه نه ویره پکار ده ځکه چه د هغه په زړه ازاروَلو به د هغه د سلسلې د ټولو بزرګانو زړونه ازاریږي او هغوئې به خفه شي. (اخبارُ الْاَخْیَار ص۱۷۶)

د مُرِید ملا مضبوطه شي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! مار چیندخه خوري ځکه هغه هوښیار سړي چه چیندخه ولیدله نو وتښتیدو چه هسې نه د دې په ښکار کولو پسې وروسته مار راروان وي او ما وچیچي. د دې مثال ورکولو نه پس حضرت سَیِّدُنا **شَیخُ حُسَامُ الدِّین** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د کمزوري مُرشِد او د هغه د قوي پیرانو مِثال ورکړې دې نو واقعي چه څوك د یو پیرِ کامِل مُرید شي د هغه ”ملا مضبوطه“ شي،

www.dawateislami.net

ولې چه که د هغه خپل پیر "کمزورې" وي نو خیر دې! د هغه د پیر پیر یا بیا د هغه پیر خو به مضبوط وي او دغسې به د دُنیا او د آخِرت ښیګړې په لاس ورشي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوي د ۵۰٤ صفحو کتاب "مَلفُوظاتِ اَعلیٰ حضرت" صفحه ۲٦۰ نه ۲٦۳ پورې بعضې خوندور او معلوماتي عرض و ارشاد [سوال و جواب] وړاندې کیږي واورئ او ایمان تازه کړئ:

د بَیعَت معنٰی

عرض: د بَیعَت څه معنٰی ده؟

اِرشاد: د بَیعَت معنٰی ده "خرڅیدل."

د مرګ د سزا په وخت کښې د مُرِید د خپل پیر سره عقِیدَت

(اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي) په **سَبعِ سَنابِل** شریف کښې دي: بادشاه د یو صاحِب د مرګ د سزا حُکم ورکړو. جَلّاد توره را اُووِیستله، هغه د خپل شیخ [یعني پیر] د مزار طرف ته مخ کړې ودریدو، جَلّاد ورته اُووئیل: په دې وخت کښې خلق قبلې ته مخ کوي. هغوئي اُوفرمائیل: "ته خپل کار وکړه ما قبلې ته مخ کړې دې." او خبره هم داسې ده چه کعبه د بدن قِبله ده او شیخ [یعني پیر] د رُوح قِبله ده. دې ته وائي اِرادت (یعني مُریدي)! که څوك هم دغه شان د زړه په عقیدت یوه دروازه ونیسي نو هغه ته به فیض [یعني برکت] ضرور رسي. که د هغه شیخ خالي وي نو د شیخ شیخ خو به خالي نه وي او فرض کړه هغه هم نه، نو حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مَعدنِ فیض (یعني د بَرَکَتونو خزانه) او منبَعِ انوار دې (یعني د انوارو چینه ده) د هغوئي نه به فیض [یعني بَرَکَت] راځي. بس سلسله صحیح او مُتَّصِل (یعني لګیدلي) پکار ده.

دُکان به دِ په بل مخ واړووم

په دې باره کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائیلې شوې یو حِکایت په خپل انداز کښې عرض کووم چه یو فقیر یو دُکان ته راغې او وئیل ئې: یوه روپئ راکړه! دُکاندار اِنکار وکړو، فقیر اُووئیل: که روپئ راکوې نو راکړه ګنې دُکان به درله په بل مخ واړووم، خلق راجمع شو، اِتِّفاقاً یو

www.dawateislami.net

روشن ضمیر بزرگ په هغه طرف راغلو، هغوئي دُکاندار ته اُوفرمائیل: ده ته په منډه روپئ ورکړه کنې دُکان به دِ په بل مخ واوړي، ځکه چه ما د دې فقیر په باطِن نظر واچولو چه څه پکښې شته او که نه! خو معلومه شوه چه دا بالکل "خالي" دې، بیا مې د ده پیر ته وکتل هغه هم بالکل خالي وو، بیا مې د ده د پیر پیر ته وکتل نو هغه په **اَهلُ الله** [یعني الله والؤ] کښې شامِل دې او ومې لیدلو چه هغه په انتِظار کښې ولاړ وو چه کله د ده د ژبې نه وځي او زه دُکان په بل مخ واړووم. دا حِکایت بیانولو نه پس اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل چه هغه فقیر د خپل پیر لمَن کلکه نیولې وه.

د قِیامته پورې راتلونکي مُریدان

ائِمَّۂ دِین (رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین) فرمائي: چه د حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دفتر (یعني رِجِسټر) کښې د قِیامته پورې دَمُرِیدانو نومونه لیکلي شوي دي چه څومره په غُلامۍ کښې دي یا راتلونکي دي. حُضُورِ پُرنُور (غوثِ اعظم) رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: **ربّ تعالٰی** ما ته یو دفتر (یعني رِجِسټر) عطا کړو هغه د نظر د حده پورې (یعني د کوم ځائ پورې چه نظر رسیدې شي) وسیع [فراخه] وو او په هغې کښې تر قیامته پورې زما د ټولو مُرِیدانو نومونه وو او ما ته ئې وفرمائیل: "**قَدْ وُهِبُوا لَكَ** (یعني) دا ټول تا ته وبخښلې (یعني درکړې) شو." (بَهجَةُ الاسرار ص ۱۹۳)

یو اِشکال او د هغې جواب

عرض: حُضُور دا خو په زور روپئ اغستل شو. هغه وَلِیُّ الله که د هغه د دُکان د بچ کولو د پاره د روپئ ورکولو تاکید فرمائیلې وو، نو کیدې شي چه داسې، لکه څنګه چه د ظُلم نه د بچ کیدو د پاره رشوت ورکول وي خو د هغه فقیر د برې پیرئ پیر صاحِب چه په **اَهلُ الله** کښې شامِل وو، هغوئي د دې ظُلم مَلګرتیا څنګه روا وګنړله؟

اِرشاد: د شریعَتِ مُطَهَّره دوه حُکمونه دي: ظاهِر او باطِن، قاضي او عام خلق، هغوئي صرف په ظاهرو حالاتو پوهیږي او په هغوئي باندې د دې پابندي لازِمه ده اګرچه د هغه حال په حقیقت باندې د پوهیدونکو په نِزد د هغې حُکم بِالعَکس [یعني بالکل بدل] وي.

د قتل حیرانوونکي مُقَدَّمه

(نور ئې وفرمائیل) د دې نظیر (یعني مِثال) د سَیِّدُنا داؤد عَلَیْهِ السَّلَام په زمانه کښې تیر شوې دې. یو فقیر مُفلِس، بې اَسره، د ماښام د ډوډئ مُحتاجه به د شپې دُعا کوله "اِلٰهِی رِزقِ حلال راکړې." اِتِّفاقاً یوه شپه یوه غوا د هغه کور ته را ننوتله، ده دا سوچ وکړو چه زما دُعا قبوله شوه او دا رِزقِ حلال ما ته غیبانه راکړې شوې دې، غوا ئې راخملوله او حلاله ئې کړه، د هغې غوښه ئې پخه کړه او وئې خوړله. سحر د هغې مالِك خبر شو، هغه په بارګاهِ نُبُوّت (عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) کښې فریاد وکړو. ورته ئې وفرمائیل:"پریږده! ته مالدار ئې که هغه غریب یوه غوا حلاله کړه نو څه وشو؟" هغه خفه شو او وئیل ئې: یا نَبِیَّ الله! زه حق غواړم. وئې فرمائیل:که حق غواړې نو غوا د هغه وه. هغه نور خفه شو. نو ورته ئې وفرمائیل صِرف دا غوا نه بلکه څومره مال چه ستا سره دې هغه ټول د هغه دې. هغه نور زیات فریاد وکړو نو وئې فرمائیل: ته هم د هغه مال ئې او د هغه غُلام ئې. په دې خو هغه بې حده خفه شو. [سَیِّدُنا داؤد عَلَیْهِ السَّلَام] وفرمائیل: که تصدیق غواړې نو زما سره اوس لاړ شه. هغه فقیر او هغه د غوا دعوٰی لرونکې ئې د ځان سره کړل او ځنګل ته ئې تشریف یوړلو. واقِعه عجیبه وه، ګنړ خلق ورسره لاړل. حُکم ئې وکړو چه د دې وَنې نه لاندې ځائ اوکنئ. چه وئې کنستلو نو د انسان سر او یو خنجر چه په هغې باندې د قتل کړې شوې کس نوم لیکلې شوې وو، را وختل. نَبِیُّ الله (عَلَیْهِ السَّلَام) هغه وَنې ته ارشاد اُوفرمائیلو: شهادت (یعني ګواهي) ورکړه تا څه لیدلي وو؟ وَنې عرض وکړو یا نَبِیَّ الله!(عَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) دا د دې فقیر د پلار سر دې، دا د غوا والا د هغه غلام وو. ده (یعني د غوا والا) موقع اوموندله او زما نه لاندې ئې خپل آقا [یعني مالِك] هم د هغه په خنجر حلال کړو او په زمکه کښې ئې سره د خنجره خخ کړو او د هغه په

www.dawateislami.net

ټول مال ئې قبضه وکړه. د هغه دا ځوئ ډیر وړوکې وو، چه کله په ښه بَد پوهه شو نو په غریبئ او بې وَسئ کښې اخته وو او دا هم ورته نه وه معلومه چه د ده پلار څوك وو او د هغه څه مال وغیره هم وو او که نه؟ **حُکمِ باطِن** [پټ حُکم] ثابِت شو، د غُلام (یعني د غوا والا چه د فقِیر د پلار قاتِل وو) سر پریك کړې شو (یعني قتل کړې شو) او هغه ټول مالونه (کوم چه د غوا والا په قبضه کښې وو) فقیر ته په میراث کښې ورکړې شو. (مثنوی شریف دفتر سِوم صفحه ۲۲٤ نه ۲٤۲ پورې)

(اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حِکایت بیانولو نه پس فرمائي) دغسې دلته هم کیدې شي چه دُکاندار د دې فقیر د مُورِث (یعني د چا چه دا فقیر وارِث دې) مَدیُون (قرضدار) وو، اگرچه دا فقیر د هغې نه خبر هم نه وي او نه دا دُکاندار هغه پیژني نو دا په زور د فقیر د پاره اغستل زیاتې نه دې بلکه حَقّ بَحَقّ دارِ رَسانِیدَن (یعني حق په حقدار سپارل دي).

ہر ہر ذرّہ ہر قطرہ شاہد ہے ہر ہر لحہ
اس کی قدرت و صنعت کا یکتائی و وحدت کا (سامانِ بخشش شریف)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط اٰمَنّا بِرَسُولِ الله

هر یو څاڅکې هره یو ذرّه ګواه ده هره یوه لحظه
د هغه د قُدرت او صَنعَت د یو والي او وَحدت
لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط اٰمَنّا بِرَسُولِ الله

څوك د نیکئ کوونکي په شان دې؟

سرکارِ نامدار، بِاِذنِ پرودګارددواړوجهانو مالِك و مُختار، شَهَنشاهِ اَبرار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ الدَّالَّ عَلَی الْخَیْرِ کَفَاعِلِهٖ یعني بیشکه د نیکئ لار ښودونکې د نیکئ کوونکي په شان دې. (ترمِذِی ج٤ ص ۳۰۵ حدیث۲٦۷۹) **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یعني نیکي کوونکې، بل ته د نیکئ حُکم کوونکې، ښودونکې (او) مشوره ورکوونکې ټول د ثواب حقدار دي. (مِراٰةُ المَناجیح ج۱ ص ۱۹٤)

www.dawateislami.net

سُبحٰنَ الله! د "نیکئ د دعوت" په مَدَني کار کښې **د ښو ښو نِیَّتونو** سره په جائِزه طریقه مرسته کوونکې هم د اجر و ثواب حقدار وي. په دې کښې په دې حُکمِ قُرآني هم د عمل کولو نِیّت کیدې شي څنګه چه د شپږمې سِیپارې د سُوْرَۃُ المَآئِدہ په دویم آیت کښې اِرشاد دې:

وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۪ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۪

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او په نیکئ او پرهیزګارئ کښې د یو بل مدد وکړئ او په ګناه او زیاتي کښې د یو بل مدد مه کوئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د ټولو عَمَل کوونکو په شان ثواب

د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیّین، جنابِ رَحمَۃٌ لِّلعٰلَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دې: څوك چه هِدایت طرف ته بلَل وکړي د هغه د ټولو عامِلِینو (عَمَل کوونکو) په شان ثواب کیږي او په دې به د هغوئ په خپل ثواب کښې هیڅ کمې نه کیږي. او څوك چه ګُمراهئ طرف ته بلَل وکړي نو هغه ته به د ټولو [بَد] عَمَل کوونکو ګمراهانو همره ګناه رسي او دې به د هغوئ د ګناهونو نه هیڅ کم نه کړي. (مُسلِم ص ۱۴۳۸ حدیث ۲۶۷۴)

په لکونو نیکئ او په لکونو بدئ

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: دا حُکم (عام دې یعني) **نبی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئ په خاطِر ټولو **صحابه، اَئِمّۂ مُجتَهِدین، عُلَمائے مُتَقَدِّمِین و مُتَاَخِّرِین** ټولو ته شامِل دې مَثَلًا که د چا په تبلِیغ یو لاك کسان لمُونځ ګُزاره جوړ شي نو د هغه مُبَلِّغ به هر وخت د یو لاك لمُونځونو ثواب کیږي او د هغه لمُونځ ګُزارو به د خپل خپل لمُونځ ثواب کیږي، د دې نه معلومه شوه چه د حُضُور (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د ثواب اندازه مخلوق نه شي کولې. رَبّ (تعالٰی) فرمائي:

وَ اِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ۚ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او ضرور تا لره نه ختمیدونکي ثواب دي) هم دغسې هغه لیکونکي د چا د کتابونو نه چه خلق هِدایت مومي تر قیامته پورې به د لکونو خلقو ثواب هغوئي ته وررَوان وي، دا حدیث د دې آیت خِلاف نه دي: لَيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ۝ (مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: انسان به نه مومي مګر خپل کوشش) ځکه چه دا د ثوابونو زیات والي د هغه د عَمَلِ تبلِیغ نتیجه ده. نور فرمائي: په دې کښې د ګمراهیانو مُوجِّدِین مُبَلِّغِین (یعني ګُمراهئ ایجاد کوونکي او ګُمراهي نورو ته رَسَوونکي) ټول شامِل دي تر قِیامته پورې به هغوئي ته په لکونو ګناهونه رسي. (مِراٰةُ المَناجیح ج۱ ص۱۶۰)

د "نیك" جوړوَلو مشین جوړ شئ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د نیکو حریص [یعني حِرص لرونکي] جوړ شئ، خلق د لمُونځ ګزاره جوړَوَلو کار ښه ډیر تیز کړئ، چه کله هم د جَمعې د لمُونځ د پاره جُمات ته ځئ نو نورو خلقو ته هم ترغِیب ورکوئ او د ځان سره ئې بوځئ، چا ته چه لمُونځ نه ورځي هغوئي ته لمُونځ زده کوئ، که ستاسو په وجه یو کس هم لمُونځ ګُزاره جوړ شو نو چه تر څو پورې هغه لمُونځونو کوي د هغه د هر یو لمُونځ ثواب به تاسو ته هم در رسي. عام طور د ماسخُتن د لـمانځه نه وروسته زیات و کم ٤٠ مِنَټه چلیدونکو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسَةُالمَدِینه (بالِغان) کښې داخِله واخلئ، په هغې کښې پخپله هم قُرآنِ کریم زده کړئ او نورو ته ئې هم زده کوئ. تاسو نه زده کونکي چه کله هم تِلاوت کوي نو ستاسو به هم د تِلاوت کولو ثواب کیږي. تاسو پخپله هم په سُنّتو عمل کوئ او نور هم په عمل کولو راضي کړئ. که تاسو چا ته یو سُنّت یاد کړو نو چه هغه کله هم په هغه سُنّت عمل کوي نو ستاسو به هم په هغه سُنّت د عمل کوونکي په شان ثواب کیږي. د نیکئ د دعوت د علاقائي دورې او په مَدَني قافِلو کښې د سُنّتو ډك سفر په ذریعه د خپل ځان او د نورو خلقو د اِصلاح مضبوط مُهِم وچلوئ او ځان د مسلمانانو نیك جوړوونکي "مشین جوړ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ثواب انبارونه به مو جوړ شي او په دواړو جهانو کښې به مو بیړئ پوریوځي.

www.dawateislami.net

تیرے کرم سے اے کریم! مجھے کون سی شے ملی نہیں
جھولی ہی میری تنگ ہے تیرے یہاں کمی نہیں

ستا په فَضل زما ربّه! ما ته هر شي رانصيب دې
ځولئ زما وړه ده ستا په در کښې کمې نشته

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په هره خبره د یو کال د عِبادت ثواب او ...

چه کله یو مسلمان **د نیکئ دعوت** ورکوي نو د **الله** تعالٰی رَحمت په جوش کښې راځي. چنانچه حُجَّةُ الْاِسْلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحَمّد بن مُحَمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یو ځل حضرت سَیِّدُنا **مُوسٰی کَلِیمُ الله** عَلَیْهِ السَّلَام په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې عرض وکړو: یا الله عَزَّوَجَلَّ! څوك چه خپل ورور ته د نیکئ حُکم وکړي او د بدو نه ئې منع کړي. د هغه جزا څه ده [یعني څه ثواب دې]. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ارشاد وفرمائیلو: زه د هغه د هرې خبرې په بدله کښې د یو یو کال د عِبادت ثواب لیکم او هغه ته د جَهَنّم سزا ورکولو کښې ما ته حیا راځي. (مُکَاشَفَةُ القُلُوب ص۴۸)

د نیکو ډیرې

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! که تاسو چا ته د **نیکئ دعوت** ورکوئ نو د یوې یوې ګِلمې (یعني خبرې) په بدله کښې به د یو یو کال ثواب ګټئ، بِالفرض! تاسو یوه ورځ په جُمات کښې صِرف یو اِسلامي ورور ته د "**فیضانِ سُنّت درس**" ورکړو او په هغې کښې مو دوه صفحات ولوستل، که په هغې کښې شل خبرې د نیکئ او خیر بیان شوې نو درس اوریدونکې هغه اسلامي ورور که په هغې عمل وکړي او که نه ستاسو په اعمال نامه کښې به اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی **د شلو کالو د عِبادت ثواب** ولیکل شي او که ستاسو د درس په اوریدو هغه اسلامي ورور عمل کول شروع کړو نو چه هغه تر څو پورې عمل کوي ستاسو به هم د هغه عمل کوونکي همره ثواب کیږي او که هغه ستاسو په درس کښې زده کړې یو سُنّت بل ته ورسولو نو د هغې ثواب به هغه رسَوونکي ته هم رسي او تاسو ته هم. دغسې

www.dawateislami.net

به اِنْ شَآءَاللّٰه‌تعالٰی ستاسو ثواب ورځ په ورځ زیاتیږي. **د نیکئ د دعوت** په آخرت کښې په لاس راتلونکې ثواب که بنده په دُنیا کښې اُووِیني نو یو ساعت به بیکاره نه ضائِع کوي، هر وخت به **د نیکئ د دعوت** په خورولو کښې مصروف اوسي.

میں نیکی کی دعوت کی دُھومیں مچاؤں تو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی

د نیکئ دعوت چه خور کړم په هر ځائ کښې جذبه داسې را ته راکړې یا اِلٰهی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د درس ورکولو ثواب

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! بیشکه د **فیضانِ سُنَّت** نه درس ورکول هم **"د نیکئ د دعوت"** یوه ذریعه ده. لِهٰذا هِمَّت وکړئ، د شیطان نه ځان خلاص کړئ، سُستي لرې کړئ او هره ورځ کم نه کم "دوه درسونه" ضرور ورکوئ. جُمات درس، چوك درس، بازار درس وغیره کښې کم نه کم د یو درس ترکیب جوړوئ او په مُقَرَّر کړي وخت ضرور ضرور د کور درس په ذریعه هم ډیر ډیر د سُنّتو مَدَني ګلونه تقسیموئ او په دلو دلو ثوابونه ګټئ. په دې باره کښې دوه احادیثِ مبارکه واورئ او خوشحاله شئ: **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه زما اُمَّت ته یوه اِسلامي خبره ورسوي چه د هغې په ذریعه سُنّت قایم کړې شي یا د هغې په ذریعه بدمذهبي لرې کړې شي هغه جَنّتي دې. (حِلْیَةُ الْاَوْلِیاء ج۱۰ ص۴۵ حدیث ۱۴۴۶۶) **دُعائے مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **"اللّٰه تعالٰی دِ هغه تر و تازه لري څوك چه زما حدیث واوري، یاد ئې وساتي او نورو ته ئې ورسوي."** (سُنَنِ تِرمِذی ج۴ ص۲۹۸ حدیث ۲۶۶۵)

د درس بَرَکت

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! راځئ چه تاسو ته د فیضانِ سُنَّت د درس د **جذبې** زیاتولو د پاره یو مَدَني سپرلې واوروم چنانچه د **بابُ المَدِینه** (کراچئ) اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: د ۱۴۱۰ھ بمطابِق 1990ء خبره ده چه ما به په مرکَزُ الاولیاء (لاهور) کښې په یو ځائ

www.dawateislami.net

کښې نوکري کوله. په هُم هغه دوران کښې د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تعلق لرونکې یو اسلامي ورور هم هلته نوکر شو. یوه ورځ ما هغوئي ته اُووئیل چه ما ته یو داسې کتاب وښائې چه د هغې په لوستلو په اسلامي طرز ژوند تیرول کیدې شي. هغوئي ووئیل چه تاسو د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکْتَبَۃُالْمَدِینه "فیضانِ سُنّت" هدیه کړئ. خبره وشوه او تیره شوه. د ژوند ورځې په تیزرفتارئ سره تیریدلې، د شپو او ورځو د تیریدو نه بې پروا ما د معمول مطابق خپل ژوند تیرولو او د دُنیاوي مشغلو په وجه مې هغه کتاب هدیه نه کړې شو. څه موده پس د خدائے کړو ته ګورئ چه زه مُستقل طور بابُ المَدِینه (کراچئ) ته مُنتقِل شوم. یوه ورځ د ماښام د لـمانځه د پاره یو جُمات ته لاړم نو ما ولیدو چه یو اِسلامي ورور سپینې جامې اغوستي وې او د شنې شنې عِمامې تاج ئې په سر کړې وو او د یو کتاب نه ئې درس ورکولو او ډیر اسلامي ورونړه په درس اوریدو کښې مصروفه وو. زه هم په هغه درس کښې کښیناستم، چه کله زما نظر په هغه کتاب پریوتو نو په هغې "فیضانِ سُنّت" لیکلې شوې وو، چه ما ولیدو نو د تیر وخت په سوچ کښې ورك شوم او فِکر له مې دا خبره راغله چه دا خو هم هغه کتاب دې د کوم کتاب د هدیه کولو چه ما ته په مرکَزُ الاولیاء (لاهور) کښې فلانکي اسلامي ورور مشوره راکړي وه. د درس نه پس ما د اسلامي ورونړو سره ملاقات وکړو او د هغوئي نه مې "فیضانِ سُنَّت" د لوستلو د پاره اوغوښتو، هغوئي راکړو. د هغې د لوستلو سره زما په زړه کښې په سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه پیدا شوه او اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ په قلاره قلاره د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شوم او په سُنَّتو مې د عمل کولو د پاره ملا وتړله. او زما سره سره زما درې ورونړه هم اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامل شو.

نہ نیکی کی دعوت میں سُستی ہو مجھ سے بنا شائقِ قافلہ یا الٰہی
سعادت ملے درسِ فیضانِ سنَّت کی روزانہ دومرتبہ یا الٰہی

د نیکۍ په دعوت کښې زما لرې سستي کړه جوړ کړه ما شوقینِ قافله یا اِلٰهی
راکړې سعادت د درسِ فیضانِ سُنَّت هره ورځ ما ته دوه ځله یا اِلٰهی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د دِین قُطبِ اعظم

حُجَّةُ الْاِسْلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د نیکئ حُکم ورکول او د بدو نه منع کول د دِین قُطبِ اعظم دې، (یعني داسې اهم رُکن دې چه د دې سره د دین هر یو څیز تړلې شوې دې) هم دَ دې اَهَم کار د پاره الله تعالٰی ټول اَنبیاءِ کرام مبعُوث کړي [یعني رالیږلي] وو. (اِحیاءُ العُلوم ج۲ ص ۳۷۷)

د عرش سوري به ورته نصیب کیږی

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د مَحشر د میدان په خوفناك ماحول کښې چه په هغه ورځ به د عرشِ اِلٰهی د سوري نه علاوه بل یو سوري نه وي، په هغه ورځ به چه الله تعالٰی خپل کومو مُطِیع او فرمانبرداره بندګانو ته د عرشِ عظیم په سوري کښې ځائ او په جَنّتُ الفِردَوس کښې داخِله ورکوي په هغه خوش نصیبو کښې به د نیکئ دعوت ورکوونکي او د بدو نه منع کوونکي اسلامي ورونړه او اسلامي خویندې هم شامِل وي. چنانچه الله تعالٰی حضرت سَیِّدُنا مُوسٰی کَلِیمُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته وحِي وفرمائیله چه چا د نیکئ حُکم ورکړو او د بدئ نه ئې منع وکړه او خلق ئې زما د اِطاعت (یعني فرمانبرداریئ) طرف ته را وبلَل، د قیامت په ورځ به زما د عرش په سوري کښې وي. (حِلیَةُ الاولیاء ج٦ ص٣٦ رقم٧٧١٦)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

نمر به په پاؤ باندې یو میل کښې وي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! چه کله د قیامت ورځ وي او نمر به پاؤ باندې یو میل راښکته شوې وي او اور به وَرَوِي، د تندې د سختې نه به ژبې بهر راوَتلي وي، خلق به په خوَلو کښې ډوب وي نو **د عرش د سوري** د اَهَمِّیَّت به په صحیح معنو کښې اندازه په هغه ورځ لګي، د هغې طَلَب په خپل زړه کښې پیدا کړئ، [سوچ وکړئ] چه د اُوړي غرمه وي او تاسو په سور لمر کښې په یو هوار خاموشه او خوفناك صحرا [بیابان] کښې ښپې ابله ښپې روان ئې،که په داسې حالت کښې څه

www.dawateislami.net

چوپال یا څه بل د سوري ځائ اُووِینئ هغه وخت به تاسو څومره خوشحاله شئ د دې اندازه تاسو پخپله کولې شئ حالانکه د قیامت د ګرمئ په مُقابَله کښې د دُنیاوي نمر هیڅ حیثیت نشته. لِهٰذا د قیامت په ورځ د **الله** تعالیٰ په رَحمت د عرش سورې موندلو د پاره نن په دُنیا کښې ډیر ډیر د نیکۍ دعوت عام کړئ او د **الله** تعالیٰ نه د عرش د سورې سوال هم کوئ.

یا الٰہی گرمیٔ محشر سے جب بھڑکیں بدن　　دامنِ محبوب کی ٹھنڈی ہوا کا ساتھ ہو
یاالٰہی جب زَبانیں باہر آئیں پیاس سے　　صاحِبِ کوثر شہِ جُود و عطا کا ساتھ ہو
یا الٰہی سرد مہری پر ہو جب خورشیدِ حَشر
سیّدِ بے سایہ کے ظلِّ لوا کا ساتھ ہو　　(حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رَضا! زما د آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مُناجات د درې واړو شعرونو په نمبرنمبر خلاصه اُوګورئ: (۱) اے زما **الله** عَزَّوَجَلَّ! چه کله ورځ د قیامت شي او د حشر د میدان په سخته ګرمئ د خلقو وجودونه سوَځي هغه وخت مونږه غُلامانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د خوږ مَحبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم والا لمَنې یخه یخه هوا نصیب کړې (۲) اے زما خوږه پروردګاره! د قیامت د خوفناکې ګرمئ او سختې تندې نه چه کله ژبې د ازغې په شان وچې شي او بهر ته را اُوځي! په داسې زړه وِیستونکي ماحول کښې د صاحِبِ جُود و سخاوت، د مالِكِ کوثر او مالِكِ جنّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملګرتیا رانصیب کړې، کاش! کاش! کاش! مونږه تندي وهلو ته د صاحِبِ کوثر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ښکلو ښکلو مبارکو لاسو د کوثر ډك جامونه رانصیب شي. (۳) اے رَبِّ کریم! د قیامت په سُور تود میدان کښې چه کله لـمر ډیر زیات تود وي، په داسې سخت لـمر کښې چه دِماغ به خوټکیږي، زمونږه د هغه سَیِّد او سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چا به چه په لـمر کښې په زمکه باندې سورې نه پریوتلو، د هغوئ د عظیمُ الشّانه بیراغ سورې رانصیب کړې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د نیکئ او بدئ پیشوا

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! څوك خپل قائِد، پیشوا [دِیني مشر] او لِیډر [د هر قِسم یو ډلې مشر] جوړولو نه مخکښې د آخِرت د ګټې او د نُقصان مُتَعَلِّق ښه سوچ او فِکر کول پکار دي، څوك خوش نصیبه چه یو **الله** والا نیك بنده خپل پیشوا [دِیني مشر] جوړ کړي د هغه په خبرو عمل وکړي هغه به د قیامت په ورځ هم د هغه سره وي او څوك بدنصیبه چه د دُنیا په تماشو کښې مَست شي او د دولت او نوم ګټلو د لالچ په سبب د بد پیشوا (لِیډر) په جال کښې ونخښلي او په دُنیا کښې د هغه خبرې مني نو په محشر کښې به هم د هغه سره وي. مونږ ټولو ته د قیامت د رُسوائي نه یَریدل پکار دي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "کنزُالاِیمان مَع خَزَائِنُ الْعِرفان" صفحه ۵۳۹ سیپاره ۱۵ سُوْرَۂ بنِي اِسرآءِیْل آیت ۷۱ کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

يَوْمَ نَدْعُوْا كُلَّ اُنَاسٍۭ بِاِمَامِهِمْ ۚ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: په کومه ورځ به چه مونږه هره ډله د هغې د سالار سره رابلو.

صَدرُ الاَفاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد **محمَّد** نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیتِ کریمه نه لاندې فرمائي (د هغه اِمام سره به ئې رابلو) د چا به چه هغه په دُنیا کښې اِتِّباع کوله (یعني خبره منله). حضرتِ اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: د دې نه د هرې زمانې هغه امام (یعني مَشر) مُراد دې د چا په دعوت چه خلق په دُنیا کښې روان وي، که هغه د حق دعوت ورکړې وي او که د باطِل. مطلب دا دې چه هر قوم به د خپل سردار سره جمع کیږي د چا په حُکم چه په دُنیا کښې روان وو او هغوئي به د هغه په نوم رابلَل شي چه د فلانکي **مُتَّبِعِین** (یعني منونکي) (خَزَائِنُ العِرفان)

د نیکئ د اِمام ښه انجام

کومو خوش نصیبو ته چه په دُنیا کښې د تبلِیغ و اِرشاد او د نیکئ د دعوت د کارونو مَنصَب او مقام نصیب شوې وي او هغوئي په ډیر اخلاص په ښه شان خپله ذِمّه واري سر ته رَسَولې وي، د

هغوئي او د هغوئي سره د مرسته کوونکو مُخلِصِینو به په آخِرت کښې مزې وي. په دې باره کښې یو ایمان تازه کوونکې رِوایت واورئ او خوشحاله شئ. چنانچه حضرت سَیِّدُنا کعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د نیکئ اِمام به په قیامت کښې راوستې شي او هغه ته به اُووئیل شي چه د خپل پروردګار جَلَّ جَلَالُہٗ په بارګاه کښې حاضِر شه نو هغه به حاضِر شي او د مینځ نه به حِجابات [یعني پردې] لرې شي، هغه ته به **جنّت** ته د تللو حُکم وشي، هغه چه جنّت ته لاړ شي نو هلته به خپل منزِل (ځائ) او د نیکئ په کارونو کښې د مرسته کوونکو خپلو دوستانو منازِل (یعني ځائیونه) اُووِیني، هغه ته به اُووئیل شي چه دا د فلانکي منزِل دې او دا د فلانکي، نو هغه به په جنّت کښې هغه ټول څیزونه اُووِیني څه چه پخپله د هغه د پاره او د هغه د دوستانو د پاره تیّار وي او خپل مقام به د هغه ټولو دوستانو د مقام نه غوره اومومي. بیا به هغه ته د جَنَّت د حُلّو (جامو) نه یوه حُلّه واغوستې شي او هغه ته به د جَنَّت د تاجونو نه یو **تاج** په سر کړې شي او د هغه **مخ به په ځلیدو** شي تر دې چه د **سپوږمئ** په شان به شي، چه څوك هم هغه وِیني نو وائي به: **یا اللّٰہ!** دا زمونږ ملګرې کړې تر دې چه هغه به د خپلو هغه دوستانو خوا ته راشي چا به چه په خیر او نیکئ کښې د هغه مرسته کوله، هغوئي ته به وائي:! اے فلانکیه خوشحاله شه جَنَّت کښې **اللّٰہ** تعالٰی ستا د پاره داسې داسې اِنعامونه تیّار کړي دي، هغوئي ته به دغسې خوشخبرئ اوروي تر دې چه د هغه د روښانه مخ په شان به د هغه د دوستانو مخونه هم د خوشحالئ نه **په ځلیدو شي** او خلق به هغوئي د **ځلیدلو مخونو** په وجه پیژني. (اَلبُدُورُ السافِرۃ فِی اُمورِ الآخِرۃِ ص ۲٤٥)

پر ضیاءِ کر میرا چہرہ حشر میں اے کبریا
شہ ضیاء الدین پیرِ باصفا کے واسطے

مخ مې کړې روښانه ته په حشر کښې اے کِبرِیا
په خاطر د شاه ضِیاءُ الدِّین پیرِ با صفا

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د کیسټ یوې خبرې مې په زړه داسې اثر وکړو چه...

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د "**دعوتِ اسلامي**" د خوشبودار مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، هم د دې مَدَني ماحول په بَرَکت بیشمیره اسلامي وروڼو او اسلامي خویندو د ګناهونو نه توبه وکړه او د نیکۍ د دعوت په خورولو کښې مصروفه شو، ستاسو د ترغیب او د حِرص راپیدا کولو د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** اورووم، چنانچه د پنجاب (پاکستان) د ښار **چشتیاں** شریف د یواسلامي ورور د بیان خلاصه ده: لمُونځونه قضا کول، ګِیره خرَئِیل، مور او پلار تنګول وغیره وغیره ګناهونه زما په ژوند کښې شامِل وو، د سندرو او سازونو اوریدلو خو ما د لیونتوب د حده پورې شوق لرلو، په قِسم قِسم سندرې به زما په موبائِل فون او کمپیوټر کښې هر وخت موجودي وې، د اِنټرنیټ د غلط استعمال په ګناه کښې هم اَخته ووم د جِینز (JEANS) د ټوټې [کپړې] نه علاوه به ما بل پتلون نه اغوستو تر دې چه یو ځل راله والِد صاحِب د اختر په موقع جامې [قمیص پرتوګ] اوګنډلو نو ما هغه د اغوستلو نه انکار وکړو او د نَفس په خواهِش مې پینټ شرټ واخستلو او د اختر د خوشحالئ په موقع مې واغوستلو. د فیشن د شوق په وجه د عمامې او کُرتې پاجامې [یعني د سُنت مطابق لباس] په باره کښې ما کله سوچ هم نه وو کړې. زما د **اِصلاح** سبب څه داسې وشو چه زمونږ جُمات ته چه کوم نوي **اِمام صاحِب** تشریف راوړې دې، زمونږه خوش قسمتي ده چه هغوئي د تبلِیغ قرآن و سُنّت د غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تَعَلُّق لري. یوه ورځ هغوئي په ما "اِنفِرادي کوشش" وکړو او په هفته واره د سُنَّتو ډکه **اِجتِماع** کښې د شِرکَت دعوت ئې راکړو، د هغوئي د اِنفِرادي کوشش په وجه ما یو دوه ځله په هفته واره د سُنَّتو ډکه **اِجتِماع** کښې شِرکت وکړو. یوه ورځ هغوئي زما والِد صاحِب ته د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** نه جاري شوې د سُنّتو ډك بیان کیسټ "***مُردے کی بے بسی***" په تُحفه کښې ورکړو. د **الله** تعالیٰ په رَحمت یوه شپه ما ته هغه کیسټ د اوریدو سعادت نصیب شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د هغه بیان په بَرَکت زما د زړه دُنیا بدله شوه، خاص طور دې "خبرې": "**اِنسان به د مرګ نه پس د تورو تِیارو قبر ته کُوز کړې شي، که ګاډې ئې لرلو نو هغه به هم په ګیراج کښې ولاړ**

www.dawateislami.net

پاتې شي." زما په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ ما سمدستي د خپلو ټولو تیرو شوو ګناهونو نه توبه وکړه، خپل موبائِل او کمپیوټر مې هم د سندرو د سپیره والي نه پاك کړو او د "دعوتِ اسلامي" د **مَدَني ماحول** سره مې تړون وکړلو. دې "مَدَني ماحول" زه بالکل بدل کړم ما د خوږ خوږ آقا، مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبّت نښه ګِیره مُبارکه پرېښوده او د عِمامې تاج مې په سر کړو او د سُنّتو مطابِق مَدَني لِباس مې واغوستلو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دې لِیك د وخته پورې زه د یونیورسټۍ په هاسټل کښې د دعوتِ اسلامي د شُعبۀ تعلیم د ذِمّه دار په حیثیت د مَدَني کارونو د خورولو په کوششونو کښې مصروف یم.

یقینا مقدّر کا وہ ہے سکندر جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی دلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول
گنہگارو آؤ سیہ کارو آؤ
گُنہ تم سے دیگا چُھڑا مَدَنی ماحول

یقیناً د مُقَدّر هغه دې سِکندر په خیر چه نصیب شو د چا مَدَني ماحول
دلته به زده کړئ تاسو سُنّتونه پیدا به کړي په تا کښې خوفِ خُدا مَدَني ماحول
ګنهګارو را شئ، بدکارو راشئ لرې به له تاسو کړي ګناه مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د جُمات اِمام لکه چه د علاقې بې تاجه بادشاه وي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د جُمات د اِمام اسلامي ورور **اِنفِرادي کوشش** یو ماډرن او فیشني ځلمې د سُنّتو نمونه جوړ کړو! عام طور د جُماتونو اِمام صاحِبان د عامو اسلامي ورونړو په نِسبَت زیات اثر لري. خاص طور خوش اَخلاقه او اَشنائي ساتونکې د جُمات اِمام وګنړئ چه د هغه علاقې "**بې تاجه بادشاه**" وي، خلق د هغه ډیر زیات احترام کوي او د هغه خبره په خوشحالئ مني او په سر سترګو ئې قبلوي. د ائِمۀ کرام [یعني اِمام صاحِبانو] په خِدمت کښې زما "مَدَني

www.dawateislami.net

عرض" دې چه هغوئي صرف د جُمعَةُ المُبارَك بیان کافي نه ګنړي، د موقعې په مُناسَبَت هره ورځ د **فیضانِ سُنَّت** د درس ترکیب جوړوئ، او د درس ورکونکي مُعلِّم د حوصله زیاتولو د پاره په درس کښې شِرکت هم کوئ، "اِنفِرادي کوشش" ښه ډیر زیات کوئ، **د نیکۍ د دعوت** په **علاقائي دوره** کښې پخپله ضرور شرکت کوئ، هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول په **مَدَني قافِله** کښې د سُنّتو ډك سفر سَعادَت حاصِلوئ، واقعي که امام صاحب پخپله سفر کوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د هغوئي مُقتدیان به هم په آسانۍ د **مَدَني قافِلو** مُسافر جوړ شي. بَهرحال هر اِمام صاحِب ته د خپل دې منصب او قدر "جائِز فائِده" اخستو په ذریعه په خپله علاقه کښې د **مَدَني کارونو** خورَوَل او د سُنَّتو مَدَني ماحول جوړول پکار دي او د ځان د پاره د آخِرت د ثواب ښه ډیره ذخیره جمع کول پکار دي. د خپلو مُقتدیانو سره په زیاته آزادۍ ساتلو خپل رُعب او عِزَّت مه خرابوئ او د فالتو خبرو نه ځان ساتئ، د دې په ځائ هغوئي ته د سُنَّتو ډك خوشبوداره **مَدَني ګلونه** وړاندې کولو کښې د دواړو جهانو خیرونه دي. په دې باره کښې یو د نصیحت نه ډك حِکایت واورئ چنانچه

د ووه ۷ د پاره ووه ۷ پوره دي

د **حضرت** سَیِّدُنا حاتِم اَصم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خِدمت کښې یو کس حاضر شو او وئیل ئې ما ته نصیحت وکړئ. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه وفرمائیل: (۱) که ته رفیق (یعني ملګرې) غواړې نو [د] **الله** تعالٰی (یاد) ستا ملګرې دې (۲) که د لارې ملګرې غواړې نو"**کِراماً کاتِبِین**" (یعني اعمال لیکونکي فرښتې) ستا د پاره کافي دي. (۳) که عِبرت غواړې نو"د دُنیا فاني کیدل" د عِبرَت د پاره کافي دي (٤)که مُونِس[سکون ورکونکې]اوغم لري کونکې غواړې نوقرآنِ کریم کافي دې(۵) که شَغل (یعني کار) غواړې نو"عِبادت" کافي دې (٦) که واعِظ(یعني نصیحت کونکې) غواړې نو "مرګ" کافي دې. دا شپږ مَدَنـي ګلونه عنایت کولونه پس ئې په **ووم نمبر** ارشادأوفرمائیلو: دا خبرې که ستا نه وي خوښې نو دوزخ ستا د پاره کافي دې. (تَذکِرَةُ الاولیاء الجُزء الاوّل ص۲۲٤)

www.dawateislami.net

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په پټه د بې حيائي کوونکي غلط فهمي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو وليده! زمونږه بُزُرگانِ دِين به د **نيکئ د دعوت** يوه موقع هم نه ضائِع کوله، که هغوئي نه به چا نصيحت غوښتلو نو هغه ته به ئې آخِرت کښې په کار راتلونکي "مَدَني گلونه" وړاندې کول. واقعي که په سفر او حَضَر [يعني کور] او هر ځائ کښې د **الله** تعالٰی ياد ملگرې وي او هر وخت دا احساس وي چه "**الله** تعالٰی **ما وِيني**." څنگه چه په ديرشمه سيپاره سُورَةُ العَلَق آيت ١٤ کښې ارشاد کيږي:

اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿۱۴﴾ مفهوم ترجمۂ کنزُالايمان: آيا پوهه نه شو چه **الله** (تعالٰی) وِيني.

نو بيا به اِنسان د گُناهونو په مُعامَله کښې يَريږي او اِحتياط به کوي او ظاهِراً او خُفيةً [يعني په ښکاره او په پټه] به د **الله** تعالٰی و **رسُول** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانئ نه ځان ساتي. څوك چه په خپل ناقِص خيال کښې په پټه گناه کوي هغوئي ته دا خبره په خپل ذِهن کښې ساتل پکار دي چه کوم گناهونه دوئي پټ گنړي هغه ټولې بدئ او بې حيائي ليکونکي فرښتې ته معلومې دي او ليکي ئې هم! که يو بنده ته د دې کَمَا حَقُّهٗ [يعني څنگه چه حق دې هغسې] احساس وشي نو هغه به دومره شرمِنده او پښيمانه شي چه زړه به ئې غواړي چه اوس په دې ساعت زمکه وچوي او ما راښکاږي! پاره ٢٦ سُورۂ قٓ آيت ١٨ کښې ارشاد کيږي:

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾ (پ٢٦، ق: ١٨)

مفهوم ترجمۂ کنزُالايمان: يوه خبره هم هغه د خُلې نه نه وباسي چه ورسره يو څوکئ کونکې تيار ناست نه وي.

پاره ٣٠ سُورَةُ الْاِنفِطَار آيت ١٠ نه ١٢ پورې دی:

وَ اِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿۱۱﴾ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۱۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالايمان: او بيشکه په تاسو بعضې څارونکي دي قدرمند ليکونکي، پوهيږي په هغې چه ئې تاسو کوئ.

www.dawateislami.net

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: معلومه شوه چه اَعمال نامې لیکونکې فرښتې زمونږه د پټو او ښکاره عملونو عِلم لري نو بیا د ټولو فرښتو بلکه د ټولو مخلوقاتو سردار، د مَکّې مدینې صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته به د خپلو غلامانو د زړونو حالات ولې نه وي ښکاره! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په بارګاهِ رِسالت کښې عرض کوي:

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے، نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني په زمکه کښې دننه هر یو څیز تاسو ته ښکاره دې. دُنیا جهان کښې یو څیز هم داسې نشته چه تاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه وي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرښته د سفر مَلګرې جوړولو والا عمل

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! چا ته چه د دُنیا د بې وفا کیدو احساس وي، هر وخت د مرګ تَصَوُّر لري، تِلاوت او دُرود د هغه مَشغله وي، په ذِکر و دُرود کښې مَصروف وي نو په دواړو جهانو کښې به د هغه بیړۍ پوریوځي. که مُقِیم وي او که مسافر هر یو ته پکار دي د فضولو خبرو په ځائ خپل وخت په **ذِکر و دُرود** او د سُنَّتو ډکو ښکلو ښکلو خبرو کښې تیروي. خصوصاً د سفر مُتَعَلِّق یو **مَدَني ګل** قبول کړئ. چنانچه د شَهنشاهِ مدینه **مُحَمَّدِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان عالي شان دې: څوك چه د سفر په دوران کښې د **الله** تعالیٰ طرف ته توجُّه ساتي او د هغه په ذِکر کښې مشغول اوسي، **الله** تعالیٰ د هغه د پاره یوه فرښته **مُحافِظ** (یعني حِفاظت کوونکې) مُقرّر کړي او څوك چه په بې هُوده [بې فائِده او په ګناه مشتمل] شِعر و شاعِرۍ او فُضولو خبرو کښې مصروف اوسي نو **الله** تعالیٰ په هغه پسې یو شیطان وړپسې کړي. (اَلْمُعْجَمُ الکَبِیر ج۱۷ ص۳۲٤ حدیث۸۹۵)

www.dawateislami.net

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتُوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیِّدا کب تک دباتے جائیں گے (حدائقِ بخشش شریف)

وکړئ مدد د کمزوري اُمّت اے د دِین سرداره
تر څو به وي اَخته په شر د نفس او د شیطان کښې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکۍ دعوت ورکول هم جِهاد دې

د حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ المُرتَضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْہَہُ الْکَرِیْم نه رِوایت دې چه د حُضورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دې: د جِهاد څلور قِسمونه دي: (۱) د نیکۍ حُکم ورکول او (۲) د بدئ نه منع کول او (۳) د صبر په مقام کښې رښتیا وئیل (٤) او د فاسقانو سره بُغض ساتل. چا چه د نیکۍ حُکم ورکړو هغه د مُؤمِنانو لاسونه مضبوط کړل او چا چه د بدو نه منع وکړه هغه د فاسِقانو پوزه په خاورو خړه کړه. (حِلْیَۃُ الْاَوْلِیاء ج٥ ص١١ حدیث٦١٣٠)

د فاسِق د "فِسق" نه نفرت پکار دې

حضرت سَیِّدُنا عبدُالعزیز دَبَّاغ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي:د یو فاسِق مسلمان نه داسې نفرت کول نه دي پکار چه د هغه د ذات نه نفرت پیدا شي، خو د هغه غَلَط عَمَل او ناجائِزه کار بد ګڼړل پکار دي ځکه چه د هغه دا ګناهونه چه د نَفرت باعِث دي عارضي دي خو د هغه په زړه کښې موجود **ایمان** مُستَقِل دې. دا پخپله یو مومِن دې او دا داسې کارونه دي چه دا **محبّت** لازِمَوي لِهٰذا د دې پاکو خصلتونو په وجه د هغه د ذات سره **محبّت** پکار دې او د هغه د بدو کارونو او ګناهونو نه نفرت کول پکار دي. (ابریز ص٤٧٨ مُلَخَّصاً)

د فاسِق صُحبَت سخت نقصان ورکوونکې دې

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! دا یاد ساتئ چه د فاسِق د فِسق نه نفرت کول پکار دي، د دې معنٰی دا بالکل نه ده چه د فاسِق صُحبت دِ ګڼې اِختیار کړې شي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې

www.dawateislami.net

مَکتَبَۃُ الْمَدِینہ چاپ شوي د ٥٠٤ صفحو کتاب "غِـیبَت کی تباہ کاریاں" صفحه ۱۷۲ کښې دي: د بدو صحبتونو نه بچ کیدل بې حده ضروري دي ګنې آخِرت تباه کیدې شي. زما آقا **اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت،** مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "شریعتِ مُطَهَّره په لـمانځه کښې داسې یو ذِکر هم نه دې شامِل کړې چه په هغې کښې "صِرف په ژبه" الفاظ ادا کړې شي او څه معنٰی ئې مراد نه وي." (فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج۲۹ ص۵٦۷) نو د (اعلٰی حضرت د دې فرمان په رڼا کښې) تاسو ته د یاد ګیرنې د پاره عرض دې چه د **وِترو په** لـمانځه کښې خو به تاسو **دُعائے قُنوت** لولئ چه په هغې کښې دا هم دي: وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط یعني "(یا الله عَزَّوَجَلَّ) مونږه جُدا کوو او پرېږدو هغه څوك چه ستا نافرماني کوي." که د نن نه مخکښې درته معنٰی معلومه نه وه نو اوس معلومه شوه لِهٰذا د خپل ربّ سره هره ورځ کړې دا وعده اوس پوره کړئ او لمُونځ نه کوونکو، او په کنزلو، بدګُمانو، تُهمتونو، غِیبتونو، چُغلئ او قِسم قِسم ګناهونو کښې اخته د فاسِقانو فاجِرانو د محفلونو او صُحبتونو نه توبه وکړئ. او قُرآنِ کریم هم د داسې خلقو د صُحبت نه منع فرمائي: څنګه چه په پاره ۷ سُوْرَۃُ الاَنعام آیت ٦٨ کښې ارشاد شوې دې:

وَ اِمَّا یُنْسِیَنَّكَ الشَّیْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿٦٨﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او چه کله درنه شیطان هیر کړي، نو د رایادیدو نه پس د ظالِمَانو سره مه کښینه.

تفسِیراتِ اَحمدیه کښې د دې آیتِ مبارکه نه لاندې لیك دي: دلته د ظالِمَانو نه کافِران، مُبتَدِعِین یعني ګُمراه او بد دِین او فاسِقان مُراد دي. (تفسِیراتِ اَحمَدِیه ص۳۸۸) "**غِیبت کی تباہ کاریاں**" صفحه ۱۷۳ کښې دي:

د نیکئ د دعوت ورکولو د پاره د فاسِقانو خوا ته تلل جائِز دي

کوم اسلامي ورور چه مُتّقي پرهیزګاره وي، هغه هم په یارئ دوستئ کښې نه بلکه صِرف د نیکئ د دعوت د حَده پورې د نافرمانو او وران کارو خلقو خوا ته کښیناستې شي چنانچه د **دعوتِ**

اسلامي د اشاعتي اداري مَکتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ترجَمي والا پاکِیزه قُرآن "**کنزُالاِیمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان**" صفحه ۲۶۰ سیپاره ۷ سُوْرَۃُالاَنعام آیت ۶۹ کښې **رَبُّ العِباد** جَلَّ جَلالُہٗ اِرشاد فرمائي:

وَ مَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّ لٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او په پرهیزګارو باندې د هغوئي حِساب هیڅ هم نشته، خو نصیحت کول شاید چه هغوئي [د بدئ نه] ځان وساتي.

حضرت **صدرُ الافاضِل** مولانا سَیِّد **محمّد** نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "**خَزائِنُ العِرفان**" کښې د دې آیت لاندې لیکي: "د دې آیت نه معلومه شوه چه د وعظ او نصیحت او د حق د اِظهار د پاره د هغوئي خوا ته ناسته جائِز ده."

د نیکئ دعوت ورکول صَدَقه ده

د **حضرت** سَیِّدُنا ابوذر غِفاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې، چه د سرورِ کائِنات صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ رَحمت نِشان دې: "د خپل (دِیني) ورور سره په **مُسکا** ملاقات کول ستاسو د پاره صَدَقه ده او د نیکئ دعوت ورکول او د بدئ نه منع کول **صَدَقه** ده." (سُنَنِ تِرمِذی ج۳ ص۳۸٤ حدیث۱۹٦۳)

خبرو کولو کښې مُسکي کیدل سُنَّت دي

خورو خورو اِسلامي ورونړو! په بیان کړې شوي حدیثِ مبارك کښې په **مُسکا** ملاقات کولو، د نیکئ دعوت ورکولو او د بدو نه منع کولو ته صَدَقه وئیلې شوي ده. سُبْحٰنَ اللّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! په **مُسکا** د ملاقات کولو به څه وائې! په مُسکا مُسکا ملاقات کول، په مُسکا مُسکا څوك پوهه کول عُموماً د نیکئ د دعوت کار ډیر آسان کړي او د حیرانونکو نتیجو سَبَب جوړیږي. آو بالکل! ستاسو معمولي شان مُسکا د چا د زړه خوشحالولو په سَبَب د هغه د ګناهونو نه ډك ژوند کښې **مَدَنِي اِنقِلاب** راوستې شي او د ملاقات په وخت کښې د اخوا دیخوا کتلو په انداز کښې لاس ورکول د هغه د زړه د ماتیدو په سَبَب **مَعَاذَ اللہ** عَزَّوَجَلَّ هغه د ګمراهئ جوړې کندې ته غورزولې شي، لِهٰذا چه کله هم د چا سره ملاقات کوئ یا خبرې کوئ هغه وخت چه څومره کیدې شي **مُسکې** اوسئ. که

www.dawateislami.net

په سخت مِزاجـۍ یا په بې پرواهۍ سره د ملاقات کولو بد عادت مو وي نو د اشنائې په انداز کښې او په مُسکا د ملاقات کولو د عادت جوړولو کوشش کوئ، بلکه د مُسکـي کیدلو عادت پخولو د پاره ضرورتاً د چا ذِمّه واري ولګوئ چه که هغه د چا سره د خبرو کولو په وخت کښې ستاسو مخ پرسیدلې یا خفه وِیني نو تاسو ته وقتاً فَوَقتاً په خُله یادګیرنه هم کوي یا درته دا لیکلي درښائي "**د خبرو کولو وخت کښې مُسکـي کیدل سُنّت دي**" آو بالکل واقِعي دا سُنَّت دي. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَۃُ الْمَدِینه په چاپ شوي د ۷۳ صفحو په کتاب"**حُسنِ اخلاق**" صفحه ۱۵ کښې دي چه: حضرت سیِّدَتُنا اُمِّ درداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د حضرت سَیِّدُنا ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ مُتعلِّق فرمائي چه هغوئي به هره خبره په **مُسکا مُسکا** کوله، چه کله ما د هغوئي نه په دې باره کښې تپوس وکړو نو هغوئي جواب راکړو: "ما د **الله** تعالٰی خوږ حبِیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو چه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خبرو په دوران کښې **مُسکي مُسکي** کیدلو." (مَکارِمُ الاخلاق للطَّبَرانی ص۳۱۹ رقم۲۱)

جس کی تسکین سے روتے ہوئے ہنس پڑیں
اُس تبسُّم کی عادت پہ لاکھوں سلام (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: په حدائِقِ بخشش شریف کښې شامِل د "سلامِ رضا" د دې مِصرعې "*جس کی تسکین سے روتے ہوئے ہنس پڑیں*" په آخِري لفظ "*پڑیں*" [کښې د جَمع صِیغه] استعمالول د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مَدَني سوچ عظِیمه مظاهِره ده. ځکه چه که د پڑیں په ځائ "پڑے" لیکلې شوې وې نو معنٰی به چرې د یوې واقِعې طرف ته اِشاره منلې شوه! خو اعلٰی حضرت"پڑیں" لیکلو کښې د سرکارِ مَدِینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عظیم صِفت بیان کړو. چنانچه د دې مِصرعې معنٰی ده: چه په ظاهِري ژوند کښې خو به په تسلۍ ورکولو د غم وهلو د زړونو غُوټۍ سپړدلي شوې خو نن هم چه کله سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو غم وَهلي په خوب کښې یا یو غلام ته په قبر کښې تَسَلِّـي ورکوي نو د هغه زړه په قلاره شي. په دې مِصرعه کښې دا اِشاره هم ده چه په محشر کښې به هم خپلو ګنهګارو اُمَّتیانو ته تَسَلِّـي ورکوي او هغوئي ته به سکون ورکوي. د دویمې مِصرعې معنٰی ده: په هغه خوشحالونکـي عادتِ کریمه باندې په لکونو [یعني بیشمیره] سلامونه.

www.dawateislami.net

حضرت مولانا سَیِّد اختر الـحامِدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې شعر باندې څه ښکلې تَضمِین تړلې دې.

مُضطَرِب غم سے ہوتے ہُوئے ہنس پڑیں رنج سے جان کھوتے ہوئے ہنس پڑیں
بخت جاگ اٹھیں سوتے ہوئے ہنس پڑیں جس کی تسکیں سے روتے ہوئے ہنس پڑیں
اُس تبسُّم کی عادت پہ لاکھوں سلام

بې قراره غم وهلي په خندا شو هم د غمه مړه کیدلي په خندا شو
بخت ئې ویښ شو اوده شوي په خندا شو په تَسکین[1] د چا چه ژړیدلي په خندا شو
د هغه تَبَسُّم[2] په عادت باندې ډیر ډیرسلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

لاس ورکولو [یعني مِلاوولو] وخت کښې مُسکي کیدل د بخښنې باعِث دي

په **یو** رِوایت کښې دي چه سَیِّدُنا **نُفَیْع اَعْلٰی** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه د حضرت سَیِّدُنا براء بِن عازِب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره زما ملاقات وشو نو هغوئي زما لاس ونیولو او زما سره ئې مُصافَحه وکړه (یعني لاس مِلاو کړو) او **مُسکې** شو، بیا ئې رانه تپوس وکړو: خبر ئې ما داسې ولې وکړل؟ ما عرض وکړو: نه. نو وئې فرمائیل: چه **نَبِیِّ کریم، رَءُوفُ الرَّحِیم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته د ملاقات شرف راکړو نو زما سره ئې هم داسې وکړل بیا ئې زما نه تپوس وکړو: خبر ئې ما داسې ولې وکړل؟نو ما عرض وکړو: نه.نوسرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: چه کله دوه مسلمانان د ملاقات په وخت کښې مُصافَحه کوي (یعني لاس مِلاوَوي) او دواړه یو بل ته د **الله تعالٰی** د پاره **مُسکي** شي نو د هغوئي د جُدا کیدو نه مخکښې د هغوئي بخښنه وکړې شي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوسط للطَّبَرانی ج۵ ص۳٦٦ حدیث ۷٦۳۰)

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے پھول رَحمت کے جھڑیں گے ہم اٹھاتے جائیں گے

---

[1] تَسَلِّي [1] مُسکا

www.dawateislami.net

یعني: د جنّت په باغ کښې به **مُحمّد** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مُسکا مُسکا روان وي، د رَحمت ګلونه به راوریږي او مونږ به ئې راټولوو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مُسکـي کیدو ښه او بد نِیّتونه

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په ذِکر کړي شوي حدیثِ پاك کښې لفظ "د **الله** د پاره" د ښه نِیّت وضاحت کوي. بهرحال یو مسلمان له لاس ورکول [یعني لاس مِلاوَوَل] او د خبرو په دوران کښې مُسکـي کیدل صِرف په دې صورت کښې د آخِرت د ثواب او د ښښني باعِث دي چه لاس ورکول او مُسکـي کیدل د **الله** تعالیٰ د رِضا د موندلو په نِیَّت وي. چه د ځان ډیر اشنائي مِزاج ثابِتَوَلو، د یو مالدار یا سیاسي "شَخصِیَّت" [یعني غټ سړی] د خوشحالولو، د دُنیاوي مَذموم [غلط] مَقصد حاصلولو، د "ذاتي دوستئ" زیاتولو او **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ د اَمرَد [یعني ښکلي بې ګیرې هلك] د لاس لګیدو او د هغه د جوابي مُسکـي کیدو نه د ګناهونو نه ډك خوند اخستو وغیره بدو نِیتونو نه پاك وي. واقِعي هغه اسلامي ورونړه ډیر خوش نصیبه دي څوك چه د **الله** تعالیٰ د رضا حاصلولو د پاره، د خپلې ښښني په نِیَّت، په سُنّتو باندې د عمل کولو د ثواب ګټلو د پاره، د مسلمانانو زړونه خوشحالَوَلو د پاره، د **اِنفِرادي کوشش** په ذریعه اسلامي ورونړه د **مَدَني اِنعاماتو** د عامِل جوړَوَلو او د سُنَّتو د تربِیَّت د **مَدَني قافِلو** د مُسافِر جوړولو وغیره د حال مطابق په ښو ښو نِیّتونو مُسکـي مُسکـي اوسي.

قَهقَهه د شیطان له طرفه ده

په ټِق ټِق خندا مناسب نه ده ځکه چه دا **سُنَّت** نه دي بلکه دا د شیطان له طرفه ده. څنګه چه د حضرت سَیِّدُنا ابُو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه د **الله** تعالیٰ **مَحبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد

www.dawateislami.net

فرمائي: ''اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللّٰهِ يعني قَهقَهه د شيطان له طرفه ده او مُسکـي کيدل د **الله تعالٰی** له طرفه دي.'' (اَلمُعجَمُ الصَّغِير لِلطَّبَرانِي ج۲ ص۱۰٤ حديث۱۰۵۳)

حضرت عَلّامه عبدُالرَّءُوف مَنَاوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د قَهقَهې نه مُراد په آواز خندل دي، شيطان دا خوښوي او په هغې سور شي او د تَبَسُّم نه مُراد بغير د آواز نه په لږ مِقدار کښې خندل دي. (فَيضُ القَدِير لِلمناوی ج٤ ص٧٠٦ تحتَ الحَديث٦١٩٦)

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: مُسکـي کيدل ښه څيز دې او قَهقَهه بد څِيز دې، تَبَسُّم [يعني مُسکا] د **حُضور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادتِ کريمه وو (لِهٰذا) چه کله چا سره ملاقات کوئ نو په مُسکا ملاقات کوئ. (مِراٰةُ المَناجِيح ج۷ ص۱٤)

قَهقَهه ګناه نه ده

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! ياد لرئ! قَهقَهه لګول اګر چه د شيطان له طرفه ده، بده هم ده او سُنَّت هم نه ده خو ګناه نه ده. بِالفَرض کوم عالِم صاحِب يا بُزُرګ که په قَهقَهه لګولو اُو وينئ نو د هغوئي د طرفه په زړه کښې د هيڅ قِسمه اِعتراض مه راولئ.

خاموشي زياته او خندا کمه

رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيات خاموشي اختيارَوونکي او کم خندا والا وو (مُسندِ اِمام اَحمد ج۷ ص٤۰۷ حديث۲۰۸۵۳) حافِظ اِبنِ حَجَر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د حديثونو جمع کولو نه چه کومه خبره ثابته شوه هغه دا ده چه حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عام طور د تَبَسُّم نه زيات نه خندل او چه کله به زياته شوه نو هغه به خندا وه او ښکاره هم دا ده چه هغه به قَهقَهه نه وه. (اَلمَواهِبُ لِلَدُنية ج۲ ص٥٤)

آيا صحابه به خندل؟

حضرت سَيِّدُنا اِبنِ عُمر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه تپوس وکړې شو چه آيا د **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه به خندل؟ وئې فرمائيل: آو، او د هغوئي په زړونو کښې ايمان د غر نه [زيات] مضبوط وو. (شَرحُ السُنّه لِلبَغوی ج٦ ص۳۷٥)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یارخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: شائِد تپوس کوونکي به هغه حدیث اوریدلې وي چه، "زیاته خندا زړه مړ کوي" نو هغه به دا سوچ کړې وي چه حضراتِ صحابه (عَلَیْهِمُ الرِّضوان) به ګنې کله هم نه خندل (ځکه چه) هغه حضرات خو ژوندي زړونه لرونکي وو نو بیا د هغوئي د خندا سره څه تعلُّق! (د سَیِّدُنا اِبنِ عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا په آو کښې د) جواب (ورکولو) مَقصد دا دې چه خندا حرامه نه ده حلاله ده، هغه حضراتو به هغسې خنداګانې نه کولې چه زړه ورسره مړ کیږي یعني هر وخت خنداګانې [به ئې نه کولې] بلکه په هغه خندا به ئې خندل چه د هغې سره زړه تر و تازه اوسي او مخامخ کس هم تر و تازه کړي. (مِراٰة ج٦ ص٤٠٤)

څوك په خندا دَ لیدلو دُعا

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! کله چه څوك په خندا اُو وینئ نو د "بُخاري شریف" دادُعالوستل پکار دي: اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ (یعني الله تعالٰی دِ تاخندیدلې لري) (صحیح بُخاری ج٤ ص١٢٣ حدیث٦٠٨٥)

مُبَلِّغ دِ د اعلان په ذریعه په جُمات کښې د خندا نه منع وکړي

په جُمات کښې د موقعې په مُناسَبَت د مُسکي کیدو اِجازت شته دې خو د خندا او قَهقَهه لګولو اِجازت نشته. لِهٰذا په جُمات کښې د بیان په دوران کښې که څه داسې خبره راتلونکي وي چه په هغې د حاضرو خلقو د خندیدلو اِمکان وي نو مُبَلِّغ ته پکار دي چه داسې اعلان دِ وکړي:

توجُّه وکړئ! اوس مونږ په جُمات کښې یو او په جُمات کښې صِرف د مُسکي کیدو اِجازت شته دې یعني صرف داسې خندا چه د هغې آواز پخپله هم نه شي اوریدې، په آواز کښې بالکل مه خاندئ. فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دې: "په جُمات کښې خندا په قبر کښې تِیاره راولي."** (اَلْجامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطِی ص٣٢٢ حدیث٥٢٣١)

په لـمانځه کښې د خندا اَحکام

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** کتاب "**د لـمانځه اَحکام**" [د رسالې "**د اودس طریقه**" په] صفحه ۲۹ نه ۳۰ کښې دي: (۱) د رُکوع او سُجُود والا لـمونځ کښې بالِغ **قَهقَهه** ولګوله

www.dawateislami.net

یعني په دومره آواز ئې وخندل چه خوا و شا خلقو واوریدله نو اودس ئې هم مات شو او لمُونځ ئې هم مات شو، که په دومره آواز کښې ئې وخندل چه صرف پخپله ئې واوریدله نو لمُونځ ئې مات شو اودس ئې باقي دې، په مُسکـي کیدو نه لمُونځ ماتیږي او نه اودس. (مراقی الفلاح ص۹۱) په مُسکـي کیدو کښې آواز بالکل نه وي صِرف غاښونه پکښې ښکاره شي **(۲)** بالِغ که د جنازې په لـمانځه کښې **قَهقَهه** ولګوله نو لـمونځ ئې مات شو اودس ئې باقي دې. (ایضاً) **(۳)** د لـمانځه نه علاوه په **قَهقَهه** لګولو اودس نه ماتیږي خو دوباره کول **مُستَحَب** دي. (اَیضاً ص۸٤) زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله هم **قَهقَهه** نه ده لګولې لِهٰذا مونږ ته هم کوشش کول پکار دي چه دا د (قَهقَهه نه لګولو) **سُنَّت** هم ژوندي شي او مونږ په زوره زوره نه خاندو.

د مُسلمان ورور د پاره مُسکې کیدل صَدَقَه ده

د حضرت سَیِّدُنا ابُوذر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې، د دواړو جهانو د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: ستاسو د خپل ورور د پاره **مُسکـي کیدل** هم "صَدَقه" ده، **د نیکئ حُکم** ورکول هم"صَدَقه" ده، **د بدو نه منع کول** هم "صَدَقه" ده، لار خطا کونکـي ته لار ښودل هم "صَدَقه" ده، د کمزوري نظر والا مَدَد کول هم "صَدَقه" ده، د لارې نه کانړي، غَنې او هډوکـي لرې کول هم صَدَقَه ده، د خپلې بوقې [یعنې د کوُهي نه د اوبو راوِیستلو د لوښي] نه د خپل ورور په بوقه کښې اوبه اچول هم صَدَقَه ده. (ترمِذی ج۳ ص ۳۸٤ حدیث ۱۹٦۳)

نور یو بل روایت کښې **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: هر **قرض** صَدَقه ده.

(شُعَبُ الایمان ج۳ ص۲۸٤ حدیث ۳٥٦۳)

د مالي صدقې تعریف

عام طور چه لفظ "**صَدَقَه**"وئیل کیږي نو ذِهن "**خیرات**" طرف ته ځي. بیشکه **خیرات** ته هم **صَدَقَه** وائي، راځئ چه د "**مالي صَدَقې**" تعریف معلوم کړو. چنانچه د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکتَبَۃُ المَدینه چاپ شوي د ٤۱٥ صفحو کتاب "***ضیائے صَدَقات***" په صفحه ۳۲ تا ۳۳ کښې دي:

www.dawateislami.net

په لُغَت کښې د صَدَقې نه مراد عَطِيَّةٌ يُّرَادُ بِهَا الْمَثُوْبَةُ لَا الْمَكْرَمَةُ (المنجد) يعني **صَدَقَه** هغه عَطِيَّه [يعني تُحفه] ده چه د هغې په ذريعه د خپل عِزَّت زياتولو په ځائ د ثواب اِراده وکړې شي (مَطلَب دا دې چه هغه عَطِيَّه (يعني اِنعام ته) صَدَقه وائي. چه د دې د ورکړې مَقصد خپل عزَّت زياتول او واه واه غوښتل نه وي صرف د ثواب په نِيَّت ورکړې شوي وي).عَلّامه **سَيِّد شريف جُرجاني حَنَفي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د **صَدَقې** تعريف په دې الفاظو کښې بيان کړې دې: هِيَ الْعَطِيَّةُ تَبْتَغِيْ بِهَا الْمَثُوْبَةَ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى يعني **صَدَقَه** هغه عَطِيَّه [يعني تُحفه] ده چه د **الله تعالٰى** په بارگاه کښې د ثَواب په اُمّيد ورکړې شي. (كتابُ التَّعريفات ص ۹۵)

صدقے اِس انعام کے قربان اِس اکرام کے
ہو رہی ہے دونو ں عالم میں تمہاری واہ واہ (حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: زما آقا اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په دې نعتيه شعر کښې فرمائي: **يا رَسولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د **رَبّ تعالٰى** د دې اِنعام و اِکرام نه زه قربان شم چه هغه تاسو په ټول مخلوق کښې د اوچت شان مالِك ګرځولي ئې او دا د هغه کرَم دې چه په دواړه جهانو کښې ستاسو د عظمتونو او اوچت والي ستائنې کيږي.

سب سے اَولٰی و اعلٰی ہمارا نبی سب سے بالا و والا ہمارا نبی

د ټولو نه اَولٰی و اعلٰی دې زمونږه نبي د ټولو نه ښه او بالا دې زمونږه نبي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

پټ مرضونه يَودَم ورك شو!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د لمُونځونو او سُنَّتو عمل کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول سره هر دَم تړون ساتئ، د نيك جوړيدو په نُسخه مُشتمِل د مدَني اِنعاماتو مطابِق د ژوند شپې اوورځې تيرولو سره خپل ځان د سُنَّتو په قالَب کښې داَچولو کوشش کوئ،د سُنَّتو دَ تَربِيَّت د پاره په **مَدَني قافلو** کښې د **عاشقانِ رسول** سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. ستاسو د ترغيب او تَحريص د پاره په مَدَني قافله کښې د سفر په بَرَکت په پټو بيمارو کښې اَخته يو مريض ته د شِفا نصيب

www.dawateislami.net

کیدو یو **مَدَني سپرلي** تاسو ته اَورَووم، چنانچه د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې چه زه د یوې مودې پورې په **بعضو پټو مرضونو** کښې اخته ووم. مرض مې دومره زیات وو چه کله به اوده کیدم په ازمیښت کښې به پریوتم ، په عِلاج مې ډیر رقم خرچ کړو خو ښه نه شوم، زه د دې مرَض نه ډیر تنګ شوې ووم. ما چه کله واوریدل چه په **مَدَني قافلو** کښې دُعاګانې قبلیږي نو ما هِمَّت وکړو او د سُنَّتو د تربِیَّت د **مَدَني قافلې** مُسافِر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **مَدَني قافله** کښې د سفر په دوران کښې مې دُعا وکړه د دې په برَکت مې مرض داسې **ختم** شو لکه د سره چه هَډو وو نه!

قلب پر زنگ ہو، قافلے میں چلو، نفس سے جنگ ہو، قافلے میں چلو
پاؤں میں لنگ ہو، قافلے میں چلو، درد سے تنگ ہو، قافلے میں چلو

که په زړه مو وي زنګ، قافلو کښې لاړ شئ — که وي نفس سره مو جنګ قافلو کښې لاړ شئ
ګوَډې ښې نه ئې که تنګ، قافلو کښې لاړ شئ — هُم د درد نه ئې که تنګ، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

که دُعا زر قَبوله نه شي نو یریږئ مه

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **مَدَني قافِلو** کښې دَ سُنَّتو ډك سفر د شِفا سبَب جوړ شو او وَلې به نه جوړیدو چه په سفر کښې او هغه هم د **عاشِقانِ رَسول** په خوا کښې ئې دُعاګانې غوښتې وې. د **الله تعالیٰ** د نیك بندګانو په قُرب [یعني خوا] کښې غوښتې شوي دُعاګانې نه رد کیږي. که کله دُعا زر قبوله نه شي نو مه یریږئ او تادي مه کوئ. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعَتي اِدارې **مَکْتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي د ۳۱۸ صفحو کتاب" ***فضائلِ دُعا*** "په صفحه ۹۷ کښې دي چه: د دُعا په قبلیدو کښې تادي مه کوئ، په حدیث شریف کښې دي چه خدائے تعالیٰ د درې ګسانو دُعا نه قبلَوي. **یو** هغه چه د ګناه دُعا وکړي، **دویم** هغه چه داسې خبره اُوغواړي چه قَطعِ رِحم (یعني خَپلوَلي ختمول) وي، **دریم** هغه چه په قَبلَوَلو

www.dawateislami.net

کښې تادي کوي، چه ما دُعا کړې وه خو د اوسه پورې قبوله نه شوه. داسې کس زړه اُووهي او دُعا کول پریږدي او د مَطلَب نه محرومه پاتې شي.

د دُعا د قبلیدو نُسخه

که **یو** مریض ته شِفا حاصله نه شي نو اول دِ خیرات وکړي بیا دِ په غیر مَکروه وخت کښې دوه رکعته نفل اَدا کړي او په ژړا او زارئ دِ دُعا اُوغواړي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی دُعا به ئې قبول شي. په "**فَضَائل دُعا**" صفحه ۵۹ تا ٦۰ کښې دي: (د دُعا د قبلیدو په آدابو کښې) **ادب ۵:** د دُعا نه مخکښې دِ یو نیك عمل وکړي چه د **خُدائے کریم** رَحمَت هغه (دُعا کونکي) طرف ته مُتَوَجِّه شي. صَدَقه، خُصوصاً پټه، په دې کار کښې ډیر اَثر لري (یعني خاص طور په پټه خیرات کول د دُعا په قبلیدو کښې ډیر اثر لري) (په سیپاره 28 سُوْرَۃُ **المُجادَله** آیت نمبر ۱۲ کښې دي:)

فَقَدِّمُوْا بَیْنَ یَدَیْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: د خپل عرض نه مخکښې څه صدقه ورکړئ.

(د دُعا نه مخکښې صَدَقه کول واجِب نه دي مُستَحَب دي) په صفحه ٦۱ کښې دي: **ادب ۹:** که مَکروه وخت نه وي نو دوه رکعته لمُونځ دِ د زړه په اِخلاص سره وکړي ځکه چه [داسې کول] جالِبِ رَحمَت (یعني د رحمَت سَبَب) دې او رحمَت، موجِبِ نِعمَت [یعني دَ نِعمَت سبَب]. (په ۱۲ وختونو کښې نفل لـمونځ کول منع دي د دې ۱۲ وختونو تفصیل د مَکتَبَۃُ المَدینه چاپ شوي کتاب **فضائلِ دُعا** صفحه ٦۱ تا ٦۲ په حاشیه کښې اُوګورئ)

د بیکاره **پښتورګو** [یعني ګُردو] علاج وشو

د **بابُ المَدینه** کراچئ یو **شَخصِیَّت** [یعني غټ کس] د یَرقان (یعني زیړې) په مرض کښې اخته شو، په خیټه کښې ئې اوبه وشوې، ګردې ئې فیل شوې، او بې هوشي پرې راغله، ډیر غټ [یعني مالدار] کس وو، د مور او پلار یو ځوئ وو او د هغوئي د بوډا والي اَسره هم دا [ځوئ] وو، یوه غوغا جوړه شوه اتَلّس ډاکټرانو وکتلو خو ټولو لاعلاجه وګرځ ولو، نولَّسم ډاکټر راغې نو هغه د هغه مور او پلار ته اُووئیل چه د علاج په طریقه کښې یوه کمي ده او هغه تاسو پوره کولې شئ، زه اُمِّید لرم

www.dawateislami.net

چه **الله تعالیٰ** به رحم وکړي. د وَس مُناسِب څه صَدَقه یعني خیرات ورکړئ بیا دوه رکعته نفل ادا کړئ او په ژړا زارو دُعا اُوغواړئ. د خیرات، نفلونو او دُعا ترکیب شروع شو، مور او پلار د درې ورځو پورې په ژړا زارو د خپل ځوئ د صحت د پاره د **الله تعالیٰ** په بارګاه کښې سوالونه کول، په دریمه ورځ اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **ګُردو کار شروع کړو**، زیَړي او د خیټې په اوبو کښې کمې راتلل شروع شو او په یوه هفته کښې دننه دننه په حیرانونکي طور مریض بالکل ښه شو.

شفا دے الٰہی شفا دے الٰہی گنہ کے مرض کو مٹا دے الٰہی

شِفا راکړې اِلٰهي، راکړې شِفا یا اِلٰهي ختم مې کړې مرض د ګناه یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دوه نشې

د **حضرت** سَیِّدُنا مُعاذ بن جَبَل رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه د **الله تعالیٰ** د **خوږ رسول** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې: بیشکه تاسو د خپل رب د طرف نه په دلیل (یعني هدایت) ئې تر څو پورې چه په تاسو کښې دوه نشې ظاهري نه شي، **یوه** د جَهالت نشه او **دویمه** د دُنیا د ژوند سره د **محبت** نشه. پس تاسو (اوس) د **نیکئ حکم** ورکوئ او د بَدو نه منع کوئ او د **الله تعالیٰ** په لار کښې جِهاد کوئ (خو) چه کله په تاسو کښې د دُنیا مَحَبّت پیدا شي نو نه به تاسو د **نیکئ حُکم** ورکوئ او نه به د بَدئ نه منع کوئ او نه به د **الله تعالیٰ** په لار کښې جِهاد کوئ. پس په هغه وَخت کښې د **قرآن و سُنَّت** خبره کونکې به په **مُهاجِرینو** او **اَنصارو** کښې د ټولو نه **اول د اِیمان راوړونکو** په شان وي. (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج۷ ص۵۳۳ حدیث ۱۲۱۵۹)

دَ تعلیم یافته خلقو جَهالَتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! افسوس! په دې زمانه کښې دا دواړه "بدې نشې" عامې لیدلې شي. د **جَهالت** په **نشه** کښې نن زمونږ غالِب اکثریت اخته دي. شاید تاسو به وائې چه تعلیم خو ښه عام شوې دې او ځائ په ځائ اسکولونه او کالـجونه قائِم شوي دي اوس **جَهالَت** کوم دې؟ نو

بخښنه غواړم دُنیوي تعلیم د **جَهالت** علاج نه دې. صحیح هُم دا ده چه په اسلامي احکامو باندې مشتمِل فرض علوم حاصلولو سره د مسلمانانو نه **جَهالَت** لري کیدې شي. په دې زمانه کښې د مُسلمانانو ډیر ګنړ شمیر ته ضروري دیني معلومات نشته. نن صبا چه د دُنیاوي تعلیم په وجه کومو خلقو ته "تعلیم یافته" وئیل شي هغوئي اکثر په صحیح **مخارِجو قرآنِ کریم** نه شي لوستلې! دا **جَهالَت** نه دې نو نور څه دي؟ د [دُنیوي] تعلیم یافته خلقو نه د **اَودَس** او د **غُسل** د صحیح طریقې یا د **لـمانځه** د ارکانو تپوس وکړئ شاید که څوك ئې بیان کړې شي، د دوئي نه د **جنازې** د **دُعا** اَورَوَلو فرمائش وکړئ نو شاید چه سر به ښکته کړي! افسوس په کروړونو افسوس! نن صبا د اکثرو مُسلمانانو تَوَجُّه صرف او صرف **دُنیاوي تعلیم** طرف ته ده، هم دا هر طرف ته عام دې، ټول دولت او قُوَّت په دې خرچ کولې کیږي حالانکه د دِیني تعلیم اِدارې بې پیسو [یعني د فِیس نه بغیر] د تعلیم ورکولو، بې خرچې د خوراك او د اوسیدلو د سهولتونو ورکولو باوجود شړې پرتې دي. یَقیناً دا ټولې د **دُنیاوي ژوند د نشو** نښې دي.

مجھے دَر پہ پھر بُلانا مَدَنی مدینے والے
مئے عشق بھی پِلا نا مَدَنی مدینے والے

(وسائلِ بخشش ص۲۸۳)

ما خپل در ته بیا اُوغواړه مَدَني خوږه سرداره
جام د عِشق راباندې وڅښه مَدَني خوږه سرداره

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د تیرو شوو خلقو په شان ثواب

دَ **حُضُور** نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادِ عظیم دې: "بیشکه زما په **اُمَّت** کښې به بعضې خلق داسې هم وي چه هغوئي ته به د خپلو تیرو شوو (یعني صحابۂ کرام رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُم) په شان ثواب ورکولې شي. یُنْکِرُوْنَ الْمُنْکَر [یعني] هغوئي به د بَدئ نه منع کول کوي." (مُسندِ اِمام احمد ج۵ ص۵۷۶ حدیث ۱۶۵۹۲)

www.dawateislami.net

حضرت عَلَّامه مَولانا **عبدُ الرَّءُوف مَناوي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: يعني **الله تعالٰی** به د مسلمانانو هغه قوم ته چه د هغوئي په ذريعه به دِين ته قُوَّت [يعني مضبوطيا] رسيږي، د صحابۂ كرامو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم په مِثَل ثواب وركوي. (مُلَخَّص از فَيضُ القدير ج۱ ص۶۸۰ تحت الحديث ۲۴۸۵)

يو مُبَلِّغ هم د يو صحابي برابر نه شي كيدې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ذِكر شوي روايت نه څوك دا مطلب وانخلي چه د بَدئ نه منع كونكو مُبَلِّغينو ته به د صحابۂ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره برابري حاصِله شي داسې بالكل نه ده، دا تړلې شوې اَمر دې چه صحابۂ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته چه كوم شرفِ صَحَابِيَّت حاصل دې د هغې مُقابَله غيرِ صحابي اُمَّتي ته حاصِل يو فضيلت هم نه شي كولې. **سَرورِ دو عالَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: **لَاتَسُبُّوْا اَصْحَابِي فَلَوْ اَنَّ اَحَدَكُمْ اَنْفَقَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا مَابَلَغَ مُدَّ اَحَدِهِم وَلَانَصِيْفَهٗ** يعني زما يو صحابي ته هم كنزلې مه كوئ كه په تاسو كښې څوك د اُحُد د غر هُمره سرَه زر هم خرچ كړي نو هغه د هغوئي يو يا نيم مُد ته هم نه شي رسيدې. (بخاری ج۲ ص۵۲۲ حديث ۳۶۷۳) **مُد** يوه پيمانه ده چه د دوو حِجازي رَطل وي او رَطل تقريباً د نيم سير وزن وي او يو غير صحابي كه په كروړونو نيكئ هم وكړي نو بيا هم د يو صَحابي مرتبې ته نه شي رسيدې لكه څنګه چه د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي "**بهارِ شريعت**" جلد ۱ په صفحه ۲۵۳ كښې **صَدرُ الشَّرِيعَه بَدرُالطَّرِيقَه** حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتِي مُحَمَّد اَمجَد عَلِي اَعظَمِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليكي: "يو وَلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه كه د هر څومره غټې مرتبې والا وي، د يو صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مرتبې ته نه شي رسيدې." په صفحه ۲۴۷ كښې فرمائي: په حديثِ پاك كښې د سَيِّدُنا اِمام مَهدي (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه) د ملګرو په نِسبَت راغلي دي چه: "په هغوئي كښې د يو د پاره د پنځوسو اَجر دې، صحابه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم عرض وكړو: په هغوئي كښې د پنځوسو يا په مونږ كښې؟ وئې فرمائيل: بلكه په تاسو كښې." نو اَجر د هغوئي (يعني د سَيِّدُنا اِمام مَهدي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د ملګرو) زيات شو، خو په فضيلت كښې هغوئي د صحابه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم برابر نه شي كيدې. زيات كيدل خو پريږده، چرته د اِمام مَهدي (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ) ملګرتيا او چرته د **حُضُور سَيِّدِ**

www.dawateislami.net

عَالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صَحابِیَّت! د دې مِثال بغیر دَ تشبیه نه داسې وګنړئ چه بادشاه یو جنګ ته وزیر او بعضې نور افسران ولیږل، د دې جنګ په کامیابۍ ئې هر افسر ته یو یو لاك روپۍ اِنعام ورکړو او د وزیر نه ئې خالي خپله خوشحالي ښکاره کړه نو اِنعام خو هغوئې (یعني افسرانو) ته زیات حاصِل شو، خو چرته هغه (لاك لاك روپۍ موندونکي افسران) او چرته (دبادشاه دخوشحالۍ سَنَد لرونکې) د وزیرِ اَعظَم اِعزاز! (بَهارِ شریعت ج۱ ص ۲۴۷ . ۲۵۳)

د صحابۂ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم په لوئ شان د دې دووحکایتونونه ځان پوهه کړئ کوم چه د حضرت سَیِّدُنا اَمِیرِ مُعاوِیه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په باره کښې منقول دي: (۱) د حضرت سَیِّدُنا **مُعافٰی** بن عِمران رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه تپوس وکړې شو چه: آیا حضرت سَیِّدُنا عُمَر بِن عَبدُالعزیز رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حضرت سَیِّدُنا **اَمِیرِ مُعاویه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه غوره دې؟ نوهغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په جلال کښې راغلواو وئې فرمائیل چه: د **حُضُورِ اکرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په صحابي دِ یو (غیر صحابي) هم قیاس نه کړې شي، حضرت سَیِّدُنا **اَمِیر مُعاویه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د **رَسولِ انور** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وحي لیکونکې او په وحي د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **امین** دې. (تَارِیخِ بَغداد ج۱ ص ۲۲۴ و تَارِیخِ دِمَشق ج۵۹ ص ۲۰۸) **(۲)** چا د حضرت سَیِّدُنا **عبـدُ اللہ بن مُبارَك** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه تپوس وکړو چه: حضرت سَیِّدُنا **اَمِیر مُعاویه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ او حضرت سَیِّدُنا عُمَر بن عبدُالعزیز رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ کښې څوك افضل دې؟ وئې فرمائیل: په خدائے مې دِ قَسم وي! د **رسولُ اللہ** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ملګرتیا کښې د حضرت سَیِّدُنا **اَمِیر مُعاویه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اَس په پوزه کښې داخِل شوې ګَرد او دُوړه د حضرت سَیِّدُنا **عُمَر بِن عَبدُ العَزیز** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه په زرګاؤ کرته غوره دې. (فتاوٰی حدیثیه ص ۴۰۱)

شَیخُ الاسلام حضرتِ علامه اِبنِ حجر هَیتمي شافِعي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **حکایت نمبر۲** وضاحت کوي او وائي چه د دې نه د حضرت سَیِّدُنا **عَبـدُ اللہ بِن مُبارَك** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مراد دادې چه حضرت سَیِّدُنا **اَمِیرِ مُعاویه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دَ **حُضُور نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زیارت او صُحبَت چه کوم شرف حاصل کړې دې د دې برابر یو عمل یا شرف نه شي کیدې. (ایضاً)

www.dawateislami.net

ہم کو اَصحابِ محبوبِ خدا سے پیار ہے اِن شآء اللہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

یعني مونږه د **الله تعالیٰ** د محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم سره مینه لرو اِنْ شَآءَ اللہ تعالیٰ په دواړه جهانو کښې به زمونږه بیړئ پوریوځي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اسلام هیبَت د زړونو نه د وَتلو سبَب

افسوس! نَن د اُمَّت اکثرِیت دُنیا ته د زیات **اَهَمِّیَّت** ورکولو په سبَب ورځ په ورځ د اِسلام د حقیقي مَحَبّت نه محرومه کیږي، د دې د خطرناکو نتیجو په باره کښې یو حدیثِ پاك واورئ چنانچه د **حضرت** سَیِّدُنا ابوهُریره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه د **سُلطانِ مَدینۂ مُنَوَّره** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرت نشان دې: کله چه زما اُمَّت دُنیا غټ ځیز ګنړل شروع کړي نو د **اسلام هَیبَت** به د دې [اُمّت] نه وځي او کله چه د **نیکئ حکم ورکول** او د بَدئ نه منع کول پریږدي نو د **وَحي د بَرَکت** نه به مَحرومه شي او کله چه په خپل مینځ کښې **کنزلي کول** اختیار کړي نو د **الله تعالیٰ** په نِزد به د عِزَّت د مقام نه ولویږي. (نوادرُ الاصول ج۱ ص ۲۷۹ حدیث ۹۳۳)

دنیا کی محبَّت سے دل پاک مرا کردو بُلوا کے شہنشاہِ اَبرار مدینے میں (وسائلِ بخشش ص۱۹۸)

د دُنیا د مَحَبّت نه مې زړه پاك کړه ومې غواړه شَهَنشاهِ اَبرار مدینې ته

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دُنیا په باره کښې په خاصو معلوماتو باندې مُشتَمِل مَدَني ګلونه

دُنیا لوبې او ټوقې دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې روایت کښې بیان کړې شوي دي چه کله دا اُمَّت دُنیا ته ډیر زیات اَهَمِّیَّت ورکول شروع کړي نو د وَحي د بَرَکت نه به محرومه شي. واقعي دُنیا "لوئي ځیز" ګنړل ډیره بده [خبره] ده. د آخِرَت د ثواب ګټلو په نِیَّت د دُنیا په باره کښې په خاصو معلوماتو

www.dawateislami.net

مُشتَمِل یو څو مَدَني ګلونه د وړاندې کولو سعادت حاصلووم، د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي ترجَمې والا پاك قرآن، "کنزُالایمان مع خزائِنُ الْعِرفان" صفحه ۲۵۲ سیپاره ۷ سُورَةُ الْاَنْعام آیت نمبر۳۲ کښې فرمانِ رَبُّ الْاَنام جَلَّ جَلالُه دې:

وَ مَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَاۤ اِلَّا لَعِبٌ وَّ لَهْوٌؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَیْرٌ لِّلَّذِیْنَ یَتَّقُوْنَؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او د دُنیا ژوند نه دې خو لوبې او ټوقې او بیشکه کور د آخِرت غوره دې د هغه چا لپاره چه یَرېږي نو آیا تاسو عقل نه لرئ.

صَدرُالاَفاضِل حضرت علّامه مولانا سَیِّد **محمَّد نَعِیمُ الدّین مُراد آبادي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خَزائِنُ الْعِرفان کښې د دې آیتِ مبارَکه نه لاندې لیکي: نیکۍ او طاعتونه (یعني عبادتونه) اګرچه مُومِنان په دُنیا کښې کوي خو هغه د آخِرَت کارونه دي. د دې نه ثابته شوه چه د نیکو بندګانو د اعمالو نه سِوا چه په دُنیا کښې څه دي ټول لوبې او ټوقې دي.

دنیا کے غموں کی تم للہ دوا دیدو بلوا کے غم اپنا دو سرکار مدینے میں (وسائلِ بخشش ص۱۹۶)

د دُنیا د غمونو دوا راکړه ته لِلّٰه خپل غم راکړه ومې غواړه سرکار مدینې ته

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۸٦۸ صفحو کتاب "اِصلاحِ اَعمال" (جلد اوّل) په صفحه ۱۲۸ نه ۱۲۹ کښې دې:

د دُنیا معنٰی

د دُنیا لُغوي معنٰی ده: "**نزدې**" او دُنیا ته دُنیا ځکه وائي چه دا د آخِرَت په مُقابَله کښې اِنسان ته زیاته نزدې ده، یا په دې وجه چه دا د خپلو خواهشاتو او خوندونو په سبَب زړه ته زیاته نزدې ده. (اَلْحَدِیْقَةُ النَّدِیَّه ج۱ ص۱۷)

دُنیا څه څیز دې؟

حضرت سَیِّدُنا عَلّامَه بَدرُ الدِّین عینی رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ د **بُخاري** شریف په شرح "**عُمَدۃُ القاري**" جلد۱ صفحه ۵۲ کښې لیکي: "د آخِرت د کور نه مخکښې ټول مخلوق دُنیا ده." (عُمدَۃُالقاری ج۱ ص۵۲) پس په دې اعتبارسره **سره زر** او **سـ ین زر** او په دې اخستې شوي ټول ضروري او غیر ضروري څیزونه په دُنیا کښې داخل دي. (اَلحَدِیقَۃُالنَّدِیَّہ ج۱ ص۱۷)

کومه دُنیا ښه او کومه بده؟

د **دُنیاوي** څیزونو درې قِسمونه دي: (۱) هغه دُنیاوي څیزونه چه په آخِرت کښې مَلګرتیا کوي او د هغې فائده د مرګ نه پس هم رَسي، داسې څیزونه صِرف دوه دي: **عِلم** او **عمل**، د عمل نه مراد دې په اِخلاص سره د **الله تعالٰی** عبادت کول او د دُنیا دا قِسم مَحمود (یعني ډیر ښه) دې. (۲) هغه څیزونه چه د هغې فائده صرف دُنیا پورې محدود ده په آخِرت کښې د هغې هیڅ میوه په لاس نه راځي لکه د ګناهونو نه خوند اَخِستل، د جائزو څیزونو نه د ضرورت نه زیاته فائده اوچتول، مَثَلاً زمکه، جائیداد، سره زر سپین زر، ښُکلې ښې جامې او ښه ښه خوراکونه کول. او دا د دُنیا په بَد ګنړلي شوي قسم کښې شامل دي. (۳) هغه څیزونه چه په نیکو مدد ګار وي لکه ضروري خوراك، جامې وغیره. دا قِسم هم ښه دې خو که صرف د دُنیا فوري فائده او خوند [اخسل] مقصد وي نو بیا به دا دُنیا [دا قِسم] مَذموم (یعني بَد) ګنړلې شي. (مُلَخَّص اَز اِحیاء العلوم ج۳ ص۲۷۰، ۲۷۱)

دنیا کے نظاروں سے بھلا کیا ہو سَروکار
عُشّاق کو بس عشق ہے گلزارِ نبی سے (وسائلِ بخشش ص۲۰۲)

د دُنیا د نظارو سره نه لري هیڅ کار
عاشِقان لري بس عشق د نبي د ګُلزار

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د دُنیا کوم کار د اللہ تعالیٰ د پاره دې او کوم نه دې؟

د **دُنیاوي** کارونو درې قسمونه دي:(۱) بعضې کارونه هغه دي چه د هغې په باره کښې دا سوچ هم نه شي کیدې چه دا د **اللہ تعالیٰ** د پاره شوي دي مثلاً ناجائزه او حرام کار (۲) بعضې کارونه هغه دي چه د **اللہ تعالیٰ** د پاره هم کیدې شي او د هغه د غیر د پاره هم مَثَلاً غور و تَفَکُّر [یعني سوچ او فِکر] کول او د خواهشاتو نه ځان ساتل ځکه چه که په خلقو کښې د خپل مقبولیّت زیاتولو او د [د خلقو په نظر کښې] د بُزُرګئ حاصلولو د پاره ئې سوچ او فِکر وکړو یا خواهشات ئې صرف په دې وجه پریښودل چه د مال بچت وشي یا ئې صحت ښه شي نو بیا به دا کارونه د **اللہ تعالیٰ** د رضا د پاره نه وي (۳) بعضې کارونه هغه دي چه په ظاهره د نَفس د پاره دي خو که په حقیقت کښې د **اللہ تعالیٰ** د رضا په نِیَّت وشي لکه خوراك کول، نکاح کول وغیره. (مُلَخَّص اَز اِحیاء العلوم ج۳ ص ۲۷۳)

تاجِ شاہی اس کے آگے ہیچ ہے مصطفٰے کی جس کو اُلفت مل گئی (وسائلِ بخشش ص۲۰۹)

د شاهي تاج هیڅ پروا نه لري هغه چه نصیب شي چا ته مَحَبّت د مُصطفٰی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دُنیا دار تعریف

کله چه بنده د آخِرت د بهترئ په غرض د دُنیا نه څه اخلي نو هغه ته دُنیادار نه وائي بلکه د هغه په حق کښې به دُنیا د آخِرت پټې وي او که د ذاتي خواهش او خوند حاصلولو د پاره دا څیزونه حاصلوي نو [بیا] هغه **دُنیادار** دې. (ایضاً ص۲۷۲)

د دُنیاوي څیزونو د خوندونو حیرانونکې حقیقت

په **دُنیا** کښې حقیقی خوند په یو څیز کښې هم نشته، البَتّه خلق تکلیف ختمونکو څیزونو ته د خوند نوم ورکوي مَثَلاً په خوراك کښې دا خوند دې چه هغه د لوږې تکیلف ختمَوي. هم

www.dawateislami.net

دا وجه ده چه کله لوږه خَتمه شي نو په خوراك کښې خوند نه محسوسيږي. هم دغه رنګ اوبه په دې وجه خوندورې دي چه تَنده ختموي، چه تَنده ختمه شي نو خوند هم ختم شي. **حقيقي خوندونه** خو به په جَنَّت کښې نصيب کيږي او جَنَّتيانو ته به يو تکليف هم نه وي په دې وجه هلته د [تکليف نه] د خلاصي ورکونکو څيزونو ضرورت هم نشته. لِهٰذا د هغې خوندونه به حقيقي وي مَثَلاً د هغې د خوراك څښاك خوندونه به اَصلي وي، صرف د لوږې او تَندې ختمولو د پاره به نه وي. (اَلْحَدِيْقَةُ النَّدِيَّه ج۱ ص ۱۹ مُلَخَّصاً)

د اِبليس لُور

حضرت سَيِّدُنا **علي خَوَّاص** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: **دُنيا** د اِبليس لعين (يعني د لعنتي شيطان) **لور** ده او د دې (دُنيا) سره مَحَبَّت کونکې هر يو کس د هغه د لور خاوَند دې، اِبليس د خپلې لور په وجه د هغه دُنيادار کس خوا ته ځي راځي، لِهٰذا اے زما ورورہ! که ته د شيطان نه ځان ساتل غواړې نو د هغه د لور (يعني دُنيا) سره خپلوي مه جوړوه. (اَلْحَدِيْقَةُ النَّدِيَّه ج۱ ص ۱۹)

شين سترګي بدرنګه بوډۍ

حضرت سَيِّدُنا **فُضَيل بن عَياض** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه وائي چه: حضرت سَيِّدُنا **عَبدُ الله اِبنِ عَبَّاس** رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: د قيامَت په ورځ به يوه شين سترګي ډيره زياته **بدرنګه بوډۍ** چه د هغې غاښونه به مخې ته راوَتي وي د خلقو مخې ته به راښکاره شي او د هغوئي نه به تپوس وکړې شي چه: دا پيژنئ؟ خلق به وائي: مونږ د دې د پيژندلو نه د **الله** تعالٰی پناه غواړو. وبه وئيل شي: دا هم هغه دُنيا ده په کومه به چه تاسو فخر کولو، هم د دې په وجه به مو **خپلوي ختموله**، د دې په سبَب به مو د يو بل سره **حَسَد** او **دُښمني** کوله. بيا به هغه (د بوډۍ په شان دُنيا) جَهَنَّم ته غوزاره کړې شي نو وائي به: اے **زما پروردګاره**! زما منونکي او زما ډله کوم ځائ ده؟ **الله** تعالٰی به وفرمائي: هغوئي هم د دې سره کړئ. (ذَمُّ الدُّنيا مع موسوعة الامام ابن ابی الدنيا ص ۵ ص ۷۲ رقم ۱۲۳)

دولتِ دنیا سے بے رغبت مجھے کر دیجئے
میری حاجت سے مجھے زائد نہ کرنا مالدار (وسائلِ بخشش ص۳۹۸)

بې پراه مې کړه د دولتِ دُنیا نه د حاجت نه مې زیات مه کړه ته مالدار

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دُنیا خوږه او شنه ده

د رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فَرمانِ مُعَظَّم دې: دُنیا خوږه، شنه ده، څوك چه په دې کښې په حلاله طریقه مال ګټي او په صحیح حقونو کښې ئې خرچ کوي الله تعالٰی به هغه ته ثواب ورکوي او هغه به جَنَّت ته داخل کړي او څوك چه په دې کښې په حرامه طریقه مال ګټي او په غیرِ حق کښې ئې خرچ کوي، الله تعالٰی به هغه دَارُالْهَوَان (یعني د ذِلَّت کور) ته داخل کړي. (شُعَبُ الایمان ج٤ ص ٣٩٦ حدیث ٥٥٢٧)

حضرت عَلَّامه عبدُ الرَّؤف مَناوي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې په فَیضُ الْقَدِیر کښې لیکي: معلومه شوه چه دُنیا په اصل کښې مذموم [یعني بده نه ده] ځکه چه دا د آخِرت پټې دې. په دې وجه څوك چه د شریعت په اِجازت د دُنیا یو څیز حاصل کړي نو دا څیز به په آخِرت کښې د هغه مدد کوي. (فیضُ القدیر ج٣ ص ٧٢٨ تحت الحدیث ٤٢٧٣)

حُسن گلشن میں سَرا سَر ہے فریب اے دوستو! دیکھنا ہے حُسن تو دیکھو عرب کے ریگزار (وسائلِ بخشش ص۳۹۹)

د ګلشن په ښکُلا کښې ټول فریب دې اے دوستانو! که ګورئ ښکلا نو د عرب صحراء اوګورئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دُنیا درې غوره کارونه

سرکارِ مَدینَه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: دُنیا او څه چه په دې کښې دي مَلعون (یعني لَعنَتي) دي سِوا د نیکئ د حکم ورکولو او د بَدئ نه د منع کولو یا د الله تعالٰی د ذکر نه. (الجامِعُ الصَّغِیر ص٢٦٠

www.dawateislami.net

حدیث ۴۲۸۲) **حضرت** عَلَّامه عبدُ الرَّؤف مناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې په **فَيضُ الْقَدِير** کښې ليکـي: بيشکه دا کار (يعني د نيکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول او ذِکرُالله) اګرچه په دُنيا کښې کيږي خو دا د دُنيا کارونه نه دي بلکه دا خو د آخِرت اَعمال دي او دا د جَنَّت نعمتونو ته د رسيدو ذريعه دي، لِهٰذا هر هغه کار چه د هغې نه د **الله** تعالٰی رضا مقصد وي هغه د دې لعنَت نه بهر دي. (فيضُ القدير ج۳ ص۷۳۵ تحت الحديث ۴۲۸۲)

د خلورو څيزونو نه علاوه دُنيا لَعنَتي ده

د **سُلطانِ مَدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: هوښيار اوسئ، دُنيا لَعنَتي څيز دې، او څه چه په دې دُنيا کښې دي هغه مَلعون [يعني لَعنَتي] دي. سِوا د **الله** تعالٰی د ذِکر او د هغه (څيز) نه چه **ربّ** تعالٰی ته نزدې کول کوي او [سِوا] د عالِم او طالِبِ علم نه. (سُنَنِ تِرمذی ج۴ ص۱۴۴ حديث ۲۳۲۹)

مُفَسِّر شَهِير، حَكِيمُ الأُمّت، حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: کوم څيز چه د **الله** و **رسول** نه غافله کول کوي هغه دُنيا ده يا کوم څيز چه د **الله** و **رسول** د ناراضه کولو سبَب وي هغه **دُنيا** ده. د خپلو بچو پالنه، خوراك، جامې، کور وغيره (د شريعت د نافرمانئ نه د بچ کيدو سره سره) حاصلول د انبياءِ کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دي دا **دُنيا** نه ده. (مِراٰةُ المَناجيح ج۷ ص۱۷)

دُنيا دَ ماشي د وَزَر نه هم زياته ذليله ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دُنيا ډيره ذليله او سپکه ده دا ښه ګنړل عقلمندي نه ده ځکه چه دا د **ماشي د وَزَر نه هم** ډيره ذليله ده. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۵۶۱ صفحو کتاب "**ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت**" صفحه ۴۶۴ نه ۴۶۵ پورې زما آقا اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دُنيا د بَدئ مُتَعَلِّق فرمائي: په حديث کښې دي: "که د دُنيا قدر د **الله** (تعالٰی) په نِزد د ماشي د يو وزر همره (هم) وې نو (د اوبو) يو ګُوټ به ئې(هم) د دې نه کافِر ته نه وې ورکړې." (تِرمِذی ج۴ ص۱۴۴ حديث ۲۳۲۷)

www.dawateislami.net

(دُنیا) ذلیله ده (په دې وجه) ذلیلو ته ورکړې شوي ده، د کله نه ئې چه دا جوړه کړي ده نو بیا ئې کله هم د دې طرف ته نظر نه دې فرمائیلې، دُنیا د اَسمان او د زمکې په مینځ کښې زوړنده ده. **فَریاد او زاري** کوي(یعني ژړاکوي) او وائي: اے زما ربه! ته زما نه ولې ناراضه ئې؟ ډیرې مودې پس ارشاد وشي: چپ شه خبیثې! (بیا ئې وفرمائیل) **سره او سېن زر د خدائے دُښمنان دي.** هغه خلق چه په دُنیا کښې د سرو او سپینو زرو سره مَحَبَّت کوي، د قیامت په ورځ به هغوئي ته غږ کیږي چه چرته دي هغه خلق چا به چه د خدائے د دُښمن سره محبَّت کولو. **الله تعالٰی** دُنیا د خپلو محبوبو (یعني غوره بندګانو) نه داسې لرې کوي لکه بِلا تشبیه څنګه چه مور خپل بیمار بچې د نُقصان ورکونکو څیزونو نه لرې ساتي. (په سیپاره ۱۵ سورۂ بنی اسرآءیل آیت نمبر۱۱ کښې ارشاد دې)

وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَآءَهٗ بِالْخَيْرِ ؕ وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا ﴿۱۱﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او انسان د بَدئ دُعا [ښیره] داسې کوي لکه ښیګړه چه غواړي او انسان ډیر چټک [تادي کونکې] دې.

اِنسان په خپله خُله [د ځان د پاره] بَدي غواړي، داسې څنګه چه د ځان د پاره خیر غواړي، **الله** (تعالٰی) ته معلومه ده (څه چه هغه غواړي) په دې کښې څومره نقصان دې دا (بنده) دُعا کوي او هغه (پروردګار جَلَّ جَلالُہٗ بنده د نُقصان نه د بچ کولو د پاره هغه ته د هغه غوښتونکې څیز) نه ورکوي. (بیا ئې وفرمائیل: څلورمه سیپاره سورۂ **اٰلِ عمرٰن** آیت نمبر۱۹۶ او۱۹۷ کښې ارشاد شوې دې)

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ ۫ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: اے اوریدونکیه د کافرانو په ښارونو کښې په شان او شوکت سره ګرځیدل دِ هیڅ کله دوکه نه کړي، دا لږه ګټه [سرمایه] ده بیا د هغوئي ځائ دوزخ دې او څه بد د اوسیدو ځائ دې.

یا ربّ! غمِ حبیب میں رونا نصیب ہو
آنسو نہ رائیگاں ہوں غمِ رُوزگار میں (وسائلِ بخشش ص۴۰۷)

www.dawateislami.net

یا ربه! کړې نصیب مې د حبیب غم کښې ژړا
ضـائِع مـې نه شي اُوښکې په غـم کښې د روزګار

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د غیر مُسلمو خوشحالي عارضي ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! هیڅ کله هم دا وَسوَسه په ذهن کښې مه راولئ چه مونږ مسلمانان د دې دُنیا د ډیرو نعمتونو نه محرومه او بې حاله یو، او غیرمُسلمه قومونه ډیر خوشحاله او مالدار دي. یقین وکړئ چه د مسلمانانو د پاره د جَنَّت اَبَدي یعني همیشه پاتې کیدونکي نعمتونه دي او د غیر مُسلمو د پاره د مرګ نه پس هیڅ راحت [یعني سکون] نشته او د هغوئ د پاره په آخرت کښې لمبې وهونکې اور او د دوزخ دائمي یعني د همیشه عذاب دې. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ترجَمې والا پاك قرآن کنزُالایمان مع خزائِنُ الْعِرفان صفحه ۴۰۹ سیپاره ۲۵ سُورَةُ الزُّخْرُف آیت نمبر۳۳ نه ۳۵ کښې ارشادِ رَبُّ الاَنام جَلَّ جَلالُهٗ دې:

وَ لَوْلَاۤ اَنْ یَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ یَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُیُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّ مَعَارِجَ عَلَیْهَا یَظْهَرُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَ لِبُیُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّ سُرُرًا عَلَیْهَا یَتَّكِـُٔوْنَ ﴿۳۴﴾ وَ زُخْرُفًا ؕ وَ اِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ؕ وَ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِیْنَ ﴿۳۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او که داسې نه وې چه ټول خلق به په یو دِین شي[1] نو مونږ به ضرور د رحمٰن د مُنکِرانو د پاره د سپینو زرو بامونه [چتونه] او زِینې [پوړئ] جوړې کړې وې چه په هغې ختلې او د هغوئ د کورونو د پاره د سپینو زرو دروازې، او د سپینو زرو تختونه چه هغې ته ئې ډډې وهلې او په قِسم قِسم سهولتونه او دا څه چه دي د دُنیا د ژوند سامان دې او آخِرت ستا د رب سره پرهیزګارانو لره دې.

[1] یعني که د دې خبرې لحاظ نه وې چه کافران په خوشحالو او فراخئ کښې ووینې نو ټول خلق به کافران شي. (خزائن العرفان)

کر مغفرت مری تِری رحمت کے سامنے میرے گناہ یا خدا ہیں کس شمار میں (وسائلِ بخشش ص۴۰۸)

وکړه زما بخښنه ستا د رحمت په مخکښې زما ګناهونه په هیڅ شمیر کښې نه دي یا خُدایا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مړه بیزه [چیلئ]

په ذِکر کړې شوي آیتِ کریمه کښې د مُتَّقِینو یعني د "پرهیزګارو" خلقو په وضاحت کښې صَدْرالاَفاضِل حضرت علامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعِیمُ الدّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: (پرهیزګار خلق هغه دي) څوك چه د دُنیا خواهش نه لري. د تِرمِذي په حدیث کښې دي چه که د الله تعالٰی په نِزد دُنیا د ماشي د وَزَر هُمره قدر هم لرلې نو کافر ته به ئې د دې نه د څښلو اوبه هم نه وې ورکړې. (تِرمِذی ج٤ ص١٤٤ حدیث ٢٣٢٧) په دویم حدیث کښې دي چه سَیِّدِ عالَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو نیازمندو د یوې ډلې سره روان وو، په لاره کښې ئې یوه مړه بیزه ولیدله، وئې فرمائیل: تاسو وینئ چه! د دې مالکانو دا په ډیره بې قدرئ غورزولې ده! د الله تعالٰی په نِزد د دُنیا دومره قدر هم نشته څومره چه د بیزې والؤ په نزد د دې مړې بیزې دې. (ایضاً حدیث ٢٣٢٨) حدیث: سَیِّدِ عالَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چه کله الله تعالٰی په خپل بنده باندې کرم فرمائي نو هغه د دُنیا نه داسې ساتي څنګه چه تاسو خپل بیمار د اوبو نه ساتئ. (ایضاً ص٤ حدیث ٢٠٤٤) حدیث: دُنیا د مومن د پاره قید خانه او د کافر د پاره جَنَّت دې. [ایضاً ص١٤٥ حدیث ٢٣٣١] (خزائنُ العرفان ص ٧٨٢)

کیوں کریں نہ رَشک اُس پہ یہ جہاں کے تاجدار
ہاتھ جس کے عشقِ احمد کا خزینہ آگیا (وسائلِ بخشش ص۳۱۸)

ولې نه به کړي پرې رَشك د دُنیا دا تاجداران
چه لري څوك خزانه د خوږ آقا د محبَّت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د دوو مَهیانو ښکارکونکو حکایت

حضرت سَیِّدُنا فقیه اَبُو اللَّیث سَمَرقَندي رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: په یو روایت کښې راغلي دي چه پخوا زمانه کښې یو **مومِن** او یو **کافِر**، د مهیانو د ښکار د پاره ووتل، **کافِر** د خپلو باطلو خدایانو نومونه اخستل او ښه ډیر مهیان ئې نیول تر دې چه د مهیانو ډیرې جوړ شو. **مومِن** د **الله** تعالٰی په نوم اخستو اخستو ډیر ځله جال واچوو خو هیڅ هم په لاس ورنغلل. ماښام ماښام پکښې صِرف یو مهې ونښتو خو هغه هم په ټوپونو شو او بیا ئې اوبو ته ودنګل. **مُومِن** خالي لاس بیرته راغې او **کافر** د مهیانو ډکه ټوکرئ یوړه. په مُومِن باندې مُقَرَّرې فرښتې افسوس وکړو، **الله** تعالٰی هغه فرښتې ته په جَنَّت کښې د **مُومِن** محل اوښودلو نو هغه فرښتې بې اِختیاره ووئیل: قَسم په خدائے! په داسې عَظِیمُ الشَّان محل کښې د داخلیدو نه پس به دا مُسلمان مهیانو والا د مَهیانو په ښکار کښې د ناکامئ د **مُصیبت** هیڅ پرواه ونکړي، بیا فرښتې ته **الله** تعالٰی په جَهَنَّم کښې د **کافِر** ځائ اوښودو نو وئیل ئې: قسم په خدائے! د دې عذاب مقام ته چه دې را ورَسي نو ده ته به (ډیر زیات مَهیان په لاس راتللو والا) د دُنیا (دا عارضي) خوشحالي فائده ورنکړي. (تَنبِیہُ الغافِلین ص۱۳۶)

نافرمانه ته د خوښې څیزونه په لاس راتلَل خطرناکه خبره ده

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! ددې حکایت نه دا درس حاصل شوچه د غیر مُسلمُو دُنیاوي ترقي او د دولت ډیر والې د رَشك [یعني د پسخیدو] قابِل نه دې، د غریبانانو، تنګ لاسو او په مُصیبَت کښې د اَخته مُسلمانانو به په مَحشر کښې **اَختر** وي. نیك مُسلمان ته د خپل خواهش مطابِق څیزونه په لاس د نه راتللو په وجه خفه کیدل نه دي پکار ځکه چه د بیلمانځه او په ګناهونو کښې ډوبو خلقو خواهِش پوره کیدل د خیر خبره نه ده بلکه د خطرې خبرې ده. څنګه چه حضرت سَیِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د **نَبِیِّ اَکرَم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: کله چه تاسو ووینئ چه **الله** تعالٰی په دُنیا کښې ګناهګار بنده ته هغه څیزونه ورکوي کوم چه هغه خوښوي نو دا د **الله** تعالٰی له طرفه مُهلَت دې. (مُسندِ امام احمد ج۶ ص۱۲۲ حدیث ۱۷۳۱۳)

حکومت کی طلب دل میں، نہ خواہِش تاجِ شاہی کی
نظر میں عاشِقوں کے بَس مدینہ ہی سماتا ہے (وسائلِ بخشش ص۲۱۲)

نه خواهش د حکومت، نه خواهش د تاج شاهي په نظر کښې د عاشق بس مدينه او مدينه وي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د سمدستي سزا حِکمت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَبُّ الاَنام جَلَّ جَلَالُہٗ په هر کار کښې حِکمَت وي. په غريبئ بلکه د هر قِسمه دُنياوي تکليف او مُصِيبَت باندې صبر کول او [په صبر کولو] اَجر حاصلول پکار دي ځکه چه آفات و بَلِيّات (يعني مُصيبَتونه او آفتونه) کَفَّارَۂ سَيِّئَآت (يعني د ګناهونو د ګَفّارو) او د دَرَجو د ترقئ سَبَب وي. چنانچه **تاجدارِ رِسالَت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **الله تعالٰى چه کله د يو بنده سره د خير اِراده وفرمائي نو د هغه د ګناه سزا سَمدستي هغه لره په دُنيا کښې ورکوي.** (مُسندِ امام احمد ج۵ ص۶۳۰ حديث ۱۶۸۰۶)

حضرتِ مَولانائے روم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي:

ہم خدا خواہی و ہم دُنیائے دُوں ایں خیال است و مُحال است و جُنُوں

(ته خدائے پاك هم غواړې او ذليله دُنيا هم غواړې. ستا دا خيال جُنون يعني ليونتوب او مُحال يعني نه کيدونکي خبره ده)

مجھ کو دُنیا کی دولت نہ زر چاہئے شاہِ کوثر کی میٹھی نَظَر چاہئے (وسائلِ بخشش ص۲۸۹)

نه غواړم د دې دُنيا مال او زر غواړم د شاهِ کوثر خوږ نظر

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دَ مُبَلِّغ هم بخښنه وشوه

حضرت سَيِّدُنا سُلَيم بِن مَنصور رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: چه ما خپل والِد **مَنصور بِن عَمَّار** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د وَفات نه پس په خوب کښې وليدلو، تپوس مې ترې وکړو: **مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟** يعني **الله تعالٰى** ستاسو

www.dawateislami.net

سره څه مُعامَله وفرمائیله؟ هغوئي ووئیل: زما **رَبّ تعالٰی** په ما کَرَم وکړو او وئې فرمائیل: اے **بَدعَمله بوډا!** ته خبر ئې چه ته ما وَلې وبخښلې؟ما عرض وکړو:نه **اے زما رَبَّه!** نو زما رَبّ تعالٰی ارشاد وفرمائیلو: تا په یوه اِجتِماع کښې په خپل **رِقَّت انگیز** [یعني زړه نرې کوونکي] بیان حاضر خلق ژړَوَلي وو په هغې کښې زما یو داسې بنده هم وو چه هغه کله هم زما د یَرې نه وو ژړلي خو ستا د بیان په اوریدو هغه هم په ژړا شو، ما د هغه بنده په ژړا او زارئ رَحم وکړو او هغه او په اِجتِماع کښې شریك ټول خلق مې وبخښل، په دې وجه ستا هم بخښنه وشوه. (شَرحُ الصُّدور ص ۲۸۳)
د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دَم ترے خوف سے یا خدا یا الٰہی
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی (وسائلِ بخشش ص۷۸)

چه روانې مې وي اُوښکې کاش هر دَم ستا د یَرې نه یا خدایا یا اِلٰهي
ستا د خوف او د یَرې نه همیشه چه هر وخت یم په لړزان یا خدایا یا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چه څوك ژاړي د هغه کار کیږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې کښې هیڅ شك نشته چه د هغه **مُبَلِّغینو** دَرَجه ډیره اوچته او لویه ده څوك چه د خپل رِقَّت اَنگیز [یعني زړه نرمَوونکي] د سُنَّتو ډك بیان په ذریعه د خَلقو په زړونو کښې ویره پیدا کوي او د **الله تعالٰی** د بارگاه نه جُدا شوي بندگان د غم نه ډك بیان په ذریعه د **الله تعالٰی** دربار ته راښکاږي. یَقِیناً په **اِخلاص** سره په ښو ښو نِیَّتُونو د **نیکئ د دعوت** د خورولو د پاره کوشش کونکي نیك بخته **اسلامي ورونړه** په دواړو جِهانو کښې کامیاب دي. د دې **حِکایَت** نه دا هم معلومه شوه چه د **الله تعالٰی د یَرې نه څوك ژاړي د هغه کار کیږي.** د **الله تعالٰی** د یَرې نه ژړل

www.dawateislami.net

ډیره نیك بختي ده، بلکه د ژړا کونکي په بَرَکت د نه ژړیدونکو بیړۍ هم پوریوَځي. لِهٰذا دَ سُنّتو ډکه اجتِماع کښې د شرکت کولو او په داسې اِجتِماعاتو کښې کیدونکو رِقَّت انګیزو دُعاګانو کښې د حاضریدو ډیر بَرَکتونه وي. معلومه نه ده چه د کوم یو ژړیدونکي په بَرَکت د ټولو حاضرو خلقو د بخښنې سَبَب جوړ شي!

تڑپنے پھڑکنے کا دیدے سلیقہ
تِرے ڈر سے رونے کا سِکھلا طریقہ

یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! زړه مې داسې نرم کړې چه هر وخت ستا د یَرې نه په ژړا او داسې په لړزان یم څنګه چه یوه مرغۍ د ساه ختلو په وخت کښې په ټوپونو وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ژړا فضائل

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې **ژړیدل** یوه عظیمُ الشَّانه "نیکي" ده. په دې وجه د ثواب ګټلو په نِیَّت د دې نیکۍ په رَغبَت مُشتَمِل د **نیکۍ دعوت** وړاندې کولو سره د ژړا فضائل بیانووم. کاش! چه مونږه هم سنجیده شو او په خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې **اوښکې** تویونکي جوړ شو.

رونے والی آنکھیں مانگو رونا سب کا کام نہیں
ذِکرِ محبت عام ہے لیکن سوزِ محبت عام نہیں

ژړیدونکې سترګې ووغواړئ، ژړل د هر چا کار نه دې
ذِکرِ محبَّت عام دې خو سوزِ محبَّت عام نه دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د ژړیدونکو په بَرَکت د نه ژړیدونکو بخښنه

د **سُنَّتو** ډکې اِجتِماع ګانې، د زده کولو ښودَلو مَدَني حلقې او د ذِکر و نَعت د اِجتِماع ګانو به څه وائې! په کوشش سره د اوّل نه تر آخِره پورې په دې کښې شریك کیدل پکار دي، معلومه نه ده چه کله د چا په زړه اثر وشي، د هغه زړه نرم شي او د زړه د اِخلاص سره د هغه د سترګونه اُوښکې روانې شي او رَحمت پرې نازل شي، او د هغه مُخلِص بنده د **اِخلاص** په بَرَکت هلته موجود هر مُسلمان **وبخښنلې** شي. د خیر په اجتماګانو کښې د ژړیدونکو په بَرَکت د بیشمیره خلقو د بخښلو اندازه د دې حدیثِ پاك نه ولګوئ. چنانچه یو ځل **حضورِ اکرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خطبه وفرمائیله نو په حاضرو کسانو کښې **یو کس په ژړا شو**، چه خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدلو نو وئې فرمائیل: که نن په تاسو کښې هغه ټول مومنان موجود وې د چا ګناهونه چه د غرونو هُمره دي نو هغوئې به د دې یو کس د ژړا په وجه بخښلې شوي وې ځکه چه فرښتو هم د ده سره ژړل او دُعا ئې کوله: اَللّٰھُمَّ شَفِّعِ الْبَکَّائِیْنَ فِیْمَنْ لَّمْ یَبْکِ یعني اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! د نه ژړیدونکو په حق کښې د ژړیدونکو شفاعَت قبول کړې. (شُعَبُ الایمان ج۱ ص ٤٩٤ حدیث ۸۱۰)

حضرت مولانا روم رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي:

ہر کُجا آبِ رَواں غُنچہ بُوَد ہر کُجا اشکِ رَواں رَحمت بُوَد

(کله چه باران وریږي نو په زمکه غُنچې او ګلونه وسپړدې شي، او کله چه د **الله** تعالٰی د یرې نه د چا اوښکې روانې شي نو د رَحمَت ګلونه وسپړدې شي)

د مَچ د سر همره اُوښکې

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د کوم مُومِن د سترګو نه چه د **الله** تعالٰی د یرې نه اُوښکې ووځي اګرکه د مَچ د سر هُمره وي، بیا هغه اُوښکې د هغه د مَخ ښکاره حِصّې ته را ورسي نو **الله** تعالٰی هغه په جَهَنَّم باندې حرام کړي. (ایضاً ص ٤٩١ حدیث ۸۰۲)

www.dawateislami.net

قلبِ مُضطر چشمِ تر سوزِ جگر سینہ تپاں
طالبِ آہ و فُغاں جانِ جہاں! عطارؔ ہے (وسائلِ بخشش ص ۲۲۲)

زړه بې قراره لـمدې سترګې سوزيدلې سينه
طالِب د چغو او ژړا خوږه آقا! عطّار دې

د يو مِيل پورې به ئې د سينې ګړګوړ اَوريدې شو!

حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام ابو حامد محمَّد بن محمَّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي: **حضرت** سَيِّدُنا **اِبراهِيم خَلِيلُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام به چه کله د لـمانځه د پاره ودريدلو نو د **الله تعالٰی** د **يَرې** به ئې دومره ژړل چه د يو مِيله پورې به ئې د سينې **ګړګوړ**اوريدې شو. (اِحياءُ العُلوم ج٤ ص ٢٢٤)

جی چاہتا ہے پھوٹ کے روؤں تِرے ڈر سے
اللّٰہ! مگر دل سے قَساوَت نہیں جاتی

زړه مـې غواړي چه ډير ژاړم سـتا له يرې خو سختي له زړه مې نه ځي زما خُدايا

د سرکارِ مَدِينه ﷺ نه پس د چا مرتبه ده؟

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د چا مرتبه چه د **الله تعالٰی** په دربار کښې څومره لويه وي هغه همره هغه د **الله تعالٰی** ويره هُم زياته لري لکه اوس چه تاسو د **حضرت** سَيِّدُنا **اِبراهِيم خليلُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام د ژړا حال واوريدو. د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام د عظِيمُ الشّاني مرتبې به څه وائې! آو، زمونږ د **مَکِّي مَدَني آقا خوږ خوږ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس په ټول مخلوق کښې هغوئ [يعني اِبراهِيم خَلِيلُ الله] عَلَيْهِ السَّلَام اَفضل دې! چنانچه فَقيهِ مِلَّت حضرت عَلَّامه مَولانا مُفتي جَلالُ الدِّين اَمجدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په سوال جواب باندې مُشتمِل کتاب "**اسلامي تعليم**" صفحه ١٩٤ نه ١٩٥ کښې فرمائي: "د **حضور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس د ټولو نه لويه مرتبه د **حضرت** سَيِّدُنا **اِبراهِيم خَلِيلُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام ده. بيا د **حضرت** سَيِّدُنا **موسٰی کَلِيمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام بيا د **حضرت** سَيِّدُنا **عيسٰی رُوحُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام او بيا د **حضرت** سَيِّدُنا **نُوح نَـجِـيُّ الله** عَلَيْهِ السَّلَام، دې حضراتو ته مُرسلين اولُو العزَم وئيلې کيږي." (اسلامی تعلیم ص ۱۹۵ بِتَغَيُّر)

www.dawateislami.net

وَنو او کانړو به هم ژړل

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۱٦۰ صفحو کتاب "***خوفِ خدا***" صفحه ٤٥ کښې دي: **حضرت** سَیِّدُنا **یَحیٰی** عَلَیْهِ السَّلَام به چه کله په لـمانځه ودریدلو نو (د خوفِ خدا په وجه) به ئې دومره زیات ژړل چه وَنو او خاورو لُوټو به هم ورسره ژړل تر دې چه د هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام والِدِ **مُحتَرَم حضرت** سَیِّدُنا **زَکَرِیّا** عَلَیْهِ السَّلَام به چه ولیدلو نو هغوئي به هم په ژړا شو تر دې چه بې هوشه به شو، مُسلسل د اُوښکو بهیدلو په سَبَب د **حضرت** سَیِّدُنا **یَحیٰی** عَلَیْهِ السَّلَام په مخ مُبارَك **زخمونه** شوي وو. دهغوئي عَلَیْهِ السَّلَام مور مُبارَکې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْها به د هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام په مبارك مخ باندې د وړئ پټئ ونخښلولې. چه کله به هم هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام په لـمانځه ودریدَلو نو په ژړا به شو، د هغې په وجه به هغه د وړئ پټئ لـمدې شوې. والِده **محترَمه** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْها به چه کله د وچولو د پاره هغه نچوړوَلې او هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام به د خپلو سترګو نه وتلې اوبه د خپلې مور په لاسونو بهیدلـي لیدَلـي نو د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې به ئې داسې عرض کولو: "اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! **دا زما اُوښکې دي او دا زما مور ده او زه ستا بنده یم حالانکه ته اَرْحَمُ الرَّاحِمِیْن یعني د ټولو نه زیات رحم کونکې ئې.**" (اِحیاءُ العلوم ج٤ ص ۲۲۵)

شرابِ محبَّت کچھ ایسی پِلا دے
کبھی بھی نشہ ہو نہ کم یا الٰہی (وسائلِ بخشش ص۸۱)

داسې شراب د محبَّت را باندې وڅښه چه هیڅ کله ئې نشه نه شي کمه یا اِلٰـهي

د جَنَّت او دوزخ په مینځ کښې کنډۏ دې

نَبِـی اِبنِ نَبِـی **حضرت** سَیِّدُنا **یَحیٰی** عَلَیْهِ السَّلَام یو ځل چرې بې درکه شو. د هغوئي والِدِ **مُحتَرَم حضرت** سَیِّدُنا **زَکَرِیّا** عَلَیْهِ السَّلَام وریسې درې ورځې لټون وکړو، آخِر په یو ځائ کښې ئې په داسې حال کښې ولیدو چه په یو کنستي شوي قبر کښې ولاړ وو او ژړل ئې. ورته ئې وفرمائیل: **اے زما**

www.dawateislami.net

بچیه! زه د دري ورځو نه په تا پسې ګرځم او ته په دې قَبر کښې ولاړ اُوښکې تویوې؟ عرض ئې وکړو: **بابا جانه!** آیا تاسو عَلَیْهِ السَّلَام ما ته نه وو فرمائیلي چه **د جَنَّت او دوزخ په مینځ کښې یو کنډو دې په هغې هغه کس تیریدې شي ثوك چه زیات ژاړي،** نو هغوئی عَلَیْهِ السَّلَام وفرمائیل: زما ځویه! **ژاړه!** او د دې خبرې سره هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام پخپله هم په ژړا شو. (شُعَبُ الایمان ج۱ ص ۴۹۳ حدیث ۸۰۹)

سرفراز اور سُرخرو مولیٰ مجھ کو تو روزِ آخِرت فرما (وسائلِ بخشش ص ۱۱۳)

کړې مې کامیاب او کامران مَولیٰ ته په ورځ د آخِرَت الله

د اُوښکو د هر څاڅکي نه د یوې فرښتې پیدا ش

دَ **سُلطانِ مَدینه** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې: **د الله** تعالیٰ څه فرښتې داسې دي چه د هغوئي ډډې د **الله** تعالیٰ د یَرې نه [هر وخت] رپیږي، د هغوئي د سترګې نه توئي شوي د هر څاڅکي نه یوه [داسې] فرښته پیدا کیږي، چه هغه ودریږي او د خپل ربّ عَزَّوَجَلَّ پاکي بیانول شروع کړي. (شُعَبُ الایمان ج۱ ص ۵۲۱ حدیث ۹۱۴)

ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی (وسائلِ بخشش ص۷۸)

ستا د خوف او د یَرې نه همیشه ما لرې ته په لړزان یا اِلٰهي

ونکې به هیڅ کله هم جَهَنَّم ته داخِل نه شي

خَاتَمُ النَّبِیّین، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د **الله** تعالیٰ د **یرې** نه ژړا کونکې به هیڅ کله هم جَهَنَّم ته داخِل نه شي تر دې چه پۍ [یعني شوده] تي ته بیرته داخِل شي. (شُعَبُ الایمان ج۱ ص ۴۹۰ حدیث ۸۰۰) **مُفَسِّر شَهِیر، حَکِیمُ الاُمَّت، حضرت مُفتي احمد یارخان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یعني څنګه چه د لوَشلو شودو تي ته بیرته تلَل نه شي کیدې دغسې د هغه کس دوزخ ته تلَل نه شي کیدې. څنګه چه **رَبّ** تعالیٰ فرمائي:

www.dawateislami.net

حَتّٰی یَلِجَ الْجَمَلُ فِیْ سَمِّ الْخِیَاطِ ؕ (پ ۸ ،الاعراف: ٤٠)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تر دې چه د ستّنې په ستومي [یعني سُوري] کښې اُوښ داخل نه شي.

د الله تعالیٰ د یَرې نه د ژړیدلو ډیر فضائل دي الله تعالیٰ دِ ئې را نصیب کړي. (مِراٰۃ ج٥ ص ٤٣٦)

قلبِ مُضطر کی لاج رکھ مولیٰ
یہ صدا میری چشمِ نَم کی ہے (وسائلِ بخشش ص١٢٥)

د بې قراره زړه مې سوال قبول کړې دا ده زما د لـمدو سترګو صدا

د خوفِ خُدا نه ژړیدونکې به وبخښلې شي

د حضرت سَیِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد دې: کوم کس چه د الله تعالیٰ د یَرې نه وژاړي، الله تعالیٰ به هغه وبخښي. (اِبنِ عدی ج٥ ص ٣٩٦)

سَوزِشِ سینہ و جگر دے دے
آرزو مجھ کو چشمِ نَم کی ہے (وسائلِ بخشش ص١٢٥)

خُوک زړګې او جِګر راکړې هم درنه غواړم لـمدې سترګې مَولیٰ

که تاسو خلاصې غواړئ نو ...

حضرت سَیِّدُنا عُقبَه بن عامِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض وکړو: یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! خلاصې [په] څه [کښې] دې؟ وئې فرمائیل: (١) خپله ژبه بنده ساته (یعني خپله ژبه هلته خوزوه کوم ځائ چه فائده وي، نقصان نه وي) (٢) [چه] ستا کور تا ته کِفایَت وکړي (یعني بې ضرورته د کوره مه اُوځه) (٣) په گناهونو ژړا اِختیار کړه. (سُنن تِرمِذی ج٤ ص١٨٢ حدیث ٢٤١٤)

لائِق نار ہیں مرے اعمال
التِجا یا خدا کرم کی ہے (وسائلِ بخشش ص١٢٥)

زما اعمال د اور لائِق دي ربه تا ته مې سوال دې د کرم مولیٰ

www.dawateislami.net

تیز باران شروع شو

په **خوفِ خُدا** عَزَّوَجَلَّ او **عِشقِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې ژړا کول د خوش نصیبو برخه ده، د ژړا سعادت موندلو د پاره د ژړیدونکو صُحبَت ډیر فائده مند دې. د تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې به تاسو په کثرت سره ژړیدونکي اُو وِینئ. تاسو هم د عاشقانِ رسول صُحبَت اِختیار کړئ د دوئي سره د مَدَني قافلو مُسافِر جوړ شئ، که مخکښې ژړا نه درتله نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی **ژړا** به درشي. ستاسو د رَغبَت د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلي** وړاندې کووم، چنانچه د سُنَّتو د تربیت یوه مَدَني قافله دولسو ورځو د پاره د **بابُ الاسلام** سِندھ د ضلع **تھرپارکر** یو کلي **اسماعیل کِیڅهاني** ته ورسیده. دا علاقه د ډیرو کلونو نه د باران د برکتونو نه محرومه وه، او په دې وجه خلق ډیر پریشانه وو، د لمانځه نه پس خلقو مَدَني قافلې والؤ ته د **بارانه د دُعا** د پاره ووئیل، عاشقانِ رسول د دُعا د پاره لاس پورته کړل، تول لمُونځ کونکي هم په دُعا کښې شامِل وو، اوس لا دُعا جاري وه چه یو دَم تورې تورې وَرَیځې راغلې، د رحمَت نه ډکې ټینګې وریځې خورې شوې او په لږ ساعت کښې **تیز باران** شروع شو حالانکه لږ ساعت مخکښې موسم بالکل صفا وو او نمر ښه پوره پړقیدو. په ټول کلي کښې د **مَدَني قافلې** د بَرَکت خبرې خورې شوې. د هغه ځائ عُلماؤ اَو اِمَامانو وَریدونکې باران د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني قافِلې والؤ **عاشقانِ رسول** د دُعا نتیجه وګرځوله.

خوب ہوں بارِ شیں، دور ہوں خارِ شیں قَحط کے دن ٹلیں، قافلے میں چلو
برسے برسات جب، باغ و گلزار سب لہلہانے لگیں، قافلے میں چلو

ډیر به وشي بارانونه، شي به لرې مرضونه شي به ختم ټول قَحطونه، قافلو کښې لاړ شئ
چه کله وشي بارانونه، ټول چمن او ګلزارونه شنه تازه به شي باغونه، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د باران په اوبو د بیمارو علاج

سُبحٰن الله! د مَدَني قافِلې هم څه ښکلې برکتونه دي! واقعي باران هم د **الله تعالیٰ** نِعمَت دې په قرآن پاك سیپاره ۲٦ سُورَۀ قٓ آیت ۹ کښې باران ته "مَآءً مُّبٰرَكًا" مفهوم ترجمۀ کنزُالاِیمان: "**برکت والا اوبه**" وئیلې شوي دي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَۀُالْمَدِینه چاپ شوي د ٤٠ صفحو کتاب "***راهِ خُدا*** عَزَّوَجَلَّ ***میں خرچ کرنے کے فضائل***" صفحه ۳۰ کښې دي: حضرت مَولٰی عَلِي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یو ځل اوفرمائیل: کله چه په تاسو کښې څوك شِفا غواړي نو د قرآنِ عظیم یو آیت دِ په رکیبئ کښې ولیکي او د **باران په اوبو** دِ ئې اُووِینځي او د خپلې کور والا [یعني ښځې] نه دِ د هغې د مَهر یو دِرهَم د هغې په رضا واخلي، د هغې دِ **شَهد** واخلي او اُو دِ ئې څښي [یعني دغه اوبه او شهد دِ وڅښي] چه بیشکه **شِفا** ده.
(اَلْمَوَاهِبُ اللَّدُنِّیَّة ج۳ ص ٤٨ ، فتاوٰی رضویه ج ۲۳ ص ۱۵۵)

د **یو طبیب** وَینا ده: ما ډیرو مریضانو ته په مُختلِفو مرضونو کښې **شَهد** او د **باران اوبه** ورکړي دي او دا د نورو نُسخو نه زیات فائِده مند ثابِت شوي دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د الله تعالیٰ له یَرې ژړل سُنَّت دي

د **حضرت** سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه کله دا آیتِ مبارَکه نازِل شو:

اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَ تَضْحَكُوْنَ وَ لَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾ (پ۲۷، النجم: ۵۹، ٦٠)

مفهوم ترجمۀ کنزُالاِیمان: نو آیا د دې خبرې څخه تعجُب کوئ، او خاندئ، او ژړیږئ نه.

نو **اصحابِ صُفَّه** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم **دومره ډیر وژړل** چه د هغوئي مبارَك رُخسارونه (یعني پاك مخونه) په اُوښکو لامده شو. چه هغوئي ئې په ژړا ولیدل نو **رَحمَتِ عالَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په ژړا شو. د خوږ **آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روانې **اوښکې** ئې چه ولیدلې نو هغه صاحبان نور هم زیات په **ژړا** شو.

www.dawateislami.net

بیا خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: هغه کس به جَهَنَّم ته نه داخلیږي چا چه د الله تعالیٰ د یَرې نه ژړلي وي. (شُعَبُ الایمان ج۱ ص ۴۸۹ حدیث ۷۹۸)

اللہ! کیا جہنّم اب بھی نہ سرد ہوگا؟
رو رو کے مصطفٰے نے دریا بہا دیئے ہیں (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: په دې شعر کښې زما آقا **اعلٰی حضرت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن د خدائے غَفَّار په دربار کښې عرض کوي: **یا الله** عَزَّوَجَلَّ! آیا د جَهَنَّم اور به د غُلامانِ مصطفٰی په حق کښې اوس هم نه سړیږي! زما خوږه پروَردَگاره! ستا خوږ حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د بخښنې په دُعاگانو کولو کښې دومره ژړلي دي دومره ژړلي دي لکه په ژړا ژړا ئې چه دَریابونه بهیولي وي.

خدائے غفّار بخش دے اب تو لاجِ محبوب رکھ ہی لے اب
ہمارا غمخوار فکرِ اُمّت میں دیکھ آنسو بہا رہا ہے (وسائلِ بخشش ص۳۱۰)

په خاطر د خوږ نبي مو بخشش وکړې یا غفّار
تُویوي د اُمّت غم کښې اُوښکې اُوکوره غمخوار

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ژړا په شان شکل جوړ کړئ

اَمِیرُالمُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا ابوبکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائیلي دي: کوم کس چه ژړلې شي نو اُو دِ ژاړي او که ژړا نه ورځي نو د ژړا شکل دِ جوړ کړي. (اِحیاءُ العلوم ج۴ ص۲۰۱)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! یقیناً د ښو خلقو نقل هم ښه دې: د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۳۱۸ صفحو کتاب **"فضائلِ دُعا"** صفحه ۸۱ کښې د دُعا د قَبولیَّت د آدابو نه **ادب نمبر۳۳** کښې دید: (د دُعا په دوران کښې) دِ د اوښکو بَهَیولو کوشش وکړي اگرچه یو څاڅکې وي ځکه چه دَلِیلِ اِجابَت (یعني د قبلیدو دَلیل) دې. که ژړا نه ورځي نو د ژړا په شان شکل دِ

www.dawateislami.net

جوړ کړي ځکه چه د نیکو صورت [یعني نقل کول] هم نیك (یعني ښه) وي. د دُعا د بیان کړي ادب په شرح کښې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: دا (د ژړا) صورت جوړَوَل به نِیَّتِ تَشَبُّه (یعني د ژړیدونکو په شان شکل جوړول) د الله تعالٰی په دربار کښې دي، نورو ته د ښودَلو د پاره نه دي ځکه چه هغه (یعني نورو خلقو ته د ښودلو د پاره داسې کول) رِیا او حرام دي، دا نُکته یاده ساتئ.

ندامت سے گناہوں کا اِزالہ کچھ تو ہوجاتا
مجھے رونا بھی تو آتا نہیں ہائے ندامت سے (وسائلِ بخشش ص۲۳۸)

پښیمانئ سره ګناهونه لرې کیږي
خو افسوس چه ما ته نه راځي ژړا د پښیمانتیا

په سر او ګیره کښې د وړو اچولو عجیبه وَصِیَّت

د ښوخلقو د نقل کولو په باره کښې په "**مَعدِنِ اخلاق**" حصه اوّل صفحه ٥٤ کښې ورکړې شوې یو ښکلې **حکایت** په لږ بدلون سره عرض کووم: یوې مَسخره [یعني ټوقې ټقالې کونکي] د مرګ په وخت خپل دوست ته وَصِیَّت وکړو چه کله ما خَخَوئ نو زما د ګیرې او د سر په ویښتو کښې وړه اُودُوړَوَه دوست ئې ورته ووئیل: یاره! په ژوند کښې خو تا ټوقې ټقالې ډیرې کړي دي اوس په آخري وخت کښې خو د دې نه قلار شه! هغه ووئیل: که ته واقعي زما خیر غواړې نو زه چه څه وایم هغه وکړه. دوست ئې په خندا شو او د هغه خبره ئې ومنله او د مرګ نه پس ئې د خَخَوَلو په وخت کښې د هغه د ګیرې او د سر په ویښتو کښې وړه اُودوړَوَل،یو څو ورځې پس ئې خپل مرحوم دوست په خوب کښې ولیدو نو تپوس ئې ترې وکړو! مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ یعني الله تعالٰی ستا سره څه مُعامَله وفرمائیله؟ مرحوم ووئیل: زما نه سوال وشو؟ تا د وړو دُوړَوَلو وصیت وَلې کړې وو؟ ما عرض وکړو: یا الله عَزَّوَجَلَّ! ما ستا د محبوب مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوریدلې وو: اِنَّ اللّٰهَ یَسْتَحیِ عَنْ ذِی الشَّیْبَةِ الْمُسْلِم۔ (المُعجَمُ الاوسط ج٤ ص ٨٢ حدیث ٥٢٨٦) (یعني بیشکه الله تعالٰی د مُسلمان د

www.dawateislami.net

بوډاوالي نه حیا فرمائي) بوډا کیدل زما په اختیار کښې نه وو په دې وجه ما سوچ وکړو چه د بوډا والي صورت جوړ کړم. نو **الله تعالیٰ** وفرمائیل: ځه ما ته اُوبخښلې.

رحمتِ حق "بہا" نہ مے جُوید رحمتِ حق بہانہ مے جُوید

(د الله رحمَت قیمت نه غواړي. د الله رحمَت بهانه غواړي)

سـ ین ویښته به په قِیامَت کښې نُور وي

نن صبا د پوخ عُمر اسلامي ورونړه د سپینو ویښتونه ډډه کوي حالانکه د مسلمان کیدو په حالَت کښې د بوډاوالي په وجه ویښته سپین کیدل ډیره د نیك بختیا خبره ده چنانچه **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي: سپین ویښته مه اُوباسئ ځکه چه دا به د قیامَت په ورځ نُور وي. د چا چه یو ویښته سپین شي **الله تعالیٰ** به د هغه د پاره یوه نیکي ولیکي او د هغه یوه ګناه به مُعاف کړي او د هغه یوه دَرَجه به اُوچته کړي. (اَلتَّرغیب وَالتَّرھیب ج۳ ص ۸۶ حدیث ۶)

د اُوښکو نه وَچولو فضیلت

اَمِیرُالمُؤمنین حضرتِ مولائے کائنات، عَلِیُّ المُرتضٰی شیرِخدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْہَہُ الْکَرِیْم فرمائیلي دي: چه کله په تاسو کښې چا ته د **الله تعالیٰ** د یَرې نه ژړا ورشي نو اُوښکې دِ په ټوکي [یعني کپړه] نه پاکوي بلکه په مخ دِ ئې بَهیَوَلو ته پریږدي ولې چه هغه به هم په دې حال کښې د **رَبّ تعالیٰ** په بارګاه کښې حاضریږي.(شُعَبُ الایمان ج۱ ص ۴۹۳ حدیث ۸۰۸)

روتا ہوا میں آؤں داغِ جگر دکھاؤں
افسانہ بھی سناؤں میں اپنی بیکسی کا (وسائلِ بخشش ص۱۹۴)

چه ورشم په ژړا، د ځیګر داغ ورښکاره کړم
او وکړم ورته خپلې قیصې د بې وَسئ

www.dawateislami.net

په کور کښې پټ ژړل ښه دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې بهیدونکې **اوښکې** بیشکه پاکول نه دي پکار خو د نورو په مخکښې ژړیدلو کښې دا غور کول ضروري دي چه د نه پاکولو مَقصد چرې دا خو نه دې چه خلق زما اُوښکې اُووینې او زما نه مُتَاَثِّره شي چه واه واه! دا خو ډیر نیك سړې دې یا غټ عاشقِ رسول دې! که **مَعَاذَ اللہ** عَزَّوَجَلَّ داسې وي نو دا **ریاکاري** ده، په داسې حال کښې د اُوښکو نه پاکولو هیڅ فضیلت پاتې نه شو؟ بلکه داسې کس دَ جَهَنَّم حقدار دې. چا ته چه د ټولو خلقو په مخکښې په ژړلو کښې د "**ریاکارئ**" ویره وي نو هغه له پکار دي چه د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینہ** چاپ شوي د ۷٤ صفحو کتاب "**اَخلاقِ صالحین**" صفحه ۳۰ کښې ورکړې شوې حکایت یاد ساتي چنانچه **حضرت** سَیِّدُنا **اَبُو اُمَامَہ** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ یو کس ولیدو چه په سجده کښې ئې ژړل، وئې فرمائیل: **نِعْمَ ھٰذَا لَوْ کَانَ فِیْ بَیْتِکَ حَیْثُ لَا یَرَاکَ النَّاس۔** یعني دا (ژړل) ښه کار دې که په کور کښې وې، چه هلته خلقو نه لیدلې.
(تَنْبِیہُ الْمُغْتَرِّیْن ص ۳۲)

میرے چہرے پر کفن ڈھک دیجئے — ساتھیو رُسوا مجھے مت کیجئے
بڑھتے جاتے ہیں گنہ عطارؔ آہ! — کچھ تو اظہارِ ندامت کیجئے (وسائلِ بخشش ص۲۱۹)

مخ مې پټ کړئ په کفن کښې — رسوائي مې چه ونکړئ اے دوستانو
ورځ په ورځ زیاتیږي گناه آه! عطّار — څه خو وکړه پښیماني په گناهگا نو

اوښکې به ئې په ګیره پاکولې

حضرت سَیِّدُنا **مُحَمّد بن مُنکَدِر** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به چه کله ژړل نو په خپل مخ او ګیره پورې به ئې اُوښکې مَږلې او فرمائیل به ئې چه ما ته معلوم شوي دي **چه اور به هغه ځائ ته نه رسي په کوم ځائ چه د خوفِ خُدا** عَزَّوَجَلَّ **نه بهیدلي اوښکې لګیدلې وي.** (اِحیاء العلوم ج٤ ص۲۰۱)

www.dawateislami.net

دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یا خدا بہرِ رضا عطار کو وہ آنکھ دے
ہو غمِ محبوب میں آنسو بہانا جس کا کام (وسائلِ بخشش ص۱۵۴)

یا خُدا په خاطر د رضا ورکړې عطار ته هغه سترګې چه په غم کښې د محبوب هر وخت ژړیږي

که ژړا درنه شي نو په کوشش وژاړئ

حضرت سَیِّدُنا **عَبدُ الله بِن عَمرو بِن عاص** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا وفرمائیل: **ژاړئ!** که ژړا نه درځي نو د **ژړا کوشش کوئ،** قَسم مې دِ په هغه ذات وي د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده! که په تاسو کښې چا ته عِلم وې نو هغه به دومره ډیر زیات ژړلې چه د هغه آواز به برګ شوې وې او داسې لمُونځ به ئې کولې چه ملا به ئې ما تیدې. (اَلزُّھد لابن مبارک ص۳۵٦ رقم ۱۰۰۷) د دې نقل کولو نه پس **حُجَّۃُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **اِحیاءُ العُلُوم** جِلد ٤ صفحه ۲۳۰ کښې فرمائي: معلومیږي دا چه هغوئي د نَبِیِّ کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه حدیثِ مُبارکه طرف ته اشاره کړې ده چه په هغې کښې خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: که تاسو ته هغه خبرې معلومې وې کومې چه ما ته معلومې دي نو تاسو به لږ خندلې او ډیر به مو ژړلې. (بُخاری ج٤ ص ۲٤۳ حدیث ٦٤٨٥)

سوزِشِ عشق میں جلتا ہی رہوں میں ہر دم
آنکھ سے غم میں ترے خون برستا دیکھوں (وسائلِ بخشش ص۱۲۱)

چه په عِشق کښې دِ سوَزیږمه هر دم چه مې سترګې بهیوي وِینه ستا غم کښې

الله تعالیٰ به په یو څاڅکې اُوښکو د اور ډیر سمندرونه مړه کړي

حضرت سَیِّدُنا **ابو سُلیمان داراني** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: (د خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ په سبَب) چه کومې سترګې د اُوښکو نه ډکې شي، په هغه مخ به د قیامت د ورځې **توروالې** او **ذِلَّت** نه راخوریږي او

www.dawateislami.net

که د دې سترګو نه اُوښکې روانې شي نو الله تعالیٰ به د دې اُوښکو د وړومبي څاڅکـي نه مخکښې د اور ډیر سمندرونه مړه کړي او په کوم قوم کښې چه څوك (د خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ په سبَب) ژاړي، په هغه قوم رحم کیږي. (احیاء العلوم ج٤ ص٢٠١)

آگ دوزخ کی جلا ہی نہیں سکتی ان کو
عشق کی آگ میں دل جن کے جلا کرتے ہیں (وسائلِ بخشش ص۱۴۳)

د دوزخ اور هغوئي نه شي سوزوَلې چه د عشق په اور کښې سوَزي د چا زړونه

د زرو دینارو صَدَقه کولو نه غوره یو څاڅکي اُوښکې

حضرت سَیِّدُنا عَبدُ الله بِن عَمرو بِن عاص رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: "د الله تعالیٰ د یَرې نه د اوښکو یو څاڅکي بهیدل زما په نِزد د زرو دینارو صَدَقه کولو نه غوره دي." (شُعَبُ الایمان ج۱ ص۵۰۲ حدیث ۸٤۲)

دُرِّ نایاب بِلاشک ہیں وہ ہیرے انمول
اشک آقا کی جو یادوں میں بہا کرتے ہیں (وسائلِ بخشش ص۱۴۳)

دي نایابه او بیشکه مَلغَلرې بې بها هغه اوښکې چه بهیږي په یاد کښې د آقا

په زمکه توئ شوي د اُوښکو د څاڅکي فضیلت

حضرت سَیِّدُنا کَعبُ الْاَحبار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ نه اُوښکې بهیول ما ته د خپل وزن برابَر سره زرصدَقَه کولونه زیات خوښ دي ځکه چه کوم کس د الله تعالیٰ د یرې نه وژاړي او د هغه د اُوښکو یو څاڅکي هم په زمکه ولویږي نو اور به هغه (ژړَیدونکي) ته نه رسي. (دُرَّةُ النّاصحین ص۲۵۳)

یا ربّ بچالے تُو مجھے نارِ جہنَّم سے اولاد پہ بھی بلکہ جہنَّم حرام ہو (وسائلِ بخشش ص۱۸۹)

یاربه! بچ کړې ما اور د جحیم نه په اولاد مې هم حرام کړې جَهَنَّم

www.dawateislami.net

د خوفِ خدا نه وَتلې د اُوښکې څاڅکې حورې په خپل مخ ومږلو

حضرت سَیِّدُنا **احمد بن ابو الحواري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما په خوب کښې یوه **حُوره** ولیدله چه د هغې په مخ نور ځلیدلو، ما ترې تپوس وکړو: ستا مخ په څه وجه ځلیږي؟ هغې ووئیل : تا ته هغه شپه یاده ده په کومه شپه چه تا ژړلي وو، ما اُووئیل: آو. هغې اُووئیل: ستا اوښکې ما ته راکړې شوې نو ما هغه په خپل مخ پورې ومږلې. چنانچه **زما د مخ دا ځلیدل ستا د اُوښکو په وجه دي.** (رساله قُشیریه ص ٤٢٢)

دَ الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دَ ګناه باوجود خوشحاله اُوسیدل بنده جَهَنَّم ته غورزَوَلې شي!

د **یو** عبادت ګزار قول دې: که یو کس ګناه وکړي او وخاندي نو یقین وکړئ چه **الله** تعالٰی به هغه بې باکه جَهَنَّم ته غوزار کړي او هلته به هغه **ژاړي** او که څوك فرمانبرداري اوبندګي وکړي او بیاهم د **الله** تعالٰی د یَرې نه وژاړي نو یقیناً **الله** تعالٰی به هغه جَنَّت ته داخل کړي او هلته به خوشحاله وي. (المُنَبِّهات علی الاستعداد لیوم المَعاد ص ٥ مُلَخَّصاً)

عمر بدیوں میں ساری گزاری ہائے پھر بھی نہیں شرمساری
بخش محبوب کا واسِطہ ہے یاخدا تجھ سے میری دُعا ہے (وسائلِ بخشش ص ۱۳۴)

عمر ټول په بدو کښې تیروومه هائے بیا هم زه نه شرمیږمه
مغفرت کړه زما، د محبوب په واسطه خدایا ستا نه زما دا دُعا ده

په بې باکۍ ګناه کول ډیره سخته خبره ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! داسې خو هره ګناه بده او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې خو په خندا خندا او بې باکۍ ګناه کول دا ډیره زیاته تباه کونکې خبره ده، په بې فِکرۍ سره ګناه

www.dawateislami.net

کونکو ته د **الله تعالیٰ** د قَهر او غَضب نه یریدل پکار دي، قَسَم په خدائ! د جَهَنَّم ګرمي به هیڅ څوك هم برداشت نه کړي شي. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په سیپاره 10 سُوْرَةُ التَّوْبَه آیت نمبر ۸۱ تا ۸۲ کښې د جَهَنَّم د حالت په باره کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ﴿۸۱﴾ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا كَثِيْرًا ۚ

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان : ورته اووایه د جَهَنَّم اور تر ټولو سخت تود دې، کاش که پوهیدلې. نو دوئي له پکار ده چه لږ وخاندي او ډیر وژاړي.

..... نو لږ به موخندلې او ډیر به مو ژړلې

صَدرُالاَفاضِل حضرت علامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعِیمُ الدّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ذِکر شوو آیاتِ کریمه نه لاندې فرمائي: په دُنیا کښې خوشحالیدل او **خندل** که د هر څومره اوګډې مودې پورې وي هغه د آخِرت د ژړا په مُقابَله کښې لږ دي ځکه چه دُنیا فاني (یعني ختمیدونکي) ده او آخِرت دائم (همیشه پاتې کیدونکې) دې او باقي دې. یعني **د آخِرت ژړا په دُنیا کښې د خندیدو او د خبیث عمل** (یعني ګناه) **کولو بدله ده.** په **حدیثِ** پاك کښې دي: **سَیِّدِ عالَم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: که تاسو ته هغه څه معلوم وې کوم څه چه ما ته معلوم دي نو تاسو به لږ خندَلې او ډیر به مو ژړلې.
(بُخاری ج٤ ص ٢٤٣ حدیث ٦٤٨٥)

مرے اَشک بہتے رہیں کاش! ہر دم
تِرے خو ف سے یا خدا یا الٰہی (وسائلِ بخشش ص۷۸)

چه مې اوښکې بهیدلې کاش! هر دَم ستا له یرې یا خُدا یا اِلٰهي

اے په خندا خندا ګناه کونکو!

اے په خندا خندا ګناه کونکو نادانو! مخکښې د دې نه چه مرګ ستاسو د غفلت نه د ډکې خندا خاتِمه وکړي په رِښتیني توبه وکړئ! خپل ځان د ویرولو د پاره او جَهَنَّم ته په ژړا ژړا د تلو نه ځان ساتلو د پاره په دې روایت غور وکړئ! چه **رَحمتِ عالَم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اے

www.dawateislami.net

خلقو! ژاړئ او که نه شئ ژړلې نو د ژړا کوشش کوئ ځکه چه دوزخیان به په دوزخ کښې ژاړي تر دې چه د هغوئ اُوښکې به د هغوئ په مخونو داسې بهیږي لکه هغه چه لښتي وي. چه کله اوښکې ختمې شي نو وِینه بهیدل به شروع شي او سترګې به ئې زخمي شي چه که په هغې کښې کِشتئ واچولې شي نو روانې به شي. (شرحُ السُّنة لِلبَغوِی ج۷ ص ٥٦٥ حدیث ٤٣١٤) **مشهور مُفَسِّر حَکیمُ الاُمَّت، حضرتِ مفتي احمد یار خان** رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ د دې حدیث پاك لاندې فرمائي: یعني په دې ژوند کښې د خپلو ګناهونو د یَرې، د رَبّ (تعالٰی) د یَرې نه، د هغه د رَحمَت په شوق کښې، د هغه د حبیب (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په عِشق کښې چه څومره کیدې شي **وژاړئ** د داسې ژړا انجام به اِنْ شَآءَاللّٰه (تعالٰی) خوشحالي او کامیابي وي. (مِراٰۃُ المناجیح ج۷ ص ٥٤٥)

مجھ خطار کار پر بھی عطا کر　　بے حساب بخش دے ربِّ اکبر
مجھ کو دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے　　یا خدا تجھ سے میری دعا ہے (وسائلِ بخشش ص۱۳۲)

ما خطا کار ته هم را عطا کړې　　بې حسابه ته بخښنه ربـه راکړې
کیږي ویره د دوزخ نه زما　　یا خدا ستا نه زما دا دُعا ده

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د رِقَّت اَنګیزې دُعا اثر د کوم ځائ نه کوم ځائ ته ورسولو!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د شیطان د زغلَوَلو د پاره، اُوده شوې قِسمَت د رابیدارَوَلو د پاره، د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ نه د **ژړا** جذبه زیاتولو د پاره، د رِښتیني توبې د سعادت موندلو د پاره، په غمِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د اُوښکو بهیولو د پاره او خپله سینه مدینه جوړَوَلو د پاره د تبلیغِ قرآن و سُنَّت عالَمګیر غیرسیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره هر دَم تړون ساتئ، د خپل اِیمان د حفاظت د پاره فِکرمند اوسئ ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتو عمل کوئ، د **مَدَني اِنعاماتو** مطابق ژوند تیروئ، او په دې باندې د اِستقامَت موندَلو د پاره هره

www.dawateislami.net

ورځ د "**فِکرِمَدِینه**"په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپلې علاقې د دعوتِ اسلامي ذِمَّه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد چه "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د سُنَّتو د تربیت په **مَدَني قافِله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تَحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروروم: د تاندلیانواله (ضلع سردار آباد فیصل آباد، پنجاب پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده:اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما چه په اولني ځل (۱٤۲٦ھبمطابق 2005ء) کښې د تبلیغِ قرآن و سُنَّت عالَمگیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو بَینُ الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتماع (صحرائے مَدِینه، مَدِینةُ الاولیاء مُلتان شریف پاکستان) کښې شرکت وکړو نو په **مَدَني ماحول** کښې شامِل شوم او دومره جذبه راته نصیب شوه چه بابُ المَدینه کراچئ ته راغلَم او د **دعوتِ اسلامي** په جامِعةُ المَدینه کښې مې په **دَرسِ نظامي** کښې داخله واخسته او د دې بیان ورکولوپه وخت کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **دورۂ حدیث** کووم.زما یو دوست مخکښې په **مَدَني ماحول** کښې وو خو هغه د شرابي دوستانو د صُحبَت په وجه خراب شو اومَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّلمُونځ کول ئې هم پریښودل. زه په دې ډیر غمژن او خفه ووم.زه به چه کله خپل مَسرِیره چك، تاندلیانواله ته لاړم نو په هغه به مې **اِنفِرادي کوشش** کولو، خو هغه به خبره نه منله، ما هِمَّت ونه بیلو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما په (۱٤۲۷ھبمطابق 2006ء)کښې هغه ته بیا د بینُ الاقوامي د درې ورځو **د سُنَّتو ډکې اِجتِماع** (صحرائے مدینه، مدینةُ الاولیاء مُلتان شریف پاکستان) دعوت ورکړو. اِجتِماع راغله او تیره شوه زما د هغه سره مُلاقات ونشو. د اختر په ورځ ما د خپل کور نه بهر طرف ته وکتل نو د وړې غوندې ګیرې والا عِمامه په سر یو اسلامي ورور مې د لرې نه ولیدو چه زمونږ کور طرف ته راروان وو، ما هغه ونه پیژندلو، چه کله هغه نزدې راغې نو زه ډیر زیات خوشحاله شوم ځکه چه دا خو زما هم هغه جُدا شوې دوست وو، زه په مَنډه ورَغلَم او په ډیره مینه مې سینې ته راجوخت کړو. او

www.dawateislami.net

مَدَني ماحول ته د بیرته راتلو مُبارَکي مې ورکړه. چه د دې **مَدَني اِنقِلاب** پوښتنه مې ترې وکړه نو وئې وئیل: ستا په دعوت د درې ورځو د **سُنَّتو ډکه اِجتِماع** (صحرائے مدینه، مدینةُ الاولیاء مُلتان شریف پاکستان) کښې حاضر شوې ووم، هلته آخِرئ **رِقَّت انګیزې** [یعني زړه نرمونکې] **دُعا** زما په زړه ډیر اثر وکړو، په دُعا کښې د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ په سَبَب **ژړا ګانې** وې، زما **ضمیر** زه ورټلم چه اُوګوره! نیك پرهیزګاره عاشقانِ رسول د ګناهونو نه توبه کوي او د خپل پروردګار په دربار کښې ژاړي او **اُوښکې** تویَوي او ته! ته خو په یقیني طور د سر نه د ښپو پورې په ګناهونو کښې ګرفتار ئې، او تا ته د دې هیڅ اِحساس نشته! بس وروره! زما هم زړه نرې شو، ما هم ښه **وژړل** او په ژړا ژړا مې د خپلو تیرو ګناهونو نه توبه وکړه او په هم هغه ساعت مې د ګیرې پریښودو او د عِمامې په سر کولو پوخ نِیَّت وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي په ډیر جوش او جذبه د دعوتِ اسلامي **مَدَني کارونه** کول شروع کړل. عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه بابُ المَدینه کراچۍ ته حاضر شو او د **مَدَني قافِله کورس** کولو سَعادت ئې هم حاصل کړو، بیا ئې تَرَقي کوله کوله تر دې چه په اته نهه میاشتو کښې د دعوتِ اسلامي د یو ذیلي مُشَاوَرت نِګران جوړ شو.

بُری صحبتوں سے کنارہ کشی کر — کے اچّھوں کے پاس آکے پا مَدَنی ماحول
تَرَنُّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی — ترقّی کا باعِث بنا مَدَنی ماحول
(وسائلِ بخشش ص٦٠٤)

وکړه ډډه له بدو صحبتونو — د ښو خوا ته راشه اُومومه مَدَني ماحول
چه پراته وو څوك په کندو د ذِلّت کښې — د ترقۍ سبَب ئې جوړ شو دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

ځیګر درزونکي یوه رښتیني واقعه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې مَدَني سپرلي نه مونږ ته دا درس حاصِل شو چه خاص طور د خپلو پیژندګلو والو خلقو په بدو اعمالو باندې زړه سوَزَوَل او په هغوئي د **اِنفِرادي کوشش**

www.dawateislami.net

کولو سلسله جاري ساتل پکار دي معلومه نه ده چه څه وخت د چا زړه ګُزار وخوري!او دا درس هم حاصل شو چه د **بد صُحبَت** نه همِیشه ځان ساتل پکار دي ځکه چه بد صُحبت ښه نیك اِنسان هم د شیطان منونکي جوړ کړي. دا خو د هغه اسلامي ورور خوش نصیبي وه چه د خپل همدرد اسلامي ورور د درد لرلو او انفِرادي کوشش په بَرَکت د **شرابیانو** د صُحبَت نه خلاصیدو کښې کامیاب شو، ګنې بَد صُحبَت او خاص طور د شرابیانو او جواریانو سره ناسته ولاړه په ډیر بد شان تباه کول او بربادول کوي! د **جواریانو** د صُحبَت د خطرناك انجام یوه د **رښتیاؤ قِصَّه** بیانووم **زړه کلك کړئ** او واورئ او د بد صُحبَت نه د همیشه همیشه د پاره **توبه** وکړئ، چنانچه د پنجاب (پاکستان) په یوه **محلّه** کښې عَجِیبه بدبوئي خوره شوه، د علاقې والؤ چه ډیر لټون وکړو نو آخِر د بدبوئې ځائ معلوم شو، هغه بدبوئي د یو بند کور نه راتله، چنانچه پولیس ته اطلاع وکړې شوه، کله چه پولیس والؤ د خلقو په موجودګئ کښې جرنده [تالا] ماته کړه او کور ته دننه داخل شو نو **دا ئې چه ولیدل نو ټول سخت وَیَریدل ځکه چه هلته په یو کټ کښې یو ځوان سړې مړ پروت وو د هغه د بدن بعضې حِصّې ورَستې او سخا شوې وې او په هغې کښې چینجي شوي وو. دا منظر ئې چه ولیدلو نو څه ماشومان او نور ډیر کسان بې هوشه شو.** د تحقیق کولو نه پس معلومه شوه چه دا ځلمې د محنت مزدورئ د پاره دې عَلاقې ته راغلې وو، د کرایه په کور کښې به اُوسیدو او د بعضو جوارګرو سره ئې دوستي وه. یوه ورځ دې ځلمي د خپلو دوستانو نه په جوارئ کښې ډیرې زیاتې روپئ وګټلې، مال بیلونکو جوارګرو دوستانو د بیلَلو روپو حاصلولو د پاره د ده په مرئ کښې زندئ واچوله او د بجلئ په کرنټ ورکولو ورکولو ئې مړ کړو، او د کفن دفن نه بغیر ئې دغسې پریښودو او جندره [یعني تالا] ئې ورپسې ولګوله او لاړل وتښتیدل.

اے جُواری تُو جوئے سے باز آ ورنہ پھنس جائے گا جس دن تُو مرا
تُو نشے سے باز آمت پی شراب دو جہاں ہو جائیں گے ورنہ خراب

ہو گیا تجھ سے خدا ناراض اگر
قبر سن لے آگ سے جائیگی بھر (وسائلِ بخشش ص۶۶۸،۶۶۹)

www.dawateislami.net

اے جوارگره، پریږده جواري کنې پس د مرگه به دِ وي گرفتاري
مه کوه نشې مه څښه شراب کنې شي به ستا دواړه جهانه خراب
شو که پاك الله درنه ناراضه قبر به دِ ډك شي د اور له عذابه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د خُدائ نه نه یَریدل د ټولو نه لویه گناه ده

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا (د نیکئ دعوت ورکوي او د گناه نه د ویرولو د پاره) ارشاد فرمائي: **اے گناه کونکیه!** ته د "بدې خاتمې" نه مه بې خوفه کیږه او کله چه ته یوه گناه وکړې نو د هغې نه پس غټه گناه مه کوه، ستا د ښي او چپ طرف د فرښتو نه په حیا کښې کمي کول د هغه گناه نه غټه گناه ده کومه چه تا وکړه، او ستا په گناه کولو خوشحالیدل د هغې نه هم غټه گناه ده حالانکه تا ته نه ده معلومه چه **الله تعالیٰ** ستا سره څه سلوك کونکې دې او ستا د **یوې گناه په پاتې کیدو خفگان کول** د دې نه هم غټه گناه ده، اَو ته (خومره نادان ئې چه په پټه) د گناه (یا بدکارئ) کولو په وخت کښې که تیزه هوا د **دروازې پرده اوچته کړي** نو ته اُو یَریږې خو ستا زړه د دې خبرې نه نه یَریږي چه **الله تعالیٰ تا وینې**. ستا (د خُدائ پاك نه د نه ویریدو) دا عمل د دې نه هم غټه گناه ده. (اِبنِ عَساکِر ج ۱۰ ص ۶۰ ، جَمْعُ الْجَوامِع لِلسُّیُوْطِی ج ۱۵ ص ۱۰۵ حدیث ۱۲۴۶۲)

سِلسلہ آہ! گنا ہوں کا بڑھا جاتا ہے نِت نیا جُرم ہر اک آن ہوا جاتا ہے
امتحاں کے کہاں قابِل ہوں میں پیارے اللہ بے سبب بخش دے مولیٰ تِرا کیا جاتا ہے (وسائلِ بخشش ص۱۲۶)

سلسله آه! د گناهونو مې زیاتیږي هر ساعت رانه یو جرم سر زد کیږي
د امتحان کله قابِل یم زما خوږه الله معافي راکړې بې سببه ستا پرې څه کیږي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د ګناه په باره کښې دَ نیك او بَد خپل خپل کَیفِیَّت

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُما په خومره ښکلي انداز کښې د **نیکئ دعوت** ورکړې دې! واقعي ګناه خو ګناه ده د دې نه ځان ساتل پکار دي د **اللّٰہ تعالٰی** نیك بندګان د ګناه کولو نه ډیر زیات یَریږي، خو د ګناهونو عادت لرونکي خلق د دې هیڅ پرواه نه کوي لکه په "**بُخاري شریف**"کښې چه **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: "مُومِن خپل ګناهونه په داسې انداز کښې وِیني لکه هغه چه د یو غر نه لاندې ناست دې او هغه یریږي چه چرې دا غر پرې را ونه غورزیږي او د فاسِق و فاجِر په نِزد د ګناهونو مُعامَله داسې ده لکه یو مچ چه د هغه په پوزه کښیني او هغه ئې د لاس په اشاره والوَځَوي." (بُخاری ج٤ ص١٩٠ حدیث ٦٣٠٨)

دَ میلُو او شادو تماشه کتل حرام دي

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُما د **نیکئ** په **دعوت** کښې د یو ګناه په نه کولو باندې د خفه کیدو مُتعَلِّق ذِکر هم دې. په دې باره کښې د **دعوتِ اِسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکتَبَۃُ المَدینه** چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب "**مَلفوظاتِ اعلٰی حضرت**" صفحه ٢٨٦ کښې ورکړې شوي د **عِبرَت مَدَني** ګلونه ملاحظه کړئ: چنانچه زما آقا اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن فرمائي: د ناجائزه خبرې تماشه کتل هم ناجائزه دي، شادو ګَډَوَل حرام دي، د دې تماشه کتل هم حرام دي. په **دُرِّمُختار و حاشِیَۂ عَلَّامه طَحطاوِي** کښې د دې مسائلو د وضاحت بیان موجود دې. نن صبا خلق د دې (حُکمونو) نه غافله دي. مُتَّقي [یعني پرهیزګاره] خلق چه هغوئي د شریعت احتیاط کوي، په بې خبرئ کښې د **میلُو** یا **شادو تماشا** یا **د چرګانو** [یعني بانګیانو] **جنګ** ګوري او خبر نه وي چه ګنهګاریږي. په **حدیث** کښې ارشاد دي: چه که "د خیر ټولنه (یعني د نیکئ اجتماع وغیره) وي او یو کس هلته د تلو نه پاتې شو او بیا خبر شو او هغه [په پاتې کیدو] افسوس وکړو نو دومره ثواب به مومي خومره [ثواب] چه هلته د حاضرو خلقو

www.dawateislami.net

شوې وي او که د شر ټولنه (یعني د بَدئ ټولګې مثلاً د سندرو باجو پروګرام وغیره) وي او هغه هلته په نه تلو افسوس وکړو نو هلته حاضر خلق چه څومره ګنهګار شوي وي هغه هُمره دې هم ګنهګار شو.

مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے اپنی اُلفت دل میں بسادے
بَہرِ صَفا اور بَہرِ مَروہ یا اللہ مِری جھولی بھر دے (وسائلِ بخشش ص۱۰۷)

ما نیك جوړ کړې یا الله ستا محبت راکړې مولیٰ
په برکت د صَفا او مروه ډکه کړې زما ځولئ یا الله

د خلقو په مخکښې د "نیك جوړیدونکي" د قبر اَحوال

حضرت سَیِّدُنا اِبراهِیم تَیمِی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ (د اِخلاص مُتَعلِّق د نیکئ دعوت ورکوي او ارشاد) فرمائي: زه به د مرګ او د خپلې خاتِمې د یادَوَلو د پاره اکثر **اَدِیرې** [مقبرې] ته تلم راتلم. یوه شپه مې په مَقبَره کښې سترګې ولګیدلې او خوب مې ولیدو چه یو **قبر** وشلیدو او آواز ترې راغې: "دا زنځیر ونیسه او د ده په خُله کښې ئې داخِل کړه او شاته په شرمګاه ئې ترې وباسه." نو هغه مړي(په ویره) ووئیل: "یا **رب تعالیٰ**! آیا ما به **قرآن** نه لوستلو؟ آیا ما به د بَیتُ الله **حج** نه کولو؟" هم دغسې پرله پسې هغه خپلې نیکئ ور شمار کړې نو بیا آواز راغې: بیشکه تا به د خلقو په مخکښې دا اعمال کول خو چه کله به یواځې وې نو د نافرمانئ په ذریعه به دِ زما سره د جنګ اعلان کولو او زما نه به نه ویریدې. (الزَّواجِر عَنِ اقْتِرافِ الکَبائر ج۱ ص۳۱)

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اخلاص ایسا عطا یا الٰہی (وسائلِ بخشش ص۷۸)

چه مې هر عمل وي بس دا ستا د پاره داسې اخلاص کړې را عطا یا اِلٰهي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ولړزیږئ! ویَریږئ او توبه اوباسئ!! د دې نه دِ هغه نیك لـمونځ ګُزاره او په ظاهره په سُنتو عمل کونکي اسلامي ورونړه هم عِبرَت حاصل کړي څوك چه د خلقو په

www.dawateislami.net

مخکښې صرف د ښودنې د پاره فرض خو فرض نفل هم ادا کوي خو په یواځې ځائ کښې د نیك عمل نه غفلت کوي، د نیك ښکاره کیدو د پاره خو ښه د **حُسنِ اَخلاق** نمونه جوړیږي، هر یو ته په اِحترام سره په تِیټه سلام کوي او "**جي جناب**"وائي خو په کور کښې د "**ازمري**" په شان غړمبیږي، او ډیر زیات شور شَغرب کوي او زړه ازارونکي خبرې کوي بلکه وهل ټکول هم کوي.

چُھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ
وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: په دې شعر کښې **اعلٰی حضرت** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **نیکۍ دعوت** ورکوي او فرمائي: **اے گناہ کونکیه!** تا د خلقو نه خو خپل ګناهونه پټ کړي دي خو دا دِ هیر کړل چه د کوم پروردَګار جَلَّ جَلَالُہٗ نافرماني دِ کړي ده هغه ستا د دې کارونو نه خبر دې. آه! په مَحشر کښې به ستا سره څه کیږي!

د **ښودنې** د پاره د عمل کولو نه توبه وکړئ، **الله تعالٰی** توبه قبلونکې مهربانه دې، د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۱۰۱۲ صفحو کتاب "***جَہَنَّم میں لے جانے والے اعمال***" صفحه ۸٦٦ نه ۸٦۷ کښې دي: د **تاجدارِ رِسالَت، شَهَنشَاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: "په ګناه پښیمانه کیدونکې د **الله تعالٰی** د رَحمَت اِنتِظار کوي او په ګناهونو فَخَر کونکې د (**الله** تعالٰی د) ناراضګۍ اِنتِظار کوي او اے د **الله تعالٰی** بندګانو! یاد ساتئ! نزدې ده هر (ښه او بَد) عمل کونکې به د خپل عمل په وجه مخکښې ځي او د دُنیا نه د تلو نه مخکښې به د خپل ښه او بد عمل بدله اُووِیني او د **عملونو دارودمدار په خاتمو دې** او ورځ او شپه دوه سوَرلئ دي لِهٰذا د دې په ذریعه د آخِرت طرف ته ښه سفر اختیار کړئ او په توبه کولو کښې مه ناوخته کوئ ، ځکه چه مرګ ناڅاپه راځي او په تاسو کښې دِ هیڅ څوك هم د **الله تعالٰی** د حِلم (یعني نرمئ) نه کله هم په دوکه کښې نه پریوَځي، بیشکه اور په تاسو کښې هر یو ته د پیزار د مزي [یعني تسمې] نه هم زیات نزدې دې. "بیا **سُلطانِ مَدِینه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې (یعني سیپاره 30 د سُوْرَۃُ الزِّلْزَال ووم او اتم) مُبارکو آیتونو تِلاوَت وفرمائیلو:

www.dawateislami.net

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ۝

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو څوك چه یوه زره نیکي وکړي هغه به اُووِیني او څوك چه یوه زره بدي وکړي هغه به اُووِیني.

په ګناهونو پښیمانتیا توبه ده

د **الله تعالیٰ** د **خوږ حبیب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دي: اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ یعني (په ګناه) پښیمانتیا توبه ده. (سُنَنِ اِبنِ ماجَه ج٤ ص ٤٩٢ حدیث ٤٢٥٢)

د پښیمانتیا وَضاحت

یعني شرمنده کیدل او پښیمانتیا د **توبې** یو ډیر لوئي رُکن دي څنګه چه په یو حدیثِ پاك کښې دي: "حَج د وُقُوفِ عَرَفه نوم دي." (تِرمِذی ج٢ ص ٢٥٤ حدیث ٨٩٠) په پښیمانتیا کښې دا هم ضروري دي چه هغه [پښیمانتیا] د نافرمانۍ، د هغې دَ قَباحَت (یعني بد کیدو) او د آخِرت د یَرې په وجه وي صرف د دُنیا د بې عِزَّتۍ په وجه یا په ګناه کښې د مال ضائع کولو په وجه نه وي. د **حُضورِ انور** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ دي: **الله تعالیٰ** چه د یو بنده په ګناه پښیمانه کیدل (یعني شرمنده کیدل) اُووِیني نو د هغه د توبه کولو نه مخکښې هغه مُعاف کړي. (اَلْمُسْتَدرَك لِلْحَاکِم ج٥ ص ٣٦٠ حدیث ٧٧٢١)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اویاؤ زرو وِینزو په ګنړه کښې روانه حُوره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کوم خوش نصیبه چه په خپلو نیکو باندې فخر نه کوي، د **الله تعالیٰ** د بې نیازۍ نه یَریږي، د نیکو کولو باوجود د **اِخلاص** د کمۍ په وجه په ویره او په لړزان وي او اوښکې بهیوي هغه کامیاب دي او د **الله تعالیٰ** په رَحمَت به په خندا جَنَّت ته داخلیږي. د جَنَّت په اُمّید [یعني په طمع] د **عاشقانِ رسول** سره د سُنَّتو د تَربِیَّت په **مَدَني قافلو** کښې سفر کوئ. د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق عمل کوئ او د **نیکۍ دعوت** ښه عام کړئ. د نیکۍ د دعوت ورکونکي هم څه

www.dawateislami.net

ښکلې شان دې چه د **جَنَّت** عَظیمُ الشَّانه حُوره د هغه په اِنتِظار کښې ده چنانچه **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَیِّدُنا ابو حامِد امام **محمَّد** بن **محمَّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي، **حضرت** سَیِّدُنا ابوهُریره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: په **جَنَّت** کښې یوه **حُوره** ده [یعني د حُورو یو قِسم دې] چه هغې ته"**عَیناء**" وائي، کله چه هغه روانه وي نو د هغې ښي او چپ طرف ته **اویا زره** وِینزې رواني وي، هغه حوره وائي: **د نیکئ حکم ورکوونکي او د بَدَئ نه منع کوونکي کوم ځائ دي؟** (اِحیاءُ العلوم ج ۵ ص ۳۱۰)

د حورو مُتَعَلِّق درې فَرامِینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مَرحبا! د نیکئ د دعوت ورکونکو مرتبه څومره اوچته ده چه **عَینا** غوندې عَظِیمُ الشَّانه **حوره** په جَنَّت کښې د هغه انتِظار کوي! "حورې" هم دَ **اللّٰه** تعالٰی څه ښکلې مخلوق دې! په دې باره کښې **درې فَرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: (۱) د جنتي ښځو د سر لوپټه د **دُنیا وَمَا فِیْهَا** (یعني دُنیا او څه چه په دې کښې دي د هغې) نه غوره ده. (بُخاری ج۲ ص۲۵۲ حدیث ۲۷۹۶) (۲) د هر جَنَّتي به د غټو غټو سترګو والا حورو کښې دوه بیبیانې داسې وي چه اویا جوړې به ئې اغوستي وي بیا به هم په هغه جامو او غوښه کښې د بهر نه د هغوئ د پنډو مغز داسې ښکاري څنګه چه په سپینه شیشه کښې سره شراب ښکاري. (المُعجَمُ الکَبِیر ج ۱۰ ص ۱۶۰ حدیث ۱۰۳۲۱) (۳) د اَدنٰی جنَّتي سره به د دُنیا د بیبیانو نه علاوه ۷۲ حورې وي.

(مُسنَدِ اِمام اَحمَد بِن حنبل ج ۳ ص ٦٤٠ حدیث ۱۰۹۳۲)

نارینه ته به حُوره ورکوله شي، جنتي زنانه ته به څه ورکول شي؟

سُوال: جنتي نارینۀ ته به حوره ورکوله شي، د جنتي زنانَه د پاره به څه ترکیب وي؟

جواب: کوم ښځه او خاوند چه جَنَّت ته لاړ شي هغوئ به هلته هم یو ځائ اوسیږي او د کومې ښځې خاوند چه **مَعَاذَ اللهِ** عَزَّوَجَلَّ جَهَنَّم ته لاړشي د هغې به د یو جنتي سړي سره نکاح وکړې شي.

د وړوکي ماشوم په جَنّت کښې نکاح

سُوال: وړوکې ماشوم چه جَنَّت ته لاړ شي نو آیا د هغه به هم نکاح کیږي؟

جواب: آو جي. **حضرت** سَیِّدُنا اِمام احمَد بِن **حَجَر مَکِّي شافعي** رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: وړوکې ماشوم به په حشر کښې د دُنیاوي عمر او بدن په حِساب راپاڅولې شي، بیا جَنَّت ته د داخلیدو په وخت کښې به د هغه وجود غټ کړې شي او هغه به د بالغ په شان جَنَّت ته داخل شي او دُنیاوي ښځو او حورو سره به د هغه نکاح وکړې شي. (فتاوٰی حدیثیه ص ۲٤٥)

د بې واده وفات کیدونکو نکاح

سُوال: کوم مسلمان نارِینه او زَنانه چه بې واده وفات شوي وي آیا د هغوئي به هم د نکاح څه صورت کیږي؟

جواب: د کومو نارینؤ یا زنانؤ چه ټول عمر نکاح نه وي شوې د هغوئي به هم په جَنَّت کښې د یو بل سره نکاح وکړې شي.

جَنّتي ښځې زیاتې فضیلت لرونکې دي که حُورې؟

سُوال: د دُنیا جَنَّتي ښځې زیاتې فضیلت لرونکي دي که حورې؟

جواب: دَ دُنیا جَنَّتي ښځې د حورو نه زیاتې فضیلت لرونکي دي. چنانچه د "**طَبَرانی**" په یو اوکد حدیث کښې دا هم دي چه: **اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرت** سَیِّدَتُنا اُمِّ سَلَمَه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہا عرض وکړو: "**یارَسُولَ اللہ** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دُنیا ښځې غوره [یعني زیاتې فضیلت لرونکي] دي که د غټو سترګو والا جَنَّتي حورې؟" نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: "د دُنیا ښځې د غټو سترګو والا جَنَّتي حورو نه اَفضل [غوره] دي." ما عرض وکړو: **یا رَسُولَ اللہ** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په څه وجه؟ نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: "داسې د دوئي د لـمونځونو او روژو او د **اللہ تعالٰی** د عِبادَت کولو په وجه دي." (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج ۲۳ ص ۳٦۷ حدیث ۸۷۰) په یو بَل **حدیثِ پاك** کښې دي: د

دُنیا جَنَّتي ښځې د حُورو نه **اویا زره درجې** افضل [غوره] دي. (اَلتَّذْکِرَۃُ للقُرطبی ص۴۵۸) جَلِیلُ القدر تابعي حضرت سَیِّدُنا حِبان بِن اَبو جَبَله رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د دُنیا هغه ښځې چه جَنَّت ته به ځي [هغه به] د خپلو نیکو کارونو په وجه د جَنَّت د حُورو نه افضل [غوره] وي. (تفسیرِ قُرطبی ج۱۶ ص۱۱۳)

ډیر خاوندان لرونکي به په جَنّت کښې دَ چا سره وي؟

سُوال: د اَوَلني خاوند په وفات کیدو یا د طلاق وغیره په صورت کښې کومې ښځې چه د یو نه زیات وَدونه کړي وي هغه به په جَنَّت کښې د کوم یو خاوند سره اوسي؟

جواب: که یوې ښځې پرله پسې د یو نه زیات نارینؤ سره نکاح کړي وي نو د یو قول مطابق د چا په نکاح کښې چه د ټولو نه په آخِره کښې وه په جَنَّت کښې به د هغه سره وي. لکه څنګه چه د **حضرت سَیِّدُنا ابو الدَّرداء** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه **رسولِ اکرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ښځه به په جَنَّت کښې د خپل هغه خاوند په نکاح کښې ورکړې شي کوم چه په دُنیا کښې د هغې آخِري خاوند وو. (مُسْنَدُ الشَّامِیِّین لِلطَّبَرانِی ج۲ ص۳۵۹ حدیث ۱۴۹۶) **دویم قول** دا دې: چه د چا اَخلاق زیات ښه وي هغه ته به ورکړې شي. لکه څنګه چه **اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرت** سَیِّدَتُنا اُمِّ سَلَمَه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا عرض وکړو: **یا رَسولَ اللہ** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! بعضې ښځې په دُنیا کښې د دوو، دریو یا څلورو خاوندانو سره (پرله پسې) واده کوي، بیا چه د مرګ نه پس هغوئ په جَنَّت کښې یو ځائ شي نو هغه ښځه به د کوم خاوند د پاره وي؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: هغې ته به اختیار ورکړې شي او د کوم خاوند اَخلاق چه په دُنیا کښې د ټولو نه ښه وي هغه به هغه اِختیار کړي، هغه به وائي: اے زما رب تعالٰی! زما د دې خاوند اخلاق د ټولو نه ښه وو لِهٰذا د ده سره زما نکاح وکړه. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۲۳ ص۳۶۷ حدیث ۸۷۰)

په دې دواړه احادیثو کښې څه تعارُض (یعني اختِلاف) نشته. لکه څنګه چه **حضرت** سَیِّدُنا اِمام احمَد بِن **حَجَر مَکِّي شافِعِي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: کومې ښځې چه پرله پسې ډیر نکاحونه کړي وي نو یو صورت دا دې چه هر خاوند هغې له طلاق ورکړې وي او کله چه هغه وفات شوه نو د یو په نکاح کښې هم نه وه نو صرف په دې حالَت کښې به هغې ته اختیار ورکړې شي او د کوم

www.dawateislami.net

خاوند اَخلاق چه په دُنیا کښې د ټولو نه ښه وي هغه ته به ورکړې شي لکه څنګه چه د اُمُّ الْمُؤمِنِین **حضرت** سَیِّدَتُنا اُمِّ سَلَمَه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہا په حدیث کښې ذِکر شوي دي. او **دویم** صورت دا دې چه هغې **مُتَعَدَّد** [یعني ډیر] نکاحونه کړي وي او آخِري خاوَند هغې ته طلاق نه وي ورکړې او هغه د هغه په نکاح کښې وفات شوي وي په دې صورت کښې به هغه په جَنَّت کښې د آخِري خاوَند په نکاح کښې وي. لکه څنګه چه د **حضرت سَیِّدُنا ابو الدَّرداء** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په حدیث کښې دي. (مُلَخَّص از فتاوٰی حَدِیثِیہ ص ۷۰، ۷۱)

اخلاق ہوں اچھے مِرا کِردار ہو سُتھرا
محبوب کا صدقہ تو مجھے نیک بنادے (وسائلِ بخشش ص ۱۰۳)

اخلاق زما ښه کړې هم کِردار زما صفا
ما نیك کړې په خاطر د سلطانِ انبیاء

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خلقو ته نفع [یعني فائِده] رَسَوَل

د **حضرت** سَیِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د تاجدارِ مدینهٔ مُنوّره صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې: د مؤمِن سره مینه کیږي او په هغه (کس) کښې هیڅ خیر نشته څوك چه نه د چا سره مینه کوي او نه د هغه سره مینه کیږي، او په خلقو کښې د ټولو نه غوره هغه دې څوك چه خلقو ته نفع [فائِده] رَسَوي. (شُعَبُ الاِیمان ج ٦ ص ١١٧ حدِیث ٧٦٥٨)

ډاکوانو ټول لوټ کړل خو زه ئې پریښودم

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د نیکانو سره خلق مَحَبَّت کوي تَر دې پورې چه کله کله ډاکوان هم د نیکانو خلقو د اِحترام په وجه هغوئې نه لوټ کوي، چنانچه د ګیرې او زُلفو والا او د سُنَّتو ډك

www.dawateislami.net

لباس اغوستو والا او عِمامه په سر کولو والا یو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي چه په "**مَدَني اِنعاماتو**" باندې د عمل کولو سره سره تنظیمي طور د دې ذِمَّه دار هم دې. د هغوئي بیان څه داسې دې چه یو ځل ما سره په جیب کښې ډیرې روپئ وې او د حیدر آباد (بابُ الاسلام سندھ پاکستان) نه بابُ المَدینه کراچئ ته تلو د پاره په بس کښې کښیناستم. بس به زیات نه زیات نیمه ګینټه لار وهلي وه چه ناڅاپه د مُختلفو سیټونو نه څلور پینځه کَسان یو دَم سره د وَسلې راپاڅیدل. په هغوئي کښې یو د ټولو نه لوَړې وَنې والا وو هغه ورمنډه کړه ډرائیور ئې یوه تیزه څپیړه اووهلو او یو طرف ته ئې دِیکه کړو او د ډرائیور په سیټ پخپله کښیناستو. بس ئې یوې کچه لارې ته کوز کړو. بیا **ډاکوانو** په روان بس کښې د هر یو کس تلاشي اخستل او لوټ کول شروع کړل. بس کښې موجود خلق په سخته ویره کښې وو، زه هم ډیر یَریدم او غلې ناست ووم، زما نه مخکښې سِیټ باندې مضبوط او طاقت ور ځلمي [هلکان] ناست وو، زما په زړه کښې دا ویره پیدا شوه چه هسې نه دوئي چرې د ډاکوانو سره لاس واچوي او هغوئي ډزې وکړې، بهرحال ما احتیاطاً تجدیدِ ایمان وکړو او سَترګې مې پټې کړې، زما خوا ته چه کوم کس ناست وو **یو** ډاکو د هغه تلاشي واغِسته او څه چه په لاس ورغلل په زور ئې ترې واغِستل، خو ماته ئې هیڅ هم ونه وئیل. **دویم** ډاکو راغې هغه هم د هغه کس تلاشي واغسته، د هغه د یو جیب نه د سلو روپو یو بل نوټ را اُووَتو هغه ئې هم ترې واغِستو او په ما ئې څه غرض ونکړو او تیر شو، دریم **ډاکو** زما طرف ته اشاره وکړه اَو وئې وئیل چه **مَولانا صاحب مه لوټ کوئ**. دا ئې چه واوریدل نو زما شاته ناست یو مُسافر موقع اوموندله او د خپلو روپو ګیډئ ئې د شا طرف نه زما د قمیص په جیب کښې راواچوله. یوې زنانه خپل د سرو زرو لاکټ د سیټ نه لاندې زما د ښې طرف ته راواچولو (چه د هغې نه زه وروسته خبر شوم). بهرحال ډاکوان د لوټ مار کولو نه پس د بس نه کوز شو او وتښتیدل. بیا لوټ شوو مسافرو خبرې شروع کړې او شور او ژړاګانې شروع شوې. یو کس زما طرف ته اشاره وکړه او په زوره ئې اُووئیل: دا مَولانا ونیسئ دا د **ډاکوانو ملګرې** ښکاري ځکه چه مونږه ټول ئې لوټ کړو او دې ئې لوټ نه کړو، زه وَیَریدم چه دا څه وشو! دا خلق چرې ما خُوګ نه کړي، ناڅاپه

www.dawateislami.net

زما غیبي مدد داسې وشو چه هم په دې مسافرو کښې یو کس داسې اُووئیل: نه نه ورونړو! دا شریف سړې دې، د ده لِباس او مخ ته اُوګورئ! بس د دوئي څه نیکي پکار راغله او بچ شو، او مونږ ګنهګار یو، دا زمونږ د ګناهونو سزا وه.

د ډاکوانو نه د حِفاظَت راز

د دې اسلامي ورور نور دا بیان دې: اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اول د ډاکوانو نه بچ شوم او بیا د لوټ شوو مسافرو د طرف نه پیښیدونکي مصیبت نه بچ شوم. دا د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول د بَرَکت "**مَدَني سپرلې**" دې چه ما ګیره او زلفې پریښې دي او د عِمامې شریفې تاج مې په سر کړې دې او د سُنَّتو ډك لباس کښې اوسم ګنې شاید چه زه به ئې هم په بې رَحمئ سره لوټ کړې ووم. په مَدَني ماحول کښې د راتلو نه مخکښې به زه ماډرن اوسیدم او د سټیج په ډرامو کښې به مې کار کولو. د الله تعالیٰ و رسول صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم وشو چه ما ګنهګار ته دعوتِ اسلامي د توبې لار اوښودله، لمُونځ ګزاره ئې جوړ کړم، په سُنّتو عمل کونکې ئې جوړ کړم، د **حضور غوث پاك** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سلسله کښې ئې د مُرید جوړیدو شرف راکړو، د نیك جوړیدو په نُسخه یعني په **مَدَني اِنعاماتو** عمل کونکې ئې جور کړم، او د خپل پیر صاحب د طرف نه راکړي شوي **شجره قادریه رضویه** نه ئې د څه نه څه اَورادو [یعني وظیفو] لوستونکې جوړ کړم چه په هغې کښې یوه وظیفه دا هم ده بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰی دِیْنِیْ بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰی نَفْسِیْ وَوُلْدِیْ وَاَهْلِیْ وَمَالِیْ یعني د **الله** تعالیٰ د نوم په بَرَکت دِ زما د دِین، ځان، اولاد او اهل و مال حفاظت وشي. (ترجَمه لوستل ضروري نه دي، اوّل آخِر تري یو یو ځل درود شریف لولئ) **فضیلت**: دا دُعا چه څوك هره ورځ سحر او ماښام درې درې ځله لوَلي د هغه دِین، ځان، مال او بچي ټول به په حِفاظت کښې وي.(اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ) اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زه هره ورځ سحر او ماښام دا وظیفه لوَلم، زما نیك ګمان دې چه د ډاکوانو نه حِفاظت د **الله** تعالیٰ په رحمت سره د دې وظیفې په برکت وشو. چه په دُنیا کښې د دې دا فائده ده نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د مرګ په وخت کښې به [د دې د لوستونکي] ایمان هم سلامت پاتې شي. زما ټولو اسلامي ورونړو او خویندو ته

www.dawateislami.net

مَدَني عرض دې چه د **دعوتِ اسلامي** دَ مَدَني ماحول سره هر وخت تعلق مضبوط ساتئ او د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** نه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله حاصله کړئ او د هغې مُطابِق د ژوند تیرولو کوشش کوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په دواړو جهانو کښې به مو بیړئ پوریوَځي.

د سحر او ماښام تعریف

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیدل چه! د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول څه ښکلي **مَدَني سپرلي** [یعني برکتونه] دي! د ذِکر شوي وظیفې د لوستلو د وختونو یعني د "سحر او ماښام" په تعریف هم ځان پوهه کړئ، چنانچه د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** د چاپ شوي **شجرۀ قادریه رضویه** په صفحه نمبر۱۰ کښې دي: د نیمې شپې د تیریدو نه واخله د نمر د اولنئ پلوشې د راختو پورې "**سحر**" دي. په دې ټول وخت کښې چه هر څه ولوستلې شي هغه به د سحر په وخت کښې لوستل ګڼړل شي. او د غرمې تیریدو (یعني د ماسپښین د روا کیدو د وخت) نه واخله د نمر پریوتو پورې "**ماښام**" دي. په دې ټول وخت کښې چه هر څه ولوستلې شي هغه به په ماښام کښې لوستل ګڼړل شي.

د نافرمانو نه خلق کرکه کوي

ګناه کول په دواړه جهانو کښې د نقصان او تاوان سَبَب دي، او د خلقو د زړونو نه هم د ګنهګارانو عِزَّت ختم شي. په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** نه چاپ شوي د ۸۵۳ صفحو کتاب "***جهنم میں لے جانے والے اعمال***" جِلد اول صفحه ٦٦ نه٦٧ پورې د **نیکئ د دعوت** د مَدَني ګلونو خوشبو لرونکي ٦ روایتونه واورئ:

(۱) اُمُّ المُؤمنین حضرت سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا حضرت سَیِّدُنا اَمیر مُعاویه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته یو خط ولیږلو: **اَمَّابعد** (یعني د حمد و صلوٰة نه پس) کله چه بنده د **الله تعالٰی** د نافرمانئ یو عمل کوي نو د هغه صِفَت کونکي خلق د هغه بَد وئیل شروع کړي. (الزهد للامام احمد بن حنبل ص١٨٦ حدِیث ٩١٧)

(۲) حضرت سَیِّدُنا ابودرداء رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د دې خبرې نه ویَریږه چه د مومنانو زړونه ستا نه کرکه شروع کړي او تا ته د هغې شُعُور [یعني خبر] هم نه وي. (الزهد لابی داؤد ص٢٠٥ حدِیث ٢٢٩)

(۳) حضرت سَیِّدُنا فُضَیل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: کوم بنده چه په یواځې ځائ کښې د **الله تعالٰی** نافرماني کوي **الله تعالٰی** د مومنانو په زړونو کښې د هغه د پاره خپله ناراضګي داسې واچوي چه هغه ته د هغې شُعُور [یعني خبر] هم نه وي.

(٤) امام محمد بِن سِیرین رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه چه قرضدار شو او د قرض په وجه سخت غمګین شو نو وئې فرمائیل: زه د دې خپل غم سَبَب څلویښت کاله مخکښې شوي یوه ګناه ګنړم. (حلیة الاولیاء ج۲ ص۳۰۷ رقم ۳۲۳٤)

(٥) حضرت سَیِّدُنا سُلَیمان تَیمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: اِنسان چه په پټه یوه ګناه کوي نو د هغې په وجه هغه په ذِلَّت کښې اخته کړې شي. (کتاب التوبة مع موسوعة ابن ابی الدنیا ج ۳ ص٤٢٤ رقم ۹٥)

(٦) حضرت سَیِّدُنا یحیٰی بِن مُعاذ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: زه د هغه عقلمند په باره کښې حیران یم څوك چه په خپله دُعا کښې دا وائي: **یا الله** عَزَّوَجَلَّ ما په مُصیبت کښې په اَخته کولو زما دُښمنان مه خوشحالوه، حالانکه په خپل مصیبت باندې د دُښمن د خوشحالولو سببونه هغه پخپله پیدا کوي! د هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه تپوس وکړې شو، دا څنګه؟ په جواب کښې ئې وفرمائیل: هغه د **الله تعالٰی** نافرماني کوي او په دې وجه به د قیامت په ورځ هغه خپل دُښمنان خوشحاله کړي. (اَلزَّوَاجِر عَنِ اقْتِرافِ الکبائر ج۱ ص۲۹، ۳۰)

یہاں بھی دے عزّت وہاں بھی دے عزّت الٰہی! بِپَے مصطَفٰے جانِ رَحمت

دلته عِزَّت راکړې هلته عِزَّت راکړې اِلٰهي! په خاطِر د مُصطفٰی جانِ رحمت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د انسانیت د ټولو نه لوئ خدمت کوم یو دې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! خلقو ته د **نیکئ دعوت** ورکول او د ګناهونو نه بچ کول هم یقیناً ډیر فائِده مند کار دې، د بیمارئ، بې روزګارئ او قرض دارئ وغیره پریشانو په موقع باندې د خوږ

آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مصیبت وهلو اُمَّتیانو مدد کول هم بیشکه نیکـي ده او په دې کښې د جَنَّت حقداري ده **خو د اِنسانِیَّت د ټولو نه لوئ خدمت دا دې چه د جَهَنَّم نه د هغه د ساتلو کوشش وکړې شي،** دا انسان ته رسیدو والا د ټولو نه غټه فائِده ده. نقل کړې شوي دي: دوه خَصلتونه داسې دي چه د هغې نه بل یو افضل خَصلت نشته (۱) په **الله** تعالٰی ایمان راوړل (۲) مسلمانانو ته فائده رَسَول او دوه خصلتونه داسې دي چه د هغې نه زیات بد خصلت نشته (۱) د **الله** تعالٰی سره څوك شریك جوړول (۲) مسلمانانو ته تکلیف ورکول. (المُنبهات ص۳)

کروں یا خدا مومنوں کی میں خدمت نہ پہنچے کسی کو بھی مجھ سے اَذِیَّت

چه وکړم د مومنانو خدمت یا خُدا چه ونه رسي یو ته هم تکلیف له ما

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ټولې دُنیا نه غوره

حُضُور تاجدارِ مَدِینَه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت **عَلِیُّ المُرتضٰی** شیرِ خدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْہَہُ الْکَرِیْم ته ارشاد اُوفرمائیلو: اے علـي! که **الله** تعالٰی ستا په ذریعه یو کس په سمه لار روان کړي نو دا ستا د پاره د هغه ټولو څیزونو نه غوره ده په کومو چه نمر راخیژي.(یعني د دُنیا د ټولو څیزونو نه غوره ده) (اَلْمُعجَمُ الْکَبِیر للطبرانی ج۱ ص۳۳۲ حدیث۹۹٤)

د سرو اوښانو نه غوره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **نیکئ دعوت** ډیر زیت عام کړئ، که ستاسو د **نیکئ** په **دعوت** یو کس هم د عشقِ رسول جام وڅښي، د هِدایت په لار روان شي، هغه ته د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول نصیب شي، د سُنَّتو په لار روان شي، د لـمونځونو خوند واخلي، خپل ځان په نیکو بندګانو کښې شامل کړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی ستاسو به هم بیړئ پوریوَځي. په یو بل روایت کښې

www.dawateislami.net

دي: د **الله تعالیٰ محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: که **الله تعالیٰ** ستا په ذریعه یو کس ته هدایت ورکړي نو دا ستا د پاره د دې نه غوره ده چه ستا سره **سره اوښان** وي. (صحیح مُسلِم ص ۱۳۱۱ حدیث ۲٤۰٦)

د سرو اوښانو نه څه مُراد دي؟

حضرت علامه یحیٰی بِن شرف نَوَوي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ نَبَوي په شرح کښې لیکي: **سور اوښ** به د عربو ډیره قیمتي سرمایه ګنړلې شوه. ځکه د مثال په طور د سرو اوښانو ذِکر شوې دې. د آخِرت د اُمورو د دُنیاوي څیزونو سره تشبیه (یعني مثال) ورکول صرف د پوهه کولو د پاره دي، ګنې حقیقت هم دا دې چه د همیشه پاتې کیدونکي آخِرَت (د نِعمَت) یوه زره هم د دې دُنیا او د دې په شان څومره دُنیاګانې چه تَصَوُّر کیدې شي، د هغه ټولو نه غوره دي. (شرح مُسلِم لِلنوَوی ج ۱۵ ص ۱۷۸)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك نه لاندې فرمائي: یعني یو کافر مُسلمانول، د دُنیا د لوئ (نه لوئ) دولت نه هم غوره کار دې بلکه د کافر د قتل کولو نه غوره دا ده چه هغه ته رَغبَت ورکړې شي او هغه مسلمان کړې شي. که (الله ته منظوره وه نو) په دې وجه به د هغه (را روان) ټول نَسل مُسلمان وي. (مِراٰۃ المناجیح ج ۸ ص ٤۱٦)

مُبلّغ بنوں کاش! میں سُنّتوں کا
سَدا دین کی خدمت کروں یہ دُعا ہے (وسائلِ بخشش ص ۳۲۲)

کاش! چه جوړ شم مُبَلِّغ د سُنَّتونو همیش کړم د دِین خدمت دا مې دُعا ده

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دولسو میاشتو په مَدَني قافله کښې د سفر د نِیَّت په برکت کینسر ختم شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د نیکئ د دعوت جذبه موندلو، په سُنتو د عمل کولو، د نیکو د ثواب ګټلو، په زړه کښې د عِشقِ رَسُول شمع بَلَوَلو د پاره د تبلیغِ قرآن و سُنَّت عالـمګیر غیرِ سیاسي تـحریك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وَخت خپل تړون مضبوط ساتئ، د خپل اِیمان د حفاظَت د پاره غمژن اوسئ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتُو عمل کوئ، د **مَدَني**

www.dawateislami.net

اِنعاماتو مُطابِق ژوند تیروئ او په دې باندې د اِستِقامَت حاصلولو د پاره هره ورځ د "**فکرِ مَدینه**" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولنې تاریخ ئې د خپلې علاقې د دعوتِ اسلامي ذِمَّه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد "**ماته دَ خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د سُنَّتو د تربیت په **مَدَني قافِله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واورُوم، د مَرکزُ الاولیاء (لاهور) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې: چه تقریباً د درې کالو نه زما والِده صاحبه د **کینسر** په مَرض کښې اخته وه، دوه دوه میاشتې پس به د هغې ټیسټونه کیدل. د والِده صاحبې ورځ په ورځ د زیاتیدو والا مرض پریشاني او هره ورځ ډاکټرانو ته د تلَلو د چکرو پریشاني ما نوره نه شوه برداشت کولې. په دې کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك (۱٤۳۰ھ) میاشت راغله او ما د عاشقانِ رسول سره د [پوره میاشت د] اِعتِکاف کولو سعادت حاصِل کړو، هلته ما د خپلې مور د پاره ډیره دُعا وکړه او د مَدَني ماحول په برکت ما د عاشقانِ رسول سره د دولسو میاشتو په مَدَني قافله کښې د سفر کولو نِیَّت وکړو. په ۲۱ رَمَضَانُ الْمُبَارَك د والِده صاحبه ټیسټونه وشو، دوه ورځې پس چه کله رپورټونه راغلل او ما وکتل نو بیحده خوشحاله شوم ځکه چه رپورټونه بالکل صفا وو، او د درې کالو نه چه د کینسر په کوم مرض کښې زما والده صاحِبه اخته وه هغه اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما نیك ګمان دې چه د دولسو میاشتو په مَدَني قافله کښې د سفر کولو د نِیَّت په بَرَکت ختم شو.

کینسر او د بیمارئ د پاره مَدَني نُسخه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! کینسر چه د ډاکټرانو په نِزد لاعلاجه مرض ګڼړلې کیږي. د اللهتعالیٰ په رَحمَت د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د هغې علاج وشو. راځئ! چه د کینسر، شوګر، T.B، زړه او د ګُردو د مرضونو بلکه د هر مرض د علاج د پاره یوه **مَدَني نسخه** واورو. د حضرت سَیِّدُنا وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په کتاب کښې دي په چا چه جادو شوې وي

www.dawateislami.net

هغه کس دِ د بیرې ووه پانړې راواخلي او د دوو کانړو په مینځ کښې (یعني په یو کانړي دِ ئې کیږدي او په بل) دِ ئې اوټکوي، بیا دِ هغه په اوبو کښې واچوي او په آیَةُ الْکُرْسِیْ او څلور قُل (یعني قُل والا څلورو سورتونو) دِ ئې دَم کړي، بیا دِ د هغه اوبو نه درې ګوټه وڅښي او په باقي اوبو دِ غُسل وکړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغه نه به بیماري لرې شي. دا عمل د هغه کس د پاره (هم) ډیر زیات فائده مند دې څوك چه (د جادو په ذریعه) د خپلې ښځې نه منع کړې شوې وي. (جامع معمر بن راشد مع مُصَنِّف عَبدُالرزاق ج ۱۰ ص ۷۷ رقم ۱۹۹۳۳)

قسمت میں لاکھ پیچ ہوں سو بل ہزار کج
یہ ساری گتھی اِک تِری سیدھی نظر کی ہے (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: په دې شعر کښې زما آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یا رَسولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زمونږ په قِسمَت کښې که هر څومره پریشانئ او مصیبتونه لیکلې شوي وي، یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بس تاسو د مهربانئ او کرم یو نظر اُوفرمائې. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د تقدیر ټولې غوټې به خلاصې شي او مشکِلات به حل شي.

تاجِ شاہی کا میں نہیں طالِب
کر دو رحمت کی اِک نظر آقا (وسائلِ بخشش ص۳۵۰)

نه یم طالب د بادشاهئ د تاج وکړئ د رحمت یو نظر آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ګناهونو شپږ علاجونه

زمونږ بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِیْن به د "نیکۍ د دعوت" ورکولو ډیر ښکلې انداز لرلو چنانچه د حضرت سَیِّدُنا اِبراهیم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خِدمَت کښې یو کس حاضر شو او عرض ئې وکړو: یا سَیِّدي! زما نه ډیر ګناهونه کیږي، تاسو مهرباني وکړئ! او د ګناهونو عِلاج راته وښائې. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ورته اولنې نصیحت دا اُوفرمائیلو: چه کله د ګناه پخه اراده وکړې نو د الله تعالیٰ

www.dawateislami.net

رِزق خوړل پریږده. هغه کس په حیرانتیا سره عرض وکړو: حضرت! دا تاسو څنګه نصیحت کوئ! دا چرې کیدې شي؟ حالانکه رزّاق جَلَّ جَلالُہٗ هم هغه دې، زه چه د هغه رزق خوړل پریږدم نو د چا رِزق به خورم؟ وئې فرمائیل: اُوګوره، څومره بَده خبره ده چه د کوم پروردَګار جَلَّ جَلالُہٗ رِزق خورې د هغه نافرماني هم کوې! بیا ئې ورته **دویم نصیحت** اُوفرمائیلو: چه کله هم د ګناه اراده وکړې نو د **الله** تعالیٰ د مُلك نه بَهر اُوځه. عرض ئې وکړو: حضرت! دا هم نه شي کیدې! مشرِق، مَغرِب، شمال، جنوب، ښي طرف ته، ګڅ طرف ته، لاندې، بَره، غرض دا چه کوم ځائ ته ځم ټول د **الله** تعالیٰ مُلك دې، د **الله**تعالیٰ د مُلك نه بَهر څنګه لاړ شم! وئې فرمائیل: ګوره! څومره بده خبره ده چه د **الله** تعالیٰ په مُلك کښې هم اوسیږې او د هغه نافرماني هم کوې. **دریم نصیحت** ئې ورته دا اُوفرمائیلو: چه کله پخه اِراده وکړې چه بس اوس ضرور ګناه کووم نو خپل ځان دومره پټ کړه چه **الله**تعالیٰ دِ نه ویني. عرض ئې وکړو: صاحِبه! دا چرې کیدې شي چه **الله** تعالیٰ ما نه وِیني، هغه خو د زړونو په حالاتو هم خبردار دې. وئې فرمائیل: اُوګوره، څومره بَده خبره ده چه ته **الله** تعالیٰ سَمِیع و بَصِیر (یعني اوریدونکې او لیدونکې) هم منې او دا هم په یقین سره وائې چه **الله** تعالیٰ ما هر وخت **ویني** او بیا هم ګناهونه کوې. **څلورم نصیحت** ئې ورته دا اُوفرمائیلو: کله چه **مَلَکُ الْمَوت** سَیِّدُنا عِزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام ستا د رُوح ویستلو د پاره تشریف راوړي نو هغوئ ته وایه چه لږ مُهلَت راکړئ چه زه توبه اوباسَم . عرض ئې وکړو: حضرت! زه څه طاقت لرم او زما خبره به څوك اُومني؟ د مرګ وخت مُقَرَّر دې، ما ته به د یو ساعت مُهلَت هم رانکړې شي او زما نه به فوراً رُوح واخستې شي. وئې فرمائیل: چه تا ته دا معلومه ده چه زه بې اِختیاره یم او د توبه وِیستلو مُهلَت هم نه شم حاصلولې، نو في الحال درکړې شوي ساعتونه غَنِیمَت ولې نه ګنړې او دَ **مَلَکُ الْمَوت** عَلَیْہِ السَّلَام د راتلو نه مخکښې مخکښې توبه وَلې نه اُباسې، **پینځم نصیحت** ورته هغوئ رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دا اُوفرمائیلو: کله چه ته مړ شې او په قبر کښې درله **مُنکَر نَکِیر** تشریف راوړي نو هغوئ د قبر نه لرې کړه. عرض ئې وکړو: محترمه! دا تاسو څه وائې! زه هغوئ چرې لرې کولې شم! په ما کښې دومره طاقت نشته! هغوئ رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائیل: چه ته **نَکِیرَین** نه شې لرې کولې نو د

www.dawateislami.net

هغوئي د سوالونو د جوابونو تیارې د اوس نه وَلې نه کوې؟ **شپږم او اخیري نَصِیحَت** ئې ورته دا اُوفرمائیلو: که په آخرت کښې درته د جَهَنَّم حکم واورولې شي نو اووایه چه: زه نه ځم. عرض ئې وکړو: باباجي! هلته خو به ګنهګاران دوزخ ته په راښکلو غورزَوَلې کیږي. وئې فرمائیل: چه ته د **الله تعالیٰ** رزق هم نه شې پریښودې، د هغه د مُلك نه بَهَر هم نه شې وَتلې، د هغه نه پټیدې هم نه شې، **مُنکَر نَکیر** هم نه شې لري کولې او که د جَهَنَّم حکم درته واورَوَلې شي نو د هغې نه هم نه شې بچ کیدې نو بیا ګناه کول ولې نه پریږدې!هغه کس ته چه **سَیِّدُنا اِبراهیم بِن اَدهَم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه **د ګناهونو د علاج** دا شپږ د نصیحت خوشبوداره **مدني ګلونه** وړاندې کړل نو په هغه ډیر اثر وشو، ډیر زیات ئې وژړل او د خپلو ګناهونو نه ئې په رښتیني توبه وکړه او د مرګ د ساعته پورې په توبه باندې قائم پاتې شو. (مُلَخَّص از تذکِرۃُ الاولیاء ص ۱۰۰)

الله تعالیٰ وِیني

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په ذِکر کړې شوي حکایت کښې ښودلي شوي د ګناهونو شپږ علاجونه ډیر اثر لري، د ګناه اراده کولو په وخت کښې که دا یاد وساتلې شي نو د ګناهونو نه د بچ کیدو ډیر غټ سَبَب جوړیدې شي.یقیناً که صِرف دا خبره زمونږ په ذِهن کښې پخه پریوځي چه "**الله** [هر څه] **وِیني**" نو بنده به ګناه ته نزدې هم نه شي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې **مَکتَبَۃُ الْمَدِینه** چاپ شوي رسالې "*ګناهوں کا علاج*"صفحه ۱۲ نه ۱٤ کښې دي: واقعي که څوك دا اِحساس په خپل زړه کښې پیدا کړې چه د ګناه کولو په وخت کښې زما ساتونکې **پروردګار** جَلَّ جَلَالُهٗ **ما وِیني**، د دروغو وئیلو په وخت کښې که فوراً دا خیال وکړي چه زه په دروغو وئیلو بنده ته خو دوکه ورکووم او هغه عاجز به ما رِښتینې هم ګنړي خو **الله تعالیٰ ما وِیني**، آو بالکل، **الله تعالیٰ** ته د هر یو نِیَّت ښکاره دې. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اِدارې **مَکتَبَۃُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "**کنزُالاِیمان مَع خَزَائِنُ الْعِرفان**" صفحه ۸٦٦ څلور وِیشتمه سیپاره **سُوْرَۃُ الْمُؤمِن** آیت ۱۹ کښې دي:

یَعْلَمُ خَآىٕنَةَ الْاَعْیُنِ وَ مَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ ﴿۱۹﴾

(پ ۲٤، المؤمن: ۱۹)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: **الله** خبر دې په پټه په غلا لیدلو کتلو او څه چه پټ دي په سِینو کښې.

www.dawateislami.net

صَدرُ الافاضِل حضرت علّامه مَولانا سَیِّد **محمَّد** نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د دې آیت لاندې لیکي: یعني د سترګو خِیانَت او پټ پټ غیر **مَحرمو** ته کتل او په منع کړې شوي څیزونو نظر اچول د **الله** تعالیٰ په عِلم کښې دي.(خزائن العرفان ص٨٦٦) کاش چه دا خبره زمونږ په ذِهن کښې پخه پریوځي چه زما **ربّ** تعالیٰ سَمِیع و بَصیر دې او زما په خُله چه کومې کنزلې راځي **ربّ** تعالیٰ ئې اوري او **وِیني**، او کاش چه د بد نګاهئ [یعني بد نظرئ] کولو په وخت کښې زمونږ دا تَصَوُّر جوړ شي چه د چا سره زه بد نګاهي کووم اګرچه هغه ته نه دي معلوم خو **الله** تعالیٰ **ما وِیني** او هغه **الله** تعالیٰ ته زما نِیَّت ظاهِر او ښکاره دې. بعضې خلق اَمرَد (یعني ښکلي بې ګیري هلك) ته په غلط نظر ګوري او خپلې سترګې د حرامو نه ډکوي او اَمرَد او ناست خلق د هغې نه نه وي خبر بلکه هغوئ بد نظري کونکې کس نیك بنده ګنړي خو ربِّ کائنات جَلَّ جَلالُهٗ د زړونو د حال نه خبر دې.کاش! **اَمرَد** ته په غلط نِیَّت د کتلو په وخت کښې، په خراب نِیَّت د هغه سره د خپل وجود سُولَوَلو په وخت کښې، په ګنده سوچ هغه ته د خندلو په وخت کښې او د هغې په جواب کښې د هغه د مُسکـي کیدو نه د خوند اغِستلو په وخت کښې، د هغه سره د خوند اغستو د پاره د خبرو کولو په وخت کښې او د شَهوَت باوجود د هغه سره مخې ته یا شاته په موټر سائیکل یا په سائیکل کښیناستلو په وخت کښې دا اِحساس وشي چه زه څومره بې غیرته او ذلیله یم چه زما **الله** جَلَّ جَلالُهٗ **ما وِیني** او زه بیا هم د بې حیائې کار کووم، که صَبا د قیامَت په ورځ **الله** تعالیٰ زما نه تپوس وکړي نو زما سره به څه جواب وي؟ او زه به څنګه خپل ځان د هغه د قَهر او غضب نه بچ کړې شم؟ **یاد ساتئ!** د څاروو، ځناورو او د مرغو شرمګاهونو او د هغوئ"د یو ځائ کیدو" بلکه د مچانو او خزندګانو د یو ځائ کیدو نظارې هم د ګنده خوند اخستو د پاره کتل ناجائزه او ګناه ده، په داسې موقع باندې خپل نظر فوراً بل خوا اړول پکار دي بلکه چه څنګه داسې موقع پیښیدو والا وي فوراً د هغه ځائ نه لرې کیدل پکار دي. کوم خلق چه د څاروو، مرغو یا د چرګانو د اخستو او خرڅولو کاروبار کوي هغوئ ته په دې باره کښې د ډیر اِحتیاط کولو ضرورت دې.

www.dawateislami.net

خبردار بھائی! خدا دیکھتا ہے بھلائی بُرائی خدا دیکھتا ہے

خبردار وروره! خدائے وِیني نیکي او بَدي هر څه خدائے وِیني

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اَمرَد دَ فِتنې نه ځان ساتئ

په **اَمرَد** (یعني ښکلي بې ګیري هلك) کښې عام طور د سړي د پاره کشش وي، په دې کښې پخپله د اَمرَد هیڅ قُصور نه وي، په دې وجه د هغه زړه ازارَوَل ګناه ده، خو سړي له پکار دي چه د هغه نه ځان په اِحتیاط کښې ساتي. په دې وجه بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِیْن د اَمرَد نه د لرې اوسیدو تاکید کړې دې. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَکتَبَۃُ المَدینه** چاپ شوي د ۱۰۱۲ صفحو کتاب "**جَہَنَّم میں لے جانے والے اعمال**" (جلد۲) صفحه ۳۱ نه ۳۲ کښې دي: په دې وجه صالِحِینو د اَمرَدو (یعني کوم هلك ته په کتلو چه شهوت راځي هغوئي) ته د کتلو، د هغوئي سره د یو ځائ کیدلو او د هغوئي سره د ناستې ولاړې نه د بچ کیدو مُتَعَلِّق ډیر زیات تاکِید کړې دې.

د اَمرَد سره یواځي کیدل خطرناك دي

یو تابعي [بزرګ] فرمائي: "زه د یو ځلمي سالِك (یعني عبادت ګُزار اوزاهِد ځلمي) سره د بې ګیرې هلك ناسته د ووه سړې خورو ځناورو نه زیاته خطرناکه ګنړم." نور فرمائي: "هیڅ څوك دِ هم په یوه کوټه کښې د اَمرَد سره یواځې شپه نه کوي." بعضې عُلَمائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام امرد په زنانه باندې قیاس کړې دې او په کور، دُکان یا حَمَّام کښې ئې د اَمرَد سره خَلوَت (یعني یواځي کیدل) حرام ګرځولي دي ځکه چه د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیّین صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ حَقِیقَت نِشان دې: "څوك چه د یوې (غیر محرمه) زنانه سره یواځې وي نو هلته دریم شیطان وي." (سُنَنُ التِّرمِذِی ج۴ ص۶۷ حدیث ۲۱۷۲)

اَمرَد د زنانه نه هم زیات خطرناك دې

حَضرت سَیِّدُنا اِمام ابنِ حَجَر مَکِّی شافِعِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکي: کوم اَمرَد چه د زنانه نه زیات

www.dawateislami.net

ښکُلي وي په هغه کښې فِتنه هم زیاته وي، ځکه چه د هغه سره د زنانه په نسبت د بدکارۍ زیات اِمکان وي، لهٰذا د هغه سره یواځې کیدل بَدَرَجه اَولٰی [یعني د اوچتې درجې] حرام دي. (مُلَخَّص از اَلزَّواجِر عَنِ اقْتِرافِ الْکبائِر ج۲ ص۱۰)

اَمرَد سره ۱۷ شیطانان

حَضرَت سَیِّدُنا سُفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو حمام ته داخل شو. د هغوئ خوا ته یو اَمرَد یعني بې ګیرې هلك راغې نو ارشاد ئې اُوفرمائیلو: دا زما نه لري کړئ ځکه چه زه د هرې زنانه سره یو شیطان او د هر اَمرَد سره **۱۷ شیطانان** وِینم. (ایضاً)

د اَمرَد سره تنهائي د جائز کیدو صورت

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو په کتاب "***بهارِ شریعت***" (جلد۳) صفحه ٤٤٢ کښې دي: هَلَك چه کله مُراهِق (یعني بالِغ کیدو ته نزدې) شي او ښکلې نه وي نو هغه ته د کتلو په باره کښې هم هغه حکم دې کوم حکم چه سړي ته د کتلو دې او که ښکلې وي نو د زنانه د کتلو چه کوم حکم دې هغه د هغه د پاره هم دې یعني په شَهوَت سره هغه ته کتل حرام دي او که شَهوَت نه وي نو هغه ته هم کتلې شي او د هغه سره تنهائي [یعني یواځې کیدل] هم جائز دي. د شَهوَت نه کیدو مطلب دا دې چه د هغه دا یقین وي چه په کتلو به شَهوَت نه راپیدا کیږي او که د دې شك هم وي نو بیا دِ ورته بالکل نه ګوري، د ښکُلَوَلو خواهش پیدا کیدل هم په شَهوَت کښې داخل دي. (رَدُّ الْمُحتار ج۹ ص۶۰۲)

نفسیاتي اَثر

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که فکر وکړئ نو انسان د انسان نه ډیر یریږي. مَثلاً د مور او پلار یا د اُستاذانو په مخکښې کنزلې کولو نه یریږي، خو افسوس د **الله تعالٰی** نه کماحَقُّه (یعني څنګه چه د هغه حق دې هغه همره) نه یریږي،که چرې رُعب دار کس موجود وي نو د هغه نه دومره یَریږي چه د خُلې نه ئې آواز هم نه اُوځي، د هغه سره په عاجزۍ د خبرو کولو او اوریدلو کوشش کوي. اے

www.dawateislami.net

کاش! چه د **الله تعالٰی** ویره زمونږ په زړونو کښې پیدا شي، کاش! چه هر وخت راباندې د هغه د یَرې غلبه وي او څنګه چه مونږه د خلقو په مخکښې بد کارونه کول نه خوښوو دغسې په یواځې ځائ کښې هم د بدو کارونو نه ځان ساتو. اے کاش! په کروړونو کاش! چه زمونږ په ذِهن کښې هر وخت دا خبره پخه اُوسي چه **الله تعالٰی وِیني** او دغسې مونږ **د خپلو ګناهونو په علاج** کولو کښې کامیاب شو.

چُھپ کے لوگوں سے کئے جس کے گناہ وہ خبردار ہے کیا ہو نا ہے

ارے او مجرم بے پروا دیکھ

سر پہ تلوار ہے کیا ہونا ہے (حدائق بخشش)

شرح کلامِ رضا: اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې شعرونو کښې په یو مخصوص انداز کښې د نیکۍ دعوت ارشاد فرمائیلې دې چنانچه د دې شعرونو مفهوم دا دې: (۱) اے ګناه کونکیه! تا خو خپل ګناهونه د خلقو نه پټ کړل خو دا دِ هیر کړل چه د کوم الله تعالٰی نافرماني دِ کړي ده هغه ستا د دې کارنامو نه خبردار دې. اوس غور وکړه! په مَحشَر کښې به ستا څه حال وي! (۲) اے غافله او مُجرِمه! ستا په سر هر وخت د مرګ تُوره رازوړنده ده، د خدائے پاك نه وَیَریږه! ګناهونه کول پریږده، که چرې تا په بې پرواهۍ سره د ګناهونو نه ډك ژوند تیر کړو او مړ شوې نو ستا به څه کیږي!

زندگی کی شام ڈھلتی جارہی ہے ہائے نفس! گرم روز و شب گناہوں کا بس بازار ہے

مجرموں کے واسطے دوزخ بھی شعلہ بار ہے ہر گنہ قصداً کیا اسکا بھی اقرار ہے

بندۂ بدکار ہوں بے حد ذلیل و خوار ہوں

مغفرت فرما الٰہی! تو بڑا غفّار ہے

ژوند په ختمیدو دې اے غافِل نفسه! ته اخته ئې شپه او ورځ د ګناهونو په بازار

د دوزخ تورې لمبې دي د پاره د مجرم هره ګناه قَصداً شوي، هُم کووم د دې اِقرار

زه بنده یم ډیر بدکاره، یم ډیر زیات ذلیل و خوار

مغفرت مې وفرمائې اِلٰهی! ته ئې لوئ غفّار

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د نیکئ د دعوت پینځه مدني ګلونه

په یو اُوګد حدیث کښې دا هُم دي چه: حضرتِ سیِّدُنا ابُو ذر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ مُوسٰی عَلَیْہِ السَّلَام په صَحِیفو کښې څه وو؟ وئې فرمائیل: په هغه ټولو کښې د عِبرت خبرې وې ﴿۱﴾ **تَعَجُّب** [یعني حیرانتیا] ده په هٰغه کس چه هغه د مرګ د یقین ساتلو باوجود هُم خوشحالیږي ﴿۲﴾ **تَعَجُّب** [یعني حیرانتیا] ده په هغه چه د جهنَّم د یقین کیدو باجود هُم خاندي ﴿۳﴾ **تَعَجُّب** [یعني حیرانتیا] ده په هغه چه څوك په تقدیر د یقین ساتلو باوجود (د دُنیا د پاره) ځان ستړې کوي ﴿٤﴾ **تَعَجُّب** [یعني حیرانتیا] ده په هغه، څوك چه دُنیا او د دې بدلیدل وِیني، بیا هُم په دې مُطمئِن کیږي او ﴿٥﴾ **تَعَجُّب** [یعني حیرانتیا] ده په هغه، څوك چه یقین لري چه صبا به هغه حساب ورکوي، بیا هُم (نیك) اعمال نه کوي. (اَلاحسان بترتیب صحیح اِبنِ حِبَّان ج۱ ص۲۸۸ حدیث ۳٦۲)

په لار کښې د ناستې حَقونه

په "**بُخاري** شریف" کښې دي، د حضرت سَیِّدُنا ابو سعید خُدري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (صحابۂکرامو ته) ارشاد اُوفرمائیلو: تاسو په لارو کښې د کښیناستو نه ځان ساتئ! **صحابۂکرام** عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: مونږ په دې مجلسونو کښې ناست (ضروري) خبرې کوو، او دا زمونږ د پاره ضروري دي. وئې فرمائیل: کله چه تاسو مجلسونو ته ځئ نو لارې ته د هغې حق ورکړئ. عرض وکړې شو: د لارې حق څه دې؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: (۱) سترګې ښکته ساتل (۲) تکلیف ورکونکې څیز لرې کول(۳) د سلام جواب ورکول (٤) د **نیکئ حکم کول او د بَدئ نه منع کول.** (صحیح بُخاری ج٤ ص١٦٥ حدیث٦٢٢٩)

د آخوا دیخوا کتلو به هم په آخِرت کښې حساب وي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې حدیثِ پاك کښې د لارې څلور حَقونه بیان کړې شوي دي:

د لارې حق(۱) نظر ښکته ساتل

واقعي د دې بیحده اهمیت دې. لهٰذا د آخِرت د ثواب حاصلولو په نِیَّت د سترګو [یعني د کتلو] مُتَعلِّق د **نیکۍ دعوت** پیش کووم. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: سترګه دِ د هر فضول خبرې (یعني چه د هغې ضرورت نه وي د هغې) نه ساتي، ځکه چه څنګه به **الله تعالٰی** د "فضولو خبرو" په باره کښې تپوس کوي هم دغسې به د قیامت په ورځ د بنده نه د "فضول نظر" (مثلاً بې ضرورته د اخوا دیخوا کتلو) په باره کښې هم تپوس کوي. (اِحیاءُ الْعُلُوم ج۵ ص۱۲۶) **غیرمَحرم** (یعني د چا سره چه نکاح کول د همیشه دپاره حرام نه وي هغې ته) د کتلو نه ځان ساتل ضروري دي. حدیث شریف کښې دي: "اَلْعَیْنَانِ تَزْنِیَانِ" یعني سترګې [هم] زِنا کوي. (مُسنَدِ امام احمد ج۳ ص۳۰۵ ص۸۸۵۲)

چه څوك په لاره هر طرف ته سترګې اَړوي را اَړوي نو د هغه د بدنګاهۍ [د بدو کتلو] نه بچ کیدل ډیر مشکل دي. قسم په خُدائے د **بدنګاهۍ عذاب** به څوك هم برداشت نه کړې شي.

د سترګو د حفاظت قرآني حُکم

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۳۹۷ صفحو کتاب "*پردے کے بارے میں سوال جواب*" نه یو څو مندرجات واورئ: **الله تعالٰی** نارینو ته د سترګو د حفاظت حکم ورکوي چنانچه په سیپاره ۱۸ سُوْرَةُ النُّوْر آیت ۳۰ کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

(پ ۱۸، النور:۳۰)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: مُسلمانانو نارینو ته حکم ورکړه چه خپلې سترګې څه ښکته ساتي.

د زنانو د پاره د قرآنِ پاك ارشاد دې:

وَ قُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ یَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

(پ۱۸، النور:۳۱)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: مُسلمانو زنانو ته حکم ورکړه چه خپلې سترګې لږې ښکته ساتي.

سترګې به د اور نه ډکې کړې شي

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: څوك چه خپلې سترګې حرامو ته په کتلو ډکې کړي د قِیامَت په ورځ به د هغه **سترګې د اور نه ډکې کړې شي**۔ (مُکاشَفَةُ القُلوب ص۱۰)

د اور سلائي

حضرت علامه **ابو الفَرَج عَبدُالرَّحمٰن بن جوزي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: د زنانه مَحاسِن (یعني حُسن او ښکُلا) ته کتل د اِبلیس په زَهرو کښې سوړ کړې [یعني د زهرو اوبه ورکړې] شوو غشو نه یو غشې دې، چا چه د نامحرمو نه د سترګې حفاظت او نکړو د هغه په سترګه کښې به په ورځ د قیامت د **اور سلائي** وهلې شي. (بَحرُ الدُّموع ص۱۷۱)

د "زینب" د څلورو حروفو په نِسبَت د نظر په باره کښې څلور احادیثِ مبارَکه

نظر واړوه

(۱) حضرت سَیِّدُنا جَریر بن عَبدُ الله رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ روایت فرمائي: ما د **سرکارِ دوعالَم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ناڅاپه نظر پریوتو مُتَعَلِّق تپوس وکړو: ارشاد ئې اُوفرمائیلو: خپلې سترګې واړوه. (صحیح مُسلِم ص۱۱۹۰ حدیث ۲۱۵۹)

قَصداً مه ګوره

(۲) سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عَلِیُّ الْمُرتَضٰی شیرِخدا کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم ته اُوفرمائیل: د یو **نظر** نه پس دویم **نظر** مه کوه (یعني که چرې ناڅاپه بې اِراده په یوه زنانه نظر پریوځي نو فوراً ترې سترګې واړوه او بیا ورته مه ګوره) ځکه چه وړومبې **نظر** جائز دې او دویم **نظر** جائز نه دې. (سنن ابی داؤد ج۲ ص۳۵۸ حدیث ۲۱۴۹)

دَ نظر دَ حِفاظت فَضِیلَت

(۳) د تاجدارِ مَدِینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ فرحَت نِشان دې:کوم مسلمان چه د یوې زنانه خوبیانو [یعني د بدن ښائِست او ڈَوَل سِنګار] ته په وړومبې ځل نظر وکړي (یعني په بې خیالئ کښې ئې پرې نظر پریوځي) بیا خپلې سترګې ښکته کړي. **الله** تعالٰی به هغه ته داسې عِبادَت عطا کړي چه هغه به د هغې [عِبادت] خوند اومومي. (مسند امام احمد بن حنبل ج۸ ص ۲۹۹ حدیث۲۲۳٤۱)

د ابلیس زَهرژن غَشې

(٤) دَ **الله** تعالٰی **محبوب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چه حدیثِ قُدسي (یعني د الله تعالٰی فرمان) دې: **نظر** د ابلیس په زَهرو کښې سوړ کړې[یعني د زهرو اوبه ورکړې] شوو غشو نه یو غشې دې. پس کوم کس چه زما د یرې نه دا پریږدي نو زه به هغه ته داسې اِیمان عطا کړم چه د هغې حَلاوَت [یعني خوږ والې] به هغه په خپل زړه کښې محسوس کړي. (اَلْمُعجَمُ الکبیر للطبرانی ج۱۰ ص ۱۷۳ حدیث۱۰۳٦۲)

د زنانه څادر ته هم مه ګورئ

حضرت سَیِّدُنا علاء بن زِیاد رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: خپل نظر د زنانه په څادر هم مه اچوئ ځکه چه نظر په زړه کښې شهوت پیدا کوي. (حِلیۃُ الاولیاء ج۲ ص ۲۷۷)

د خبرو په وخت کښې کوم ځائ ته کتل پکار دي؟

سوال: آیا په خبرو کولو کښې نظر ښکته ساتل ضروري دې؟

جواب: د دې صورتونه دي مَثَلاً دَ نارینه مُخاطَب (یعني د چا سره چه خبرې کوي هغه) **اَمرَد** وي او هغه ته په کتلو کښې شَهوَت راځي (یا که د شریعت په اِجازتِ نارینه د یوې غیر محرمې زنانه سره یا زنانه د غیرمَحرَم نارینه سره خبرې کوي)نودخبرو کولو په وخت کښې دِ نظرداسې ښکته ساتي چه د یو بل په مخ بلکه د بدن په یو اندام تر دې چه د یو بل په جامو [کپړو] باندې ئې هم نظر نه پریوځي. که

څه **مُمَانَعَت** نه وي نو د خبرو کولو په وخت کښې د **مُخاطَب** (یعني د چا سره چه خبرې کوي د هغه) مخ ته په کتلو کښې شرعاً څه باك نشته. که د نظر د حفاظت د عادت جوړَولو په نِیَّت د هر چا سره د خبرو کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړي نو ډیره ښه خبره ده ځکه چه مُشاهَده هم دا ده چه په دې زمانه کښې د چا د خبرو کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو عادت نه وي او هغه ته کله د اَمرَد یا غیر محرمې زنانه سره د خبرو کولو ضرورت پیښ شي نو بیا په هغه موقع د هغه د پاره خپلې سترګې ښکته ساتل ډیر مشکل وي.

دَ مَدَني چینل نه په مُتَاَثِّره کیدو د دولسو کسانو قبولِ اسلام[1]

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سترګو ښکته ساتلو برکتونه مرحبا! راځئ چه په دې باره کښې یو عجیبه **مَدَني سپرلې** واورو چنانچه دَ بابُ المَدینه (کراچئ) د یو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي د بیان خلاصه ده چه په مَدِینه منَوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعْظِیْمًا کښې دَ **جُمُعې** مبارکې په ورځ (۲ جَمادَی الأُخریٰ ۱٤۳۲ھ بمطابق ٦مئی۲۰۱۱ء) تقریباً څلور بجې د شنې عِمامې والا یو ځلمي سره زما مُلاقات وشو د خبرو اَترو په وخت کښې هغه دا خبره ښکاره کړه :چه زه د بمبئ (هِند) اُوسیدونکې یم، سره زما زمونږ د کور ټولو یعني دولسو کسانو (د جُمعې مبارَکې په ورځ ۵ ذوالحِجّةِ الحرام ۱٤۳۱ھ بمطابِق2010-11-12) اسلام قبول کړو. د اسلام د قبلولو وجه هغوئ داسې بیان کړه چه: زمونږ د کور خلقو د څه مودې نه د دعوتِ اسلامي **مَدَني چینل** کتل شروع کړي وو. د دې په سِلسلو [یعني پروګرامونو] کښې د مسلمانانو اسلامي لِباس، د هغوئ مُسکي او روښانه مخونو او د بیان سادګۍ به مونږ ته ډیر خوند راکولو. حالانکه د دې نه مخکښې مونږ د بې عمله مُسلمانانو د حرکتونو په وجه د مسلمانانو نه ډیر نفرت کولو خو اوس هم چه په **مَدَني چینل** د اسلام حقیقي تصویر ولیدو نو مونږ د اسلام نه مُتَاَثِّره کیدل شروع شو. خاص طور د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغینو د نظر ښکته ساتلو بیا بیا ترغیب ورکولو نه مونږ ډیر مُتاثِره شو او د **سترګو د قُفلِ مَدینه** د فائدو ذِکر به مو چه واوریدو

[1] دا مَدَني سپرلې په "پردے کے بارے میں سوال وجواب" کښې نشته، جُدا شامِل کړې شوې دې.

www.dawateislami.net

نو ډیر به خوشحاله شو، زما والِده به ټولو ته وئیل: د بدعَمَلۍ په دې دور کښې هم دا خلق د نظر ښکته ساتلو درس ورکوي، واقعي نظر ښکته ساتل پکار دي. د مَدَني چینل د سلسلو په کتلو کتلو زمونږ په زړه کښې د اِسلام محبَّت دومره زیات شو چه په کور کښې د اِسلام قبلَوَلو خبرې شروع شوې خو مونږ یَریدو چه **خلق به څه وائي؟** د دې سوال جواب هم مونږ ته مَدَني چینل راکړو، هغه داسې چه نِګرانِ شورٰی و مُبَلِّغِ دَعوتِ اسلامي حاجي ابو حامِد محمّد عِمران عطاري سَلَّمَهُ الْبَارِی چه کله د "*لوگ کیا کہیں گے؟*" [یعني **خلق به څه وائي؟**] په موضوع د سُنَّتو ډك بیان اُوفرمائیلو نو د ټول کور والؤ ذِهن جوړ شو چه اوس مونږ له د خلقو پرواه کول نه دي پکار او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږ کلِمَه اُووئیله او په اسلام کښې داخِل شو. زه سرکاري نوکر یَم، د اِسلام قَبلَوَلو نه پس زما نوم محمّد اِبراهیم کیښودې شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د حضورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سلسله کښې مُرید شوې هُم یم. د مُبَلِّغِ دَعوتِ اسلامي نور بیان دې چه کله هغه نوې مسلمان ځلمې زمونږ سره د سرکارِ مَدِینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مزارِ پُراَنوار ته حاضر شو نو د هغه زړه نرم شو او په ژړا ژړا ئې بیا بیا دا عرض کول شروع کړل: "**یا رسولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته د سترګو قُفلِ مدینه عطا کړئ." بیا هغوئي د شین ګنبد د یخ سوري نه لاندې خپله دا پخه اراده ښکاره کړه چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی اوس به زه نور غیر مُسلِمَه هم په اِسلام کښې د داخِلَوَلو پوره پوره کوشش کووم. **الله تعالٰی** دِ هغوئي ته او د هغوئي په خاطِر مونږ ټولو ته په اسلام باندې او د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت رانصیب کړي. د دولسو کسانو د اسلام د قبلَوَلو سَبَب جوړیدو والا د سُنَّتو ډك بیان "*لوگ کیا کہیں گے؟*" وي. سي. ډي د مکتبةُ الْمَدینه نه حاصلیدې شي او د دعوتِ اسلامي په ویب سائټ www.dawateislami.net باندې هم کتلې او اوریدلې شي.

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں اے دعوتِ اسلامی تیری دھوم مچی ہو

الله دِ کرم وکړي په تا داسې په جهان کښې اے دعوتِ اسلامي چه ته خور شي په هر ځائ

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نظرِ مُصطفٰی اداګانې

سوال: د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر فرمائیلو [یعني د کتلو] **مختلِفې** طریقې بیان کړئ؟

جواب: (۱) د چا مخ ته به ئې [مسلسل] نه کتلو (۲) د څه څیز طرف ته د نه کتلو په حالت کښې به ئې خپل نظر ښکته ساتلو (۳) د هغوئ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظر به د آسمان په نِسبَت زیات زمکې طرف ته وو. مطلب دا دې چه د خاموشئ په وخت کښې به ئې اکثر مبارَك نظر ښکته ساتلو (٤) اکثر به ئې د سترګو په ګوټ کښې کتل. مَطلَب دا دې چه د ډیر زیات شرم و حیا په وجه به ئې په پوره سترګه [یعني نیغ] نه کتل. (۵) چه کله به د چا طرف ته مُتوجِّه کیدلو نو پوره به مُتَوَجِّه کیدلو، یعني بې توجُّهي به ئې نه کوله او ځینو دا فرمائیلي دي چه صرف په مخ مبارك راړولو به چا ته نه مُتَوَجِّه کیدلو بلکه په پوره بدن مبارك راتاویدو به مُتَوَجِّه کیدو.

(مُلَخَّص از جَمعُ الوسائل فی شرح الشمائل للقاري ص۵۲، ۵۳. اِحیاء العلوم ج۲ ص ٤٤٢)

جس طرف اُٹھ گئی دم میں دم آ گیا
اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا[1]: زما آقا اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې شعر کښې فرمائي: زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظرِ کرم چه په دُنیا او آخِرت کښې په کوم ځائ پریوځي هلته په مړو وجودونو کښې ساه او په روحونو کښې تازګي پیدا شي، زمونږ د مَکِّي مَدَنی آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحمتونو او عِنایتونو نه ډك پاك نظر باندې په لکونو سلام. د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې شعر حضرت مَولانا اختر الحامِدی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ څه ښکلې تضمین تړلې دې.

پڑ گئی جس پہ محشر میں بخشا گیا دیکھا جس سَمت ابرِ کرم چھا گیا
رُخ جدھر ہو گیا زندگی پا گیا جس طرف اُٹھ گئی دم میں دم آ گیا
اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام

[1] شرح کلامِ رضا په "پردے کے بارے میں سوال جواب" کښې شامِل نه دې، دا جُدا شامل کړې شوې دې.

www.dawateislami.net

یعني زمونږ د مَکّـی مَدَنـی آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك نظر چه په مَحشَر کښې په چا پریوځي هغه به اُوبخښلې شي، او چه کوم طرف ته ئې وکتل هلته د رحمتونو وریځې راغلې، چه مبارك مخ ئې کوم طرف ته شو، هغه طرف ته هر څیز کښې ژوند پیدا شو، چه کوم طرف ته ئې نظر اُوفرمائیلو هلته په ژوند کښې نور ژوند راپیدا شو. په هغه برکتي مبارکو سترګو دِ ډیر ډیر سلام وي.

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

وِیلي شوي سِیکه به په سترګو کښې اچولې کیږي

نقل کړې شوي دې: "**څوك چه په شَهوت سره د یوې نامحرمې زنانه ښائست او ښکُلا ته اُوګوري د قِیامت په ورځ به د هغه په سترګو کښې وِیلي کړې شوي سیکه اچولې کیږي.**" (هدایه ج۲ص۳٦۸) یقیناً ورندار هم نامحرمه ده. تر اوسه چه کوم لیور خپلې ورندار ته قصداً کتلي وي، آزادي ئې ورسره ساتلې وي، ټوقې ټقالې ئې ورسره کړي وي، هغوئ دِ د اللّٰه تعالٰی د عذاب نه وَیَریږي او فوراً دِ په رِښتیني توبه اوباسي. ورندار که کشر لیور ته کشر ورور او مشر لیور ته مَشَر ورور وائي نو په دې وجه بې پردګي او اَزادي نه جائز کیږي بلکه په دې وجه لیور او ورندار د بدنظرئ او په خپل مینځ کښې د آزادئ او د ټوقو ټقالو وغیره ګناهونو په دَلدَل کښې نور هم خخیږي. **یاد ساتئ!** د لیور او ورندار په خپل مینځ کښې بې ضرورته او په اَزادئ خبرې کول ډیر زیات خطرناك دي! خیر ئې هم په دې کښې دې چه یو بل ته دِ نه ګوري او نه دِ د یو بل سره بې ضرورته خبرې کوي او نه دِ د آزادئ خبرې کوي.

دیکھنا ہے تو مدینہ دیکھئے قَصرِ شاہی کا نظارہ کچھ نہیں

که وِینئ نو مدینه اُووِینئ هیڅ څیز نه دې د شاهي محل نَظاره

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

زه د تې بِي مریض ووم

د **شَرم** و حیا جذبه موندلو د پاره، د بدنګاهئ د آفتونو نه خپل ځان د ویرولو او د نظر د حفاظت جذبه نوره زیاتولو د پاره او د خبرو کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلو د عادت جوړَوَلو د پاره د تبلیغ قرآن و سُنَّت عالمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي**د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، او خپل دا مَدَني مقصد چه **ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي** د حاصلولو د پاره او د خپل ایمان د حفاظت د پاره فکرمند اوسئ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتُو عمل کوئ، د مدني اِنعاماتو مطابق ژوند تیروئ، او په دې باندې د اِستِقَامَت موندلو د پاره هره ورځ د "**فِکرِ مدینه**" په ذریعه د مَدَني انعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذمه دار ته جمع کوئ او په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د سُنَّتو د تربیت په مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروروم، د ضلع نَنکانَه (پنجاب پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان په خپل انداز کښې د پیش کولو کوشش کووم، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ (د دې بیان ورکولو په وخت کښې) زه تقریباً د دولسو کالو نه د تبلیغ قرآن و سُنَّت عالمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل یم. [په دعوتِ اسلامي کښې زما] د شاملیدو سبَب دا دې چه زه د سُنَّتو ډکې د درې ورځو بَینُ الاقوامي اجتماع (صحرائے مدینه، مَدینةُ الاولیاء مُلتان شریف) کښې حاضر شوې ووم. د اجتماع نه تقریباً ووه میاشتې پس زه سخت بیمار شوم، ډاکټرانو زما مرض **تې. بې** اوښودو. د بیمارئ په حالت کښې تقریباً څلور میاشتې تیرې شوې او یو ځل بیا د درې ورځو د سُنَّتو ډکې اجتماع سپرلې راغې. زه د تللو د پاره بې قراره ووم خو کور والؤ منع کولم. ما د خپلې مور ذِهن جوړ کړو چه هلته ګنړ شمیر **عاشقانِ رسول** تشریف راوړي. ما ته د تلو اِجازت راکړئ، د نیکو بندګانو صُحبت او هلته کیدونکي د **رِقَّت انګیزې دُعا** په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی زه د صحت نِعمَت راوړم. مور صاحبې اِجازت راکړو،دوایانې مې د ځان سره واغستې او په **اجتماع** کښې

www.dawateislami.net

شریك شوم. آخري **رِقّت انگیزه دُعا** ختمیدو والا وه. زما په زړه کښې ارمان پیدا شو چه دُعاګانې خو ډیرې وشوې خو زما د مرض **تې. بې** د پاره ښکاره (یعني په صفا صفا الفاظو کښې) دُعا ونه غوښتلې شوه. کاش! چه د **تې. بې** د مریضانو د پاره هم دُعا وشي، چه څنګه دا خبره زما په ذِهن کښې راغله نو کمال وشو! د دُعا کونکي څه داسې آواز په سپیکر کښې راغې: **یا الله** عَزَّوَجَلَّ چه څوك د کینسر مریضان دي، د **تې. بې** مریضان دي هغوئي ته هم شِفائے کامِله ورکړې. په دُعا کښې د یو دوو نورو بیمارو نومونه هم واغستې شو خو هغه زما نه هیر دي. خیر د **تې. بې** نه د شِفا دُعا د اوریدو سره ما په زړه کښې اُووئیل چه: "بس ته به اوس جوړ شې." د اجتماع نه د بیرته راتلو په دویمه ورځ د چیك اپ کولو د پاره د پنجاب ښار "شیخوپوره" ته لاړم، ایکسرې وغیره مې وکړه، سپیشلسټ ډاکټر چه ایکسرې وکتله نو حیران پاتې شو او وئیل ئې: مبارك شه ستا **تې. بې** ختم شوي دې!

اگر چِہ ہوئی بی، نہ گھبراؤ پھر بھی — شفا حق سے دلوائے گا مَدَنی ماحول
تمہیں صحّت و عافیّت ہو گی حاصل — تم اپنا کے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

که تې بې وي ستا، مه یریږه هُم بیا — در به کړي حق شِفا ته خپل کړه مدني ماحول
شي حاصل به تا ته صحت و عافیت — ته راشه خپل کړه، اُوګوره دا مدني ماحول

د بیمارئ عَظِیمُ الشَّان فَضیلت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیدل! د **الله تعالیٰ** په رَحمَت د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت کونکي اسلامي ورور د **تې. بې** بیماري ختمه شوه. مونږ د **الله تعالیٰ** نه د هغه جَلَّ جَلالُہٗ د عبادت د پاره د طاقت او د روغ صحت سوال کوو، خو بیا هم که چرې څه بیماري راشي نو هِمَّت مه بیلئ ، صبر کوئ او د بیمارئ په وجه د آخِرت په ثواب حاصلیدلو نظر ساتئ، چنانچه د حضرت سَیِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې، چه د دواړه جهانو تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کله چه مسلمان په څه بَدَني بیمارئ کښې اَخته شي نو فرښتې ته حکم وکړې شي: "ته د ده هم هغه نیکئ لیکه کومې چه ده مخکښې کولې." که چرې هغه ته شِفا ورکوي نو

www.dawateislami.net

وئې وِینځي [یعني ګناهونه ئې ختم کړي] او پاك ئې کړي او که هغه ته مرګ ورکوي نو وئې بخښي او رحم پرې وکړي. (شرح السنة لِلبَغوی ج۳ ص۱۸۷ حدیث ۱٤۲٤)

عارِضی آفتِ دنیا سے تو دل ڈرتا ہے ہائے بے خوف عذابوں سے ہوا جاتا ہے
یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر یہ مرض تیرے گناہوں کو مٹا جاتا ہے
اصل بربادکُن اَمراض گناہوں کے ہیں
بھائی! کیوں اِس کو فراموش کیا جاتا ہے (وسائلِ بخشش ص۱۲٦)

یعني (۱) د دُنیا د عارضي تکلیفونو نه خو مونږ یَرېږو خو افسوس د آخِرَت عذاب مو هیر کړې دې. (۲) دې بدني بیمارئ ته مه خفه کیږه، دا مرض خو ستا ګناهونه ختموي. (۳) اصل بربادوونکي مرضونه خو د ګناهونو مرضونه دي، اے وروره! هغه دِ ولې هیر کړي دي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

"دَ لارې حق نمبر (۲) تکلیف ورکوونکې څیز لرې کول"

د ازغي لرونکي خاخ لرې کولو والا بخښنه وشوه

د دې کتاب په صفحه نمبر ۲۹٦ او ۲۹۷ کښې ذِکر شوي د بُخاري شریف حدیثِ پاك "په لارو کښې د ناستې حقونه" کښې ذکر کړې شوې حق نمبر۱ "نظر ښکته ساتلو" مُتَعَلِّق د "**نیکۍ د دعوت**" په دَلو دَلو مَدَني ګلونه حاضر کړې شو، اوس هم په هغه رِوایت کښې بیان کړې شوې د **لارې حق نمبر (۲) "د تکلیف ورکونکې څیز لرې کولو"** په باره کښې د نیکۍ د دعوت یو څو مَدَني ګلونه وړاندې کیږي، واورئ: یقیناً د مسلمانانو د لارو نه د تکلیف ورکونکو څیزونو د لرې کولو ډیر فضلیت دې چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۷٤۳ صفحو کتاب "**جَنَّت میں لے جانے والے اعمال**" صفحه ٦۲۳ کښې فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: "یو کس په یوه لاره تیریدو، هغه په هغه لار کښې یو **ازغي لرونکې خاخ** ولیدو نو هغه ئې د

www.dawateislami.net

لارې نه لرې کړو، **الله** تعالیٰ ته د هغه دا عمل خوښ شو او د هغه بنده **بخښنه** ئې وکړه.“ (صحیح مسلم ص۱۰۶۰ حدیث۱۹۱٤)

سَبَقَتْ رَحْمَتِیْ عَلٰی غَضَبِیْ — تو نے جب سے سنا دیا یا رب
آسرا ہم گناہ گاروں کا — اور مضبوط ہوگیا یا رب

(ذوقِ نعت)

یعني یا **الله** عَزَّوَجَلَّ چه د کله نه تا مونږ ته سَبَقَتْ رَحْمَتِیْ عَلٰی غَضَبِیْ[1] را اَورَوَلي دي، د هغې نه پس زمونږ د ګنهګارانو له تا نه اُمّید نور هم زیات شو.

د لارې نه د تکلیف ورکونکي څیز د لرې کولو ثواب

د **حضرت** سَیِّدُنا اَبو درداء رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دي: چا چه د مسلمانانو د لارې نه تکلیف ورکونکې څیز لرې کړو نو د هغه د پاره به یوه نیکي لیکلې کیږي او د چا د پاره چه د **الله** تعالیٰ سره یوه نیکي ولیکلې شي نو **الله** تعالیٰ به د هغه نیکۍ په سبَب هغه جَنَّت ته داخل کړي. (المُعجَمُ الاوسط ج۱ ص۱۹ حدیث۳۲)

د لارې د تکلیف ورکونکو څیزونو ښودنه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که د مسلمانانو په لار کښې داسې کانړې، ګټه، وغیره وي چه په هغې تِیندَك [یعني ټوکر] خوړې شي یا ماتې شیشې پرَتې وي چه د هغې په وجه د چا ښپه زخمي کیدې شي، یا په سړك د کیلو پا **پاپیتو** یا د آم وغیره پوستکي چا غورزَوَلي وي چه په هغې د ښوئیدَلو په وجه اِنسان راپریوتې شي دا څیزونه او داسې نور څیزونه د **الله** تعالیٰ د رَضا په نِیَّت لرې کول د ثواب کار دي. هم دغسې که لاره لوَړه جوَړه وي یا د ګټر نه سر لرې شوې وي، که کیدې شي نو د هغې مُناسِب بندوبست کول پکار وي، خلاصې ګټرې خو دومره خطرناکې وي چه

[1] ترجمه: یعني زما رحمَت زما د غضب نه زیات دې.

www.dawateislami.net

کله کله ورته ماشومان وغیره غوزار شي او مړه شي،کوم ځائ چه د اوسپنې د سرونو د غلا کیدو خطره وي هلته د سیمنټو سرونه لګول مُناسِب دي. هر کس له پکار دي چه کوم څیزونه د نورو د پاره نقصاني وي مَثَلاً پوستکـي، ګندګي وغیره داسې څیزونه دِ په لارو کښې نه غورزَوِي. که چرې د خپل کور ګټر ډك شي او ګنده اوبه کوڅې ته را اُوځي یا د ګنده اوبو پائِپ مات شي نو داسې مسائِل فوراً حل کول پکار دي، او د کور جامې چه هم وِینځلې شي نو د وچولو د پاره په ګیلرئ کښې داسې نه دي خورَوَل پکار چه په لاره تیریدو والا خلقو باندې د هغې اوبه څاڅي. د چا د کور مخې ته داسې خزلې [کچره] غورزَوَل چه هغه ته ترې تکلیف رسي دا ګناه ده. د عوامو حقونه وهل مَثَلاً د اجتماعِ ذِکر و نَعت، چوك اجتماع یا د یو دیني یا دُنیاوي پروګرام د پاره عامه لار بندول ناجائزه او ګناه ده. هم دغه رنګ د څیزونو خرڅولو د پاره ریړئ ودرول یا بسته (سټال) داسې ځائ کښې لګول یا قَصداً ګاډې داسې ځائ کښې ودروَل چه د چا د کور لار، د چا د دُکان لار یا د لاروو لاره پرې تنګه شي دا هم شرعاً جائز نه دي. خو که چرې په یو لمُونځ کښې جُمات ډك شو او بهر صفونه جوړ کړې شو یا د جَنازې د جلوس په وجه لاره بنده شوه دا ګناه نه ده. دغه رنګ د حاجیانو د رخصتولو او د استقبال په جلوس او په جلوسِ میلاد کښې هم باك نشته.

مسلماں کی راحت کا سامان کیجے　　یوں خود پر رہِ خُلدآسان کیجے

وکړئ د مسلمانانو د راحت سامان　　او په ځان کړئ د جَنَّت داخِله آسان

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د لارې حق نمبر(۳) "د سلام جواب ورکول"

په سلو کښې ۹۰ رحمتونه هغه ته حاصلیږي څوك چه . . . .

هم د دې کتاب په صفحه نمبر ۲۹٦ او ۲۹۷ کښې ذِکر شوي د بُخاري شریف حدیثِ پاك "په لارو کښې د ناستې حقونه" کښې د **لارې حق نمبر (۳) "د سلام جواب ورکول"** مُتَعَلِّق د نیکئ د

www.dawateislami.net

دعوت پیش کولو مَدَني ګلونه قبول کړئ: **کله چه یو مسلمان سلام وکړي نو د هغې جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چه سلام کونکې ئې واوري.** د سلام او ملاقات ډیر فضیلت دې: **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چه کله دوه مسلمانان ملاقات کوي او په هغوئي کښې یو خپل ملګري ته سلام کوي نو په هغوئي کښې د **الله تعالٰی** په نِزد زیات مَحبوب (یعني زیات خوښ) هغه کس دې څوك چه د خپل ملګري سره په ډیره ګرم جوشئ [یعني په ډیره خوشحالئ ښکاره کولو] ملاقات کوي، بیا چه کله هغوئ مُصافَحه کوي (یعني یو بل له لاس ورکوي) نو په هغوئي باندې **سل رحمتونه نازلیږي**، په دې کښې **لس آتیا رَحمتونه** په (سلام کښې) د مخکښې کیدو والا د پاره، اَو لَس په مصافَحه [یعني لاس ورکولو] کښې د مخکښې کیدو والا د پاره دي. (مُسند البَزار ج۱ ص۴۳۷ حدیث ۳۰۸) **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه دوه مسلمانان د ملاقات په وخت کښې د یو بل سره مُصافَحه کوي (یعني یو بل له لاس ورکوي) نو د هغه دواړو د جُدا کیدو نه مخکښې د هغوئي بخښنه وشي. (ترمِذی ج۴ ص۳۳۳ حدیث ۲۷۳۶)

حضرت عَلَّامه مَولانا عَبدُ الرَّءُوف **مَناوِي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك د الفاظو چه "کله دوه مسلمانان دملاقات په وخت کښې دیو بل سره مصافَحه کوي (یعني یو بل له لاس ورکوي)" لاندې فرمائي: یعني نارینه نارینَه له او زنانه زنانه له (لاس ورکوي). (فَیْضُ القدیر ج۵ ص۶۳۷ تحت الحدیث ۸۱۰۹)

تِری رَحمتوں پہ میں قربان یا ربّ　　مرے بال بچّے مری جان یا ربّ

ستا د رحمتونو نه شم قربان یا ربّ　　هم قربان زما بال بچي او زما ځان یا ربّ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! عام طور هر مسلمان ته د سلام کولو او د سلام د جواب ورکولو او د مصافَحه کولو یعني د لاس ورکولو سعادت نصیب کیږي. راځئ چه ! د "**نیکۍ د دعوت**" نور ثواب حاصلولو د پاره په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه د چاپ شوې رسالې "**۱۰۱ مدني پھول**" نه یو څو خوشبوداره مدني ګلونه د راټولو شرف حاصل کړو: پیش کړې شوې هر مدني ګل سُنَّت د رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مه ګنړئ، په دې کښې د سُنَّتونو

www.dawateislami.net

نه علاوه کیدې شي چه د بُزُرگانِ دین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین نه منقول **مَدَني گلونه** هم شامل وي. ترڅو پورې چه یقیني طور معلوم نه وي تر هغې پورې یو عمل ته هم "سُنَّتِ رسول" نه شي وئیلې.

دَ "اَلسَّلامُ عَلَیْکُمْ" د یوولسو حروفو په نِسبَت د سلام ۱۱ مَدَني گلونه

(۱) مسلمان سره د مُلاقات کولو په وخت کښې هغه ته **سلام** کول سُنَّت دي. (اسلامي خویندې دِ اسلامي خویندو ته او محارِمو ته سلام کوي) (۲) د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۳۳۲ صفحو کتاب *بهارِ شریعت*(جلد۳) صفحه ٤٥٩ کښې د لیکلې شوي جُزیې خلاصه ده: "د **سلام** کولو په وخت کښې په زړه کښې دا **نِیَّت** پکار دې چه چا ته **سلام** کووم د هغه مال او عِزَّت او پرده ټول زما په حِفاظَت کښې دي او زه په دې څیزونو کښې دخل اندازي کول [کار لرل] **حرام** گنړم" (۳) په ورځ کښې که هر څو ځله ملاقات کیږي، که د یوې کوټې نه بلې کوټې ته بیا بیا تلَل راتلَل وي، هلته موجودو مسلمانانو ته **سلام** کول د ثواب کار دي. (٤) په **سلام** کښې مخکښې کیدل سُنَّت دي (٥) په **سلام** کښې مخکښې کیدلو والا د **الله تعالیٰ** مُقَرَّب (یعني نزدیکت موندونکې بنده) دي (٦) په **سلام** کښې مخکښې کیدلو والا د تَکَبُّر نه بَري (یعني آزاد) دي. څنگه چه زما د مَکّي مَدَني آقا **خوږ خوږ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: اول **سلام** ویونکې د تَکَبُّر نه بَري دي. (شُعَبُ الایمان ج٦ ص ٤٣٣ حدیث ٨٧٨٦) (۷) **سلام** کونکې باندې ۹۰ رحمتونه او جواب ورکونکې باندې ۱۰ رحمتونه نازلیږي. (کیمیائے سعادت ج۱ ص ۳۹٤) (۸) اَلسَّلامُ عَلَیْکُمْ (یعني په تا دِ سلامتي وي) وئیلو باندې ۱۰ نیکۍ حاصلیږي. او که ورسره وَرَحْمَةُ اللّٰهِ (او د الله رحمت دِوي) او وائي نو۲۰ نیکۍ به شي. او که وَبَرَکَاتُهٗ (د هغه برکتونه دِ وي) ورسره شامل کړئ نو۳۰ نیکۍ به شي. بعضې خلق د سلام سره د "جَنَّتُ الْمُقَام او دُوزَخُ الْحَرام" الفاظ زیاتوي، دا غلطه طریقه ده. بلکه بعضې بیباکه خو مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د دې حده پورې هم وائي: "ستا بچي زمونږه غلامان" زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه **امام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په فَتاوٰی رضویه جلد ۲۲ صفحه ٤۰۹ کښې فرمائي: کم نه کم اَلسَّلامُ عَلَیْکُمْ او د دې نه غوره ورسره وَرَحْمَةُ الله وئیل او د ټولو نه غوره وَبَرَکَاتُهٗ شامِلَوَل او په دې باندې زیاتوالې نشته. که هغه اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ اُووئیلې نو دا دِ وَعَلَیْکُمُ السَّلَام وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اُووائي. او که هغه اَلسَّلامُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ

www.dawateislami.net

الله اُووئیل نو دا دِ وَعَلَیْکُمُ السَّلام وَرَحْمَةُ الله وَبَرَکَاتُهٗ اُووائي او که هغه وَبَرَکَاتُهٗ پورې اُووئیل **نو دا دِ هم دومره اُووائي ځکه چه په دې زیاتوالي نشته.** وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ (۹) هم دغه رنګ که په جواب کښې وَعَلَیْکُمُ السَّلام وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ اُووائي نو ۳۰ نیکئ حاصلولې شي. (۱۰) د **سلام** جواب فوراً او په دومره آواز کښې ورکول واجب دي چه **سلام** کونکې ئې واوري. (۱۱) **سلام** او د **سلام** د جواب صحیح تَلَفُّظ یاد کړئ. اول ئې زه وایم تاسو ئې واورئ او بیا ئې اُووائي: اَلسَّلامُ عَلَیْکُمْ (اَسْ.سَلا.مُ عَلَے.کُمْ) اوس زه جواب وایم بیا ئې تاسو اُووائي: وَعَلَیْکُمُ السَّلام (وَ.عَ.لَیکُ.مُسْ.سَلام).

رضائے حق کیلئے تم سلام عام کرو سلامتی کے طلبگار ہو سلام کرو

د رضائے حق د پاره سلام عام کړه ته د سلامتئ که طلبګار ئې سلام عام کړه ته

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

"مصافحه کول سُنَّت دي" دڅوارلسو حروفو په نِسبَت د لاس ورکولو ۱٤ مدني ګلونه

(۱) د دوو مسلمانانو د مُلاقات په وخت کښې په دواړو لاسو مُصافَحه کول یعني دواړه لاسونه ورکول سُنَّت دي. (۲) د لاس ورکولو نه مخکښې سلام کوئ (۳) دَ رُخصَت کیدو په وخت کښې هم سلام کوئ او (ورسره ورسره) لاس هم ورکولې شئ. (٤) د نَبِیِّ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشادِ مُعَظَّم دې: "چه کله دوه مسلمانان د مُلاقات په وخت کښې مُصافَحه کوي او د یو بل نه د خیریت تپوس کوي نو الله تعالٰی د هغوئ په مینځ کښې سل رحمتونه نازلوي، په هغې کښې یو کم سل رحمتونه زیات په خوشحالئ سره د ملاقات کونکي او په ښه طریقه د خپل ورور د خیریت د تپوس کونکي د پاره دي." (المُعجِمُ الاوسط ج٥ ص٣٨٠ حدیث ٧٦٧٢) (۵) د لاس ورکولو په وخت کښې **درود شریف** لولئ، د لاس جُدا کیدو نه مخکښې مخکښې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی تیر شوي او راروان ګناهونه اُوبخښلې شي (٦) د لاس ورکولو په وخت کښې چه **درود شریف** ولولئ نو که کیدې شي

www.dawateislami.net

دا دُعا هم ولولئ: "یَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُمْ" (یعني الله تعالیٰ دِ زمونږه او ستاسو بخښنه وکړي) (۷) دوه مسلمانان چه د لاس ورکولو په وخت کښې څه دُعا غواړي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ **قَبوله** به شي او د لاسونو جدا کیدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو بخښنه وشي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ (۸) په خپل مینځ کښې د لاس ورکولو په وجه دُښمني ختمیږي. (۹) مسلمان ته **سلام** کول، **لاس ورکول** بلکه په مُحبَّت سره د هغه دیدار کول هم ثواب دې. په حدیثِ پاك کښې دي: څوك چه خپل یو مسلمان ورور ته دَ مَحَبَّت نه په ډك نظر اُوګوري او د هغه په زړه کښې دُښمني نه وي نو د نظر اَوَّلو نه مخکښې مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګناهونه اُوبخښلې شي. (المُعجَمُ الاوسط ج٦ ص١٣١ حدیث ٨٢٥١) (۱۰) هر څو ځله چه مُلاقات کیږي نو هر ځل لاس ورکولې شئ. (۱۱) نن صبا بعضې خلق یو بل له یو یو لاس ورکوي بلکه یو بل سره صرف د ګوتو سرونه وجنګوي دا د سُنَّت خلاف دي. (۱۲) د لاس ورکولو نه پس خپل لاس پخپله ښکُلَوَل مکروه دي. (بهارِ شریعت ج٣ ص٤٧٢) (د لاس ورکولو نه پس خپل لاس ښکُلَولو والا اسلامي ورونړه دِ خپل عادت لرې کړی) خو که یو بزرګ له لاس ورکولو نه پس د برکت د پاره خپل لاسونه ښکُل کړي نو مکروه نه دي، لکه څنګه چه اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: که د چا سره مو مُصافَحه وکړه او د برکت د پاره مو خپل لاس ښکل کړل نو منع نه دي خو چه چا له مو لاس ورکړې وو هغه په هغه هستیانو کښې وي د چا نه چه برکت حاصلولې شي. (جَدُّ المُمتار، کتابُ الحظرِ وَ الاِباحَة، بابُ الاِستبراء وغیرہ مقولہ ٤٦٨٣ ج ٧ ص٦٥) (۱۳) اَمرَد (یعني ښکلي هلك) له (یا یو سړي له) په لاس ورکولو کښې که شهوت پیدا کیږي نو هغه له لاس ورکول جائز نه دي بلکه که هغه ته د کتلو په وجه شهوت پیدا کیږي نو هغه ته کتل هم ګناه ده. (دُرِّمختار ج٢ ص٩٨)(١٤) د مصافحه کولو (یعني د لاس ورکولو) سُنَّت دا دي چه په لاس کښې رومال وغیره نه وي، دواړه لاسونه تش وي او ورغوې د ورغوي سره لګیدل پکار دي. (بهارِ شریعت ج٣ ص٤٧١)

د نامَحرمه زنانه سره د مصافحه کولو عذاب

په **یو** اُوګد حدیثِ پاك کښې دا هم دي: چا چه د یوې نامَحرمې زنانه (یعني داسې زنانه سره چه د هغې سره نکاح د همیشه د پاره حرامه نه وي) سره مصافحه وکړه (یعني لاس مِلاو کړو) هغه به د قیامت

www.dawateislami.net

په ورځ په داسې حال کښې راځي چه د هغه لاس به د اور په زنځیر د څټ سره تړلې شوې وي. (قُرَّةُالعُیُون ص۳۸۹) د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب "**بهارِشریعت**" (جلد۳)صفحه ٤٤٦ کښې دي: (نامحرمه زنانه)سره لاس مِلاوول جائز نه دي لِهٰذا حضورِ اقدس صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د بَیعت په وخت د زنانۀ سره لاس نه مِلاوَولو صرف زباني بیعت به ئې کولو. خو که ډیره بوډۀ وي چه [هغې ته په کتلو یا لاس ملاوَولو کښې] شهوت نه پیدا کیږي نو د هغې سره لاس ملاوَولو کښې باك نشته. هم داسې که سړې ډیر زیات بوډا وي چه د هغه نه د هیڅ فِتنې ویره نه وي نو [زنانه] د هغه سره لاس مِلاوَولې شي. (بهارِشریعت ج۳ ص٤٤٦)

زنانِ غیر سے بھائی مُصافَحہ مت کر ہُوا ہے جُرم یہ گر کرلے توبہ حق سے ڈر

وروره د غیرې زنانه سره مه کوه مصافَحَه که چرې شوې وي دا جُرم نو زر زر وکړه توبه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د لارې حق نمبر (٤) د نیکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول

د دې کتاب په صفحه نمبر ۲۹٦ او ۲۹۷ کښې ورکړي شوي د بُخاري شریف حدیثِ پاك "په لارو کښې د کښیناستلو حقونه" کښې د **لارې حق نمبر ٤ "د نیکئ حکم ورکول او د بَدئ نه منع کول"** مُتَعَلِّق د نیکئ د دعوت مَدَني ګلونه حاضر دي: د نیکئ د حکم کولو او د ګناه نه د منع کولو د ثواب خو څه حد نشته. په لاره کښې اکثر د دې ډیره موقع په لاس راځي. مثلاً تاسو ناست ئې او څوك د مُلاقات د پاره راغې بغیر د سلام نه ئې لاس درکړو نو هغه ته داسې د نیکئ دعوت ورکړئ چه وروره! ملاقات له راتلونکي د پاره د لاس ورکولو نه مخکښې سلام کول سُنَّت دي. بعضې خلق د سلام کولو په وخت کښې ټیټیږي هغوئ هم د موقع په مناسبَت د هغوئ د مزاج مطابق پوهه کول پکار دي. مثلاً هغوئ ته داسې وئیل پکار دي چه: د **دعوتِ اسلامي** اِشاعتي اداري **مَکْتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب "**بهارِشریعت**" (جلد۳) صفحه ٤٦٤ کښې مسئله نمبر ۳۱ کښې دي چه: بعضې خلق د سلام په وخت کښې ښکته کیږي، دا ښکته

www.dawateislami.net

کیدل که د رکوع د حده پورې وي نو **حرام** او که د دې نه کم وي نو **مکروه** دي. (بهارشریعت ج۳ص٤٦٤) خو که د لاس ښکُلوَلو د پاره ښکته شي نو باك نشته ځکه چه د ښکته کیدو نه بغیر لاس ښکُلَول ګران وي. د دې خبرې د **نیکئ د دعوت** ښه طریقه دا کیدې شي چه تاسو سره **مَدَني بیګ** وي او په هغې کښې د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوو نورو رسالو سره سره "۱۰۱ **مدني پهول**" نومې رِساله هم موجوده وي او تاسو هغه ته د دې رسالې نه دا "مدني ګل" وښائې، او ډیره ښه خبره به دا وي چه د ښودلو نه پس د **ښو ښو نیتونو** سره هغه رساله هغه ملاقات کونکي ته په تُحفه کښې ورکړئ. ولې چه **ښه ښه نِیَّتونه** خو د هر [جائِز] کار نه مخکښې کول پکار دي که چرې په یو عمل کښې یو هم ښه نِیَّت نه وو نو ثواب به نه کیږي. مَثَلاً د رساله ورکولو په وخت کښې دا نِیَّت وکړئ چه د "رضائے اِلٰهی په نِیَّت د یو مسلمان د زړه خوشحالولو د پاره تُحفه ورکووم" که د ښه نِیَّت کولو نه بغیر چا ته د **نیکئ دعوت** ورکړئ، یا پرې "انفرادي کوشش" وکړئ، یا سُنَّتونه ورزده کړئ، یا د سُنَّتو ډکې اِجتماع دعوت او په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکړئ ، یا د مَدَني اِنعاماتو ترغیب ورکړئ نو **ثواب** به مو نه کیږي.

اِنفِرادي کوشش د "نیکئ د دعوت" رُوح دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د نیکئ د دعوت رُوح "اِنفِرادي کوشش" دې. په کوم مسلمان باندې چه د **نیکئ د دعوت** پیش کولو د پاره اِنفِرادي کوشش کول غواړئ نو د هغې د پاره دا ذِهن جوړَوَل پکار دي چه زه اوس د چا سره مِلاقات کولو والا یم هغه یو **مسلمان** دې، مُسلمان که هر څومره ګنهګار وي خو د ایمان د دولت نه د مُشَرَّف کیدو په وجه د هغه خپل یو مقام وي او زه ملاقات هم د **الله تعالیٰ** د دِین د سربُلندئ او د خپل آخِرت د بهترئ د پاره کووم، په دې نِیَّت زما ملاقات کول د عِبادت درجه لري، که په دې نِیَّتونو ملاقات وکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په دې موقع به رحمتونه نازلیږي او برکتونه به حاصلیږي. یو خاص **مَدَني ګل** دا هم یاد ساتئ چه د هغه عیبونه مه لټوئ، د هغه د عقل نه اُوچتې (یعني چه د هغه عقل پرې نه رسي داسې) خبرې مه کوئ او جَوَرې مَسئَلې مه چیړئ.

www.dawateislami.net

”یا الله نرمي راکړې“ د پینځلّسو حُروفـو پــه نِسبت د اِنفِرادي کوشش ۱۵ نِیَّتـونه

دَ **اِنفِرادي کوشش** کولو په وخت کښې د موقعې په مُناسَبَت بیشمیره **نِیَّتونه** کیدي شي، په هغې کښې **۱۵** نیتونه پیش کیږي: (۱) د **الله** د رضا د پاره د **نیکئ د دعوت** ورکولو د پاره به اِنفرادي کوشش کووم (۲) د سلام او جوابِ سلام نه پس به په ګرم جوشئ سره لاس ورکووم (۳) پخپله او په نورو باندې د دُرود شریف لوستلو د پاره به صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! وایم. (٤) ولې چه د خبرو کولو په وخت کښې د مخامخ ګس په مخ نظر ټینګول سُنَّت نه دي، لِهٰذا حـ ّ الاِمکان [یعني چه څومره کیدې شي] د خبرو اَترو کولو په وخت کښې به نظر ښکته ساتم (د اِنفِرادي کوشش کولو په وخت کښې د نظر ښکته ساتلوپه وجه به د نیکئ ددعوت فائده اِنْ شَآءَالله تعالیٰ څو چنده زیاته شي) (۵) په سُنَّتو باندې د عمل کولو په نِیَّت به په مُسکا خبرې کووم (٦)طنز [یعني په چا پورې د سپکې وینا] او د آزادئ د خبرو نه به ځان ساتم (۷) د مخامَخ ګس د نفسیاتو مُطابِق به د خبروکولو کوشش کووم (۸)په جورو مَسئَلوچیړلو به هغه په تشویش کښې نه اچووم (۹)بې ضرورته به د موجوده سیاست او دهشت ګردئ وغیره ذکر نه کووم (۱۰ نه ۱۲) د سُنَّتونه ډکه اجتماع کښې د شرکت، په مَدَني قافله کښې د سفر او په مَدَني انعاماتو باندې د عمل کولو د پاره به د هغه د ذِهن جوړَوَلو کوشش کووم (۱۳) نوي اسلامي ورور ته به یو دَم د ګیرې پریښودو او د عِمامه شریف په سر کولو د تَلقِین په ځائ د لـمونځ فضیلت وغیره ښایم. (خو! د چا سره چه خبرې کوئ او هغه ”ګیره خرولي“ وي او غالِب ګمان دا وي چه که ده ته د ګیرې پریښودو اُووایم نو وبه ئې مني، نو بیا خو به د ګیرې خرئیلو نه منع کول واجب شي، خو عام طور په نوي اسلامي ورور باندې ”غالِب ګمان“ کیدل ګران وي، د عمل کولو د جذبې د کمئ دور دې، په نوي اسلامي ورور باندې د ګیرې پریښودو د زیاتو کوششونو کولو په وجه کیدې شي چه بیا د پاره هغه ستاسو مخې ته د راتلو نه ډډه کوي) (١٤) که د مخامخ کس د خبرو انداز ناخوښه [یعني نامناسبه] وو یا ئې د ټوقو [یعني په ما پورې د ټوقو کولو] انداز وو نو د پوهیدو باوجود به د څه جوابي کاروائي نه بغیر په صبر او نرمئ سره د عاجزئ په انداز کښې خبرې جاري ساتم (۱۵) که د اِنفِرادي کوشش ښه نتیجه را

www.dawateislami.net

اُووَتله نو د **الله تعالٰی** کرم به ئې ګنړم او د **الله تعالٰی** شُکر به ادا کووم، او که څه ناخوشګواره خبره پیښه شوه نو مخامخ کس د سخت زړه والا وغیره ګنړلو په ځائ به د خپل **اِخلاص** کمې ګنړم.

د مُبَلِّغ د پاره اَهم مَدَني ګلونه

حوصله غټه ساتل پکار ده او ناکامي خو هډو شته نه دې ځکه چه د **ښه نِیَّت** په صورت کښې د نیکئ په دعوت مُشتَمِل اِنفِرادي کوشش کونکې د آخِرت د ثواب حقدار دې. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا ابو حامد **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل فرمائي: یو بُزرګ خپل ځوئ ته د نصیحت **مَدَني ګلونه** وړاندې کول ورته وئې فرمائیل: د نیکئ دعوت ورکونکي ته پکار دي چه هغه په ځان کښې د صبر عادت پیدا کړي او د **الله تعالٰی** د طرف نه د نیکئ د دعوت په وجه په ورکړي شوي ثواب باندې یقین ساتي. چا ته چه د ثواب پوره یقین وي هغه ته په دې مبارك کار کښې تکلیف نه محسوسیږي. (اِحیاءُ العلوم ج۲ ص۴۱۰)

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں بدی سے بچوں اور سب کو بچاؤں

کرم وکړه د نیکئ دعوت چه خور کړم یا الله چه خپل ځان او نور هم بچ کړم د بدئ نه یا الله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دَ مُسَلسَل اِنفِرادي کوشش میوه

د **ضِیاء کوټ** (سیالکوټ، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې: د نیکئ په لاره د روانیدو نه مخکښې زما حالت د بیانَولو قابل نه وو، زما ټول وجود په ګناهونو کښې ګَکړ وو، د خلقو سره د جنګ جَګړې کولود پاره ما یوه جُدا ډَله جوړه کړې وه، زما د بدو خبرو او د بې حیائې د خبرو په وجه زما نه د سکول هلکان، اُستاذان او هیډماسټر وغیره ټول تنګ وو، په لار کښې بدنظري کول زما عادت وو، په مجازي عِشق کښې هم اخته ووم بلکه **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ داسې داسې غلطو کارونو کښې اخته ووم چه د هغې د بیانولو هِمَّت نه لرم. د شرعي مسائلو نه د نابَلده

www.dawateislami.net

(یعني نا واقفه) کیدو په وجه ماته دا هم نه وو معلوم چه د فرض غسل څه طریقه وي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې خو لوئ لوئ ګنهګاران هم خپل ګناهونه پریږدي او د **الله تعالیٰ** په عِبادت کښې مصروف شي، خو افسوس په کروړونو افسوس! زه به په رَمَضانُ المُبارَك کښې هم په بازارونو کښې ګرځیدم او د بدنظرئ په ذریعه به مې خپل تور زړه خوشحالَوَلو، زما اختري به پارکونو کښې تیریدلې او د دولسم رَبِیعُ الاَوَّل شریف مُبارَکه ورځ به مې په بازارونو او د سیل په مختلفو ځائیونو کښې تیریدله، چه کله به بَسَنت راغلو نو ټوله شپه به د خپل ګروپ سره د بَسَنت د خوشحالئ کونکو په شان په زیَړو جامو کښې د ګډا او شور شغرب په محفلونو کښې مشغوله اوسیدم. د **الله تعالیٰ** د یاد نه دومره غافِله ووم چه په میاشتو میاشتو به د جُمات په طرف نه ورتلم. زما والِد صاحِب یو لمُونځ ګزاره او پرهیزګاره انسان وو، هغه به راته ډیر زیات نصیحتونه کول خو ما به پرې هیڅ غوږ نه کَرَوَلو، زما د ګناهونو سپیره والې دومره زیات وو چه چا به زما صُحبَت اختیار کړو هغه به هم په ګناهونو کښې اخته شو. زما د دې غلطو کارونو په وجه به زما نه هر چا نفرت کولو. آخِر زما قِسمَت داسې رابیدار شو چه یوه ورځ زه د جُمات په خوا تیریدَم نو یو عاشقِ رسول راته د لـمانځه دعوت راکړو، زما د انکار په وجه هغه ما ته ډیره زاري وکړه او زه ئې د لاس نه ونیولَم او په **مَحَبَّت** ئې جُمات ته بوتلم. چه کله د لـمانځه نه فارغه شُو نو یو اسلامي ورور **درس** شروع کړو، زه هم په درس کښې شریك شوم، د درس په دوران کښې ما د **الله تعالیٰ د رَحمت او د بخښنې مُتَعَلِّق حکایتونه** واوریدل نو په ما کښې څه حوصله راپیدا شوه، د درس نه پس چه کله اسلامي ورونړو ما ته ډیر د مَحَبَّت په انداز کښې د نیکئ دعوت راکړو نو زما د زړه دُنیا بدله شوه، ځکه چه زه د کله نه په ښه بد پوهه شوې یم نو زما د ژوند دا اولنئ موقع وه چه زما په شان ګنهګار او د نفرت قابل کس سره چا په دومره مَحَبَّت خبرې وکړې. په ما باندې اِنفِرادي کوشش کونکي زما همزولي مُبَلِّغ ته چه ما د خپلو ګناهونو قِصَّه بیان کړه نو هغه د رَحمَت نه د ډکو خبرو په ذریعه ما ته څه په داسې انداز کښې حوصله راکړه چه زما زړه مُطمَئِن شو، او زه پوهه شوم چه زما د پاره د **توبې** دروازه بَنده نه ده، **الله تعالیٰ** بخښونکې او مهربانه دې بس ما د خپلو

www.dawateislami.net

ټولو تیرو شوو ګناهونو نه **توبه** وکړه. دا زما د ژوند اولنۍ ورځ وه چه ما پکښې پینځه وخته لمُونځونه ادا کړل. بیا چه کله د سالانه امتحان نه پس چوټیانې وشوې نو زما دا عادت جوړ شو چه زه به د هغه عاشِقِ رسول سره سحر جُمات ته تلَم او تقریباً د دولسو بجو پورې به مې د لـمانځه مسائل او سُنتونه زده کول. څه موده پس شیطان یو ګُزار وکړو او زه د داسې ناپوهه خلقو په صحبت کښې ګرفتار شوم چه هغوئي زه د هغه مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي په باره کښې په بدګمانۍ کښې اَخته کړم، آه! ما خپل هغه مُحسِن [یعني احسان مند] او زما سره ښیګړه کونکې اسلامي ورور خپل دُښمن او بدخواه وګنړلو او د چا د خُلې نه مې د هغه عاشِقِ رسول د غیبتونو اوریدو په وجه ښه او نیك صُحبَت پریښودو او تقریباً د یو کال پورې بیا د بَدو خلقو سره په ناسته ولاړه کښې ګرفتار شوم او په دې دوران کښې ما بیا هغه خپل زاړه حرکتونه شروع کړل. خو د سرکارِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه غُلامي مې په تقدیر کښې لیکلـي شوي وه، لِهٰذا قِسمَت راسره یو ځل بیا مرسته وکړه، هغه داسې چه یوه ورځ زه د چوټۍ په وخت کښې د فیکټرۍ نه بیرته راتلم او د خپل عادت مطابِق په اخوا دیخوا کتلو او د بدنظرۍ په بد آفت کښې ګرفتار روان ووم او په لاره تلونکي خلق مې چیړل چه ناڅاپه مې نظر په یو داسې عاشِقِ رسول پریوتو چه هغه سپینې جامې اغوستې وې او د شنې شنې عِمامې تاج ئې په سر کړې وو، د حیا نه ئې ښکته کتل او زما طرف ته راروان وو ، د هغه په مخ مې چه د پرهیزګارۍ نُور ولیدو نو ما ته په خپلو ګناهونو پښیمانتیا راغله، ما د هغه سره مُلاقات وکړو، هغه په ډیره ګرم جوشۍ زما سره ملاقات وکړو، د هغه سره مې پیژندګلو پیدا شوه او بیا ورو ورو ما د هغه صُحبَت اختیار کړو، د هغه اسلامي ورور په لمُونځونو کښې اِستِقامَت د رشك قابل وو. د دعوتِ اسلامي په باره کښې زما په زړه کښې نیك ګمان یو ځل بیا قائم شو، هغه اسلامي ورور زه د ځان سره بینُ الاقوامي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع ته هم بوتلم، د اجتماع نه د بیرته راتلو په وخت کښې زما په سر سپینه ټوپۍ وه ، بیا مې وروستو عِمامه شریف هم په سر کړه او د دې لیك په وخت کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د دعوتِ اسلامي په عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مَدِینه بَابُ المَدینه کراچۍ کښې **قافِله کورس** [۱۲ مَدَنـي کام کورس] کووم.

www.dawateislami.net

مُعترِف ہوں گناہ کرنے میں کوئی چھوڑی نہیں کسر آقا
پھنس گیا ہوں گنہ کی دلدل میں ہو کرم شاہِ بحر و بر آقا

میں گنہگار ہوں مگر قرباں
تیری رحمت کی ہے نظر آقا (وسائل بخشش ص۳۵۱،۳۵۰)

قائل یم د خپلو ټولو ګناهونو پریښې مې نه دې هیڅ ګسَر آقا
نښتې یم د ګناه په دَلدَل کښې وکړه کرم شاهِ بحر و بَر آقا
زه ګنهګار یم خو له تا نه شم قربان ستا د رحمت دې په ما نظر آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خورو خورو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! بیا بیا په ګناهونو کښې اخته کیدونکې کَس آخِر د دعوتِ اسلامي دمَدَني ماحول په بَرکت په نیغه لار روان شو. یَقِیناً ټول **ګناهونه** دپریښودو قابل دي، په ګناهونو کښې د هیڅ قِسمَه خیر نشته، د **ګناهونو** نه د ډډه کوونکو په حوصله افزائي او د خپلو عِبادتونو د صِفَت نه د بچ کیدو په تلقین باندې مُشتمل "د نیکئ دعوت" واورئ. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "کَنزُالْاِیمان مع خَزائِنُ الْعِرفان" صفحه ۹۷۳ پاره ۲۷ سُوْرَةُ النَّجْم آیت ۳۲ کښې **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

اَلَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓىٕرَ الْاِثْمِ وَ الْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَ اِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِیْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغه کسان چه د غټو ګناهونو او بې حیائي نه ځان ساتي خو دومره چه ګناه ته نزدې شي او منع شي بیشکه ستاد رَبّ بخښنه فراخه ده. هغه تاسو ښه پیژني، تاسو ئې د خاورې نه پیدا کړئ او کله چه تاسو د خپلو میندو په ګیډه [حمل] وئ، نو خپلو ځانونو ته پاك مه وائې، هغه ته ښه معلوم دي څوك چه پرهیزګار دي.

www.dawateislami.net

د آیتِ مُبارَکه تفسیر

صدرُ الاَفاضِل حضرت عَلَّامه مَولانا سَیِّد **مُحَمَّد** نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: **گناه** هغه عمل دې چه د هغې کونکي د عذاب حقدار وي، بحر حال د **گناه دوه قسمونه** دي صغیره اوکبیره. **کبیره** هغه چه د هغې عذاب سخت وي او بعضې عُلماء فرمائي چه **صغیره** هغه ده چه په هغې وَعِید [یعني د عذاب او د سزا خبر] نه وي [ورکړې شوې] او **کبیره** هغه چه وعید پرې وي او **فَواحِش** هغه دي چه په هغې حَدّ [یعني په دنیا کښې شرعي سزا] وي. د آیتِ مبارَکه د دې حِصّې "خو دومره چه گناه ته نزدې شي او منع شي" نه لاندې فرمائي: چه دومره خو د کبیره [یعني غټو گناهونو] نه د بچ کیدو په برَکت مُعاف کیږي. د آیت د دې حصې "بیشکه ستاسو د رَبّ بخښنه فراخه ده هغه تاسو ښه پیژني" نه لاندې فرمائي: **شانِ نُزول**: دا آیت د هغه خلقو په حق کښې نازل شوې دې چا به چه نیکئ کولې او د خپلو عملونو صِفت به ئې کولو او وئیل به ئې چه زمونږ لمُونځونه، زمونږ روژې ،زمونږه حج. او د آیت د دې حصې "نو خپلو ځانونو ته پاك مه وائې" نه لاندې فرمائي: یعني په فَخر د خپلو نیکو صِفَت مه کوئ ځکه چه **الله** تعالٰی د خپلو بندگانو د حالاتو نه خبر دې. هغه د هغوئ د شروع نه واخله د آخِرئ ورځې (یعني د پیدائِش نه واخله د مرگه) پورې د ټولو حالاتو نه ډیر ښه خبر دې. په دې آیت کښې د **رِیا او ځان ښودنې او په خپله د خپل صِفَت کولو** نه منع فرمائیلې شوې ده، خو که د **الله** تعالٰی د نِعمَت د اِعتراف او په اِطاعت او عبادت باندې د خوشحالئ او په دې باندې د شُکر ادا کولو په نِیّت د نیکو ذِکر وکړې شي نو دا جائز دي. او د آیت د دې حِصّې "هغه ته ښه معلوم دي څوك چه پرهیزگار دي" نه لاندې فرمائي: او هغه ته معلومیدل کافي دي، هغه بدله ورکونکې دې، نورو خلقو ته د ښودنې او د نوم کولو څه فائده! (خزائن العرفان ص ۸٤۰، ۸٤۱)

د ټولو نه غوره اعمال

د قَبِیلَۀ **خَثْعَم** یو کس په **بارگاه نُبُوَّت** کښې حاضر شو اَو وئیل ئې: "هغه تاسو ئې څوك چه د **الله** تعالٰی د **رسول** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کیدو دعویٰ کوي؟" وئې فرمائیل: آو. هغه تپوس وکړو: د **الله**

www.dawateislami.net

تعالیٰ په نِزد د ټولو نه غوره **عمل** کوم یو دې؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: په **الله تعالیٰ ایمان** راوړل. عرض ئې وکړو بیا کوم یو [عمل ښه دې]؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: **صِلۂ رِحمي** (یعني د خپلوانو سره ښه سلوك) کول. عرض ئې وکړو بیا کوم یو ؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: د **نیکئ حکم ورکول او د بدئ نه منع کول.**
(مَجمَعُ الزَّوائِد ج ۸ ص ۲۷۷ حدیث ۱۳٤٥٤. مُسنَد اَبي یَعلیٰ ج ٦ ص ٥٥ حدیث ٦٨٠٤)

اے کعبه! ستا فَضاخومره ښکلي ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بیشکه افضل او د ټولو نه اهم عمل **ایمان** دې او د ټولو نیکو اعمالو اُخروي [یعني د آخرت] فائدې هم په **ایمان** باندې د خاتمې سره مشروط [یعني تړلي] دي. لکه څنګه چه په بخاري شریف کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِیْم یعني د اعمالو دارومدار په خاتمه باندې دې. (بخاری ج٤ ص ۲۷٤ حدیث ٦٦٠۷) یقیناً څوك چه مسلمان دې هغه ډیر زیات خوش قِسمَته دې.د **مسلمان** د فضیلت به څه وائې! حُضُور نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کعبۂ مُعَظَّمَه ته مخاطِب شو او ارشاد ئې اُوفرمائیلو:"ته پخپله او ستا فَضا څومره ښکلي ده، ته څومره عظمت لرونکي ئې او ستا حُرمت (یعني عِزَّت) څومره عظیم دې، په هغه پاك ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضۂ قدرت کښې چه د **محمَّد** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ساه ده! د **الله تعالیٰ** په نِزد د مؤمن ځان او مال او د هغه نه د ښه ګمان ساتلو حُرمت ستا د حُرمت نه هم زیات دې." (ابن ماجه ج٤ ص ۳۱۹ حدیث ۳۹۳۲) څوك بدقسمته چه د ایمان د دولت نه محرومه وي هغه ته به په آخرت کښې د هیڅ قسمه خیر او سُکون نه نصیب کیږي او هغه به همیشه همیشه د دوزخ په عذاب کښې اخته وي. **د دوزخ حال** ولولئ او په لړزان شئ چنانچه

د دوزخ خوفناك حالت

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۸۵۳ صفحو کتاب "**جهنّم میں لے جانے والے اعمال**" (جلد اوّل) صفحه ۹۷ نه ۹۸ کښې دي: اَمِیرُالمُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا عُمر بن خَطّاب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ حضرت سَیِّدُنا کعبُ الاحبار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ (مشهور تابعي بزرګ) ته اِرشاد اُوفرمائیلو: اے

www.dawateislami.net

کعب (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ)! مونږ ته د یَرې یو څو خبرې واورَوَئ! حضرت سَیِّدُنا کعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د حُکم تعمیل وکړو او عرض ئې وکړو: **یا اَمِیرَالمُؤمِنین**! که تاسو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قیامَت په ورځ د اویاوُؤ انبیاءِ کِرامو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اعمال هم راوړئ او د محشر حالات اُووینئ نو هغه به هم ډیر کم وګنړئ. دا ئې چه واوریدل نو **اَمِیرُالمُؤمِنین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د لږ ساعت د پاره سر ښکته کړو [او زړه ئې نرې شو] بیا ئې چه حالت لږ ښه شو نو ارشاد ئې اُوفرمائیل: **اے کعب** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ)!نور وایه.عرض ئې وکړو: **یا اَمِیرَالمُؤمِنین**! که په جَهَنَّم کښې د غوئې [یعني د غویا] د سپیږمۍ(یعني دغوئې د پوزې د سُورې)همره حصّه په مَشرِق کښې پرانیستې شي نو په مغرِب کښې د موجود کس دماغ به د هغې د ګرمئ په وجه اُوخوټکیږي او اُو به بهیږي. د دې په اوریدو باندې اَمِیرُالمُؤمِنین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د (رِقَّت په وجه) [یعني د زړه د نرې کیدو په وجه] د لږ ساعته پورې سر ښکته کړو بیا ئې چه حالت لږ ښه شو نو وئې فرمائیل: **اے کعب** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ)! نور واوروه. عرض ئې وکړو: **یا اَمِیرَالمُؤمِنین**! د قیامت په ورځ به جَهَنَّم داسې تیز ګړزیږي چه یوه مُقَرَّبه فَرِښته یا نَبِیّ مُرسَل به داسې نه وي چه هغه په ګونټو ونه غورزیږي او دا ونه وائي: **رَبِّ! نَفْسِیْ! نَفْسِیْ!** (یعني اے زما ربّه! زه ستا نه د خپل ځان د پاره سوال کووم) حضرت سَیِّدُنا کعبُ الاحبار رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نور اُووئیل: چه کله ورځ د قیامَت راشي نو **الله تعالٰی** به اوّلِین او آخرِین (یعني ټول خلق) په یو میدان کښې جمع کړي، بیا به فرښتې نازلې شي او صفونه به جوړ کړي. د هغې نه پس به **الله تعالٰی** اُوفرمائي: اے جبرائیل(عَلَیْہِ السَّلَام)! جَهَنَّم راوله. نو حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام به جَهَنَّم داسې راولي چه هغه به په **اویا زره جیلبونو** راښکاږي. بیا به چه کله جَهَنَّم د مخلوق نه **د سلو کالو د لارې** په فاصله پاتې شي نو داسې په زوره به اوګړزیږي چه د هغې په وجه به د مخلوق زړونه ودرَزیږي، بیا چه کله په دویم ځل اوګړزیږي نو هره یوه مُقَرَّبه فرښته او نَبِیّ مُرسَل به په سجده کښې پریوځي، بیا چه کله په دریم ځل اوګړزیږي نو د خلقو زړونه به مرئ ته راپورته شي او عقلونه به ئې وَیَریږي، تر دې چه حضرت سَیِّدُنا **ابراهیم خَلِیلُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام به عرض وکړي: **یا اِلٰهي** عَزَّوَجَلَّ! زه ستا نه ستا د خلیل کیدو په خاطِر صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. حضرت سَیِّدُنا **موسٰی کلِیمُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام به عرض وکړي: یا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ! زه د

www.dawateislami.net

خپلو مُناجاتو په خاطِر صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. حضرت سَیِّدُنا **عیسٰی روحُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام به عرض وکړي: **یا اِلٰهي** عَزَّوَجَلَّ! تا چه ما ته کوم عِزَّت راکړې دې د هغې په خاطِر صرف د خپل ځان د پاره سوال کووم. د هغې مریم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا د پاره (هم) سوال نه کووم چا نه چه زه پیدا شوې یم. (اَلزَّواجِر عَنِ اقْتِرافِ الْکبائِر ج۱ ص۴۹)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې روایت نه د جَهَنَّم د سختو په ښه شان اندازه لګیدې شي. په دې روایت کښې د انبیاءِ کِرام عَلَیْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام دَ مقامِ خوف [د الله تعالٰی نه د یَرې] بیان هم دې، خو یاد ساتئ! چه دا حضرات معصوم دي او په روایت کښې بیان کړې شوې صورتِ حال به د قیامت په بعضو وختونو کښې وي ګنې هغوئ ته به په مَحشر کښې د هیڅ قِسم تکلیف نه وي بلکه د **الله** تعالٰی په عِنایت به د خلقو شَفاعَت کوي او پخپله به په اوچتو مقاماتو تشریف فرما وي.

مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے ہو مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی
جلا دے نہ مجھ کو کہیں نارِ دوزخ کرم بہرِ شاہِ اُمَم یا الٰہی
تُو عطّار کو بے سبب بخش مولیٰ
کرم کر کرم کر کرم یاالٰہی (وسائلِ بخشش ص ۸۲،۸۳)

زه یریږمه د نارِ دوزخ نه وکړه په ما کمزوري کرم یا اِلٰهي
ما وساته د دوزخ د اور نه په خاطر د شاهِ اُمَم کرم یا اِلٰهي
بې سببه اُوبخښې ته عطّار یا اِلٰهی کرم وکړه کرم، وکړه کرم یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکۍ دعوت ورکول د خاموشئ نه غوره دې

د **ژبې** آفتونه بې شمیره دي او د دې د بچ کیدو بهترینه طریقه هم دا ده چه په ژبه **قُفلِ مدینه** ولګولې شي، یعني بنده دِ د خاموشئ عادت جوړ کړي، البَتَّه څوك چه د ژبې د خطاګانو نه د بچ کیدلو په طریقه پوهیږي او د شریعت د عین تقاضو مطابِق د خبرو کولو قدرت لري د هغه د پاره

www.dawateislami.net

د **نیکئ دعوت** ورکول د خاموشئ نه ډیر زیات افضل عمل دي. لکه څنګه چه د **خَاتَمُ الْمُرسَلِین**، **رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دي: که تاسو **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر** (یعني د نیکئ حکم ورکول او د بَدو نه منع کول) وکړئ نو دا د خاموشئ نه ډیر زیات غوره دي. (شُعَبُ الایمان ج٦ ص٩٢ حدیث ٧٥٧٨)

د ثواب کیدو اُمّید

حضرت سَیِّدُنا ابو الدّرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه نورو ته د نیکئ حکم کووم او پخپله اګرچه هغه کار نه کووم خو بیا هم زه د **الله** تعالٰی نه د اجر راکولو اُمّید لرم. (کنزُ العُمّال ج٣ ص٢٧٠ رقم ٨٤٣٨) **یعني** چه کله مې چا ته د نیکئ حکم ورکړې دې نو زما ثواب شوې دې اګرکه هغه کار زه پخپله نه هم کووم.

د قبر د رڼړا سامان

الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی حضرت سَیِّدُنا موسٰی **کلیمُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي اُوفرمائیله: "**د خیر** [یعني د نیکئ] **خبرې پخپله هم زده کوه او نورو ته ئې هم زده کوه، زه به د خیر** [یعني د نیکئ د خبرو] **د زده کونکو او ښودونکو قبرونه روښانه کووم چه هغوئي ته د هیڅ قِسمه ویره نه وي.**" (حِلیَةُ الاولیاء ج٦ ص٥ رقم ٧٦٢٢)

دَ مُبَلِّغِینو قبرونه به اِنْ شَآءَ الله پړقیږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې روایت نه د نیکئ د خبرې د زده کولو او د ښودلو اجر او ثواب معلوم شو. د **سُنَّتو ډك بیان** کونکو یا درس ورکونکو او د اَوریدونکو خو به مزې شي، اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د هغوئي قبرونه به د دننه نه پړقیږي او هغوئي ته به د هیڅ قسم ویره نه وي. په **اِنفِرادي کوشش** کولو د **نیکئ د دعوت** ورکونکو، د سُنَّتو د تربِیَّت په **مَدَني قافلو** کښې د سفر کونکو او د **فِکرِ مَدِینه** په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** د رسالې هره ورځ د ډکولو ترغِیب ورکونکو او د **سُنَّتو ډکې اجتماع** د دعوت ورکونکو او د **مُبَلِّغینو** د **نیکئ دعوت** اوریدونکو قبرونه به هم اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نور په خاطر نُورٌ علٰی نُور وي.

www.dawateislami.net

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نور کے جلوہ فرما ہوگی جب طَلعَت رسولُ اللہ کی (حدائقِ بخشِش شریف)

شرح کلامِ رضا: اے عاشقانِ رسول! خوشحاله شئ !کله چه د **الله** تعالیٰ محبوب، د عرب تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مومن په قبر کښې د خپل نُوراني ځلیدونکي مبارك مخ نُور ښکاره کړي، نو په قبر کښې به رڼاګانې شي او د قیامته پورې به په قبر کښې د نور چینې ځلیږي.

اندھیرا گھُپ اندھیرا ہے شَبا وَحشت کا ڈیرا ہے
کرم سے قبر میں تم آؤ گے تو روشنی ہوگی (وسائلِ بخشِش ص۲۸۰)

تورې تَیرې مې دي په قبر کښې خورې آقا رڼا به شي که تاسو راشئ او کرم وکړئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مریض پخپله طبیب شو

حضرت سَیِّدُنا ابوبکر شِبلي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ یو ځل بیمار شو.خلقو په **شِفاخانه** کښې داخل کړو. د هغوئي د یو عقیدتمند وزیر **علی بن عیسٰی** په درخواست باندې خلیفۂ بَغداد د شاهي دربار نَصراني (یعني عیسائي) **رئیسُ الاَطِبَّا** (یعني د ډاکټرانو مشر) د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د عِلاج د پاره را ولیږو. هغه په ډیره تَوَجُّه سره د هغوئي علاج وکړو خو څه فائده ونشوه. یوه ورځ **رئیسُ الاَطِبَّا** اُووئیل: **اے شِبلي** (رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ)! که چرې ما ته دا معلومه شي چه زما د بدن په کومه یوه ټکړه کښې ستاسو علاج شته دې نو زه به اسره ونکړم او ستاسو د پاره به خپل هغه اندام پریك کړم. **حضرت** سَیِّدُنا شبلي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائیل: ”زما علاج ستا د یو اندام د کټ کولو په مقابَله کښې په یو ډیر اَسان څیز کښې دې.“ هغه تپوس وکړو: هغه څه څیز دې؟ وئې فرمائیل: ته خپل زُنَّار کټ کړه او اسلام قبول کړه اِنْ شَآءَ اللہ تعالیٰ د خوشحالئ نه به زما مَرَض ختم شي. طبیب فوراً خپل زُنَّار کټ کړو، د کفر نه ئې توبه وکړه، **کلِمَه** ئې اُووئیله او مُسلمان شو، **حضرت** سَیِّدُنا شِبلي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په هُم هغه ساعت جوړ شو او د کټ نه پاڅیدو. خلیفۂ بَغداد ته چه کله دا خبر

www.dawateislami.net

ورسیدو نو هغه حیران شو او وئې وئیل چه ما خو **طَبِیب مَریض** له لیږلې وو، زه څه خبر ووم چه **مریض** مې **طَبِیب** له لیږلې دې. (رُوحُ البَیان ج۲ ص۴۶۱)

دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

زُنَّار څه ته وائي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! یو تار چه هندو د خپلې مرئ او ترَخ نه راتاؤ کړې وي هغې ته زُنَّار یا **جَنِیْو** وائي هم دغه رنګ هغه تار یا زنځیر چه عیسایان، **مجوسیان** (یعني د اور عبادت کونکي) او یهودیان ئې په ملا تړي هغې ته زُنَّار وائي. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دې حکایت نه معلومه شوه چه زمونږ اولیائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام به د نیکئ د دعوت، د مخلوق د هدایت او د اسلام د خورَوَلو ډیر زیات شوق لرلو، د یو غیر مسلمه د اسلام په قبلَوَلو به هغوئي دومره ډیر خوشحالیدل چه د خوشحالئ نه به کله کله د هغوئي خطرناکې بیمارئ لرې شوې.

مجھے تُم ایسی دو ہمّت آقا دوں سب کو نیکی کی دعوت آقا
بنا دو مجھ کو بھی نیک خصلت نبیِّ رَحمت شفیعِ اُمّت (وسائل بخشش ۱۹۱)

ما ته راکړئ داسې هِمَّت آقا چه هر یو ته ورکړم د نیکئ دعوت آقا
جوړ کړئ ما هم نیك خصلت نَبِیِّ رَحمَت شَفِیع اُمَّت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خلیفه سُلیمان په ژړا شو

خلیفۂ دِمَشق سُلَیمان بن عبد المَلِك اُمَوِي ډیر شان و شوکت لرونکې بادشاه وو. هغه یو ځل مشهور **مُحَدِّث** سَیِّدُنا اِمام طاؤس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپل بادشاهي دربار ته را اوبلَلو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه موقع اوموندله او د **نیکئ دعوت** ئې ورته پیش کړو، ورته ئې اُوفرمائیل: **اے اَمِیرُالمُؤمِنِین! آیا**

www.dawateislami.net

تاسو ته معلومه ده چه د ټولو نه زیات عذاب به په چا وي؟ خلیفه اُووئیل: تاسو اُوفرمائې! نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دا حدیثِ پاك ولوستلو: "چا ته چه **الله** تعالٰی په خپل سلطَنَت کښې بادشاهي ورکړه بیا هغه ظُلم وکړو نو هغه کس ته به د قیامَت په ورځ د ټولو نه زیات عذاب ورکولې شي." دا ئې چه واوریدل نو خلیفه د **الله** تعالٰی د یرې نه په لړزان شو او په چغو چغو په ژړا شو تر دې چه په ژړا ژړا په تخت خور وور ځملاستو. د هغه ټولو درباریانو هغه هم په هغه حالت کښې پریښودو او لاړل. (مُسْتَطْرَف ج۱ ص۱۶۹)

د ماتحتو په باره کښې به د ټولو نه تپوس کیږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حکایت نه دا معلومه شوه چه د بیان د تاثیر د پاره څنګه چه د اوریدونکو د پاره د زړه او د دِماغو په توجُّه سره اوریدل ضروري دي هم دغسې د مُبَلِّغ د پاره هم **باعمله** کیدل، د اِخلاص نمونه کیدل او د هر قِسمَه حِرص او ذاتي غرض نه پاك کیدل لازمي دي.کوم ځائ چه دا دواړه څیزونه جمع وي، اِنْ شَآءَ الله تعالٰی هَلته به د بیان ښه اثر کیږي، او که په دې دواړو کښې یو څیز کم وي نو بیا به د بیان فائدې حاصلول ګران وي. د دې **حِکایت** نه دا معلومه شوه چه که **بادشاه** ظُلم کوي نو د اور د عذاب د ټولو نه زیات حقدار به وي.کوم خلق چه اِقتدار غواړي هغوئ په یو حقله خپل ځان پخپله ډیر زیات خطرناك غار ته ټیلوَهي. په دې باره کښې دوه **فرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: (۱) څوك چه د رِعایا ذِمّه دار جوړ کړې شو بیا هغه د رِعایا خیر خواهي ونکړه نو هغه د جَنَّت خوشبو هم نه شي موندلې. (بُخاری ج۴ ص۴۵۶ حدیث ۷۱۵۰) (۲) تاسو ټول **نګهبان** [یعني ساتونکي] ئې او د هر یو نه به د هغه د رِعایا (یعني ماتحتو او محکومو خلقو) په باره کښې تپوس کیږي. څوك چه په خلقو اَمیر جوړ کړې شو هغه **نګهبان** دې، د هغه نه به د هغوئ په باره کښې تپوس کیږي. **سړي** د خپل کور په کسانو باندې **نِګهبان** دې، د هغه نه به د هغه د کور د کسانو په باره کښې تپوس کیږي، زنانه د خپل خاوند د کور او د هغه د اولاد **نګهبانه** ده، هغه به د هغوئ په باره کښې جواب ورکوي، غُلام د خپل آقا د مال **نګهبان** دې، د هغه

نه به د هغې په باره کښې تپوس کیږي، **واورئ! په تاسو کښې هر یو نګهبان دې** او د هر یو نه به د هغه د رِعایا (یعني ماتحتو او محکومو خلقو) په باره کښې تپوس کیږي. (صحیح بُخاری ج۲ ص۱۵۹ حدیث ۲۵۵٤)

په اِقتدار حاصلیدو ژړل

اوس یو **حکایت** واورئ چه د اقتِدار لرونکو د پاره ډیر زیات عبرت ناك دې چنانچه په **تارِیخُ الخُلَفاء** کښې دي: عطاء بِن اَبي رَباح رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د حضرت سَیِّدُنا عُمَر بن عَبدُ العزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بي بي محترمه فاطِمه بنتِ عبدُالمَلِك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْها ما ته اُوفرمائیل چه کله حضرت سَیِّدُنا عُمَر بن عبدُ العزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته خِلافت حواله شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه کور ته راغلو، په مُصَلّٰی کښیناستلو او په ژړا شو او دومره ئې وژړل چه **ګیره مبارَکه ئې په اُوښکولـمده شوه.** ما عرض وکړو: یا اَمِیرَ المُؤمِنین رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه! تاسو وَلې ژاړئ ؟وئې فرمائیل:اے فاطِمه! دَ مسلمانانو نګراني (یعني خیال ساتل) او د هغوئي د فلاح و بهبود (یعني خیر ښیګړې) ټول بوج زما په اُوګو راواچولې شو. زه د بربنډو، وږو، فقیرانو، مریضانو، مظلومانو قیدیانو، مسافرو، ضعیفانو، ماشومانو او بال بچه دارو غرض دا چه په مُصیبَت کښې اَخته د خپلې رعایا د ټولو خلقو د خبر اَخستو او د هغوئي د خیر ښیګړې په باره کښې غور کووم او دا فِکر کووم چه که چرې په هغوئي کښې د یو کس په باره کښې هم **الله** تعالٰی زما نه تپوس وکړي او زه جواب ورنکړې شم نو زما سره به څه کیږي! زه هم په دې فِکر کښې ژاړم. (تارِیخُ الخُلَفاء ص۱۸۹)

د انګور[یعني کوَر] خوړلو نه هم ویره لرل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! افسوس! نن صبا عموماً د اِقتدار په ذریعه مال ومَنال (یعني جائیداد او مال) حاصلولې شي خو د ربِّ ذُوالجلال عَزَّوَجَلَّ د نیکو بندګانو حال داسې نه وي، د **الله** تعالٰی د **یرې** لرلو په وجه هغوئي په داسې موقع په ژړا ژړا بې حاله شي ، دا حضرات یو یو قدم په ډیر احتیاط اخلي او په هره خبره کښې د **الله** تعالٰی ویره لري، چنانچه د حضرت سَیِّدُنا **عَون** بن مُعَمَّر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بیان دې چه یوه ورځ حضرت سَیِّدُنا عُمَر بن عبدُ العزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپلې بي بي

محترمې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهَا ته اُوفرمائیل: فاطِمه! که ستا سره یو دِرهم وي نو را ئې کړه، نن مې کوَر خوړلو ته زړه شوې دې، هغوئي عرض وکړو: زما سره دِرهم کوم دې! آیا تاسو د اَمِیرُالمُؤمِنین کیدو باوجود هم د یو دِرهم حیثِیَّت نه لرئ؟ (هغوئي بې قراره شو او) وئې فرمائیل: **کوَر** نه خوړل د دې نه ډیر اَسان دي چه صبا ما ته د جَهَنَّم زنځیرونه را واچولې شي. (تَارِیخُ الخُلَفَاء ص ٤٧١)

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د اَنګورو [یعني د کوَر] د آخرت د حِساب ویره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **حضرت** سَیِّدُنا عُمَربن عَبدُ العَزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ مرحبا! **کوَر** بیشکه حلال او پاك دي خو د **الله** تعالٰی **نِعمَت** دې او په ورځ د قیامَت د **هر نِعمَت** حساب ورکول دي، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د آخرت د یَرې په سَبَب **کوَر** [یعني انګُور] ونه خوړل. آه! نن مونږ د خوندورو نه خوندور نعمتونه خورو او استعمالوو، او نور د ښو نه ښو نعمتونو په لَټون کښې اُوسو، ښکلي نه ښکلي کور هم ناکافي ګنړو، او د غټې نه غټه بنګله (VILLA) حاصلولو په کوشش کښې اُوسو حالانکه د سیپاره ۳۰ سُوْرَةُ التَّکَاثُر آخرې آیت د **الله** تعالٰی ویره لرونکي بې قراره کوي. چنانچه د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ترجَمې والا پاکیزه قرآن "کنزُ الایمان مع خَزائِنُ الْعِرفان" صفحه ۱۱۱۸ کښې ارشاد شوې دې:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ یَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِیْمِ ﴿۸﴾

(پ۳۰ سُوْرَةُ التَّکَاثُر ۸)

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: بیا بیشکه ضرور په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په حقله تپوس کیږي.

د آیت مبارَکه په تفسیر کښې درې اَحادیث

(۱) عِکرَمه فرمائي: کله چه دا آیتِ مبارَکه نازل شو نو صحابۂ کِرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: **یا رسولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ سره کوم نِعمتونه دي! مونږ ته خو د وربشو ډوډئ او هغه هم په

نیمه خیټه نصیب کیږي! وحي راغله: آیا تاسو **څپلئ** نه په ښپو کوئ؟ **یخي اوبه** نه څښئ؟ دا هم **نعمتونه** دي. (تفسیر دُرِّمَنثور ج۸ ص۶۱۳) (۲) حضرت مولائے کائنات عَلِیُّ الْمُرتضٰی شِیرِ خدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم د ذکر کړې شوي آیت په تفسیر کښې فرمائي: چا چه د غنمو ډوډئ وخوړه او د فُرات یخې اوبه ئې وڅښلې او د استوګنې د پاره ئې کور هم وي، دا هغه **نعمتونه** دي د کومو مُتَعَلِّق به چه سوال کیږي. (اَیضاً ص۶۱۲) (۳) جَلِیلُ القدر تابِعي حضرت سَیِّدُنا اِمام مُجاهِد رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیتِ مبارَکه په باره کښې فرمائي:چه د دې نه د دُنیا هر خوندور څیز مراد دې. (ایضاً ص۶۱۲)

دَ سُوْرَةُ التَّکاثُر د ذِکر کړې شوي آخري آیتِ مبارَکه لاندې صدرُ الاَفاضِل حضرت عَلَّامه مَولانا سَیِّد مُحَمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: کوم [نعمتونه] چه **الله** تعالٰی تاسو ته درکړي دي صحت و فَراغ (یعني خوشحالي) او امن و عیش و مال وغیره چه د هغې نه مو په دُنیا کښې خوند اَخستو، [د هغه ټولو] تپوس به کیږي چه: دا څیزونه مو په کوم کار کښې ولګول؟ د هغې مو څه شکر ادا کړو؟ او په شُکر نه ادا کولو باندې به عذاب ورکولې کیږي.

دوه قِسمه نِعمتونه او د آخرت سوالونه

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه دَ سُوْرَةُ التَّکاثُر د دې ذِکر شوي آخِري آیت مبارَکه په بیان شوي تفسیر کښې دا هم فرمائي: دَ **کَسبي نِعمَت** (یعني په خپل کوشش حاصل شوي نِعمَت مثلاً د مِټائي،خوندورو خوراکونو، یخو شربتونو، ښکلو جامو، دولت او د بادشاهئ وغیره) په باره کښې به **درې تپوسونه** کیږي (۱) د کوم ځائ نه دِ حاصل کړې وو؟ (۲) کوم ځائ دِ خرچ کړو؟ (۳) آیا د دې شکر دِ ادا کړې وو؟ **وَهبي نِعمَت** (یعني د الله تعالٰی د طرف نه عنایت شوې نِعمَت چه په هغې کښې د بنده کوشش داخل نه وي. لکه د سپوږمئ، نمر، لاسو، ښپو، سترګو، غوږونو وغیره) په باره کښې به **دوه سوالونه** کیږي: (۱) کوم ځائ دِ خرچ کړي وو؟ (۲) آیا د دې شُکر دِ ادا کړې وو؟ (نُورُالعِرفان ص۹۶۶)

www.dawateislami.net

آه ! خوندور خوندور خوراکونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي د ډیرې یَرې خبره ده، نن مونږه د خوندور خوندور خوراکونو او نِعمتونو حِرَص کوو خو په قبر کښې د چینجو خوراك جوړیدل او د آخرت په حِساب کښې د نخښتو ویره مو هیره کړي ده. مونږه د ښه نه ښه او خوندور خوراك غواړو او هغه هم ښه تود غواړو، یو خو "خوندور خوراك" پخپله نِعمَت او د هغې تود والې دویم نِعمَت، په ساده چائے مو ګزاره نه کیږي، خالِص د پیؤ چائے غواړو، او هغه هم خوږ او تود غواړو، دغسې زمونږ چائے هم د ډیرو نِعمتونو مجموعه جوړ شي! دغه شان حلوه، پراتې، په قِسم قِسم مټایان، قِسما قِسم تازه میوې، وچې میوې، ښکلـي خوندورې فالودې، یخ او خوږ مزیدار شربت، د بادام او پستې والا د پیؤ شربت، یخې بوتلې، آئیس کریمونه، کوَچ، پیروې، کستړډ [فیرني]،کباب سموسې، تودې تودې پیکوړې، سره کړي مَهیان، د چیلئ سره کړي غوښه، په سکرو پخه شوي د پتون غوښه، د چرګ تیکې، د سیخ تیکې، برګر او نور ډیر څیزونه زمونږه دا لالچي نفس غواړي اَو خوري څښي ئې. اګرچه ذِکر کړې شوي ټول خوراکونه خوړل حلال دي خو د دې او د ټولو نعمتونو به په ورځ د قیامت تپوسونه کیږي. کاش! چه زمونږه د خوراك څښاك شوقین نَفس زمونږ په قابو کښې راشي. کاش چه! زمونږه د ښو ښو نِیَّتونو نه کولو په صورت کښې صرف د مزې او خوند حاصلولو د پاره د خوراك څښاك عادت ختم شي.

د مال خوړلو شوقیان دِ سوچ وکړي

مونږه د یو څو منټو د خوند د پاره د څومره غټې خطرې سره مخامخ کیږو په دې خبره ځان د دې روایت نه د پوهه کولو کوشش وکړئ چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي د ۵۰٤ صفحو کتاب "**مِنهاجُ العابِدین**"صفحه ۱٤۱ کښې **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحَمَّد بن مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه فرمائي: منقول دي چه: "بیشکه د

www.dawateislami.net

ځنکدن سختۍ د دُنیا د خوندونو مطابق دي.“ چا چه زیات خوندونه اَغستي وي په هغه به د ځنکدن تکلیف هم زیات وي. (مِنهاجُ العَابِدِین ص ۹٤)

د ځنکدن د سختو یوه نظاره

د **ځنکدن** د سختو یوه نظاره اُوګورئ چنانچه حضرت عَلَّامه جلالُ الدِّین سُیُوطي شافِعي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: مرګ د دُنیا او آخرت په سختو کښې د ټولو نه زیات سخت دې، مرګ په اَرو د ریبَلو نه، په قینچیانو د پریك کولو نه او د کټوئ د خوټکیدو نه هم زیات سخت دې. که مړې ژوندې شوې وې او د مرګ سختۍ ئې خلقو ته بیان کړي وې نو د هغوئ مزې او خوبونه به ټول ختم شوي وې. (شَرحُ الصُّدُور ص ۳۳)

کاش! کہ میں دنیا میں پیدا نہ ہوا ہوتا — قبر و حشر کا ہر غم ختم ہوگیا ہوتا
جاں کنی کی تکلیفیں ذَبح سے ہیں بڑھ کر کاش! — مرغ بن کے طیبہ میں ذَبح ہوگیا ہوتا
آہ! کثرتِ عصیاں ہائے! خوف دوزخ کا — کاش! اِس جہاں کا میں نہ بَشَر بنا ہوتا

شور اُٹھا یہ محشر میں خُلد میں گیا عطّار
گر نہ وہ بچاتے تو نار میں گیا ہوتا

کاش! چه زه په دُنیا کښې نه وې پیدا شوې
د قبر و حشر هر غم به مې وې ختم شوې

تکلیف د ځنکدن، سخت د حلالې نه دې
چه زه وې یو چرګ، په مدینه کښې وې ذبح شوې

آه! کثرت د ګناهونو هائے! اَو ویره د دوزخ
کاش! چه د دې دُنیا زه، بشر نه وې جوړ شوې

شور جوړ شو په محشر کښې، جنّت ته لاړو عطّار
که نه وې بچ کړې آقا، اور ته به وې داخل شوې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د نِعمت د حساب په باره کښې نهه لړزوُنکي فرامِینِ مصطفٰی ﷺ

د **فاني** خوندونو نه د ځان بچ کولو جَذبه زیاتولو او د دُنیاوي نِعمَتونو په وجه د آخِرت د کیدونکي حساب نه د ځان ویرولو د پاره زړه درزوونکي نهه **فرامِینِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: (۱) کله چه د قیامت ورځ شي نو **الله** تعالٰی به په خپلو بندګانو کښې یو بنده را اوبلي او خپلې مخې ته به ئې ودروي او د هغه نه به د هغه د عزّت او مرتبې په باره کښې داسې تپوس کوي څنګه چه به د هغه د مال په باره کښې تپوس کوي. (المُعْجَمُ الاوسَط ج۱ ص۱٤۰ حدیث ٤٤۸) (۲) بنده چه هر قدم پورته کوي نو په قیامت کښې به د هغه نه تپوس کیږي چه هغه قدم دِ د څه د پاره پورته کړې وو؟ (تاریخ دِمَشق ج٦ ص٥٤) (۳) د قِیامت په ورځ به د بنده نه د ټولو نه مخکښې دا تپوس کیږي چه آیا ما ستا بدن تندرسته نه وو ساتلې؟ آیا ما ته په یخو اوبو نه وې خړوب [یعني موړ] کړې؟ (تا د هغې حقونه ادا کړي دي که نه؟) (المُستَدرک ج٥ ص۱۹۱ حدیث ۷۲۸٥) (٤) مالِك او مَـملوك (یعني غلام)، زوج (یعني خاوند) او زوجه [یعني ښځه] به راوستلې شي بیا به د هغوئ حساب کیږي، تر دې چه سړي ته به اُووئیلې شي چه تا په فلانکۍ فلانکۍ ورځ په خوند اوبه څښلې وې او خاوند ته به اُووئیلې شي چه د فلانکۍ ښځې سره نور کسان هم د نِکاح طلبګار وو خو تا د هغې سره نکاح کول اُوغوښتل نو ما هغه ټول پریښودل او ستا نکاح مې د هغې سره وکړو (آیا تا د دې نِعمتونو حق ادا کړې دې؟) (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج۱۰ ص٦۳۳ حدیث ۱۸۳۹۰) (۵) په قِیامَت کښې به د هر مومِن نه تپوس کیږي تر دې پورې چه د هغه نه به په خپلو سترګو کښې د رانجو اچولو مُتَعَلِّق هم تپوس کیږي. (حِلیَةُ الاولیاء ج۱۰ ص۳۱) (٦) بنده چه کومه خطبه وائي (یعني وعظ او بیان کوي) د دې په باره کښې به هم د هغه نه تپوس کیږي چه د دې نه ستا څه اِراده وه؟ (اَلصَّمت مع موسوعه اِبنِ اَبِی الدُّنیا ج۷ ص۲۹٤ حدیث ٥۱٤) (مُبَلِّغِین و مُقَرِّرِین دِ غور وکړي چه د بیان مقصد د نیکۍ دعوت وو یا د بیان صِفَت او د واه واه غوښتنه یا شُهرَت او دولت حاصلول؟) (۷) کوم کس چه د څه څیز طرف ته بَلنَه کوي د قِیامَت په ورځ به هغه د هغه د دعوت (یعني بَلَنې) سره ودرولې شي، اګر که یو کس ته ئې دعوت ورکړې وو! (اِبنِ ماجه ج۱ ص۱۳۷ حدیث ۲۰۸) (په دې روایت کښې د اِخلاص طرف ته اِشاره ده مثلاً د نیکۍ دعوت دِ صرف د الله تعالٰی د رضا د پاره ورکړې وو یا څه بل مَقصد دِ وو! اِنفرادي

www.dawateislami.net

کوشش کونکي مُبَلِّغِین دِ هم غور وکړي) (۸) قَسم مې دِ وي په هغه ذات د چا په قبضۀ قدرت کښې چه زما ساه ده، ستاسو نه به چه د کوم یو نِعمَت په باره کښې د قیامت په ورځ تپوس کیږي هغه یخ سورې او ښې کجورې او یخې اوبه دي. (ترمذی ج٤ ص ١٦٣ حدیث٢٣٧٦) (٩) په قیامَت کښې به هر مالدار او فقیر آرزو [ارمان] کوي چه کاش! په دُنیا کښې د هغه سره صِرف **قُوت** وي (ابنِ ماجه ج٤ ص ٤٤٢ حدیث ٤١٤٠) (**قُوت** یعني صرف دومره خوراك راسره وي چه ژوندې پرې پاتې شوې وي او نور هیڅ نه)

د زیات مال مصیبت هم زیات

(١)حضرت سَیِّدُنا عَبدُ الله بن عَمِیره رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: څومره چه مال زیات وي هغه هُمره به حِساب هم زیات وي. (اَلْبُدُورُ السَّافِرة فِي أُمورِ الآخرة ص ٢٦٤) (٢) حضرت سَیِّدُنا ابوذر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائیلي دي: په قِیامَت کښې به د یو دِرهَم والا په مقابَله کښې د دوو دِرهَمو والا حساب زیات سخت وي. (الزُّهد للامام احمد بن حنبل ص ١٧٠ حدیث ٧٩٧) (٣) **جَلیلُ القدر** تابِعي سَیِّدُنا مُعاوِیَه بن قُرَّه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائیلي دي: په قیامَت کښې به د ټولو نه سخت حِساب د تَندُرست فارِغُ البَال (یعني د ښه حالت والا) کس وي. (تاریخ مَدینه دِمَشق ج٥٩ ص ٢٧١)

صدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے (حدائق بخشش)

شرحِ کلامِ رضا: زما آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې شعر کښې د الله تعالیٰ په بارګاه کښې عرض کوي: یا الله عَزَّوَجَلَّ د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شرم و حیا په وسیله! ما په مَحشر کښې بې حِسابه اُوبخښې، زه خو په خپلو ګناهونو باندې د مخکښې نه شرمِنده یم، زما د اعمالو د حساب په اخستو ما نور مه شرمِنده کوه.

امتحاں کے کہاں قابل ہوں پیارے اللہ
بے سبب بخش دے مولیٰ ترا کیا جاتا ہے (وسائل بخشش ١٢٦)

www.dawateislami.net

د اِمتِحان کله قابل یم زما خوږه الله
هسې مې اُوبخښه مولٰی ستا در کښې څه کمې دې
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دولسو کالو پورې حساب و کِتاب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د آخِرَت د حساب مُعامَله ډیره سخته ده. د عِبرت د پاره یو **حِکایت** وړاندې کیږي. واورئ او په زړه کښې اِحساس پیدا کړئ چنانچه حضرت سَیِّدُنا **عَبدُاللّٰہ بن عَمرو بن عاص** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي چه: د اَمِیرُالمُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د وَفات نه پس ما ته د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د آخِرت د مُعامَلاتو د عِلم حاصلولو ډیر زیات خواهش وو.

یوه ورځ ما په خوب کښې یو محل ولیدو نو تپوس مې وکړو چه: دا د چا دې؟ فرښتې اُووئیل: "د حضرت عُمَر بن خَطَّاب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ." په دې کښې حضرت سَیِّدُناعُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د محل نه بهر ته په داسې حال کښې تشریف راوړو چه هغوئي په ځان یو څادر اچولې وو، داسې معلومیده لکه چه اوس اوس ئې غسل کړې وي. ما عرض وکړو: **مَا فَعَلَ اللّٰہُ بِكَ؟** [یعني] **اللّٰہ** تعالٰی ستاسو سره څه مُعامَله اُوفرمائیله؟ جواب ئې راکړو: ښه مُعامَله ئې اُوفرمائیله. بیا ئې زما نه تپوس وکړو: زه چه ستاسو نه جدا شوې یم نو څومره موده وشوه؟ ما عرض وکړو: دولس کاله. وئې فرمائیل: زه اوس د حساب کتاب نه فارغ شوم. (تَاریخ مَدینه دِمَشق لِابنِ عساکر ج٤٤ ص٤٨٣)

دَ اللّٰہ تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حِسابَه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہ حجاز کا

بې حِسابه مې بخشش کړې، یم ګنهګار په خاطر د مدینې د خوږ سرکار

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

په صحابه کښې د ټولو نه د مالدار صحابي د قیامت د حساب احوال

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د عدل و اِنصاف د پیکر، د پرهیزګارو د اَفسر، د مُتَّقیانو د رَهبر حضرت سَیِّدُنا عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دا حکایت مونږ ته ډیر درس راکوي. د عشرۀ مُبَشَّره روښانه ستورې حضرت سَیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه هغوئي په صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کښې د ټولو نه زیات مالدار وو، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ټول مال یقیناً حلال وو او د مال زیات والې د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پاره د غافِله کیدو په مُقابَله کښې د **الله** تعالٰی د یَرې سبب جوړ شوې وو. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قِیامَت د حساب حِکایت هم د عبرت نه ډك دې. واورئ، چنانچه یو ځل سرکارِ عالی وَقار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان خوا ته تشریف راوړو او وئې فرمائیل: "اے د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) اصحابو! نن شپه **الله** تعالٰی په جَنَّت کښې ستاسو مکانونه او منزلونه او زما د مکان نه د چا مکان څومره لرې دې، دا ټول ما ته اوښودل." بیا خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د جَلیلُ القدر صحابه کرامو منزلونه د جُدا جُدا بیانولو نه پس حضرت عبدُ الرَّحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته اُوفرمائیل: "اے عبدُ الرَّحمٰن (ما ولیدل) چه ته زما نه ډیر لرې شوې تر دې چه ما ته ستا د هلاکت ویره پیدا شوه، بیا لږ ساعت پس ته په خولو چقړ [یعني لُوند] ما ته را ورسیدې نو زما په تپوس کولو تا اُووئیل: "زه د حساب د پاره حصار کړې شوم، د هغې نه پس زما نه تپوس کول شروع شو چه مال دِ کوم ځائ ګټلې وو او کوم ځائ دِ خرچ کړو؟" راوي وائي: حضرت عبدُ الرحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه دا واوریدل نو په ژړا شو او عرض ئې وکړو: **یا رَسولَ الله!** دا سل اُوښان کوم چه نن شپه د مصر نه د تجارت د مال سره راغلي دي، تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګواه جوړووم او دا د مدینې مُنَوَّرې په غریبانانو او یتیمانو صدقه کووم. (تارِیخ دِمَشق ج۳۵ ص۲٦٦)

حضرت سَیِّدُنا عبدُ الرحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د **اُمُّ المُؤمِنین** حضرت سَیِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا په خدمت کښې عرض وکړو: زه یَرِیږم چه د مال زیاتوالې چرې (په آخرت کښې) ما په هلاکت کښې وا نه چوي! هغوئي اُوفرمائیل: خپل مال د **الله** تعالٰی په لار کښې خرچ کوه. (الاستیعاب فی معرفة الاصحاب ج۲ ص۳۸۹)

www.dawateislami.net

د مالدارانو د پاره د فِکر مُقام

خورو خورو اسلامي ورونړو! یقیني طور قطعي د حلال مال لرونکي او خپل حلال مال په دواړو لاسو د **الله** تعالیٰ په لار کښې د خرچ کونکي [سَیِّدُنا عبدُ الرحمٰن بن عوف رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ]دې لړزوونکي حِکایت باندې مالدارانو ته سوچ او فِکر کول او د قیامت د سختو او خوفناکو احوالو نه یَریدل پکار دي کوم خلق چه صرف د دُنیاوي حِرص په سَبَب مال جمع کوي، او د دې مال د پاره در په در ګرځي او د مال زیاتولو نظام د بهتر نه بهترین جوړوَلو په کوشش کښې وي، هغوئي ته په خپل دې طرزِ عمل باندې غور کول پکار دي او کوم صورت چه د دُنیا او آخِرت دواړو د پاره غوره وي هغه اختیاروَل پکار دي.

د مال و دولت ښه ښه نِیَّتونه

حلال مال جمع کول په خپل ځائ مُباح دي (یعني نه ثواب نه ګناه).که چرې یو د نیتونو علم لرونکې د دې **ښه ښه نیتونه** وکړي نو اګر که هغه د حلال مال په ذریعه ارب پتي جوړ شي د هغه مال د هغه د آخِرت د پاره نقصان ورکونکې نه دې. خو **یاد ساتئ!** رَسمي طور صرف په ژبه باندې دَ نِیَّت الفاظ ادا کول نِیَّت نه دې: نِیَّت د زړه پخې اِرادې ته وائي یعني چه کوم نِیَّت کوي هغه د هغه په زړه کښې داسې موجود وي چه زه به 100 فیصده هم دغسې کووم. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحَمَّد بن مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مال و دولت په باره کښې د نِیَّت رغبت ورکولو کښې فرمائي چه: په مال اغستو، پریښودو، خرچ کولو، او ځان سره ساتلو [جمع کولو] کښې صحیح نِیَّت پکار دې. مال دِ د دې د پاره حاصلوي چه [د دې مال په ذریعه] په **عِبادَت** مدد حاصل شي، او که مال پریږدي نو د زُهد (یعني د دُنیا نه د بے رغبتئ) په نِیَّت دِ هغه حقیر [سپك] ګنړي او پریږدي. چه دا طریقه اِختیار کړي نو د مال موجود کیدل به هغه ته نقصان نه رَسَوي. ځکه **اَمِیرُالمُؤمِنین** حضرت مولائے کائنات، **عَلِیُّ المُرتَضٰی** شیرِخدا کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم فرمائیلي دي: ”که څوك د ټولې زمکې مال حاصل کړي او د هغه اِراده د **الله** تعالیٰ رضا حاصلول

www.dawateislami.net

وي نو هغه **زاهِد** (یعني د دُنیا نه بے رغبته) دې او که ټول مال پریږدي خو د **الله** تعالیٰ رضا ئې مَقصد نه وي نو هغه **زاهِد** نه دې.“ پس ستاسو ټول حَرَکات و سَکَنات دِ د **الله** تعالیٰ د پاره وي، او د **عِبادَت** نه بهَر دِ نه وي او یا دِ د عبادت د پاره مددګار وي. کوم څیزونه چه د عبادت نه زیات لرې دي هغه طعام خوړل او قضائے حاجت (یعني غټ یا واړه بَول کول) دي، خو دا دواړه هم د عبادت د پاره مددګار دي هله چه په دې کارونو کښې ستا مقصد دا وي یعني [چه په دې کارونو کښې] د عبادت د پاره د طاقت حاصلولو او د زړه د توجُّه حاصلولو **نِیَّت** وي نو دا کارونه به هم ستاسو په حق کښې **عبادت** شي. هم دغه رنګ کوم څیزونه چه ستاسو حِفاظت کوي مثلاً قمیص، اِزار (یعني پرتوګ یا پاجامه) بِستره او لوښي وغیره نو په دې ټولو کښې هم **ښه نِیَّتونه** پکار دي ځکه چه د دِین په سلسله کښې د دې ټولو څیزونو ضرورت وي او کوم څیزونه چه د ضرورت نه زیات وي په هغې د **الله** تعالیٰ بندګانو ته د فائدې رَسَوَلو نِیَّت پکار دې او کله چه یو کس ته د دې ضرورت وي نو اِنکار دِ نه کوي څوك چه داسې عمل کوي هغه د مال د مار (دلته مال ته د مار مثال ورکړې شوې دې) نه (د هغه فائِده منده حِصّه یعني) جوهر او تریاق (یعني د زهرو دارو چه د زهرو اثر ختموي) هم واخستل او(پخپله د مار) د زهرو نه محفوظه پاتې شو، داسې کس ته د مال زیات والې نقصان نه رسوي خو دا کار صرف هغه کس کولې شي چه د هغه قدمونه په دین مَضبوط وي او د هغه سره ډیر عِلمِ دِین وي. امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لږ مخکښې د مال و دولت نه د بچ کیدو نصیحت کوي او فرمائي: څنګه چه د یو نابینا [ړانده] کس د **بِینا** (یعني د سترګو والا) کس په شان د غرونو سرونو او د دریابونو غاړو ته رسیدل او د ازغو په لاره تلل مُمکِن نه دي، هم دغه شان د عام کس د پاره د مال و دولت د آفتونو نه بچ کیدل هم مُمکِن نه دي. (احیاءُ العلوم ج۳ ص۳۲۵) مال و دولت پرهیزګاره او زیات علم لرونکې که غواړي نو اغستې شي ځکه چه هغه دا د شریعت مطابق حاصلولې او د شریعت مطابق استعمالولې شي او د مال د آفتونو نه ځان ساتلې شي.

www.dawateislami.net

زخمي زړه لرونکي بُزرګ

حُجَّةُالاسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد مُحَمَّد بِن مُحَمَّد بن مُحَمَّد غزالي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: یو بُزرګ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ژړل، د خلقو پرې زړه وسوزیدو او خوا ته ئې را جمع شو او ورته ئې اُووئیل: **الله** تعالٰی دِ په تاسو رحم وکړي. څه مَسئله ده، وَلې ژاړئ؟ وئې **فرمائیل**: زما په زړه کښې یو زخم دې او هغه زخم (د الله تعالٰی) ویره لرونکي په خپلو زړونو کښې لري، خلقو عرض وکړو: هغه زخم څنګه وي؟ وئې فرمائیل: د هغه پیش کیدو د یَرې زَخم دې کله چه به د قیامَت په ورځ د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې د حساب کتاب د پاره د پیش کیدلو اعلان کیږي. (اِحیاءُ العلوم ج٤ ص٢٣٠)

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عیب دنیا میں تُو نے چُھپائے
حَشر میں بھی نہ اب آنچ آئے
آہ! نامہ مرا کھل رہا ہے
یا خدا تجھ سے میری دعا ہے (وسائلِ بخشش ص١٣٤)

زما عیب تا پټ کړي په دنیا کښې — هم ئې پټ کړې ته په ورځ د فنا کښې
آه! نا مۀ اعمال مې بیرته کیږي — اے الله ستا نه زما دا دُعا ده

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

نَفرت په مَحَبَّت کښې بدل شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د معلوماتو زیاتولو، صحیح اسلامي عقیدې په ذهن کښې د ساتلو، شیطان لرې زغلَوَلو، د ایمانیاتو په باره کښې راتلونکو وَسوَسو نه د ځان خلاصَوَلو، د غفلت د خوب نه د رابیداریدلو، د روحاني خوند د موندلو او د خپل ځان نه باعمله مسلمان جوړوَلو د پاره د تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریک **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره

www.dawateislami.net

هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ او خپل دا مَدَني مقصد چه " ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي" د حاصلولو د پاره د خپل ایمان د حفاظت د پاره فکرمند اوسئ، د **لـمونځونو** پابندي جاري ساتئ، په **سُنَّتو** عمل کوئ، د **مَدَني انعاماتو** مطابق ژوند تیروئ او په دې باندې د اِستِقامَت حاصلولو د پاره هره ورځ د "**فِکرِ مدینه**" په ذریعه د مدني انعاماتو رساله ډکوئ او د هرې میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپلې علاقې د دعوتِ اسلامي ذِمَّه دار ته جمع کوئ او په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو دَ تربِیَّت په **مَدَني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلې** واورووم، د **چیچه وَطنی** (ضلع ساهیوال، پاکستان) یو اسلامي ورور د غفلتونو په تِیارو کښې تیر شوي د خپل ژوند د وختونو په باره کښې څه داسې بیان کوي: زما ژوند په غفلت کښې تیریدو، زما د ژوند په خزان وهلي باغ کښې د رهنمائې او هدایت د سپرلي هوا د **دعوتِ اسلامي** د یو عاشقِ رسول د صحبت په برکت ولګیده، د هغوئ **اِنفِرادي کوشش** زه دعوتِ اسلامي ته ډیر نزدې کړم، او ما د مدني ماحول سره تړون وکړو، کله چه زه په اول ځل د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې شریك شوم نو ما د اول نه تر آخِره پورې د بیان اوریدلو سعادت حاصِل کړو، دا هر څه ماته ډیر ښه ښکاره شو خو چه کله په اِجتماع کښې ټولو اسلامي ورونړو په یو آواز دیوانه وار ذِکْرُالله کښې مصروف شو نو ما ته بې اختیاره خندا راغله چه دا خلق څه د لیونو په شان شروع شو! (اَلعِیَاذُبِاللّٰه). زه په داسې بیوقوفانه وسوسو کښې مشغول ووم چه یو دَم د روحانِیَّت یوه داسې چپه راغله چه زه پخپله هم په ذِکْرُالله کښې مشغول شوم او داسې مَست شوم چه د خوا و شا نه بې خبره شوم، او په زړه کښې ئې عجیبه مزه او خوند راکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې ذِکر و دُعا په بَرَکت زما په طبیعت کښې سنجیدګي [قلاري] راغله او د تیرو شوو ګناهونو نه مې توبه وکړه او د صلٰوة و سُنّت په لار روان شوم، ما ګیره مبارَکه پریښوده او د شنې شنې عِمامې تاج مې په سر کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې راته د اِجتماعي اِعتِکاف د برکتونو حاصلولو سعادت هم حاصل شو، اوس زما والِدِ مُحتَرَم هم ګیره پریښودې ده او

www.dawateislami.net

د کور ټول کسان په سلسلۀ عالیه قادِرِیَّه رَضَوِیَّه کښې داخل شوي دي، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې لیك د وخته پورې زه د **مَدَني اِنعاماتو** د خادِم په حیثیت د مَدَني کارونو کولو سعادَت حاصلووم.

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کردیا دیکھو
اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کردیا دیکھو

هم دې ماحول ډیر ادنیٰ، جوړ اعلیٰ کړلو ګورئ
تِیارې تِیارې وې هر طرف ئې په رڼا کړلو ګورئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د یو نیك بنده په وجه د ګاونډ د سلو کورونو نه مُصیبتونه لرې کیږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا خبره همیشه یاده لرئ! که تاسو د مذهبي حُلیے [انداز] والا [یعني ګیره، جامې وغیره د سُنَّتو مطابق لرونکي] ئې نو سنجیده اوسئ او ښه خوش اخلاقه جوړ شئ، ستاسو مَنصَب داسې دې چه ستاسو یو مُسکا د چا د رارَوانو نَسلونو تقدیر بدلولې شي، او د چا نه یو ځل مخ اړول یا د چا رټل د هغه د راروانو نسلونو مَعَاذَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ګمراهئ کندې ته د غورزَوَلو سبب جوړیدې شي، لهٰذا همیشه د هر یو ملاقاتي سره په **نرمئ** نرمئ او صرف په نرمئ ملاقات کوئ او هغوئ ته د **نیکئ په دعوت** ورکولو کښې سُستي مه کوئ، کیدې شي چه ستاسو په یو کس **اِنفِرادي کوشش** د چا د خاندان د اِصلاح باعِث جوړ شي! څنګه چه تاسو اوس په **مَدَني سپرلي** کښې واوریدل چه کله په یو کس باندې اِنفِرادي کوشش کامیاب شو نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ټول کور ته د هغې برکتونه ورسیدل، د ښو خلقو د برکتونو به څه وائې! د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د 853 صفحو کتاب "**جَهَنَّم میں لے جانے والے اعمال**" جلد اوَّل صفحه ۸۰۹ کښې دي: د ټولو نَبیانو تاجوَر صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **اللّٰه** تعالٰی د نیك مسلمان په وجه د هغه د ګاونډ د سلو کورونو نه مُصیبت لرې کوي، بیا هغوئ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیتِ مبارَکه تلاوت کړو:

www.dawateislami.net

وَ لَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ (پ۲. البقرة:۲۵۱)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او که الله په خلقو کښې بعضې په بعضو دفع نه کړي نو ضرور به زمکه تباه شي.

(اَلْمُعجمُ الاَوسط لِلطَّبرانی ج۳ ص۱۲۹ حدیث۴۰۸)

تونیکوں کا فیضان مولٰی عطا کر معاف فضل سے میری ہر اک خطا کر

ته د نیکانو برکتونه را عطا کړې مولٰی معاف په فضل زما هره یوه خطا کړې مولٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

درې مَدَني فیسونه

د الله والۏ د **نیکئ د دعوت** ورکولو انداز هم عجیبه وي. په دې باره کښې یو ایمان تازه کوونکې حکایت واورئ او عبرت حاصل کړئ: حضرتِ سَیِّدُنا حاتِمِ اَصَمّ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته یو مالدار کس د طعام دعوت ورکړو، هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه انکار وکړو خو هغه کس نه منله او ډیره زاري ئې وکړه نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ورته اُوفرمائیل چه: که ته زما دا **درې شرطونه** اُومنې نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی دربه شم: **(۱)** زه چه کوم ځائ غواړم کښینم به **(۲)** چه څه غواړم هغه به خورم **(۳)** چه څه وایم هغه به کوې، هغه مالدار کس هغه درې واړه شرطونه اُومنل. د وَلِیُّ الله د زیارت [یعني لیدلو] د پاره ډیر خلق راجمع شو. د ډیر غټ طعام بندوبست شوې وو. په ټاکلي وخت **حضرت** سَیِّدُنا حاتِم اَصَمّ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هم تشریف راوړو او کوم ځائ چه د خلقو **څپلئ** پرتې وې هلته کښیناستلو. ولې چه شرط وو "**چه کوم ځائ غواړم کښینم به.**" لِهٰذا کوربه هیڅ ونه وئیل. کله چه طعام شروع شو نو خلقو د چرګانو غوښې خوړل شروع کړل خو وَلِیُّ الله رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپلې ځولئ ته لاس کړو او **وچه ډوډئ** ئې را اُووِیستله او خوړل ئې شروع کړه. کله چه د طعام سِلسِله خَتمه شوه نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه کوربه ته اُوفرمائیل: "نغرې راوړه او تبخې پرې کیږده،" د حکم تعمیل وکړې شو، چه کله په اور د پاسه تبخې سور انګار شو نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په هغې ښې اَبله ښې ودریدلو! خلق ډیر زیات حیران شو!! هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل: "**ما د نن په**

www.dawateislami.net

خوراك کښې وچه ډوډئ خوړلي ده." دا ئې اُووئیل او د تبخـي نه راکوز شو او حاضرو خلقو ته ئې اُوفرمائیل: اوس تاسو هم وار په وار په دې **تبخـي** ودریږئ او څه مو چه خوړلي دي د هغې حساب ورکړئ. دا ئې چه واوریدل نو خلق په چغو سر شو او ټولو په یو آواز اُووئیل:"یا سَیِّدی! تاسو رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خو د **الله وَلي** ئې او دا ستاسو **کَرَامت** دې، چرته دا **تَك سُور تبخي** او چرته زمونږه دا نازکې ښېې! مونږه خو ګنهګار دُنیا دار خلق یو." هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اُوفرمائیل: **اے خلقو!** هغه وخت یاد کړئ چه په کومه ورځ به د نمر سترګه صرف پاؤ باندې یو میل لرې وي، اوس د نمر سترګه زمونږ نه په کروړونو میلونو لرې ده او د هغې زمونږ طرف ته شا ده او په هغه ورځ به د نمر د سترګې مخ زمونږ طرف ته وي، زمکه به د تانبې وي، په هغه سره شوې زمکه غور وکړئ او بیا دې تود تبخـي ته سوچ وکړئ! دا تبخې خو د دُنیا په اور تود کړې شوې دې. قَسَم په خدائے جَلَّ جَلَالُہٗ! د دې تود والې د قیامَت د میدان د اور د زمکې په مقابله کښې هیڅ هم نه دې، د هغه اور په زمکه باندې به ضرور ودریږئ ، د سیپاره ۳۰ سُوْرَۃُ التَّکَاثُر په آخري آیت کښې رَبُّ العِباد جَلَّ جَلَالُہٗ ارشاد فرمائي:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ یَوْمَىٕذٍ عَنِ النَّعِیْمِ ﴿۸﴾ (پ۳۰ سُوْرَۃُ التَّکَاثُر ۸)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیا بیشکه ضرور په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په حقله تپوس کیږي.

چه تاسو په دې دُنیاوي ګرم تبخـي د یو وخت د خوراك د حساب ورکولو د پاره نه شئ ودریدلې نو صبا د قیامت په ورځ به په تاسو کښې کوم یو داسې کَرامَت راپیدا شي چه په هغه سره توده زمکه به ودریږئ او د ټول ژوند د نعمتونو حساب به ورکړئ! دا غمژن بیان ئې چه واوریدو نو خلقو په چغو چغو وژړل او د خپلو ګناهونو نه ئې توبه کول شروع کړل. (تَذکِرۃُ الاولیاء الجزء الاول ص۲۲۲)

یا الٰہی! جب حسابِ خندۂ بے جا رُلائے
چشمِ گریانِ شفیع مُرتجیٰ کا ساتھ ہو

www.dawateislami.net

یا الٰہی! جب بہیں آنکھیں حسابِ جُرم میں
اُن تبسُّم رَیز ہونٹوں کی دعا کا ساتھ ہو (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: د "حدائق بخشش شریف" د مناجاتو په دې ذکر کړې شوي **دویم شعر** کښې دا عرض شوې دې: **یا الله** په ورځ د مَحشر چه زما د نافرمانو حساب ما وَیَروي او د سترګو نه مې اوښکې روانې وي، اے کاش! په هغه وخت کښې د بې قراره زړونو د قرار، د دواړو د جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُسکا نه د ډکو مبارکو شونډو دُعا زما سره ملګري شي. په **اولنې شعر** کښې ئې عرض کړې دې: **یا الله** کله چه د قیامت په ورځ زما د فضولو خنداګانو حساب ما وژړوي! کاش! په هغه وَخت کښې د شفاعتِ کُبریٰ تاج په سرکولو والا **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د چا په لور چه اُمّیدونه تړلې شوي دي هغوئ تشریف راوړي او زما شفاعت وکړي. یارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!

ہائے! پھر خندۂ بے جا مِرے لب پر آیا
ہائے! پھر بھول گیا راتوں کا رونا تیرا (ذوقِ نعت)

هائے! بیا مې راغله بې ځایه په شونډو خندا هائے! بیا مې هیره کړه په شپو کښې هغه ستا ژړا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د محشر خوفناکه منظر کشي

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! تاسو ولیدل! وَلِیِّ کامِل **حضرت** سَیِّدُنا حاتِم اَصَمّ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ څنګه په عجیبه انداز کښې د آخِرت د حساب په باره کښې د "**نیکئ دعوت**" ورکړو! واقعي د حَشْرو نَشْر معامَلات ډیر تشویشناك [یعني په خفګان کښې اچوونکي] دي، د دې نقشه **حُجَّۃُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په **کیمیائے سعادت** کښې داسې پیش کړې ده: د مرګ نه پس به (انسان) داسې بدبودار او مُردار شي چه د هغه په لیدلو به خلق پوزې بندې کړي او هغه به په قبر کښې د چینجو خوراك جوړ شي او بیا به په قلاره قلاره خاورې شي چه هغه بالکل حقیر [یعني سپك] او ذلیله څیز دې البته که هغه د مرګ نه پس د څناورو په شان صرف خاوري پروت وې نو هم غنیمت به وو خو افسوس چه داسې به نه کیږي

www.dawateislami.net

او دا صرف د خاورې کیدَلو نِعمَت به هغه ته نه نصیب کیږي بلکه د قیامَت په ورځ به هغه د قبر نه راپاڅولې شي، د هَیبَت او د یَرې په مقام کښې به ودروَلې شي، هغه وخت به هغه آسمانونو ته ګوري چه هغه شلیدلي دي، ستوري راغورزیدلي پراته دي، د نمر سترګه او سپوږمئ بې نُوره شوي دي او غرونه د مالوچو د پاغوندو په شان خواره واره پراته دي،زمکه بدله شوي ده،د دوزخ فرښتې زندئ [یعني رسئ] راغورزَوي، دوزخ ګړزیږي، فرښتې د هر یو په لاس کښې **اعمال نامه** ورکوي، په ټول عُمر کښې ئې چه کوم د بَدئ کارونه کړي وي هغه به وِیني. هر یو به د خپلو خپلو ګناهونو په لوستلو پریشانه کیږي او ورته به وئیل شي چه راشه او جواب ورکړه چه تا داسې وَلې کړي وو؟ داسې دِ ولې وئیلي وو؟ ولې ناست او ولې ولاړ وې، ولې دِ کتلي وو او وَلې دِ سوچ کړې وو؟ که **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ جواب ورنکړې شي نو دوزخ ته به غوزار کړې شي! هغه وخت به وائي: کاش! چه زه خِنزیر یا سپې پیدا کړې شوې وې نو خاورې شوې به وې ځکه چه هغه (ځناوران) د عذاب نه محفوظ او آزاد دي. پس کوم کس چه (د بې عَمَله کیدو په وجه) د خِنزیر او سپي نه بدتر وي هغه سره **تَکَبُّر** او **فَخر** کول چرې ښائي! (کیمیائے سعادت ج۲ ص ۷۱۷)

یادرکھ ہر آن آخر موت ہے مت تو بن انجان آخر موت ہے
پیشتر مرنے کے کرنا چاہئے موت کا سامان آخر موت ہے
بارہا علمی تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخر موت ہے

هر وَخت یاد ساته آخِر دِ مرګ دې مه جوړیږه بې پروا آخِر دِ مرګ دې
پکار دې نیك عمل مخکښې له مرګه چه دِ شي د مرګ توښه آخِر دِ مرګ دې
څو ځله مې پوهه کړې ته اے عِلمیؔ که منې او که نه آخِر دِ مرګ دې

نه پیدا کیدل قابِلِ رشك دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس خو مونږ پیدا شوي یو، بیرته تلل نامُمکن دي، کوم چه دُنیا ته لا نه دي راغلي د هغوئ انتظارکونکو یعني بې اولادو لره د غور مقام دې چه په اِنتظار کښې

www.dawateislami.net

د هغوئي څه نِیَّت دي! د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري مَکْتَبَۃُالْمَدِینه د ٤٩٦ صفحو چاپ شوي کتاب "*کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب*" کښې صفحه ۵ او ٦ کښې ورکړې شوې مضمون ډېر عبرت ناك دې چنانچه لیکلي شوي دي: نن چه څوك په دې دُنیا کښې بې اولاده دي هغه عموماً ډېر زړه خوري او د ماشوم د پیدا کیدو د پاره د هر قِسمه کوششونه کوي.که د هغه اَصل مَقصد صرف د کور ښائست او د دُنیا مزې وي او په اولاد حاصلولو کښې ئې د آخرت د فائِدې بالکل یو ښه نِیَّت هم نه وي، نو داسې بې اولاده بنده لکه چه په ناپوهۍ کښې د "**یو کس**" په دُنیا کښې د پیدا کیدو او بیا د هغه په ډېر غټ امتحان کښې د اخته کیدو خواهش کوي! زما په دې خبره شاید هغه کس پوهیدې شي څوك چه د "**بدې خاتمې په ویره**" کښې اخته وي. د یو ویره لرونکي بُزُرگ حضرت سَیِّدُنا فُضَیل بن عَیاض رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د فرمان خلاصه ده: **زه د غټو نه غټ نیك بنده** [په قِسمَت] **باندې هم رشك نه کووم** [یعني د هغه قِسمَت د ځان د پاره نه غواړم] **ځکه چه هغه به د قیامت سختۍ وِیني، زه په هغه رشك کووم چه هغه "هیڅ هم" نه وي.** (یعني هډو پیدا شوې نه وي) (حِلیَۃُالاولیاء ج۸ ص ۹۳ رقم ٤١٧٠ مُلَخَّصاً) **اَمِیرُالمُؤمِنین** حضرت سَیِّدُنا **فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ **د یَرې د غَلبې** په وخت کښې اُوفرمائیل: کاش! چه زه د موره هډو پیدا شوې نه وې! (اَلطَّبَقَاتُ الْکُبْرٰی لِابنِ سعد ج۳ ص ۲۷٤)

د اللّٰه تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کاش! چه زه په دُنیا کښې نه وې پیدا شوې

(د ځنکدن سختې، د قبر ویره، د محشر سختۍ او د جهنّم خوفناکې کندې په تَصَوُّر کښې راولۍ او د اللّٰه تعالٰی د یرې نه په لړزان لړزان او په ژړا ژړا دا کلام ولولۍ)

کاش! کہ میں دُنیا میں پیدا نہ ہوا ہوتا
قبر و حشر کا ہر غم ختم ہوگیا ہوتا
آہ! سَلْبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے
کاش! میری ماں نے ہی مجھ کو نہ جنا ہوتا
آکے نہ پھنسا ہوتا میں بطورِ انساں کاش!
کاش! میں مدینے کا اُونٹ بن گیا ہوتا
دو جہاں کی فکروں سے یوں نَجات مل جاتی
میں مدینے کا سچ مچ کتا بن گیا ہوتا

www.dawateislami.net

کاش! ایسا ہوجاتا خاک بن کے طیبہ کی
مصطفٰے کے قدموں سے میں لپٹ گیا ہوتا
میں بجائے انساں کے کوئی پودا ہوتا یا
نخل بن کے طیبہ کے باغ میں کھڑا ہوتا
گلشنِ مدینہ کا کاش! ہوتا میں سبزہ یا
بطورِ تنکا ہی میں وہاں پڑا ہوتا
جاں کنی کی تکلیفیں ذبح سے ہیں بڑھ کر
کاش! مُرغ بن کے طیبہ میں ذبح ہوگیا ہوتا

شور اُٹھا یہ محشر میں خُلد میں گیا عطّار
گر نہ وہ بچاتے تو نار میں گیا ہوتا

کاش! چه زه په دُنیا کښې نه وې پیدا شوې
د قبر و حشر هر غم به وې ختم شوې
آه! د بدې خاتِمې، یَرې وخوړمه زه
کاش! چه زه د موره، نه وې پیدا شوې
کاش! چه نه وې راغلې زه، په طور د انسان
کاش! زه د مدینې، یو اُوښ وې جوړ شوې
د دواړو جهانو، د فِکر نه به وې آزاد
کاش! زه د مدینې، یو سپې وې جوړ شوې
کاش! چه زه وې خاورې، د خوږې مدینې
او د مُصطفٰی په ښکلو ښپو وې قربان شوې
کاش! چه د انسان په ځائ وې زه یو بوټې
یا د طیبه په باغ کښې، وَنه وې جوړ شوې
کاش! چه وې گیا زه! د گلشنِ مدینه
یا یو ډکې د طیبه، کاش زه وې جوړ شوې
تکلیف د ځنکدن سخت د حلالې نه دې
زه وې یو چرگ، په مدینه کښې ذبح شوې
شور جوړ شو په محشر کښې، عطّار لاړو جَنَّت ته
که نه وې بچ کړې آقا، اور ته به وې داخل شوې

که په چپ لاس کښې اعمال نامه راکړې شوه نو څه به کیږي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي د عِبرَت مقام دې، مونږ ټولو ته د گناهونو نه ډډه کول پکار دي او د قیامَت په سختو حالاتو باندې په سنجیدگۍ سره غور کول پکار دي په کومه ورځ به چه **الله** تعالٰی د ټول مخلوق په مخکښې د گناهونو نه د ډکې **اعمال نامې** د لوستلو حُکم فرمائي، آه! هغه وَخت به د حَشر یرونکي سختۍ پیښې وي، د تَندې د سختې نه به ژبه بهر ته راوَتې وي، د لوږې نه به ملا ماتیږي، جَنَّت ته د داخلیدو نه به حصار کړې شوي وي، هر قسمه آساني به بنده کړې شوي وي، په داسې تکلیف ورکونکي حالاتو کښې به د **لکونو کروړونو گناهونو نه ډکه اعمال نامه څوك څنگه ولوستې شي!** آه! مونږ ته دا هم معلومه نه ده چه اعمال نامه به زمونږ په ښې لاس کښې راکولې کیږي او که په چپ لاس کښې، چا ته چه اعمال نامه په

www.dawateislami.net

چپ لاس کښې ورکړې شوه د هغه به څه کیږي ! په سیپاره ۲۹ سُورَۃُالْحآقه آیت نمبر۱۹ نه ۳۷ پورې د اعمال نامې ورکولو کَیفِیَّت اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ داسې بیان کړې دې ، مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو هغه، چا ته چه خپله اعمال نامه په ښي لاس کښې ورکړې شي، وائي به: واخلئ زما اعمال نامه ولولئ ❁ زما یقین وو چه زه به خپل حساب ته رسیږم ❁ نو هغه د زړه د خوښې په خوشحالو کښې دې❁ په اوچت باغ کښې❁ چه د هغې ګنګُوري راښکته شوي ❁ خورئ او څښئ په مړه خیټه، بدله د هغې چه تاسو په تیرو ورځو کښې مخکښې لیږلې وو❁ او هغه، چا ته چه خپله اعمال نامه په چپ لاس کښې ورکړې شي وائي به: هائے چه په څه طریقه ما ته دا اعمال نامه نه وې راکړې شوي❁ او زه نه پوهیدلې چه زما حساب څه رنګه دې❁ هائے کاش چه په څه طریقه مرګ زما قِصه ختمه کړي وې❁ زما هیڅ پکار نه شو زما مال❁ زما ټول زور ختم شو (بیا به الله تعالٰی د جَهَنَّم خازِنانو یعني هلته مقررو فرښتو ته حکم وکړي)❁ دا ونیسئ بیا طوق ورپه غاړه کړئ ❁ بیا ئې په **لمبې** وهونکې اور کښې ډوب کړئ ❁ بیا ئې په هغه زنځیر کښې اُوپیئې چه د هغې ناپ اویا لاسه دې ❁ بیشکه هغه د عَظمَت خاوند الله باندې ایمان نه راوړو ❁ او مسکین ته د خوراك ورکولو رَغبت به ئې نه ورکولو❁ نو نن دلته د ده هیڅ ملګرې نشته ❁ او نه څه د خوراك خو د دوزخیانو وِینې او زَوې❁ دا به نه خوري خو خطاکار.

میزاں پہ سب کھڑے ہیں اَعمال تُل رہے ہیں
رکھ لو بَھَرم خُدارا عطّار قادِری کا (وسائل بخشش ص ۱۹۵)

ټول ولاړ دي په مِیزان اعمال تلل شي لِلّٰه شفاعت وکړئ د عطّار قادِري

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د فاروق او مشتاق د مزار مَدَني سپرلې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دُنیا او آخِرت خیرونه موندلو د پاره او د قبر او حشر د یَرې نه د ځان ساتلو ذهن جوړولو د پاره د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سر هر دم تړون مضبوط ساتئ، د **نیکئ د دعوت** په مدني کارونو کښې پوره پوره حصه اخلئ، د مدني انعاماتو مطابق خپل ژوند تیروئ، د سُنَّتو د تربیت په **مَدَني قافلو** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر ترکیب جوړوئ. راځئ! چه د دې د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلې واورو: چنانچه د ګلزارِ طیبه (سرګودها، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور حلفیه [یعني په

www.dawateislami.net

قسم سره] د بیان خلاصه ده، غالباً (۱٤۲۸ھ یعني 2006ء) کښې ما ته د یو عزیز [یعني خپلوان] سره په **صحرائے مدینه** بابُ المَدینه (کراچۍ)کښې د دعوتِ اسلامي د مرکزي **مجلسِ** شورٰی مرحوم نګران، خوش آوازه نعت خوان، بُلبُلِ روضۂ رسول، الحاج قاري ابو عُبید **محمد مُشتاق عطاري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه او د مرکزي **مجلسِ** شورٰی د رکن **مُفتِئ دعوتِ اسلامي** حضرت علّامه مَولانا الحافظ القاري الحاج ابو عمر **محمد فاروق عطاري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مبارکو مزاراتو ته د حاضرۍ سعادت حاصل شو. د غرمې وخت وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ بالکل په وِینښه مونږ دواړو د **حاجي مُشتاق** عطاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مزار نه د **ماسپښین د اذان** آواز صفا واوریدو، بیا هم لږ ساعت پس د **مُفتِئ دعوتِ اسلامي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په آواز کښې **اِقامت** واوریدو بیا د حاجي مُشتاق عطاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه **د تکبیرِ تحریمه** او د نورو **تکبیراتِ انتقلات** [یعني په لـمانځه کښې د ښکته پورته کیدو د تکبیرونو د] آوازونو نه مونږ په دې پوهه شو چه هغوئي په مزار شریف کښې **اِمامَت** کوي. د جَمعې نه پس هم د **دُعا** آواز هم صفا واوریدو او د دُعا د ختمیدو نه پس مونږ د **خوشبو** چپه هم محسوسه کړه. ما په حیرانتیا د ګلزارِ طیبه (سرګودها) یو ذمه دار اسلامي ورور سره په موبائل فون رابطه وکړه، او واقعه مې ورته بیان کړه. په دې باندې هغه ما ته مبارکي راکړه او د دې ایمان تازه کوونکي **مَدَني سپرلي** په رنړا کښې ئې د **الله** تعالٰی د مقبولو بندګانو اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ السَّلَام د تَصَرُّفاتو او اختیاراتو او د **دعوتِ اسلامي** د برکتونو نه خبر کړم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دا مې چه واوریدل نو زه ډیر خوشحاله شوم، د **الله** تعالٰی کروړونه شکرونه دي چه هغه جَلَّ جَلَالُهٗ په دې نازك دور کښې ما ته د **دعوتِ اسلامي** خوشبودار **مدني ماحول** عطا کړې دې. زه دُعا کووم چه **الله** تعالٰی دِ ما د **دعوتِ اسلامي** په مدني کارونو کښې شپه او ورځ مصروف لري او د سُنَّتو ډك ژوند تیرولو او په ایمان او خیر د خاتِمې سعادت دِ راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دعوتِ اسلامی نے دنیا بھر میں دھوم مچائی ہے
سارے جہاں میں عشقِ محمد کی خوشبو پھیلائی ہے

www.dawateislami.net

د دعوتِ اسلامي رنړا ټولې دُنیا ته رسیدلـي ده
ټول جهان کښې ئې د عشقِ محمد خوشبو خوره کړي ده

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د ثابِت بُناني په مزار کښې لـمونځ کول

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د دې مَدَني سپرلي نه دا معلومه شوه چه په دعوتِ اسلامي والؤ باندې د پروردَګار جَلَّ جَلالُهٗ او د مدني سرکار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیحده او بیشمیره کرم دې. د **الله** تعالٰی د نیکو بندګانو په مزار کښې لمُونځ کول هیڅ د حیرانتیا خبره نه ده. د اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ السَّلَام نه داسې ثابِت دي، چنانچه تابعي بُزُرګ حضرت سَیِّدُنا ثابِت بُناني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به دا دُعا غوښتله: "اے **الله!** که ته چا ته په قبر کښې د لمُونځ ادا کولو اِجازت ورکوې نو ما ته هم اجازت راکړې." د مرګ نه پس ولیدې شو چه هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خپل قبر کښې لمُونځ ادا کوي.

(حِلیَةُ الاولیاء ج۲ ص۳۶۲ رقم ۲۵۶۸)

انبیاء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په قبرونو کښې لـمونځونه کوي

انبیائے کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام هم ژوندي دي او په خپلو قبرونو کښې لمُونځونه ادا کوي، چنانچه د **الله** تعالٰی خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **اَلْاَنْبِيَاءُ اَحْيَاءٌ فِيْ قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْن** یعني انبیاء په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي او لمُونځ کوي. (ابو یعلٰی ج۳ ص۲۱۶ حدیث ۳۴۱۲) حضرت سَیِّدُنا شیخ عبدُ الوهاب شَعراني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل قبرِ انور کښې ژوندې دې او د اذان او اِقامت سره لمُونځ ادا کوي، هم دغسې نور انبیائے کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام هم لمُونځ ادا کوي. (کَشْفُ الغُمَّة عَنْ جَمِيعِ الاُمَّةِ، الجزءُ الثانی ص ۶۳)

چلو اچھا ہوا کام آ گئی دیوانگی اپنی وَ گرنہ ہم زمانے بھر کو سمجھانے کہاں جاتے
نہ جلتی شمع محفِل میں تو پروانے کہاں جاتے نہ ہوتا در نبی کا تو یہ دیوانے کہاں جاتے

www.dawateislami.net

ډیر ښه وشو دیوانګي مو په کار راغله ګنې چا به پوهه کولې دا ټوله زمانه
که نه بلیدې شمع نو پتنګان به چرته تلې که نه وې دَر د نَبي نو دا عاشقان به چرته تلې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دَ روضۂ انور نه د اذان او اِقامت آواز

په سَنِ ٦٣ هجري کښې **واقعۂ حُرَّه** پیښه شوه چه په هغې کښې ظالِـمانو یزیدیانو په مَدِینۂ مُنَوَّره زَادَهَاللهُشَرَفاًوَّتَعْظِیماً حَمله وکړه، ۷۰۰ صحابۂ کرام رِضْوَانُاللهِتَعَالٰیعَلَیْهِمْاَجْمَعِیْن او نور د عامو مسلمانانو سره د لسو زرو نه زیات حضرات شهیدان کړې شُو، **د مَدِینې اوسیدونکي** سخت لوټ کړې شُو، په زَرګاؤ باکِره (یعني بې واده) جینکو سره **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ "زیاتې" [یعني بدکاري] وکړې شوه. د **مَسْجِدُالنَّبَوِیِّ الشَّرِیف** عَلٰی صَاحِبِهَاالصَّلٰوةُوَالسَّلَام په ستَنو پورې اَسونه وتړلې شو، د درې ورځو پورې په جُمات شریف کښې خلق د لـمانځه نه محرومه کړې شو. په دې موقع صرف مشهور تابعي بُزُرګ حضرت سَیِّدُنا **سَعِید بن مُسَیَّب** رَضِیَ اللهُتَعَالٰیعَنْهُ خپل ځان دیوانه جوړ کړو او هلته حاضر اوسیدو، یزیدیانو د دیوانه ګنړلو په وجه هغوئي رَضِیَ اللهُتَعَالٰیعَنْهُ شهید نه کړو. هغوئي رَضِیَ اللهُتَعَالٰیعَنْهُ فرمائي: دَ **حُرَّه** په ورځو کښې د خلقو بیرته راتلو پورې ما هَمِیشه د نَبِیِّ اَکرَم صَلَّی اللهُتَعَالٰیعَلَیْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د قبرِ مُبارَك نه د اذان او اِقامت آواز اَوریدلو. (دَلَائِلُ النُّبُوَّة لِاَبِیْ نُعیم ج۲ ص ۵٦۷ وغیرہ)

زما آ قا اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِ سُنّت، مُجَدِّدِ دِین ومِلَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَیْهِرَحْمَةُالرَّحْمٰن په حَدائقِ بخشش شریف کښې عرض کوي:

تو زِندہ ہے وَاللہ تُو زِندہ ہے وَاللہ
مِرے چشمِ عالَم سے چُھپ جانے والے!

(یعني یا رَسولَ الله ! په **الله** مې دِ قسم وي! تاسو ژوندې ئې، په خدائ مې دِ قسم وي! تاسو ژوندې ئې،زما په ظاهري سترګو ما ته نه ښکاره کیدو والا)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د مُومِن د فِراست نه وَیَریږئ

اِمامُ الطَّائِفَه حضرت سَیِّدُنا شیخ ابو القاسِم جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: (زما پیر و مُرشِد) حضرت سَیِّدُنا شیخ سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه به ما ته فرمائیل چه خلقو ته وعظ و نصیحت کوه خو ما خپل ځان د دې اهل نه ګنړلو په دې وجه مې هِمَّت نه شو کولې. یو ځل د جُمعې په شپه جنابِ رِسالَت مآب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې په ما کرم وکړو او وئې فرمائیل: "**خلقو ته نصیحت کوه**" زه راپاڅیدم او د سحر د انتظار کولو نه بغیر د (خپل روشن ضمیر پیر) حضرت سَیِّدُنا **شیخ سَرِي سَقَطي** عَلَیْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی په خدمت کښې حاضر شوم. (زما د عرض کولو نه مخکښې) هغوئي (د غیبو خبر راکړو او) وئې فرمائیل: "تر څو چه درته **سرکارِ نامدار**، د مدینې تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله ونه فرمائیل نو تا زما په خبره یقین نه کولو." حضرت سَیِّدُنا شیخ جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هم د هغه سحر نه په **جامِع مسجِد** کښې بیان شروع کړو: په خلقو کښې دا خبره ډیره زر خوره شوه چه د نن نه **جُنید بَغدادي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بیان فرمائیل شروع کړي دي. یوه ورځ یو ځلمې په اجتماع کښې پاڅیدو او تپوس ئې وکړو. **اے شیخ!** د حضورِ اقدس صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې **ارشاد مبارك**: **اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ یَنْظُرُ بِنُوْرِ الله** یعني د مُومِن د فِراست نه وَیَریږه ځکه چه هغه د الله تعالٰی په نور لیدل کوي. (ترمذی ج۵ ص۸۸ حدیث ۳۱۳۸) څه مطلب دې؟ د هغه سوال ئې چه واوریدو نو د لږ ساعت د پاره حضرت سَیِّدُنا شیخ جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه سر ښکته کړو بیا ئې چه سرمبارك راپورته کړو نو (د غیبو خبر ئې ورکړو او) ارشاد ئې اُوفرمائیلو:اے ځلمیه! ته نصراني (یعني عیسائي) ئې او اوس ستا د مسلمانیدو وخت راغلې دې، ایمان راوړه، هغه ځلمې واقعي عیسائي وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دا ګرامت ئې چه ولیدلو نو هم په هغه ساعت مسلمان شو. (روض الریاحین ص۱۵۷)

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

www.dawateislami.net

ما لیدلې په نظر کښې د وَلي داسې تاثِیر چه بدل ئې د زرګاؤ کړو تقدِیر

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

الله خپلو اولیاؤ ته د غیبو علم ورکوي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حکایت نه د مُبَلِّغ مقام معلوم شو. سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! سَیِّدُنا شیخ جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د عاجزئ په طور خپل ځان د بیان کولو اَهَل نه ګنړلو، حالانکه د **الله** تعالٰی په فضل وکرم سره هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه زبردست عالِم وو، په هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه باندې ډیر لوئ کرم دا وشو چه په خوب کښې ئې رسولِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ آدم و بني آدم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړو او د بیان کولو حکم ئې ورته اُوفرمائیلو. د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چه زمونږه **مَکِّي مَدَني مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** تعالٰی په عطا [یعني د الله تعالٰی په ورکړه] د غیبو عِلم لري، خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه وه چه جُنَید بَغدادي ته د هغوئ پیر و مُرشِد د بیان کولو وائي او بیا هم هغوئ په بیان کولو کښې شرم محسوسوي، لِهٰذا خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله د هغوئ په خوب کښې تشریف راوړو او د بیان کولو حکم ئې ورکړو. او دا هم معلومه شوه چه د **خوږ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بَرَکت اولیائے کرامو ته هم د غیبو علمِ وي ځکه خو حضرت سَیِّدُنا **سَرِي سَقَطي** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپل خاص مُرید د خوب نه خبر شو. بله دا چه حضرت سَیِّدُنا شیخ **جُنید بَغدادي** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه هم نصراني یعني عیسائي کس په خپل مُومِنانه فِراست اُوپیژندو او په حیرانونکي انداز کښې ئې هغه ته د **غیبو** د خبر ورکولو سره **د نیکئ دعوت** ورکړو او هغه د کَرامت نه ډك د نیکئ د دعوت په بَرَکت سمدستي د اِسلام د اَمن په لمَن کښې راغې.

د فِراست تعریف

په حدیث مُبارك کښې د "فِراست" ذکر دې د دې په معنٰی هم ځان پوهه کړئ. د **فِراست** معنٰی دا ده چه: الله تعالٰی د خپلو اولیاؤ په زړونو کښې هغه څیز اچوي چه د هغې په وجه هغوئ ته د بعضو خلقو د حالاتو علم کیږي. (اَلنِّهایَة ج۳ ص۳۸۳) سرکارِ اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپل خوږ

www.dawateislami.net

خوږ آقا مَکـي مَدَنـي مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **عِلمِ غیب** شریف نه ډك د بې مثاله نظر د اوچت والي د بیانولو د پاره څه ښکلې شعر جوړ کړې دې:

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

شرحِ کلامِ رضا: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني زمکه کښې دننه هر یو څیز تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښکاره دې. په دُنیا جهان کښې داسې یو څیز نشته چه هغه تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه دې.

زما د دوست خوب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! زما مَکِّي مَدَني آقا د غیبو نه خبر دې. راځئ په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د جوړیدو نه مخکښې اوریدونکې یو ایمان تازه کونکې خوب واورئ: چنانچه یو اسلامي ورور چه سګِ مدینه عُفِیَ عَنْہُ ته څه وئیلي وو د هغې خلاصه ده: اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ ما ته په خوب کښې د جنابِ رِسالَت مآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِیدار کولو سعادَت نصیب شو، ما د عرض کولو هِمَّت وکړو چه: **یا رسولَ الله** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آیا تاسو ته **عِلمِ غیب** شته؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: آو. د دې نه پس سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو آیت قرآني تلاوت وکړو، د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شونډو مُبارَکو نه تلاوت، د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې آواز او د حروفو د ادا کولو حُسنِ اُسلوب (یعني د حروفو د خپلو مخارجو سره په ښائسته انداز کښې ادا کول) **مرحبا!** داسې ښکلې او خوږ آواز او قِراءَت ما کله هم نه وو اوریدلې، آیتِ مبارکه خو زما نه هیر شوې دې، خو دومره را ته یاد دي چه د هغې په آخِره کښې لفظ **ضَنِیْن** وو، په دې ما (یعني سګِ مدینه عُفِیَ عَنْہُ) هغه ته د سیپاره ۳۰ سُوْرَۃُ التَّکْوِیر آیت نمبر ۲٤ واوروو: **وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ** ﴿۲۴﴾ نو هغه اسلامي ورور اُووئیل: آو آو هم دا آیتِ کریمه وو. سګِ مدینه عُفِیَ عَنْہُ هغه ته د آیتِ کریمه تَرجَمه واورَوَله او عرض ئې ورته وکړو چه یقیناً سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د **الله** په رحمت و عِنایَت **عِلمِ غیب** شته دې.

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې **حکایت** نه دِ څوك په دې وسوسه کښې نه اخته کیږي چه اُوګورئ! اوس د خوبونو نه **عِلمِ غیب** ثابتوي حالانکه د غیرِ نبي لیدلې خوب خو حُجَّت (یعني دلیل) هم نه وي. سګِ مدینه عُفِيَ عَنْهُ د دې خبرې اِقرار کوي چه واقعي هره مسئله په خوبونو نه حل کیږي، خو دلته د خوب نه نه بلکه په خوب کښې په ورکړي شوي جواب کښې موجود د بیان شوي قرآني آیت نه د **عِلمِ غیب** ثبوت پیش کیږي او هغه آیتِ کریمه واقعي د عِلمِ غیبِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دلیل دې. لِهٰذا ذکر کړې شوې آیت د ترجَمې سره اُوګورئ:

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿۲۴﴾ (پ۳۰ اَلتَّکویر ۲۴)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او دا نبي په غیبو ښودلو باندې بخیل نه دې.

د دې آیتِ مبارَکه نه معلومه شوه چه مَکِّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **غیبو** خبر ورکوي او ښکاره خبره ده چه ښائي به ئې هم هغه چا ته چه عِلم وي. نو بیشکه او بې شُبه د رَبُّ **العٰلَمین** جَلَّ جَلَالُہٗ په عطا [یعني په ورکړي طاقت] رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **عِلمِ غیب** د دولت نه مالا مال دې. په بارګاهِ رِسالت کښې عاشقِ ماهِ رِسالَت اعلٰی حضرت عرض کوي:

اور کوئی غیب کیا تم سے نِہاں ہو بھلا
جب نہ خدا ہی چھپا تُم پہ کروڑوں دُرود (حدائق بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: یا رسولَ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د لوئ شان به څه وائیو! د مِعراج په شپه بالکل د بیدارئ په حالَت کښې تاسو د خپل سر مبارَك په سترګو د خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ دیدار وکړو، نو دغسې چه **اللّٰہ** تعالٰی غیبُ الغَیب [یعني د ټولو نه زیات غیب] دې هغه هم د هغه جَلَّ جَلَالُہٗ په فضل و کرم په تاسو ظاهر او ښکاره شو نو اوس بل کوم یو غیب ستاسو نه څنګه پټ پاتې کیدې شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

په یو ټوکر کښې د اُحُد زَلزله ختمه شوه

په **بُخاری شریف** کښې دي: د **حضرت** سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه **سرکارِ مَدینۂ مُنَوَّره، سردارِ مَکَّۂ مُکَرَّمه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او **حضرت** سَیِّدُنا ابو بکر صِدِّیق او **حضرت** سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم او **حضرت** سَیِّدُنا عُثمانِ غَنی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم اَجْمَعِین د **اُحُد** غر ته تشریف یوړلو نو هغه (د خوشحالئ نه) په خوزیدو شو. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه [یعني اُحد غر] په ټوکر اووهلو او وئې فرمائیل: **اُثْبُتْ اُحُدُ فَاِنَّمَا عَلَیْكَ نَبِیٌّ وَّ صِدِّیْقٌ وَّ شَهِیْدَانِ.** [اے] اُحده! ودریږه ځکه چه په تا د پاسه یو نبي،یو صِدِّیق او دوه شهیدان دي. (صحیحُ البُخارِی ج۲ ص ۵۲٤ حدیث ۳٦۷۵)

ایک ٹھوکر میں اُحُد کا زلزلہ جاتا رہا
رکھتی ہیں کتنا وقار اللہُ اکبر ایڑیاں (حدائقِ بخشش شریف)

په یو ټوکر لاړه د اُحُد زلزله لرِي څومره عِزّت **اَللّٰہُ اَکبر** دا قدم

د ذِکر شوي حدیث نه عِلمِ غیب ثابتیږي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د "بُخاری شریف" د ذِکر شوي حدیث نه اَظْهَرُ مِنَ الشَّمْسِ وَاَبْیَنُ مِنَ الْاَمْسِ (یعني د نمر نه زیات روښانه او د تیرې شوې ورځې نه زیات قابِلِ یقین) دي چه زمونږ خوږ خوږ آقا مَکِّی مَدَنی مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د الله په عطا سره **عِلمِ غیب** شته دې، ځکه خو آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُحُد غر ته ارشاد اُوفرمائیلو: چه په تا د پاسه یو "**نبي**" یو صِدِّیق او **دوه شهیدان** دي. د چا په باره کښې د هغه په ژوند دا وئیل چه دا **شهید** دې، که دا د **غیب** خبر نه دې نو نور څه دي. د دې حدیثِ پاك لاندې مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الْحَنَّان په مِراٰة جلد ۸ صفحه ٤۰۸ نه ٤۰۹ کښې فرمائي: معلومه شوه چه د **الله** (تعالٰی) مقبول بندګان ټول مخلوق (یعني وَنو، کانړو، دریابونو او غرونو ټولو) ته محبوب (ګران) دي، د هغوئ په تشریف راوړو ټول **خوشحالي** کوي، کانړي او غرونه هم هغوئ پیژني. نور فرمائي: دا هم معلومه شوه چه حُضُور (صَلَّی اللّٰہُ

www.dawateislami.net

تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دتولو د اَنجام (یعني ښې یا بَدې خاتمې) نه خبر دې ځکه خو ئې اُوفرمائیل چه: په دې کښې به دوه صحابه **شهیدان** کیږي. (مِراٰۃ ج۸ ص۴۰۸)

رب کی عطا سے سب کچھ جانے دیکھے بَعید و قریب
غیب کی خبریں دینے والا اللہ کا وہ حبیب
اللّٰہ اللّٰہ ، اللّٰہ ھُو ، لا اِلٰہ اِلَّا ھُو

د ربّ په عطا پیژني اَو وِیني هر لرې او قریب د غیب خبر ورکونکې د **الله** هغه حبیب
اللّٰہ اللّٰہ ، اللّٰہ ھُو ، لا اِلٰہ اِلَّا ھُو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دَ غیب تعریف

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "**تَفسِیرِ نَعِیمی**" کښې فرمائي: د **غیب** (لفظي) مَعنٰی ده غائب یعني پټ څیز. په اِصطِلاح (یعني مخصوص مرادي معنٰی) کښې **غیب** هغه څیز ته وائي کوم چه د ظاهري باطني حواسو (یعني محسوس کونکو قوتونو) او عقل نه پټ وي یعني چه نه هغه د سترګې، پوزې او غوږ وغیره په ذریعه معلومیدې شي او نه د سوچ او فکر کولو په ذریعه په عقل کښې راتلې شي. (تفسیرِ نَعیمي ج۱ ص۱۲۱) مَثَلاً **جَنَّت** زمونږ د پاره اوس **غیب** دې ځکه چه هغه مونږ په حواسو (یعني سترګه، پوزه، غوږ وغیره) هډو معلومولې نه شو.**غیب** هغه دې چه زمونږ نه پټ وي او مونږ په خپل **حواسِ خمسه** یعني د لیدلو، اوریدلو، بوئي کولو، ځګلو او لاس لګولو هغه معلوم نه کړې شو او نه ئې عقل په سوچ او فکر کولو معلومولې شي.
(مُلَخَّص از تفسیرِ بیضاوی ج۱ ص ۱۱۶ وغیرہ)

د عِلمِ غیب مُتَعَلِّق دَ اَکابِرِینِ اُمَّت اقوال

دَ انبیائے کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په **فیضان** [یعني بَرَکتونو] اولیاء کرام رَحِمَہُمُ اللّٰہُ السَّلَام ته هم **عِلمِ غیب** عطا کیږي. چنانچه په دې باره کښې د اَکابِرِینِ اُمَّت اقوال اُوګورئ: حضرت عَلَّامه علي قاري

www.dawateislami.net

رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: زمونږ عقیده ده چه بنده د درجو په ترقۍ روحاني صِفَت ته رسي هغه وَخت هغه ته **عِلمِ غیب** حاصلیږي. (مِرقاةُ المَفَاتِیح ج۱ ص۱۲۸) په یو بل مقام کښې لیکـي: "د ایمان د نور د قوّت په زیاتیدو بنده د ځیزونو د حقیقت نه خبریږي او په هغه باندې نه صرف **غیب** بلکه د غیبو غیب هم روښانه شي." (ایضاً ۱۱۹)

امام ابنِ حجر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "اولیاؤ ته د کومې واقعې یا واقعاتو عِلمِ غیب حاصلیږي دا بالکل صحیح دي، په دوئي کښې د ډیرو حضراتو نه داسې ظاهر شوي او مشهور شوي دي." (اَلاِعلام بِقواطِعِ الاِسلام ص۳۵۹)

د سلسلۀ عالیه نقشبندیه امام حضرت سَیِّدُنا **عزیزان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه به فرمائیل: د اولیاؤ د دې ډَلې په نظر کښې زمکه د دسترخوان په شان ده. (نَفحاتُ الانس ص۳۸۷) یعني څنګه چه په دَسترخوان [پروت] هر ځیز ښکاري دغه شان د زمکې هر ځیز دوئي ته ښکاري. حضرت خواجه **بَهاؤُ الـحَقِّ وَالدِّین** نقشبندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه [د حضرت سَیِّدُنا **عزیزان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه] دا قول نقل کوي اَو فرمائي: "مونږ وائیو چه (زمکه د دوئي د پاره) دَ نُوك د پاسنۍ ډډې په شان ده او یو ځیز هم د دوئي د نظر نه غائب نه دې." (ایضاً ص۳۸۷، ۳۸۸)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **تَفسیرِ نَعیمي** جلد ٤ صفحه ۳۷۱ کښې د تفسیرِ "**روحُ المَعاني**" په حواله لیکـي: "بعضې **اَهْلِ کَشْف** اولیاءُ الله هم په غیبو خبرداره کیږي خو د نبي په واسِطه، بغیر د واسِطې نه نه." (روح المَعانی ج٤ ص٤٧٥)

زمونږ **غوثِ اعظم** عَلَیْهِ رَحْمَةُ اللهِ الاَکْرَم په قصیدۀ غوثیه کښې فرمائي:

نَـظَـرْتُ اِلٰی بِـلادِ اللهِ جَـمْـعًـا
کَـخَـرْدَلَةٍ عَلٰی حُـکْـمِ التِّـصَالِـیْ

(ترجمه: ما د **الله** ټول ښارونه داسې ولیدل لکه د وري یو څو دانې چه را یو ځائ شوي وي)

www.dawateislami.net

حضرت سَیِّدُنا شیخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اَخبارُ الاخیار" صفحه ۱۵ کښې د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دا ارشاد نقل کړې دې چه: "**که شریعت زما خُله نه وې بنده کړې نو ما به تاسو ته خبر درکړې وې چه تاسو په کور کښې څه خوړلي دي او څه مو ساتلي دي، زه ستاسو د ښکاره او پټ نه خبر یم ځکه چه تاسو زما په نظر کښې د داسې شیشې په شان ئې چه د هغې نه اخوا دیخوا ښکاري.**" حضرت مَولانا روم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **مَثنوي شَریف** کښې فرمائي:

لوحِ محفوظ اَست پیشِ اولیاء　　اَز چه محفوظ اَست محفوظ اَز خطا

(یعني لوح مَحفوظ د اولیاءُ الله مخې ته وي چه هغه د هرې خطا نه مَحفوظ وي)

شاه عَبدُ العزیز مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **تفسیرِ عزیزي** کښې د "سُوْرَةُالْجِنّ" په تفسیر کښې لیکي: "د لوح محفوظ خبر لرل او د هغې لیك لیدل د بعضې **اولیاءُ الله** نه بطَریقِ تَواتُر [یعني په تَسَلسُل] سره منقول دي."

د لوح مَحفوظ په باره کښې ښکلي معلومات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په ښه بد د پوهیدلو نه پس تقریباً هر مسلمان د لوح مَحفوظ نوم اوري. خو هر یو تن ته د لوح مَحفوظ په باره کښې معلومات نه وي، راځئ! چه د لَوح مَحفوظ په باره کښې معلومات حاصِل کړو هغه څه څیز دې؟ **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د لوح مَحفوظ ذِکر په سیپاره ۳۰ سُوْرَةُالْبُرُوج آیت نمبر ۲۱ او ۲۲ کښې ارشاد فرمائي:

بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِیْدٌ ﴿۲۱﴾ فِیْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ﴿۲۲﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: بلکه هغه کمال شرف لرونکې قرآن دې په لوح مَحفوظ کښې.

حضرت عَلَّامه محمّد بن احمد اَنصاري قُرطبي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **تَفسیرِ قُرطُبي** جلد ۱۰ صفحه نمبر ۲۱۰ کښې د دې آیتونو نه لاندې لیکي: یعني قرآنِ کریم په یو **لَوح** کښې لیکلې شوې دې، د **الله** تعالٰی سره **مَحفوظ** دې او هغې ته شیطانان نه شي رسیدې، عُلمائے کرام لیکي: په لوح مَحفوظ کښې

دَ مخلوق ټول قِسمونه او د هغوئي مُتَعَلِّق ټول اُمور مَثَلاً مرګ، رِزق، اعمال او د هغې نتیجې او په دې څیزونو د نافِذ کیدونکو فیصلو بیان دې. (تفسیرِ قُرطبي ج۱۰ ص۲۱۰)

لوحِ مَحفوظ کوم ځائ دې؟

حضرت سَیِّدُنا مُقاتِل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: لَوحِ مَحفوظ د عرش ښي طرف ته دې.
(تفسیرِ قُرطبي ج۱۰ ص۲۱۰)

لوحِ مَحفوظ د سپینې مَلغلرې نه جوړ دې

د **حضرت** سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه روایت دې چه د **الله** تعالٰی خوږ **محبوب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: لَوحِ مَحفوظ د سپینې مَلغَلرې نه جوړ شوې دې، د دې **قلم** نور او لِیك هم نور دې. (مأخوذ از حِلیَةُ الْاَولیاء ج٤ ص۳۳۸ رقم ۵۷۶۷)

د ټولو نه اول په لوحِ مَحفوظ کښې څه ولیکلې شو؟

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: **الله** تعالٰی په لَوحِ مَحفوظ کښې د ټولو نه اول دا ولیکل چه زه **الله** یم زما نه سِوا هیڅ څوك د عبادت مُستَحِق [یعني لایِق] نشته! مُحَمّد(صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زما رسول دې. چا چه زما فیصله اُومنله او زما په نازل شوي مُصیبت باندې ئې صبر وکړو او زما د نِعمَتونو شُکر ئې ادا کړو نو ما هغه **صِدّیق** ولیکلو او هغه به د صِدّیقینو سره را پاڅووم، او چا چه زما فیصله ونه منله او زما په نازل کړي مُصیبَت ئې صبر ونکړو او زما د نِعمَتونو شُکر ئې ادا نه کړو هغه زما نه سِوا چه څوك غواړي خپل معبود دِ جوړ کړي. (تفسیرِ قُرطبي ج۱۰ ص۲۱۰)

ته د نفس منونکې جوړ شوې ئې

حَجّاج بِن یوسف په حضرت سَیِّدُنا مُحَمَّد بن حَنَفیه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ باندې په خط کښې څه دباو اچولې وو نو هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ورته په جواب کښې ولیکل: ما ته دا رِوایت رارسیدلې دې چه **الله** تعالٰی هره ورځ په **لَوحِ مَحفوظ** درې سوه شپیته ځله نظر فرمائي، هغه عِزَّت او ذِلَّت ورکوي،

www.dawateislami.net

تنګي او فرا ورکوي او هغه چه څه غواړي کوي، شاید چه په هغې کښې یو نظر ته د خپل نَفس سره داسې مشغوله کړې ئې چه د هغې نه هډو وزګاریږې نه. (تفسیرِ قُرطبي ج۱۰ ص۲۱۰)

دَ قِیامَته پورې کیدونکي هره خبره په لَوحِ مَحفوظ کښې لیك ده

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائیلي دي: **الله** تعالٰی **لَوحِ مَحفوظ** پیدا کړو، د هغې اُوګدوالې د سلو کالو د فاصلې همره وو، بیا هغه د مخلوق د پیدا کیدو نه مخکښې **قلم** ته اُوفرمائیل ته زما د مخلوق په باره کښې زما علم ولیکه پس هغه د قِیامته پورې کیدو والا هر څه ولیکل. (العظمة لابي شیخ ص۸٦ رقم ۲۲۳)

د "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ" ګواهي ورکونکې به جَنَّت ته داخلیږي

د حضرت سَیِّدُنا اَنس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه د **الله** تعالٰی محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "بیشکه **الله** تعالٰی په لوحِ مَحفوظ کښې ولیکل: "اِنِّیْ اَنَا اللهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنَا" بیشکه زه **الله** یم او زما نه سِوا څوك معبود [یعني د عِبادت لائق] نشته، ما د درې سوه اَو لسو نه څه زیات قِسمه مخلوق پیدا کړې دې په هغوئي کښې چه کوم مخلوق دا ګواهي ورکړي چه "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ" نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي." (تفسیر دُرِّ مَنْثور ج۸ ص۴۷۲)

د جَنَّت حقدار څوك؟

حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: "په لَوحِ مَحفوظ کښې لیك دي چه د **الله** تعالٰی نه سِوا څوك معبود نشته، د هغه دین اسلام دې او مُحَمّد (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغه خاص بنده او رسول دې. چا چه په هغه باندې ایمان راوړو او د هغه وعده ئې رښتیا [یعني پوره] کړه او د هغه د رسولانو تابعداري ئې وکړه نو **الله** تعالٰی به هغه جَنَّت ته داخل کړي." (تفیسرِ بَغوِي ج۴ ص۴۴۱)

عَجَب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے
جو نَقشِ پا کا لگاؤں غُبار آنکھوں میں (سامانِ بخشش)

www.dawateislami.net

عجیبه نه ده چه زه اُووِینم د لَوح لیکونه
چه د آقا د قدم کرد په سترګو پورې کړمه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د ځوئ د پیدا کیدو زیرې

حضرت شاه وَلِیُّ الله مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه زما والِدِ مُحتَرَم حضرت **شاه عَبدُ الرَّحِیم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: زه یو ځل د حضرت سَیِّدُنا خواجه **قُطبُ الدِّین بختیار کاکي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مزار مبارك د زیارت د پاره لاړم. د هغوئ روح مُبارك ظاهر شو او وئې فرمائیل: "**ستاسو به یو ځوئ پیدا کیږي د هغه نوم قُطبُ الدِّین احمد کیږده.**" زما کور والا [یعني بي بي] زاړه عمر ته رسیدلې وه په دې وجه ما دا خیال وکړو چه د دې ارشاد نه به مُراد د ځوئ ځوئ یعني نَمسې وي. حضرت سَیِّدُنا خواجه قُطبُ الدین بختیار کاکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه زما **د زړه په دې خیال** فوراً خبر شو او وئې فرمائیل: "زما مُراد دا نه دې بلکه هغه فرزند به ستا خپل ځوئ وي." شاه وَلِیُّ الله صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نور فرمائي چه: والِدِ مُحتَرَم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو څو کاله پس د دویمې ښځې سره نکاح وکړه نو دا لیکونکې فقیر شاه وَلِیُّ الله پیدا شو. په شروع کښې دا واقعه د هغوئ نه هیره شوي وه نو زما نوم ئې "**وَلِیُّ الله**" کیښودو او څه موده پس چه ور په یاد شو نو دویم نوم ئې (د حضرت سَیِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّین بختیارکاکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د فرمان مطابق) قُطبُ الدِّین احمد کیښودو. (اَنفاسُ العارِفین ص ۷۹)

د الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په اولني خیال وَلي بهر رانغلې؟

د **الله** تعالٰی په عطا سره حضرت سَیِّدُنا شیخ **جُنید بَغدادي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هم د زړه په حالونو خبریدلو چنانچه حضرت سَیِّدُنا خیرُالنَّساج رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: زه په خپل کور کښې ووم او په زړه کښې مې خیال راغې چه حضرت سَیِّدُنا شیخ جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه زما د دروازې خوا ته

www.dawateislami.net

تشریف راوړي دي خو ما تَوَجُّه واړوله بیا په **دویم** او **دریم** ځل هم دا خیال راغي، چه را اُووَتلم نو واقعي هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دروازه کښې وو، ماته ئې اُوفرمائیل: **په اولني خیال وَلې نه راوتلي.** (رساله قُشَیریه ص ۲۷٤)

سُبْحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! تاسو ولیدل چه! حضرت سَیِّدُنا شیخ **جُنید بَغدادي** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د **غیبو** خبر اِرشاد اُوفرمائیلو چه: په اولني خیال درتلو وَلې نه راوَتلې! چه د اولیاؤ د **عِلمِ غیب** دا حال دي نو د خوږ خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **عِلمِ غیب** به څه مقام وي! حضرت سَیِّدُنا اِمام بوصِیري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خپله مشهورِ زمانه "قصیدۂ بُرده شریف" کښې عرض کوي:

فَاِنَّ مِنْ جُودِكَ الدُّنْیَا وَضَرَّتَها وَمِنْ عُلُوْمِكَ عِلْمَ اللَّوحِ وَالْقَلَم

یعني یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دُنیا او آخِرت دواړه ستاسو د سخاوت او بخشش یوه حصه ده او د لَوح و قلم عِلم (چه په هغې کښې ټول مَاکان وَمَایَکونُ یعني چه څه شوي دي او څه به کیږي ټول لیک دي) ستاسو د عُلومو یوه حصه ده.

زما آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په بارگاهِ رِسالت کښې عرض کوي:

خدا نے کیا تجھ کو آگاہ سب سے دو عالم میں جو کچھ خفی و جلی ہے
کروں عرض کیا تجھ سے اے عالم السِّر کہ تجھ پر مری حالتِ دل کھلی ہے

شرحِ کلامِ رضا: زما آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په دې شعرونو کښې فرمائي: (۱) **یا رَسُولَ اللّٰه** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په دواړو جهانو کښې چه څه ښکاره او پټ دي د هغې نه **اللّٰه** تعالٰی تاسو خبر کړي ئې. (۲) اے عالِمُ السِّر (یعني اے پټ حالات پیژندلو والا) تاسو ته څه عرض وکړم تاسو ته زما د زړه ټول حالت ښکاره دې.

گردابِ بلا میں پھنس کے کوئی طیبہ کی طرف جب تکتا ہے
سلطانِ مدینہ خود آ کر بگڑی کو بنایا کرتے ہیں

www.dawateislami.net

مدینې ته چه څوك ګوري په مشکل او په آفت کښې
حضور راشي مدد وکړي د هغه په مُصیبت کښې

(د علمِ غیب مُتَعَلِّق د تفصیلي معلوماتو د پاره رِساله خَالِصُ الْاِعتقاد (فتاوٰی رضویه ج۲۹ صفحه ۴۱۱تا۴۸۳)، اَلْکَلِمَةُ الْعُلْیَا (از: صَدرُ الاَفاضِل مَولانا نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه)، او جاءَالحَق (از: مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) لوستل ډیر فائده مند دي)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د وَفات نه پس هم د نیکئ دعوت

سُلیمان عُمري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه وائي چه ما یو ځل حضرت **ابو جعفر قاري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خوب کښې ولیدو، وئې فرمائیل: زما ورونړو ته زما سلام ورَسَوه او ورته وایه چه زما ربّ ما ته **د شُهداء مقام** راکړې دې او د خپل طرف نه ئې راته رزق عِنایت کړې دې او ابوحازِم ته زما سلام وایه او ورته وایه چه خیال کوه او د عقل نه کار واخله ځکه چه **الله** تعالٰی او د هغه فرښتې ستا د شپې مجلسونه ویني. (کتابُ المَنامات مع موسوعة الامام ابن ابی الدنیا ج۳ ص ۱۵۳ رقم ۳۲۱)

د زر رکعاته لـمانځه نه غوره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حکایت نه معلومه شوه چه حضرت سَیِّدُنا **ابو جعفر قاري** عَلَیْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْبَارِی ته د وَفات نه پس د "**ابوحازِم**" د صُحبتونو معلومات هم وو او په ظاهره داسې معلومیږي چه کیدې شي "**ابوحازِم**" به د شپې په **بدو صحبتونو** کښې کښیناستو ځکه ئې د سلام او پیغام په ذریعه په بدو مجلسونو کښې د ناستې نه خبردار کړو او د "نیکئ دعوت" ئې ورته وړاندې کړو. د بد صحبت نه مونږ ټولو ته ډډه کول پکار دي ځکه چه د دې په وجه ښه نیك انسان هم خراب شي. همیشه د نیکو بندګانو او د عاشقانِ رسول صحبت اختیارول پکار دي. **حُجَّةُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **کیمیائے سعادت** کښې فرمائي: داسې انسان دِ ولټوي چه د هغه په صُحبت او خبرو د دُنیا طرف ته رَغبت

www.dawateislami.net

کمیږي او د آخِرت طرف ته ئې طبیعت ګرځي، د کوم کس په خبرو کښې چه داسې اثر نه وي نو د هغه صُحبت به "**علمي مجلس**" نه ګنړل شي: منقول دي چه: په علمي مجلِسونو کښې حاضریدل د زرو رکعاتو نفلو اداکولو نه زیات غوره دي. (کیمیائے سعادت ص۱۶۱)

حضرت مَولانا رُوم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په مَثنَوِی شریف کښې فرمائي:

یک زمانہ صحبت با اولیاء بہتر از صَد سالہ طاعت بے ریا

(لږ ساعت د اولیاؤ په صُحبَت کښې ناسته د سلو کالو بې رِیا یعني د خالص عِبادت نه غوره ده)

د مَرِې او چیندخې دوستي

عارِف بِاللّٰه حضرت مَولانا رُوم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د بد صُحبَت د نقصان په باره کښې فرمائي: اِتِّفاقاً د یو لښتي په غاړه د یوي **مَرِې** د **چیندخې** سره مُلاقات وشو او د دواړو دوستانه جوړه شوه، مَرِې ورته اُووئیل چه کله مې ستا سره زړه ملاقات کول اُوغواړي نو ته خو په اوبو کښې دننه ئې او هلته آواز هم نه در رسي نو تا ته به زه څنګه خبر درکووم؟ آخِر په دواړو کښې په دې خبره اتفاق وشو چه د تار یو سر د مرِې په ښپه کښې او بل سر ئې د چیندخې په ښپه کښې وتړلې شي نو د ضرورت په وَخت کښې به یو بل ته د خبر ورکولو ترکیب کیدې شي، او هم دغسې ئې وکړل. یوه ورځ قارغه په مَرِه راغوټه شو او په خُله کښې ئې واغسته چه پورته والوتو نو د تار سره **چیندخه** هم په هوا شوه، **چیندخې** اُووئیل چه دا د مرِې په شان نالائقه څیز سره د دوستئ سزا ده، معلومه شوه چه د نالائقو او بدو خلقو د صُحبتونو په وجه ډیر آفتونه پیښیږي.

اے فُغاں از یارِ ناجِنس اے فُغاں
ہَمنَشینِ نیک جُوئید اے مہماں

(فریاد دې! د نالائقه دوست نه فریاد دې. اے دوستانو! نیك ملګرې اُوګورئ)

(مثنوي، دفتر ششم ۲۶۶، ۲۶۷، ۲۸۵ بتَغَیُّر)

www.dawateislami.net

د عاشقانِ رسول په صحبتونو کښې کښینئ ځکه چه د هغوئي د مَحَبَّت او صُحبَت په وجه خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حاصلیږي. حدیثِ قُدسي دې:

وَجَبَتْ مَحَبَّتِیْ لِلْمُتَحَابِّیْنَ فِیَّ وَالْمُتَجَالِسِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَزَاوِرِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَبَاذِلِیْنَ فِیَّ

[یعني] **الله** تعالٰی ارشاد فرمائي: کوم خلق چه زما په وجه په خپل مینځ کښې مَحَبَّت کوي او زما په وجه د یو بل سره کښیني او په خپلو کښې ملاقات کوي او مال خرچ کوي د هغوئي سره زما مَحَبَّت واجِب شو. (مُوَطَّا امام مالك ج۲ ص ۴۳۹ حدیث ۱۸۲۸)

د حدیثِ پاك بیان کوونکي مُبَلِّغ حِکایت

حضرت سَیِّدُنا عبدان بن محمد مَروَزِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ما حافِظ یعقوب بن سُفیان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خوب کښې ولیدو نو تپوس مې ترې وکړو: **مَا فَعَلَ اللّٰہُ بِكَ؟** یعني **الله** تعالٰی ستا سره څه مُعامَله اُوفرمائیله؟ جواب ئې راکړو: **الله** تعالٰی زما بخښنه وکړه او وئې فرمائیل: تا به چه څنګه په دُنیا کښې حدیث بیانولو، [هغسې ئې] په آسمان کښې هم بیان کړه. نو فرښتې زما خوا ته راجمع شوې او حضرتِ جِبرئیل عَلَیْہِ السَّلَام ما ته د حدیث پاك اِملا کولو حکم اوکړو، بیا فرښتو هغه (حدیث شریف) د **سرو زرو په قلمونو** ولیکو. (شَرْحُ الصُّدُوْر ص ۲۹۳)

والدِ مرحوم شین لِباس اغوستې وو او په مُسکا وو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو ولیده! د عُلمائے دین او د حدیثونو د **مُبَلِّغینو** څومره اوچته درجه ده! د وَفات نه پس د بخښنې زیرې هم ورکړې شو او په څلورم آسمان کښې ورته د فرښتو په مینځ کښې د حدیثِ پاك بیانولو سعادت هم نصیب شو، او فرښتو هغه حدیثِ پاك د سرو زرو په قلمونو ولیکو. په آخِرت کښې د جَنَّت طلبګارو! تاسو هم د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو او د سُنَّتو د تربیت په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشقانِ رَسول سره د سُنَّتو ډك سفر په ذریعه د **عِلمِ دین** خزانه جمع کړئ او په مَدَني انعاماتو د عمل، د سُنَّتو ډکو بیانونو کولو او هره ورځ د **فیضانِ سُنَّت** کم نه کم دوه درسونو ورکولو په ذریعه د جَنَّتُ الفِردَوس حاصلولو مُسلسل

www.dawateislami.net

کوشش جاري ساتئ. ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلې** اورووم: چنانچه د نِشتر بَستي (بابُ المَدینه کراچئ) د یو اسلامي ورور بیان په **تَصَرُّف** سره عرض کووم: [وائي چه] ما خپل والِدِ مرحوم په خوب کښې ډیر کمزورې او بربنډ د بل چا په مدد روان ولیدو. زه ډیر خفه شوم او ما د **اِیصالِ ثواب** په نِیَّت هره میاشت د درې ورځو په **مدني قافله** کښې د سفر کولو نِیَّت وکړو او سفر مې شروع هم کړو. په دریمه میاشت چه د مَدَنـي قافلې نه بیرته راغلم او اُوده شوم نو ما په خوب کښې دا ښکلي نظاره ولیده چه زما والِدِ مرحوم شین شین لباس اغوستې ناست دې او په مُسکا دې او په هغه باندې د باران نرې نرې پشم راوریږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **مدني قافِله** کښې د سفر کولو اَهَمِّیَّت ما ته ډیر ښه رامعلوم شو او اوس مې پوخ نِیَّت دې چه **هَره مِیاشت به د درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول** سره سفر جاري ساتم.

مانگو آ کر دُعا، قافلے میں چلو — پاوگے مُدّعا، قافلے میں چلو
خوب ہوگا ثواب اور ٹلے گا عذاب — ہوگا فضلِ خدا، قافلے میں چلو
فوتگی ہو گئی، گُم گیا ہے کوئی — مانگنے کو دُعا، قافلے میں چلو

راشئ اُوغواړئ دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ — شي پوره به مو دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ
ډیر به وکتئ ثواب، شي به لرې ټول عذاب — وبه شي فضلِ خُدا، قافِلو کښې لاړ شئ
که موځوك وفات شوې یا مو څوك وي ورك شوې — راشئ اُوغواړئ دُعا، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

آیا د خوب په ذریعه یقیني علم حاصلیږي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښه خوبونه بیشکه ښه وي. یاد ساتئ! د نبي خوب په وحي مُشتمِل وي او د غیرِ نبي خوب دا حیثیّت نه لري او د هغه خوب حُجَّت یعني دلیل هم نه وي. مثلاً که چرې تاسو په خوب کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا زیرې اوریدلې وي چه "تاسو جَنَّتي ئې." نو د دې نه قطعي جنّتي کیدل مراد نه وي ځکه چه مُعامله د خوب ده. بیشکه چا چه د **الله** تعالٰی خوږ حَبیب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې ولیدو هغه حق ولیدو ځکه چه شیطان د

www.dawateislami.net

هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارَك شكل كښې نه شي راتلې. او كومه خبره ئې چه اُوفرمائيله هغه هم حق حق او حق ده. خو بيا هم ولې چه په خوب كښې حواس [يعني سوچ، فكر] كمزوري وي، ځكه خوب ليدونكي په پوخ يقين سره دا نه شي وئيلې چه څه ئې فرمائيلي وو هغه [خوب ليدونكي] ټكي په ټكي صحيح اوريدلي وو، په اوريدو او پوهيدو كښې د غَلَطئ هر قِسم اِمكان شته دې، لِهٰذا په خوب كښې وركړې شوي حكم باندې د عمل كولو نه مخكښې به د شريعت حُكم ته كتلې شي.كه د خوب خبره د شريعت خلاف نه وي نو بيشكه په هغې عمل كيدې شي خو بيا هم په خوب كښې وركړې شوي حكم باندې عمل كول شرعاً واجب نه دي او كه چرې هغه خبره د شريعت خِلاف وي نو په هغې به عمل نه كيږي. په دې خبره د دې مثال نه ځان پوهه كړئ چه په هغې كښې،

په خوب كښې ئې د شراب څښلو حكم وكړو كه منع ئې وكړه؟

زما آقا اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، وَلِئِ نِعمَت، عظِيمُ البَرَكت، عظِيمُ المَرْتَبَت، پتنگ د شمعِ رِسالت، مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، حامِئِ سُنَّت، ماحِئِ بِدعـت، عالِمِ شريعت، پيرِ طرِيقت، باعِثِ خير و بَرَكت، حضرتِ عَلّامه مَولانا الحاج الحافِظ، القارى اَلشَّاه اِمام اَحمَد رَضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: يو كس خوب وليدلو چه جنابِ رسالتِ مآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (مَعَاذَ اللہ عَزَّوَجَلَّ) هغه ته د شراب څښلو حكم وركوي. د سَيِّدُنا اِمام جَعفر صادِق رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمَت كښې مُعامَله پيش كړې شوه. هغوئ رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ارشاد اُوفرمائيلو: ”رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د شراب څښلو نه منع كړې ئې. تا سم نه دي اوريدلي.“ او دا هم ياد ساتئ چه په دې [يعني د خوب په] مُعامَله كښې فاسِق او پرهيزگاره برابر دې. لِهٰذا په خوب كښې نه د پرهيزگار حكم اوريدل د هغه حكم د صحيح كيدلو دليل وي او نه د فاسِق بيان يقيني طور دروغ وي. (مَاخوذ از فتاوٰی رضويه ج ٥ ص ١٠٠)

مرے تم خواب میں آؤ مرے گھر روشنی ہو گی
مری قسمت جگا جاؤ عنایت یہ بڑی ہو گی (وسائلِ بخشش ص ٢٧٨)

www.dawateislami.net

زما په خوب کښې تشریف راوړئ، شي به کور زما روښانه
قِسمَت زما بیدار کړئ، وکړئ دا عنایت اے آقا مهربانه

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چه کله ئې یو ځلمې په غلط اودس کولو ولیدو

یو بُزُرگ د بَغداد شریف په یوه علاقه تیریدو، هغوئې یو ځلمې ولیدو چه **اودس** ئې په صحیح طریقه نه کولو نو ډیر د مِینې ډك انداز کښې ئې هغه ته اُوفرمائیل: "اے ځلمیه! صحیح اودس وکړه، **الله** تعالٰی دِ په دُنیا او آخِرت کښې په تا احسان اُوفرمائي." دا ئې اُوفرمائیل او تشریف ئې یوړو. هغه ځلمې د هغه بُزُرگ د **نیکئ د دعوت** ورکولو د خوږ خوږ انداز نه ډیر مُتَاَثِّره شو او د اودس کولو نه پس د هغه بُزُرگ په خدمت کښې حاضر شو او د نصیحت طالِب شو، هغوئې (د نیکئ دعوت ورکولو) کښې درې مدني ګلونه ارشاد کړل: (۱) پوهه شه! چا چه د رَبِّ کائِنات جَلَّ جَلالُهٗ **مَعرِفت** اُوموندو (یعني **الله** تعالٰی ئې اُوپیژندلو) هغه خلاصې اُوموندو. (۲) چا چه د خپل دین په مُعامَله کښې **خوف** وکړو (یعني د **الله** تعالٰی نه وَیَریدو) هغه د بربادئ نه بچ شو. (۳) چا چه په دُنیا کښې زُهد اختیار کړو (یعني د دنیا نه ئې ډډه وکړه) هغه چه کله په ورځ د مَحشَر د **الله** تعالٰی د طرف نه ورکړې شوې ثواب اُووِیني نو د هغه سترګې به یخې شي. (بیا ئې اُوفرمائیل) آیا نور څه درته ونه ښایم؟ عرض ئې وکړو: ضرور اُوفرمائې. هغوئې اُوفرمائیل: په چا کښې چه درې صِفتونه جمع شو د هغه **ایمان** مُکَمَّل شو: (۱) څوك چه د **نیکئ حکم** ورکوي او پخپله هم په هغې عمل کوي. (۲) څوك چه د **بدئ نه منع کوي** او پخپله هم د هغې نه ځان ساتي او (۳) څوك چه د **حُدودِ اِلٰهي** جَلَّ جَلالُهٗ [یعني د الله تعالٰی د حدونو] حفاظت کوي (یعني په شرعي احکاماتو عمل کوي او د شرعي ممنوعاتو نه ځان ساتي) **بیا** ئې اُوفرمائیل: آیا نور هم درته څه وښایم؟ عرض ئې وکړو وَلې نه، ضرور ارشاد اُوفرمائې، وئې فرمائیل: د دُنیا نه بې رغبته شه او د آخِرت شوق لرونکې جوړ شه او په خپل هر کار کښې د **رَبُّ الاَنام** عَزَّوَجَلَّ سره د رښتیاؤ مُعامَله کوه خلاصې موندونکو سره به **خلاصې**

www.dawateislami.net

اُومومې. دا ئې اُوفرمائیل او تشریف ئې یوړو. هغه ځلمي د هغه بُزرګ په باره کښې تپوس وکړو نو هغه ته اُووئیل شو چه دا حضرت سَیِّدُنا **امام شافعي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه وو. (احیاء العلوم ج۱ ص۴۵ بِتَغَیُّر)

د الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د بې ځایه اعتراض کولو په ځائ اصلاح کونکي جوړ شئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیدل! د کروړاؤ شافِعیانو پیشوا حضرت سَیِّدُنا مُحَمَّد بِن اِدریس، المَعرُوف "**امام شافِعي**" رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په څومره مَحَبَّت او نرمئ انفرادي کوشش اُوفرمائیلو او هغه ځلمي چه په ښه طریقه اودس نه کولو، د هغه اودس ئې هم صحیح کړو او هغه ته ئې د **نیکئ دعوت** هم ورکړو.کاش! چه مونږه هم په داسې انداز اختیارَوَلو کښې کامیاب شو، کاش! چه مونږ ته هم دا توفیق نصیب شي چه کله د چا په **اودس** کښې غلطي اُووینو یا د چا په لـمانځه کښې سستي او کمې اُووینو یا څوك د دروغو، غِیبَت او **چُغلئ** په ګناهونو کښې اَخته اُووینو نو بیا وروستو د هغه په غیر موجودګئ کښې په هغه باندې د بې ځایه اعتراض کولو په ځائ او په هغه پسې د بدو وئیلو په ذریعه خپل ځان د غیبت جوړې کندې ته د غورزَوَلو په ځائ هغه د ګناهونو د دلدل نه د راویستلو کوشش وکړو او په ډیره مینه او مَحَبَّت د هغه د پوهه کولو کوشش وکړو او د آخِرت د ثواب خزانې جمع کوونکي جوړ شو. که مونږه د اِخلاص په نیت څوك پوهه کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی ضرور به فائده کیږي او فائده به ولې نه کیږي ځکه چه په پوهه کولو باندې د فائدې رسیدو پخپله رَبُّ الانام جَلَّ جَلَالُهٗ په خپل رښتیني کلام کښې خبر فرمائیلې دې چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "**کنزُالاِیمان مَع خَزَائِنُ الْعِرفان**" صفحه ۹٦٤ سیپاره ۲۷ سُوْرَةُ الذّٰرِیٰت آیت **۵۵** کښې دي:

وَ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او پوهه کوئ ځکه چه پوهه کول مسلمانانو ته فائده ورکوي.

www.dawateislami.net

جسے نیکی کی دعوت دوں، سنے دل سے کرم یا رب!
زَباں میں دے اثر کر دے، عطا زورِ قَلَم یا ربّ

چا ته چه ورکووم د نیکۍ دعوت، چه اوري ئې په غور، وکړه کرم یاربّ
اثر پیدا کړې زما په خُله کښې، را عطا کړې زور د قلم یا ربّ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اَودَس طریقه (حَنَفِی)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په ذِکر کړې شوي حِکایت کښې د حضرت سیِّدُنا اِمام شافِعي د یو ځلمي د اودس د اصلاح کولو ذِکر دې، چه هغه وخت هم خلقو په اودس کولو کښې غَلَطۍ کولې نو دا اوسنې دور خو د هغې نه ډیر زیات نازك دې بلکه ښکاره خبره ده چه د مسلمانانو اکثریت ته د اودس کولو صحیح طریقه نه ورځي لِهٰذا راځئ چه مونږه هم **د اودس طریقه** زده کړو. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب **"د لمانځه احکام"** [د رسالې "د اودس طریقه" د] صفحه ۸ نه ١٤ پورې دي: کعبةُ الله شریف طرف ته مخ کول او په اوچت ځائ کښیناستل مُستَحَب دي. د اَودَس د پاره **نِیَّت** کول سنّت دي، نِیَّت د زړه اِرادې ته وائي، په زړه کښې چه نِیَّت وي نو په ژبه وئیل هم افضل دي، لهٰذا په ژبه داسې نِیَّت ولولئ چه زه **د حُکمِ اِلٰهی** عَزَّوَجَلَّ **د پوره کولو او د پاکۍ حاصلولو د پاره اَودَس کووم.**

بِسْمِ الله ولولئ، دا هم سنّت دي بلکه بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ولولئ چه د کله پورې مو اَودَس وي فرښتې به درله مسلسل نیکۍ لیکي (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج۱ ص۵۱۳ حدیث۱۱۱۲) بیا **دواړه لاسونه** درې درې ځله د کِیټو [یعني د مړوندونو د جوړونو] پورې اُووِینځئ، (نل بند کړئ او) د دواړو لاسونو د ګوتو خِلال هم اوکړئ، کم نه کم درې درې ځله د غاښونو په ښي طرف، ګڅ طرف کښې او لاندې باندې **مِسواک** اوکړئ او هره پیره مِسواک وِینځئ. حُجّةُ الاسلام اِمام محمّد غزالی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "د مِسواك کولو په وخت کښې په لمانځه کښې د قرآنِ مجید د قِراءت [یعني لوستلو] او د ذِکْرُ الله

www.dawateislami.net

عَزَّوَجَلَّ د پاره د خُلې پاك کولو نِیَّت کول پکار دې" (احیاءُ العُلوم ج۱ص۱۸۲) بیا د ښي لاس په درې چونګه اوبو (هره پیره نل بندوئ) په داسې شان **درې ځله خُله اُووِینځئ** چه هره پیره د خُلې په هره پرزه باندې اوبه اُوبهیږي که روژه مو نه وي نو غړغړه هم اُوکړئ. بیا په ښي لاس باندې په درې چونګه (اوس هره پیره نیم چونګ هم کافي دې) (او هره پیره نل بندوئ) **درې ځله د پوزې** د نرمې غوښې پورې اوبه وخیژوئ او که روژه مو نه وي نو د پوزې جرړي ته اوبه وخیژوئ، بیا (نل بندکړئ او) په چپ لاس پوزه پاکه کړئ او کچه ګوته د پوزې په سُورو کښې اُووهئ. **درې ځله ټول مخ** داسې اُووِینځئ چه د کوم ځائ نه عادتاً د وِینښتو ستې [جرړې] شروع کیږي د هغه ځائ نه واخله د زنې د لاندې پورې او د یو غوږ د لَو [یعني د نرمې حصّې] نه د بل غوږ د لَو [یعني نرمې حصّې] پورې هرځائ باندې اُوبه اُوبهیږي. که **ګِیره** مو وي او اِحرام مو نه وي تړلې نو(اول نل بند کړئ بیا) په داسې شان **خِلال** اوکړئ چه ګوتې د مرئ د طرف نه [په ګِیره کښې] داخِلې کړئ او **مخې** طرف ته ئې اُوباسئ. بیا اول **ښي لاس** د ګوتو د سرونو نه وینځل شروع کړئ او د څنګلې سره ئې اُووِینځئ. هم دغسې بیا **چپ لاس** اُووِینځئ. دواړه لاسونه د مټ د نِیمې [یعني د څنګل او د اُوګې د مینځه] پورې وینځل مُستحب دي. **اکثر خلق په چونګ کښې اوبه واچوي او هغه د لاس د بند نه ښکته څنګل طرف ته پریږدي په دې طریقه اوبه د مټ او د څنګل ډډو ته د نه رسیدو اندیښنه ده. لِهٰذا په بیان کړې شوي طریقه باندې لاس وِینځئ نو بیا په چونګ اوبه د څنګل طرف ته د بهیولو ضرورت نشته بلکه** (بغیر د صحیح اِجازت نه داسې کول) **د اوبو اسراف دې.** بیا (نل بند کړئ) او **د سر مسح** په داسې طریقه اوکړئ چه د دواړو لاسونو غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پریږدئ او باقي د دواړو لاسونو د درې درې ګوتو سرونه د یو بل سره ولګوئ او د تندي په وِینښتو یا پوستکي [یعني څرمن] باندې ئې کیږدئ او د څټه پورې ئې داسې راښکاږئ چه تَلې د سر نه جدا وي، بیا د څټ نه د تندي پورې تَلې په راښکلو راولئ چه په دې دوران کښې د شهادت ګوتې او غټې ګوتې په سر بالکل ونه لګي، بیا د شهادت په ګوتو د غوږونو د دننه غاړو او په غټو ګوتو د غوږونو د بَهر غاړو مسح اوکړئ او کچې ګوتې د غوږونو په سُورو کښې داخِلې کړئ. او د ګوتو په شا د څټ مسح

www.dawateislami.net

اوکړئ، بعضې خلق د مرئ او د وِینځلو شوو څنګلو او متو مسح کوي دا سُنَّت نه دي. (فتاوٰی رضویّه مُخَرَّجه ج ٤ ص ٦٢١ کښې د سر د مسح کولو یوه طریقه دا هم لیکلې شوي ده په دې کښې خاص طور د اسلامي خویندو د پاره زیاته اساني ده. چناچه لیکلې شوي دي چه: "د سر په مسح کښې د سُنّت ادا کولو دپاره دا هم پوره دي چه ګوتې د سر په مخکنۍ حصه باندې کیږدئ او ورغوي د سر په ډډو باندې کیږدئ او لاسونه جوخت د څټ طرف ته راښکاږئ.") **د سر د مسح کولو نه مخکښې د نل په ښه طریقه د بندولو عادت جوړکړئ.** د ضرورت نه بغیر نل چالو پریښودل یا نیم بندول چه اوبه تري څڅیږي دا ګناه ده. بیا مخکښې **ښئ ښپه بیا چپه ښپه،** هره پیره د ګوتو نه وِینځل شروع کوئ او د ګیټو [پړکو] نه بره ځائ پورې بلکه مُستَحَب دي چه د نیمې پنډئ پورې ئې درې درې ځله وینځئ. د دواړو ښپو د ګوتو خِلال کول سُنَّت دي (د خِلال په وخت کښې نل بند ساتئ) د دې مُستَحَب طریقه دا ده چه د چپ لاس په کچئ ګوته د ښئ ښپې د کچئ ګوتې نه خِلال شروع کړئ او په غټه ګوته ئې ختم کړئ او هم دغه د چپ لاس په کچئ ګوته ئې د چپې ښپې د غټې ګوتې نه شروع کړئ او په کچئ ګوته ئې ختم کړئ. (عامه کُتُب)

حُجَّةُ الاسلام اِمام مُحَمَّد غزالی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "د هر اندام وینځلو په وخت کښې دِ دا اُمّید لري چه زما د دې اندام ګناهونه لرې کیږي." (اِحیاءُ العُلوم ج۱ ص۱۸۳ مُلخّصاً)

د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د اوياؤ بیمارو نه شفا ده

په لوټه [یا کوزه] وغیره باندې د اَودَس کولو نه پس پاتې شوې اوبه په ولاړه څښل **سُنّت** هم دي او **شِفا** هم ده. چنانچه زما آقا **اعلٰحضرت،** اِمامِ اهلِ سُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په "**فَتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجَه** جلد ٤ صفحه ٥٧٥ نه ٥٧٦ کښې فرمائي: د اَودَس نه د پاتې شوو اوبو د پاره شرعاً عَظَمت او احترام دې او د نَبِـيِّ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي چه حضور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَودَس اُوفرمائیلو او بقِیّه آب (یعني پاتې شوي اوبه) ئې په ولاړه وڅښلې او په یو حدیث کښې رِوایت شوي دي چه **د دې څښل د اوياؤ مرضونو نه شِفا ده.** (اَلفِردوس ج۲ ص۳٦۲ حدیث ۳٦۱۷) نو هغه په دې اُمورو کښې د آبِ زم زم سره مُشابَهَت [یعني یو شان والې] لري، په داسې [یعني د اودس نه پاتې

www.dawateislami.net

شوو] اوبو باندې استِنجا کول مناسب نه دي. د "تنویر" په "آدابِ وُضُو" کښې دي: "د اَودَس نه پس دِ د اَودَس نه پاتې (اوبه) مخ په قبله په ولاړه وڅښي." (تنویرُ الاَبصار ج۱ ص۲۷۵) علّامه عَبدُالغَني نابُلُسي رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ فرمائي: ما تجربه کړې ده چه زه کله بیمار شم نو د اَودَس نه پاتې شوو اوبو [په ولاړه څښلو] باندې راته شِفا حاصله شي. [دوئي فرمائي چه] د نَبِيِّ صادِق صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې صحیح طِبِّ نَبَوِي کښې موجود ارشادِ گِرامي باندې د اعتِماد [یعني د یقین کولو] په وجه ما دا طریقه اختیار کړې ده. (رَدُّ المُحتار ج۱ ص۲۷۷) وَاللہُ سُبْحٰنَہٗ وَتَعَالٰی اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د جَنَّت اته واړه دروازې بیرته کیږي

په **حدیثِ** پاك کښې دي: چا چه په ښه طریقه اَودَس اوکړو او بیا ئې آسمان طرف ته نظر پورته کړو او کلِمۀ شهادت ئې ولوستله د هغه د پاره **د جَنَّت اَته واړه دروازې بیرته کړې شي** په کومه چه غواړي داخِل دِ شي. (سُنَن دارمی ج۱ ص۱۹۶ حدیث ۷۱۶)

نظر به کله هم نه کمزورې کیږي

څوك چه د اَودَس نه پس آسمان طرف ته گوري او سورۀ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ لولي اِنْ شَآءَ اللہ تعالٰی د هغه نظر به کله هُم نه کمزورې کیږي. (مَسائلُ القرآن ص۲۹۱)

د اَودَس نه پس د سُورۀ قَدر درې ځله لوستلو فضائِل

په **حدیثِ** مُبارَکه کښې دی: څوك چه د اَودَس نه پس یو ځل سُورۀقَدر ولولي نو هغه په صِدّیقینو کښې دې او څوك چه ئې دوه ځله ولولي نو په شُهَداء کښې به شمار کړې شي او څوك چه ئې درې ځله ولولي نو **الله** تعالٰی به د مَحشر په میدان کښې هغه د خپلو انبیاؤ عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام سره ساتي. (جَمعُ الجَوامِع لِلسَّیوطِی ج۷ ص۲۵۱ حدیث ۲۲۸۱۷)

د اَودَس نه پس لوستلو والا دُعا (اول و آخِر دُرودشریف)

څوك چه د اَودَس کولو نه پس دا کلِمات ولولي: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ **تَرجَمَه:** اے الله! ته پاك ئې او هم ستا لپاره ټول صفتونه دي، زه گواهي ورکووم چه ستا نه سِوا څوك د

www.dawateislami.net

عبادت لائق نشته، زه ستا نه بخښنه غواړم او ستا په بارگاه کښې توبه کووم. نو په هغې به مُهر ولگولې شي او د عرش نه لاندې به کیښودې شي او د قیامت په ورځ به هغه لوستونکي ته ورکړې شي. (شُعَبُ الایمان ج ۳ ص ۲۱ رقم ۲۷۵٤)

د اَودَس نه پس دا دُعا هم ولولئ (مخکښ وروستو درود شریف)

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! ما په ډیر زیات توبه کوونکو کښ شامِل کړې او ما په پاکیزه اوسیدونکو کښ شامِل کړې. (سُنن ترمِذی ج۱ ص ۱۲۱ حدیث ۵۵)

د ٤٠ مَدَني گلونو رَضوي گلدسته

زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د اوداسه وغیره په باره کښې ورکړې شوي د جُدا جُدا رنگا رنگ ښکلو خلویښتو مَدَنـي گلونو رَضَوي گلدسته قبوله کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی تاسو ته به د معلوماتو خزانه په لاس در شي. دا ټول مدني گلونه د **فتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه** (جلد٤) په آخره کښې ورکړې شوې د "**فوائد جلیله**" د صفحه ٦١٣ تا ٧٤٦ نه اخستې شوي دي.

(١) په **اوداسه** کښې دِ سترگې کلکې نه بندوي خو [که بندې ئې کړي نو] اَودَس به وشي (ایضاً ص ٦١٣) (٢) که شونډې ئې ښې کلکې بندي کړې او **اَودَس** ئې وکړو او خُله ئې ونه وِینځله نو اَودَس به نه کیږي. (ایضاً ص ٦١٤) (٣) د اوداسه اوبه به د قیامت په ورځ د **نیکو په تَلَه** کښې اِیښودې شي. (ایضاً) (خو یاد ساتئ د ضرورت نه زیاتې اوبه توئي کول اِسراف دې) (٤) که مِسواك موجود وي نو په گوته غاښونه مړل د **سُنّت** ادا کولو او د ثواب گټلو د پاره کافي نه دي، خو که مسواك نه وي نو گوته یا زگه ټوټه [کپړه] باندې به **سُنّت** ادا شي او د زنانه د پاره که مسواك موجود وي نو بیا هم [په گوته یا] **دنداسه مړل** کافي دي. (ایضاً ص ٦١٥) (٥) که گوتئ سَسته وي نو په **اوداسه** کښې د هغې په تاوهلو تاوهلو اوبه بهیول **سُنّت** دي او که تنگه وي چه د خوزولو نه بغیر به اوبه نه رسي نو [خوزول او په هغه ځائ اوبه بهیول] **فرض** دي، هم دا حکم د والَئ (د غوږ د کالي) وغیره دې (ایضاً ص ٦١٦) (٦) اندامونه په مړلو مړلو وِینځل په **اَودَس** او **غسل** دواړو کښې **سُنَّت** دي (٧) د اَودَس د اندامونو په

www.dawateislami.net

وِینځلو کښې د شرعي حد نه دومره معمولي شان لِیکه (یعني د هر طرف نه معمولي غوندي) زیاتول چه په هغې د شرعي حد پوره کیدو کښې شك پاتې نه شي **واجب** دي. (ایضاً) (۸) په اَودَس کښې په خُله یا پوزه کښې اوبه نه اچول مکروه دي او که دا عادت جوړ کړي نو ګنهګار به وي. دا مسئَله دِ هغه خلق ښه یاده لري څوك چه خُله داسې نه وینځي چه د حلقه پورې هر ځائ اُووِینځلې شي او هغه خلق چه اوبه صرف پوزې ته ولګوي خو په بره راښکلو ئې پوزه کښې نه خیژوي دا خلق ټول **ګنهګار** دې، او که په **غُسل** کښې داسې ونکړي نو د سَرَه به نه **غُسَل** کیږي او نه **لمُونځ**. (اَیضاً) (۹) په اَودَس کښې د هر یو اندام پوره درې ځله وینځل **سُنّتِ مُؤَکَّده** دي، د پریښودلو په عادت به ګنهګار وي (ماخوذاز ایضاً) (۱۰) په اودس کښې تادي نه ده پکار بلکه په اِطمِینان او احتیاط سره دِ ئې کوي. په عوامو کښې چه دا مشهوره ده چه "اَودَس د ځوانانو په شان، او لمُونځ د بوډاګانو په شان" دا دَ اَوداسه په باره کښې غلطه خبره ده. (ایضاًص۶۱۷) (۱۱) په مخ وینځلو کښې دِ د اوبو لَپه نه په اننګو اچوي، نه په پوزه او نه دِ ئې په زوره په تندي اچوي، دا ټول کارونه د جاهِلانو دي بلکه په قلاره دِ ئې د **تندي** د بره نه اچوي چه د **زنې** پوري ښکته رابهیږي (ایضاًص۶۱۸) (۱۲) که چا په اَودَس کښې د مخ نه راتوئیدو والا اوبه [په بل اندام] مثلاً په مړوند اوبهیولې په دې اَودَس نه کیږي (یعني په مخ وینځلو کښې د مخ نه رابهیدو والا اوبو باندې د لاس مړوند وغیره نه شي وینځلې) او په غسل کښې (معامله جُدا ده) مثلاً د سر اوبه چه د ښپو پورې د کوم کوم ځائ پورې بهیږي هغه ځائ پاکوي هلته د نوو اوبو حاجت نشته (ایضاًص۶۱۸) (۱۳) که څوك اَوداسه ته کښیناستو او بیا ئې د څه مجبورئ په وجه مکمل نه کړې شو نو چه څومره افعال ئې کړي وو [یعني څومره اَودَس ئې چه کړې وو] د هغې به ثواب مومي اګر چه اَودَس ئې ونشو (ایضاً) (۱٤) چا چه پخپله اِراده وکړه چه نیم اَودَس به کووم نو هغه به په دې افعالو ثواب نه مومي، هم دغسې چه څوك اَودَس ته کښیناستو او بې عُذره ئې نیمګړې پریښودو نو هغه هم چه څومره افعال [یعني د کوم حده پورې اَودَس] کړې وو په هغې باندې د ثواب حقدار نه شي جوړیدې. (ایضاًص۶۱۹) (۱۵) که په سر باندې د باران څاڅکي دومره وشو چه څلورمه حصّه سر لوند شو نو مسح وشوه، اګر چه هغه کس ورته نه لاس لګولې

www.dawateislami.net

دې او نه ئې قصد (یعني نِیَّت او اراده) کړې وه. (ایضاً) (١٦) په پرخه [چنئ] کښې سرتور سر کښیناستو او په هغې ئې څلورمه حصّه سر لوند شو، مسح وشوه. (ایضاً) (١٧) په دومره تودو یا دومره یخو اوبو **اَوَدَس** کول مکروه دي چه په بدن باندي په صحیح طریقه نه شي اچولې کیدې او سُنَّت پرې نه شي پوره کیدې، او که [داسې اوبه] په یو **فرض** پوره کولو کښې مانِع [یعني رُکاوټ] جوړې شي نو د سَره به اَوَدَس نه کیږي. (ایضاً ص٦٢٠) (١٨) اوبه بیکاره خرچ کول یا توئي کول **حرام** دي. (ایضاً ص٦٢١) (پخپله یا د بل د څښلو نه پس د ګلاس یا د جګ اوبه هسې توئ کونکي دِ توبه وکړي او د بیا د پاره دِ د دې نه ځان ساتي) (١٩)که د نوم نه زیړې اوبه اُوځي او اُوبهیږي نو اَوَدَس پرې ماتیږي. (اَیضاً ص٦٢٢) (٢٠) که وِینه یا نَو په سترګه کښې دننه اُوبهیدو خو د سترګې نه بهر ونه وَتو نو اَوَدَس به نه ماتیږي، هغه که په ټوټه [یعني کپړه] باندې وچ کړې شي او[هغه کپړه] په اوبو کښې واچولې شي نو (اوبه) به نه ناپاکه کیږي. (اَیضاً ص٦٢٤) (٢١) په زخم پټئ تړلې شوي ده په هغې وِینه وغیره ولګیدله که دومره وه چه که مخه ورته بنده نه وې نو بهیدلې به وې نو اَوَدَس مات شو [او که د بهیدو قابله نه وه] نو مات نه شو، او پټئ هم ناپاکه نه شوه. (اَیضاً) (٢٢) [د تشو بولو په ځائ کښې دننه] څاڅکې راروان شو یا وِینه وغیره په ذَکر [یعني د تشو بولو په ځائ] کښې دننه اوبهیدله چه تر څو پورې د هغې د سُوري نه بهر نه وي راوَتلې، اَوَدَس به نه ماتیږي. او واړه بول صرف د سُوري په خُله کښې ځلیدل (د اَوَدَس ماتولو د پاره) کافي دي. (ایضاً) (٢٣) د نابالغه اَوَدَس کله هم نه ماتیږي او نه پرې غسل اوړي. دوئي (یعني نابالغو) ته د اَوَدَس او غُسل حکم د عادت جوړولو د پاره او د ادب زده کولو د پاره دې، ګنې په هیڅ قِسم حَدَث [یعني اَوَدَس ماتونکي کار] د دوئي اَوَدَس نه ماتیږي او نه د جِماع سره په دوئي غُسل فرض کیږي (ایضاً ص٦٣٣)(٢٤) اَوَدَس لرونکي د مور او پلار کپړې [او وِینځلې] یا ئې د هغوئ د خوړلو د پاره میوه [او وِینځله او] یا ئې د جُمات فرش د ثواب د پاره اُووِینځو، اوبه به نه مُستَعمَله کیږي اګرچه دا کارونه د قُربَت (یعني د الله د رضا) دي. (ایضاً ص٦٣٦)(٢٥) د نابالغه پاك لاس یا د بدن کومه یوه [پاکه] حصه اګرچه د هغه اَوَدَس نه وي په اوبو کښې دَ وَهلو سره به اوبه د اَوَدَس قابلې وي. (اَیضاً ص٦٣٧)(٢٦) بدن پاك ساتل، خیري لرې کول د شَرع تقاضه ده ځکه چه د

www.dawateislami.net

اسلام بُنیاد په پاکئ دې. په دې نِیَّت که اَودَس لرونکي [خپل] بدن اُووِینځلو نو بیشکه قُربَت (یعني د ثواب کار) دې خو اوبه مُستَعمَلې نه شوې. (ایضاًص٦٣٦) (٢٧) مُستَعمَلې اوبه پاکې دي په دې باندې کپړې وینځلې شئ خو په دې اَودَس نه شي کیدې او د دې څښل او په دې وړه اښکل [یعني اَغَږَل] مکروهِ (تنزیهي) دي. (ایضاًص٦٣٧) (٢٨) پرَدئ [یعني د بل چا] اوبه ئې بې اِجازته یوړلې اګرچه په زور یا په غَلا، په هغې به اَودَس وشي خو [داسې کول] حرام دي، البته که د چا مملوك (یعني د هغه د ذاتي) کوهي نه بل چا د هغه د منع کولو باوجود هم اوبه واغستلې، د هغې استعمال جائِز دې (ایضاًص٦٥٠) (٢٩) کومو اوبو ته چه د مُستَعمَلو اوبو داره ورسیدله یا پکښې ښکاره څاڅکي وشو په هغې باندې اَودَس نه کول غوره دي. (ایضاًص٦٥٠) (٣٠) په یخنئ کښې د اَودَس کولو په وجه که یخني ډیره کیږي، د هغې په وجه به [وقتي طور] تکلیف هم کیږي خو که د څه مرض ویره نه وي نو د تَیَمُّم اِجازت نشته (اَیضاًص٦٦٢) (٣١) که د شیطان د تُوکلو او پوکلو په وجه په لـمانځه کښې د څاڅکي راتلو یا د هوا خارج کیدو شك پیدا شي نو حکم دا دې چه تر څو داسې یقین پیدا نه شي چه په هغې قَسم کولې شي [چه زما اودس مات شو] نو د دې (وسوسې) دِ پروا نه کوي، که شیطان ورته وائي چه ستا اَودَس خو مات شو نو دا دِ ورته وائي چه خبیثه ته دروغژن ئې، او په خپل لـمانځه کښې دِ مشغول اوسي. (اَیضاًص٦٩٧) (٣٢)جُمات هر د کرَکژن څیز نه پاك ساتل واجِب دي اګر چه پاك وي، لکه لُعابِ دهن (یعني د خُلې لا رې، بَلغم)، د پوزي اوبه (یعني قنرې، یا د نزلې اوبه، د اوداسه اوبه[وغیره]) (ایضاًص٧٠٦) (٣٣) **خبرداري**: بعضې خلق دَ اوداسه نه پس دَ خپل مخ او لاسونو نه اوبه لرې کړي او لاسونه په جُمات کښې اوڅنډي (دا) بالکل **حرام** او ناجائِز دي (اَیضاً) (٣٤) په اوبو کښې بَول کول مطلقاً مکروه دي اګرچه په دریاب کښې وي. (اَیضاًص٧٢٥) (٣٥) کوم ځائ چه څه نجاست [یعني ګند] پروت وي [هلته] تلاوت کول مکروه دي (اَیضاًص٧٢٧) (٣٦) اوبه ضائع کول حرام دي (اَیضاًص٧٢٨) (٣٧) مال ضائع کول حرام دي (اَیضاًص٧٢٨) (٣٨) په زم زم شریف غسل او اَودَس کول بې د کراهته جائِز دي (او د بَول وغیره کولو نه پس) په لُوټه (د وچولو) نه پس (په آبِ زم زم) اِستنجا کول مکروه او نجاست [یعني ګند] وِینځل (مثلاً د بَولو کولو نه پس په تِیشو پیپر وغیره د وچولو نه

www.dawateislami.net

بغیر په آبِ زم زم استنجا کول) ګُناه ده. (اَیضاً ص۷٤۲) (۳۹) (هغه) اِسراف (کوم) چه ناجائِز او ګناه دې (هغه) صِرف په دې دوو صورتونو کښې دې، یو دا چه په څه ګُناه کښې خرچ او استعمال کړې شي او بل هسې بیکاره خپل مال ضائع کول. (اَیضاً ص۷٤۳) (٤۰) چا ته د مړي د غسل ورکولو طریقه زده کولو د پاره ئې مړې اولـمبَوَلو او هغه ته ئې د غُسل ورکولو نِیَّت ونکړو نو هغه هم پاك شو او د ژوندو نه هم فرض لرې شو ځکه چه فِعل بِالقَصد کافي دې، خو د نیّت نه بغیر به ثواب نه کیږي. (اَیضاً ص۷۰۷)

دین کی باتیں رہوں سنتا سناتا یا خُدا
اور رہوں اِس پر عمل کرتا کراتا یا خُدا

چه هر وخت د دِین خبرې اورم او کووم یا خُدا
چه کووم عمل پخپله، هم ئې بل ته زده کووم یا خُدا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اودس د ضروري احکامو زده کولو د پاره "**د لـمانځه احکام**" کښې د شاملې رسالې "**د اودس طریقه** (حَنَفی) " ضرور ولولئ.

د ګناه نه منع کول کله فرض دي

بیشکه د سُنَّتو ډك بیان کول د ثواب کار دې او ډیره زیاته د نیك بختئ خبره ده خو دا یاد ساتئ چه د وعظ او نصیحت بیان کول مُستحب کار دې، که چا ونکړو نو ګنهګار نه شو خو که یو کس ئې په ګناه ولیدو او غالب ګمان ئې دا دې چه که پوهه ئې کړم نو منع به شي نو د ډیرو ګینټو د بیان په مُقابَله کښې هغه د ګناه نه په منع کولو کښې زیات ثواب دې ځکه چه اوس هغه منع کول فرض دي او نه منع کوونکې ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب "**بهارِشریعت**" جِلد۳ صفحه ٦۱۵ کښې صَدرُالشَّرِیعَه، بَدرُالطَّرِیقَه حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتي **محمّد امجد** علي اَعظمي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی

www.dawateislami.net

عَلَیْه فرمائي: ”که غالِب ګمان دا وي چه دا هغه (ګناه کونکي) ته اُووائي نو هغه به ئې خبره اُومني او د ګناه نه به منع شي نو اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف (یعني د نیکئ حکم ورکول) واجب دي، (په دې صورت کښې که څوك په ګناه کولو اُووِیني نو) نه منع کول جائز نه دي.“

جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے میں دیتا ہوں اُس کو دعائے مدینہ (وسائلِ بخشش ص ۱۵۲)

چه څوك عام کړي دعوت د نیکئ زه کووم هغه ته، دُعائے مَدِینه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

امام اعظم ته به ګناهونه ښکاریدل

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۳۰۸ صفحو کتاب ”اسلامی بہنوں کی نماز“ صفحه ۱۲ کښې دي: حضرتِ عَلّامه عبدُالوَهَّاب شَعرانی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یو ځل سَیِّدُنا اِمامِ اعظم ابُو حنیفه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د کوفې د جامِع مسجد اَودَس خانې ته تشریف یوړو نو یو ځلمې ئې په اَودَس کولو ولیدو، د هغه نه د اَودَس [د استعمال شوو اوبو] څاڅکي څڅیدل. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ورته اُوفرمائیل: اے ځویه! **د مور او پلار د نافرمانئ** نه توبه وکړه. هغه فوراً عرض اوکړو: ”ما توبه وکړه،“ د یو بل کس د اَودَس [استعمال شوي اوبه ئې په] څڅیدو ولیدې، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هغه کس ته اُوفرمائیل: ”اے زما وروره ته د زِنا نه توبه وکړه، هغه عرض اوکړو: ” ما توبه وکړه ،“ د یو بل کس د اَودَس د اوبو څاڅکي ئې ولیدل نو هغه ته ئې اُوفرمائیل: ”د شرابو د نشې او د سندرو او باجو اوریدو نه توبه وکړه“ هغه عرض اوکړو: ”ما توبه وکړه. “ ولې چه په سَیِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُوحَنِیفه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د کشف په وجه د خلقو عیبونه ښکاره کیدل، لِهٰذا هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې د دې کشف د ختمیدو دُعا اوغوښتله، الله تعالیٰ دُعا قبوله کړه او هغوئي ته د اَودَس کونکو د ګناهونو ریژیدل ښکاره کیدل بند شو. (المِیزانُ الکبریٰ ج۱ ص۱۳۰)

www.dawateislami.net

قصداً د چا عیب معلومول څنګه دي؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو ولیدل چه! د کروړونو حَنفیانو پیشوا امام اعظم، فَقِیهِ اَفخَم، حضرت سَیِّدُنا امام اعظم ابوحنیفه نُعمان بن ثابِت رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیۡہ به د وِلایت په نظر د خلقو د اوداسه په ذریعه رژیدونکي نافرمانۍ لیدلې! بیشکه دا د هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیۡہ عظِیم کَرامَت وو خو هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیۡہ د خلقو په عیبونو باندې خبرداره کیدل خوښ نه کړل او د دُعا په ذریعه ئې خپل دا کشف ختم کړو! د دې نه دِ هغه خلق عِبرت حاصل کړي څوك چه د امام اعظم رَحمَۃُ اللہِتَعَالٰیعَلَیۡہ د مَحَبَّت دعویٰ هم لري او قصداً غلط تپوسونه هم کوي او د خلقو د عیبونو په لټون پسې وي، یاد ساتئ! بغیر د شرعي مَصلَحت نه قصداً د یو مُسلمان عیب معلومَول ګناه حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکتَبَۃُالمَدِینه چاپ شوي پاکیزه قرآن "کَنۡزُ الۡاِیۡمان مَعَ خَزائِنُ الۡعِرفان" په صفحه ۹۵۰ سیپاره ۲۶ سُورَۃُالحُجُرٰت آیت نمبر ۱۲ کښې صفا راغلي دي:

وَلَا تَجَسَّسُوۡا مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: **او عیب مه لټوئ.**

د عالِم غَلَطي بیانول په دوه وجهو حرامه ده

او که هغه **عیب** ئې بل چا ته داسې ظاهر کړو چه هغه ته معلومه شي چه دا د فلانکي **عیب** دې نو دا یوه بله ګناه شوه، که هغه عیب د یو عالِم دِین وي او هغه ئې ښکاره کړو نو ګناه نوره هم زیاته شوه. چنانچه **حُجَّۃُ الاسلام** حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد **محمّد** بن **محمّد** غزالي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰیعَلَیۡہ په **کیمیائے سعادت** کښې فرمائي: د عالِم غَلَطي بیانول په **دوه وجهو** حرام دي. **یو** دا چه دا **غِیبَت** دې. **دویم** دا چه په خَلقو کښې به **جُرأَت** [یعني زړه] پیدا شي او هغوئي به دا دلیل جوړوي او په هغه [عالِم] پسې به روان وي (یعني په بې باکۍ سره به ګناهونه کوي) او شیطان به هم د هغه (یعني د عالِم په غَلَطیانو پسې د تلونکي د) مدد د پاره زور لګوي او (په ګناهونو باندې د زَرَوَر جوړولو د پاره به) هغه ته

www.dawateislami.net

وائي چه ته (هم داسې داسې وکړه) ته د فُلانکي عالِم نه زیات پرهیزګاره خو نه ئې. (کیمیائے سعادت ج۱ ص ٤١٠) څومره زیات خلق چه [د عالِم] د هغه خطا نه خبریږي، ګناهونه به هم [هغه همره] زیاتیږي. مُسلمان ته پکار دي چه اوّل خو پخپله دَ خلقو د عیبونو معلومولو نه ځان ساتي او که څوك ئې ورته ښودل غواړي نو د اوریدلو نه دِ هم ځان ساتي. فرض کړه که په څه طریقه ورته د چا **عیب** ښکاره شي یا ورته معلوم شي نو هغه دِ پټ کړي. بغیر د شرعي مَصلَحت نه دِ ئې بالکل چا ته نه ښکاره کوي.

د عیب پټولو باره کښې ۳ فرامِینِ مُصطفٰی ﷺ

د **عیب** پټولو په باره کښې ۳ **فرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ: **(۱)** څوك چه د خپل مسلمان ورور عیب پټ کړي **الله** تعالٰی به د قیامت په ورځ د هغه عیبونه پټ کړي. او څوك چه د خپل مسلمان ورور عیب ښکاره کړي **الله** تعالٰی به د هغه عیب ښکاره کړي تر دې چه هغه به په خپل کور کښې رُسوا کړي. (اِبنِ ماجه ج۳ ص ۲۱۹ حدیث ۲۵٤٦) **(۲)** څوك چه د یو مسلمان تکلیف لرې کړي **الله** تعالٰی به د قیامت په تکلیفونو کښې د هغه تکیلف لري کړي او څوك چه د یو مسلمان عیب پټ کړي نو خُدائے سَتّار عَزَّوَجَلَّ به د قیامت په ورځ د هغه عیبونه پټ کړي. (صحیح مُسلِم ص ۱۳۹٤ حدیث ٦٥٨٠) **(۳)** څوك چه د خپل ورور عیب اُووِیني او د هغه **پرده** وساتي نو هغه به جَنَّت ته داخل کړې شي. (مُسند عَبْد بن حُمَیْد ص ۲۷۹ حدیث ۸۸٥)

د عیب لټولو ۵۹ مِثالونه

دلته چه کوم مِثالونه وړاندې کیږي په هغې کښې د عیبونو د لټون (یعني لټولو) سره ضِمناً غِیبتونه، تُهمتونه او بدګُمانئ وغیره هم شامِلې دي. اکثر داسې مِثالونه دي چه په هغې کښې به د نِیَّت په اعتِبار احکام هم مُرَتَّب کیږي. مَثَلاً د نوکر ساتلو، د شِراکت دارئ (یعني حصه دارئ او) یا ئې چرته د واده اِراده وي نو د ضرورت مطابق معلومات کولو کښې ګناه نشته بلکه په داسې مُعامَلاتو کښې چه د چا نه تپوس وکړې شي په هغه واجب دي چه صحیح خبره وښائي او که د

www.dawateislami.net

داسې مُعامَلاتو [نه علاوه هسې] تپوسونه کول وي نو د **غِیبَتونو** او تُهمتونو په ذریعه دِ ځان له جَهَنَّم ته د تلَلو لارې نه جوړوي بلکه د عیبونو پټولو نه کار واخلي او د جَنَّت حقدار دِ جوړ شي. خو عام طور د قِسم قِسم تپوسونو په ذریعه د **عیبونو په لټون** (یعني په عیبونو معلومَوَلو او چخولو) کښې دا نِیَّت نه وي، بس خلق هسې بې مَقصده تپوسونه کوي او کله کله پخپله هم په ګناهونو کښې اَخته کیږي او ډیر ځل جواب ورکونکې هم ګنهګار شي. [مَثَلًا] ❁چا کور په کرایه واغِستو نو د هغه نه تپوس کول: د کور مالِك څنګه سړې دې؟ دا تپوس که پخپله ګناه نه وي نو هُم د ګناهونو سَبَب جوړیدې شي. مَثلاً کرایه دار که په جواب کښې اُووائي چه: په معاملاتو کښې ګړ بړ کوي، ډیر بَد اخلاقه او شُوم دې، دغسې **درې عیبونه** ښکاره شو هغه هم هله که په هغه کښې [دا عیبونه] وي نو عیب به ورته وئیل شي او د دې ښکاره کول درې **غِیبتونه** شو ګنې [که په هغه کښې دا عیبونه نه وي نو] **تُهمتونه** شو. او که صرف د دې د پاره ئې تپوس کړې وو چه د کور د مالِك عیبونه معلوم شي نو اوس دا د "عیبونو لټون" هُم شو او دا [ټول] ګناه حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکي کارونه دي. ❁که چا کور په کرایه ورکړې وي نو دا تپوس کول: کرایه دار څنګه سړې دې؟ دا تپوس که پخپله ګناه نه وي نو هُم د ګناهونو سبب جوړیدې شي. مَثلاً د کور مالِك که په جواب کښې اُووائي چه: ډیر غټ ټَګ دې، کله هم په وخت کرایه نه راکوي، فضول په کور کښې ټَك ټُوك کوي زما مکان ئې ټول خراب کړو. دغسې ئې درې عیبونه ښکاره کړل او هغه هم هله که په هغه کښې [دا عیبونه] وي نو عیب به ورته وئیل شي او د دې ښودل درې **غِیبتونه** شو ګنې [که په هغه کښې نه وي نو] **تُهمتونه** شو. ❁ستاسو نوې نوکر صحیح کار کوي که نه؟ دا تپوس کول هم بغیر د اِجازَتِ شرعي نه عیب لټول دي او د دې سوال په جواب کښې پوره خطره ده چه جواب ورکونکې د نوکر په باره کښې اُووائي چه د کار غل دې، حرام خور دې، وغیره او ګنهګار شي. ❁ **ته** د شپې ناوخته پورې وِیښ ناست ئې، د سحر لمُونځ هم کوې او که نه؟ ❁ تاسو لمُونځ کوئ که نه؟ ❁ ستاسو والِد صاحب لمُونځ ګُزاره دې او که نه؟ ❁ تا د اوسه پورې نوي جامې [کېږې] نه دي اغوستي! د اختر لمُونځ دِ هم کړې دې او که نه؟ ❁ د رَمَضَان په میاشت کښې د

www.dawateislami.net

چا نه تپوس کول: واه! هلکه نن ډیر تازه تازه ښکارې! روژه دِ هم نیولي ده او که نه؟ ❁ دا ځل په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې تا څو روژې ونیولې؟ ❁ تراویح خو درنه کله نه دي پاتې شوي؟ ❁ ته پوره زکوٰة اوباسې که نه؟ ❁ ستا کور والا [یعني د بچو مور] شریفه خو ده کنه؟ ❁ جنګ خو نه کوي؟ (هم دا تپوسونه په زنانۀ کښې هُم د خاوند په باره کښې د عیبونو د لټون دي) ❁ د واده شوي جینئ د مور نه تپوس کول: ستا د لور خواښي ښه ده او که نه؟ ❁ جنګیرئ خو نه ده؟ ❁ ډوډئ ورکوي او که نه؟ ❁ لور خو دِ نه تنګوي؟ ❁ خپل ځوئ ته شیطاني خو نه کوي؟ ❁ د هغې هغه طلاقئ لور چه په کور ناسته ده هغه څه لانجې خو نه جوړوي؟ ❁ او د ځوئي د واده نه پس د هغه د مور نه تپوس کول: اوس دِ ځوئ! ستا خیال ساتي او که نه؟ ❁ تنخواه چه راوړي د مخکښې په شان ئې تا له درکوي که خپلې ښځې له ئې ورکوي؟ ❁ اِنګور خو دِ د جادُو په زور خپل ځان طرف ته نه دې اړوَلې؟ ❁ اِنګور دِ ښه ده که نه؟ ❁ تعویذونه خو نه کوي؟ ❁ ژبه خو ئې اوګده نه ده ؟ ❁ ستا عِزَّت کوي که نه؟ ❁ هغه بله ورځ د فلانکي د کور نه تیز تیز آوازونه راتلَل څوك څوك په جنګ وو؟ ❁ آو! خورې د هغې خاوند ډیر ظالِم دې هغه غریبه چرې بې قصوره خو نه وهي؟ ❁ د ناوك [یعني نوي واده والا هلك] نه تپوس کول: سخر صاحِب خو دِ په جَهیز ورکولو کښې د شومتیا نه کار نه دې اغستې؟ ❁ هغه ورځ دِ ځان ډیر ساز کړې وو او د سخر کره تلې وې، سخر صاحب درته څه نظر وکړو که نه؟ ❁ ستا ئې صحیح میلمستیا کړې وه که نه؟ ❁ د بال بچو والا اسلامي ورور نه تپوس کول: ستاسو د بچو مور پینځه وخته لمُونځ کوي که نه؟ ❁ ستا د ورونړو نه پرده کوي که نه؟ ❁ بې پرده خو نه ګرځي؟ ❁ ستا سَیټ [یعني مالِك] صحیح سړې دې که نه؟ ❁ شوم خو نه دې؟ ❁ بد اَخلاقه خو نه دې؟ ❁ نوکرانو ته کنزلې خو نه کوي؟ ❁ د طالبِ علمانو نه بې حاجته تپوسونه کول: ستاسو فلانکي اُستاذ څنګه سبق ښائي؟ ❁ د هغه په سبق پوهیږئ هم او که نه؟ ❁ د چا د میلمه نه تپوس کول: وایه کنه! د کوربه څه خوند شته که نه؟ ❁ څنګه! میلمَستیا دِ صحیح کوي که نه ؟ ❁ د دعوتِ اسلامي د فلانکئ حلقې د مُشاوَرت نوې نګران تاسو ته څنګه ښکاره شو؟ ❁ اسلامي ورونړه خو رتې نه؟ ❁ د نِګران نه تپوس کول: فُلانکي مُبَلِّغ ستاسو

www.dawateislami.net

خبره مني که خپله خوښه کوي؟ ❁ فُلانکي ئې د تنظیمي ذمه دارئ نه لرې کړو، ولې د هغه کردار کمزورې وو که څنګه؟ ❁ فُلانکي مُدَرِّس یا ناظِم ئې فارغ کړو، هغه څه ګړ بړ کړي وو؟ ❁ د یو مُبَلِّغ نه تپوس کول: رِښتیا رِښتیا وایه چه تا نن بیان د خپل واه واه کولو [یعني د خپل صِفَت غوښتلو] د پاره کړې وو که د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره؟ ❁ په یو محفلِ نعت کښې غیر حاضر نعت خوان نه تپوس کول: فلانکي ځائ ته د نعت خوانئ د پاره ته په دې وجه نه وې راغلې چه هلته به څوك "څه" راکړي که نه؟ ❁ تاسو صِرف مدني چینل ګورئ که په نورو چینلو د ګناهونو نه ډك پروګرامونه هم ګورئ؟ ❁ فِلمونه او ډرامې خو نه ګورئ؟ ❁ فُلانکي اَفسر ستاسو کار هسې کړې وو که نه! پیسې میسې خو ئې نه غوښتلې؟ ❁ د فُلانکي ګاډي ته وهلې وې او زخمي کړې ئې وې، غَلَطي ستا وه که د هغه؟ ❁ فُلانکي ډاکټر صحیح چیك کړئ که نه هسې ئې درنه فیس واخستو؟ ❁ طلاق ورکونکي دوست نه تپوس کول: یار! تا هغې ته ولې طلاق ورکړو؟ (په دې سوال عام طور صحیح د ګناهونو سلسله شروع شي) ❁ (هسې فُضول تپوس کول) هغه دُکاندار څنګه دې؟ ❁ ټګ خو نه دې؟ ❁ لوټ کول خو نه کوي؟ (یعني ډیر ګران پوشه خو نه دې) ❁ [هغه فلانکې] ډیر شریف ښکاري، تا ته به معلوم وي، چرې ټګ، بدمعاش خو نه دې؟ ❁ ستا نوې ګاونډي څنګه دې؟ ځان ترې ساته ما ته خو سم سړې نه ښکاري!

کسی کی خامیاں دیکھیں نہ میری آنکھیں اور سنیں نہ کان بھی عیبوں کا تذکرہ یا رب

چه مې نه لټوي سترګې د چا عیب او نه اورم د عیبونو تذکِره یا ربّ

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د هغوئي خوږو خبرو زما د زړه دُنیا بدله کړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فضولو تپوسونو او د خلقو د عیبونو د لټولو او معلولو د سپیره عادت ختمولو د پاره، که څوك د چا عیب بیان کړي هغه په حِکمتِ عملئ سره د منع کولو او په

www.dawateislami.net

مُمکِنه صورتونو کښې د هغه د عیب ښکاره کولو د بد عادت ختمولو د جذبې موندلو د پاره د غِیبتونو، **چُغلۍ** او بَدګُمانۍ نه د بچ کیدلو او بچ کولو وغیره احساس پیدا کولو د پاره د تبلیغ قرآن و سُنَّت عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره هر دَم تړون مضبوط ساتۍ، د خپل ایمان د حفاظت د پاره فِکرمند اوسۍ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتۍ، په سُنَّتو عمل کوۍ، د **مَدَني انعاماتو** مطابق ژوند تیروۍ، او په دې د اِستقامت موندلو د پاره هر ورځ د "**فِکرِمَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله ډکوۍ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپلې علاقې د دعوتِ اسلامي ذمه دار ته جمع کوۍ او خپل دا مَدَني مقصد چه، "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندۍ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربِیَّت په **مدني قافله** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوۍ. ستاسو د ترغیب د پاره تاسو ته یو مَدَني سپرلې اَورَووم، چنانچه د بابُ المَدینه (کراچۍ) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې: د نیکو صحبتونو نه د لرې والي په سبب زه د سندرو، باجو او فلمونو ډرامو د کتلو په ګناهونو کښې اخته ووم، زما د ژوند شپې او ورځې په نافرمانۍ کښې تیریدې، زما د بهترۍ سبب دا جوړ شو چه یوه ورځ مې د خپلې علاقې د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د عاشقِ رسول سره ملاقات وشو، د سلام او مُصافَحه [یعني لاس مِلاوَلو] نه پس ئې راته په ډیر ښکلي انداز کښې خپل تعارُف وکړو او زما نه ئې زما د نوم وغیره تپوس وکړو او د خپل دې مَدَني مقصد چه "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" په باره کښې ئې په ما **اِنفِرادي کوشش** کول شروع کړو، د نیکو د رَغبت او د ګناهونو نه د نفرت ذِهن ئې راکړو او په دې باره کښې ئې د دعوتِ اسلامي د مُبَلِّغینو د سُنَّتو ډکو بیانونو په برکت ښکاره شوي حیرانونکي "مَدَني سپرلي" د ترغِیب په طور راواورَوَل. **د هغوئ خوږو خوږو خبرو زما د زړه دُنیا بدله کړه** او زه د دعوتِ اسلامي په خوشبوداره مَدَني ماحول پوخ شامل شوم. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د مَدَنـي ماحول په برکت راته د ګناهونو نه نَفرت، د نیکو سره محبّت،او د لمُونځونو د پابندۍ سعادت رانصیب شو او د **حُقوقُ الله** سره سره د **حقوقُ العِباد** د ادا کولو ذِهن مې هم جوړ شو.

www.dawateislami.net

ہے فلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں ہر بنا کام بگڑ جاتاہے نادانی میں
ڈوب سکتی ہی نہیں موجوں کی طغیانی میں جس کی کشتی ہو محمد کی نگہبانی میں

کامراني او کامیابي ده په نرمۍ او آسانۍ کښې هر جوړ شوې کار ورانیږي نادانۍ کښې
کله هم ډوبیدې نه شي په چپو کښې د طوفان چه کشتۍ وي د چا د محمد په نګرانۍ کښې

د نرمۍ اَهَمِّیَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي په "**خوږه وَینا**" کښې ډیر اثر دې، په خوږه وینا د کانړي په شان زړه هم نرمیږي، لِهٰذا په **اِنفِرادي کوشش** کولو کښې همیشه د نرمۍ نه کار اغستل پکار دي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَۃُالْمَدِینه چاپ شوي د 1197 صفحو کتاب"**بهارِ شریعت**" جلد۳ صفحه ۵۷۲ کښې حدیثِ پاک دې: څوك چه د نرمۍ نه محرومه شو د خیر (یعني د نیکۍ) نه محرومه شو. (صحیح مُسلِم ص ۱۳۹۸ حدیث ۷۵(۲۵۹۲))

الٰہی حُسن اخلاق اور نرمی کی سعا د ت دے گناہوں پر ندامَت دے، صداقت دے شرافت دے

اِلٰهي د حُسنِ اَخلاق او د نرمۍ سعادت راکړې په ګناهونو پښیماني، صداقت او شرافت راکړې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د فرعون طرف ته د نیکۍ د دعوت د پاره د لیږلو په موقع د نرمۍ حکم

که د مَدَني ماحول والا په طبیعت کښې غُصَّه، بد مِزاجي او بداَخلاقي وي نو کامیابي حاصلول مشکل دي، لِهٰذاخپل اخلاق صحیح کړئ، او هسې هم څوك چه د دعوتِ اسلامي د مدني کارونو شوق لري د هغه نرم مِزاجه کیدل ضروري دي ځکه چه د بې ځایه سختۍ کولو په وجه ډیر ځله جوړ شوي کارونه وران شي. د نرمۍ په **اَهَمِّیَّت** باندې د دې حکایت نه د ځان پوهه کولو کوشش وکړئ، چنانچه منقول دي چه یو کس د مامونُ الرَّشید احتِساب وکړو (یعني په یوه خطا ئې ورتو) او د هغه سره ئې په سختۍ خبرې وکړې نو مامونُ الرَّشید ورته اُووئیل: اے ځوانه! **اللّٰه** تعالٰی ستا نه ښه

www.dawateislami.net

کسان چه کله زما نه بَدتَر کس ته ور ولیږل نو هغوئي ته ئې حکم وکړو چه د هغه سره په نرمۍ خبرې وکړئ، یعني حضراتِ سَیِّدَینا موسٰی و هارون عَلَیْهِمَا السَّلَام (چه ستا نه غوره وو هغوئي) ئې **فِرعون** (چه زما نه بدتر وو د هغه) خوا ته ولیږل نو ورته ئې اُوفرمائیل:

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّیِّنًا (پ۱۶ طٰه: ٤٤) مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو د هغه سره په نرمۍ خبره وکړئ.

(اِتّحافُ السَّادَة لِلزَّبِیدی ج۸ ص ۱۰٤ مُلَخَّصاً)

شرابي پولیس ته حواله کول څنګه دي؟

د صحابۍ رسول حضرت سَیِّدُنا عُقبَه بِن عامِر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ کاتِب حضرت سَیِّدُنا **ابوهُرَیْرَه** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ما حضرت سَیِّدُنا عُقبَه بن عامِر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته عرض وکړو: "زما ګاونډیان شراب څښي او زه غواړم چه پولیس را اُوغواړم او پرې وئې نیسم." هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل: داسې مه کوه، هغوئي ته وعظ او نصیحت وکړه. ما عرض وکړو: ما هغوئي منع کړي دي خو هغوئي دا کار نه پریږدي. (نو اوس) زه د پولیس په ذریعه هغوئي نیول غواړم. دا ئې چه واوریدل هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل: داسې مه کوه، بیشکه ما د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان مبارك اوریدلې دې: چا چه د یو کس عیب پټ کړو لکه هغه چه ژوندئ خخه کړې شوي (یعني په قبر کښې اچولي شوي) ماشومه د هغې په قبر کښې ژوندئ کړه (یعني هغه ئې بچ کړه).

(الاحسان بترتیبِ صحیح ابن حبان ج۱ ص ۳٦۷ حدیث ۵۱۸)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! شراب څښل بیشکه ډیره لویه ګناه ده خو چه څوك په پټه داسې کوي بیشکه هغه ته دِ د نیکۍ دعوت ورکړې شي او توبه کولو ته دِ تیار کړې شي خو د هغه پرده ساتل لازمي دي.

(۱)شراب پخپله سِرکه جوړ شو ! څنګه؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د شرابي د پاره په دُنیا او آخِرت کښې خرابي ده هغه ته توبه کول پکار دي، د عبرت حاصلولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوي د

۱۳۲ صفحو کتاب "**توبہ کی روایات وحکایات**" کښې ذِکر کړې شوي دوه د ایمان نه ډك حکایتونه د ضروري ردّ و بدل سره ستاسو په خدمت کښې وړاندې کیږي: **اَمِیرُالمُؤمِنِین، اِمامُ الْعادِلِین، مُتَمِّمُ الاَربعِین، حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ یو ځل د **مدینې مُنَوَّرې** زَادَھَا اللہُ شَرَفًاوَّتَعْظِیْمًا په یوه پاکیزه کوڅه تیریدلو نو د یو ځلمي سره مخامخ شو، هغه د جامو لاندې یو بوتل پټ کړې وو. حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ترې تپوس وکړو: "اے ځلمیه! دا د جامو لاندې دِ څه پټ کړي دي؟" په هغه بوتل کښې **شراب** وو، هغه ځلمي د یَرې نه شراب نه شُو وئیلې، په زړه کښې ئې دُعا وکړه: **یا اللہ** عَزَّوَجَلَّ ته ما د حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په مخکښې شرمنده او رُسوا مه کړې، د دوئې په مخکښې په ما پرده راواچوې، زه توبه کووم، بیا به کله هم شراب نه څښم. د هغې نه پس هغه ځلمي عرض وکړو: "**یا اَمیرَ المُؤمِنِین!** ما سره د سِرکې بوتل دې." هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل: "ما ته ئې وښایه!" چه کله هغه، هغه بوتل هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته وړاندې کړو او حضرت سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ وکتلو، نو واقعي هغه سِرکه وه.
(مُکاشَفَۃُ القُلوب ص ۲۸۲۷)

د اللہ تعالٰی دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(۲) شرابي ځلمي د وِلایت په مرتبه

سُبْحٰنَ اللہِ عَزَّوَجَلَّ! د توبه وِیستلو هم څه ښه ښکلي برکتونه دي چه د توبه په برکت شراب په **سِرکه** کښې بدل شو! د یو بل **شرابي ځلمي** حکایت واورئ، چه هغه توبه وِیستله او اوچت مقام ئې حاصل کړو، چنانچه **حضرت سَیِّدُنا عُتبَۃُ الغُلام** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ځلمي وو او (د توبه کولو نه مخکښې) په فِسق و فُجور [یعني د ګناه په کارونو] او **شراب څښلو** کښې مشهور وو. یوه ورځ د حضرت سَیِّدُناحَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **مجلس** ته راغې. حضرت سَیِّدُناحَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې آیتِ مبارکه تفسیر بیانولو:

www.dawateislami.net

اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ (پ ۲۷ الحدید ۱۶)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: آیا په ایمان والؤ تر اوسه هغه وخت نه دې راغلې چه د هغوئ زړونه ښکته شي د **الله** د یاد د پاره.

هغوئ دومره اثر لرونکې بیان وکړو چه خلق په ژړا شو. یو ځلمې [عُتبَةُالغُلام] پاڅیدو او وئې وئیل: یا سَیِّدی! آیا **الله** تعالیٰ به زما په شان د فاسق و فاجر توبه قبوله کړي چه زه توبه اُوباسم؟ شیخ حضرت سَیِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل: بیشکه **الله** تعالیٰ به ستا توبه قبوله کړي. کله چه عُتبَةُالغُلام رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دا خبره واوریدله نو د هغه رنګ زِیَړ شو، ټول بدن ئې په رپیدو شو، چغه ئې وکړه او را پریوتو. چه په هوش کښې راغلو نو حضرت سَیِّدُناحَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هغه خوا ته تشریف راوړو او دا شعرونه ئې اُووئیل:

اَیَا شَابًّا لِّرَبِّ الْعَرْشِ عَاصِیْ اَتَدْرِیْ مَاجَزَاءُ ذَوِی الْمَعَاصِیْ

(اے د رَبُّ العرش نافرماني کونکیه ځلمیه! آیا تا ته معلومه ده چه د ګنهګارانو سزا څه ده؟)

سَعِیْرٌ لِّلْعُصَاةِ لَهَا زَفِیْرٌ وَغَیْظُ یَوْمٍ یُّؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ

(د نافرمانو د پاره ګړزونکې دوزخ دې چه په هغې کښې به ګړزا وي او په کومه ورځ چه د تَندِي نه ونیولې شي نو په هغه ورځ به غضب وي)

فَاِنْ تَصْبِرْ عَلَی النِّیْرَانِ فَاعْصِهٗ وَاِلَّا کُنْ عَنِ الْعِصْیَانِ قَاصِیْ

(پس که ته په اور صبر کولې شې نو نافرماني کوه، ګني نافرماني پریږده)

وَفِیْمَا قَدْ کَسَبْتَ مِنَ الْخَطَایَا رَهِنْتَ النَّفْسَ فَاجْهَدْ فِی الْخَلَاصِیْ

(تا چه کومې ګناه کړي دي په هغې کښې ته خپل نفس نخښلولې ئې، اوس د خلاصي د پاره کوشش وکړه)

عُتبَةُالغُلام رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د زړه د نرمیدلو په وجه د ژړا په حالت کښې وو، چه کله لږ صحیح شو، نو عرض ئې وکړو: اے شیخ! آیا زما بدنصیبه کس توبه به **رَبِّ رَحِیم** تعالیٰ قبوله کړي؟ شیخ

رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل: ”وَلې نه، **الله** تعالٰی د خپل ګنهګار بنده توبه او معافي غوښتل قبلوي.“ بیا حضرت سَیِّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه درې دُعاګانې وکړې: (**1**) اے زما **الله!** که تا زما توبه قبوله کړې وي او زما ګناهونه دِ مُعاف کړي وي نو ما ته داسې پوهه او یاد داشت راکړې، چه د علومِ دین او قرآنِ کریم نه څه واورم چه هغه را ته حِفظ (یعني یاد) شي (**2**) اے **الله!** ما ته ښکلې آواز راکړې که یو د کانړي په شان زړه لرونکې هم زما قراءت واوري چه د هغه زړه نرم شي (**3**) اے **الله!** رِزقِ حلال را عطا کړې او د هغه ځائ نه رِزق راکړې د کوم ځائ نه چه زما ګُمان هم نه وي. **الله** تعالٰی د هغه ټولې دُعاګانې قبولې کړې. د هغه حافِظه ښه مضبوطه شوه، کله به ئې چه د قرآنِ کریم تِلاوَت کولو نو د هغه د تِلاوَت د اوریدو سره به ګنهګارانو توبه کوله، د هغوئ په کور کښې به هره ورځ د اِنګولې [یعني سالن] یو کنډولې او دوه ډوډئ پرتې وې او هیڅ معلومات به نه کیدلو چه څوك ئې ګرِدي. تر دې چه هغوئ وَفات شو. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص۲۹۲۸) **د الله تعالٰی دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د سرو زرو ګوتئ په ګوته کولو والا کس اصلاح

زمونږ بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ الْمُبِین به د خپلو ملاقات کونکو د اصلاح کولو په کوشش کښې مصروفه اوسیدل، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۵۶۱ صفحو کتاب ”**مَلفوظاتِ اعلیٰ حضرت**“ صفحه ۳۰۹ کښې د ورکړې شوي مضمون خلاصه ده: د مازدیګر د لـمانځه نه پس یو ډیر ښکلې منظر وو، د لرې نزدې نه راغلي خلق د مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خدمت کښې حاضریدل او د دې رښتیني عاشقِ رسول په **زیارت او مُلاقات** ئې خپل زړونه روښانه کول. په دې کښې یو صاحب د سرو زرو **ګوتئ** په ګوته کړي حاضر شو نو حامِئ سُنَّت، **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د **نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** (یعني د بَدئ نه د منع کولو) د فرض ادا کولو په نِیّت هغه ته داسې اُوفرمائیل: د نارِینه د پاره سره زر **حرام** دي، صرف د یو غمي د سپینو زرو ګوتئ چه د څلور نیمې ماشې نه کمه وي د هغې اجازت دې. کوم نارینه چه د سرو زرو، تانبې یا پیتلو وغیره یا د بل هر قِسم وسپنې ګوتئ په ګوته کړي یا د سپینو زرو د څلور نیمې ماشې یا د دې وزن

www.dawateislami.net

نه زیاته یوه ګوتۍ یا د یوې نه زیاتې ګوتۍ په ګوته کړي اګرچه ټولې را یو ځائ کړي او د څلورنیمو ماشو نه کمې هم وي نو د هغه لمُونځ **مَکروهِ تَحریمي** دي. (مأخوذ از مَلفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۳۰۹) **یعني** د هغې **اِعاده** (یعني بیا) کول واجب دي. فُقَهائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام فرمائي: د کوم څیز چه بندګانو ته حکم دې د هغې په ادا کولو کښې چه څه نقصان پیدا شي نو د نقصان لرې کولو د پاره هغه عمل بیا کولو ته **اِعاده** وائي. (دُرِّ مُختار و رَدُّ المُحتار ج۲ ص ٦٢٩)

دَ الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

کاش! چه مونږه هم د ګناهونو نه بچ کونکي جوړ شو

کاش چه! مونږ ټول غُلامانِ اعلیٰ حضرت هم "**د نیکۍ د دعوت**" ورکولو او خلق د ګناهونو نه د بچ کولو په مُعامَله کښې هر وخت تیار اوسو، دا یاد ساتئ چه که یو کس ناجائزه ګوتۍ یا د هر قِسمه وسپنې څلې [اچولې وي] یا ئې د هر قِسمه وسپنې زنځیر په غاړه کړې وي او د لیدونکي غالِب ګُمان دا وي چه منع ئې کړم نو منع به شي نو په هغه منع کول واجب دي.که منع ئې نه کړي نو ګنهګار به شي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۲۳۲ صفحو کتاب "**بهارِ شریعت**" (جلد۳) د صفحه ٤٢٤ نه اول دوه حدیثونه اُوګورئ، بیا د هغې نه پس د ګوتۍ په باره کښې د نیکۍ د دعوت نور مدني ګلونه قبول کړئ.

(۱) د سرو زرو ګوتۍ ..... سګروَټه

په **صحیح مسلم** کښې د **عَبدُ الله بن عبّاس** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه روایت دې چه **رسولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو کس په لاس کښې د سرو زرو **ګوتۍ** ولیدله نو هغه ئې ترې اُووِیستله او غوزار ئې کړه او وئې فرمائیل: آیا څوك په خپل لاس کښې **سګروَټه** ګرِدي! چه کله **حضور** (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) تشریف یوړلو. نو یو کس هغه ته اُووئیل: خپله ګوتۍ راواخله او (د ګوته کولو په ځائ) په بل

www.dawateislami.net

څه کار کښې ئې راوله. هغوئې اُووئیل: په خدائ مې دِ قَسَم وي! زه به هغه کله هم وانخلم ولې چه هغه رسولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوزاره کړي ده. (صحیح مُسلِم ص ۱۱۷۵ حدیث ۲۰۹۰)

(2)د بُوتانو او دوزخیانو کالې

تِرمِذی ابوداؤد و نَسائي د **بُرِیده** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت کړې دې چه یو کس د **پیتلو ګوتئ** په ګوته کړي وه، **حُضُور** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) اُوفرمائیل: "څه خبره ده چه ستا نه د **بُت** بوئې راځي؟ هغوئې هغه ګوتئ غوزاره کړه، بیا ئې د **اوسپنې ګوتئ** په ګوته کړه او راغې، نو وئې فرمائیل: څه خبره ده چه تا د **دوزخیانو کالې** په ګوته کړې دې؟ هغه ئې هم غوزاره کړه او عرض ئې وکړو: **یا رَسولَ الله** (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)! د څه څیز ګوتئ جوړه کړم؟ وئې فرمائیل: د **سپینو زرو** جوړه کړه او یو مثقال مه پوره کوه. (یعني چه د څلورنیمې ماشې نه کمه وي) (سُنَنِ ابی داؤد ج٤ ص ۱۲۲ حدیث ٤٢٢٣)

د ګوتئ ۱۹ مدني ګلونه

❁ نارینه لره د **سرو زرو** ګوتئ په ګوته کول حرام دي. "د مَدینې سُلطان، رَحمتِ دوجهان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سرو زرو ګوتئ په ګوته کولو نه منع فرمائیلي دي" (صحیح بُخاری ج ٤ ص ٦٧ حدیث ٥٨٦٣) ❁ نابالغه هلك ته د سرو او د سپینو زرو کالي اچول **حرام** دي او چا چه ور واچول هغه به ګنهګار وي. هم دغسې د ماشومانو هلکانو په لاسونو، ښپو بې ضرورته نکریزې لګول **ناجائِزه** دي، زنانه ئې په خپلو لاسونو او ښپو لګولې شي خو که هلك له ئې ولګوي نو ګنهګاره به وي (بهارِ شریعت ج٣ ص٤٢٨ دُرِّمُختار و ردُّالمُحتار ج٩ ص٥٩٨) د ورو جینکو په لاسونو، ښپو نکریزو لګولو کښې باک نشته ❁ د **وسپنې** ګوتئ د دوزخیانو کالې دي. (تِرمِذی ج٣ ص٣٠٥ حدیث ١٧٩٢) ❁ د نارینه د پاره هم هغه ګوتئ جائِز ده کومه چه د نارینه د ګوتئ په شان وي یعني چه صرف د یو غمي وي، او که په هغې کښې (د یو نه زیات یعني) ډیر غمي وي نو اګرکه هغه د سپینو زرو هم وي، [بیا هُم] د نارینه د پاره **ناجائِزه** ده (ردُّ المُحتار ج٩ ص٥٩٧) ❁ د غمي نه بغیرګوتئ اچول **ناجائِزه** دي ځکه چه دا ګوتئ نه ده بلکه څلې دې ❁ د حُروفِ مُقطَّعات (مُ. قَطْ. طَ. عات) [یعني کٓهٰیٰعٓص، حٰم، الٓر وغیره] ګوتئ په ګوته کول جائِز دي خو د

www.dawateislami.net

حروفِ مُقطّعات والا ګوتۍ بې اودسه په ګوته کول او بې اودسه ورته لاس لګول، یا د لاس مِلاوولو په وخت کښې ورته د بې اودسه سړي لاس لګیدل جائِز نه دي. ❁ هم دغسې د نارینه د پاره د یوې نه زیاتې (جائِزې) ګوتۍ اچول یا (یو یا ډیر) څلي په ګوته کول هم **ناجائزه** دي ځکه چه دا (څلي) ګوتۍ نه وي. زنانه څلي اچولې شي. (بهارِشریعت ج۳ ص۴۲۸) ❁ د سپینو زرو یوه ګوتۍ د یو غمي چه په وزن کښې د څلور نیمې ماشې (یعني څلور ګرامه او ۳۷٤ ملي ګرام) نه کمه وي، اچول جائِز دي اګر که د مُهر د ضرورت نه بغیر وي، (خو) د دې پریښودل (یعني چا ته چه د مهر لګولو ضرورت نه وي د هغه د پاره جائِزګوتۍ هم نه په ګوته کول) افضل دي، او(څوك چه په ګوتۍ باندې مهرلګوي د هغوئ د پاره) د مهر په غرض (په ګوته کول) صرف جائِز نه بلکه **سُنَّت** دي، خو که تَکَبُّر یا د زنانه په شان ڈَوَل، سِنګار یا بل څه خراب غرض ئې په نیّت کښې وي نو یوه ګوتۍ خو څه په دي نیّت خو ښې جامې اغوستل هم جائز نه دي (فَتاوٰی رَضَوِیَّه ج۲۲ ص۱٤۱) ❁ په اخترونو کښې ګوتۍ په ګوته کول مُستحب دي. (بهارِشریعت ج۱ص۷۷۹، ۷۸۰) خو نارینه دِ هم هغه جائِزه ګوتۍ په ګوته کوي ❁ ګوتۍ په ګوته کول صرف د هغوئ د پاره **سُنَّت** دي چا ته چه د مُهر (یعني اِستامپ STAMP) لګولو حاجت وي، لکه بادشاه، قاضي او عُلَماء کوم چه په فتوٰی باندې (په ګوتۍ) مهر(یعني اِستامپ) لګوي، د دوئ نه علاوه د نورو خلقو د پاره چا ته چه د مُهر لګولو حاجت نه وي [د هغوئ د پاره] **سُنَّت** نه ده اَلبَتَّه په ګوته کول جائِز دي. (عالمگیری ج۵ ص۳۳۵) په دې زمانه کښې د ګوتۍ په ذریعه د مُهر لګولو عُرف (یعني رواج) نشته، بلکه د دې کار د پاره ستامپ [یعني د ربړ وغیره مُهر] جوړیږي، لِهٰذا چه کوم قاضیانو صاحبانو وغیره ته (په ګوتۍ) د مهر لګولو ضرورت نه وي د هغوئ د پاره هم ګوتۍ په ګوته کول **سُنَّت** پاتې نه شو. ❁ نارینه ته پکار دي چه د ګوتۍ غمې د لاس تلې طرف ته او زنانه دِ غمې د لاس څټ (یعني شا) طرف ته ساتي. (الهِدایة ج٤ ص۳٦۷) ❁ د سپینو زرو څلې خاص د زنانه لباس (یعني کالې) دې د نارینه د پاره [په ګوته کول] مکروهِ (تحریمي، ناجائِزه اوګناه ده). (فَتاوٰی رَضَوِیَّه ج۲۲ ص۱۳۰) ❁ زنانه د سرو او سپینو زرو که څومره غواړي کالي اچولې شي او په دي کښې د وزن او د غمو د شمیر هیڅ قید نشته. ❁ د وسپنې ګوتۍ ته که د چاندئ خول (یعني قوله) ور واچوي چه وسپنه پکښې بالکل

www.dawateislami.net

نه ښکاري، داسې ګوتۍ (د نارینه او د زنانه د یو د پاره هم) په ګوته کول منع نه دي. (عالمګیري ج۵ص۳۳۵) ❁ په دواړو لاسونو کښې په هر یو لاس ګوتۍ په ګوته کولې شئ او په کچۍ ګوته یعني د ټولو نه وړوکي ګوته کښې په ګوته کول پکار دي. (ردُالمُحتار ج۹ص۵۹۶) ❁ د مَنَښتې یا دَم کړې شوي د اوسپنې کړا هم د نارینه د پاره اچول ناجائِزه دي هم دغسې ❁ د مدینةُ المُنوّره زَادَهَا اللهُ شَرَفًا وَّتَعظِیمًا یا د اجمیرشریف د چاندۍ یا د هر قسم وسپنې څلې او د استیل ګوتۍ هم جائِز نه دي ❁ د بواسیرو یا د نورو بیمارو د پاره دم شوې د سپینو زرو یا د هر قِسم وسپنې څلې هم د نارینه د پاره جائِز نه دې ❁ که یو اسلامي ورور د اوسپنې کړا یا د وسپنې څلې، ناجائزه ګوتۍ، یا د وسپنې زنځیر (Bracelet Chain) اچولې وي نو شرعاً لازِم دي چه اوس اوس ئې لرې کړئ او توبه هم اوکړئ او د بیا د پاره د نه اچولو عهد (یعني پخه وعده) هم اوکړئ. او بل یو اسلامي ورور ته ئې هم د ګوته کولو د پاره مه ورکوئ.

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی (وسائلِ بخشش ص۶۶۷)

وکړئ توبه لوئ دې د الله رحمت کنې قبر کښې به پیښ شي درته لوئ زحمت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په جامعة المَدینه کښې مې داخله واخسته

د **ناجائزه** ګوتو وغیره نه پخپله د بچ کیدو او د نورو د بچ کولو جَذبه موندلو د پاره، د ګناهونو د عادت نه د ځان خَلاصَولو د پاره، د نیك جوړیدو او د نورو خلقو د نیك جوړولو د پاره او ډیر ډیر د نیکۍ د دعوت د خورولو شوق زیاتولو د پاره د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مَدَنـي ماحول سره هر دم تړون ساتئ، د خپل ایمان د حفاظت د پاره فِکرمند اوسئ ، د لمُونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتو عمل کوئ، د **مَدَني انعاماتو** مطابق ژوند تیروئ، او په دې د استقامت موندلو د پاره هره ورځ د **فِکرِمَدِینه** په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله

www.dawateislami.net

ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذمه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد چه "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربیت په **مدني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَني سپرلې اَورَووم، چنانچه د **پنډي ګهیپ** (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ زه د لمُونځونو نه ډیر لرې د ګناهونو په سَمندر کښې ډوب ووم او په ډیر شوق به مې په کور کښې په تې وي باندې فِلمونو ډرامو، سندرو او سازونو اوریدو کښې خپل وخت بربادوَلو. د توبې په لاره زما سفر څه داسې شروع شو چه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك ۱٤۲۹ھ (بمطابق 2008ء) کښې مې یوه ورځ په کیبل باندې مختلفې چینلې کتلې چه ناڅاپه زما نَظر په **مَدَني چینل** پریوتو. چه ومې کتو نو ډیره مزه ئې راکړه! مَدَني چینل ما ته ډیر ښه ښکاره شو او ما د مَدَني چینل د کتلو معمول جوړ کړو. د مَدَني چینل په برکت اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه په قلاره قلاره مَدَني ماحول ته نزدې شوم. د **شَوالُ المُکَرَّم** (۱٤۲۹ھ) په اَخِیرئ عَشَره کښې د دَعوتِ اِسلامي **بَینُ الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتماع په مَدَني چینل براهِ راست** (LIVE) ښودلې شوه. د اِجتِماع په اخیرئ ورځ خصوصي نِشَست کښې مو چه په مَدَني چینل یو رِقَّت انګیز [یعني ژړوونکې] بیان په عنوان "**د ظُلم اَنجام**" واوریدو نو مونږ د ټول کور کسان د **الله** تعالیٰ د یَرې نه ولړزیدو، ټول وَیَریدل او هم په **هغه وخت ئې د خپلو ګناهونو نه توبه وکړه** او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ټول د **حُضُورِ غوثِ پاك** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سلسله کښې مُریدان شو او قادري رضوي جوړ شو. د **الله** تعالیٰ په رَحمَت زمونږ په خاندان کښې مَدَني اِنقِلاب راغې او زمونږه خپلوانو هم د اِنفِرادي کوشش په بَرَکت د مَدَني ماحول سره تړون وکړو او د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سلسله کښې مُریدان شو. د دې لیك د ساعته پورې ما د عِلمِ دِین د مَدَني ګلونو د راجمع کولو د پاره د دعوتِ اسلامي په انتِظام کښې چلیدونکي جامِعَةُ المَدِینَه کښې په درسِ نِظامي کښې داخله هم اخستې ده.

www.dawateislami.net

اے گناہوں کے مریضو! چاہتے ہو گر شفا آن کرتے ہی رہو تم مَدَنی چینل کو سدا
اِس میں عِصیاں سے حفاظت کا بہت سامان ہے اِن شاءاللہ خُلد میں بھی داخِلہ آسان ہے
مَدَنی چینل میں نبی کی سنتوں کی دھوم ہے
اس لئے شیطاں لعیں رنجور ہے مغموم ہے (بتصرف ،وسائلِ بخشش ص۶۰۶)

اے د ګناهونو مریضانو! که غواړئ شِفا ګورئ تاسو هم دا مَدَني چینل سدا
دې کښې د ګناهونو نه د حفاظت ډیر دې سامان اِنْ شَآءَ اللّٰه شي به مو جنت ته تلل آسان
مدني چینل ښائي سُنّت د نبي سُلطان ځکه ډیر خفه او غم وهلې دې شیطان

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

مونږ دُنیا ته د څه د پاره راغلي یو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سُنَّتو ډك بیان "**د ظُلم اَنجام**"چه هغوئي واوریدو او ټولې کورنۍ د ګناهونو نه توبه وکړه، دا تاسو هم کم نه کم یو ځل ضرور واورئ. د دې V.C.D [وي سي ډي]د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** نه هدیةً اغستې شئ او د **دَعوتِ اسلامي** په **ویب سائټ www.dawateislami.net** باندې ئې هم اوریدې شئ. د بیان رساله "**د ظُلم اَنجام**" هم د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** نه واخلئ او وئې لوَلئ بلکه په ډیر تعداد کښې ئې هدیه کړئ او د خپلو خپلوانو د ایصالِ ثواب د پاره ئې تقسیم کړئ. د دې **مَدَني سپرلي** نه دا هم معلومه شوه چه کوم کار یو مُبَلِّغ نه شي کولې **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ هغه کار **مَدَني چینل** کوي یعني د ګناهونو په دلدل کښې نښتي د معاشرې هغه کسان چه هغوئي جُماتونو ته نه راځي، او نه د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شرکت کوي او د عُلمائے کِرامو او د **الله** تعالٰی د نیکو بندګانو او د مَدَني لباس والا د ګیرې او عِمامې والا عاشقانِ رسول سره د ناستې ولاړې شوق نه لري. **مَدَني چینل** د داسې خلقو کورونو ته داخلیږي او هغوئي ته د هغوئي د ژوند حقیقي مقصد ښائي او نیك بخته د **الله** تعالٰی په دربار کښې ټِیټوي او د عِشقِ رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شربت پرې څښي. بیشکه مونږه دُنیا ته بیکاره یعني صرف د دُنیا د خوندونو اغستلو او د دې ځائ د سهولتونو نه د مزو اغستلو د پاره نه یو راغلې، بلکه مونږه دَلته د عِبادت

د پاره را لیږلي شوي یو، بیا په مُقَرَّره وَخت که زمونږ زړه بالکل هم نه غواړي خو د هغې باوجود به زمونږه مرګ راځي او د تورو تِیارو نه ډك قبر ته به یواځې کوز کړې شو، معلومه نه ده چه څو زره کاله به په قبر کښې تیروو او بیا به په حشر کښې پاڅولې شو او د قیامت په ورځ به د حساب کتاب سره مخامخ کیږو. د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي تَرجَمې والا پاکِیزه قرآن **کَنْزُالْاِیْمان مع خَزائِنُ الْعِرْفان** صفحه ٦٤٧ اَتلَّسمه سیپاره **سُوْرَةُالْمُؤْمِنُوْن** آیت نمبر ۱۱۵ کښې ارشاد دې:

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَیْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو آیا تاسو دا خیال کوئ چه مونږه تاسو بیکاره پیدا کړي ئې او [آیا] تاسو به زمونږ طرف ته نه راګرځئ.

صَدرُ الافاضِل حضرت عَلَّامه مَولانا سَیِّد **مُحَمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیتِ کریمه لاندې فرمائي: او (آیا تاسو به په) آخِرت کښې د جزا د پاره نه راپاڅئ؟ بلکه تاسو د عبادت د پاره پیدا کړي شوي ئې چه په تاسو عبادت لازم کړو او چه په آخِرت کښې تاسو زمونږ طرف ته را وګرځئ نو تاسو ته به ستاسو د اعمالو جزا درکړو. (خزائن العرفان)

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! مونږ ټولو ته د خپل حقیقي مَقصد د حاصلولو د پاره هر وخت کوشش کول پکار دي، د ګناهونو نه بچ کیدل او د ثواب په کارونو کښې مشغولیدل پکار دي. **مَدَني چینل** ګورئ او نورو ته ئې هم ښائې ځکه چه په ښو ښو نِیَّتونو د **مَدَني چینل** سلسلې کتل او نورو ته د کتلو دعوت ورکول هم د **الله** تعالٰی د رضا سَبَب او جَنَّت ته بوتلونکې کار دې. مرګ هر وخت یاد ساتئ! مرګ ناوك [یعني د واده هلك] رسا د جنج د مینځ نه او ناوي د واده د خوشحالئ او د نرم او پاسته پالنګ نه یو دم اوچت کړي.

بولی خَلوت میں اَجَل دولھا دولہن سے وقتِ عیش ہے تمہیں بھی قبر کے گوشے میں سونا ایک دن

www.dawateislami.net

مرګ اُووئیل ناوي او ناوك ته په وخت د خوشحالو کښې
اوده کیږئ به یو ورځ تاسو د قبر په تِیارو کښې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

چه په جُمات کښې په زوره قدم اغستل منع دي نو.....

زما د آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **د نیکۍ د دعوت** ورکولو جذبه مرحبا! هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به د نیکۍ د دعوت ورکولو او د ثواب ګټلو یوه موقع هم نه ضائِع کوله چنانچه **خلیفۂ اعلیٰ حضرت**، مَلِكُ العُلَماء حضرت عَلَّامه مَولانا **مفتي ظفرالدِّین بِهَاری** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکي: یو "صاحِب" چه هغه به د نواب صاحِب په نوم یادیدلو، جمات ته د لـمانځه د پاره راغلو او په ولاړه ولاړه ئې په **بې پرواهۍ** سره خپله لښته (یعني همسا) د **جمات په فرش** داسې اوغورزَوَله، چه د هغې آواز حاضرو خلقو واوریدو. اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ (هغه ته د نیکۍ دعوت ورکړو او ورته ئې) اُوفرمائیل: "**نواب صاحِب! په جُمات کښې په زوره قدم اغستل هم منع دي، نو بیا لښته دومره په زوره غورزول!**" نواب صاحِب زما په مخکښې وعده وکړه چه اِنْ شَآءَاللّٰہ تعالٰی بیا به داسې نه کیږي.

د اللّٰہ تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

په جُمات کښې د موبائل ټلۍ بنده ساتۍ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د هر مسلمان د پاره ضروري دي چه **د جُمات ادب و احترام** کوي، دا خیال ساتل ضروري دي چه په جُمات کښې د ګرځیدلو په وخت کښې د ښپو درَب پیدا نه شي. نور د دې نه علاوه لښته، چترۍ، د لاس پکې [یعني ببوځې]، څپلۍ، بیګ، لوښي وغیره یو څیز دِ هم داسې نه ګرځي چه د هغې آواز پیدا شي. که موبائل فون وي نو په جُمات کښې د هغې ټلۍ

www.dawateislami.net

بنده ساتي، افسوس! د دې احتیاط کم کیږي تر دې چه په مَسجِدُ الحَرام شریف کښې او هغه هم عین د خانۀ کعبه په طواف کښې د خلقو د موبائلو ټلۍ بلکه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ میوزیکل ټیونز (یعني د سَندرو او سازونو ټلۍ) غږیږي، حالانکه میوزیکل ټیونز خو د جُمات نه بهر هم **ناجائزه** دي.

د "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم" د نُولَّسو حروفو په نِسبَت د جُمات په باره کښې ۱۹ مدني ګلونه

د جُمات د احترام په باره کښې د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِینه چاپ شوي د **۱۵۷٤** صفحو کتاب **فیضانِ سُنَّت** (جلد اوّل) کښې د صفحه ۱۲۰۲ نه ۱۲۰۷ پورې بیان شوي مَدَني ګلونه د څه نه څه بدلون سره وړاندې کیږي، قبول ئې کړئ او د خپل زړه په مَدَني ګلدسته کښې ئې ولګوئ.

(۱) روایت شوې دې چه یو جُمات د خپل **رَبّ** تعالیٰ په حُضُور کښې د فریاد کولو د پاره روان شو چه خلق په ما کښې د دُنیا خبرې کوي. [په لاره کښې] فَرِښتې راروانې وې او د هغه سره ئې ملاقات وشو او وئیل ئې: مونږ د دوئې (یعني په جُمات کښې د خبرو کونکو) د هلاك کولو د پاره رالیږلې شوي یو. (فتاوٰی رضویه ج۱٦ ص۳۱۲)

(۲) روایت شوې دې "کوم خلق چه غِیبت کوي او کوم خلق چه په جُمات کښې د دُنیا خبرې کوي د هغوئې د خُلې نه سخا بوئې خیژي چه د هغې په وجه فرِښتې د **الله** تعالیٰ په حُضُور کښې د هغوئې شکایت کوي." سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! چه په جُمات کښې د ضرورتِ شرعِیَّه نه بغیر د مُباح او جائزو خبرو کولو داسې آفتونه دي نو (په جُمات کښې به) د حرام او ناجائزه کار کولو څه حال وي! ایضاً

(۳) **درزي** ته په جُمات کښې د جامو ګنډلو اجازت نشته. خو!که د ماشومانو د منع کولو او د جُمات د حفاظت د پاره ناست وي نو باك نشته. هم دغه شان کاتِب [یعني لیکونکي] ته (په جُمات کښې) په اُجرت [یعني په مزدورئ] د لیکلو اجازت نشته. (عالمگیری ج۱ ص۱۱۰)

(٤) په **جُمات** کښې دننه د هیڅ قِسمه خزلې [کچره] مه غورزوئ. سَیِّدُنا شیخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوی رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په "جَذبُ القُلوب" کښې نقل کوي چه که په جُمات کښې خس (یعني معمولي یوه ذره خزله) هم اوغوزولې شي نو په هغې جُمات ته دومره تکلیف رسي څومره تکلیف چه انسان ته په سترګه کښې د خزلې پریوتو په وجه رسي. (جَذبُ القلوب ص ۲۲۲)

(٥) د **جُمات** په دیوال، فرش، صفونو یا درئ د پاسه یا د هغې نه لاندې تُوکل، پوزه سونړول، د پوزې یا د غوږ خِیرې پرې لګول، د جُمات د درئ یا پزَکـي نه تار یا ډکـي وغیره شلول یا ماتول ټول منع دي.

(٦) **ضرورتاً** (په جُمات کښې) په خپل رومال وغیره باندې پوزه پاکولو کښې څه باك نشته.

(٧) په جُمات جارو کولو کښې چه کومې خزلې یا دُوړه وغیره جمع شي هغه داسې ځائ کښې مه اچوئ کوم ځائ چه د هغې بې ادبي کیږي.

(٨) **څپلئ** چه اُوباسئ او د ځان سره ئې جُمات ته دننه وړل غواړئ نو بَهَر ئې څنډئ. که د ښپو په تلو پورې مو د خاورو څه ذرې نښتې وي نو په خپل رومال وغیره ئې پاکوئ بیا جُمات ته ننوځئ. چه په جُمات کښې د ګرد څه ذرّه ونه غورزیږي د دې خیال ساتئ.

(٩) د **جُمات** په اودس خانه کښې د اودس کولو نه پس هم هغلته په اودس خانه کښې ښپې ښې وچوئ، په لـمدو ښپو جُمات ته د ننوتلو په وجه فرش ګنده کیږي او درئ خیرنیږي او بدې ښکاري. اوس زما د آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دین و مِلَّت **مَولانا شاه امام احمد رضا خان** عَلَیْهِرَحْمَةُالرَّحْمٰن د ملفوظاتو شریفو نه د جُمات بعضې آدابِ پیش کیږي:

(١٠) په **جُمات** کښې منډه وهل یا په زوره قدم ایښودل، چه د درَب آواز پیدا شي منع دي.

(١١) د اودس کولو نه پس چه د اوداسه د اندامونو نه یو څاڅکې هم د جُمات په فرش ونه لویږي. (یاد ساتئ! د اوداسه د اندامونو نه یو څاڅکې هم د جُمات په فرش کول ناجائزه او ګناه ده.)

www.dawateislami.net

(۱۲) د **جُمات** د یوې درجې نه بلې درجې ته د ننوتلو په وخت (مَثلاً انګنړ ته چه ننوځئ نو هم اَو چه د انګنړ نه دننه حصې ته ځئ نو هم) ښې قدم مخکښې کوئ، تر دې چه که صف خور وي نو هغې ته ښې قدم ورمخکښې کوئ او چه کله د هغه ځائ نه لرې کیږئ [یعني چه بیرته را اُوځئ نو] بیا هم [مخکښې] ښې قدم د جُمات په فرش کېږدئ (یعني په تلو راتلو کښې هر خور شوي صف ته ښې قدم ورمخکښې کوئ) یا خطِیب چه کله منبر ته د ختلو اراده وکړي نو ښې قدم دِ مخکښې خیژوي او چه کله راکوزیږي نو (هم) ښې قدم دِ مخکښې کوزوي.

(۱۳) په **جُمات** کښې که پرَنجې درشي نو کوشش کوئ چه آواز په قلاره اُوځي هم دغه شان په ټُوخي کښې هم [دا خیال ساتئ]. **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په جُمات کښې په زوره پرَنجې کول نه خوښوو. هم دغه رنګ ډرَقې حِصارول پکار دي، او که نه حصاریږي نو په کوشش سره آواز دباوَرَل [یعني کم ساتل] پکار دي اګر که د جُمات نه علاوه هم وي. خاص طور په مجلس کښې یا د یو مُعَظَّم (یعني مشر) په مخکښې بې تَهذیبي [یعني بَد اخلاقي] ده. په حدیث پاك کښې دي: یو کس په دربارِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې ډرَقې وکړو آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: زمونږ نه خپل ډرَقې لرې ساته ځکه چه په دُنیا کښې به چا د زیاتې مودې پورې خیټې ډکولې هغوئې به د قیامت په ورځ د زیاتې مودې پورې وږي اوسي. (شَرحُ السُّنَّه ج۷ ص۲۹٤ حدیث ۲۹٤٤) او په هَوَکـي [یعني اکرَمي] کښې آواز یو ځائ هم وِیستل نه دي پکار. اګرکه د جُمات نه بَهَر یَوَاځې وي ځکه چه دا د شیطان قَهقَهه [یعني خندا] ده. هَوَکې چه کله هم درشي نو په کوشش سره خُله بنده ساتئ [د هَوَکې په وخت کښې] په خله بیرته کولو شیطان [بنده ته] په خُله کښې لاړي تُوکـي. که داسې نه بندیږي نو په بره غاښونو لاندینئ شونډه نیسئ او که داسې هم حصار نه شي نو په کوشش سره خُله کمه بیرته کوئ او د چپ لاس شا په خُله باندې کېږدئ. ولې چه هَوَکې د شیطان له طرفه دې او اَنبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د دې نه محفوظ دي. لِهٰذا که هَوَکې درشي نو دا تَصَوُّر کوئ چه اَنبِیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته هَوَکې نه ورځي اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی فوراً به ودریږي. (رَدُّ المُحتار ج۲ ص ٤۹۸، ٤۹۹)

www.dawateislami.net

(١٤) **تَمَسخُر** (یعني ټوقې ټقالې، پیښې کول) هسې هم مَنع دي او په جُمات کښې سخت ناجائزه دي.
(١٥) په **جُمات** کښې خندا کول منع دي ولې چه دا په قبر کښې تِیاره راولي. د موقعې د مناسَبَت سره په مُسکې کیدو کښې باك نشته.

(١٦) د **جُمات** په فرش څه څیز غورزَوَل نه دي پکار بلکه په قلاره ایښودل پکار دي. د ګرمئ په موسم کښې خلق ببوځې وهي او بیا ئې غوزار کړي (په جُمات کښې ټوپئ، څادر وغیره هم مه غورزَوئ هم دغه رنګ په څادر یا رومال فرش داسې مه څنډئ چه آواز پیدا شي) [بعضې خلق] لرګې [همسا]، چترئ وغیره د ایښودو په وخت د بره نه پریږدي. دا منع دي. الغرض د جُمات اِحترام کول په هر مسلمان باندې فرض دې.

(١٧) په **جُمات** کښې حَدَث (یعني هوا خارِجول) منع دي که ضرورت وي نو (که په اعتکاف کښې نه وي نو) بهر ته وتل پکار دي. لِهٰذا **مُعتَکِف** [یعني اعتکاف کونکي] ته پکار دي چه د اعتکاف په ورځو کښې لږ خوراك کوي، خیټه دِ سپکه ساتي چه د قضائے حاجت د وخت نه علاوه یو وخت هم د هوا خارِجولو حاجت نه راځي. [ولې چه] هغه به د دې د پاره بَهَر ته نه شي تلې. (البَته د جُمات په حدودو کښې موجودې بیتُ الخلاء یعنيwash room ته د هوا خارِجولو د پاره تلې شي)

(١٨) قِبلې ته ښېې غزول خو هر ځائ کښې منع دي. او په جُمات کښې دِ ئې یو طرف ته هم نه غزوي ځکه چه دا د ادب خلاف دي. حضرت سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په جُمات کښې یواځې ناست وو، ښپه ئې اوغزوله، د جُمات د ګوَټ نه غیبي آواز راغې: **سَرِي**! د بادشاهانو په دربار کښې څوك داسې کښینې؟ فوراً ئې ښپې راغونډې کړې او داسې ئې راغونډې کړې چه د مرګ په وخت ئې اوغزولې. (سبع سنابل ص١٣١) (د وړو ماشومانو سره د مینې کولو، په غیږه کښې د اخستلو او د څملولو وخت کښې احتیاط کوئ چه د هغوئې ښپې قِبلې طرف ته نه شي او چه بَولو ته ئې کښینوئ نو دا ضروري ده چه د هغه مخ یا شا قبلې ته نه شي)

(١٩) **اِستعمال** شوې پیزار که په ښپو وي نو جُمات کښې ګرځیدل ګستاخي او بې ادبي ده. (مُلَخَّص از ملفوظات اعلیٰ حضرت ص ٣١٧ نه ٣٢٣)

www.dawateislami.net

الٰہی کرم بہرِ شاہِ عَرَب ہو ہمیں مسجِدوں کا مُیَسَّر ادب ہو

اِلٰهي کرم وکړه په برکت د شاهِ عَرَب مونږ ته نصیب کړې د جُماتونو ادب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د کینسر مریض جوړ شو

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **دعوتِ اسلامي** باندې د **الله** تعالیٰ او د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر کرم دې. ډیر ځل مو اوریدلي دي چه ډاکټرانو کومو مریضانو ته لاعلاجه وئیلـي دي د هغوئ په مَدَني قافلو کښې د سفر په دوران کښې د دُعاګانو غوښتلو په سَبَب علاج شوې دې، چنانچه د **مارې پور** (بابُ المَدینه کراچۍ) یو اسلامي ورور یوه ایمان تازه کونکي واقعه لیکلي وه د هغې مضمون څه داسې وو چه: د **هاکس بے** (بابُ المَدینه کراچۍ) اوسیدونکې یو اسلامي ورور د کینسر مریض وو، هغه د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافله** کښې د **عاشقانِ رَسول** سره د سفر کولو سعادت حاصل کړو. د سفر په دوران کښې هغه غریب ډیر خفه او مایوسه غوندې وو. عاشقانِ رسول به ورله تسلّي ورکوله او د هغه د پاره به ئې دُعاګانې هم غوښتلې. یوه ورځ د سحر په وخت کښې په ناسته ناسته ناڅاپه هغه اُلټئ وکړې او په هغې کښې ئې د مرئ نه د غوښې یوه ټُکړه را اُو وتله! د اُلټو نه پس هغه ته ډیر ارام راغې.

د **مَدَني قافِلې** نه چه بَیرته راغلو نو ډاکټر ته ورغلو او بیا ئې ټیستونه وکړل نو ډاکټر حیران پاتې شو ولې چه د هغه د کینسر مرض ختم شوې وو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی اِحْسانِه.

مرضِ نِسیان ہو چاہے سَرطان ہو، کوئی سی ہو بَلا، قافِلے میں چلو

دُور بیماریاں اور پریشا نیا ں ہوں بِفَضلِ خُدا، قافِلے میں چلو

که مرض وي د نِسیان، یا که وي چرې سرطان که وي هر قِسم بَلا، قافلو کښې لاړ شئ

لرې به شي بیمارئ هم به لرې شي خفګان په فضل د الله، قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د مدني قافلې د مریضو مسافرو په باره کښې ۵ مدني ګلونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! **الله** تعالیٰ د مَدَني قافلې په بَرَکت د کینسر مریض ته صحت ورکړو. د مدني قافلې د مریضو مسافرانو په باره کښې **۵ مدني ګلونه** قبول کړئ:

(۱) په حقیقت کښې صرف **الله** تَبارَكَ وَتَعالیٰ شَافِئُ الْاَمْراض یعني د بیمارو نه شِفاء ورکونکې دې. ټولو ته معلومه ده چه کله کله غټ غټ پوهه طبیبان د ښې نه ښې دوایانې ورکوي خو مَرَض ورځ په ورځ زیاتیږي او آخر دا چه مریض وفات شي. لِهٰذا که په مَدَني قافِله کښې یو بیمار ته شِفا نصیب نه شي نو د شیطان په وَسوسو کښې مه راځئ.

(۲) داسې مریضان په مَدَني قافِلو کښې مه لیږئ او په اِعتِکاف کښې ئې هم مه کښینوئ د چا نه چه نور خلق کرَکه کوي یا ترې ورته تکلیف رسي. یو ځل د **دعوتِ اسلامي** په عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه بابُ المَدِینه کراچئ کښې د کینسر یو مریض مُعتَکِف شو، هلته په زرګاؤ اِعتِکاف کونکي وي. د هغوئ حلقې جوړیږي، په یوه حلقه کښې هغه هم شامل کړې شو. اسلامي ورونړو به چه پیشمنې او روژه ماتې کولو نو هغه به هم ورسره کښیناستلو، د خُلې یا د مرئ د کینسر په سَبَب به غریب خوراك نه شو کولې، بیشکه هغه غریب ډیر د رَحم قابِل وو خو هر کس په دې خبره ښه پوهیږي چه د هغه د حلقې **اعتکاف کونکو** ته به د هغه مریض په وجه څومره تکلیف رسیدلې وي! واقعي که د ډوډئ خوړلو نه معذوره مریض د بل نوړئ شمیري نو په خوراك کونکي چه څه تیریږي په هغې هر عقلمند کس پوهیږي.

(۳) د بعضې مریضانو زخمونه خراب شوي وي، ګند ترې بهیږي او بدبوئي کوي. اګر چه هغه د هر قسمه همدردئ لائق او د رَحم قابِل وي خو د هغوئي مرض د نورو د پاره د تکلیف باعِث وي. ځکه هغوئي ته اِعتِکاف کول او په مَدَني قافِله کښې سفر کول نه دي پکار، په داسې حالت کښې جُمات ته داخلیدل هم شرعاً حرام دي ځکه چه د بدبوئي نه عامو مسلمانانو او فرِښتو ته تکلیف رسي.

(٤) داسې کس چه د خُلې نه ئې اوبه بهیږي، یا چا چه URINE BAG [یعني د وړو بَولو پوکنړۍ] یا STOOL BAG [یعني د پوکنړۍ په شان د غټو بَولو جانګې] اغوستې وي، یا د جُذام وغیره مریض داسې کسان دِ په مَدَني قافِله کښې سفر نه کوي او په اعتِکاف کښې دِ هم نه کښیني. **زما آقا** اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **فتاوٰی رضویه** (جلد٢٤) صفحه ٢٢٠ کښې نقل کوي: د جُذام یوې مریضې زَنانه د کعبۀ مُعَظَّمه طواف کولو اَمِیرُالمُؤمِنین فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ هغې ته اُوفرمائیل: اے د **الله** بندې! خلقو ته تکلیف مه ورکوه، ښه به دا وي چه ته په کور کښې کښیني، بیا هغه (زنانه) د کور نه ونه وَتله. (مؤطا امام مالك ج١ ص ٣٨٨ رقم ٩٨٨)

(٥) هم دغسې نفسیاتي مریضان یا د پیریانو او د مِرګي والا مریضان هم په مَدَني قافِله کښې لیږل نه دي پکار او نه دِ جُمات ته داخِلیږي، ځوك چه د دورې پریوتو په حالت کښې بې هوشه کیږي یا چغې وهي یا ډیر زیات لاس ښپې وهي او د جُمات د بې ادبۍ او د نورو د تکلیف سَبَب جوړیږي د داسې مَریضانو په اِعتِکاف کښې د کښینَوَلو یا په مَدَني قافِله کښې دَ لیږلو په ځائ دِ دَ هغوئ نُمائِنده [یعني د کور یو کس یا دوست یا بل خپل ځوك] سفر کوي یا دِ په اِعتِکاف کښې کښیني او د هغه د پاره دِ دُعا کوي. دا هم کیدې شي چه داسې مریض یا د هغه دکور کسان په یو اسلامي ورور یا د خپل وَس مطابق چه د څو کسانو خرچ برداشت کولې شي د هغوئ خرچ دِ ادا کړي او د ٣ روځو، ١٢ ورځو، ٣٠ ورځو، ١٢ میاشتو یا د ٢٥ میاشتو په مَدَني قافِله کښې دِ د ثواب په نِیَّت په هغوئ سفر وکړي. د مریض نُمائنده به دُعا کوي، **اللهُ غَفُورٌرَّحیم** [که اُوغواړي نو] په خپل رَحمَت به شِفا ورکړي. خو یاد ساتئ! رقم دِ صرف د **دعوتِ اسلامي** د طرفه مقرر شوي مَدَني قَافِله ذِمَّه دار ته جمع کړې شي هغوئ به ئې د خپل ترکیب مطابق په سفر لیږي، ځکه چه که تاسو بل چا ته رقم ورکړئ نو ضروري نه ده چه هغه سفر وکړي او یا کیدې شي چه د سفر په نیمه کښې بیرته راشي. **یاد ساتئ!** د مریض بې ځایه زړه خفه کول نه دي پکار، د هغه تپوس کول پکار دي، د هغه سره ملاقات او خبرې اترې هم جاري ساتل پکار دي بلکه که چرې په یو ځائ کښې مَدَني قافِله د جُمات په ځائ د چا په کور وغیره کښې خپلې ورځې پوره کوي او د مَدَني قافِلې والا ټول په اتفاق سره داسې مریض د ځان سره بوځي چه د هغه نه کرکه کیږي نو هم باك نشته. خو دا خیال هم

www.dawateislami.net

ساتل پکار دي چه [د داسې مریض په وجه] د بهر نه راتلونکو د عامو اسلامي ورونړو [د مدني قافِلې والؤ خوا ته] د راتلو نه د رُکاوټ او هغوئي ته د تکلیف رسیدو اندیښنه نه وي.

صَدقہ نبی دی آل دا بخشے خدا شِفا منگو دعاواں میرے ہے بیمار واسطے

په خاطر د آلِ رسول دِ راکړي خدا شِفا وکړئ زما په شان بیمار ته دا دعا

د هرې بیمارئ علاج شته دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کینسر یو هلاك کونکې مرَض دې، د ډاکټرانو مطابق د دې بیمارئ علاج نشته خو په حقیقت کښې داسې نه ده، ځنګه چه په **مُسلِم** شریف کښې راغلي دي چه: د **الله** تعالیٰ حَبِیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د هرې بیمارئ دارو شته دې،کله چه دارو بیمارئ ته ورسولې شي نو د **الله** تعالیٰ په حکم مریض ښه شي. (مُسلِم ص۱۲۱۰حدیث ۲۲۰٤) یَقِیناً د **بوډا والي** او د **مرګ** نه سِوا د هرې بیمارئ علاج شته دې. خو دا جُدا خبره ده چه د ډیرو بیمارو علاج طبیبانو [یعني ډاکټرانو] تر اوسه پورې نه دې موندلې، لِهٰذا د دې وئیلو په ځائ چه د "فلانکي مرَض علاج نشته"داسې وئیل مُناسب دي چه زمونږ سره د دې بیمارئ علاج نشته یا ډاکټرانو تر اوسه پورې د دې مرض علاج نه دې موندلې. بَهرحال که **رَبِّ ذُوالجلال** جَلَّ جَلَالُہٗ اُوغواړي نو دارو د **شِفا** ذریعه جوړ شي ګنې داسې هم کیدې شي چه هم هغه دارو د **مرګ** پیغام ثابت شي! او داسې هم کیږي چه د **ماهِر ډاکټر** د طرف نه صحیح ورکړي شوي دوائي هم په ځیني مریض باندې غلط اثر (REACTION) وکړي او هغه نور هم زیات بیمار یا معذوره یا مړ شي او بیا د بعضو خلقو د ناپوهئ په وجه ډاکټر غریب په مصیبت کښې اخته شي. حالانکه دا خبره عقل بالکل نه مني چه ګنې یو ډاکټر دِ کوم یو مریض ته ښکاره جِسماني نقصان ورسوي یا دِ ئې مړ کړي! ښکاره خبره ده چه که هغه داسې وکړي نو د هغه بدنامي به وشي او خلق به د علاج کولو د پاره د هغه نه ډډه کوي. خو دیني تَعَصُّب [بُغض] او اسلام دُښمني جُدا څیز دې، هم د دې یَرې په سبب د مشهورو عُلماؤ او د دیني مشرانو علاج د غیر مُسلمو نه په نه کولو کښې خیر دې چه هسې نه چرې د دوئي ژوند ته څه سخت نقصان ورسي. عامو مسلمانانو ته د غیر مسلم ډاکټر نه په داسې مرضونو کښې د علاج کولو اجازت شته دې چه په هغې کښې د غیر مسلم ډاکټر نه د نقصان رسیدو خطره نه وي.

www.dawateislami.net

د غیر مسلم نه د علاج یو عبرت حاصلونکي حکایت

زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په فتاوٰی رضویه جلد ۲۱ صفحه ۲٤۳ کښې لیکي: "**اِمام مارزي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بیمار شو (نو) یو یهودي طبیب د هغوئي علاج کولو، ښه به شو بیا به بیمار شو، ډیر ځله داسې وشو، آخِر هغه[طبیب] ئې یواځې را اُوغوښتو او پوښتنه ئې ترې وکړه [چه دا څه وجه ده]، هغه ورته اُووئیل چه: که رِښتیا درته اُووایم نو زمونږ په نِزد د دې نه بل غټ د ثواب کار نشته چه ستا په شان اِمام د مسلمانانو نه ضائِع (یعني ختم) کړو. اِمام هغه اُوشړو، **الله** تعالٰی هغوئي ته شِفا ورکړه، بیا اِمام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د **طِب** [یعني د حِکمت] طرف ته مُتوجِّه شو او د **طِب** کتابونه ئې ولیکل او طالِبِ عِلمان ئې ماهر طبیبان جوړ کړل او مسلمانان ئې منع کړل چه د کافِر طبیب نه کله هم علاج مه کوئ." (فتاوٰی رضویه ج۲۱ ص۲٤۳)(د غیرمُسلِمو نه د علاج کولو په باره کښې نور تفصیلات په فتاوٰی رضویه جلد ۲۱ صفحه ۲۳۸ نه ۲٤۳ کښې اُوګورئ)

د شفا کیدلو او نه کیدلو راز

مُفَسِّرِ قُرآن، حَکیمُ الاُمّت، حضرت **مفتي احمد یار خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك [د هرې بیمارئ دارو شته دې،کله چه دارو بیمارئ ته ورسولې شي نو د **الله** تعالٰی په حکم مریض ښه شي. (مُسلِم ص۱۲۱۰حدیث ۲۲۰٤)] نه لاندې په **مِراٰةشرحِ مشکوٰة** (جلد ٦) صفحه ۲۱٤ کښې د صاحِبِ مِرقاة رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په حواله نقل کوي: "چه کله **الله** تعالٰی د یوې بیمارئ نه شِفا ورکول نه غواړي نو د دواء [یعني دوائي] او د مرَض په مینځ کښې د یوې **فرِښتې** په ذریعه پرده جوړه کړي چه د هغې په وجه دواء مَرَض ته نه رسیږي، چه کله ئې د شِفا اراده اُوفرمائي نو هغه پرده لرې کړې شي او دواء مرض ته ورسیږي او شِفا وشي." (مرقاةُ المَفاتِیح ج۸ ص۲۸۹ تحت الحدیث ٤٥١٥)

د کینسر روحاني علاج

یو اسلامي ورور **سکِ مدینه** عُفِیَ عَنْهُ ته اُووئیل چه زما ماما **د خیټې د کینسر** په مرض کښې اخته شو، علاج جاري وو، په یو هسپتال کښې هغوئي ته چا یوه پرچئ ورکړه، په هغې کښې څه داسې لیکلي شوي وو چه د کینسر یو مریض ډاکټرانو لاعلاجه ګنړلې وو. هغه غریب په سخت

تکلیف کښې وو او د ژوند نه مایوسه شوې وو. په دې موقع چا هغه [مریض] ته د قرآنِ مجید دَ مُختلفو سورتونو یو څو ټاکلې شوي آیتونه دَ لوستلو دَ پاره ورکړل (چه هغه مخکښې راروان دي) هغه د زړه په اِخلاص سره د هغې هره ورځ تِلاوَت شروع کړو، د **الله** تعالیٰ په فَضل و کَرَم هغه په ښه کیدو شو او د یو څو کاله لوستلو په بَرَکت ئې د **کینسر** بیماري ختمه شوه او بالکل صحت مند شو. زما ماما هم په هغه پرچئ کښې د ورکړې شوي هدایت مطابق تِلاوَت شروع کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ (د دې بیان ورکولو د وخته پورې) د ماماجي صحت دومره زیات په ښه کیدو دې چه مونږ ورته حیران یو. هغوئي د **الله** تعالیٰ شُکر ادا کړو او مسلمانانو ته د فائِدې رَسَوَلو په نِیَّت ئې د مُفت [یعني د هسې] تقسیمولو د پاره د ښکلي کارډ په شکل کښې د هغه پرچئ ۲۰۰۰ کارډونه چاپ کړل.که مریض د عِبادَت کولو د پاره د قُوَّت حاصلولو په نِیَّت په پخه عقیده د دې آیتونو تِلاوَت وکړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ مایوسه کیږي به نه. (میعاد: د شِفا حاصلولو د وَخته پورې)

(اوّل آخِر د درې درې ځله درود شریف لوستلو سره هره ورځ یو ځل دا آیتونه لولئ)

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ﴾[1] ﴿وَ اِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ یَشْفِیْنِ﴾[2] ﴿رَبِّ اغْفِرْ وَ ارْحَمْ وَ اَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ﴾[3] ﴿اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ یَكْشِفُ السُّوْٓءَ﴾[4] ﴿قُلْنَا یٰنَارُ كُوْنِیْ بَرْدًا وَّ سَلٰمًا عَلٰۤى اِبْرٰهِیْمَ﴾[5] ﴿اَنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَ اَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ﴾[6] ﴿اَنِّیْ مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ﴾[7] ﴿لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَ نَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَ كَذٰلِكَ نُـْٔجِی

www.dawateislami.net

الْمُؤْمِنِيْنَ﴾[8] ﴿اِنَّ رَبِّيْ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيْظٌ﴾[9] ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾[10] ﴿وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا﴾[11] ﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ﴾[12] ﴿هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَ نِعْمَ النَّصِيْرُ﴾[13] ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾[14] ﴿نِعْمَ الْمَوْلٰى وَ نِعْمَ النَّصِيْرُ﴾[15] ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ﴾[16] لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْم

په ښي لاس څښئ ولې چه دا سُنَّت دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بيشکه دَ باعَمله عالِم په صُحبَت کښې د آخِرت د فائِدو په باره کښې مَدَني ګلونه په لاس راځي. حضورِ مُحَدِّث اَعظَم پاکستان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هم يو باعَمله عالِم وو، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه مبارك عادت وو چه کله به ئې هم څوك په سُنَّتو پريښودو ليدلو نو د هغه اصلاح به ئې فرمائيله چنانچه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو شاګِردِ رشِيد بيان کوي چه: د ۱۳۷۳ھ واقعه ده چه يوه ورځ د درسِ حديث په دوران کښې چه د **مُسلِم شريف** درس شروع وو. يو صاحِب "**دارُالحَديث**" ته د طلباء د پاره چائے راوړو. د درس د ختميدو نه پس د حضرت شيخُ الحديث مَولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اشاره چائے تقسيميدل شروع شو. کله چه زما حقير بنده وار راغې نو ما حقير بنده په ښي لاس کښې کپ ونيولو او پرچ کښې مې چائے راواچولو او په چپ لاس مې خُلې ته نزدې کړو. [يو دم] په **دارُ الحَديث** کښې د حضرت مُحَدِّث اَعظَم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د آواز انګازه خوره شوه. مَولانا! تاسو په چپ لاس [چائے] څښئ! ما کپ لاندې کيښودو،

---

1 (پ۱۵، بنی اسرآئیل: ۸۲) 2 (پ۱۹، الشعراء: ۸۰) 3 (پ۱۸، المُؤمنون: ۱۱۸) 4 (پ۲۰، النمل: ٦٢) 5 (پ۱۷، الانبیاء: ٦٩) 6 (پ۱۷، الانبیاء: ۸۳) 7 (پ۲۷، القمر: ۱۰) 8 (پ۱۷، الانبیاء: ۸۷، ۸۸) 9 (پ۱۲، هود: ۵۷) 10 (پ٤، اٰل عمرٰن: ۱۷۳) 11 (پ۵، النساء: ۸۱) 12 (پ۲٤، الزمر: ۳٦) 13 (پ۱۷، الحج: ۷۸) 14 (الفاتحه: ۱) 15 (پ۹، الانفال: ٤۰) 16 (پ۱۸، المُؤمنون: ١٤)

په ښي لاس کښې مې پرچ ونیولو او څښل مې شروع کړو. چه کله مې په دویم ځل د کپ نه په پرچ کښې چائے اچولو نو بیا آواز راغې. مَولانا! تاسو په چپ لاس [چائے] اچوئ. نو ما پرچ کیښودو او په ښي لاس کښې مې کپ ونیوو او څښل مې شروع کړل. حضرت مُحَدِّث اَعظَم رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مُسکې شو او په ژبه مُبارَکه ئې دا الفاظ ادا کړل: "طَیِّبٌ طَیِّبٌ یعني اوس صحیح شوه." اوس هم چه کله یواځې ناست یم او دا واقعه را یاده شي [او په تصوّر کښې مې] د دې الفاظو طَیِّبٌ طَیِّبٌ انګازه په غوږونو ولګي نو د سترګو نه مې اوښکې رواني شي. (حیاتِ مُحَدِّثِ اعظم ص۱۵۷)

په چپ لاس خوړل، څښل، ورکول او اَخِستَل دَ شیطان طریقه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حکایت نه دَ حضرت مُحَدِّث اَعظَم رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د سُنَّت سره د مُحَبَّت اندازه لګیدې شي. کاش چه! مونږ ټول هم د نیکۍ د دعوت هم دا انداز اختیار کړو او سُنتونه ډیر ډیر عام کړو. په ذِکر کړې شوي **حکایت** کښې په چپ لاس د چائے څښلو نه د منع کولو ذِکر راغلې دې او په حدیثِ پاك کښې هم په چپ لاس د خوړلو څښلو نه منع راغلـي ده. چنانچه د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۵،۴۸ صفحو کتاب **فیضانِ سُنت** (اُردو، جلد اوّل) صفحه ۲۳۰ نه ۲۳۲ کښې دي چه: د حضرت سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې، چه **حُضُور تاجدارِ مَدِینه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې: "په تاسو کښې دِ هر یو په ښي لاس خوري او په ښي لاس څښي او په ښي لاس دِ ئې اخلي او په ښي لاس دِ ئې ورکوي ځکه چه شیطان په چپ لاس خوراك کوي او په چپ لاس څښل کوي، په چپ لاس ورکول کوي او په چپ لاس اخستل کوي." (سُنَن اِبنِ ماجه ج۴ ص۱۲ حدیث ۳۲۶۶)

هرکار په چپ لاس وَلې...؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! افسوس! نن صبا مونږ د دُنیا په معاملو کښې داسې نښتي یو چه د رَسُولُ اللہ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږو خوږو سُنَّتو طرف ته زمونږ هډو خیال نِشته. **یاد ساتئ!** په حدیثِ مبارکه کښې دي "چه بیشکه شیطان د اِنسان (په بدن) کښې د وِینې په شان ګرځي."

www.dawateislami.net

(بُخاری ج۱ ص۶۶۹ حدیث۲۰۳۸) نو ښکاره خبره ده چه هغه به مونږه په سُنّتو باندې عمل کولو ته چرې پریږدي؟ شیطان په مونږ پسې شوې دې اګرچه [بعضې خلق] په ښې لاس ډوډۍ خوري خو بیا هم په چپ لاس څه نه څه دانې خُلې ته اچوي، د ډوډۍ خوړلو په وخت کښې ښې لاس [په اِنګولې وغیره] ګګړ وي، نو په دې وجه اکثر خلق اوبه په چپ لاس څښي، د چائے څښلو په وَخت کښې ئې کپ په ښي لاس کښې او پرچ په چپ لاس کښې نیولې وي او چائے څښي، چا ته د اوبو ورکولو په وَخت کښې ئې جګ په ښي لاس کښې او ګلاس په چپ لاس کښې نیولې وي او په چپ لاس خلقو ته اوبه ورکوي. "**حیاتِ مُحَدِّثِ اعظم**" صفحه ۳۷٤ کښې دي: مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مَولانا محمّد سردار احمد قادِري چشتي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "په اَخِستَلو او ورکولو کښې ښې لاس استعمالوئ، دا عادت داسې پوخ پکار دې چه صبا په ورځ د قیامت کله اعمال نامه ورکوله شي نو چه هم د دې عادت مُطابِق مو ښې لاس ورمخکښې شي، نو بیا خو به کار وشي."

یا الٰہی! نامۂ اعمال جب کھلنے لگیں
عیب پوشِ خلق ستّارِ خطا کا ساتھ ہو (حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: زما آقا اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مُناجاتو د شعر په اولنۍ مصرعه کښې "**نامہ اعمال جب کھلنے لگیں**" لیکلي دي، آخِري لفظ "**لگے**" د نه لیکلو هم عجیبه حکمت دې. که "**لگے**" ئې لیکلې وې نو معنٰی به دا وه چه کله زما اعمال نامه بیرته کیږي، او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دا غواړي چه کاش! زما خپله نامه اعمال د سره بیرته نه شي، بس دغسې بې حسابه بخښنه مې وشي لِهٰذا "لگے" نه بلکه "لگیں" ولیکو چنانچه د دې شعر به دا معنٰی جوړه شي: په هغه وخت دِ زما اعمال نامه هډو بیرته نه شي او **خوږ خوږ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دِ حواله کړې شي. څوك چه تا په خپل فضل وکرم سره "**سَتّارِ خطا**" یعني د "خطا ګانو پټونکې" جوړ کړې دې [یا الله عَزَّوَجَلَّ] که تا دا کرم وکړو نو بیا زما نافرمانۍ پوهه شه او د هغوئي کرم نوازي پوهه شه. حضرت سَیِّد دیدار علي شاه صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په بارګاه اِلٰهي کښې عرض کوي:

www.dawateislami.net

وقتِ نزع، وقتِ مرگ و وقتِ وحشت، قبر میں حشر میں اُس شافعِ روزِ جزا کا ساتھ ہو
یا الٰہی جب عمل تُلنے لگیں میزان میں شافعِ مَحشر شہِ ہر دو سرا کا ساتھ ہو

یا اِلٰهي په ځنکدن، مرګ، ویره، قبر و حَشر کښې چه مدد د شافِعِ اُمم راسره مَل وي
یا اِلٰهي کله چه تَلل شي اعمال په مِیزان چه مدد د شافِعِ محشر راسره مَل وي

اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مور او پلار فرمانبردار جوړ شو

په خپلو **نافرمانو** باندې د پښیمانتیا اوښکې بهیولو د پاره، د ګناهونو د بیمارو نه شِفا موندلو د پاره، خپل ځان د نیکو حِریص جوړوَلو د پاره، خپل وجود په سُنَّتونو ښائسته کولو دَ پاره او په خپل زړه کښې د عشقِ رسول شمع بلوَلو د پاره دَ تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره هر دَم خپل تعلق مضبوط ساتئ، د خپل ایمان د حفاظت د پاره فِکرمند اوسئ، د **لمُونځونو** پابندي جاري ساتئ، په **سُنتونو** عمل کوئ، د **مَدني انعاماتو** مطابق ژوند تیروئ او په دې باندې د استقامت موندلو د پاره هره ورځ د **فِکرِمَدِینه** په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذِمَّه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد چه "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو دَ تربیت په **مَدَني قافله** کښې دَ عاشقانِ رسول سره دَ سُنَّتو ډك سفر کوئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تَحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلې** واورووم.

د بستي سَمُندري هیرو والا (ضلع ډیره غازي خان، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور (عمر: تقریباً20 کاله) د بیان خُلاصه ده: زه غالِباً په 2009ء کښې د مِډل د امتحان ورکولو نه پس د چوټیانو تیرولو د پاره کور ته راغلې ووم. یوه ورځ د سبزئ اخستلو د پاره را اُووَتلم نو په لاره

www.dawateislami.net

کښې مې د شنو شنو عِمامو [یعني پټکو] والۍ یو څو عاشقانِ رسول سره ملاقات وشو، هغوئ په ډیره خوشحالئ او جذبه زما سره مُلاقات وکړو او په **انفِرادي کوشش** کولو کښې ئې ما ته په داسې ښکلي انداز کښې د هفته وارې سُنّتو نه ډکې اجتماع دعوت راکړو چه ما اِنکار ونکړې شو.چه کله په ټاکلي شوي وخت د سُنتو ډکې اجتماع ته د تللو د پاره د اسلامي ورونړو خوا ته را ورسیدم نو هغوئ ډیر د نرمئ او مهربانئ په انداز کښې زه په ډیر ادب او احترام سره په ګاډي کښې کښینولم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په ژوند کښې وړومبي ځل راته د **دعوتِ اسلامي** د سُنتو ډکه هفته واره اجتماع کښې په فیضانِ مَدِینَه جام پور (ضلع راجن پور) کښې د حاضرئ سعادت رانصیب شو. هلته ډیر خوږ نعت شریف، د سُنَّتو ډك بیان، **ذِکرُالله** عَزَّوَجَلَّ او رِقَّت انګیزې [یعني ژړوونکي] دُعا زما په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راوستو. خاص طور **د دُعا په دوران کښې د خوفِ خدا په وجه زما د سترګو نه اوښکې رواني شوې.** ما د ګناهونو نه توبه وکړه او د اجتماع نه چه بیرته راغلم نو د لـمونځونو پابندي مې شروع کړه، څه لږه موده پس مې ګیره مبارکه هم پریښوده او د شنې عِمامې [یعني د شِین پټکي] شریف تاج مې هم په سر کړو، **زه چه ډیر بد زبانه او بې ادبه انسان ووم، خپل مور او پلار ته به مې په بې ادبئ تیزې تیزې خبرې کولې اوس د مور او پلار منونکې او فرمانبرداره جوړ شوې یم او د هغوئ لاس ښېې ښکلووم.** زما داسې د بهترئ طرف ته بدلیدو باندې د کور ټول کسان بلکه د ټول خاندان خلق هم حیران وو. **مَدَني ماحول** سره د تړون نه مخکښې زه په یوه بیمارئ کښې اخته ووم او د هغې په وجه زه ډیر پریشانه ووم، **الله** تعالیٰ ما ته د هغه مرض نه هم شِفا نصیب کړه. زما نیك ګُمان دې چه دا د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې دَ شرکت بَرَکت وو. دا **مَدَني سپرلې** ئې چه ولیدو نو زما مور ماته حکم وکړو چه ستا وړوکي ورور ته د ګُردو تکیلف دې، ته د دعوتِ اسلامي د **٦٣ ورځو مَدَني تَربِیَتي کورس** کښې شامِل شه او د خپل ورور د شِفا د پاره دُعا کوه. ما په حکم عمل وکړو او د **مَدَني تَربِیَتي کورس** د پاره تقریباً ۲۰۱۰ء کښې فَیضانِ مدینه ساهیوال ته لاړم او هلته مې پخپله هم د ورور د پاره دُعا کوله او نورو عاشقانِ رسول ته مې هم د دُعا درخواست کولو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما په **مَدَني تَربِیَتي کورس** کښې دوه هفتې شوې وې چه **زما د ورور طبیعت ښه کیدل شروع شو حالانکه ډاکټرانو د هغه د آپریشن وئیلي وو. چه کله**

www.dawateislami.net

دوباره چیك اپ وشو نو ډاکټران حیران پاتې شو او وئیل ئې چه اوس د آپریشن ضرورت نشته. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما ورور اوس بالکل صحت یاب شوې دې.

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبّت بھرا مَدَنی ماحول
اے بیمارِ عِصیاں تُو آجا یہاں پر گناہوں کی دیگا دوا مَدَنی ماحول
شِفائیں ملیں گی، بَلائیں ٹلیں گی
یقینا ہے بَرَکت بھرا مَدَنی ماحول

دې اسلامي ورونړه ټول ورونړه ورونړه دې د محبتونو نه ډك دا مدني ماحول
اے د ګناهونو مریضه! راځه ته هم راشه د ګناهونو به درکړي دارو دا مدني ماحول
شِفا به اُومومئ، ختم به شي مصیبتونه یقیناً د بَرَکتونو نه ډك دې دا مدني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د ذِکر کړې شوي مَدَني سپرلي په حقله د نیکئ د دعوت مَدَني ګلونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول په بَرَکت د مور او پلار نافرمانه او ګُستاخ په سمه لار روان شو. یقیناً ډیر خوش نصیبه دې هغه انسان د چا نه چه مور او پلار راضي وي. قَسم په خدائ چه! هغه کس ډیر بدنصیبه دې څوك چه خپل مور او پلار د شرعي اِجازت نه بغیر خفه ساتي او ولې چه نن صبا هر طرف ته د مور او پلار د نافرمانئ او د هغوئي د زړه ازارَوَلو مَرَض عام شوې دې لِهٰذا د ذِکر شوي **مَدَني سپرلي** په حقله د مور او پلار د خوشحالولو فائِدې او د هغوئي د خفه کولو د وعیدونو [یعني د عذابونو د خبرداري] په باره کښې یو څو **مَدَني ګلونه** وړاندي کیږي. د ټولو نه مخکښې د خپل ځوئ سره د مُحَبَّت لرونکي مور د دُعا اِیمان تازه کونکي حکایت واورئ او خوشحاله شئ.

www.dawateislami.net

د مور په دُعا ځوئ ته کلمه نصیب شوه

د یو ډاکټر بیان دې چه: په یو کس د زړه سخته دوره راغله، د پاتې کیدو څه اُمّید ئې نه وو، د هغه مور د کټ خوا ته ناسته وه او دُعا ئې کوله [دا دُعا] حاضرو کسانو هم واوریدله چه: "**یا الله** عَزَّوَجَلَّ زه د خپل ځوئ نه راضي یم ته هم ترې راضي شې." ډاکټران په علاج کښې مشغول وو او مُحتَرمه په دُعا کښې مشغوله وه، کله چه آخِري وخت راغې، مریض په **اوچت آواز کَلِمه** ولوستله، په شونډو ئې مُسکا خوره شوه او د ساه ئې وختله.

د مرګ په وخت کَلِمه وئیونکې جَنَّتي دې.

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د کوم مُسلمان مور چه د هغه د ژوند په آخِري وخت کښې د هغه نه خوشحاله وي د هغه څه ښکلې شان وي! او چا ته چه په آخِري وخت کښې کَلِمه نصیب شي قَسَم په خدائ! هغه ډیر خوش نصیبه دې. چنانچه د **الله** تعالیٰ د **محبوب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: **مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهٖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ** یعني د چا چه آخِري کلام لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ وي هغه به جَنَّت ته داخِلیږي. (ابوداؤد ج۳ ص ۲۵۵ حدیث ۳۱۱٦)

د کَلِمه لوستونکي حکایت

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: مَلَكُ المَوت (عَلَیْهِ السَّلام) د یو مړکیدو والا کس خوا ته راغلو او د هغه زړه ئې وکتلو خو څه عملِ خیر (یعني ښه عمل) ئې پکښې ونه موندلو، بیا ئې د هغه [د خُلې] جامنې بیرته کړلې نو د ژبې ډډه ئې د تالو سره لګیدلې ولیدله او هغه لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ وئیلو نو د هغې کَلِمې په وجه د هغه بخښنه وکړې شوه. (المُحتَضِرین مع موسوعۃُ الامام ابن ابی الدنیا ج۵ ص ۳۰٤ رقم ۹)

جب دمِ واپسیں ہو یا اللہ لب پہ ہو لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰه ہیں محمد مرے رسولِ خدا مرحبا مرحبا رسولُ اللّٰه

چه ساه مې کله خیژي **یا الله** چه په ژبه مې وي لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه
دې مُحَمَّد زما آقا، رسولِ خُدا مَرحَبا مَرحبا یا رسولَ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د قبول شوي حَج ثواب

خورو خورو اسلامي ورونړو! یقیناً د مور او پلار دَرَجه ډیره اوچته ده، د هغوئي دُعاګانې د اولاد په حق کښې قبلیږي، بس هغوئي خوشحاله ساتئ، د هغوئي ښه خِدمت کوئ او د هغوئي دُعاګانې اَخلئ، د هغوئي خوشحالي د اِیمان د سلامتئ او د هغوئي ناراضګي د ایمان د بربادئ سَبَب جوړیدې شي. د **مور او پلار** فرمان برداره همیشه خوشحاله، ښاد او آباد اوسي، په دُنیا کښې چه کوم ځائ هم وي د مور او پلار د دُعا ګانو بَرَکت ورسره ملګرې وي. د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۳٤ صفحو رسالې "سَمندری گُنبد" [پښتو] په صفحه ٦ او ۷ کښې دي: په ډیره همدردئ او مینه **محَبَّت** د **مور او پلار** دیدار کوئ، **مور او پلار** ته د رَحمَت په نظر د کتلو به څه وائې! د **سرکارِ مَدینه** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نشان دې: چه کله اولاد د خپل مور او پلار طرف ته د رَحمَت په نظر اُوګوري نو **الله** تعالٰی د هغه د پاره د هر نظر په بدله کښې د **حَجِّ مَبرُور** (یعني د قبُول شوي حَج) ثواب لیکي. صحابۂ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: اګرکه په ورځ کښې **سل ځله** نظر وکړي! وئې فرمائیل: **نَعَمْ. اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَاَطْیَبُ** یعني "آو، **الله** تعالٰی د ټولو نه لوئ دې او **اَطْیَبُ** (یعني د ټولو نه زیات پاك) دې." (شُعَبُ الایمان ج٦ ص ١٨٦ حدیث ٧٨٥٦)

یقیناً **الله** تعالٰی په هر څیز قادِر دې، هغه چه څومره غواړي ورکولې شي، بالکل هیڅ عاجِز نه دې لِهٰذا که څوك خپل مور او پلار ته هره ورځ سل ځله څه، که زر ځله هم د **رَحمت** په نظر اُوګوري نو هغه [الله] به هغه ته د زرو مقبولو [یعني قبول شوو] حجونو ثواب عِنایت کړي.

مشغول جو رہتا ہے، ماں باپ کی خدمت میں — اللہ کی رحمت سے، جاتا ہے وہ جنّت میں
ماں باپ کو ایذا جو، دیتا ہے شرارت سے — جاتا ہے وہ دوزخ میں، اعمال کی شامت سے

مشغول چه څوك اوسیږي د مور او پلار خدمت کښې — د الله په رحمَت به، داخِل شي په جَنَّت کښې
چه خفه کوي څوك مور و پلار په شرارت خپل — ځي به دوزخ ته د اعمالو په شامَت خپل

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د مور یواځې پریښودونکي کس عِبرتناك مرګ

د **یو** کس مور ډیره سخته بیماره او د مرګ په کټ پرته وه، د دې باوجود نالائقه ځوئ د هغې سره داسې بد سلوك وکړو چه هغه بې وَسه ئې یواځې پریښوده، غریبه په دې حالت کښې وفات شوه، وخت تیریدو. دیرش کاله پس په هغه "نالائقه ځوئ" دستونه ولګیدل او ډیر کمزورې شو. د خپلو کړو سزا داسې ورکړې شوه چه په ژړا ژړا به ئې وئیل: "زما درې ځامن دي خو زما هیڅ پرواه نه کوي، زه د ډیرو ورځو نه بیمار پروت یم خو یو ځل مې هم خوا ته نه دي راغلي." آخِر دا چه هغه هم د خپلې مور په شان د شپې یواځې مړ شو. سحر د چم ګاونډ والؤ ولیدو چه یواځې مړ پروت وو، او میږي پرې راټول شوي وو.

دل دُکھانا چھوڑدیں ماں باپ کا ورنہ ہے اِس میں خسارہ آپ کا (وسائلِ بخشش ص۶۶۸)

زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل کُنې شئ به نقصاني بیا په دې کار خپل

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا حقیقت دې چه د مور او پلار زړه ازاروونکي په دې دُنیا کښې هم **سزا** مومي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: د ټولو ګناهونو **سزا** که الله تعالٰی اُوغواړي نو قِیامَت ته ئې پریږدي، خو د مور او پلار د نافرمانئ **سزا** په ژوند وررَسَوي. (اَلْمُسْتَدرَك لِلْحاکِم ج۵ ص۲۱۶ حدیث ۷۳۴۵)

واقعي هغه کس ډیر خوش نصیبه دې څوك چه مور او پلار خوشحاله ساتي، څوك بدنصیبه چه مور او پلار خفه کوي د هغه د پاره بربادي ده. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په پینځلَّسمه سیپاره سُوْرَۂ بَنِیْ اِسْرَآءِیْل آیت نمبر ۲۳، ۲۴، ۲۵ کښې ارشاد فرمائي:

وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا ﴿۲۳﴾ وَ اخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴿۲۴﴾ ؕ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِیْ نُفُوْسِكُمْ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان : او د مور او پلار سره ښه سلوك كوه،كه ستا په مخكښې په هغوئي كښې يو يا دواړه بوډاوالي ته ورسي نو "اُف" ورته مه وايه او هغوئي مه رټه، او په ادب ورسره خبرې كوه او د هغوئي د پاره د عاجزئ مټ وغزوه د زړه د نرمئ سره، او عرض كوه چه اے زما ربه! ته په هغوئي دواړو رحم وكړې ځنګه چه هغوئي دواړو زه په وړوكوالي كښې پاللې ووم. ستاسو ربّ ته ښه معلوم دي څه چه ستاسو په زړونو كښې دي.

په وړوکوالي کښې مور هم د خپل اولاد ګندګي برداشت کوي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په پاس آياتِ كريمه كښې **الله** تعالٰى د مور او پلار سره د ښه سلوك كولو حكم وركړې دې او خاص طور د هغوئي په بوډاوالي كښې ئې د زيات خدمت كولو تاكيد فرمائيلې دې. يقيناً د مور او پلار بوډاوالې انسان په اِمتحان كښې اچوي، كله كله په سخت بوډاوالي كښې اكثر په كټ كښې د بَول و بَراز (يعني د وړو او غټو بَولو) تركيب كيږي، او د هغې په وجه عام طور اولاد ډير تنګ شي. خو ياد ساتئ! په داسې حالاتو كښې هم د مور او پلار خدمت لازمي دې. په وړوكوالي كښې خو مور هم د ماشوم ګندګي برداشت كوي. كه د بوډاوالي او بيمارو په وجه مور او پلار هر څومره بدمِزاجه شي، يا ئې فِكر كار پريږدي، يا بې وجه جنګ كوي، كه هر څومره جَګړې درسره كوي، چه څومره مو خفه كړي، بس **صبر، صبر** او **صبر** كول او د هغوئي تعظيم كول ضروري دي. د هغوئي سره بدسُلوكي او بې ادبي كول، او هغوئي رټل وغيره خو ډيره غټه خبره ده بلكه د هغوئي په مخكښې "اُف" هم نه دي كول پكار. ګنې موقع مو د لاسه وتلې شي او د دواړه جهانو تباهي مو مُقَدَّر جوړيدې شي ځكه چه د مور او پلار زړه ازارونكې په دې دُنيا كښې هم ذليله او خوار شي او په آخِرت كښې هم د اور د عذاب حقدار دې.

دل دُکھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا ورنہ اس میں ہے خسارہ آپ کا (وسائل بخشش ۳۷۷)

www.dawateislami.net

زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل گنې شئ به نقصاني بیا په دې کار خپل

په ځنکدن کښې خوفناکې چغې وهونکې ځلمې

د **یو** ځلمي گُردې فیل شوې، په هسپتال کښې داخل کړې شو، حالت ئې ډیر زیات خراب وو، د ځنکدن (یعني د ساه ختلو عمل) ئې شروع شو. د هغه د خُلې او پوزې نه دردناك آوازونه وتل، مخ به ئې شِین شو او سترگې به ئې بهر ته را اُو وتلې، په دې حالت کښې دوه ورځې تیرې شوې. هغه دردناك آوازونه په خوفناکو چغو کښې بدل شو، د هغه وارډ (WARD) مریضان تښتیدل شروع شو، لِهٰذا هغه ئې د وارډ نه لرې یوې کوټې ته بدل کړو، د هغه پلار ډاکټر ته اُووئیل چه: ده ته د زَهرو ستن اُووهه چه دې مَړ شي مونږه د ده دې حالت ته کتل نه شو برداشت کولې. چه کله تپوس وکړې شو چه آخِر د ده دا عجیبه او حیرانونکې حالت وَلې دې؟ نو پلار ئې په خفگان اُووئیل: دې کس به د خپلې ښځې د خوشحالولو د پاره خپله مور وهله او ما به دې منع کولو، داسې معلومیږي چه اوس ورته د هغې سزا ورکوله شي! درې ورځې د ځنکدن په سخت تکلیفونو کښې د اخته کیدو نه پس د هغه ساه وختله.

مور ته جواب نه ورکونکې گونگې شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ د **اللّٰهُ** تَوَّاب عَزَّوَجَلَّ په بارگاه کښې توبه اوباسو او د هغه نه د خیر سوال کوو. آه! د مور او پلار زړه ازارَوَل څومره د رُسوائې او د درد ناك عذاب باعِث دي. د مور او پلار ډیر خیال کول پکار دي چه کله مو اُوبلي نو ټول کارونه پریښودل او جي مورې، جي پلاره وئیل او د هغوئي په خدمت کښې حاضریدل پکار دي، منقول دي چه: یو کس ته د هغه مور غږ وکړو خو هغه جواب ورنکړو په دې وجه د هغه مور هغه ته ښیرې وکړې نو هغه **گونگې شو.** (بِرُّ الْوالِدَین لِلطَّرْطُوْشِی ص ۷۹)

د مور او پلار د نافرمانه عبادتونه نه قبلیږي

د خپل پلار د نافرمانه په باره کښې د شوي یو سوال په جواب کښې زما **آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د پلار نافرماني د **الله** جَبَّار وقَهَّار (جَلَّ جَلَالُه) نافرماني ده او د پلار ناراضي د **اللهُ** جَبَّار و قَهَّار (جَلَّ جَلَالُه) ناراضي ده، که بنده مور او پلار راضي کړي نو هغوئي د هغه **جَنَّت** دي او که ناراضه ئې کړي نو هم هغوئي د هغه **دوزخ** دي. تر څو ئې چه پلار نه وي راضي کړې، [تر هغې] د هغه یو فرض، نفل او هیڅ نیك عمل اصلاً (یعني د سره) قبول نه دې، د عذابِ آخِرت نه علاوه په دُنیا کښې به پرې په ژوندیني سخت آفت نازلیږي، د مرګ په وخت کښې ورته **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ **کَلِمه** د نه نصیب کیدو ویره ده. (فتاوٰی رضویه ج۲٤ ص۳۸۵۳۸٤)

د خر په شان مړ انسان

حضرت سَیِّدُنا عَوَّام بن حَوشَب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (چه تبع تابعي بُزُرګ تیر شوې دې او په ۱٤۸ ھ کښې وفات شوې دې) فرمائي: زه یو ځل په یوه مَحَلّه تیریدم، د هغې غاړې ته اِدِیره [یعني مقبره] وه، د مازدیګر نه پس یو **قبر** وشلیدو او د هغې نه یو داسې سړې را اُووَتو چه د هغه **سر د خر په شان او باقي بدن د انسان وو،** هغه درې ځله د خر په شان وهَنګل [یعني وهنړیدو]، بیا قبر ته ننوتو او قبر بند شو. یوه بوډۍ ښځه ناسته وه او وړئ ئې وریشله [یعني څنړله]، یوې زنانه ما ته اُووئیل: دا بوډۍ ښځه وینئ؟ ما اُووئیل: ولې د دې څه مُعامَله ده؟ وئیل ئې: دا د دغه قبر والا کس مور ده، هغه شرابي وو،کله به چه ماښام کور ته راغې نو مور به ورته نصیحت کولو چه اے ځویه! د **الله** تعالٰی نه وَیَریږه، آخِر د څو پورې به دا ناپاکه څیز [یعني شراب] څښې! هغه به جواب ورکړو چه: ته هسې د **خر** په شان هنګیږې [یعني هنړیږې]. دا کس د مازدیګر نه پس مړ شو، چه د کله نه مړ شوې دې هره ورځ د مازدیګر نه پس ئې قبر شلیږي او دغسې درې ځله د **خر** په شان هنګیږي [یعني هنړیږې] او بیا قبرته کوز شي او قبر بند شي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب للمُنذري ج۳ ص۲٦۷ حدیث ۳۸۳۳)

دل نہ تُو ماں باپ کا ہرگز دُکھا ہو کہیں نہ خاتِمہ تیرا بُرا

www.dawateislami.net

زړه مه د مور او پلار خفه کوه چرې نه شي خاتِمه خرابه ستا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مور ګستاخه زمکې ژوندې راښکلو!

په **یو** کلي کښې د یو زمیندار په کور کښې به د خواښې او هِنګور په مینځ کښې هر وخت جنګ وو، څو ځله د زمیندار ښځه خفه شوه او د مور کره لاړه، هغه به په سوال زارو بیرته راوستله. آخر دا چه ښځې زمیندار ته اُووئیل چه اوس به په دې کور کښې یا زه اوسیږم او یا به دِ پکښې مور اوسیږي. زمیندار په خپله ښځه مَرِ وو، هغه نادان په زړه کښې دا فیصله وکړه چه دَ هرې ورځې دَ جَګړو حل دا دې چه مور دَ لارې نه لرې کړم. چنانچه یوه ورځ ئې په څه بهانه مور ځان سره د ګنو پټې ته بوتله، ګنې ئې ریبل چه څنګه ئې موقع اُوموندله مور ته ئې مخ را وګرځوو او چه څنګه ئې پرې د ګُزار کولو د پاره تبرګې پورته کړو نو یو دَم زمکې د ښپو نه راښکلو، تبرګې ئې د لاسه خلاص شو او لرې غوزار شو، مور ئې وَیَریدله او په چغو چغو کلي طرف ته وتښتیدله .زمکې په قلاره قلاره زمیندار راښکل شروع کړو، هغه وَیَریدو او په چغو چغو مور ته په نعرو شو او مُعافي ئې غوښتله خو مور ئې ډیره لرې تلي وه، لږ ساعت پس چه خلق هلته را ورسیدل نو هغه د سینې پورې خخ شوې وو، خلقو د هغه د راویستلو ناکامه کوشش وکړو خو زمکې هغه راښکلو تر دې چه په زمکه کښې پټ شو.

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ وبُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُو نے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په جهان کښې هر طرف ته نمونې دي د عبرت خو ته ړوند کړې د دنیا فاني دولت
محلونه چه پخوا وو کوم آباد غور وکړه ټول پراته دي اوس برباد
دا دنیا د زړه لګولو ځائ نه دې ځائ د عِبرت دې د تماشو ځائ نه دې

www.dawateislami.net

توبه! توبه!!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! توبه! توبه!! وَیَریرئ!!! او که مور او پلار مو ناراضه کړي وي نو زر زر ورته په ښپو پریوځئ او مُعافي ترې اُوغواړئ، دا خو د دُنیا **سزا** وه چه هغه نافرمانه نادان زمیندار ته ورکړې شوه که هغه زمیندار مُسلمان وو نو مونږ د خُدائے رحمٰن عَزَّوَجَلَّ نه د هغه د پاره د رحم او کرم دُعا کوو. چه د دُنیا **سزا** څوك نه شي برداشت کولې نو د آخِرت **سزا** به څنګه برداشت کړې شي! قَسم په خُدائ! د مور او پلار نافرمانو ته چه به د مرګ نه پس کومه **سزا** ورکولې شي هغه به د دُنیا د **سزا** په مُقابَله کښې په کروړونو کروړونو زیاته خوفناکه وي. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَةُالْمَدِینه چاپ شوي د ۳۲ صفحو د رسالې "سَمندری گُنبد" [پښتو] د صفحه ۲۱ او ۲۲ نه درې روایتونه ملاحظه کړئ:

د اور خاخونو ته زوړند خلق

حضرت سَیِّدُنا امام احمد بن **حَجَر مَکِّی شافِعي** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه نقل کوي: د **سَرورِ کائنات** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: د **مِعراج** په شپه ما بعضې خلق ولیدل چه هغوئي د **اور خاخونو ته زوړند** وو ما تپوس وکړو: **اے جبریل!** دا خلق څوك دي؟ عرض ئې وکړو: اَلَّذِیْنَ یَشْتُمُوْنَ اٰبَاءَهُمْ وَ اُمَّهَاتِهِمْ فِی الدُّنْیَا یعني **دا هغه خلق دي چا به چه په دُنیا کښې خپلو پلارونو او میندو** [موریانو] **ته بدې ردې وئیلې.** (اَلزَّوَاجِرعَنِ اقْتِرَافِ الْکَبَائِر ج۲ ص۱۳۹)

د باران د څاڅکو هُمره سکروټې

منقول دي: چا چه خپل مور او پلار ته کنزلې وکړې د هغه په **قبر** کښې د اور دومره **سکروټې** راکوزیږي څومره چه (د باران) څاڅکي د آسمان نه زمکې ته راکوزیږي. (ایضاً ص۱٤۰)

قبر پوښتئ ماتوي

منقول دي: کله چه د مور او پلار نافرمانه خخ کړې شي نو قبر هغه زور کوي تر دې چه د هغه پوښتئ (داسې ماتي شي چه) په یو بل کښې ننوځي. (ایضاً ص۱٤۰)

مور او پلار ته په ښپو پریوځئ او مُعافي ترې اُوغواړئ

خورو خورو اسلامي ورونړو! که ستاسو **مور او پلار** دواړه یا په هغوئي کښې یو ناراضه وي نو فوراً ورته لاس جوړه کړئ، په ښپو ورته پریوځئ او په ژړا ژړا ترې مُعافئ اُوغواړئ. د هغوئي جائزې مُطالَبې پوره کړئ او د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په بارګاه کښې هم په ډیره زارئ او په ژړا ژړا توبه وکړئ ځکه چه هم په دې کښې مو د دواړو جهانو خیر دې. د مور او پلار د حقونو په باره کښې د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** جاري کړې شوي دوه وي سي ډیاني (۱) "**ماں باپ کے حقوق**" او (۲) د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** (۱٤۳۰ھ) په اِعتِکافِ کښې د "*والدین کے نافرمانوں کا انجام*" په عُنوان د شوې "**مَدَني مذاکرې**" وي سي ډي اُوګورئ.

د مور په ښیرو ئې ښپه کټ شوه

واقعي د مور او پلار حقونه پوره کول ډیر ګران کار دې، د دې د پاره ټول عُمر کوشش کول پکار دي او د **مور او پلار** د ناراضګئ نه همیشه ځان ساتل پکار دي.کوم خلق چه **مور او پلار** خَفه کوي د هغوئي په دُنیا کښې هم ډیر خوفناك اَنجام کیږي چنانچه حضرت عَلَّامه کمالُ الدِّین دَمیري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: **زَمَخْشَري** (چه د مُعتزِله فِرقې مشهور عالِم تیر شوې دې) یوه **ښپه کټ شوي** وه. خلقو ترې تپوس وکړو چه دا ولې؟ هغه اُووئیل چه دا زما د مور د **ښیرو** نتیجه ده، قِصَّه داسې ده چه ما په وړوکوالي کښې یوه **مَرغئ** نِیوَلي وه او د هغې په ښپه کښې مې تار اَچولې وو، اِتِّفَاقاً هغه زما د لاس نه خَلاصه شوه او لاړه د یو دیوال په سُوري کښې ننوتله، خو تار ترې بَهَر رازوړند شوې وو، ما تار ونیوو او په بې رحمئ مې راښکلو، **مَرغئ** په پړپقو پړپقو بَهَر ته را اُووَتله، خو د غریبې **ښپه** په تار کټ شوي وه، زما **مور** چه دا درد ناکه نِظاره ولیدله نو سخته خفه شوه او

د خُلې نه ئې را ته دا **ښیره** اُووَتله: چه څنګه تا د دې بې ژبانه مرغۍ ښپه کټ کړه [دغسې دِ] **الله** تعالٰی ستا ښپه هم کټ کړي. خبره وشوه او تیره شوه، څه موده پس دَعِلم حاصِلَولو د پاره ما د "بُخارا" سفر اِختیار کړو، په لاره کښې د سورلۍ نه اوغورزیدم، **ښپه** مې سخته زخمي شوه، "بُخارا" ته چه ورسیدم نو ډیر عِلاج مې وکړو خو تکلیف ختم نه شو آخِر دا چه **ښپه مې کټ کړې شوه.** (او دا د مور د ښیرو نتیجه وه) (حَیاۃُالحیوان الکُبرٰی ج۲ ص۱۶۳)

د مور او پلار د مَحَبَّت په اولاد باندې طِبّي اثرات

د **مور او پلار** د اَهَمِیت نه څوك نه دې خبر، اِسلام مونږ ته د مور او پلار د خوشحاله ساتلو او د هغوئي د ناراضۍ نه د ځان ساتلو حکم راکړې دې یَقِیناً په دې کښې زمونږ د دُنیا او د آخِرت بیشمیره خیرونه دي. غیر مُسلِمه سائنسدانانو هم د مور او پلار په حقله ډیر عجیبه او حیرانونکي تحقیقات کړي دي. چنانچه د ډاکټر نِکَلسَن ڈَیوِس (DR.NICHOLSON DEVIS) او پروفیسر مِسلَن کیم (PROF. MISLON CAM) د رپورټ خلاصه ده چه. مور او پلار چه څومره زړېږي هغه هُمره د هغوئي د اولاد سره مَحَبَّت زیاتیږي او د دې مُحَبَّت په وجه د مور او پلار په سترګو کښې د رنړا یو مخصوص شکل پیدا کیږي چه هغه د اولاد په حق کښې د صحت سَبَب جوړیږي! مور او پلار که زرګاؤ مِیله لرې وي (خو چه د اولاد نه خوشحاله وي نو) د هغوئي د همدردۍ او د نیکو خواهشاتو په ذریعه د غیر مرئي (یعني د نه ښکاره کیدونکو) شُعاګانو سلسله اولاد ته رسیږي، که مور او پلار بیمار وي نو بیا هم د هغوئي غیر مرئي شُعاګانې نه کمزوري کیږي بلکه د هغې طاقت مسلسل زیاتیږي. که مور او پلار نزدې وي نو د هغوئي د مُحَبَّتونو نه ډك غیر مرئي شُعاګانې د اولاد بدن او اعصابو (یعني هغه نري سپین رګونه چه د دماغو او حرام مَغزو نه اُوځي او په ټول بدن کښې خوریږي هغې) ته قُوَّت رَسوي او هغه ملائِم، نرم او پاسته ساتي. [د اولاد بدن ته] د مور او پلار لاس لګیدل نَفسیاتي بیمارئ او ذِهني پریشانئ لرې کوي. یو سائنسدان د خپلې تجربې بیان داسې لیکي: "زه چه کله هم خپلې مور ته د **مُحَبَّت** په نظر ګورم نو زه په خپل بدن کښې سُکون محسوسووم." خیر دا خو د غیرمُسلمو تحقیقات دي، مونږ ته د دُنیاوي فائِدو د پاره نه بلکه د **الله**تعالٰی **او د مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہ

www.dawateislami.net

تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حُکمونو د عمل کولو په نِیَّت د مور او پلار تابعداري کول پکار دي. اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ مُسلمان خو بیا هم د خپل مور او پلار خدمت کوي په غیر مُسلمو کښې خو د زړو مور او پلار ډیره بې قدري کیږي، په دې خبره د دې واقعې نه د ځان پوهه کولو کوشش وکړئ:

اُولډ هاؤس او یوه بې اسره بوډئ

د **انګلینډ** په یو اخبار کښې څه داسې عجیبه قِصّه لیکلې شوي وه چه، د یوې مور صرف یوې لُور "مَیری" MARY نه علاوه نور هیڅ اولاد نه وو، "مَیری" چه کله پیغله شوه نو مور د یو مالدار او په خپله معاشره کښې مُعَزَّز ځلمي سره د هغې واده وکړو او پخپله ئې هم د هغوئي سره اوسیدل اختیار کړل. د هغوئي یوه ښکلي لور پیدا شوه. د هغې نوم **اِلِـزبتھ** (ELIZABETH) کیښودې شو، نیا ته لکه چه د لوبو یوه ګُوډئ په لاس ورغله، نمسئ **اِلِـزبتھ** د هغې سره ډیره عادت شوه. وخت تیریدو تیریدو، یو طرف ته **اِلِـزبتھ** غټیدله او بل طرف ته ئې نیا بوډئ والي طرف ته روانه وه. چه کله وړوکـي **اِلِـزبتھ** دومره لویه شوه چه جامې ئې پخپله بدلولې شوې نو "مَیری" دا سوچ وکړو چه مور مې نوره ډیره بوډئ شوي ده، میلمانه وغیره هُم راځي او په هغوئي کښې دا ښه نه ښکاري، لِهٰذا هغې مور د بوډاګانو په خصوصي کور یعني اُولډ هاؤس (OLD HOUSE) کښې داخله کړه، مور ئې ډیر شور فریاد وکړو او په کور کښې ئې د خپل ضرورت احساس هُم ورکړو او د نَمسئ **اِلِـزبتھ** د ساتلو عذر ئې هم ورته وړاندې کړو، خو چا ئې یوه خبره هم ونه منله. **اِلِـزبتھ** د نیا سره ډیره مینه کوله، هغې هم دَ نیا ډیره مرَسته وکړه خو د هغې هم چا ونه منله. "مَیری" ورته بهانې وغیره کولې چه کور ډیر تنګ دې، ته بې فکره اوسه، مونږ به کله کله اُولډ هاؤس ته د مُلاقات د پاره راځو او د خیالي او اتوار په ورځ به دِ کور ته هم راوَلو، او وَلې اُولډ هاؤس ته د تلَلو په وجه ګنې خپلولې ختمیږي څه! په شروع شروع کښې "مَیری" د مور سره مُلاقاتونه هم وکړل خو رو رو د هغوئي په مینځ کښې جُدائي زیاتیدله. او آخِر دا چه **اِنتِظار** کول د بوډئ تقدیر جوړ شو. هغې به د مُحَبَّت نه ډك اُوګده اُوګده خطونه تیارول، نمسئ **اِلِـزبتھ** ته به ئې پکښې د مینې ډکې خبرې هُم لیکلې خو څه خاص اثر ئې ونکړو. یو ځل ورته لُور په خط کښې لیکلې وو چه په دا ځل د کِرسمس (CHRISTMAS) نه یوه شپه مخکښې به په تا پسې درځم او کور ته به دِ راولم. بوډئ

www.dawateislami.net

ډیره زیاته خوشحاله شوه، هغې د خپلې خوږې نمسئ د پاره د وړئ (WOOL) بنین وغیره جوړ کړو چه دا به هغې ته په تُحفه کښې ورکووم. د ۲٤ دِسمبر په شپه ډیرې سختې واورې وریدلې خو ولې چه نن به "مَیری" په هغې پسې د بوتلو د پاره راځي، ځکه هغه [بوډئ] خپله د "محبت نه ډکه تُحفه" په لاس کښې نیولـي د لُور په انتظار کښې د بلډنګ په ګیلرئ کښې ناسته ده او په ډیره بیقرارئ سره په سړك تیریدونکي هر یو ګاډي ته په غور ګوري، چه ګوَره د "مَیری" ګاډې به کله رارسي! د اُولډ هاؤس د یوې نوکرې جینئ "نَینسي" (NENSI) د بوډئ د بیقرارئ په وجه په هغې ډیر سخت زړه خوګیدو هغې ورته د هِیټر والا کوټې ته د تللو هم ډیر اُووئیل خو بوډئ ونه منله. نَینسي ورله یو ګرم شال راوړو او په هغې ئې واچولو او د همدردئ په وجه ئې ورته څو څو ځله تود تود چائے وړاندې کړو، بوډئ په ډیره سخته یخنئ کښې په رپیدو رپیدو ټوله شپه په انتظار په شوګیره کښې تیره کړه خو لور ئې نه راتله اَو نه راغله. د سختې یخنئ په وجه د بوډئ سخته **نمونیا** شوه، دا [بیماري] د یخنئ کیدو په وجه د ټُوخي پیدا کیدو او د مرئ د خرابیدو په وجه پیدا کیږي، په دې [بیمارئ] کښې د سګِي [یعني پهیپهړو] په بعضې حصَّه کښې پړسوب پیدا شي او د هغې په وجه هغه ځائ ته هوا نه رسي او مریض ته په ساه اخستو کښې سخت تکلیف وي، او د هغه درجۀ حرارت (یعني تبه) ۱۰۵ ډګري ته وخیژي. بوډئ دا بیماري برداشت نه کړې شوه او ساه ئې وختله. څه ورځې پس "مَیری" د خپلې مور سامان وړلو د پاره اُولډ هاؤس ته راغله ، هغې د هغه ځائ د نوکرې نَینسي ډیره شکریه ادا کړه ځکه چه هغې د آخِره وخته پورې د هغې د بوډئ مور خدمت کړې وو، نَینسي ځوانه وه او ډیره خدمت ګزاره هم وه، په دې وجه "مَیری" هغې ته د ډیرې تنخواه لالچ ورکړو او د خپل کور د خدمت د پاره ئې ورته د تلو اُووئیل. **نَینسي** ورته د پیغور په انداز کښې اُووئیل چه: ستاسو کور ته به ضرور ځم، خو اوس نه، چه کله ستا لور **اِلـزبتھ** تا دې **اُولډ هاؤس** ته د اوسیدو د پاره راولي نو زه به بیا د هغې د خدمت د پاره د هغې سره ځم.

په اُولډ هاؤس کښې اوسیدونکو د دوو پاکستاني بُوداګانو فریاد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا خو د یو غیر مسلمه خاندان واقعه وه، او دا چه تاسو اوریدلي وي نو عجیبه غوندې به هم درته محسوسه شوي وي. خو [دا څه نوي خبره نه ده بلکه] په

غیر مُسلم ملکونو کښې په ګڼړ شمیر اُولډ هاؤسونه موجود دي. خو افسوس دا دې چه مسلمانانو هم د هغوئي نه دا کار زده کړو او اوس په اسلامي ملکونو کښې هم تر دې چه په پاکستان کښې هم دا [اُولډ هاؤس] شروع شوي دي! د **دعوتِ اسلامي** په عالَمي مدني مرکز فیضانِ مدینه کښې په ۱۶ ربیع الاوّل شریف ۱٤۳۲ھ (2011. 2. 19) د پوخ عمر د کسانو (یعني د بوډاګانو) **مَدَني مذاکره** وه چه په هغې کښې د ټول مُلك نه په زرګاؤ سپین ګِیري مَشَران شریك شوي وو، او دا **مَدَني مذاکره** په "**مَدَني چینل**" باندې براهِ راست ټیلي کاسټ (TELECAST) [یعني ښودلې] شوي هم وه. په یو پاکستاني اُولډ هاؤس کښې اوسیدونکو دوه کمزورو مشرانو په **ډیر غمګین** انداز کښې اسلامي ورونړو ته خپل درد بیان کړو او په اُولډ هاؤس کښې د پریښودو په وجه ئې د خپلو عزیزانو [یعني د خپل کور د کسانو] په باره کښې سخت افسوس او خفګان ښکاره کړو او وئیل ئې چه مونږه غواړو چه زمونږ د خاندان والا مونږه بیرته کور ته بوځي مونږه دلته ډیر خفه یو. هائے! افسوس! هغه اولاد څومره احسان فراموشه بیکاره او نالائقه دې چه په وړوکوالي کښې د مور او پلار د طرف نه شوي ټول احسانونه هیر کړي او [د هغوئي] په بوډاوالي کښې د هغوئي خِدمت کول پریږدي. حالانکه په بوډاوالي کښې خو هغوئي بې وسو ته د همدردئ زیات حاجت وي. **اسلامي ورونړو!** تاسو وَعده وکړئ چه که هر څه وشي مور او پلار به ټول عُمر د ځان سره ساتو او د هغوئي په خدمت کولو به د جنت حقدار جوړیږو. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی. یقین وکړئ چه د **مور او پلار** حقونه ډیر زیات دي او د دې نه بَرِي کیدل هډو کیدې نه شي. چنانچه [واورئ]

مور ئې په اُوګه کړي په تودو کانړو ٦ مِیله....

یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بارګاهِ نبوي عَلٰی صاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې عرض وکړو چه: په یوه لار کښې داسې **تاوده کانړي** وو چه که د غوښې ټُکړه په هغو اچولې شوې وې نو کباب شوې به وې! ما خپله مور په څټ سوره کړې [په هغه لار] **شپږ مِیله** پورې وړې وه، آیا [په دې خِدمت] زه د مور د حقونو نه آزاد شوې یم؟ سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: ستا په پیدا کیدو

کښې چه د درد څومره څرېکي هغې وهلې [یعني برداشت کړي] وې شائِد دا په هغو کښې د یوې څرېکي بدله شي. (المُعجم الصغیر للطبراني، الجزءُ الاوّل ص ۹۲ حدیث ۲۵۷)

د حمل تکلیفونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! واقعي مور د خپل بچي د پاره سخت تکلیفونه برداشت کړي وي، دردِ زِه یعني د بچي د پیدا کیدو (DELIVERY) په وخت کښې کیدونکي درد باندې صرف مور پوهیږي. د نارینه د پاره څومره آساني ده چه د هغه دِلیوري [یعني د خپلې خیټې نه اولاد] نه کیږي. **زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په فتاوٰی رضویه (جلد۲۷) صفحه ۱۰۱ کښې فرمائي: د نارینه تعَلُّق صرف د مزې اخستلو پورې دې او زنانه د سوونو مصیبتونه سره مخامخ وي، نهه میاشتې ئې په ګیډه کښې ساتي چه ګرځیدل، پاڅیدل کښیناستل ورته ګران وي، بیا د پیدائِش په وخت کښې خو د هرې جټکې په وجه د مرګ سره مخامخ وي، بیا د قِسمونو قِسمونو دردونو په وجه د نِفاس والا (یعني د پیداکیدو نه پس د وِینې په تکلیف کښې د اخته کیدو والا زنانه) خوب وتښتي. ځکه (اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی) فرمائي:

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّ وَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ (پ ۲۶ الاحقاف ۱۵)

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: د هغه مور هغه په ګیډه کښې وګرځوو په تکلیف سره او وئې زیږوو په تکلیف سره او د هغه په ګیډه ګرځول او هغه د پئیو نه غوځول په دیرشو میاشتو کښې دي.

نو د هر ماشوم په پیدائِش کښې زنانه ته کم نه کم درې کاله سره د مشقّته د جیل سزا ده. (فتاوٰی رضویه ج۲۷ ص۱۰۱)

ډرائیور د مرګ نه بچ شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د سُنتونو زده کولو او ښودلو د پاره او په دې باندې د عمل زیاتولو، خپل ځان د سُنتو نمونه جوړَوَلو د پاره او د نیکئ د دعوت د عام کولو د پاره دَ تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره هر دم تړون ساتئ، د خپل

ایمان د حفاظت د پاره فکر مند اوسئ ، د لـمونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنَّتو عمل کوئ، د **مَدَني انعاماتو** مطابق ژوند تیروئ، او په دې د استقامت موندلو د پاره هره ورځ د **فِکرِمَدِینه** په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په اولني تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذمه دار ته جمع کوئ او د خپل دې مَدَني مقصد چه **"ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي"** د حاصلولو د پاره په پابندئ سره هره میاشت کم نه کم درې ورځې د سُنَّتو د تربیت په **مدني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلې** واوروم چنانچه د **بابُ المَدینه** (کراچئ) د علاقې نیا آباد د یو اسلامي خور د حلفیه [یعني په قَسَم سره د] بیان خلاصه ده چه: زما ورور د عرب شریف په ښار "ریاض" کښې د ډرائیور په حیثیت کار کولو. یوه ورځ د ډرائیونګ په دوران کښې د هغه خطرناکه حادثه وشوه او هغه بیهوشه شو. **دِماغي زخمونه** ئې دومره زیات وو چه د پاتې کیدو څه اُمّید ئې نه وو. مونږه مجبوره وو د هغه د لیدلو د پاره هم نه شو تللې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما به د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د اِسلامي خویندو په هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شرکت کولو. ما د خپل ورور پریشاني د خپلې علاقې یوې اسلامي خور ته اُووئیله. هغې ما ته دلاسه راکړه او مشوره ئې راکړه چه هم دغه رنګ په پابندئ سره په اجتماع کښې شرکت کوه او ډیرې ډیرې **دُعاګانې** کوه. چنانچه ما هم دغسې وکړل. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په اجتماع کښې د کیدونکو **دُعاګانو** په برکت په دري میاشتو کښې دننه دننه زما ورور خبرې شروع کړې. ډاکټران هم حیران وو ځکه چه د **دماغو زخمونه** ئې ډیر زیات وو او په ښکاره ئې د بچ کیدو اُمّید ډیر کم وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د اجتماعاتو په برکتونو زما عقیدت نور هم زیات مضبوط شو.

اے اسلامی بہنو! نہ مایوس ہونا — تمہیں خیر دیگا دِلا مَدَنی ماحول
تُو پردے کے ساتھ اجتماعات میں آ — تِری دیگا بگڑی بنا مَدَنی ماحول

اے اسلامي خویندو! مه مایوسه کیږئ — دربه کړي تاسو ته خیر مدني ماحول
ته راځه اجتماعاتو ته پرده کښې — وران کارونه به دِ سم کړي مدني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

دَ سُنَّتو ډکه اجتماع کښې رحمتونه نازلیږي

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې غوښتونکي دُعاګانې به ضرور قبلیږي، **حضرت** سَیِّدُنا امام سُفیان بِن عُیَیْنَه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: عِنْدَ ذِکْرِ الصّٰلِحِیْنَ تَنَزَّلُ الرَّحمَةُ یعني د نیکو خلقو د ذِکر [یعني یادولو] په وخت کښې د **الله** تعالٰی رحمت نازلیږي. (حِلیةُ الاولیاء ج۷ ص ۳۳۵ رقم ۱۰۷۵۰)

چه د نیکانو خلقو د یادولو په وخت کښې رحمتونه نازلیږي نو په کومه اجتماع کښې چه د **الله** تعالٰی او رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کیږي هلته به رحمتونه ولې نه نازلیږي او کوم ځائ کښې چه بیشمیره رحمتونه راوریږي هلته به دُعاګانې ولې نه قبلیږي. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د 743 صفحو د کتاب "**جَنَّت میں لے جانے والے اعمال**" صفحه ٤٢٢ کښې دي: حضرت سَیِّدُنا ابوهُریره او حضرت سَیِّدُنا ابوسعید رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي چه مونږ دواړه د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اَقدَس کښې حاضر وو چه **رَسولُ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: کوم قوم چه د **الله** تعالٰی د ذِکر کولو د پاره کښیني فرښتې د هغوئ نه چاپیره شي او رحمت هغوئ پټ کړي او په هغوئ سکینه (یعني اطمینان) نازلیږي او **الله** تعالٰی هغوئ د خپلو فرښتو په مخکښې یادوي. (صحیح مُسلم ص ۱٤٤۸ حدیث ۲۷۰۰)

ذِکر څه ته وائي؟

د "اَللّٰه هُو" او د "**حق هُو**" ضربونه لګول بیشکه ذِکر دي. خو د قرآنِ مجید تِلاوت، حمد و ثناء، مُناجات و دُعا، درود و سلام، نَعت ومَنقَبَت، خُطبه، درس، د سُنَّتو ډك بیان وغیره هم "**ذِکرُ اللّٰه**" کښې شامل دي. لِهٰذا د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډك اِجتماعات هم د ذِکرحلقې دي.

سارے عالم کو ہے تیری ہی جستجو
یاد میں تیری ہر ایک ہے سُوبَسُو

جِنّ و اِنس و مَلک کو تِری آرزو
بَن میں وَحشی لگاتے ہیں ضَرباتِ ھُو

ټول عالَم غواړي صرف ستا رضا
هر یو ناست، ولاړ دې په ذِکر کښې ستا

پیرې، انسان، فرښته ټول لري آرزو ستا
په ځنګل کښې وَحشیان هم یادوي تا

www.dawateislami.net

اَللّٰہُ اَللّٰہُ اَللّٰہُ اَللّٰہُ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

یا رَبِّ مُصطفٰی عَزَّوَجَلَّ ! زمونږه بې حِسابه بخښنه وکړې. مونږه ستا او ستا د حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په محبت کښې ژوندي لرې، تر څو پورې چه ژوندي اوسو په سُنَّتو د عمل کولو توفیق راکړې، او چه کله مرُو نو د مدینې په زمکه، د ګنبدِ خضراء په یخ یخ سُوري کښې [داسې مرګ راکړې چه] د سترګو مخې ته مو د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظارې وي او په ژبه مو دا کَلِمۂ طیِّبَه وي چه **لَآاِلٰہَ اِلَّااللّٰہُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰہ** (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په جَنَّتُ البَقیع کښې خخیدل او په جنّتُ الفردوس کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړې. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یا خدا جسم میں جب تک کہ مِری جان رہے
تجھ پہ صدقے ترے محبوب پہ قربان رہے
کچھ رہے یا نہ رہے پر یہ دعا ہے کہ امیرؔ
نَزع کے وقت سلامت مِرا ایمان رہے

اے خدایا چه تر څومې سلامت ځان وي
زما ځان دِ په تا او ستا په محبوب قربان وي
که څه راسره وي او که نه بس دا دُعا ده د امیرؔ
په وخت د ځنکدن چه مې سلامت ایمان وي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

د نیکئ د دعوت د پریښودو نُقصانونه

د دُرود شریف د فضیلت حِکایت

حضرت سیِّدُنا ابو اَلْمُواهِب شاذِلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه: **جنابِ رِسالت مآب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته په خوب کښې د خپل دِیدارِ مبارك شرف را عطا کړو او وئې فرمائیل چه: "ته به د قیامت په ورځ زما **د یو لاك اُمّتیانو شفاعَت کوې.**" ما عرض وکړو: اے زما آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په ما باندې دومره اِنعام او اِکرام څنګه وشو؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: ځکه چه ته په ما باندې د **درود هَدِیّه** [یعني تُحفه] پیش کوې. (الطبقاتُ الکُبرٰی لِلشّعرانی، الجزء الثانی ص ۱۰۱)

پڑھتے رہو دُرود و سلام بھائیو! مُدام — فضلِ خدا سے دونوں جہاں کے بنیں گے کام

لوَلَئ ډیر درود و سلام اے زما ورونړو! مُدام — کارونه به مو سم شي د دواړو جهانو تمام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د درود د حِکایت په حقله د "شَفاعَت" په باره کښې مَدَني ګلونه

عُلمائے کِرام به شَفَاعت کوي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د درودِ پاك لوستلو هم څه ښکلي بَرَکتونه دي! د دې **حکایتِ درود** نه دا هم معلومه شوه چه په ورځ د قیامَت به **اَهلُ الله** (یعني الله والا) د ګنهګارانو **شَفَاعَت** کوي. یاد ساتئ! مُطلَقاً د شَفاعَت اِنکار د حکمِ قرآني اِنکار او کُفر دې. د موقعې په مُناسَبَت د شفاعَت په باره کښې د **نیکئ د دعوت** یو څو **مَدَني ګلونه** ستاسو په خدمَت کښې

www.dawateislami.net

وړاندې کیږي، قبول ئې کړئ او د خپل **زړه** په **مدني ګلدسته** کښې ئې ولګوئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د ایمان د تازه کیدو سره سره به مو ډیرې وسوسې هم ختمې شي. د **شفاعَت** معنٰی ده: "د ګناهونو د مُعافئ **سفارِش**." د ټولو نه مخکښې د علمائے کرامو د شفاعت کولو مُتَعَلِّق یو ایمان تازه کوونکې روایت واورئ، چنانچه د **حضرت** سَیِّدُنا **جابِر بِن عَبدُ الله** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د خَاتَمُ الْمُرسَلِیْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشادِ دِلنَشین دې: (په میدانِ قیامَت کښې به) عالِم او عابِد راوستې شي، **عابِد** (عبادَت کوونکې) ته به اُووئیل شي: جَنَّت ته داخِل شه او **عالِم** ته به اُووئیل شي : ته فی الحال ودریږه چه د خلقو **شَفاعَت** وکړې، په دې بدله کښې چه تا دوئې ته ادب زده کړې وو. (شُعَبُ الایمان ج۲ ص ۲٦۸ حدیث ۱۷۱۷)

مجھ کو اے عطّارؔ سُنّی عالموں سے پیار ہے
اِن شآءَ اللہ دوجہاں میں میرا بیڑا پار ہے (وسائلِ بخشش ص۶۲۶)

مِینه ده عطّاره زما په زړه کښې، د سُنّي عالِـمانو اِنْ شَآءَ الله زما به پوریوځي، بیړئ په دواړو جهانو

په کومو آیتونو کښې چه د شَفاعت انکار دې د هغې وضاحت

د قرآن کریم په کومو آیتونو کښې چه د شَفاعَت نه ده (یعني اِنکار دې) د هغې نه مُراد دا دې چه د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې څوك جبراً [یعني په زور] **شَفاعَت** نه شي کولې یا [دا مطلب دې چه] د غیرمُسلمو **شَفاعَت** نشته یا [دا مطلب دې چه] بُت شَفِیع (یعني شَفاعَت کوونکې) نه دې. مثلاً په دریمه سیپاره سُوْرَةُ الْبَقَرَه آیت نمبر ۲۵٤ کښې دې:

يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ

(پ۳، البقرة: ۲۵٤)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغه ورځ چه په هغې کښې نه خرڅول اخستل شته او نه د کافرو د پاره دوستي او نه شَفاعَت.

سیپاره ۲۹ سُوْرَةُ الْمُدَّثِّر آیت نمبر ٤۸ کښې ارشاد دې:

فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ ﴿۴۸﴾ ؕ

(پ۲۹، المدثر: ٤۸)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو د هغوئ د پاره به د سفارِش کوونکو سفارِش کار نه ورکوي.

www.dawateislami.net

د قرآن نه د شَفاعَت ثبوت

کوم ځائ چه په **قُرآن شریف** کښې د شَفاعَت ثبوت دې هلته د **الله** تعالیٰ د ګرانو بندګانو د مومنانو د پاره "**شَفاعَت بِالاِذن**" مُراد دې یعني د **الله** تعالیٰ نیك او خوښ بندګان به د خپل **محبوبِیَّت** او وجاهَت او مرتبې په وجه د **الله** تعالیٰ په اجازت د مومنانو شَفاعت کوي. مثلاً په دریمه سیپاره سُوْرَۃُالْبَقَرَہ آیت نمبر ۲۵۵ کښې دي:

مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ (پ۳، البقرة: ۲۵۵)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او څوك دې چه **سِفارِش** وکړي د هغه په بارګاه کښې بغیر د هغه د حکم نه.

په شپاړسمه سیپاره سُوْرَۂمَرْیَم آیت نمبر۸۷ کښې دي:

لَا یَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: خلق د شَفاعَت مالکان نه دي سِوا د هغوئي نه د چا چه رَحمٰن سره وعده شوي ده.

نیکیاں بِالکل نہیں ہیں نامۂ اعمال میں
کیجئے عطّار کی آ کر شَفاعت یا رسول (وسائل بخشش ص ۱۴۲)

بالکل نه لري نیکئ اعمال نامۂ کښې راشئ وکړئ شفاعت د عطّار یا رسول

څوك څوك به شَفاعَت کوي؟

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکْتَبَۃُالْمَدِینه چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو کتاب "**بهارِشریعت**" **جلد اوّل** صفحه ۱۳۹ نه ۱۴۱ کښې د قیامت په منظر کشئ کښې د **شَفَاعت** مُتَعَلِّق په تفصیلي مضمون کښې دا هم دي: اوس به ټول انبِیاء عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃُوَالسَّلَام د خپل اُمّت **شَفاعَت** فرمائي، اولیائے کرام، شهیدان، عالِمَان، حافِظان، حاجیان بلکه هر هغه کس چه هغه ته څه دیني مَنصَب ورکړې شوې وي هغوئي به د خپلو مُتَعَلِّقِینُو [تعلق لرونکو] **شَفاعَت** کوي. نابالغه ماشومان چه وفات شوي دي. (هغوئي به) د خپل مور او پلار **شَفاعَت** کوي، تر دې چه د عالِمَانو په خدمت کښې به څه خلق

www.dawateislami.net

عرض وکړي: مونږه ستاسو د اودَاسه د پاره په فلانکي وخت کښې اوبه راوړي وې، څوك به وائي چه ما تاسو ته د استِنجا [وچولو] د پاره لُوټه درکړې وه، عالِمَان به د هغوئي هم **شَفاعَت** کوي.

حرزِ جاں ذکرِ شَفاعت کیجئے نار سے بچنے کی صورت کیجئے (حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: په دې شعر کښې زما آقا **اعلٰی حضرت** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: اے عاشقانِ رسول! د **شَفاعتِ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښه ډېر ذِکر کوئ یعني دا د خپل ځان د پاره د پناه د ځائ په مِثل جوړ کړئ چه "**ذِکر د شفاعت**" مو د آخِرت د خیر او د عذابِ جَهَنَّم نه د خلاصي وَسِیله جوړ شي.

تجھ سا سیاہ کار کون اُن سا شَفیع ہے کہاں!
پھر وہ تُجھی کو بھول جائیں دل یہ ترا گمان ہے (حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: په دې شعر کښې **اعلٰی حضرت** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپل ځان ته د عاجزئ په طور فرمائي: ته که د ټولو نه لوئ ګنهګار ئې خو ته چه د کوم **خوږ خوږ مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلام ئې د هغوئي نه بل غټ شَفاعَت کوونکي هم نشته. نو ځکه اے زما غمګینه زړه! تَسَلِّي ساته! په ورځ د حَشَر به شَفِیعِ مَحشَر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تا بالکل نه هیروي.

یا رسولَ اللہ! مجرم حاضرِ دربار ہے نیکیاں پلّے نہیں سر پر گُنہ کا بار ہے
تم شہِ ابرار یہ سب سے بڑا عِصیاں شِعار یوں شَفاعت کا یہی سب سے بڑا حقدار ہے
(وسائلِ بخشش ص ۲۲۲)

یارسولَ اللہ! مُجرِم حاضِر دې ستاسو په دربار نیکئ نه لري، لري د ګناهونو لوئ انبار
ته شاهِ اَبرار ئې او دا دې د ټولو غټ ګنهګار ځکه دا د شفاعت دې د هر چا نه زیات حقدار

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د شَفاعَت اته قِسمونه

مُحَقِّق عَلَی الاِطلاق، خَاتِمُ المُحَدِّثِین، حضرتِ عَلَّامه **شَیخ عَبدُالحَق مُحَدِّث دِهلوي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د شَفاعَت د قِسمونو په بیان کښې فرمائي: (۱) دَ **شفاعَت** اولنې قِسم شَفاعَتِ عُظمٰی دې چه ټولو

www.dawateislami.net

مخلوقاتو ته به د دې فائِده رسي او دا زمونږ د **مُحتَرَم نَبِـی، مَکِّي مَدَني مُصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره خاص دې یعني [په نورو] انبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې به یو نبي هم په دې باندې د جُرأت او د وړاندې والي مجال نه لري او دا **شَفاعَت** به خلقو ته د آرام رَسَوَلو د پاره ، د حشر په میدان کښې زیات وخت د حِصاریدو نه د خلاصي ورکولو د پاره ، د **الله** تعالٰی په فیصله او حساب کښې د تادئ [د عرض] کولو او د قیامَت د ورځې د سختئ او پریشانئ نه د وِیستلو د پاره وي. **(۲)** دویم قِسم **شَفاعَت** به د یو قوم بې حسابه جَنَّت ته د داخلیدو د پاره وي او دا **شَفاعَت** هم زمونږ د **نَبِـیِّ پاك** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره ثابِت دې او د بعضو عُلماءِ کرامو په نِزد دا شَفاعَت صرف د **حضورِ انور** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره خاص دې. **(۳)** دریم قِسم **شَفاعَت** به د هغه خلقو په باره کښې وي چه د هغوئي نیکئ او بَدئ برابرې وي او د **شَفاعَت** په مدد به جَنَّت ته داخلیږي. **(٤)** څلورم قِسم **شَفاعَت** به د هغه خلقو د پاره وي څوك چه د دوزَخ حقدار ګرځیدلي وي نو حُضُور پُرنُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ئې **شَفاعَت** اُوفرمائي او هغوئي به جَنَّت ته راولي. **(۵)** پینځم قِسم **شَفاعَت** به د مرتبې د اوچت والي او د بُزُرګئ د زیات والي د پاره وي. **(٦)** شپږم قِسم **شَفاعَت** به د هغه ګنهګارانو په باره کښې وي کوم چه جَهَنَّم ته رسیدلي وي او د **شَفاعَت** په وجه به [د جَهَنَّم نه] را اُوځي او داسې قِسم **شَفاعَت** به نور انبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام فرښتې، عالِمَان او شهیدان هم کوي. **(۷)** ووم قسم **شَفاعَت** به د جَنَّت بیرته کولو د پاره وي. **(۸)** اتم قِسم **شَفاعَت** به خاص د مدینې مُنَوَّرې زَادَهَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعْظِیْمًا والؤ او **دَ مَدِینې د تاجدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د روضۂ انور د زیارت کونکو د پاره په خصوصي طریقه وي. (مُلَخَّص از اَشِعَّۃُ اللَّمعات ج٤ ص٤٠٤)

حشر میں ہم بھی سیر دیکھیں گے　　منکر آج ان سے التجا نہ کرے　　(حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: زما آقا **اعلٰـی حضرت** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې شعر کښې فرمائي:کوم خلق چه نن په دُنیا کښې د **الله** تعالٰی ګران بندګان "بې اختیاره" ګنړي، په ورځ د مَحشَر به مونږه هم د هغوئي ښه تماشه کوو چه څنګه بې وسه او تنګ به وي او د انبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په پاکو دربارونو کښې به د شَفاعَت د سوال کولو د پاره خوار و زار ګرځي! خو ناکامه به شي. ځکه خو داسې وئیل شي:

www.dawateislami.net

آج لے ان کی پناہ آج مدد مانگ ان سے
پھر نہ مانیں گے قِیامت میں اگر مان گیا (حدائق بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: یعني نن د اختیاراتِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قائِل شه او د هغوئي د کرَم د لَمَن پناه واخله او د هغوئي نه مدد اُوغواړه. که ته دا وائې چه **سَرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله تعالٰی** په عطا سره هم مدد نه شي کولې نو یاد ساته! چه صبا په ورځ د قیامت چه کله د **الله تعالٰی** د **خوږ نَبِي** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبوبیت شان ظاهِر شي او ته اِختیارات اُومنې او د شَفاعَت په صورَت کښې د مدد سوال کولو د پاره منډې وهې نو هغه وخت به ئې **سرکارِ نامدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ونه مَنِـي ځکه چه دُنیا "**دارُ العَمل**" (یعني د عمل ځائ) وو که هلته دِ "**مَنَلې وې**" نو کار به دِ شوې وو اوس "**مَنَل**" په کار نه راځي ځکه چه آخِرت **دارُ العَمَل** نه دې "**دارُ الجَزاء**" (یعني په دُنیا کښې چه دِ کوم عمل کړې وو د هغې د بدلې ورکولو ځائ) دې.

د شَفاعت په اُمِّید ګناه کول څنګه دي؟

د **شَفاعَت** په اُمِّید ګناه کونکې داسې دې لکه څوك چه ماهر ډاکټر ته د رسیدو په اُمِّید زَهر اُوخوري یا د هډوکو ماهِر ډاکټر ته د رسیدو په اُمِّید د رَوان ګاډي مخې ته ځملي او د خپل بدن ټول هډوکـي مات کړي او یقیناً څوك هم داسې نه شي کولې. لِهٰذا هر وخت د ګناهونو نه ځان ساتل ضروري دي. د **شَفاعَت** په اُمِّید د **الله** تعالٰی او **رسول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرماني کولو باندې ځان د جَهَنَّم عذاب ته مخامخ کول ډیر زیات خطرناك دي. د **الله** تعالٰی د **پټ تدبیر** نه هر وَخت یریدل پکار دي که د ګناهونو د سپیره والي په وجه د چا **اِیمان** برباد شو نو **شَفاعَت** خو ئې په ځائ پاتې شو! قَسم په خدائ! د همیشه همیشه د پاره به د دوزخ د اور د لـمبو او قِسما قِسم عذابونو سره مخامخ وي. **وَالعِیَاذُ بِاللّٰه** (د الله تعالٰی پناه) خو د ځان ساتلو د ډیر کوشش او د نه غوښتلو باوجود هم که بعضې وخت انسان په ګناه کښې ونخښلي نو هغه له پکار دي چه توبه او اِستغفار هم کوي او د **خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **شَفاعَت** سوال هم کوي.

اے شافعِ اُمم شہِ ذی جاہ لے خبر لِلّٰہ لے خبر مری لِلّٰہ لے خبر
مجرم کو بارگاہِ عدالت میں لائے ہیں تکتا ہے بیکسی میں تِری راہ لے خبر
اہلِ عمل کو اُن کے عمل کام آئیں گے
میرا ہے کون تیرے سوا آہ! لے خبر (حدائقِ بخشش شریف)

www.dawateislami.net

شرح کلامِ رضا: اے د ټولو اُمَّتونو شَفاعَت کونکیه عِزَّت منده شَهَنشاه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د خدائ د پاره! زما د ګنهګار خبر واخله! اے زما خوږه آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مُجرِم عدالت ته پیش کړې شوې دې، ګنهګار غلام د ډیرې زیاتې بې وسئ په حالت کښې د **شَفاعَت** اُمّید لرونکې ستاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشریف راوړو په انتِظار کښې دې. **یارسولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بیشکه نیکو بندګانو ته به دَ هغوئ نیکئ په کار راځي، آه! د نیکو نه تشه لمَن او د سر نه د ښپو پورې په ګناهونو کښې ککړ ستاسو د غُلام ستاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سِوا څوك دي چه **شَفاعَت** ئې وکړي او د اور د عذاب نه ئې بچ کړي!

تسلّی رکھ تسلّی رکھ نہ گھبرا حشر سے عطّارؔ
تِرا حامی وہاں پر آمِنہ کا لاڈلا ہوگا (وسائل بخشش ص ۱۸۸)

تَسلي ساته تَسلي ساته مه یریږه د حشر نه عطّاره
هـــلـته به کړي ستا ملګرتیا د آمِـنـه دِلبر

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د کشتئ مسافِر

د **حضرت** سَیِّدُنا **نُعمَان بِن بَشیر** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه د **ټولو نبیانو سردار** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د **الله** تعالٰی په حَدونو کښې سستي کونکي او په هغې کښې د اخته [کس] مثال د هغه خلقو په شان دې چا چه په کشتئ کښې قُرعه اندازي وکړه، نو د بعضو په حصّه کښې لاندینئ حصّه راغله او د بعضو په حصّه کښې بَرَنئ. پس لاندیني کسانو ته به د اوبو د پاره د بره کسانو خوا ته تلل پیښیدل، نو هغوئ دا تکلیف وګنړلو او یو تبرګې ئې راواخستو او د کشتئ په لاندینئ حصّه کښې یو کس سُورې کول شروع کړل، نو بَرَني [یعني د پاسَنئ حصّې والا] کسان د هغه خوا ته راغلل او وئیل ئې: دا په تا څه وشو؟ هغه وئیلې چه تاسو ته به زما په وجه تکلیف کیدو او د اوبو نه بغیر ګزاره نه کیږي. اوس که هغوئ د هغه لاس ونیولو نو هغه ئې بچ کړو او پخپله به هم بچ شي او که هغه ئې پرېښودو نو هغه به هلاك کړي او خپل ځانونه به هم هلاك کړي. (صحیح بُخاري ج ۲ ص ۲۰۸ حدیث ۲٦۸٦)

www.dawateislami.net

د ګناهونو سـ یره والې نورو ته هم رسي

د دې حدیثِ پاك نه لاندې په مِراٰةُالْمناجِیْح کښې دي: په دې حدیث شریف کښې د یو مِثال په ذریعه د بَدئ نه د منع کولو او د نیکئ د حکم ورکولو اَهَمِّیّت واضح کړې شوې دې او دا خبره ښودلې شوې ده چه که دا وګنړل شي چه ګناه کونکي ته به د خپلې ګناه نقصان رسیږي زمونږ پکښې څه نقصان دې! او په دې سوچ د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر (یعني د نیکئ د دعوت ورکولو او د بَدئ نه د منع کولو) فرض پریښودلې شي نو دا سوچ غلط دې، ځکه چه د هغه د ګناه اثر په ټوله مُعاشره پریوځي او څنګه چه په کِشتئ کښې سورې کونکې یواځې نه ډوبیږي بلکه په کشتئ کښې سواره ټول کسان د ځان سره ډوبوي، هم دغه رنګ د ګناه کونکو یو څو کسانو دا جُرم په ټوله مُعاشره کښې د ناسور په شان خوریږي. (مِراٰةُالْمناجِیْح ج ٦ ص ٥٠٤)

بس صرف د ځان غم کوه!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! داسې نه ده پکار چه **بس صرف د ځان غم کوه!** بلکه د خپل ځان د اصلاح د کوشش سره سره د نورو خلقو د اصلاح طرف ته هم توجه کول پکار دي، ځکه چه ډیر ګناهونه داسې دي چه د هغې نقصان نورو ته هم رسي مثلًا که څوك د غلا ګناه وکړي نو د هغه کس به هم نقصان وشي د چا نه چه غلا شوي ده، بالکل هم دغه حال د ډاکه کولو، په امانت کښې د خِیانت کولو، د کنزلو کولو، د تُهمَت لګولو، د غِیبَت کولو، د چُغلئ کولو، د چا د عیب ښکاره کولو، په ناحقه د چا د مال خوړلو، د وِینې توئیَولو[یعني د چا د وژلو]، چا ته بې د شرعي اِجازَته د تکلیف رَسَوَلو، د قرض خوړلو، د چا څه څیز د هغه د خفه کیدو باوجود بغیر د اِجازته د استعمالَوَلو، د مور او پلار د خفه کولو او د بدنظرئ وغیره کولو دې. اوس که هر یو ته د دې ګناهونو کولو ښکاره آزادي ورکړې شي نو بیا خو به نه د چا مال سلامت پاتې شي او نه د چا عِزَّت! بلکه بیا خو به زمونږه مُعاشره د **"د سړې خورو ځناورو ځنګل"** جوړ شي. بعضې ګناهونه داسې هم دي چه د هغې په کولو د انسان خپل عِزَّت ته هم نقصان رسي مَثَلاً کوم کس چه د چُغل خور یا زاني یا شرابي په طور

www.dawateislami.net

مشهور شي نو په دې هر یو کس پوهیږي چه په مُعاشره کښې د هغه څه مُقام وي؟ او بعضې ګناهونه داسې دي چه د انسان مال ته نقصان رَسَوي مَثَلاً د جَوارئ په خوند کښې اخته کیدل، په سُود قرض اخستل، د کار کولو په ځائ فِلمونه او ډرامې کتلو کښې مشغولیدل، په ذِکر شوي کارونو کښې اخته کسان چه مالي طور څنګه ورځ په ورځ مخ په ښکته ترقي کوي دا د یو عقلمند نه هم پټه نه ده. د دې ټولو دُنیاوي نقصانونو سره سره داسې کس د آخِرت د نقصان سره هم مخامخ دې، چه هغه د جَهَنَّم د خوفناك عذاب په صورت کښې پیښیدې شي. وَالعِیَاذُ بِاللّٰه تعالٰی

د ګناهونو پینځه دُنیاوي نُقصانونه

د ګناهونو د دُنیاوي نقصانونو په باره کښې د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ۱٤۸ صفحو کتاب **"نیکیوں کی جزائیں اور گناہوں کی سزائیں"** صفحه **۵۱** کښې دي: د حُضُور نَبِیِّ پاك صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرَت نشان دې: **اے خلقو!** د پینځَۤو خبرو نه د ځان ساتلو د پاره د پینځَۤو خبرو نه ځان وساتئ: **(۱)** کوم قوم چه کم تول کوي **الله** تعالٰی هغوئي په ګرانئ او د میوو په کمئ کښې اخته کوي. **(۲)** کوم قوم چه بد عهدي (یعني وعده خلافي) کوي **الله** تعالٰی د هغوئي دُښمنان په هغوئي مُسَلَّط کوي. **(۳)** کوم قوم چه **زکوٰۃ** نه ادا کوي **الله** تعالٰی په هغوئي د باران اوبه بندي کړي او که څناور نه وي نو هغوئي ته به د اوبو یو څاڅکي هم نه وي ورکړې شوې. **(٤)** په کوم قوم کښې چه فَحَّاشي او بې حیائي خوره شي **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی هغوئي د طاعون[1] په مَرَض کښې اخته کوي. او **(۵)** کوم قوم چه د قراٰنِ پاك نه بغیر فیصله کوي **الله** تعالٰی په هغوئي باندې د زیاتي (یعني د غَلطو فیصلو) کولو مزه ځَکـي او هغوئي د یو بل په ویره کښې اخته کوي. (قُرَّۃُ الْعُیُون ص۳۹۲)

دُعا به نه قبلیږي

افسوس! په کروړونو افسوس! نن صبا په مُسلمانانو کښې د نیکو کولو فِکر ډیر زیات کم

[1] (طاعون ته په انګریزئ کښې پلیګ (PLAGUE) وائي. دا د مړو د سپګو د چیچلو په وجه لګي، دا هلاك کونکې مرض دې، په دې مرض کښې په سِینه، ترَخونو یا د شرم ګاه خوا و شا غوټې راخیژي او تیزه تبه ورسره راځي)

شوې دې بس هر طرف ته د ګناهونو دَوَر دې، د **نیکئ د دعوت** طرف ته هم څه خاص رَغبَت پاتې نه دې، راشئ! یو **عِبرت ناك رِوایت** واورئ او خپل ځان د عذابِ اِلٰهي نه وَیَروئ چنانچه د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: قَسم په هغه [ذات] د چا په لاس کښې چه زما ساه ده، یا خو به تاسو د ښې خبرې حکم ورکوئ او د بَدې خبرې نه به منع کوئ یا به **الله** تعالٰی په تاسو زر خپل عذاب رالیږي بیا به دُعا کوئ او ستاسو دُعا به نه قبلیږي. (تِرمِذی ج٤ ص ٦٩ حدیث ٢١٧٦)

د دې حدیثِ پاك لاندې په مِراٰۃُالْمناجِیْح کښې دې: د **اَمْرٌبِالْمَعْرُوْف وَنَھْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** (یعني د نیکئ د حُکم ورکولو او د بَدئ نه د منع کولو) د ذِمَّه وارئ نه ډډه کول څومره لوئ جُرم دې په دې حدیث کښې په ډیر وضاحت سره د دې بیان شوې دې. رَسُولِ اَکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دې: یا خو به تاسو دا فرض ادا کوئ یا به د **الله** تعالٰی په عذاب کښې اخته کیږئ او د هغې نه پس که تاسو دُعا هم غواړئ نو نه به قبلیږي، دا د ډیر زیات سخت قِسم وعید دې (یعني د سزا ورکولو خبر دې) یعني تر څو پورې چه تاسو خپله کوتاهي لرې نه کړئ او د الله تعالٰی نه مُعافي ونه غواړئ نو ستاسو یوه دُعا به هم نه قبلیږي. (مِراٰۃُالْمناجِیْح ج٦ ص ٥٠٥)

دے دُھن مجھ کو نیکی کی دعوت کی مولٰی — مچادوں میں دھوم اُن کی سنّت کی مولٰی

راکړې ماته شوق د نیکئ د دعوت مولٰی — چه عام کړم زه د هغوئ سُنَّت مولٰی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

زه د ګناهونو په تِیارو کښې ورك ووم

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د نیك جوړیدو او د ګناهونو نه د بچ کیدو او د اِیمان د حفاظت د پاره په نن زمانه کښې د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول د یو **نِعمَتِ غیرمُتَرَقبه** (یعني هغه دولت چه د هغې د حاصیلیدو ګمان نه وي) نه کم نه دې، د نن صبا د ګناهونو نه ډك ماحول کښې لوئ شوي غټ غټ مجرِمان مَدَني ماحول ته راغلل او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په سُنتو په باندې عمل کولو والا جوړ شو. راځئ چه! په دې باره کښې یو "مَدَني سپرلې" واورو، چنانچه د **ګجرات** (پنجاب، پاکستان) د اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ستاسو په خدمت کښې وړاندې کووم. د تبلیغ قرآن

www.dawateislami.net

و سُنَّت عالَمگیر غیر سیاسي تحریك "**دعوتِ اسلامي**" د مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه د ګناهونو په تِیارو کښې ورك ووم. د غفلت تِیارو زه د دِین نه عملي طور دومره لرې کړې ووم چه ما د لـمانځه، روژې هیڅ پرواه نه لرله. یوه ورځ د معمول مطابِق زما قاري صاحِب زمونږ کور ته ما ته د قراٰنِ پاك وئیلو د پاره راغلو نو هغه وخت زه په تې وي باندې ډرامه کتلو کښې مصروف ووم، ما اُووئیل: "**قاري صاحِب! تاسو کښېنئ زه ډرامه ګورم، بس اوس راځم لږه غوندې پاتې ده.**" قاري صاحِب هم د کمال نه ډکه حوصله لره، د رټلو قهریدلو په ځائ ئې په ډیر شفقت او مهربانئ په ما **اِنفِرادي کوشش** وکړو او هغوئي ما ته د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکتَبَۃُالمَدِیْنَه** چاپ شوي رِساله "**ٹی وی کی تباہ کاریاں**" واوروله. رساله چه مې واوریده نو زه ډیر سخت پښیمانه او شرمِنده شوم او د **الله** تعالٰی د یَرې نه په لړزان شوم! د قاري صاحِب د نصیحت مطابِق چه ما د خپل تیر شوي ژوند حساب شروع کړو نو زه سخت خفه شوم چه آه! ما د ژوند دومره لویه حصَّه په فضولیاتو او بې فائِده کارونو کښې تیره کړه او ما ته د دې څه احساس هم نه دې شوې! **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ ما په رښتیني توبه وِیسته او پخه اِراده مې وکړه چه د بیا د پاره به **اِنْ شَآءَ اللّٰه** تعالٰی د ګناهونو نه ځان ساتم، د لـمانځه د پابندئ سره سره به په سُنَّتو د عمل کولو د ژوند تیرولو کوشش کووم او د **الله** تعالٰی او د **رَسُول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نافرمانئ، دروغو، غِیبَت، **چُغلئ** او وعده خلافئ وغیره وغیره نه به ځان ساتَم. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي خوشبودار مَدَني ماحول زما د ژوند حال بدل کړو او زما په شان وران کاري انسان هم د خپلې اِصلاح کولو د پاره ملا وتړله، الله** تعالٰی دِ مونږ ته په مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت راکړې. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تُو نرمی کو اپنانا جھگڑے مٹانا رہے گا سدا خوشنما مَدَنی ماحول
تُو غصّے جھڑکنے سے بچنا و گرنہ
یہ بدنام ہو گا ترا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۶۰۴)

ته نرمي کړه اختیار، مه کوه جَګړه وي به سَدا خوشنُما مَدَني ماحول
ته د غصې او رټلو نه بچ اوسه ګنې بدنام به شي دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اِنفِرادي کوشش[1] کول سُنَّت دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې مَدَني سپرلي کښې د اِنفِرادي کوشش او د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه** د چاپ شوي رسالې **"ٹی وی کی تباہ کاریاں"** د اورولو د بَرَکت بیان دې، مونږه ټولو ته پکار دي چه موقع په موقع د اِنفِرادي کوشش په ذریعه **د نیکئ د دعوت** ترکیب جوړوو، یقیناً د اِنفِرادي کوشش په ذریعه **د نیکئ دعوت** ورکول زمونږ د **خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوارِه خوارِه سُنَّت دي او په بیشمیره اَحادیثِ مُبارَکه کښې د دې دلیلونه موجود دي.

مَدَني بیګ او تقسِیمِ رَسائل

بیان شوي مَدَني سپرلي کښې د **"ٹی وی کی تباہ کاریاں"** رِسالې ذِکر هم موجود دې چه کله قاري صاحِب خپل شاګِرد ته دا رِساله واورواله نو هغه ته د **توبه** کولو سعادت نصیب شو، هغه لـمونځ ګُزاره جوړ شو او د دعوتِ اسلامي په مدني ماحول کښې شامِل شو. د کومو اسلامي ورونړو او خویندو نه کیدې شي نو یو **"مَدَني بیګ"** دِ واخلي او په هغې کښې دِ د خپل وَس مُناسِب د **مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه** چاپ شوي رسالې، د سُنَّتو ډکو بیانونو کیسټې وغیره کیږدي. خیر ټوله ورځ نه، صرف د موقعې په لِحاظ سره دِ هغه بیګ د ځان سره موجود ساتي او رسالې وغیره دِ نورو ته په تحفه کښې ورکوي. د موقعې د مُناسَبَت په لِحاظ داسې هم کیدې شي چه بعضو خلقو ته دِ ئې صرف د لوستلو د پاره ورکوي، چه کله ئې هغه ولولي او بیرته ئې ورکړي نو بله رساله دِ ورکړي هم دغسې د کیسټو او د غټو کتابونو ترکیب هم کیدې شي. په داسې کولو تاسو ډیر زیات ثوابونه ګټلې شئ. خو چه دا هر څه خاص ستاسو د خپل جیب نه وي د دې د پاره چنده مه کوئ. د دې نه علاوه د **جَشنِ وِلادت** په موقع یا د خپلو وفات شوو عزیزانو د ایصالِ ثواب د پاره هم په **مُختَلِفو** وختونو کښې د **تقسیم رَسائل** ترکیب جوړوئ. په درس او اجتماعاتو او مدني مشورو کښې او د ایصالِ

[1] یعني یو په یو کوشش کول

www.dawateislami.net

ثواب په محفلونو کښې د مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه مَدَنِي رَسائل وغیره تقسیموئ او د نیکئ د دعوت عام کولو ډیر زیات ثواب ګټئ.

بانٹئے مَدَنی رسائل مَدَنی بیگ اپنایئے اور حقدارِ ثوابِ آخرت بن جایئے

د **شِعر مفهوم**: ځان سره په مَدَني بیګ کښې مَدَني رِسالې ساتئ او هغه تقسیموئ او د آخِرت د ثواب حقدار جوړ شئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د عذاب د نازیلیدو سبَب

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي تَرجَمې والا قرآنِ پاك "کنزُالایمان مع خزائنُ العِرفان" صفحه ۳۳۹، سیپاره ۹ سُوْرَۃُ الْاَنْفَال آیت نمبر ۲۵ کښې اللّٰهُ رَبُّ العِباد عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي:

وَ اتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِیْبَنَّ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او د هغه فِتنې نه وَیَریږئ چه هغه به په تاسو کښې یواځې ظالمانو ته نه رسیږي [بلکه هر نیك او بد ته به رسي]، او پوهه شئ چه د اللّٰه عذاب ډیر سخت دې.

صَدرُالاَفاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعِیمُ الدّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیت نه لاندې فرمائي: بلکه که تاسو د دې نه ونه یَریږئ او د دې د اسبابو یعني منع شوو څیزونو نه مو ډډه ونکړه او هغه فِتنه نازله شوه نو داسې به نه کیږې چه په هغه فِتنه کښې به خاص صرف ظالِمَان او بدکاره اخته کیږي بلکه هغه (فِتنه) به نیك او بَد ټولو ته رسي. حضرت سَیِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائیلي دي چه اللّٰه تعالٰی مومِنانو ته حکم کړې دې چه هغوئي دِ په خپل مینځ کښې څوك ممنوعاتو کولو ته نه پریږدي یعني د خپل وَس او اِختیار مُطابِق دِ بَدئ منع کوي او ګناه کونکې دِ د ګناه نه منع کوي که هغوئي داسې ونکړي نو هغوئي ټول به په عذاب کښې اخته شي، خطاکار او غیر خطاکار ټولو ته به عذاب رسي. (تفسیرِ طَبَری ج۶ ص۲۱۷ رقم ۱۵۹۲۳) په حدیث شریف کښې دي، سَیِّدِعالَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اللّٰه تعالٰی د مخصوصو خلقو په عمل عذاب نه عام

www.dawateislami.net

کوي ترڅو چه عام طور خلق داسې ونکړي چه ممنوعات [یعني ګناهونه] په خپل مینځ کښې وِینې او د هغې نه د منع کولو د قدرت لرلو باوجود نه څوك د ګناه نه حِصارَوي او نه ئې ترې منع کوي، او چه کله داسې وشي نو **الله** تعالیٰ په عذاب کښې عام او خاص ټول اخته کوي. (شرحُ السُّنة للبَغوی ج۷ ص۳۵۸ حدیث۴۰۵۰) د "**اَبُوداؤد**" په حدیث کښې دي: که یو کس په قوم کښې په نافرمانو کښې اخته وي او هغوئې باوجود د قُدرت لرلو هغه منع نه کړي نو **الله** تعالیٰ د مرګ نه مخکښې هغوئې په عذاب کښې اخته کوي. (ابوداؤد ج۴ ص۱۶۴ حدیث۴۳۳۹) د دې نه معلومه شوه چه کوم قوم **نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** (یعني د بدو نه منع کول) پریږدي او خلق د ګناهونو نه نه منع کوي هغوئې د دې فرض پریښودو په وجه په عذاب کښې اخته کیږي.

نیك کس هم په عذاب کښې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په نن زمانه کښې د مسلمانانو یو ګنړ شمیر په روحاني، بَدني، سماجي او معاشي وغیره قِسما قِسم پریشانو کښې اخته دې، چرې **د نیکئ د دعوت** د پریښودو په وجه خو دا حال نه دې؟ تاسو پخپله پرهیزګاره او نیك سهي خو که نورو ته **د نیکئ دعوت** نه ورکوئ او د قدرت لرلو باوجود څوك د ګناهونو نه نه منع کوئ، عام مسلمانان بلکه د خپل کور کسان په ګناه کښې اخته وینئ او خفه کیږئ هم نه، نو دا حدیثِ پاك بیا بیا ولولئ، واورئ او خپل ځان د عذابِ اِلٰهي نه وَیَروَئ او **د نیکئ د دعوت** د پاره ملا وتړئ، چنانچه د سرکارِ مَدینَهٔ مُنَوَّره صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: **الله** تعالیٰ حضرت **جِبرِیل** (عَلَیْہِ السَّلَام) ته حکم وکړو: فلان کې ښار سره د هغې دَ اوسیدونکو زیر و زَبر کړه [یعني په بل مخ واړوه]، حضرت **جِبرِیل** (عَلَیْہِ السَّلَام) عرض وکړو: اے ربّ! په هغه خَلقو کښې ستا فلانکې نیك بنده هم دې چه هغه د ستر ګې د رَپ همره هم ستا نافرماني نه ده کړي. **الله** تعالیٰ اُوفرمائیل: **اَقْلِبْهَا عَلَیْهِمْ فَاِنَّ وَجْهَهٗ لَمْ یَتَمَعَّرْ فِیَّ سَاعَةً قَطُّ** **یعني** ښار په هغوئې نسکور کړه ځکه چه د هغه مخ زما د نافرمانو په لیدلو کله هم نه دې مُتَغَیَّر [بدل] شوې [یعني زما په نافرمانو لیدلو کله هم نه دې خفه شوې]. (شُعَبُ الایمان ج۶ ص۹۷ حدیث ۷۵۹۵)

دَ مُعاشرتي بدو په وجه پریشانه کیدل د اِیمان تقاضه ده

د **دې** حدیثِ پاك نه لاندې په مِراٰةُالْمَناجِیح کښې دي چه: د دې حدیث شریف نه دا معلومه

www.dawateislami.net

شوه. چه څنګه د اعمالِ صالحه (یعني نیکو) سره تَعَلُّق ساتل او د بَدو نه ډډه کول ضروري دي دغسې د دِین و مِلَّت خلاف سازشونو او په مُسلمانانو باندې د ظُلم او زیاتي او د معاشرتي خرابئ په وجه **پریشانه** کیدل هم د ایمان تقاضه ده. کوم خلق چه د **الله** تعالیٰ د رضا د حاصلولو د پاره د معاشرتي بدو د ختمولو کوشش نه کوي او د منع کولو طاقت که نه لري نو په هغې خفه کیږي هم نه نو د هغوئي تقوٰی د هیڅ کار نه ده! لِهٰذا د خپلې اصلاح او د **الله** تعالیٰ په بندَګئ کښې د مشغولیدو سره سره د مُلك و مِلَّت او د دُنیا د مسلمانانو د بدحالئ د ختمولو او مُعاشره د غیر شرعي کارونو نه د پاك کولو د پاره کوشش کول زمونږ د ټولو ذِمه واري ده. (مِراٰةُ المَناجِیح ج٦ ص ٥١٦)

د نیکو خلقو د هلاك کیدو وجه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څوك چه پخپله د نیکو حِرص لري ، په پابندئ سره د جَمعې لـمونځونه هم کوي، خو د ګیره خروونکو، ماډرن [یعني غیر شرعي فیشن کونکو] دوستانو د مجلسونو نه د ډډه کولو په ځائ صرف د خوند اخستلو د پاره د هغوئي په مجلسونو کښې کښیني، د هغوئي په غیر مُحتاطه او د ګناهونو نه ډکو خبرو اترو کښې اګرچه خاموشه اوسي خو په زړه کښې خوند ورکوي ولې چه ښکاره خبره ده که د ده نفس ته ئې مزه نه ورکولې نو د داسې خلقو سره به ئې ولې دوستي کوله! اوس چه کوم روایت وړاندې کیږي هغه د داسې خلقو د پاره د عِبرَت کوړه ده (یعني د نصیحت او د عِبرت چابك دې)، چنانچه منقول دي: **الله** تعالیٰ **حضرت** سَیِّدُنا **یُوشَع بِن نُون** عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته وحي را ولیږله چه ستا د قوم **یو لاك** کسان به په عذاب هلاك کیږي چه په هغې کښې **څلویښت زره** نیك دي او شپیته زره بد دي. هغوئي عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام عرض وکړو: **یا ربّ** عَزَّوَجَلَّ! د بدکِردارو د هلاك کیدو وجه خو ښکاره ده خو نیك خلق ولې هلاك کیږي؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: ”دا نیك خلق هم د هغه بدکرداره خلقو سره خوراك څښاك کوي، زما د نافرمانئ او د ګناهونو د لیدلو په وجه کله هم د دوئي په مخونو د ناګوارئ [یعني د بد لګیدو] هیڅ اثر نه راځي.“ (شُعَبُ الایمان ج٧ ص ٥٣ رقم ٩٤٢٨)

په خپل زړه کښې دِ ئې بَده وګنړي

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۷۴۳ صفحو کتاب **"جَنَّت میں لے جانے والے اعمال"** صفحه ۵۹۵ کښې دي: د حضرتِ سَیِّدُنا ابُو سَعِید خُدرِي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د حُضُورِ پاك، صاحِبِ لولاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرَت نه ډك فرمان دې: په تاسو کښې چه څوك څه بَدي اُووِيني نو هغه ته پکار دي چه بدي په خپل **لاس** بدله [يعني منع] کړي او څوك چه په لاس د بدلولو طاقت نه لري هغه ته پکار دي چه په خپله **ژبه** ئې بدله کړي او څوك چه په خپله **ژبه** هم د بدلَوَلو طاقت نه لري هغه ته پکار دي چه په خپل **زړه** کښې ئې بده وګنړي او دا د کمزور ترين ايمان نښه ده. (صحیح مُسلِم ص ٤٤ حدیث ٤٩ ، سُنَن نَسائی ص ٨٠٢ حدیث ٥٠١٨)

آيا مونږ په زړه کښې بد ګنړو؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپل ضمير نه تپوس وکړئ چه که څوك مو په ګناه ليدلې وو او په لاس يا ژبه د منع کولو د طاقت نه لرلو په صورت کښې آيا تاسو په خپل زړه کښې بد ګنړلي وو؟ په کروړونو افسوس! د بچو د مور نه که ډوډئ پخول ناوخته شي، په اِنګولي کښې ترې مالګه زياته شي، يا د چا ځوئ اسکول ته لاړ نه شي نو ضرور ئې بده ګنړي خو که د کور والؤ هره ورځ پينځه لـمونځونه قضا کيږي نو هيڅ بده ئې نه ګنړي، تر دې چه د هغوئې د پوهه کولو کوشش هم نه کوي، حالانکه که ماشوم د لسو کالو شي او لـمونځ نه کوي نو په پلار **واجِب** دي چه په وهلو پرې [لـمونځ] کوي. ګنې [پلار به] ګنهګار او د اور د عذاب حقدار وي. تاسو پخپله اووائې! آيا ستاسو داسې کول صحيح دي؟ مَثَلاً د محکوم [يعني د رُعب نه لاندې] اولاد ګناه که اُووِيني نو حاکِم (يعني پلار دِ) ئې په **لاس** بدله [يعني منع] کړي، عالِم دِ ئې په **ژبه** بدله کړي، چا ته چه دا دواړه قُدرَتونه حاصل نه وي هغه دِ ئې کم نه کم په زړه کښې خو بده وګنړي، خو اوس داسې ذِهن څوك لري! تاسو فِکر وکړئ! **مِيوزِك** [يعني سندرې او سازونه] غږيږي، بيشکه تاسو د بندَوَلو قدرت نه لرئ خو آيا بدې درباندې لګي؟ آيا دا کار تاسو بد ګنړئ؟ نه جي، ځکه چه په خپل

موبائل کښې مو هم مَعَاذَاللهعَزَّوَجَلَّ "مِیوزیکل ټیون" موجود دې! دوه کسان په کوڅه کښې یو بل ته کنزلې کوي، بده دربانديې ولګیده؟ نه جي، ولې؟ ځکه چه کله کله دِ په خپله خُله هم مَعَاذَاللهکنزلې راځي. فلانکي دروغ اُووئیل، آیا په تا بد ولګیدل؟ جي آو، ولې؟ ځکه چه زما ذاتي نقصان وشو، باقي د اللهتعالیٰ د رضا د پاره به په داسې چا څنګه بد ولګي څوك چه پخپله خُله هم مَعَاذَاللهدروغ وائي. دا مِثالونه صرف د احساس پیدا کولو د پاره دي، ګنې د ډیرو حالت دا دې چه په خپل موبائل کښې ئې میوزیکل ټیون نه وي، د کنزلو او دروغو عادت ئې هم نه وي، بیا ئې هم په "زړه کښې د بد ګنړلو" خیال نه وي. که د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د پاره مو په حقیقي معنو کښې ګناه په زړه کښې د بَده ګنړلو سوچ پیدا شي او په ګناه مو د زړه خفه کیدلو عادت جوړ شي نو بیا به په مُعاشره کښې د یو بل د اِصلاح کولو دَوَر راشي ځکه چه مونږه بَدئ په زړه کښې واقعې بَدې ګنړل شروع کړو نو بیا به خلق پوهه کول هم شروع کړو، او اِنْ شَآءَاللّٰهتعالیٰ هر طرف ته به د سُنَّتو سپرلې راشي او د "نیکئ دعوت" به عام شي. اللهتعالیٰ دِ زمونږ په حال رحم وکړي او مونږ ته دِ عقلِ سلیم راکړي چه مونږ هم ډیر ډیر د نیکئ دعوت ورکونکي او د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عام کولو والا جوړ شو. راځئ چه! د سُنَّتو عام کولو جذبه زیاتولو د پاره یو مَدَني سپرلې واورو.

درې شرابي ورونړه مَدَني ماحول ته راغلل!

د ضِلع اوکاړه تحصیل دِیپال پور (پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه: په دِیپال پور کښې به زمونږه خاندان د هغه ځائ د ټولو نه مالدارو کورنو کښې شمیرلې شو خو افسوس! چه زما د ښه بد پوهیدو نه مخکښې زما مَشر ورور د غلطو دوستانو د صحبت په وجه د شرابو نشئ جوړ شوې وو. د بد صحبت او د شرابو څښلو په وجه زمونږ ورور زمونږه په تعلیم و تربیت باندې هیڅ توجُّه ورنکړه، د نشې نه علاوه د هغه هډو بل کار نه وو. د نشې بد عادت هغه داسې مجبوره کړو چه د خپل کور سامان، د کپړو دُکان، کارخانه او زمونږ یو مارکیټ چه په هغې کښې ډیر دُکانونه وو دا ټول ئې د نشې د پوره کولو د پاره خرڅ کړل، په کور کښې چه اور

www.dawateislami.net

لګیدلې وي نو د کور کسان به ترې څنګه بچ پاتې شو! آخِر هغه وشو د کومې خبرې مو چه ویره لرله یعني د هغه نه کشر او زما نه مشر ورور هم په **نشه** کښې اخته شو، دا اور چه نور زیات شو نو زما نه هُم راچاپیره شو او زه هم په نشه کښې اخته شوم. مور مُحترمه مو د مخکښې نه د مشر ورور د نشئ کیدو په وجه د غمونو نه بدحاله وه، زمونږ په وجه د هغې غم نور هم زیات شو. آخِر زمونږ قِسمَت څه داسې راوِیښ شو چه زما مینځنې ورور چه د نشې د آفت نه بچ وو، هغه د تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریک **دعوتِ اسلامي** خوشبوداره مَدَني ماحول کښې تګ راتګ شروع کړو، مَدَني ماحول کښې د شامليدو په بَرَکت به ئې کله کله په مونږه هم **اِنفِرادي کوشش** وکړو او اجتِماع ته به ئې د ځان سره بوتلو، هلته به زمونږ زړه نه لګیدو خو هغه ورور راباندې اِنفِرادي کوشش جاري وساتو او مونږه به ئې په مُحَبَّت اجتماع له بوتللو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د خپل ورور د اِنفِرادي کوشش په بَرَکت نن **مونږه ټولو ورونړو چه څه موده مخکښې نشیان وو، توبه ویستلې ده او د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره هم تړون کړې دې.** کله چه ما ته خپل تیر وخت رایاد شي نو زړه مې ودرَزیږي چه که د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول را ته نه وې نصیب شوې نو زمونږه به څه کیدلې؟ شاید چه داسې به شوي وو چه مونږه به نن دَر په دَر خاورې په سر وې او زمونږه خپلو خلقو به هم مونږه ځان ته نزدې نه پرېښودلې. خو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مَدَني ماحول په بَرَکت زمونږ په خزان وهلي باغ کښې بیا د خوشحالو مَدَني سپرلې راغې! د **الله** تعالٰی ډیر ډیر احسان دې چه د دې لیك د وخته پورې زه د ٦٣ ورځو مَدَني تربیتي کورس کووم او د ټولو نه مشر ورور مې تقریباً د ١٧ میاشتو نه د **عاشقانِ رسول** سره د سُنّتو د تربیت په مَدَني قافله کښې مُسافِر دې.

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم دونوں جہاں میں مچ جائے دُھوم
اِس پہ فدا ہو بچّہ بچّہ یا اللّٰہ مری جھولی بھر دے (وسائلِ بخشش ص۱۰۹)

د شعرونو ترجَمه: یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! دعوتِ اسلامي په دنیا کښې عام او په دواړو جهانو کښې قبول کړې، یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! لوئ څه چه یو یو ماشوم هم د دې عاشِق جوړ کړې. یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! زما دا دُعا قبوله کړې.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نیکۍ دعوت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو ولیده! د اِنفِرادي کوشش په ذریعه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شریك کیدو په برکت درې شرابیان وروڼه د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شو. د شرابي خرابئ تاسو ولیدلې چه هغه کارخانه، د کپړې دُکان او خپل مارکیټ ټول هر څه د "نَشې" اور ته ګُزار کړل! واقعي **شراب** ډیر خراب څیز دې او د دې په وجه دُنیا او آخِرَت دواړه بربادیږي. شراب دومره بده بَلا ده چه دا د دوائي په طور هم څښل منع دي، چنانچه حضرت سَیِّدُنا طارِق بِن سُوَید رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د **شرابو** په باره کښې تپوس وکړو، حُضُورِ **پُرنور** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منع کړو. هغوئي عرض وکړو: مونږ خو دا د **دوائي** د پاره جوړوو. وئې فرمائیل: "دا **دوائي** نه ده، دا خو پخپله بیماري ده." (مُسلِم ص ۱۰۹۷ حدیث ۱۹۸٤) د حضرتِ سَیِّدُنا **ابو موسٰی اَشعَری** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې، چه د حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرَت نشان دې: "درې کسان به جَنَّت ته نه داخلیږي. په شرابو همیشه والې کولو والا او قاطِعِ رِحم (یعني خپلوي ختموونکې) او د جادو تصدیق کوونکې." (مُسنَدِ امام احمد بن حنبل ج ۷ ص ۱۳۹ حدیث ۱۹۵۸٦)

دَ جادو په باره کښې

حضرت عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك د دې حصې "او د جادو تصدیق کوونکې" نه لاندې فرمائي: د دې نه مُراد هغه کس دې څوك چه د **جادُو** تاثِیر بذاتِ خود (یعني په دې کښې د الله د ورکړې نه بغیر پخپله د تاثِیر لرلو) قائل وي. (مِرْقَاةُ الْمَفَاتِیْح ج ۷ ص ۲٤۲ تحت الحدیث ۳٦٥٦)

د جادو او پیریانو د وجود انکار کفر دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! دَ "**جادُو**" وجود د قراٰنِ کریم نه ثابت دې لِهٰذا داسې عقیده لرل چه د "**جادُو**" هډو وجود نشته بس دا هسې د خلقو خبرې دي، دا [عقیده لرل] کفر دې. هم دغه رنګ د پیریانو د وجود اِنکار کول هم کفر دې.

د مالك بِن دینار پریشاني

حضرت سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: مونږه د دُنیا په مُحبت کښې په خپل مینځ کښې صُلح کړي ده، لهٰذا اوس مونږه په خپل مینځ کښې نه د **نیکئ حکم** ورکوو او نه یو بل د بدو نه منع کوو، **الله** تعالٰی دِ مونږه په دې حال نه ساتي ګنې معلومه نه ده چه په مونږ به کوم عذاب نازلیږي. (شُعَبُ الایمان ج٦ ص ٩٧ حدیث ٧٥٩٦)

آتش پرست ګاونډي مُسلمان شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سَیِّدُنا مالِك بِن دینار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ډیر پخواني بُزُرګ دې، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپل دور حالت بیان کړې وو او د عذاب د راتلو پریشاني ئې ظاهِره کړي وه او اوس خو حالت ډیر زیات خراب شوې دې. په کروړونو افسوس! اوس خو د مسلمانانو ګنړ شمیر د یو بل نه زیات د دُنیا سره **محبَّت** کوي او حالات دومره خراب شوي دي چه چا ته د **نیکئ دعوت** ورکول خو څه! د نیکئ د دعوت ورکوونکي باقاعده مُخالَفت کیږي او د بدئ نه به څوك څه منع وکړي! ځکه چه نن صبا خو ښه ډیر ډیر د ګناه دعوت ورکولې کیږي. آه! نه څوك د خپلې اصلاح فِکر کوي، نه د کور د اِصلاح کولو پرواه لري او نه د ګاونډیانو د آخِرت د بهتر جوړَوَلو څه سوچ شته. بَهرحال مونږ ته پکار دي چه مونږ پخپله د صحیح کیدو سره سره نورو اسلامي ورونړو ته هم د **نیکئ دعوت** ورکړو او په خپلو ګاونډیانو هم **اِنفِرادي کوشش** وکړو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زمونږ د بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ المُبِین په خپلو ګاونډیانو باندې د اِنفِرادي کوشش کولو ډیر واقعات شته دي، چنانچه شَمعُون نامي یو آتش پرست [یعني د اور عبادت کوونکې] د **حضرتِ** سَیِّدُنا **حَسَن بَصْري** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ګاونډي وو. چه کله د هغه د مرګ وخت نزدې راغې نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هغه خوا ته تشریف یوړو، څه ګوري چه د هغه ټول وجود د اور په لوګي تور شوې دې! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په هغه اِنفِرادي کوشش شروع کړو او د اِسلام قبلَوَلو **دعوت** ئې ورکړو او د رحمَتِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ اُمّید ئې ورکړو. هغه عرض وکړو چه زه د دري خیزونو په وجه د اسلام نه لرې یم: (۱) چه د

www.dawateislami.net

اسلام په نِزد "دُنیا" ډیر بد څیز دې نو بیا تاسو د دې د حاصلولو کوشش ولې کوئ؟ **(۲)** مرګ د یقیني ګنړلو باوجود د هغې د پاره **تیّاري** ولې نه کوئ؟ **(۳)** ستاسو د وَینا مُطابِق دیدارِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ ډیر لوئ نِعمَت دې نو بیا په دُنیا کښې د هغه د **رضا خلاف** کار ولې کوئ؟ **حضرت** سَیِّدُنا **حَسَن بَصْری** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه ورته ارشاد اُوفرمائیلو: "د دې ټولو څیزونو تعَلُّق خو د عقائدو سره نه دې بلکه د اعمالو سره دې، ته دا غور وکړه چه په آتش پرستئ کښې تا خپل وخت **ضائع** کړو نو څه درته حاصل شو؟ مُومِن که هر څنګه وي کم از کم د **الله** تعالٰی وَحدانِیّت (یعني یو والې) خو مني. اُوګوره! تا اویا کاله د دې اور عِبادت وکړو د دې باوجود مونږ دواړه که دې اور ته ځان غوزار کړو نو دا به مونږ دواړه یو شان سیزي، یقیناً ستا د دې اور عبادت کول تا نه شي بچ کولې، خو زما په مالِك و مَولٰی عَزَّوَجَلَّ کښې ضرور دا **طاقت** شته چه که هغه اُوغواړي نو دا اور ماته یوه زَرَّه نُقصان هم نه شي را رَسَوَلې." دا ئې چه اُوفرمائیل نو هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په خپل لاس کښې اور راواخِستلو خو اور هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه ته هیڅ نُقصان ورنکړو. دا ئې چه ولیدل نو شَمعُون ډیر مُتَاثِّره شو خو پریشانه شو او وئیل ئې: "زه اویا کاله د اور په عِبادت کښې اخته ووم! اوس په آخِره کښې به څه مُسلمان شم!" هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه په هغه اِنفِرادي کوشش جاري وساتلو، آخِر دا چه هغه عرض وکړو: "زه په دې شرط مُسلمانیدې شم چه تاسو رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه ما ته دا وعده لیکلې راکړئ چه زما د مسلمانیدو نه پس به **الله** تعالٰی زما ټول ګناهونه معاف کړي." هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه هم د دې مضمون وعده ولیکله او هغه ته ئې حواله کړه، خو هغه دا اُووئیل چه: "په دې د عادِلو [یعني انصاف کوونکو] خلقو ګواهي هم ولیکئ." هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د هغه دا مطالَبه هم پوره کړه. د دې نه پس هغه مسلمان شو او **وصِیَّت** ئې وکړو چه زما د مرګ نه پس به ما ته تاسو رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه پخپله غُسل راکوئ او دا "**لیکلې وعده**" به ما ته په لاس کښې کیږدئ چه په **میدانِ حشر** کښې زما د مُومِن کیدو ثبوت جوړ شي. د دې وصیّت نه پس ئې کَلِمَۀ شَهَادت اُووئیله او **ساه** ئې **وختله**. هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د هغه وصیَّت پوره کړو، هم په هغه شپه هغوئ رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه هغه په خوب کښې ولیدو چه هغه ډیرې قیمتي جامې اغوستې دي او په نقش و نِګار ښائسته کړې شوې تاج

www.dawateislami.net

ئې په سر دې او د جَنَّت په سیل کښې مصروف دې. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ترې تپوس وکړو چه: په تا څه تیر شو؟ هغه عرض وکړو: "الله تعالٰی زه اُوبخښلم او ما ته ئې داسې انعامونه راکړل چه زه هغه نه شم بیانَوَلې، لِهٰذا! اوس په تاسو رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هیڅ بوج نشته او دا "لیکلي وعده" بیرته واخلئ ځکه چه اوس ماته د دې حاجت نشته." چه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه رابیدار شو نو هغه لیکلي وعده ئې په لاس کښې موجوده وه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په دې کامیابئ د الله تعالٰی شُکر ادا کړو. (تَذْکِرَةُ الاولیاء ج۱ ص۴۱) **د الله تعالٰی دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

زمانے بھر میں مچا دیں گے دھوم سنّت کی
اگر کرم نے ترے ساتھ دے دیا یا ربّ (وسائل بخشش ص۹۵)

ټوله دُنیا کښې به عام کړو سُنّتونه
که ستا کرم راسره ملګرې وو یا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

زه په اور کښې پوره شل منټه ولاړ ووم!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله والؤ هم څه ښه ښکلې او اوچت شان وي چه هغوئي د **نیکئ دعوت** هم ورکوي، د الله تعالٰی په عِنایَت **کَرامتونه** هم ښائي او د ایمان د نِعمَت د ورکولو ذریعه هم جوړیږي او دغسې په **جَنَّت** کښې د داخلیدو سبب هم جوړیږي. بَهرحال د **ګاونډي** فِکر هم کول پکار دي او هغه د **نیکئ د دعوت** نه محرومه کول نه دي پکار. خو د غیر مُسلمه سره د دوستئ کولو اِجازَت نشته. هسې نه چه یو عام کس دا سوچ وکړي چه په دې بهانه به دا مُسلمان کړم. البَتَّه کوم عالِم دِین چه د هغه غیر مُسلِمه د مَذهَب او د باطِلو عقیدو د رد کولو قدرت لري هغه دِ بیشکه د شریعت په دائره کښې دننه دننه هغه د اسلام قبلولو د پاره ځان ته رانزدې کړي او هغه ته دِ د اسلام طرف ته رَغبَت ورکړي او د هغه د اعتراضونو جوابونه دِ ورکړي. د **کَرامت** په

www.dawateislami.net

بَرَکت په سوونو د اور عِبادت کوونکي اسلام ته د داخلیدو په باره کښې په **حیاتِ اعلیٰ حضرت** جلداوّل صفحه ۱۸۳ او ۱۸٤ کښې یو لیکلې **ایمان تازه کوونکې حِکایت** واورئ، چه په هغې کښې زما د **آقا اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د بې مِثاله تقوٰی تذکره هم ده، حکایت لږ په آسانه طریقه د پیش کولو کوشش کووم، چنانچه حضرتِ مَولانا حُسَین میرټهي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه: حضرت **پیر عبدُالحَمِید صاحِب بَغدادي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هِند د صوبه **گجرات** یو ښار بَرَوده ته تشریف راوړو او په جامِع مسجد کښې ئې یوه ورځ د ماښام د لـمانځه اِمامَت وکړو، ما د قراٰن شریف لوستلو داسې اثر کله هم نه وو لیدلې، معلومات مې وکړل او د هغوئي سره د مُلاقات د پاره د هغوئي قِیام گاه ته لاړم. د **اِعجازِ قراٰني** په سلسله کښې پیر صاحِب یوه خپله **ایمان تازه کوونکې** واقِعه واوروله، وئې فرمائیل چه: زه یو ځل "**اِیران**" ته تلې ووم، هلته د یوې پخوانئ زَړې **آتشکدې** [یعني د اور د عِبادت د ځائ] سره تَعَلُّق لرونکو آتش پرستو [یعني د اور عِبادَت کوونکو] سره مې د **مناظَرې** ترکیب جوړ شو. ما اُووئیل چه د کوم اور تاسو عِبادت کوئ راځئ چه هغې ته دننه لاړ شو او پوښتنه ترې وکړو چه آیا هغه د خپل عبادت کوونکو څه خیال ساتي او که سیزي ئې! زما دا خبره هغه خلقو ټوقه وګنړله، خو یو وخت اوټاکلې شو. په ټاکلي وخت ټول ښار د دې "**عجیبه مناظرې**" د لیدلو د پاره راجمع شو. ما د هغوئي یو [مشر د اور] عبادت کوونکي ته اُووئیل: راځه چه اور ته ننوځو! هغه وَیَریدو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ** عَزَّوَجَلَّ **زه آتشکدې** [یعني د اور ځائ] **ته داخِل شوم او په شُعلې وهونکي اور کښې دننه پوره ۲۰ مِنټه ولاړ ووم، بیا په خیریت و عافِیَّت بَهر ته را اُووَتم.** دا نظاره ئې چه ولیده نو **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ** عَزَّوَجَلَّ ډیرو آتش پرستو [یعني د اور عِبادَت کوونکو] توبه وکړه او مسلمانان شو. **حضرت مَولانا حُسین میرټهي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما ترې تپوس وکړو چه: تاسو دومره هِمَّت څنګه وکړو؟ وئې فرمائیل: چه اور ته داخلیدم نو په لاس کښې مې **قراٰنِ کریم** نیولې وو او زما دا یقین وو چه قراٰنِ کریم مونږه د جَهنَّم د اور نه بچ کولې شي نو د دُنیا د دې مَعمولي اور نه به مو ولې نه بچ کوي! هغه بُزُرگ ته ما د **سرکارِ اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د لـمانځه په باره کښې د یو خاص اِحتِیاط ذِکر وکړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ډیر زیات مُتَاثِره شو، په دویمه ورځ مې ورسره بیا مُلاقات وشو نو وئې

www.dawateislami.net

فرمائیل: نن شپه مې تولې په ژړا تیره کړي ده، هم دا مې وئیل چه اے خدایه پاکه! ستا داسې بندګان هم شته دې چه په دومره احتیاط لـمونځ کوي. (حیاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۸۳، ۱۸٤ بِتَغَیُّر)

اللہ! کیا جہنَّم اب بھی نہ سَرد ہوگا!
رو رو کے مصطَفٰے نے دریا بہا دیئے ہیں (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رضا: په دې شعر کښې **زما آقا** اعلیٰ حضرت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خدائ پاك په دربار کښې عرض کوي: **یا الله** عَزَّوَجَلَّ! آیا د جَهَنَّم اور به د غلامانِ مُصطَفٰی په حق کښې اوس هم نه سړیږي! زما خوږ خوږ پروردګاره! ستا خوږ حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت د بخښنې د پاره دُعاګانو غوښتلو کښې دومره ژړلي دي دومره ژړلي دي لکه په ژړا ژړا ئې چه دریابونه بهیولي وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

دِماغ مې خوشبوداره شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په خپل زړه کښې د اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام د مَحَبّت شمع بَلَوَلو د پاره، د فیضانِ اولیاء موندلو د پاره او د دُنیا او آخِرَت د بهتر کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر دَم تړون ساتئ، ستاسو د شوق او جذبې زیاتولو د پاره یو **مَدَني سپرلې** ستاسو په خِدمَت کښې وړاندې کووم چنانچه د **ڈیرہ مُراد جَمالي** (بلوچستان، پاکستان) اوسیدونکي د یو اسلامي ورور د لیکلي بیان خُلاصه پیش کووم: د دعوتِ اسلامي خوشبوداره **مَدَني ماحول** کښې د شامِلیدو نه مخکښې زما ژوند په ګناهونو کښې تیریدَلو، زما د ژوند په خزان وهلي چمن کښې د سپرلي هوا داسې راغله چه یوه ورځ زه د معمول مطابق په خپل میډیکل اسټور کښې موجود ووم، یو اسلامي ورور زما خوا ته تشریف راوړو او د **انفِرادي کوشش** په ذریعه ئې ما ته په **بین الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتِماع** کښې د شِرکت دعوت راکړو خو ما د هغوئ په خبره هیڅ غوږ ونه ګَرَوَلو. د اِصلاحِ اُمّت د جذبې نه ډك د هغه عاشِقِ رَسول حوصله د کمیدو په ځائ لکه چه نوره

www.dawateislami.net

زیاته شوه! هغه په ما باندې **انفِرادي کوشش** مسلسل جاري وساتلو، **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زه دهغوئي د مَحَبّت او د مسلسل **انفِرادي کوشش** په بَرَکت په بینَ الاقوامي د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شِرکت کولو د پاره تَیّار شوم. چه کله زه د اِجتِماع گاه په نوراني فَضا کښې ورداخِل شوم او د عاشِقانِ رسول [د ډیر گنړ شمیر] چپې وهونکې سمندر مې ولیدو نو بې حَده مُتَاَثِّره شوم. **تِلاوتِ قُرآنِ پاك، د سُنَّتو ډکو بیانونو، د** [مدینې د] **غم نه ډکو نعتونو او د ذِکرُ الله خوندَوَرو انگازو مې زړه او دِماغ خوشبوداره کړل او روح او بدن مې تازه شو،** ما د تیرو گناهونو نه توبه وکړه او سَمدَستي مې د گیرې پریښودو نِیَّت وکړو او د د سُنّتو د تربِیّت د پاره سفر کوونکي د دعوتِ اسلامي د **عاشِقانِ رسول** د مَدَني قافِلې سره مې د **الله** تعالٰی په لار کښې د سفر کولو ذِهن هم جوړ کړو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي د خوشبوداره مَدَني ماحول سره د تَړون په بَرَکت ما گنهگار ته د نیکو سره د مَحَبّت او د گناهونو نه د نَفرت عظیمه جذبه رانصیب شوه.

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبت بھرا مَدَنی ماحول
یقینا مقدَّر کا وہ ہے سکندر
جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۶۰۲)

دي اسلامي ورونړه ټول ورونړه ورونړه ډیر د مَحَبّت نه ډك دې دا مَدَني ماحول
یقیناً د مُقَدّر هغه دې سِکندر په خیر چه نصیب شو د چا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مَدَني سپرلي په حقله د "نیکئ" مُتعلِّق د نیکئ دعوت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د اسلامي ورور په اِستِقامت سره اِنفِرادي کوشش آخِر کامیاب شو او د گناهونو ډك ژوند تیرولو والا ځلمې د سُنَّتو ډکې اجتِماع ته راغې او د **عاشِقانِ رسُول** صُحبَت او بَرَکت نیك جوړ کړو، هغه ته د گیرې پریښودو، د نیکئ کولو او د گناهونو نه د ځان خلاصَولو جَذبه نصیب شوه. واقِعي **"نیکي"** کول د غټ سعادت خبره ده. **نیکي** گناه ختَموي او بنده د عَذابِ قبر او جَهنَّم نه بچ کوي او جَنَّت ته ئې بوځي. د **دعوتِ**

www.dawateislami.net

اسلامي د اشاعتي اداري مَکتَبَۃُالْمَدِیْنَه چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "کنزُالاِیمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان" دولسمه سیپاره صفحه ۴۳۸، سُوْرَۂهُود آیت ۱۱۴ کښې **اللّٰه** تَبارَكَ وَتَعالٰی اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الْحَسَنٰتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّاٰتِ ؕ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیشکه نیکئ بدو لره ورانوي [یعني ختموي].

دوه فَرامَینِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ چه په هرځائ کښې ئې، د **اللّٰه** تعالٰی نه یَرېږئ او د ګناه نه پس **نیکي** کوئ ځکه چه هغه نیکي به هغه ګناه ورانه کړي او د خلقو سره د حُسنِ اخلاق سُلوك کوئ. (ترمِذی ج۳ ص۳۹۷ حدیث ۱۹۹۴) ﴿۲﴾ بیشکه د ګناه نه پس د نیکئ کوونکي مِثال د هغه کس په شان دې د چا تنګې زغرې چه د هغه مرئ بنده کړي وي بیا هغه نیك عمل وکړي نو د هغه زغرې یوه کړئ خلاصه شي بیا چه کله هغه دویمه نیکي وکړي نو د هغې دویمه کړئ هم خلاصه شي تر دې چه هغه زغره په زمکه پریوځي. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج۶ ص۱۲۱ حدیث ۱۷۳۰۹)

د ګناه ورانولو نُسخه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د آیتِ مُبارکه او **دوو فرامَینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه معلومه شوه چه کله هم د چا نه ګناه وشي نو پکار ده چه څه **نیکي** وکړي مَثَلًا درود شریف یا کَلِمۂ طیِّبه دِ ولولي. چنانچه حضرت سیِّدُنا ابوذر **غِفاري** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه: ما ته د **مدینې سُلطان** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نصیحت کښې دا ارشاد اُوفرمائیلو: چه کله هم ستا نه څه بد عمل وشي، نو د هغې نه پس څه نیك کار وکړه ځکه چه دا **نیکي** به هغه بدي ورانه کړي. ما عرض وکړو: یا رَسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آیا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وئیل په نیکیانو کښې ده؟ وئې فرمائیل: دا خو د ټولو نه غوره نیکي ده.
(مُسنَد اِمام احمد ج۸ ص۱۱۳ حدیث ۲۱۵۴۳)

د توبه په اِراده ګناه کول کُفر دې

د دې حدیثِ پاك د لوستلو نه دِ مَعَاذَاللّٰه څوك دا نه ګنړي چه ګني زَبردَسته نُسخه په لاس راغله! اوس خو به ښه ډېر ګناهونه کوو او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ به لوَلو او ګناهونه به مو ختمیږي. قَسَم په خدائے دا د شیطان ډېر غټ او بد وار دې په دې اِراده ګناه کول چه وروسته به توبه وکړم دا اَشَدّ

کبیره یعني ډیره زیاته سخته **کبیره ګناه** ده. بلکه **مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په نُورُالْعِرفان صفحه ۳۷۶ کښې د سُورۂ یُوسُف د نهم آیت نه لاندې لیکي: "**د توبه په اِراده ګناه کول کُفر دي.**"

بوقتِ نَزع سلامت رہے مرا ایماں مجھے نصیب ہو کلمہ ہے التجا یا ربّ
جو "مَدَنی کام" کریں دل لگا کے یا اللہ اِنہیں ہو خواب میں دیدارِ مصطفٰے یا ربّ
تری محبت اُتر جائے میری نَس نَس میں
پئے رضا ہو عطا عشقِ مصطَفٰے یا ربّ

لرې اِیمان مې سلامت په وخت د ځنکدن ته رانصیب کړې کَلِمه کرم اِلتِجا یا ربّ
څوك چه کوي په شوق مَدَني کارونه یا الله په خوب کښې شي دِ ورنصیب دیدارِ مُصطفٰی یا ربّ
زما په رګ رګ کښې دِ راشي مَحَبّت دا ستا راکړې په خاطِر د رضا، عِشقِ مُصطفٰی یا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

ګاونډي د ګناه نه د نه منع کولو وَبال

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ګاونډیانو ډیر زیات حقونه دي، د دې د پوره کولو د پاره مونږ ته هر وَخت کوشش کول پکار دي. ګاونډیانو ته د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شرکت او په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر کولو دعوت ورکولو کښې هم غفلت نه دي کول پکار او که هغوئ مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ په ګناهونو کښې اخته اُووِینئ نو د هغې نه ئې د منع کولو هم پوره کوشش کول پکار دي. حضرت سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما په تورات شریف کښې لوستلي دي چه د چا ګاونډي په نافرمانئ کښې اَخته وي او هغه ئې نه منع کوي نو هغه هم په دغه ګناه کښې شریك دي. (اَلزُّهد لِلاِمَام اَحمد ص۱۳٤ رقم ٥٢٧)

ګاونډي به د قیامت په ورځ دعوٰی کوي

ګاونډي ته د نیکۍ د دعوت ورکولو او د ګناهونو نه د بچ کولو اَهمیت ډیر زیات دې څنګه چه د دې راتلونکي رِوایت نه معلومیږي، چنانچه **حضرت** سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي:

www.dawateislami.net

مونږ دا خبره اوریدلي ده چه **د قیامت په ورځ** به یو کس د بل خِلاف **دعوٰی** کوي حالانکه هغه به هغه نه پیژني. **مُدّعیٰ علیه** (یعني په چا چه دعویٰ شوي وي هغه) به وائي: ستا په ما باندې څه حق دې؟ زه خو تا (صحیح) پیژنم هُم نه. مُدّعي (یعني دعویٰ کوونکې) به وائي: تا به زه په ګناه کولو لیدلم او نه به دِ منع کولم. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج۳ ص۱۸٦ حدیث۳۵٤٦)

بې لـمانځه ګاونډي ته د لـمانځه دعوت ورکوئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د بیان شوي دواړو رِوایتونو نه معلومه شوه چه **ګاونډیانو** ته هم ضرور د نیکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول پکار دي، ستاسو **ګاونډي** که بې لـمانځه وي نو هغه ته د لـمانځه دعوت ورکړئ، که هغه لـمونځ ګُزاره وي او په جَمعه کښې سُستي کوي نو هغه ته د جَمعې [سره د لـمانځه کولو] نصیحت کوئ ځکه چه که تاسو ته غالِب ګُمان وي چه که پوهه ئې کړئ نو د جَمعې سره به لـمونځ کول شروع کړي نو د هغه پوهه کول په تاسو **واجِب** شو که نه ئې پوهه کوئ نو ګنهګار به ئې چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو کتاب "*بهارِ شریعت جِلد اوّل*" صفحه ۵۸۲ کښې دي: په عاقِل، بالِغ، حُر (یعني آزاد)، قادِر (یعني قُدرت لرونکي) باندې جَمعه واجِب ده، بې عُذره یو ځل هم پریښودلو والا ګنهګار او د **سزا** مُستحِق دې او که ډیر ځل ئې پریږدي نو فاسِق مَردُودُالشَّهادة دې (یعني د هغه ګواهي د رد کولو قابله ده) او هغه ته به سخته **سزا** ورکولې شي، که ګاونډیانو ئې خاموشي اختیار کړه نو هغوئ هم ګنهګار شو. (دُرِّ مُختار و رَدُّالمُحتار ج۲ ص۳٤۰ غُنیه ص۵۰۸)

اِمام ته پکار دي چه د مُقتدي څارنه کوي

د **جُماتونو** د اِمامانو په خِدمت کښې مشورتاً عرض دې چه هغوئ دِ د خپلو مُقتدیانو څارَنه کوي چه په دوئ کښې څوك د جَمعې سره لـمونځ کوي او څوك نه، که کوم مُقتدي په یو لـمانځه کښې غیر حاضِر وي نو د هغه کور ته دِ ورځي یا دِ ورته فون کوي او د هغه خبر دِ اخلي، که

بیمار وي نو د هغه تپوس دِ کوي او که د سستئ په وجه نه وي راغلې نو **د نیکئ دعوت** دِ ورکوي او دا صِرف د اِمام صاحِبانو د پاره نه دي ټولو اِسلامي ورونړو ته دا انداز اختیارَوَل پکار دي.

فاروقِ اعظم د سحر په لـمانځه کښې د غیر حاضر کس معلومات وکړو

د **اَمیرُ المُؤمِنِین، اِمامُ الْعادِلِین، مُتَمِّمُ الْاَرْبَعِین**، حضرت سیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د لـمونځ ګُزارو د خبر اخستو یو رِوایت اُوکورئ او د دې مطابق د عمل کولو ذِهن جوړ کړئ چنانچه **اَمِیرُالمُؤمِنِین** فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د سحر په لـمانځه کښې حضرت سیِّدُنا سُلیمان بِن حَثمَه ونه لیدو. بازار ته ئې تشریف یوړو، په لاره کښې د سیِّدُنا **سُلیمان** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ کور وو د هغوئي د کور دروازې ته ئې تشریف یوړو او د هغوئي مور حضرتِ سیِّدَتُنا **شِفا** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته ئې اُوفرمائیل چه د سحر په لـمانځه کښې مې سُلیمان ونه لیدو! هغې اُووئیل چه: د شپې ئې لـمونځ کولو (یعني نفلونه ئې کول) بیا خوب ورغې، سَیِّدُنا **عُمَر فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل: چه د سحر لـمونځ د جَمعې سره وکړم دا زما په نِزد د دې نه غوره دي چه د شپې قِیام (یعني نفلونه) وکړم.
(موطا امام مالِك ج۱ ص۱۳٤ حدیث۳۰۰)

د اِجتِماعِ ذِکر و نَعت په وجه جَمعه پرېښودل نه دي پکار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! چه حضرت سَیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ [د هغوئي] کور ته تشریف یوړو او خبر ئې واخِستو، د دې رِوایت نه دا هم معلومه شوه چه ټوله شپه د نفلونو ادا کولو یا په اِجتِماعِ ذِکر و نَعت کښې د شپې ناوخته پورې د شِرکت کولو په وجه د سحر لـمونځ قضا کیدل خو پرېږدئ که د سحر جَمعه هم ځي نو لازِمه ده چه داسې مُستَحَبَّات دِ پرېږدي او آرام دِ وکړي او د سحر لـمونځ دِ دَ جَمعې سره وکړي.

د لـمانځه په وخت کښې د اُوده کیدلو والؤ د پاره د سر چقولو عذاب

کوم خلق چه د شپې د ناستې ټولګي او محفلونه جوړَوي او د سحر د لـمانځه نه مخکښې اوده کیږي او خپل ځان د لـمانځه نه محرومه کوي د هغوئي د پاره د فِکر مُقام دې. چنانچه سرکارِ مَدینهٔ مُنَوَّره صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته اُوفرمائیل: نن شپه دوه کسان (یعني

جِبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام او مِیکائیل عَلَیْہِ السَّلَام) ما له راغلل او زه ئې اَرضِ مُقَدَّسه ته راوستم. ما ولیدل چه **یو کس** ملاست دې او د هغه سر ته یو کس **کټ** [یعني غټ کانړې] اوچت کړې ولاړ دې او مسلسل په **کټ** د هغه سر چقوي، د هرې پیرې چقولو نه پس سر بیا روغ شي. ما فرښتو ته اُوفرمائیل: سُبْحٰنَ الله دا څوك دې؟ هغوئې عرض وکړو مخکښې تشریف یوسئ (د نورو منظرونو ښودلو نه پس) فرښتو عرض وکړو چه وړومبې کس چه تاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو **دا هغه وو چا چه قرآن وئیلې** [یعني حِفظ کړې] **وو بیا ئې پریښودې وو او د فرض لـمونځونو په وخت کښې به اوده کیدو، د ده سره به دا سلوك د قیامته پورې کیږي.** (مُلَخَّص از صحیح بُخاری ج٤ ص٤٢٥ حدیث٧٠٤٧)

میں پانچوں نَمازیں پڑھوں با جماعت ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی

چه د جَمعې سره کړم پینځه لـمونځونه توفیق داسې را ته راکړې یا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د فلمونو ۲۰۰۰ وي سي ډیانې ئې ماتې کړې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دَ لـمونځونو عادت جوړَوَلو د پاره، په سُنّتو د عمل کولو د پاره، د نیکو کولو د عادت جوړَوَلو د پاره او د ګناهونو د سپیره والي نه د خلاصي موندلو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تړون وکړئ، راځئ! چه ستاسو د ترغیب او تَحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلې** بیان کړم چنانچه د ایشیا د ټولو نه غټې کچه آبادئ **اورنګي ټاؤن** (بابُ المَدینه کراچئ) اوسیدونکي د یو اسلامي ورور د مکتوب [یعني خط] خُلاصه ده چه: د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زه د نیکو نه ډیر لرې د ګناهونو په دلدل کښې نښتې ووم، د نفس خواهِشات پوره کول لکه چه زما د ژوند مقصد ګرځیدلې وو. **فُحش** [یعني د بې حیائې نه ډك ګنده] **فِلمونه او ډرامې کتلو** سره سره د قِسم قِسم نورو ګناهونو په سپیره والي کښې اَخته ووم.زما د نیکو نه د ډیر زیات غفلت او فِلمونو او ډرامو سره د لیوَنتوب د حده پورې د **مَحَبّت** اندازه د دې خبرې نه لګیدې شي چه د کور نه به ما ته د میاشتې زر روپئ جیب خرچ راکول شو په هغې به مې د

www.dawateislami.net

نوو نوو فلمونو او ډرامو V.C.Ds (وي سي ډیانې) اخستې تر دې چه زما سره د دوو زرو (۲۰۰۰) نه زیاتې وي سي ډیانې جمع شوي وې! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زما په قِسمَت کښې نیك هِدایت لیکلې شوې وو د هغې سَبَب داسې جوړ شو چه یوه ورځ یو **عاشِقِ رسول** د شنې شنې عمامې تاج په سر کړې زما خوا ته تشریف راوړو او په **اِنفِرادي کوشش** کولو کښې ئې ما ته د فِکرِ آخِرت مُتَعَلِّق څه په داسې طریقه د نیکۍ دعوت راکړو چه **د الله تعالیٰ ویره زما په رګ رګ کښې خوره شوه،** [زما د زړه] د بدو عادتونو او د ګنده خیالونو عمارت اوړقیدو، د هغه عاشِقِ رسول د حُسنِ اخلاق او اِنفِرادي کوشش په بَرَکت زه د دعوتِ اسلامي په **هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع** کښې حاضِر شوم. هلته کیدونکي د سُنَّتو ډك بیان زما په ګناهونو کښې اَخته زړه بالکل بدل کړو او په آخِره کښې کیدونکي رِقَّت انګیزې [یعني ژړوونکي] دُعا مې په زړه داسې اثر وکړو چه کور ته راغلم نو ما د فِلمونو ټولې وي سي ډیانې ماتې کړې. د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره د تړون په بَرَکت ما د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري مَکتَبَةُالْمَدِیْنَه د سُنَّتو ډکو بیانونو کیستې راوړلې، پخپله مې هم واوریدلې او د کور کسانو ته مې هم د اوریدلو د پاره ورکړې، د هغې په بَرَکت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه ټوله کورنۍ په **مَدَني ماحول** کښې شامِله شوه او په قادِري رَضَوي سلسله کښې هم داخله شوه.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکو بندګانو شان

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سُنَّتو ډکې اجتِماع د بَرَکتونو به څه وائې! په دې کښې د عاشقانِ رسول صُحبتونه، نزدیکت او بَرَکتونه نصیب کیږي، په دوئي کښې ډیر د الله تعالیٰ مقبول بندګان وي چه هغوئي اګرچه پیژندلې نه شي خو د هغوئي په بَرَکتونو بیړۍ پوریوځي. عُلماء فرمائي: کوم ځائ چه ځلویښت صالِح (یعني نیك) مسلمانان جمع شي په هغوئي کښې یو وَلِیُّ الله ضرور وي. (فتاوٰی رَضَوِیّه ج۲۴ ص۱۸۴، تیسیر شرحِ جامِع صغِیر تَحتَ الحدیث۷۱۴ ج۱ ص۳۱۲) **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ډیر د ګډو وډو ویښتو، په دُوړو خړ بدن والا او د دوه زَړو ټوټو [یعني کپړو] والا داسې وي چه د هغوئي پرواه نه لره

www.dawateislami.net

شي که هغوئي د الله تعالیٰ قَسَم اُوخوري نو الله تعالیٰ د هغوئي قسم پوره کوي او براء بِن مالِك (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) د هُم هغه خلقو نه [یو] دي. (سُنَنِ تِرمِذی ج۵ ص۴۶۰ حدیث۳۸۸۰)

اپنے اچّھے اچّھے بندوں کے طفیل اے کبریا مجھ نکمّے اور بُرے بندے کو بھی اچّھا بنا

په خاطِر د خپلو نیکو بندګانو کِبریا ما ناکاره، بد بنده هم کړه نیك یا خُدا

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د حضرت براء بن مالِك د دُعا د قبولِیّت حِکایت

د ذِکر کړې شوي حَدِیثِ پاك راوي د سرکارِ مَدِینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې فرمانِ عالیشان په نتیجه کښې یو ایمان تازه کوونکې حِکایت بیان کړې دې، تاسو هم واورئ او ایمان تازه کړئ چنانچه راوي وائي: یو ځل مسلمانان او کُفّار د یو بل سره مخامخ شو نو کُفّارو مسلمانانو ته سخت نُقصان ورَسَوَلو. مسلمانان راجمع شو او براء بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته ئې گُزارش وکړو چه: اے براء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ! د خپل ربّ قَسَم ورکړئ او د فتح دُعا اُوغواړئ! هغوئي عرض وکړو: یا الله عَزَّوَجَلَّ زه تا ته ستا قَسَم درکووم او دُعا کووم چه مونږ ته په کُفّارو باندې غَلَبه راکړې او ما دَ خپل نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا ته ورسوې (یعني شهادت راکړې). فوراً دُعا قبوله شوه، مسلمانانو ته فتح نصیب شوه او هم په هغه جنګ کښې حضرت سَیِّدُنا براء بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ شهید شو. (اَلْمُستدرَك لِلحاکِم ج۴ ص۳۴۰ حدیث۵۳۲۵) د الله تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دنیا کی یہ شان ہے خدمتگاروں کی سرکار کا عالم کیا ہوگا!

که اُوغواړي نو بدل به کړي حالت، د دُنیا په اِشارو

د حضور شان به وي څنګه، دا ئې شان دې د خِدمت ګارو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

سندر غاړې مُحَدِّث څنګه جوړ شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه اَسلافو رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْهِم به چه څوك په ګناه کښې اَخته ولیدل نو د همدردئ نه په ډك زړه به د هغه د اِصلاح په کوشش کښې لګیا شو، په دې باره کښې د مشهور صحابي حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د اِنفِرادي کوشش یو **عجیبه حِکایت** واورئ او اُوګورئ چه هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یو سندرغاړې څنګه د خپل نظر په کرامت د خپل وخت عظیم مُحَدِّث او اِمام جوړ کړو! چنانچه یوه ورځ حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ کُوفې ته نزدې په یو ځائ تیریدَلو، د یو کور خوا ته **زاذان** نوم ئې یو مشهور سندرغاړي په ډیر زیات ښکلي آواز کښې سندره وئیله او څه لوفران خلق د شرابو په نشه کښې مَست د سازونو په آوازونو ګډیدل. حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل: څومره ښکلې آواز دې! که دا آواز د قُرآنِ کریم د قِراءت د پاره استعمالیدې نو ډیره ښه خبره به وه! دا ئې چه اُوفرمائیل نو خپل مبارك څادر ئې د هغه سندرغاړي په سر واچوَلو او تشریف ئې یوړو. **زاذان** د خلقو نه تپوس وکړو: دا صاحِب څوك وو؟ خلقو اُووئیل: دا مشهور صحابي حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وو. **زاذان** تپوس وکړو چه: هغوئي څه اُوفرمائیل؟ خلقو اُووئیل هغوئي اُوفرمائیل چه: څومره ښکلې آواز دې! که دا آواز د قُرآنِ کریم د قِراءت د پاره استعمالیدې نو ډیره ښه خبره به وه! دا ئې چه واوریدل نو د هغه زړه نرې شو او پاڅیدو او خپله **باجه** ئې زمکې ته راوِیشتله، باجه ټوټې ټوټې شوه، بیا په ژړا د حضرت سیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په خِدمت کښې حاضر شو، هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ هغه خپلې غاړې ته راټینګ کړو او پخپله هم په ژړا شو، بیا هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائیل: چا چه د **الله** تعالٰی سره مَحَبّت وکړو زه د هغه سره ولې مَحَبّت ونکړم! **زاذان** د سندرو او سازونو نه توبه وکړه او د حضرت سیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ صُحبَت ئې اختیار کړو او د قرآنِ پاك تعلیم ئې حاصل کړو او په عُلومِ اِسلامیه کښې ئې داسې کمال حاصِل کړو چه ډیر غټ **اِمام** جوړ شو. (مِرقاةُ المَفاتیح ج٤ ص٧٠٠ تحت الحَدیث ٢١٩٩، غُنیةُ الطّالِبین ج١ ص٢٦٣)

د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نگاہِ صحابی میں وہ تاثیر دیکھی بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

په نظر دَ صحابي کښې مې لیدلې دا تاثِیر چه بدل ئې د زرګاؤ کړو تقدِیر

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! د **الله** تعالیٰ د رَسُول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نظر په یو بې تعلیمه سندر غاړي پریوتو نو هغه ئې د اِمامَت درجې ته ورسولو! چه د صحابه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم د نظر داسې اثر دې نو د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر به څنګه اثر وي!

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دنیا کی
یہ شان ہے خدمتگاروں کی سرکار کا عالم کیا ہوگا!

که اُوغواړي نو بدل به کړي حالت، د دُنیا په اِشارو
د حضور به څنګه شان وي، دا ئې شان دې د خِدمت ګارو

او د دې ایمان تازه کوونکي حِکایت نه دا هم معلومه شوه چه سندرې او سازونه ډېر خراب څیزونه دي که دا ښه څیزونه وې نو حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به په **زاذان** باندې د "کراماتي اِنفِرادي کوشش" په ځائ د هغه حوصله افزائي کړي وه. **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ

د سندرو په غندنه مُشتمِل څلور رِوایات

د نیکئ د دعوت د ثواب ګټلو په نِیَّت د سازونو په غندنه کښې راغلي یو څو **مَدَني ګلونه** وړاندې کووم، د دې نه به نیك بخته دا پوهه واخلي چه هیڅ کله هم دا د رُوح خوراك نه دې بلکه په دې رُوحانیّت تباه کیږي: (۱) په دوو آوازونو دِ په دُنیا او آخِرت کښې لعنت وي (۱) د نِعمَت [موندلو] په وخت کښې باجه (۲) د مُصیبت په وخت کښې چغې وهل. (اَلْکَامِل فِی ضُعَفَاءِ الرِّجَال لِابنِ عَدِی ج۷ص۲۹۹) (۲) حضرت علّامه جلالُ الدِّین سُیُّوطی شافِعی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي چه: د سندرو او سازونو نه ځان وساتئ ځکه چه دا شهوت راپاروي او غیرت بربادوي او دا د شرابو قائِم مقام دي، په دې کښې د نشې په شان تاثیر دې. (تفسِیر دُرِّ منثُور ج۶ ص۵۰۶. شُعَبُ الاِیمان ج۴ ص۲۸۰ حدیث ۵۱۰۸) (۳) څوك چه د سندرغاړې خوا ته کښیني، غوږ ورته کیږدي او په غور سره ئې واوري نو **الله** تعالیٰ به د قیامَت په ورځ د هغه په

www.dawateislami.net

غوږونو کښې [ویلي کړي] سِیکه اړَوِي. (ابنِ عساکِر ج۵۱ ص۲۶۳) (٤) سندره او لَهْوْ [یعني لوبې، بازئ] په زړه کښې داسې نِفاق رازَرغونَوي څنګه چه اوبه شنه [یعني شینکئ] رازَرغُونَوي. قَسم دې په هغه ذاتِ مُقَدَّسه د چا په قبضۀ قُدرت کښې چه زما ساه ده! بیشکه قُرآن او **ذِکرُ الله** ضرور په زړه کښې داسې ایمان رازرغونَوي څنګه چه اوبه شنه ګیا رازرغونَوي. (اَلفِردَوس بِماثور الْخطّاب ج۳ ص۱۱۵ حدیث۴۳۱۹)

د سندرو د شوقي عبرتناك انجام

افسوس! په کروړونو افسوس! نن صبا سَندرې او سازونه د اکثرو مسلمانانو زړونو ته کوز شوي دي، تقریباً په هر هر ځیز سندرې او سازونه مُسَلّط دي. که موټر وي او که هوائي جهاز، که ټرك وي او که بس، که ټیکسي وي او که سوزوکې، که خرګاډې وي او که ریړه، که کور وي او که دُکان، که کارخانه وي او که ګودام، که هوټل وي او که د پان کیبن، که د دهوبي دُکان وي او که د نائي دُکان، تقریباً هر ځائ د سندرو او باجو آوازونه اوریدې شي. [نن صبا] چه ماشوم پیدا کیږي نو د سندرو او سازونو په سُرونو کښې سترګې غَړوي، د ماشوم عاجز د ځانګو د پاسه کِهلونه [د لوبو ځیز] رازوړند کړي او هغه ورته سندرې او سازونه اورَوي، او په هغې ئې اُوده کوي، (شاید هم دا وجه ده چه ډیر بدنصیبه خپل خلق سر ته سندرې غږَوي نو هله خوب ورځي) د لوبو په ځیزونو کښې که ګُوډئ وي او که مَیلُو، که ریل ګاډې وي او که هوائي جهاز وي، په ټولو کښې سندرې او سازونه وي تر دې چه د ماشوم پیزار هم سازونه غږَوي! بیا دا ماشوم که ژوندې پاتې شي او غټ شي نو څنګه به د سندرو او سازونو نه بچ پاتې شي؟ راځئ چه د یو "غټ ماشوم" عِبرتناکه قِصّه واورو: په مَدَني چینل باندې د "موسِیقي" [یعني سندرو او سازونو] په عُنوان باندې کیدونکي "مُکالمَه" کښې سکِ مدینه واوریدل چه د هِند نه راغلي یو مَیل [الیکټرونِك خط] کښې لیکلي شوي دي چه یو ځلمي په غوږونو کښې اِئرفون (EAR PHONE) لګولې د سازونو او سندرو په آوازونو اوریدو او وئیلو کښې مَست روان وو، هغه په دې هوش کښې هم نه وو چه زه چرته روان یم! په روانه روانه د ریل ګاډي په پټرئ ورغې، یو دَم ریل ګاډې راغې او هغه ئې وچقوو او تیر شو.

www.dawateislami.net

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے　　مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ وبُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے　　جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په جهان کښې هر طرف ته نمونې دي د عبرت　　خو ته ړوند کړې د دنيا فاني دولت
محلونه چه پخوا وو کوم آباد　　غور وکړه ټول پراته دي اوس برباد
دا دنيا د زړه لګولو ځائ نه دې　　ځائ د عِبرت دې د تماشو ځائ نه دې

دَ مړو ډيرِي

د دنيائے اسلام مشهور او معروف حَنَفي بُزرگ، عارِف **بِاللّٰه**، حضرت سَيِّدُنا داتا علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه منقول د يو رِوايت خلاصه ده چه: **الله**تعالٰی حضرت سَيِّدُنا **داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام ته بيحده خوندور آواز ورکړې وو، د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام په خوش اِلحانئ [يعني خوندور آواز] به غرونه په وجد [يعني جذبه] کښې راتلل، مرغئ به اَلوَتو اَلوَتو کښې ښکته راپريوتې، ځاروو او سړې خورو ځناورو به چه د هغوئ آواز واوريدو نو د ځنګلو نه به بهر ته را اُووَتل، وَنې به يو خوا بل خوا تاويدې، روانې اوبه به په ځائ وديدې، ځنګلي ځناورو به د يوې يوې مياشتې پورې خوراك څښاك پرينبودو، وړو ماشومانو به ژړا او پئ غوښتل پرينبودل، د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام د ژړوونکي آواز په اثر به کله کله د انسانانو روحونه اُووَتل. يو ځل د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام په آواز اوريدو ۱۰۰ زنانه وفات شوې. **شيطان** د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام د **نيکئ د دعوت** په دې انداز ډير خفه وو. آخر دا چه شيطان يوه شپيلئ او سيتار جوړ کړل او ښه ئې وغږوَل. بيا خلق په دوو ډَلو کښې تقسيم شو، څوك چه نيك بخته وو هغوئ د حضرت سيِّدُنا **داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام د آواز عاشقان شو او څوك چه گُمراه وو هغوئ د شيطان د سازونو او سندرو شوقيان شو. (کَشف الْمَحجُوب ص٤٥٧ بِتَغَيُّر) واقعي سندره د شيطان ايجاد دې ځنګه چه د "تفسِيراتِ احمدِيّه" د دې رِوايت نه هم د دې تائِيد کيږي چه سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "شيطان د ټولو نه مخکښې نَوحه [يعني په مړي پسې په چغو چغو ژړا خپلې جامې او وينښته شلول او د دروغو ستائِنې کول] وکړه او سندره ئې اُووئيله." (تفسِيراتِ احمدِيّه ص٦٠١، الفِردَوس بماثور الْخطَاب ج١ ص٢٧ حديث٤٢)

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه د سندرو او سازونو ا اد کوونکې شیطان ملعُون دې او سندرې او سازونه غَبَرَوَل او نورو ته اَورَوَل د شیطان په نقشِ قدم تلَل دي او مسلمانان د شیطان په نقشِ قدم د تلَلو نه منع کړې شوي دي، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَةُالمَدِیْنَه چاپ شوي ترجَمې والا پاکِیزه قُرآن "کنزُالاِیمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان" صفحه ٦٩ پاره ٢ سُوْرَةُالبَقَرہ آیت ٢٠٨ کښې **اللّٰه** تعالٰی اِرشاد فرمائي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِی السِّلْمِ كَآفَّةً ۪ وَ لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّیْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۲۰۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! په اِسلام کښې پوره داخِل شئ او د شیطان په پَـل [یعني په لار] مه ځئ بیشکه هغه ستاسو ښکاره دُښمن دې.

فلم بیں کی آنکھ میں محشر میں آگ　　آہ! بھر جائے گی تُو فلموں سے بھاگ
بینڈ باجوں سے تُو کوسوں دور بھاگ　　ورنہ دوزخ کی تجھے کھائے گی آگ
کر لے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی
قبر میں و ر نہ سزا ہوگی کڑی　　(وسائلِ بخشش ص٦٦٧،٦٦٩)

د فلم بِین په سترګو کښې په محشر کښې اور　　بس کړه مه ګوره ته فِلمونه نور
توبه کړه ته نوره له سندرو او سازونو　　ګنې سوزې به د دوزخ په سخت اورونو
وکړه توبه لوئ دې د الله رحمت　　ګنې قبر کښې به پیښ شي درته لوئ زَحمت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آیا موسیقي واقعي د رُوح غِذا ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د مُختلفو رِوایاتو او حِکایاتو نه معلومه شوه چه سندرې او سازونه بالکل د رُوح خوراك نه دي بلکه په دې روحانیّت تباه کیږي. د رُوح غِذا خو ذِکْرُالله دې څنګه چه په پاره ١٣ سُورَةُالرَّعْد آیت ٢٨ کښې ارشاد کیږي:

اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىٕنُّ الْقُلُوْبُ ﴿۲۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: واورئ یواځې د **الله** په یاد کښې د زړونو سکون دې.

www.dawateislami.net

د رُوح غذا لـمونځ دې او دا هم ذِکر دې چنانچه پاره ١٦ سُوْرَۂطٰهٰ آیت ١٤ کښې د خدائے رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ فرمان دې:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِیْ ﴿۱۴﴾ مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او زما د یاد لپاره لـمونځ قائِم ساته.

سندرې او سازونه دا خو روح تباه کوي، د لـمونځونو او عبادتونو خوندونه بربادوي، شرم او حیا بربادوي، مسلمانانې ښځې بې پردګئ ته راپارَوي، یقیناً دې ته د روح غذا وئیل شیطاني او سازشي نعره ده. نن صبا سندرې وئیونکو او سازونه غَبَرِوونکو او ګډېدونکو او نقلونه او نخرې کوونکو ته نادانو مسلمانانو د عِزّت مقام ورکړې دې او دوئي ته د فنکار، موسیقار، ګلوکار، پاپ سِنګر او د کامیډیَن وغیره نومونه ورکړې شوي دي حالانکه دوئي ته په اَصل کښې ډَمان وائي، نن صبا بې باکه خلق چه چا ته کامیډیَن وائي د دوئي اَصل نوم نقلي او مَسخره دې!

د ګلوکارانو او کامیډیَنو په خِدمت کښې مَدَني عرض

د ټولو مسلمانانو ګلوکارانو [یعني سندر غاړو] او کامیډیَنو [یعني نقلیانو] په خِدمت کښې ډېر زیات د درد نه ډك عرض کووم چه د دې حرامو او جهنّم ته بوتلونکو کارونو نه په رښتینې توبه وکړئ. که په دې کارونو مو څه ګټلي وي نو یاد ساتئ! دا حرامه روزي ده، تاسو به صرف هغه همره خورئ څومره مو چه خیټه ده، هغه همره به اغوندئ څومره مو چه بدن دې باقي به د کور خلق استعمالوي او په آخرت کښې به جواب تاسو ورکوئ. زړه غټ کړئ او د سندرو او سازونو یا کامیډي [نقلونو] کولو په وجه چه درته د چا، چا نه کوم کوم رقم په لاس درغلې دې هغه ټول بیرته ورکړئ، که هغوئي نه وي نو د هغوئي وارِثانو ته ئې ورکړئ، چه څوك ورك شوي وي یا درته د چا یاد نه وي د هغوئي رقمونه یو فقیرِ شرعي ته ورکړئ. اګرچه داسې کول د نفس د پاره ډېر ګران دي خو دا ولې هیروئ چه په هر حال کښې مرګ شته او قبر ته کوزیدل او د خپلو اعمالو بدله ورکول شته، که په حرامه ذریعه ګټلي رقمونه مو بیرته ورنکړل او د دې نه په قبر کښې ماران او لړمان جوړ شو او درنه راتاؤ شو نو څه به کوئ.

www.dawateislami.net

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی (وسائلِ بخشش ص۶۶۷)

وکړه توبه لوئ دې د الله رحمت ګنې قبر کښې به پیښ شي درته لوئ زَحمت

(د تفصِیلي معلوماتو حاصلولو د پاره بیاناتِ عطّارِیّه حصّه اوّل کښې شامِله رِساله "گانے باجے کی تباہ کاریاں" او حِصّه دوم کښې "گانوں کے ۳۵ کُفریہ اشعار" ولولئ)

د ډانس ډائِریکټر توبه

د **کورنګئ** (بابُ المَدینه کراچئ) د اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: غالِباً د ۱۹۹۲ء خبره ده، مونږ به په هغه ورځو کښې په ګُلستانِ جوهر (بابُ المَدینه) کښې اوسیدو. په وړوکي عُمر کښې په T.V باندې د فلمونو او ډرامو کتلو سپیره شوق زه د **گدا** شوقِین جوړ کړم تر دې چه ما د گدا په مقابلو کښې حصّه هم واغسته او انعامونه مې هم حاصل کړل. چه کله زما تصویرونه په اخبارونو کښې چاپ شو نو خاندان والۍ راته ډیر شاباشې راکړو، زه ډیر خوشحاله شوم او د گدا زده کولو په اِکیډمي کښې مې داخله واغسته او په دې **سه یره فن** کښې دومره ماهِر شوم چه "د گدا ډائریکټر" (یعني د گدا ښودلو والا) جوړ شوم. ما د فرانس، تهائي لینډ وغیره سفر وکړو او د هِند نه مې "کلاسِیکل کَتَهك ډانس" هم زده کړو. اوس زه داسې مقام ته رسیدلې ووم چه مشهورو اداکارو [ښځو] او اداکارانو [نارینَو] به زما نه گدا زده کوله. د دې بې حیائې په ماحول کښې ما له داسې جینکئ هم راغلې چه هغوئ د ښې گدا زده کولو په لالچ کښې "هر څه" کولو ته تیارې وې.

زما د دُرُود و سلام سره محبّت وو

هم په دې دوران کښې زما مور هم په **حق** ورسیده خو زما سترګې ونه غړیدې. خو د مور د هِدایت په وجه مې د درودِ پاك سره مَحَبّت وو. غالِباً اپریل ۲۰۰۵ء کښې زه د گدا د یو پروګرام په سلسله کښې مرکزُ الاولیاء لاهور ته تلې ووم، د **حضور داتا گنج بخش** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مزارِ پُرانوار په خوا چه تیریدم نو **درودِ پاك** مې ولوستو او هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته مې ایصالِ ثواب کړو.

www.dawateislami.net

مرحوم مور او پلار نه مې اور چاپېره وو

په ګډا ګډا چه سترې شوم او اُوده شوم نو په خوب کښې څه وینم چه زما مرحوم مور او پلار **لمبې** وهونکي اور کښې ګېر دي او ما ته په چغو چغو داسې وائي چه: "مونږه ستا په اسلامي تربیّت کولو کښې سُستي کړې وه، هائے زمونږه خرابي! ته ډانسر [یعني ګډېدونکې] او شرابي جوړ شوې! اوس ستا په وجه مونږه په اور کښې سوزیګو، ته توبه وکړه چه ته هم د عذاب نه بچ شې او مونږه هم د عذاب نه خلاص شو." زه په خوب کښې په ژړا شوم او سترګې مې وغړېدې او بیا مې د ډېر ساعته پورې ژړل.

په داتا دربار کښې راباندې لوئ کرم وشو

بیا زه د **حُضور داتا ګنج بخش** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مزارِ پُرانوار ته حاضر شوم، د قدمونو طرف ته کښېناستم او په ژړا ژړا مې داتا صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته داسې فریاد وکړو: "**یا داتا!** اوس تاسو زما کار سم کړئ!" په دې کښې چا زما په اُوګه باندې لاس کیښودو، چه سر مې راپورته کړو نو یو صاحِب وو او سپینې جامې اغوستې وې او شنه عمامه ئې په سر کړې وه او هغه ډېر د مهربانئ په انداز کښې ما ته اُوفرمائیل: بچیه! د مرګ وخت نه دې معلوم، زر زر د ګناهونو نه توبه وکړه. ما ترې تپوس وکړو: زه چرته لاړ شم؟ هغوئ مُسکې شو او وئې فرمائیل: "بابُ المَدینه کراچئ ته راشه." دا ئې چه اُووئیل نو یو دَم هغه زما د سترګو نه غائِب شو! او دا واقعه زما سره په وِینښه پیښه شوه.

چه کله ما په مَدَني قافِله کښې سفر وکړو.....

زه بابُ المَدینه کراچئ ته را ورسیدم او د یو مُبلِّغ دعوتِ اسلامي سره مې ملاقات وشو، د هغوئ په اِنفِرادي کوشش ما د سُنّتو د تربیّت په **مدني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر وکړو. چه کله اَمیرِ قافله د ښودنې او زده کولو په حلقه کښې **د غُسل طریقه** اوښودله نو د ډېرې پریشانئ نه زما زړه حلق ته راپورته شو چه **یا خدایا!** زه خو د ناپاکئ په حالت کښې یم،

فوراً د جُمات نه اُووَتلم او هم په هغه وخت مې غسل وکړو. په مَدني قافله کښې د ښودلـي شوي طریقې مطابق ما د شپې صلوٰةُالتَّوبه ادا کړو او اُوده شوم.

ایمان تازه کوونکې خوب مې ولیدو

ما په خوب کښې ولیده چه مور مرحومه مې د سپوږمئ په شان پړقیدلې مخ نیولې په **مسجدُالنَّبَوِيّ الشَّریف** عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام کښې لـمونځ ادا کوي، د سلام ګرځولو نه پس هغې زه خپلې غاړې ته راټینګ کړم. زه په ژړا شوم، مور مې اُووئیل چه: زه اوس ډیره خوشحاله یم، راځه چه لـمونځ وکړو، چه فارِغه شو نو ما د والِد صاحِب په باره کښې تپوس وکړو، هغې یو طرف ته اشاره وکړه، زه هغه طرف ته روان شوم، تلَم تلَم یو ډیر لوئ میدان ته ورسیدم، د هغې په مینځ کښې د شیشې یوه کوټه وه او ډیرو خلقو ورته د ننوتلو ناکامه کوشش کولو، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زه په ډیره آسانئ ورداخِل شوم، هلته **پینځه بُزرګان** وو، یو بُزرګ چه په مینځ کښې لږ په اوچت ځائ تشریف فرما وو، د هغوئي په مخ باندې دومره نُور وو چه سترګې پرې نه ټینګیدلـي. ما د هغه بُزرګانو نه تپوس وکړو چه زما پلار چرته دې؟ یو بُزرګ د کوټې شا ته اشاره وکړه. هلته چه لاړم نو والِد صاحِب مې په تِیارو کښې ناست وو او ډیر زیات ئې ژړل. ما ترې د ژړا په باره کښې تپوس وکړو نو جواب ئې راکړو: ټول خلق دې بُزرګانو ته تحفې وړاندې کوي خو زه څه ورکړم، ته ما ته هډو څه رالیږې نه! ناڅاپه د نُور یو تالې زما په لاس راغلو، ما هغه والد مرحوم ته ورکړو، والِد صاحِب زه د ځان سره کړم او کوټې ته ورغلو او د نوراني مخ والا بُزرګ په خِدمت کښې ئې هغه تالې پیش کړو. بیا مونږ د هغه ځائ نه بهر اُووَتلو، **هغه وخت زما په زړه کښې خیال راغې چه دا د نوراني مخ والا بُزرګ زما د نُور والا آقا مُحمّدِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **وو.** بیا زما سترګې وغړیدې او زما د بدن نه خوشبو راتله. دا اِیمان تازه کوونکې خوب لیدلو نه پس مې د ټولو ګناهونو نه په رښتیا پخه توبه وکړه او د امیرِ قافِله په لاس مې **د شنې شنې عمامې تاج په سر کړو او د ګیرې پرېښودلو نِیَّت مې هم وکړو.**

د وسپنې سیخ ئې زما د مټ نه اخوا ویستلو!

په مَدَني قافله کښې د سفر کولو نه مخکښې ما د یوې میډم [یعني زنانه] د پاره کار کولو هغه د ډانس شو ډیره غټه آرګنائزره (یعني انتظام کوونکي) وه، هغې ما ته د قیام و طعام او سورلئ وغیره ډیر سهولتونه راکړي وو، هغه چه خبره شوه نو زما کور ته راغله او ما ته ئې ډیر بد رد اُووئیل او زما عمامه ئې زما د سر نه غوزاره کړه! چه زه د هغې په رُعب کښې رانغلم نو په دویم ځل هغې د ځان سره بدمعاشان راوستل، هغوئي زه ډیر زیات اووهلم تر دې چه د اوسپنې یو سیخ ئې زما د مټ نه بل خوا ته ویستلو او زه ئې سخت زخمي کړم، زه د ځان بچ کولو د پاره د هغه ځائ نه وتښتیدم او د یو اسلامي ورور کره مې پناه واغسته، هغوئي زما د علاج کولو سره سره زما سره نور هم ډیر تعاون وکړو. **الله** تعالیٰ دِ هغوئي ته جزائے خیر ورکړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ما په مَدَني مرکز کښې مختلف کورسونه وکړل

څه ورځې پس ما د **دعوتِ اسلامي** په عالَمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه بابُ المَدینه کراچئ کښې د ٦٣ ورځو د **مَدَني تربِیّتي کورس** او د ٤١ ورځو **مدني قافله کورس** کولو سعادت حاصل کړو. بیا ما په **اِمامَت کورس** کښې هم داخِله واغسته، یو څو ورځې پس مې د دولسو میاشتو په مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره ځان پیش کړو.

زما د پینټ شرټ والا ماډرن ښځه

زما اکثر خاندان په انګلینډ کښې اوسیدو، **مَدَني ماحول** ته د راتلو نه مخکښې د خپل خاندان یوې پینټ شرټ والا ډیرې زیاتې ماډرن جینئ سره زما نکاح شوې وه، چه کله هغه زما د **توبه** کولو نه خبره شوه نو ډیره خفه شوه او د ګیرې خرئیلو مطالبه ئې وکړه، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ زه په خپله توبه قائم ووم، په دې وجه هغې زما نه د کورټ په ذریعه طلاق واغستو. د دې قِصّې په وجه زما خپلې خویندې او زما خپل ورونړه زما نه خفه شو. مور او پلار خو مې مخکښې د دنیا نه تلي وو

دغسې زه یواځې پاتې شوم. اوس دعوتِ اسلامي والا زما خپلوان او هر څه وو، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ اسلامي ورونړو راته دومره محبّت راکړو چه د کور د کسانو د جُدائي غم مې هیر شو.

په مَدَني مرکز کښې مې اعتِکاف وکړو نو په روزګار ولګیدم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په رَمَضَانُ الْمُبَارَك (١٤٢٦هـ ٢٠٠٥ء) کښې راته په عالَمي مَدَني مرکز **فیضانِ مدینه** کښې کیدونکي اجتماعي اعتِکاف کښې د شرکت کولو سعادت نصیب شو، یوه ورځ په بیان کښې مُبلّغ دعوتِ اسلامي زما په باره کښې مَدَني سپرلې واورَوَلو نو د یو اسلامي ورور زما سره همدردي پیدا شوه او هغوئي زه د وړوکي اختر نه تقریباً یوه هفته پس په سِتِي ګورنمنټ کښې په نوکرۍ ولګولم، بیا زما په مَدَني ماحول کښې واده هم وشو، اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دې لیك په وخت کښې زه په ډویژن سطح باندې د "مجلِس ډاکټر" او "مجلِس کهیل" د رُکن په طور خپل د سُنَّتو ډك تحریك، **"دعوتِ اسلامي"** د ترقۍ د پاره په کوشش کښې یم .اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی هم په دې روان کال (یعني ٢٠١١ء کښې) مې بیا د دولسو میاشتو په **مَدَني قافِله** کښې د سفر کولو پوخ نِیَّت دې.

د مَدَني سپرلې په ذریعه مَدَني سپرلې

زما دا مَدَني سپرلې د دُنیا په واحِد حقیقي اسلامي چینل **"مَدَني چینل"** باندې هم اُوښودلې او واوریدلې شو نو ما ته د حیدرآباد د یو اسلامي ورور فون راغې چه دلته یو بدمذهبه کس چه ستاسو **مَدَني سپرلې** وکتلو نو ډیر زیات مُتَاَثِّره شوې دې او تاسو سره ملاقات کول غواړي، که تاسو ئې پوهه کړئ نو اُمّید دې چه هغه به توبه وکړي، زه د **اِنفِرادي کوشش** په نِیَّت حیدرآباد ته ورسیدم،اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغه بدمذهبه پخپله هم د بدو عقیدو نه توبه وکړه او د هغه د کور اکثرو کسانو هم توبه وکړه او د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامل شو او د سرکارِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مُریدان جوړ شو. **الله** تعالٰی دِ ما ته او زما کورنۍ ته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې استِقامَت راکړي. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

گر پڑ کے یہاں پہنچا، مر مر کے اسے پایا چھوٹے نہ الٰہی ! اب سنگِ درِ جانانہ (سامانِ بخشش ص۱۵۳)

په ارمانونو، ډېرو سختو یم راغلې دلته خدایا جُدا مې نه کړې ته اوس د حضور د دره

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د دې ذِکر شوي مَدَني سپرلي مُتَعَلِّق مَدَني ګلونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې "مَدَني سپرلي" نه مونږ ته بیشمیره **مَدَني ګلونه** په لاس راغلل. مَثَلًا (۱) په کور کښې که په تې وي باندې فلمونه او ډرامې او سندرې او سازونه چلیږي نو د خپله لاسه د خپل اولاد کردار تباه کول دي، څنګه چه دا ماشوم په فلمونو کتلو کتلو "د ګدا ډائریکټر" جوړ شو. (۲) د **دُرُود شریف** سره مَحَبّت هم د ګناهونو ډك ژوند نه د خلاصي سبب جوړیږي څنګه چه د دې سابِقه ډانس ډائریکټر سبب جوړ شو (۳) بُزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ الْمُبِین ته اِیصالِ ثواب کول د هِدایت ذریعه جوړیدې شي څنګه چه دې کس دُرُود شریف ولوستو او **حُضور داتا صاحِب** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته ئې **اِیصالِ ثواب** کړو نو د هِدایت لارې جوړیدل ئې شروع شوې (٤) د اولاد اسلامي تربِیَّت نه کول او د قدرت لرلو باوجود هغوئې د ګناهونو نه نه منع کول هم د عذاب باعِث جوړیږي څنګه چه دې کس خپل وفات شوي مور او پلار په خوب کښې په اور کښې ګرفتار ولیدل او مور او پلار د خپل عذاب سَبَب د خپل ځوئ ډانسر او شرابي کیدل اوښودل. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په اَته وِیشتمه سیپاره، سُورَةُ التَّحرِیم آیت نمبر ٦ کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ (پ۲۸، تحریم: ٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ چه د هغې خشاك انسانان او کانړي دي.

د کور کسان د دوزخ نه څنګه بچ کړو؟

د دې آیتِ کریمه نه لاندې په خزائِنُ الْعِرفان کښې دي، د **الله** تعالٰی او د هغه د رسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمانبرداریٔ اختیارَوَلو، په عبادتونو کولو، د ګناهونو نه په بچ کیدو، د کور کسانو ته د نیکئ په هدایت کولو او د بدئ نه د منع کولو او هغوئې ته د ادب ښودلو په ذریعه (خپل ځانونه او د کور کسان د جهنّم د اور نه بچ کړئ) (۵) چه اولاد د ګناهونو نه توبه وکړي نو وفات شوي مور او پلار

www.dawateislami.net

ته د هغې بَرَکتونه رسېږي څنګه چه د دې مَدَني سپرلي والا کس خپل مور او پلار په خوب کښې په عذاب کښې ولیدل او چه کله ئې **توبه** وکړه نو هم هغه مور او پلار ورته په خوب کښې په ښه حالت کښې اُوښودلې شو. لِهٰذا ګناه کوونکي اولاد ته ځکه هم توبه کول پکار دي چه د هغه وفات شوي مور او پلار په قبر کښې خفه نه شي، په دې باره کښې یو رِوایت واورئ چنانچه د **الله** تعالیٰ د **مَحبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: "د ګُل او پنج شنبې په ورځ اعمال د **الله** (تعالیٰ) په بارګاه کښې پیش کول کیږي او د جُمعې په ورځ د انبیائے کرام (عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) او د آباؤ او اُمَّهَاتو (یعني پلارونو او میندو) په وړاندې پیش کول کیږي هغوئي د دوئي په نیکو لیدلو خوشحالیږي او د هغوئي د مخونو په سپین والي اَو ځَلیدو کښې اِضافه کیږي پس تاسو د **الله** تعالیٰ نه وَیَریږئ او خپلو مړو ته تکلیف مه رَسَوئ. (نوادرُ الاصول ج۱ ص۶۷۱ حدیث۹۲۵)

مرحوم مور او پلار ته د اولاد د اعمالو پیشي

د ځوئ اعمال والِد مرحوم ته د پیش کولو په باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۴۱۳ صفحو کتاب "**عُیونُ الحِکایات جلد۲**" صفحه ۳۴۳ کښې ورکړې شوې یو **ایمان تازه کوونکې حِکایت** د یو څو الفاظو د بدلون سره وړاندې کیږي چنانچه حضرت سَیِّدُنا صَدَقه بن سُلَیمَان جَعفَري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: زما د ځوانئ د شروع شپې او ورځې وې او زه په بدو عادتونو او د دنیا په رنګینو کښې مشغول ووم، خو چه کله زما والِد صاحِب وفات شو نو زما زړه ګُزار وخوړو، ما په خپلو تِیرو ګناهونو پښیماني راوړه او د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې مې **توبه** وکړه او نیکو اعمالو ته مې مخه کړه. د نفس په بدقسمتئ یوه ورځ بیا په څه غلط کار کښې اخته شوم نو هم په هغه شپه والِد مرحوم په خوب کښې راغلو او وئې فرمائیل چه: "زما ځویه! ستا اعمال چه ما ته پیش کړې شي نو زه ډیر خوشحاله شم ځکه چه هغه د نیکو خلقو د اعمالو په شان وي خو دا پیره چه ستا اعمال ما ته پیش کړې شو نو زه ډیر شرمِنده شوم. د خُدائے د پاره ما د خپلو وفات شوو دوستانو په مخکښې مه رُسوا کوه." بس د دې خوب نه پس زما په ژوند کښې انقلاب راغې، زه وَیَریدم او په توبه باندې مې اِستِقامَت اختیار کړو. د دې حِکایت راوي وائي: د

www.dawateislami.net

تَهَجُّد په لـمانځه کښې به مونږه د حضرت سَیِّدُنا صَدَقه بن سُلیمان جَعفَري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه داسې مُناجات [یعني دُعاګانې] اوریدلې: اے د صالِحِینو اِصلاح کولو والا! اے بې لارې شوي په سَمه لار باندې روانولو والا! اے په ګنهګارو باندې رحم کولو والا! زه ستا نه د داسې توبې سوال کووم چه د هغې نه پس کله هم د ګناه طرف ته لاړ نه شم، چه کله د بدئ او ظلم طرف ته ونه ګورَم، اے خالِق او مالکه ما ته **د رښتینې توبه** کولو توفیق راکړې. (عُیُونُ الحِکایات ص۴۰۱)

نفس و شیطان ہوگئے غالب ان کے چُنگل سے تُو چھڑا یا ربّ
کر کے توبہ میں پھر گناہوں میں ہو ہی جاتا ہوں مبتلا یا ربّ
نیم جاں کر دیا گناہوں نے
مرضِ عصیاں سے دے شفا یا ربّ

نفس او شیطان شو راغالب په ماد دوئي د قید نه خلاصې را یا ربّ
وکړم توبه په ګناهونو کښې بیا زه اخته کیږم زما مولٰی یا ربّ
وخوړم زه خپلو سیاه کارو مرضِ عِصیاں نه را شِفا یا ربّ

ګدا ته جائِز وئیل څنګه دي

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۶۹۲ صفحو کتاب **"کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب"** صفحه ۴۳ او ۴۰۴ نه یو ډیر زیات فائِده مند سوال جواب اُوګورئ:

سُوال: مُرَوّجه [یعني د نن صبا] ګدا ته جائز وئیل څنګه دي؟ **جواب:** فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام فرمائي: څوك چه رقص [یعني ګدا] کول جائز وګڼري په هغه باندې حُکم د کُفر دې. (دُرِّمُختار ج۶ ص۳۹۶) دلته د **رقص** نه مُراد د لاسو ښپو اخوا دیخوا تاوهلو او ښکته پورته کیدو سره هغه ګدا ده کومه چه شرعاً **ناجائزه** ده. د [الله و رسول د] عِشقِ حقیقي په وجه په بې خودئ کښې تاویدل، په وجد کښې راتلل یا تواجُد یعني د عاشقانِ خُدا و رسول د وجدِ صادق مخلِصانه نقل کول **مَعاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ کُفر نه دې بلکه عین سعادت دې.

مجھے ناچ گانے سے نفرت عطا ہو
مری مغفرت بے حساب اے خدا ہو

www.dawateislami.net

نفرت د سندرو او ګډا نه ما ته راکړې بخښنه بې حِسابه اے خدایا ته زما کړې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د نیکئ دعوت پرېښودونکې د حُضُورﷺ په طریقه نه دې

د حضرت سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دې چه د سردارِ مکّۀ مُکَرَّمه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دې: لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيْرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيْرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ يعني هغه زمونږ نه نه دې څوك چه زمونږه په **ماشومانو** رَحم ونکړي او د **مشرانو** عِزّت ونکړي او د نیکئ حُکم ونکړي او د بدئ نه منع ونکړي. (سُنَنِ تِرمِذِی ج۳ ص۳۷۰ حدیث۱۹۲۸)

د نیکئ دعوت صِرف په عُلَماء نه، په عوامو هم لازِم دې

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حَدِیثِ پاك د الفاظو "د نیکئ حُکم ونکړي او د بدئ نه منع ونکړي" نه لاندې فرمائي: هر کس دِ د خپل طاقت او د خپل عِلم مطابق دِیني اَحکام په خلقو جاري کړي. دا صِرف په عُلَماء فرض نه دي بلکه په ټولو لازِم دي، حاکِم دِ په لاس د بدئ نه منع وکړي، عالِم دِ په ژبه دا فرض پوره کړي. په دې زمانه کښې په دې باره کښې ډېر غفلت دې. (مِراٰۃُ المناجیح ج۶ ص۴۱۶)

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں تُو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی

د نیکئ دعوت چه خور کړم په دُنیا کښې ما ته کړې داسې جذبه را عطا یا اِلٰهی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اَعرابي چه کله په جُمات کښې بَول وکړل.....

حضرت سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه یو ځل مونږ د نُور پیکر، د ټولو نبیانو سرور، د دواړو جهانو تاجور، سُلطانِ بَحر و بَر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په جُمات کښې موجُود وو، یو اَعرابي

(یعني د کلي اوسیدونکي یو سړي) راغلو او په جُمات کښې ئې په ولاړه واړه بَول [یعني تشې متیازې] کول شروع کړل. د جَنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اصحاب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم هغه ته آواز وکړو: صبر وکړه! حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو چه دې مه منع کوئ، پرېږدئ. صحابۂ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم خاموشه شو تر دې چه هغه بَول وکړل. بیا **مُبَلِّغِ اعظم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه را اُوغوښتو (او په نرمئ او شفقت) ئې ورته اُوفرمائیل: **"دا جُماتونه د بَولو او د ګندګئ د پاره نه دي"** دا خو صِرف د اللهتعالٰی د ذِکر، د لـمانځه او تِلاوتِ قُرآن د پاره دي. بیا هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته د اوبو راوړلو حُکم وکړو، هغه د اوبو بوقه [یعني د کوهي نه د اوبو راوېستلو لوښې] راوړو او په هغې (یعني د بَولو په ځائ) ئې اُوبهیوله. (صحیح مُسلِم ص۱٦٤ حدیث۲۸۵)

د نیکئ په دعوت کښې نرمي ضروري ده

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یاد ساتئ (چه نَجس یعني ناپاکه) زمکه اګر چه وچه شي نو پاکه شي (هله چه د نَجاسَت اثرات ترې لرې شي) خو د زمکي وینځل ډېر زیات بهتر دي ځکه چه د دې سره د ګندګئ رنګ او بوئ هم زر لاړ شي او په دې تَیَمُّم هم جائِز شي. په دې حدیثِ پاك کښې د اوبو بوقه په بهیولو دا خبره نه لازِمه کیږي چه ناپاکه زمکه ګنې د وِینځلو نه بغیر نه شي پاکیدې. او په جُمات کښې د پاکئ نه علاوه صفائي هم پکار ده او دا په وِینځلو حاصلیدې شي. نور فرمائي: په دې کښې مُبَلِّغِینو ته د طریقۂ تبلِیغ تعلیم دې چه تبلِیغ په اخلاقو او نرمئ کول پکار دي. (مِراٰةُ المناجیح ج۱ ص۳۲٦)

بَول کولو کولو کښې ناڅاپه د بندولو طِبّي نقصانات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کله چه خوك واړه بَول کوي هغه ته د وار خطا کولو په انداز کښې د غږ کولو او ویرولو نه بچ کیدل پکار دي ځکه چه واړه بَول کولو کولو کښې د څه یَرې نه فوراً د بَولو بندولو په وجه طِبّي طور داسې سخت نقصانونه کیدې شي چه هغه د مار په چیچلو

هم نه شي کیدې! واړه بَول په نیمه کښې د ودرولو په وجه د جُنون (یعني د لیونتوب او د بې هوشۍ د دَورو د راتلَلو) او د گُردو هلاك کونکي بیمارئ پیدا کیدې شي.

په ولاړه بَول کول د سُنّتو خِلاف دي

په بیان شوي رِوایت کښې په ولاړه د بَولو کولو ذِکر شوې دې، په دې باره کښې عرض دې چه په ولاړه بَول [متیازې] کول د سُنّتو خِلاف دي چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۱۲۵۰ صفحو کتاب "*بهارِ شریعت*" جِلد اوّل صفحه ٤٠٧ کښې دي چه: اُمُّ المُؤمِنِین حضرت سَیِّدَتُنا عائِشه صِدّیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: څوك چه تاسو ته اووائي چه نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په ولاړه بَول کول نو تاسو هغه رښتینې مه ګنړئ، حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بَول نه کول خو په ناسته. (سُنَنِ تِرمِذی ج۱ ص۹۰ حدیث۱۲)

په ولاړه د بَولو [یعني مِتیازو] کولو نقصانونه

افسوس! نن صبا په ولاړه د بَولو کولو رواج عام شوې دې خصوصاً په اِئر پورټ (AIR PORT) او نورو خاصو خاصو مقاماتو کښې په ولاړه د بَولو کولو مخصوص انتِظام هم وي. په دې طریقه بَول کول د سُنّت خِلاف هم دي او د دې طِبّي نقصانات هم وي چنانچه د طِبّي تحقیق مطابق په ولاړه د بَولو کولو سره د مثانې غُدود [په قلاره قلاره] اُوپړسیږي او د هغې په سبب واړه بَول په تکلیف سره د راتلو، داره د نرئ کیدو، څاڅکې څاڅکې راتلَلو بلکه د مِتیازو د بندیدو مرضونه پیدا کیدې شي. په ولاړه بَول کوونکي بعضې خلق د وِینځلو یا د وچولو نه بغیر د پتلون بټن یا زنځیر بند کړي او د هغې په وجه د هغوئ په ورنونو د بَولو څاڅکي پریوځی، دغسې بې عُذره خپل بدن ناپاکه کونکي د ګنهګاریدو سره سره په طِبّي لِحاظ هم په نقصان کښې اخته کیدې شي یو مُستشرِق (یعني داسې فِرنګي (یورپي کس) چه هغه د مشرِقي ژبو مَثَلًا د اُردو وغیره ماهِر وي) ډاکټر جانټ مِلن (Dr. jaunt milen) وائي چه: د سُرِینو (یعني د بدن هغه حصّه کومه چه د ناستې په وخت کښې په زمکه لګي) او د هغې د خوا و شا اِلرجي، د ورَنونو خارخت او د دانو او د نامه نه لاندې د خیټې د لاندینئ حِصّې د څرمنې د ولاړیدو

www.dawateislami.net

د بیمارئ او د پردې د مخصوص ځائ د زخم مریضان چه کله ما له راځي نو په هغوئ کښې اکثر هغه وي څوك چه د بَولو د څاڅکو نه ځان نه ساتي.

د بَولو د څاڅکو نه د نه بچ کیدو عذاب

حضرت سَیِّدُنا ابي **بَکره** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه زه د حُضُور نبيّ کریم، رءُوفٌ رَّحِیم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره روان ووم او هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس نیولې وو یو سړې د هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چپ طرف ته وو. په دې کښې مونږه خپلې مخې ته **دوه قبرونه** ولیدل نو جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: په دې دواړو **عذاب** کیږي او د څه غټې خبرې په وجه نه کیږي، په تاسو کښې څوك شته دې چه هغه ما له یوه څانګه راوړي. مونږ د یو بل نه د مخکښې کیدو کوشش وکړو نو زه مخکښې شوم او یوه څانګه مې راوړه او په خِدمت کښې حاضر شوم. هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه دوه ټُکړې کړه او په دواړو قبرونو ئې یوه یوه کیښوده بیا ئې اِرشاد اُوفرمائیلو: دا چه تر څو **شنې** وي په دوئي به په عذاب کښې کمې وي او په دې دواړو د **غِیبت** او **بَولو** [یعني مِتیازو] په وجه عذاب کیږي. (مُسندِ اِمام اَحمد ج۷ ص۲۰۴ حدیث ۲۰۳۹۵)

آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم ته عِلمِ غیب شته دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! چه د **غیبتونو** او د مِتیازو د څاڅکو نه نه بچ کیدل د عذابِ **قَبر** سَبَب دي. آه! زمونږه دا نازك بدن چه د معمولي غوندې ازغي لګیدو، د غرمې د نمر سیزل او تودوالې او د تبې معمولي تکلیف نه شي برداشت کولې نو دا به د **قبر** سخت عذاب څنګه برداشت کړې شي. یا **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږه په مِتیازو د ککړیدو د ګناهونو، د غِیبتونو، **چُغلۍ** او د هرې غټې وړې ټولو ګناهونو نه توبه کوو، اے **زمونږه خوږه مالِکه!** عَزَّوَجَلَّ! زمونږ نه د همیشه همیشه د پاره راضي شې او زمونږه بې حِسابه بخښنه وکړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د بیان شوي رِوایت نه دا هم معلومه شوه چه زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **عِلمِ غیب** شته دې ځکه خو ئې د **الله** تعالٰی په عطا د قبر عذاب ولیدلو څنګه چه د بیان شوي حدِیث

www.dawateislami.net

پاك نه معلومه شوه. زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **حَدَائِقِ بخشش شریف** کښې فرمائي:

سر عرش پر ہے تری گزر دلِ فرش پر ہے تری نظر
ملکُوت و ملک میں کوئی شے نہیں وہ تجھ پہ عیاں نہیں

شرح کلامِ رضا: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني زمکه کښې دننه هر یو څیز تاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره دې. په دُنیا جهان کښې داسې یو څیز نشته چه هغه تاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه دې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

په شرابي باندې د اِنفِرادي کوشش کولو نتیجه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په "نرمئ" چه کوم کار کیدې شي هغه په "ګرمئ" [یعني په غُصّه] نه شي کیدې او مُبَلِّغ ته خو پکار دي چه هغه د موم نه نرم او د واورو نه یخ وي، په رټلو او بې عِزَّته کولو د چا اِصلاح کیدل مُشکِل دي. حُجَّةُالاِسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابُو حامِد مُحَمّد بن مُحَمّد بن مُحَمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په "اِحیاءُالْعُلُوم" کښې نقل کوي چه: حضرتِ سَیِّدُنا **مُحَمّد بِن زَکَرِیا** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: یو ځل زه د حضرتِ **عَبدُ الله** بِن مُحَمَّد بِن عائِشه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ خوا ته حاضِر شوم، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ د ماښام د لـمانځه نه پس د جُمات نه کور طرف ته روان شو، په لار کښې ئې یو قُریشي ځلمي په نشه کښې ولیدو، هغه [ځلمي] یوه ښځه ونیوله، ښځې چغې جوړې کړې، خلقو رامنډه کړه او په هغه ځلمي ئې راکیښودل، حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عائِشه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ هغه [ځلمي] اوپیژندو او د خلقو نه ئې خلاص کړو او په شفقت [یعني په مهربانئ] ئې خپلې سینې ته راجوخت کړو، خپل کور ته ئې راوستو او اُوده ئې کړو. چه کله راوِیښ شو نو نشه ترې تلې وه. هغه ته چه د نشې په حالت کښې د خپلې بې حیائې او وهلو خوړلو معلومات وشو نو د شرم نه په ژړا شو او روان شو. حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عائِشه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ هغه حِصار کړو او ډیر د مهربانئ

www.dawateislami.net

په انداز کښې ئې هغه ته **د نیکئ دعوت** ورکړو او احساس ئې ورکړو چه ځویه! تاسو خو قُریشي ئې، ستاسو خانداني شرافت مرحبا! دا سوچ خو وکړئ چه تاسو د څومره عظیمې هستئ اولاد ئې! ځویه! د **الله** تعالیٰ نه وَیَرېږه او د شرابو د نشې او د نورو ټولو ګناهونو نه توبه وکړه. هغه ځلمي چه داسې د محبّت په انداز کښې **د نیکئ دعوت** واوریدلو نو ډېر زیات شرمِنده شو او هغه په ژړا ژړا توبه وکړه او وعده ئې وکړه چه د شرابو او نورو ګناهونو خوا له به هم نه ورځم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تعالیٰ عَلَيْهِ ډېر د مهربانئ په انداز کښې د هغه تَندې ښکل کړو او حوصله ئې ورکړه. هغه بې حده مُتاثِّره شو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تعالیٰ عَلَيْهِ په صحبت کښې اوسیدل ئې اختیار کړل او د حدیثونو په لیکلو باندې مُقرّر شو. (ماخوذ از اِحیاءُ العُلوم ج۲ ص۴۱۱)

ہے فلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں
ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں
ڈوب سکتی ہی نہیں موجوں کی طُغیانی میں
جس کی کَشتی ہو محمد کی نگہبانی میں

کامراني او کامیابي ده په نرمئ او آسانئ کښې
هر جوړ شوې کار ورانیږي نادانئ کښې
کله هم ډوبیدې نه شي په چپو کښې د طوفان
چه کشتئ وي د چا د محمد په نګرانئ کښې

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

ما د هغه د قتل کولو نه پس خودکُشي کوله....

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ګناهونو نه ځان خلاصولو د پاره، د لـمونځونو د پابندئ د ذِهن جوړولو د پاره، د مَکّـي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّتو باندې د عمل کولو د پاره، په زړه کښې د عِشقِ رسول شمع بلولو د پاره، په جنّتُ الفِردوس کښې د ځائ موندلو د پاره او د اور د عذاب نه ځان بچ کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. د سُنَّتو ډکو **مَدَني قافِلو** کښې د سفر معمول جوړ کړئ او د **مَدَني اِنعاماتو** مطابِق د خپل ژوند شپې ورځې تیروئ. ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره یو **مَدَني سپرلې** وړاندې کیږي. د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د بیان خُلاصه ده چه: ما ته په **مَدَني قافِله** کښې د سفر په دوران کښې په یو جُمات کښې د جُمعې د لـمانځه نه مخکښې د بیان کولو سعادت نصیب شو، د بیان په آخِره کښې مې په جُمات

www.dawateislami.net

کښې موجودو اِسلامي ورونړو ته د پرېشانو د روحاني عِلاج د پاره د "تعوِيذاتِ عطّاريه" د حاصلولو ترغِيب هم ورکړو. يو صاحِب د مازديګر د لـمانځه نه پس زما خوا ته تشريف راوړو او خپله پرېشانۍ ئې څه په داسې الفاظو کښې بيان کړه چه: **څه موده مخکښې زه د روزګار په سلسله کښې د پاکستان نه بهر ته تلې ووم، هلته د غلا او ډاکې وهلو په جرمونو او نورو غير قانوني کارونو کښې مشغول شوم** بل طرف ته په پاکستان کښې زما په غير موجودګۍ کښې چا زما د بچو په مور باندې غلط او بې بُنياده اِلزامونه ولګول چه د هغې په نتيجه کښې هغې خودکُشي وکړله، کله چه ما ته د دې واقعې خبر راکړې شو نو زه ليونې شوم او فوراً پاکستان ته خپل کلي ته را ورسيدم. **د نفس و شيطان په دوکه کښې راغلم او زما په سِځه باندې د غلط تُهمت لګولو والا کس د قتل کولو او ورپسې مې پخپله هُم د خودکُشۍ کولو اراده وکړه.** ما د دې کار کولو بندوبست هم پوره کړې وو خو په دې جُمات کښې د جُمعې د لـمانځه د ادا کولو سره سره ما ته ستاسو د بيان اوريدلو سعادت هم نصيب شو، د بيان په آخِره کښې چه تاسو د مُشکِلاتو د حل د پاره د "تعوِيذاتِ عطّارِيه" حاصلولو ترغيب ورکړو د هغې سره زما اُمّيد پيدا شو. ستاسو بيان مې چه واوريدو نو زما د ګناهونو نه ډکې ارادې اوړقيدلې او ما دا فيصله وکړه چه تاسو ته خپله مسئله بيان کړم او څه داسې صورت اختيار کړې شي چه مار هم مړ شي او همسا هم ماته نه شي. [مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي وائي] د هغه خبرې چه ما واوريدلې نو اول خو زه وَيَريدم خو بيا مې **الله و رسول** عَزَّوَجَلَّ وصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد کړو او د موقعې په مناسبت سره د معاملې د حل کولو د پاره مې د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه د سُنَّتو ډکو ليکلي شوو بيانونو د رسالو "***غُصّے کا علاج، عفو در گزر کے فضائل او خُودکشی کا علاج***" نه په رهنُمائي اغستلو تقرِيباً د يوې ګينټې پورې په هغوئي باندې **انفِرادي کوشش** وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ آخِر دا چه هغه اسلامي ورور د خپلې خطرناکې ارادې نه منع شو او دغسې **دوه قيمتي انسانان د ضائِع کيدو نه بچ شو،** د هغوئي په سترګو کښې اُوښکې راغلې او توبه ئې وکړه او سره د نابالِغه بچو د غوثِ پاك [يعني د پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه مُريد جوړ شو. د کور د حِفاظت او په کاروبار کښې د بَرَکت د پاره ئې "تعوِيذاتِ عَطّارِيه" هم حاصِل کړل. چه کله ما هغوئي ته

www.dawateislami.net

په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو ترغیب ورکړو نو هغه په لـمدو سترګو د ژړا په آواز کښې اُووئیل چه: "اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی اوس خو به زما ټول عُمر د دعوتِ اِسلامي په مَدَني کارونو کښې تیریږي."

اے اسلامی بھائی نہ کرنا لڑائی کہ ہو جائیگا بدنُما مَدَنی ماحول
سَنور جائے گی آخِرت اِن شاء اللہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۶۰۲)

اے اِسلامي وروره مه کوه جنګونه ګوره شي به بدنام مَدَني ماحول
ښکلې به دِ شي آخِرت اِنْ شَآءَاللّٰه ته خپل کړه مُدام مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مُبَلِّغِین دِ د جُمعې بیان کوي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې مَدني سپرلي نه د جُمعې د سُنَّتو ډك بیان بَرَکتونه معلوم شو، د دعوتِ اسلامي ټولو ذِمّه دارانو ته پکار دي چه کوم ځائ کیدې شي د بدلو بدلو مُبَلِّغینو د سُنَّتو ډکو بیانونو ترکیب دِ جوړَوي، ځکه چه د جُمعې لـمانځه ته راتلونکي ډیر کسان داسې وي چه هغوئي عام طور په یوه اِجتِماع کښې هم شِرکت نه کوي، په دې طریقه به داسې خلقو ته هم د دعوتِ اسلامي مَدَني پیغام ورسي او د ډیرو خوش نصیبو په زړونو به اثر وشي او اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی هغوئي به د ګناهونو نه توبه وکړي او پینځه وخته لـمونځ ګُزاره به جوړ شي او په هغوئي باندې ستاسو نور اِنفِرادي کوشش به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی هغوئي د مَدَني قافِلو مسافِر جوړ کړي او د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې به شامِل شي او د سُنَّتو پابند به جوړ شي، ځنګه چه تاسو اوس ولیدل چه د مُعاشرې یو وران کارې او د خپل ژوند نه تنګ کس د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډك بیان او د اِنفِرادي کوشش په بَرَکت د مسلمان د قتل کولو نه منع شو او د خودکُشئ اِراده ئې هُم پرېښوده او توبه ګار شو.

په هرو دوو مِنَټو کښې درې خود کُشئ

افسوس نن صبا "خودکُشي" [یعني ځان وژل] څه ډیر عام شوي دي، د دې یو ډیر غټ سبب د

www.dawateislami.net

عِلمِ دِین نه لرې والې دې، ګیره خَرَوونکو خلقو، یا جَذباتي ماډرن [فیشن پرستو] بې ګِیرې ځلمو، د اسکول او کالِج طالب عِلمانو، دُنیاوي تعلِیم یافته خلقو یا بې پرده فیشن پرستو زنانۀ خُودکُشۍ ته زیاته مخه کړې ده. تاسو به کله هم نه وي اوریدلي چه فلانکي دِیني طالِبِ عِلم یا عالِمِ دِین یا مُفتي صاحِب یا د شرِیعت پابندې پرده داري نیکې بي بي خُود کُشي وکړله. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعَتي اِداري مَکتَبَۃُالْمَدِیْنَه چاپ شوي د ٤٧٢ صفحو کتاب، "**بیاناتِ عطّاریہ** (حِصّہ دوم)" کښې د صفحه ٤٠٤ نه ٤٠٦ پورې کښې دي چه: افسوس! د **ګناهونو** د زیات والي او د آخِرت د عذابونو په باره کښې د جَهالت [یعني بې عِلمۍ] په وجه زمونږه په خوږ وطن پاکستان کښې د **خُودکُشۍ** واقِعات ورځ په ورځ زیاتیږي د یو اخباري رپورټ مطابق په اګست 2004ء کښې په پاکستان کښې د **خُودکُشۍ** اته شپیته واقعې پیښې شوې چه په هغې کښې د بابُ المَدِینه **کراچۍ** اول نمبر وو او دویم نمبر د مَدِینۃُ الاولیاء مُلتان والۍ وو. هُم د هغه اخبار مطابق په **دُنیا کښې په هر ٤٠ سیکنډه کښې د خُودکُشۍ یوه واقعه پیښیږي!**

آیا په خُودکُشۍ کولو بنده د مصیبته خلاصیږي؟

خُودکُشي کوونکي شاید دا ګڼري چه مونږ به د مُصِیبته خلاص شو! حالانکه په داسې کولو د مصیبت نه د خلاصیدو په ځائ بنده د **الله** رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلالُہٗ د ناراضۍ په صورت کښې په ډیر سخت [مُصِیبت کښې] ګیر شي. قَسم په خُدائے چه! د **خُودکُشۍ** عذاب به هیڅ څوك هم برداشت نه کړې شي.

په اور کښې عذاب

په **حدیثِ پاك** کښې دي: څوك چه په کوم یو څیز **خُودکُشي** وکړي [یعني ځان مړ کړي] هغه ته به د جهنّم په اور کښې هم په هغه څیز **عذاب** ورکولې شي. (صحیح بُخاری ج٤ ص ٢٨٩ حدیث ٦٦٥٢)

هُم په هغه وَسله عذاب

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ثابِت بِن ضَحّاك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه د **الله** تعالیٰ د **محبُوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد دې: چا چه د اوسپنې په وسله **خُودکُشي** وکړه نو هغه ته به د جَهَنّم په اور کښې هم په هغه وسله عذاب ورکولې شي. (صحیح بُخاری ج١ ص٤٥٩ حدیث ١٣٦٢)

ځان د مَرئ نه د زندئ کولو[یعني ترلو یا نیولو] عذاب

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابُو هُریره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دې چه، **د نبئ اکرم** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمانِ دې: چا چه ځان د مَرَئ نه زندئ کړو نو هغه به د جَهَنّم **په اور کښې** [مُسلسل] **د مرئ نه ځان زندئ کوي** او چا چه ځان په نیزه اووهلو هغه به دجَهَنّم په اور کښې خپل ځان [مسلسل] په نیزه وهي. (ایضاً ص٤٦٠ حدیث ١٣٦٥)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تشه کڅوړه

اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرتِ مولائے کائِنات، **عَلِیُّ المُرتَضٰی** شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم فرمائي: کوم زړه چه نیکئ لره نیکي ونه ګڼړي او بدئ لره بدي ونه ګڼړي نو د هغې پاسنئ حِصّه به داسې ښکته کړې شي څنګه چه کڅوړه نسکوره کړې شي او بیا په هغه کڅوړه کښې دننه څیزونه [بهر] وشیندلې شي. (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَیبَه ج٨ ص٦٦٧ رقم ١٢٤)

په زړه "ړوند" او د زړه د"نَسکوریدو"معنیٰ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي دا سراسر بربادي ده چه د بنده زړه نیکئ لره نیکي او بدئ لره بدي ګڼړلو نه اِنکار وکړي. مونږ ته د ګُناهونو نه همیشه بچ کیدل او د **الله** تعالیٰ نه قَلبِ سَلِیم (یعني صحیح او سلامت زړه) غوښتل پکار دي، ګڼې اوس تاسو د زړه د تباهئ په باره کښې د مولیٰ علی کَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم اِرشاد وکتلو. یاد ساتئ! د ګناهونو د کثرت [یعني زیات والي] په سَبَب اول زړه "ړوند" شي او بیا "نَسکور" شي او دا د آخِرت د پاره ډیره زیاته د تباهئ خبره ده چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" صفحه ٤٠٥ کښې دي چه: درې څیزونه جُدا جُدا دي ، نفس، رُوح او قَلب (یعني زړه). **رُوح** د بادشاه په شان دې او **نفس و قلب** د هغه دوه وزیران دي. **نفس** همیشه هغه د شَرّ طرف ته بوځي او قلب چه تر څو پاك وي نو د خیر طرف ته ئې بَلي او **مَعَاذَاللّٰه** (عَزَّوَجَلَّ) د ګُناهونو د کثرت او خُصوصاً د کثرتِ بِدعات په

وجه "رُوند" کړې شي. بیا هغه د حق لیدلو، پوهه کیدلو او د غور کولو قابِل پاتې نه شي خو تر اوسه پکښې د حق د اَوریدو قابِلیَّت پاتې وي او بیا مَعَاذَ الله (عَزَّوَجَلَّ) هغه "نَسکور" کړې شي. بیا هغه نه حق اوریدې شي او نه ئې لیدې شي بِالکل وِیران [یعني تش] پاتې شي. (بیا اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل:) قَلب (یعني زړه) په حقیقت کښې هغه د غوښې مُضغَه (یعني د غوښې بوټئ) ته نه وائي بلکه هغه یوه "لطیفۂ غَیْبِیَّه" [یعني غیبي نازك څیز] دې او د هغې د اوسیدو ځائ دا د غوښې مُضغه (یعني زړه) دې د سینې چپ طرف ته، او د نفس مرکز د نامه نه لاندې دې په دې وجه شافِعِیّه (یعني شافِعیان) لاس په سِینه تړي چه د "نفس" نه کومې وسوسې راپورته کیږي چه هغه "قلب" [یعني زړه] ته را ونه رسي او حَنَفِیّه (یعني حَنَفیان) د نامه نه لاندې لاس تړي.

توفیق نیکیوں کی اے ربِّ کریم دے بدیوں سے بچنے والا تُو قلبِ سلیم دے

توفِیق د نیکئ اے ربِّ کریم راکړې
د بدئ نه بچ کیدونکې قلبِ سلیم راکړې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

معافي به نه ورکولې شي

د حضرتِ سیِّدُنا ابُو اَلدّرداء رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه تاسو د نیکئ حُکم ورکوئ او د بدو نه منع کول کوئ ګنې په تاسو به ظالِم بادشاه مُسَلَّط کړې شي چه هغه به ستاسو په ماشومانو رَحم نه کوي او ستاسو نیك خلق به دُعا کوي خو د هغوئي دعاګانې به نه قبلیږي، هغوئي به مُعافي غواړي خو هغوئي ته به معافي نه ورکوله شي. (اِحیاءُ العُلوم ج۲ ص ۳۸۳)

د بدو خبرو نه منع کوئ ګنې.....!

خَلِیفَةُ الْمُسلِمِین حضرتِ سَیِّدُنا ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ارشاد اُوفرمائیلو: اے خلقو تاسو دا آیت لولئ:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ (پ ۷. المائدہ: ۱۰۵)

مفہوم ترجمۂ کنزُالایمان: اے ایمان والؤ! تاسو خپل فِکر کوئ، ستاسو هیڅ نُقصان نه شي کولې هغوئي څوك چه بې لارې شو، چه کله تاسو په هِدایت ئې.

(یعني تاسو دا ګنړئ چه مونږ پخپله په هِدایت یو نو د ګُمراهه خلقو ګُمراهي زمونږ د پاره د نقصان باعِث نه ده او مونږ لره یو ګمراه د ګُمراهئ نه د منع کولو ضرورت نشته) ما د **خوږ مَدَني آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوریدلې دې چه خلق که بده خبره اُووِیني او هغه بَدَله [یعني منع] نه کړي نو نزدې ده چه **الله** تعالٰی هغوئي ټول په عذاب کښې اَخته کړي. (سُنَن اِبنِ ماجه ج۴ ص ۳۵۹ حدیث ۴۰۰۵)

د دې حَدِیث پاك نه لاندې په "مِراٰةُالْمَناجِیح" کښې دي چه: د قُرآنِ کریم د دې آیت: "يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ مفہوم ترجمۂ کنزُالایمان: اے ایمان والؤ! تاسو خپل فِکر کوئ، ستاسو هیڅ نُقصان نه شي کولې هغوئي څوك چه بې لارې شو، چه کله تاسو په هِدایت ئې." نه به خلقو دا معنٰی اغسته چه **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر** (یعني د نیکئ د حُکم کولو او د بدئ نه د منع کولو) ضرورت نشته بلکه بنده ته د خپلې اِصلاح کوشش کول پکار دي، د نورو خلقو ګناهونه هغه ته هیڅ نقصان نه شي رسولې، حضرتِ ابُوبکر صِدّیق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ دا غلط فهمي لرې کړه او د **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ارشادِ کِرامي په حواله ئې اُوفرمائیل چه کله خلق ګناه اُووِیني او د هغې د بدلَوَلو [یعني منع کولو] کوشش ونکړي نو هغوئي ټول په عذاب کښې اخته کیږي.

د دویم رِوایت نه دا خبره واضِحه کیږي چه د دې بدلَوَلو تعلُّق د طاقت سره دې یعني چه د بدئ بدلَوَلو [یعني منع کولو] والا خلق د دې خبرې د طاقت لرلو باوجود هغه بَدَله [یعني منع] نه کړي نو هغه به هم د عذاب حقدار وي. (مِراٰةُالمَناجیح ج۶ ص ۵۰۷)

د ذِکر شوي آیت نه لاندې **صدرُ الافاضِل** حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: مسلمانانو به د کُفّارو په محرومئ باندې افسوس کولو او هغوئي به په دې خبره خفه وو چه کُفّار په عِناد (یعې دُشمنئ) کښې اَخته دي او د اسلام د دولت نه محرومه پاتې شو. **الله** تعالٰی د هغوئي (یعني مسلمانانو) تَسَلِّي اُوفرمائیله چه په دې کښې ستاسو هیڅ ضرر (یعني نقصان) نشته،

www.dawateislami.net

د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر (یعني د نیکئ د حُکم ورکولو او د بدئ نه د منع کولو) تاسو د فرض ادا کولو خپله ذِمّه واري پوره کړي ده تاسو به د خپلې نیکئ جزا مومئ. **عبدُالله** بِن مُبارك (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) فرمائیلي دي: په دې آیت کښې د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر د واجِب کیدو ډیر تاکِید شوې دې ځکه چه د خپل فِکر کولو دا معنٰی ده چه د یو بل خبر دِ اخلي، د نیکو ترغِیب دِ ورکوي او د بدو نه دِ منع کوي.

د خپلې ښځې په اِنفِرادي کوشش ورته مَدَني ماحول نصیب شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! زمونږه مَدَني مقصد دا دې چه: **ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.** اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی. د دې مقصد د حاصلولو د پاره مونږ ته د خپلې اِصلاح سره سره د نورو د اصلاح هُم فِکر کول دي لِهٰذا د ایمان د حِفاظت د فِکر زیاتولو د پاره او د هر مسلمان په زړه کښې د عِشقِ رسُول شمع بَلَولو د پاره او هر طرف ته د سُنّتو عام کولو د پاره او د نیك جوړیدو مَدَني جذبه موندلو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ، هره میاشت کم نه کم د درې ورځو په **مَدَني قَافِله** کښې د سُنَّتو ډك سفر او په **مَدَني اِنعاماتو** باندې د عمل کولو ترکیب جاري ساتئ! راځئ چه ستاسو د ترغیب او تَحریص د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** واوروم چنانچه د مَسقَط (عُمان) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه څه په داسې ده چه: د تبلیغِ قُرآن و سُنّت د عالمگیر غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې **زه یو فیشن پرست، گیره خروونکې ځلمې ووم، زما د ټولو نه خوښ لِباس پینټ شرټ وو** او مَعاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ عملي طور مې د دین طرف ته څه خاص توَجُّه نه وه، بس هر وخت به د دُنیا په شوق کښې مصروفه ووم، نه راته د آخِرت بهتر کولو د اعمالو کولو څه توفیق نصیب وو او نه مې د مرگ د تیارئ څه ذِهن لرلو. آخِر په ما گنهگار هم د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د رحمتونو باران وشو او زما په گناهونو د ککړ وجود د پاکیدو هم اسباب جوړ شو، هغه داسې چه زما په زړه کښې شوق پیدا شو چه ما ته څه داسې صحبت رانصیب شي چه زه د خپل اِیمان د حِفاظت څه کوشش وکړې شم چنانچه د ښه صُحبت موندلو د پاره ما موقع په موقع په مُختلِفو دِیني محفلونو کښې شرکت کول شروع کړل خو په یو ځائ کښې هم را ته په حقیقي معنو کښې د زړه اطمِینان

www.dawateislami.net

حاصِل نه شو، ژوند مې په هم هغه مخصوص انداز کښې تیریدلو او بیا زما واده هم وشو. **زما خوش قِسمتي وه چه زما ښځه د دعوتِ اسلامي په خوشبودار مَدَني ماحول کښې شامِله وه او** د هغې **اِنفِرادي کوشش** زما د دعوتِ اسلامي سره د تړون سَبَب جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني ماحول په بَرَکت راته د ګناهونو نه د توبه کولو سعادت نصیب شو او د دې لیك د وخته پورې د ښار **مُشاورت** د خادِم په حیثیت د مَدَني کارونو د خورَوَلو په کوشش کښې مصروف یم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

نرمي او محبّت مَدَني وسله ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې مَدَني سپرلي نه دا درس هم حاصل شو چه په زَوجَین (یعني ښځه او خاوند) کښې یو په مَدَني ماحول کښې شامِل وي نو هغه ته پکار دي چه د اِنفِرادي کوشش په ذریعه بل هم په مَدَني ماحول کښې د شاملَوَلو پوره پوره کوشش وکړي. د دې کار د پاره نرمي او محبّت ډیره زبردسته **مَدَني وسله** ده، که د مَدَني ماحول والا په مِزاج کښې غُصّه، په هره خبره د چیړ کولو عادت او بداخلاقي وي نو کامیابي مُشکِله ده، لِهٰذا خپل اخلاق صحیح کړئ او هسې هم چه چا ته د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو شوق وي نو د هغه د پاره نرم مِزاج ساتل ضروري دي ځکه چه د بې ځایه سختئ کولو په وجه ډیر ځله سَم کارونه هم وران شي.

د واده په فضائِلو مُشتمِل څلور احادِیثِ مبارکه

په بیان شوي مَدَني سپرلي کښې د ذِکر کړې شوي اسلامي ورور واده کول اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني ماحول سره د تړون سَبَب جوړ شو، د "نِکاح او واده" معلومات زمونږ د معاشرې هر یو کس لري او د ژوند په یو نه یو وخت کښې تقریباً د هر یو "واده" هم کیږي. په دې باره کښې **د نیکئ د دعوت** یو څو **مَدَني ګلونه** تاسو ته وړاندې کووم، دا قبول کړئ او د خپل زړه په **مَدَني ګلدسته** کښې ئې ولګوئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی په دواړو جهانو کښې به بَرَکتونه مومئ. افسوس نن صبا په **واده** کولو کښې خلق صرف ښائِست او مال او دولت او دُنیاوي مرتبې او دبدبې ته ګوری داسې ودونه ډیر ځل د بربادئ سَبَب جوړیږي. لِهٰذا په واده کښې په سِیرت او کِردار خصوصي

www.dawateislami.net

نظر ساتل پکار دي! راځئ چه د سعادت حاصلولو په نِیَّت د واده په فَضائِلو مُشتمِل **ځلور فرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو: ﴿۱﴾ څوك چه زما طریقه خوښوي، هغه دِ زما په سُنّتو روان اُوسي او زما په سُنّتو کښې **نِکاح** (هم) ده. (شُعَبُ الایمان ج٤ ص٣٨١ حدیث ٥٤٧٨) ﴿۲﴾ د زنانه سره **نِکاح** د څلورو خبرو په وجه کیږي (یعني په نِکاح کښې د دې لِحاظ ساتل شي): (۱) مال او (۲) حَسَب او (۳) جمال [یعني ښائِست] او (٤) دِین، او ته **دِین والا** ته ترجِیح ورکړه[یعني غوره کړه]. (بُخاری ج٣ ص٤٢٩ حدیث٥٠٩٠) ﴿۳﴾ کله چه په تاسو کښې څوك **نِکاح** کوي نو شیطان وائي: هائے افسوس! اِبنِ آدم زما نه خپل په درې کښې دوه حِصّې دِین بچ کړو (اَلفردوسُ بِمأثورِ الخطاب ج ١ ص ٣٠٩ حدیث١٢٢٢) ﴿٤﴾ څوك چه دومره مال لري چه نِکاح وکړي، [او] بیا **نِکاح** ونکړي، هغه زمونږ نه نه دې.[1] (مُصَنَّف اِبنِ اَبی شَیبه ج٣ ص٢٧٠)

د نِکاح په باره کښې فرمانِ صِدّیقي

اَمِیرُ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائیلي دي چه **اللّٰه** تعالٰی چه تاسو ته د نِکاح حُکم فرمائیلې دې، تاسو د هغې اِطاعت وکړئ، هغه چه د غني کولو کومه وعده کړې ده [هغه به] پوره فرمائي. **اللّٰه** تعالٰی فرمائیلي دي:

([1]) د اِعتِدال په حالت کښې یعني چه نه د شهوت ډیره زیاته غَلَبه وي نه **عِنِین** (یعني نامرد) وي او په مهر و نَفَقه (د جامو او خوراك څښاك وغیره په خرچه) قدرت هم لري نو نِکاح **سُنَّتِ مُؤَکَّده** ده ولې چه د نِکاح کولو نه بالکل انکار کول ګناه ده او که د حرامو نه بچ کیدل یا د سُنّتو تابِعداري او د حُکم تعمِیل یا د اولاد حاصلیدل مقصد وي نو ثواب به هم موي او که صِرف مزه یا قضائے شهوت (یعني شهوت پوره کول) مقصد وي نو ثواب به نه کیږي. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج٤ ص٧٣) (۲) که د شهوت غَلَبه وي یعني که نِکاح ونکړي نو **معاذَ اللّٰه** د زِنا اندیښنه به وي او د مهر او نَفَقه قدرت لري نو نِکاح واجِب ده. داسې هم که چرې د نامَحرمې زنانه طرف ته د کتلو نه نه شي منع کیدې یا **معاذَ اللّٰه** د لاس نه به کار اخلي یعني د لاس سره به زنا کوي، نو نکاح واجِب ده. (اعلٰحضرت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په فتاویٰ رَضَوِیّه جلد ۲۲ صفحه ۲۰۲ کښې فرمائي: دا فِعل ناپاکه حرام او ناجائِزه دې په حدیث شریف کښې دي: جلق کولو والا (یعني د موتي سره زنا کوونکي) باندې د **اللّٰه** تَعَالٰی لعنت دې. (اَمالی اِبنِ بِشران ج٢ ص٥ رقم ٤٧٧، حاشِیۃُ الطَّحطاوی علٰی مَراقی الفلاح ص٩٦) اعلٰحضرت په صفحه ٢٤٤ کښې فرمائي: په حشر کښې به د داسې خلقو ورغوي حامِله (یعني بلارب) را پاڅي چه د هغې په وجه به په عظیمه ګنړه کښې د هغوئ رُسوائي کیږي. (۳) چه دا یقین ئې وي چه د نِکاح نه کولو په وجه به زِنا واقع شي نو نکاح کول فرض دي. (دُرِّمُختار ج٤ ص٧٢)

اِنْ یَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ یُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ (پ۱۸، النور: ۳۲)

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: که هغوئي فقِیران وي نو **الله** به ئې غني کړي د خپل فضل په سبب.

(تَفسِیر اِبنِ اَبِی حاتم ج۸ ص ۲۵۸۲)

په رِوایت کښې د ذِکر کړي شوي آیتِ مبارکه نه لاندې **حضرتِ** صدرُ الافاضِل سَیِّدُنا مولانا **محمّد نعیمُ** الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په **خَزائِنُ العِرفان** کښې فرمائي: "د **غَنا** نه مُراد یا قَناعت دې ځکه چه هغه د ټولو نه بهتره غَنا ده او دا قَناعت کوونکې د فِکر او اندیښنې نه بې نیازه کړي یا کَفایت چه د یو کس خوراك د دوه کسانو د پاره **کافي** شي. څنګه چه په حدیث شریف کښې راغلي دي، یا د زوج او زوجه (یعني د ښځې او خاوند) د دوه کسانو د رِزقونو جمع کیدل یا د **نِکاح** په بَرَکت [په رِزق کښې] فَراخِي څنګه چه دَ اَمیرُالمُؤمِنِین حضرتِ عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې."

ټوله قبیله مسلمانه شوه

حضرتِ سَیِّدُنا **مُصعَب** بِن عُمیر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د حضرتِ سَیِّدُنا **اَسعَد** بِن زُراره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سره یو ځائ د **الله** تعالٰی په لار کښې په سفر روان شو نو د قبیلۀ بني ظفر په باغ کښې د "**مَرَق**" نومې کوهي سره کښیناستل. د هغوئي دواړو خوا ته د قبیلۀ بنو اسلم خلق راجمع شو، د هغوئي غټ سرداران سَعد بِن مُعاذ او اُسَید بِن حُضَیر وو چه هغوئي لا تر اوسه د اسلام په لَمَن کښې نه وو راغلي. سَعَد بِن مُعاذ د حضرتِ سَیِّدُنا **اَسعَد** بِن زُراره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د ترور ځوئ وو، سَعَد بِن مُعاذ اُسَید بِن حُضَیر ولیږلو چه ورشه هغه دواړه **مُبَلِّغِین** ورته او منع ئې کړه ځکه چه هغوئي زمونږه کمزوري خلق (مَعاذَ الله عَزَّوَجَلَّ) د دوکه کولو د پاره راغلي دي. چنانچه اُسَید بِن حُضَیر خپله نیزه د ځان سره واخسته او د هغوئي خوا ته ورسیدو، چه څنګه راغې نو هغوئي ته ئې ردې بدې وئیل شروع کړل او دباؤ ئې پرې واچولو چه که ستاسو خپل ژوند پکار وي نو د دې ځائ نه لاړ شئ. حضرتِ سَیِّدُنا **مُصعَب** بِن عُمیر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ (اِنفِرادي کوشش شروع کړو او) ورته په نرمئ او په خوږه طریقه اُوفرمائیل: "تاسو لږ ساعت زمونږ سره کښینئ او خبره واورئ، که پرې پوهه شوئ نو وئې منئ او که خوښه مو نه شي نو مونږ به تاسو نه **مجبورَوو**." په اُسَید بِن حُضَیر د **خوَږې وینا** اثر وشو او خپله نیزه ئې په زمکه کښې خخه کړه او د هغوئي خوا ته کښیناستو. حضرتِ سَیِّدُنا **مُصعَب** بِن

www.dawateislami.net

عُمیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته ته د اسلام په باره کښې **مَدَني ګلونه** وړاندې کړل او د قرآنِ کریم تلاوت ئې ورته وکړو، **اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ** د **هغوئي په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب را پورته شو او اسلام ئې قبول کړو.** د مسلمانیدو نه پس ئې اُووئیل چه: په ما پسې وروسته سَعَد بِن مُعاذ دې که هغه ستاسو خبره اُومنله نو زما ټول قوم به ستاسو خبره اُومني، زه اوس هغه ستاسو خوا ته را لیږم. دا ئې چه اُووئیل نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نیغ د سَعَد بِن مُعاذ خوا ته ورسیدو او هغه ئې د هغه دواړو **مُبَلِّغِینو** خوا ته په تلو باندې راضي کړو، سَعَد بِن مُعاذ چه څنګه راغې نو هغوئي ته ئې بد رد وئیل شروع کړل حضرتِ سَیِّدُنا **مُصعب** بِن عُمیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ (پرې اِنفِرادي کوشش شروع کړو او) هغه ئې هم په نرمئ او خوږه وینا د نیکئ دعوت اوریدلو ته راضي کړو او هغه خپله نیزه په زمکه کښې خخه کړه او د هغوئي خوا ته کښیناستو. حضرتِ سَیِّدُنا **مُصعب** بِن عُمیر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغوئي ته هم د اسلام د صِفتونو نه ډك **مَدَني ګلونه** وړاندې کړل او د **سُوْرَۃُ الزُّخْرُف** د اولنو آیتونو تِلاوت ئې ورته وکړو. **آیاتِ قرآنیه د هغوئي په زړه باندې ډیر اثر وکړو او هغوئي هم اسلام قبول کړو.** د اسلام قبلَوَلو نه پس حضرتِ سَیِّدُنا سَعَد بِن مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل قوم طرف ته لاړو او هغوئي ته ئې اُوفرمائیل: "تاسو زما په باره کښې څه رائے لرئ؟" ټولو په شریکه اُووئیل: تاسو زمونږه سردار ئې او ستاسو رائے صحیح وي او صحیح نتیجه راوړي. حضرتِ سَیِّدُنا سَعَد بِن مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائیل: "بس بیا ستاسو د نارینَو او زنانۂ سره په ما باندې د هغه وخته پورې خبرې کول **حرام** دي تر څو چه تاسو په **الله** تعالٰی او د هغه په **رسُول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې اِیمان را نوړئ." راوي فرمائي: قسم په خدائے عَزَّوَجَلَّ! ماښام شوې نه وو چه د هغه قبیلې ټول نارینه او زنانه مسلمانان شو. (اَلبِدایۃ والنِّھایۃ ج۲ ص ۵۲۷ تا ۵۲۹ مُلَخَّصاً) **د الله تعالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.**

سارا قبیلہ ایماں لایا میٹھے بول کی بَرَکت سے
بنتے کام بگڑ جاتے ہیں سن لو بے جا شدّت سے

ټوله قبیله شوه مسلمانه د خوږې وینا په بَرَکت ورانیږي سم کارونه په بې ځایه شِدَّت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

په غټانو خلقو د اِنفِرادي کوشش کولو اَهَمِيَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! زمونږه صحابهٔ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به څنګه خپل سرونه په تلي کښې ګرځول او **د نیکئ د دعوت** ترکیبونه به ئې کول. د دې حِکایت نه دا درس هم حاصل شو چه په شخصیاتو [یعني غټانو خلقو] باندې د اِنفِرادي کوشش کولو ډیرې ښکلې او غټې غټې نتیجې راوتې شي څنګه چه د قبیلهٔ بَنُو اَسلَم په دوو سردارانو اِنفِرادي کوشش وکړې شو نو هغوئې "د نیکئ دعوت" قبول کړو او د اسلام په لمَن کښې د راتلو نه پس ئې خپله ټوله قبیله مسلمانه کړه. دا یاد ساتئ چه! "د دُنیاوي غټانو" سره [صرف] ملاقاتونه کول، د هغوئې [صرف] اِحترام کول، په هغوئې کښې د ځینو "غټې غټې خبرې او کارنامې" د هغوئې د خُلو نه اوریدل او واه! واه! کول او د هغوئې په هره خبره ښه ښه کول او بیرته راتلل د مُبَلِّغ منزِل نه دې، **کامیاب مُبَلِّغ** هغه دې چه هغه د غټ نه غټ **دُنیاوي کس** مَثَلًا د وزیر، حکومتي افسر او مالدار کس وغیره په رُعب کښې نه راځي، فرض کړئ که هغه اخوا دیخوا دُنیاوي خبرې هم کوي نو د هغې په مقابله کښې پرې **د نیکئ د دعوت** د مَدَني ګلونو په ذریعه بالا اوسي، خدانخواسته که یو غټ کس خپل "د دروغو صفتونه" شروع کړي نو هیڅ کله دِ هم د هغه په خبرو آو! آو! نه کوي، که کیدې شي نو د هغه اِصلاح دِ وکړي، که دا نه شي کیدې نو په زړه کښې دِ ئې بده ګڼړي او د خبرې بدلَوَلو کوشش دِ کوي، هغه ته دِ د لـمانځه تلقِین وکړي، په سُنّتو د عمل کولو دعوت دِ ورکړي، د هغه دا ذِهن دِ جوړ کړي چه د عِزّت او ذِلَّت ورکولو اختیار د پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ سره دې، تاسو د خپل مَنصَب نه فائِده واخلئ او د اسلام خِدمت وکړئ، ځکه چه د عامو خلقو په ډیر کوشش چه کوم کار کیدې شي د هغې په مقابَله کښې تاسو په لږ کوشش د دِین ډیر زیات کار کولې شئ، تاسو که د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې د شِرکت کولو او په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر د پاره تاریخ راکړئ نو کیدې شي چه صرف ستاسو په نوم اوریدلو ډیر اسلامي ورونړه په اجتِماع کښې د شِرکت او په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو د پاره تیار شي وغیره. **مُبَلِّغ** ته پکار دي چه کله د یو "شخصِیّت" [یعني غټ کس] سره ملاقات وکړي نو کم نه کم د دومره مودې پورې دِ د هغه سره په رابطه کښې اوسي چه تر څو هغه په مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو پابند او نور خلق د مَدَني

www.dawateislami.net

قافِلو مسافر جوړَوَلو والا جوړ نه شي. د هر نوي اسلامي ورور سره هم د رابطې دا انداز پکار دې، عارضي ملاقات او رسمي خبرې اترې کافي ګڼړل نه دي پکار. خبردار د يو "شخصِيّت" په ذريعه هم خپل ذاتي کارونه جوړول نه دي پکار، د نوکرۍ يا د کاروبار يا د قرض اخستو وغيره ترکيبونه ورسره جوړول نه دي پکار. او د اِنفِرادي کوشش په دوران کښې [شخصياتو ته] په اجتِماع کښې د حاضِرۍ او په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکولو وخت کښې د چندې خبره چيړل نه دي پکار ځکه چه په دې د هغه د بدظنه [بدګُمانه] کيدو ويره ده ځکه چه عام طور "غټان خلق" د چندې غوښتلو والۍ نه ډډه کوي.

سګِ مدِينه او شخصيات

يو ځل سګِ مدينه عُفِيَعَنْهُ د پاکستان نه بهر [په يو مُلك کښې] د چا کور ته حاضِر شو، د هِند ډير مُبَلِّغِين او ځيني مقامي ذِمّه داران هُم هلته را جمع شوي وو او د يو څو شخصياتو [غټانو خلقو] سره هم د ملاقات ترکيب وو. ځيني ذِمّه دارانو د غيرِ ذِمّه دارۍ ثبوت ورکړو او په شخصياتو ئې د مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه نه جاري شوي د سُنّتو ډکو وي.سي.ډيانو د اخستو او د فِيْ سَبِيلِ الله تقسيمولو د پاره کوششونه شروع کړل! ما ته خيال راغې چه په داسې کولو چرې دا مالداره طبقه د دعوتِ اسلامي نه بدظنه [يعني بدګُمانه] نه شي چه مونږه خو راغوښتې شوي د اِلياس د مُلاقات د پاره وو او کار څه نور شروع شو! لِهٰذا ما مَدَني ګلونه وړاندې کول شروع کړل او د وي.سي ډيانو ترکيب مې ختم کړو او شخصياتو ته مې څه داسې عرض وکړو چه دا د اسلامي ورونړو جذبات دي، ګڼې ستاسو نه زما مطالِبه ستاسو د روپو نه ده، ما ته "چنده" نه بلکه "بنده" پکار دې، زه خو ستاسو نه پخپله "ستاسو" غوښتونکې يم، تاسو د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې شِرکت فرمائې، په مَدَني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسُول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ډير ښکلې ترکِيب جوړ شو.

مولٰی دے ہمیں حکمتِ عملی کا خزینہ ہم عام کریں سنّتِ سلطانِ مدینہ

مولٰی مونږ ته راکړې خزانه ته د حِکمت چه عام کړو د سُلطانِ مدِينه ښکلې سُنّت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د شخصیاتو نه د مَدَني قافِلو د خِدمت اغِستلو طریقه

سوال: کوم شخصِیات [یعني غټان] چه په مَدَني قافِلو کښې سفر نه کوي د هغوئ نه مونږ د مَدَني قافِلو د پاره څنګه خِدمات حاصِل کړو؟

جواب: په مَدَني قافِلو کښې د سفر ترغِیب جاري ساتئ، هر ذِمّه دار ته پکار دي چه په خپله خپله حلقه کښې د اَهلِ محبّت شخصیاتو دومره ذِهن خو جوړ کړي چه تاسو مهرباني وکړئ او د مَدَني قافِلو د مسافرو او د هغوئ د کور والؤ په حوصله افزائي کښې زمونږ سره مرسته کوئ. مَثَلًا یو اسلامي ورور د یوې میاشتې د پاره په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر مسافِر دې، د هغه کور ته د خپلې علاقې مشهور عالِم یا ډي.ایس.پي یا ایس.ایچ.او یا ایم. پي.اے یا ایم.این.اے یا وزیر یا میجر یا کرنل یا بل یو اَهلِ مَحَبّت غټ افسر (که نه وي نو ورکوټې افسر) بوځئ او هغه دِ د کور خلقو ته مبارکي ورکړي چه تاسو ډیر خوش نصیبه ئې چه ستاسو ځوئ یا ورور د یوې میاشتې په مَدَني قافِله کښې سفر اختیار کړې دې، د هغوئ د غیر موجودګئ په وجه که تاسو ته څه تکلیفونه وي نو هم صبر کوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ثواب به مو کیږي وغیره.که ''شخصیت'' تاسو سره د تلَلو د پاره وخت نه شي وِیستلې نو کم نه کم د هغوئ په ذریعه په فون باندې د ذِکر کړې شوو خبرو ترکِیب جوړ کړئ، که زباني [یعني په یادو د دې] الفاظو په ادا کولو کښې مشکِلات وي نو ''شخصیت'' ته [هغه جُملې] لیکلې ورکړئ او هغوئ دِ ترکیب جوړ کړي او که کیدې شي نو د شخصِیّت د کور یوه د زیات عُمر اسلامي خور دِ هم تشریف یوسي یا دِ په فون باندې د مَدَني قافِلې د مسافِر د کور د اسلامي خویندو سره هم داسې ترکیب جوړ کړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی مدینه مدینه ترکیب به جوړ شي.

ذِمّه داران دِ هم د مَدَني قافِلې والؤ ترکیب جوړوي

سوال: آیا صِرف د شخصِیّاتو په ذریعه تَسَلّي ورکول ضروري دي؟

جواب: د شخصِیّاتو اثر به ډیر پریوځي. تاسو پخپله غور وکړئ چه ستاسو په غیر موجودګئ کښې یو وزیر هم په دې سلسله کښې ستاسو کور ته لاړ شي نو په دې به ستاسو د خاندان، بلکه په

پوره محلّه کښې د دعوتِ اسلامي څومره نیك نامي وشي! اراکِینِ شورىٰ او نور ذِمّه داران دِ هم دغسې ترکیب فرمائي او هم دا ذِمّه داران دِ د یوې میاشتې یا د دې نه زیات خاص طور نورو ملکونو ته په مَدَني قافله کښې د سُنَّتو ډك سفر کوونکو سره په هفته، لس ورځو کښې یو ځل په فون باندې دُعا سلام کوي او د موقعې په مناسَبَت دِ په هغوئي باندې د سفر موده د زیاتولو د پاره اِنفِرادي کوشش هم کوي، مَثَلًا د یوې میاشتې د مَدَني قافِلې مسافِر ته دِ داسې اُووائي چه: که د چا حق تلفي نه کیږي او بغیر د څه ګناه نه حصاریدې شئ نو ۹۲ ورځې سفر مکمل کړئ ځکه چه د اللہ تعالیٰ د لارې د مُسافر خو لکه چه یوه یوه ساه په عِبادت کښې تیریږي.

د مَدَني قافِلې نه په بیرته راتلو "استقبالیه اِجتِماع"

سوال: کوم عاشِقانِ رسُول چه د مَدَني قافلې نه بیرته تشریف راوړي، د هغوئي سره داسې څه ترکِیب وکړې شي چه په هغې د دِین نوره فائِده هم وشي؟

جواب: که د دولسو ورځو یا د یوې میاشتې د سُنَّتو ډکې مَدَني قافِلې د سفر نه پس راغلي وي نو که کیدې شي نو د محَلّې په جُمات کښې دِ د هغوئي "استقبالیه اِجتِماع" وکړې شي او په هغې کښې دِ مُختَصر شان د سُنَّتو ډك بیان وکړې شي، هغه عاشِقانِ رسُول ته دِ ښه ډیره ډیره مُبارکي ورکړې شي او که کیدې شي نو د مَدَني رسالو تُحفه دِ هم ورته وړاندې کړې شي او خُصوصاً په هغوئي کښې چه کوم نوي اسلامي ورونړه وي هغوئي دِ خپل تاثُرات [یعني خیالات] هم بیان کړي او د هغه ځائ نه دِ سمدستي نورې مَدَني قافِلې تیارې کړې شي. بیا چرې نزدې د چا په کور کښې یا د اِمام صاحِب په حُجره کښې که د لنګرِ رَضَوِیّه په ذریعه د هغوئي د خیرخواهئ [یعني میلمستیا] ترکیب وکړې شي نو مَدِینه مَدِینه. که زما د دې مَدَني تجوِیز په مطابق ترکیب وکړئ نو اِنْ شَآءاللّٰه تعالیٰ د مَدَني قافِلې د مُسافرو د سفر ټوله ستوماني به ختمه شي او که چا ته د سفر په دوران کښې څه خفګان پیښ شوې وي نو اِنْ شَآءاللّٰه تعالیٰ هغه به هم ختم شي او د بیا د پاره به پکښې د سُنَّتو ډك سفر کولو حوصله هُم پیدا شي او اِنْ شَآءاللّٰه تعالیٰ هر طرف ته به د مَدَني قافلو سپرلي راشي. خو دا کارونه هیڅ کله هم د چندې په ذریعه کول نه دي پکار، که څوك څه کوي

www.dawateislami.net

نو د خپل جیب نه دِ ئې وکړي. که پیسې نه وي نو بیشکه صرف اوبه پرې وڅښئ او که یو مُخَیّر اسلامي ورور ئې خپل کور ته بوځي یا په خپل کور کښې د ډوډۍ بندوبست وکړي او [جُمات ته] ئې راوړي نو هم باك نشته.

د مَدَني قافِلو د خیر خواهۍ [یعني میلمستیا] حِکمتونه

سوال: د عاشِقانِ رسُول د خیر خواهۍ حِکمتونه بیان کړئ.

جواب: که تاسو علاقې ته د تشریف راوړونکې مَدَني قافِلې د اخلاص په نِیَّت خیر خواهي وکړئ یعني ډوډۍ وغیره پرې اُوخورئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ثواب انبارونه به وګټئ او د عاشِقانِ رسُول زړونه به خوشحاله شي. د حضرتِ سَیِّدُنا بِشرِ حافي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه قول دي: **د یو مسلمان زړه خوشحالول د سلو (نفلي) حجونو نه غوره دي.** (ماخوذ از کیمیائے سعادت ج۲ ص۷۵۱) که [په قافِله کښې] د چا زړه نه لګي یا په نیمه کښې د قافِله پرېښودلو او بیرته کور ته د تلَلو سوچونه کوي نو کیدې شي چه ستاسو په اخلاص سره د خیر خواهۍ [یعني میلمستیا] کولو په وجه د هغه زړه [په قافِله کښې] ولګي یا په چا کښې داسې جذبه راپیدا شي چه هغه سمدستي د خپل سفر وخت د زیاتولو د پاره تیار شي. په داسې کولو به تاسو د دِینِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مددګار وګرځولې شئ. د دِینِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مدد کوونکو د پاره په هره جُمُعه او په اخترو کښې بیشمیره خطبه وئیونکي دُعاګانې کوي بلکه دا دُعاګانې بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ الْمُبِین د سوونو کلونو نه کوي. دا دُعا **زما آقا** اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه احمد رضا خان عَلَیْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن هم په "خُطباتِ رَضَوِیّه" کښې شامِله کړې ده. هغه دُعا دا ده: **اَللّٰهُمَّ انْصُرْ مَنْ نَّصَرَ دِیْنَ سَیِّدِنَا وَمَوْلٰنَا مُحَمَّدٍ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِیْنَ وَبَارَکَ وَسَلَّم۔** یعني اے الله (عَزَّوَجَلَّ)! څوك چه د دِین مُحَمّدِ مَدَني صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدد وکړي ته هم د هغه مدد اُوفرمائې.

سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! د نیکۍ د دعوت ورکوونکو، په مَدَني قافلو کښې د سفر کونکو، درس او بیان کونکو، اِنفِرادي کوشش کونکو، د عاشِقانِ رسُول خیرخواهي [یعني میلمستیا] کونکو، د

مَدَني قافِلې د غريبانانو مسافرو د پاره مالي تعاون کونکو او په هر شان د دِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد کونکو ته دِ مبارك شي چه د هغوئي د پاره د سوونو کلونو نه د **الله** تعالٰی نيك بندگان دُعاگانې کوي. اے د دِينِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مددگارو! يقيناً د رَبِّ ذُالجَلال عَزَّوَجَلَّ مدد چه د چا سره ملگرې شي د هغه په دواړو جهانو کښې بيړئ پوريوځي، د **الله** تعالٰی **په مدد به** [راروان] **غټ غټ مصيبتونه لرې کيږي او مونږ به د هغې نه خبر هم نه يو. د خطبې** والا دُعا نه پس نور هم څه دي او هغه دا دي **وَاخْذُلْ مَنْ خَذَلَ دِيْنَ سَيِّدِنَا وَمَوْلٰنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَبَارَكَ وَسَلَّم۔** يعني اے الله (عَزَّوَجَلَّ)! څوك چه دِينِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بې اسره او بې مدده پريږدي ته هغه بې اسره او بې مدده پريږدې.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د يَرې مُقام دې چه کوم کوم ځائ واجِب دي او هلته هم مونږه د دِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد کونکي جوړ نه شو نو چرې برباد نه شو. **الله** تعالٰی چه د چا مدد ونه فرمائي نو يقيناً هغه هيڅ څوك هم پاتې نه شو. هم په دې دُعا کښې مخکښې دا هم دي: **رَبَّنَا يَا مَوْلٰينَا وَلَا تَجْعَلْنَا مِنْهُم** يعني " اے زمونږه پروردگاره! اے زمونږه مالِك و مولٰی عَزَّوَجَلَّ! مونږه د دِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مدد نه په محرومه پاتې کيدونکو خلقو کښې مه کړې." يقيناً لـمونځ او روژه د اوچتې درجې عِبادتونه دي خو د دې ادا کول د دِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د امداد په زُمره کښې نه راځي مونږ هر يو ته پکار دي چه غور وکړو چه مونږ د ځان د پاره دُعا اخلو يا ښيرې اخلو! هر هغه کار چه په هغې د اسلام تَرقّي وشي د دِينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد دې يعني چه کُفّار پرې اسلام ته راداخِل شي او د بې لارې مسلمانانو اِصلاح پرې وشي. بس د نيکئ دعوت ډير عام کړئ، په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو ډك سفر کوئ، پخپله هم سُنّتونه زده کوئ او نورو ته ئې هم ښائې او دغسې د دِينِ خُدا و مصطفٰی ډير ډير مدد وکړئ او د **الله** تعالٰی د اِمداد زيرې حاصل کړئ ځکه چه پخپله د هغه وعده ده، چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعَتي ادارې **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي د ترجَمې والا پاکِيزه قُرآن **"كنزُالايمان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرفان"** صفحه ۹۳۲ پاره ۲۶ **سُوْرَۂ مُحَمَّد** آيت ۷ کښې اِرشادِ پاك دې:

www.dawateislami.net

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَ يُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴿۷﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: اے اِیمان والؤ! که تاسو د الله د دِین مدد وکړئ نو الله به ستاسو مدد کوي او ستاسو ښېې به ټینګې کړي.

د الله تعالیٰ د مدد به څه وائې! حضرتِ صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خزائِنُ العِرفان کښې د دې آیتِ کریمه نه لاندې فرمائي: د دُښمن په مقابله کښې به مو مدد کیږي، د اِسلام حُجّت او په پُل صِراط به درته ثابِت قَدَمي نصیب کیږي. (مُلَخَّص از خزائنُ العرفان ص ۹۳۲)

خلق زمونږه خبره نه مني

سوال: بعضې مُبَلِّغِین د نیکئ په کارونو کښې سست پریوځي او وائي چه مونږه ډیر کوشش وکړو خو کامیاب نه شو خلق زمونږه خبره هډو مني نه، نو مونږه څنګه وکړو؟

جواب: زمونږ په خلقو کښې دا عام غوندې دستور دې چه په اِجتِماع کښې ګنړ خلق اُووِیني نو وائي اِجتِماع ډیره کامیابه شوه او که خلق لږ وي نو وائي اِجتِماع ناکامه شوه، یا داسې اعلان کیږي زیات نه زیات خلق شرکت وکړئ او محفِل کامیاب کړئ حالانکه د حقیقي کامیابئ دارومدار د خلقو په زیات والي او کمي نه دې بلکه د الله تعالیٰ په رضا موقوف دې. چه یو طرف ته یو څو مُخلِص کسان ډیر د زړه په درد په ذِکر کولو او نعت وئیلو او بیان کولو او اوریدلو کښې مشغول وي او بل طرف ته هم په دغسې یوه مذهبي اِجتِماع کښې غټ غټ دُنیاوي کسان راجمع شوي وي او د اخباري نُمائِندګانو او کیمره مینانو ګنړه وي او د ډیر ښائِسته ځائ جوړَوَلو وغیره په وجه د خلقو ډیره ګنړه وي نو بیشکه د عام رواج مطابق به دې غونډې ته کامیابه وئیلې شي خو چه صحیح فِکر وکړې شي نو د الله تعالیٰ په بارګاه کښې اَوَّلُ الذِّکر (یعني کوم چه مخکښې یاد شوه) هغه د یو څو کسانو د مَجلِس د قبلیدو زیات اِمکانات دي. اوس چه کوم مُبَلِّغِین د ناکامئ کِیله کوي او سست پریوتي دي د هغوئ په خِدمت کښې عرض دې چه تاسو اوّل خو د کامیابئ په معنٰی پوهه شوي نه ئې، که دا ذهن مو جوړ شي چه کامیابي صرف ګنړې ګُونړي ته نه وائي بلکه د

www.dawateislami.net

الله تعالیٰ رضا ته ئې وائي نو کله به هم زړه نه وهئ. بله خبره دا چه د هغوئي په زړه کښې دا خبره پریوته چه "خلق زمونږه خبره نه مني" نو په ادب سره عرض کووم چه تاسو ته په خلقو باندې د "مَنَلو" ذمّه واري چا سپارلې ده؟ انبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَام ته هم په خلقو د مَنَلو نه بلکه د [پیغام د] "**رَسَوَلو**" ذِمّه واري ورکړې شوي وه. هغوئي مبارکو حَضَراتو تبلیغ اُوفرمائیلو او د تبلَیغ مطلب "**رَسَوَل**" دي په چا "مَنَل" نه دي. د قُرآنِ مَجِید په دوه ویشتمه سیپاره کښې د **سُوْرَۂ یٰسٓ** په آیت ۱۷ کښې د حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْهِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د اُمَّت د مُبَلِّغِینو قول نقل کوي:

وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۷﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالایمان: او زمونږ په غاړه نه دي خو صفا رَسَوَل.

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "بعضې نبیان داسې هم دي چه د هغوئي خبره هیڅ چا هم ونه مَنَله او بعضې داسې دي چه د هغوئی یو یا دوه کسانو اِطاعت وکړو." (مِراٰۃُ المَناجیح ج۱ ص۱۵۹) یقیناً د دې باوجُود هم هر نبی عَلَیْهِ السَّلَام د تبلِیغ ذِمّه واري سل په سله مُکمّله پوره کړه، یوه هم کوتاهي ونکړه، لِهٰذا زما ساده ساده مُبَلِّغینو! د شیطان په فریب کښې مه راځئ، ستاسو او زمونږ د ټولو د کامیابئ د پاره دا هډو شرط نه دې چه خلق ئې اُومني بلکه په مونږه کښې هغه اسلامي ورور کامیاب دې چه هغه په اِخلاص سره د نیکۍ دعوت رَسَوَلو کښې کامیاب شي. مونږه د نیکۍ دعوت ورکوو، د دعوت مطلب "راوستل" نه بلکه "راغوښتل" دي. یعني مونږه د نیکۍ طرف ته رابلل کوو، په مونږه د راوستلو یا په چا د مَنَلو ذِمّه واري نشته. دا د **الله** تعالیٰ په ذِمّۂ کرم دي چه هغه د چا د پاره غواړي هغه ته زمونږه د نیکۍ دعوت د قبلولو توفِیق ورکړي. خو یو **مَدَنِي گل** ضرور دلته د تَوَجُّه قابِل دې، هغه دا چه کله زمونږ د کوشش باوجود په یو مسلمان باندې خبره اثر ونکړي نو زمونږ د پاره ضروري دي چه مونږه د هغه د غِیبت نه او په هغه د بُهتان لګولو نه د بچ کیدو د پاره هغه ته **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ د سخت زړه والا، یا بې پرواه نه وائیو. هسې نه چه د مُستَحب کار د پاره اُوځو او د کبِیره ګناهونو بوج په سر راوړو! **وَالعِیَاذُ بِاللهِ تعالیٰ** (یعني د الله تعالیٰ پناه) په داسې موقع باندې مونږ ته د خپل اِخلاص کمې او د دعوت ورکولو د انداز خپله کوتاهي منل پکار دي او ښه په توبه او اِستِغفار کولو سره د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې

www.dawateislami.net

په وسیله د مُصطفٰی و انبیاء صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم و عَلَیْہِمُ السَّلَام و صحابه و اولیاءد خلقو د اصلاح د پاره دُعا کول پکار دي.

د مُخالفتونو په زور کښې څنګه مَدَني کار وکړو؟

سوال: په بعضو علاقو کښې مَدَني کارونه کونکي ډېر کم وي، د مخالَفَت زور او د پیغورونو شور وي [په داسې حالت کښې] د کار کولو هِمَّت نه شو کولې، څه فائِده منده مَدَني مشوره راکړئ.

جواب: د صبر او هِمَّت سره کار جاري ساتئ، خپل اعمال صحیح کړئ، نیکان خلق تلاش کړئ او د هغوئي بَرَکتونه واخلئ، د نیکانو خلقو په نزدیکت کښې ډېر بَرَکتونه وي څنګه چه د حضرتِ سیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دې چه د خَاتَمُ النَّبِیّین، رَحْمَۃٌ لِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د برَکتونو نه ډك فرمانِ دې چه: اللّٰه تعالٰی د یو صالِح (یعني نیك) مسلمان په بَرَکت د هغه د ګاونډ د سلو کورونو نه بَلا [یعني مُصیبَت] لرې کوي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوسط لِلطَّبَرانی ج۳ ص ۱۲۹ حدیث ۴۰۸۰)

د طالوت او جالوت قُرآنی حِکایت

معلومه شوه چه د نیکانو قُرب [یعني نزدِیکت] فائده رَسَوي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د هغوئي په دُعاګانو به ستاسو د علاقې حالت بدل شي باقي دا یاده ساتئ چه د کامیابئ دارومدار په قِلَّت او کثرت [یعني د شمیر په کمي او زیاتي] نه دې په خُلوص او لِلّٰهِیَّت دې، د مخالَفَت نه مه یریږئ ځکه چه د اِمتِحان په وخت کښې یَریدل د نارینۍ کار نه دې، اُوکورئ، چه کله حضرتِ سَیِّدُنا طالُوت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بنی اِسرائیل لښکر د ځان سره کړو او د ظالِم بادشاه جالُوت د مقابَلې د پاره د بَیتُ الـمقدس نه روان شو نو د هغوئي د لښکر داسې ازمیښت واغستې شو:

قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِیْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَیْسَ مِنِّیْ ۚ وَ مَنْ لَّمْ یَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّیْۤ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِیَدِهٖ ۚ

(پ: ۲، البقرة: ۲۴۹)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: (طالُوت) اُووئیل بیشکه اللّٰه به ستاسو په یو نهر اَزمَیښت کوي، نو څوك چه د هغې نه اوبه وڅښي هغه زما نه دې او څوك ئې چه ونه څښي هغه زما دې مګر هغه چه څوك یو چونګ په خپل لاس راواخلي.

www.dawateislami.net

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعِیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په تَفسِیر "خَزائِنُ العِرفان" کښې د دې آیت نه لاندې لیکي: سخته ګرمي وه صِرف ۳۱۳ کسانو صبر وکړو او صِرف یو چونګ اوبه ئې واغستې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه یو چونګ د هغوئي د پاره او د هغوئي د څاروو د پاره کافي شو او چا چه بې صبري کړې وه او ښې ډېرې اوبه ئې څښلې وې د هغوئي شونډې تورې شوې، تنده ئې نوره زیاته شوه او هِمَّت ئې اُوبیلو. د جالُوت د عظیم لښکر سره د ۳۱۳ مسلمانانو مقابَله وه، هغوئي اِطاعت ګُزار [یعني منونکي] وو او حوصلې ئې مضبوطې وې، د هغوئي نقشه هم په دې آیت کښې په داسې دَوَل پیش کړې شوې ده:

قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْیَوْمَ بِجَالُوْتَ وَ جُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِیْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِیْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۲۴۹﴾ (پ:۲،البقرة:۲۴۹)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: (بې صبرو) اُووئیل: مونږ نن د جالوت او د هغه د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو. اُووئیل هغوئي، چه د **الله** سره د ملاقات یقین ئې لاره (یعني صبر کوونکو اُووئیل چه) ډېر ځله لږې ډلې غلبه موندلې ده په ډېرې ډلې د **الله** په حُکم، او **الله** د صبر کونکوسره دې.

د حضرتِ سیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام والِد **اِیشا** د خپلو ټولو ځامنو سره د حضرتِ سَیِّدُنا **طالُوت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په لښکر کښې شامِل وو حضرتِ سَیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام په ټولو ورونړو کښې کشر وو، رنګ ئې زیَړ وو او بیمار وو. د **الله** تعالٰی شان اُوګورئ چه حضرتِ سَیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام په مچوغَنده [یعني چنوزغه] کښې کانړې کیښودو او د جالُوت بادشاه مخې ته ورغلو، هغه ډېر غټ وجود، ډېر زیات طاقت او ډېر اوچته وَنه لرله، خو چه څنګه ئې نظر په **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام پریوتو نو وَیَریدو خو بیا هغه خپله حوصله لږه سمه کړه او د تَکَبُّر نه ډکې خبرې ئې شروع کړې او د رُعب اَچولو کوشش ئې وکړو. حضرتِ سَیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام د مچوغَندې [یعني چنوزغې] په کانړې د هغه سر په نښه کړو او چه ګُزار ئې پرې وکړو نو کانړې د هغه د سر نه اخوا اُووَتو او هغه د غوښو غر راپریوتو، یو درز ئې وکړو او په لتو وهلو وهلو مړ شو. **الله** تعالٰی د ۳۱۳ کسانو وړوکي قافِلې ته د جالُوت د عظیم لښکر په مقابله کښې شانداره فتح ورکړه سَیِّدُنا **طالُوت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د حضرتِ سَیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ

www.dawateislami.net

السَّلَام په نِکاح کښې خپله شهزادګئ ورکړه او هغوئ ته ئې نیمه بادشاهي حواله کړه بیا یو موده پس چه کله حضرتِ سیِّدُنا **طالُوت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دُنیا نه پرده وکړه نو په باقي ټول ملك باندې هم د حضرتِ سیِّدُنا **داؤد** عَلَیْهِ السَّلَام بادشاهي قائمه شوه. (مُلَخَّص از تفسیر خزائنُ العرفان ص ۸۵، ۸۶)

د بادشاه د ګناهونو هُمره په دوزخ کښې ننوتو

د **ذاتي** مفاداتو د پاره د "شخصیاتو" مَثَلًا د مالدارانو، لیډرانو، افسرانو او حُکومتي کسانو وغیره سره د تعَلُّق ساتلو نه عوام او خواص ټولو ته بچ کیدل پکار دي او خصوصاً عُلَماءِ کرام ته خو د ډیر زیات احتیاط ضرورت دې. د حضرتِ سَیِّدُنا مُعاذ بِن جبل رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې: "چه کله چا قرآن ولوستو او **تَفَقُّه فِی الدِّین** ئې حاصل کړو (یعني عالِم جوړ شو) بیا د بادشاه دروازې له د هغه د خوشامدې او د مال په لالچ کښې ورغې نو هغه د بادشاه د ګناهونو هُمره د دوزخ په اور کښې ننوتو." (اَلفِردَوس بِمأثُورِ الخَطّاب ج۱ ص۲۸۹ حدیث ۱۱۳٤)

د ظالِم د مخ په لِیدَلو زړه توریږي

په **کِتاب** "**مُفتِیٔ اعظم کی اِستِقامت و کرامت**" صفحه ۱۱۱ کښې دي چه: په سبع سَنابِل شریف کښې دي چه د وخت بادشاه هارون رشید د **اِمامُ الاَصفِیاء** حضرتِ **داؤد** طائي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه سره ملاقات کول غوښتل نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه انکار وکړو او د حضرتِ سَیِّدُنا امام ابو یوسُف رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په حواله ئې دا رِوایت بیان کړو چه **رُؤیَةُ وَجْهِ الظَّالِمِ تُسَوِّدُ الْقُلُوبَ** یعني د ظالِم مخ لیدل زړه تورَوي. (سَبعِ سَنابِل ص ۹۵)

مُفتِیٔ اعظم هِند به د حُکمرانانو نه ډډه کوله

تاجدارِ اَهلِسُنَّت، شهزادۂ اعلٰی حضرت، حُضُور مُفتِیٔ اعظم حضرتِ علّامه مولانا مُصطفٰی رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه به د وزیرانو او حُکومتي ارکانو نه همیشه ډډه کوله چنانچه رَئِیسُ القَلَم حضرتِ علّامه اَرشَدُ القادِري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: او دا هم د دِیني غیرت یوه بې مِثاله نمونه ده چه (سرکار مُفتِیٔ اعظم هِند رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) د دوه نوي [۹۲] کالو په اوګد عمر کښې کله هم نه د مُلك د یو سربراه کور ته تلې وو او نه د

www.dawateislami.net

یو غټ نه غټ حُکمران بنګلې ته تلې وو بلکه حیرانونکي خبره ده چه د مُملِکتونو ډیرو سربراهانو او د وخت ډیرو حُکمرانانو به پخپله د هغوئي په مَجلِس کښې د حاضریدو اِجازت غوښتلو او مُفتیِ اعظم (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) به د ملاقات نه انکار کولو او دا به ئې فرمائیل چه د یو درویش د بادشاهانو او حُکومتي عُهده دارو سره څه کار دې؟ (مُفتیِ اعظم کی اِستِقامت و کرامت ص۱۱۰)

کروں مدح اہلِ دُوَل رضاؔ پڑے اِس بلا میں مِری بلا
میں گدا ہوں اپنے کریم کا مرا دین پا رہ ناں نہیں (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د کلام د دې مَقطَع مطلب دې، اے رضا زه [ولې] د مالدارانو او د دُنیا د نوابانو او حُکمرانانو صِفَت او خوشامدي وکړم؟ نه، نه په دې بَلا یعني د مالدارانو د خوشامدئ په آفت او مُصیبت کښې دِ زما بلا اخته شي! (یعني زه داسې بالکل نه شم کولې) بس زه خو د خپل رسولِ کریم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار ملنګ یم، زما دِین د "ډوډئ ټُکړه" نه ده (یعني زه د مال وږې نه یم چه د مال د پاره خپل دِین خرڅ کړم)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د والِد صاحِب ترکیب جوړ شو نو په کور کښې مَدَني ماحول جوړ شو

صرف ځلمي کس ته د نیکۍ د دعوت ورکولو توَجُّه ولې؟ د کور په مشرانو باندې د توجُّه کولو زیات ضرورت دې که هغوئي په ترکیب کښې راغلل نو په کور کښې په تیزئ سره **مَدَني ماحول** جوړیدې شي او په ټول خاندان کښې د لمونځونو او سُنّتو سپرلي راتلې شي، د دې خبرې تصدیق د دې **مَدَني سپرلي** نه کیدې شي څنګه چه (د پاکستان) د ضِلع قُصُور د تحصِیل **پتوکي** د یوې اسلامي خور د بیان خلاصه ده چه د معاشرې د ډیرو کورونو په شان زمونږ په کور کښې هم په ټي وي باندې فلمونه، ډرامې او د ګناهونو ډک پروګرامونه کتلې شو، په داسې سپیره صورتِ حال کښې په کور کښې مَدَني ماحول څنګه جوړیدې شو! زمونږه خوش قِسمتي چه د ټولو نه مخکښې زما مشر ورور د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامل شو، هغه به مونږه ډیر پوهه کولو، ډیر زیات **اِنفِرادي کوشش** به ئې راباندې کولو خو مونږه به پرې څه غوږ نه ګرَوَلو. په کور

www.dawateislami.net

کښې د ټي‌وي د موجودګۍ په وجه به هم مشر ورور **پریشانه** اوسیدو، ځکه چه دا په کور کښې د سُنَّتو ډك ماحول جوړیدو کښې یو ډیر غټ رُکاوټ وو، هغه ټي‌وي د کوره وِیستل غوښتل خو هیڅ ئې هم نه شو کولې. یوه ورځ مونږه په کور کښې په ټي‌وي باندې د ډرامې کتلو نه چه څنګه وزګار شو نو مشر ورور مو راغلو او هغوئې په ټیپ ریکارډر باندې د مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ جاري کړې د سُنَّتو ډك د بیان یو کیسټ ولګولو. د بیان انداز ډیر زړه راښکونکې وو نو ځکه مونږه په ډیره توجُّه سره اوریدلو. په هغه بیان کښې چه کله مُبَلِّغ د ټي‌وي **تباه کارئ** بیان کړې نو مونږه د آخِرت د بربادیدو د اندیښنې په وجه ډیر وَیَریدو، خاص طور والِد صاحِب خو د یَرې نه په **رپیدو** شو. چه کله بیان ختم شو نو والِد صاحِب په اوچت آواز کښې خپله فیصله واورَوَله چه: نور به په دې کور کښې ټي‌وي نه چلیږي. د کور ټول کسان په هُم هغه ساعت بام [یعني چت] ته وختل او د ټي‌وي انټینا ئې غوزاره کړه او ټي‌وي ئې د کوره اُوویستو. څه ورځې پس مې وړوکې ورور پلار ته د ټي وي بیا راوړولو مطالبه وکړه خو پلار مې د جوش په انداز کښې اُووئیل: نور به په دې کور کښې یا ټي‌وي وي او یا به زه یم. دا ئې چه واوریدل نو ورور مې ټي‌وي یادول پرېښودل. دغسې د دعوتِ اسلامي په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه کور د فِلمونو ډرامو او سندرو د سپېره والي نه پاك شو او ټولې کورنۍ د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره تړون وکړو.

تِرا شکر مولا دیا مَدَنی ماحول — نہ چُھوٹے کبھی بھی خدا مَدَنی ماحول
سلامت رہے یا خدا مَدَنی ماحول — بچے بد نظر سے سدا مَدَنی ماحول (وَسائلِ بخشِش)

شکر دې ستا مولا راکړو تا مَدَني ماحول — هیڅ کله چه پرېږ نه دم یا خُدا مَدَني ماحول
سلامت لرې هر دَم یا خُدا مَدَني ماحول — بچ لرې د بد نظر نه سدا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! — صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

مَدَني چینل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا **مَدَني سپرلې** غالِباً د هغه وخت دې چه د عالَمِ اِسلام سل فیصده شَرعي چینل یعني "**مَدَني چینل**" لا نه وو جاري شوې. د ټي‌وي په غیرِ اِسلامي نشریاتو لکه فلمونو، ډرامو، سندرو او باجو، د زنانۀ په نُمائِشونو، د سازونو په غږیدو. په زنانۀ او سازونو ککړو خبرونو او په نورو غیر اخلاقي پروګرامونو زه نه مخکښې راضي ووم او نه پرې اوس راضي یم، هر هوښیار مسلمان په دې پوهیږي چه زمونږه د معاشرې په تباهۍ کښې د ټي‌وي ډیر لوئ کِردار دې! **مُبَلِّغِینِ** دعوتِ اِسلامي د ټي‌وي د تباه کارو خِلاف ښه پوره مُهِم وچلوو، په دې کوششونو کښې څه نه څه کامیابي هم وشوه چه د هغې یو ثبوت دا ذِکر شوې **مَدَني سپرلې** هم دې، خو په دې زمانه کښې په زرو کښې شاید چه تقریباً (۹۹۹) مسلمانان د ټي‌وي شوقیان شوي دي او غالِب اکثریت د دُنیا او آخِرت د ښه او بد نه بې پرواه د ټي‌وي د غیر شَرعي او غیر اخلاقي نشریاتو په کتلو کښې مشغول دي. د مسلمانانو د ټي‌وي د کتلو د لیونتوب د حده پورې د شوق لرلو په وجه شیطان د هغوئي د کِردار سره سره د هغوئي په اِسلامي اَقدارو هم حملې کوي. د اِبلِیس په تحرِیك د اسلام په جامو کښې پټ بعضې خلق اِسلام هم په ماډرن [یعني فیشني] انداز کښې د وړاندې کولو په غلطو کوششونو کښې مصروف دي، د اِسلام حقیقي رُوح د مسلمانانو د زړونو نه د وِیستلو کوششونه کیږي اوس که مونږه په جُماتونو وغیره کښې د ټي‌وي تباه کارئ بیان هم کړو نو د اوریدونکو شمیر څومره وي؟ ځکه چه په مُشکِله به ۵ فیصده مسلمانان لـمونځ کوي، په هغوئي کښې هم یو نِیم د مذهبي بیان اوریدو شوق لري، د دې نه علاوه اسلامي خویندو ته بیان څوك واوروي؟ که څه پرچۍ وغیره چاپ کړو نو د دِیني مطالَعه کونکو شمیر د مایوسه کونکي حده پورې کم دې! په دې ناسازه حالاتو کښې مونږ ته د دې خبرې ډیر زیات احساس وشو چه که د مسلمانانو د اصلاح کولو دائِره صرف د جُماتونو او د اجتِماعاتو د حده پورې ساتو نو د اُمّت غالِب اکثرِیّت ته زمونږه د درد نه ډك مَدَني پیغام هډو رسیدې نه شي او شیطاني طاقتونه به په یو طرفه طور د خپلو مختَلِفو چینلو په ذریعه د مسلمانانو د ګمراه کولو سلسله جاري ساتي. اغلب

www.dawateislami.net

[یعني ډېر زیات] گُمان دا دې چه د مسلمانانو د کورونو نه تېیوي وِیستل مشکِل څه چه تقریباً ناممکِن دي، بس صرف یو صورت ښکاره شو او هغه دا چه څنگه په دریاب کښې سیلاب راشي نو د هغې مخ پټو وغیره ته د اړَوَلو کوشش کیږي چه پټي هم اوبه شي او آبادئ هم د بربادئ نه بچ کړې شي، بالکل هم دغسې د تېیوي په ذریعه راغلي د بدتمیزئ د طوفان د مخ نِیوي د کوشش د پاره **هم د تېیوي په ذریعه د مسلمانانو کورونه ته داخِلیدل وشي** او هغوئي د غفلت د خوب نه رابیدار کړې شي او د گناهونو او د گُمراهو د سیلاب نه خبردار کړې شي. چنانچه کله چه دا معلومه شوه چه خپل داسې تېیوي **چینل** شروع کول ممکن دي چه په هغې د فلمونو، ډرامو، سندرو، باجو، سازونو او د زنانه د ښودلو نه بچ کیدل او **۱۰۰ فیصد اسلامي** مواد ښودل ممکن دي نو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي **مرکزی مجلسِ شوریٰ** په ډېر زیات جِدّوجَهد [یعني کوششونو] په رَمَضَانُ الْمُبَارَك (۱٤۲۹ھ بمطابق 2008ء) کښې د **مدني چینل** په ذریعه کور په کور د سُنَّتو پیغام عام کول شروع کړل او ډېر زر د یورپي مُلکونو سره سره د دُنیا په بیشمیره ملکونو کښې په تېیوي باندې **مدني چینل** کتل شروع شو او د انټرنیټ په ذریعه د دې لِیك د وخته پورې د دُنیا تقریباً په ۱۵۰ مُلکونو کښې **مدني چینل** داخل شوې دې او دغسې تقریباً یو نیم سل مُلکونو ته د دعوتِ اِسلامي پیغام رسیدلې دې. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مدني چینل حیرانونکي مدني نتیجې راتلَل شروع شوي دي. یقیناً د دې په دې برکت خو ماشوم هم پوهیږی چه تر څو پورې په تېیوي **مَدَني چینل** په کور یا دفتر وغیره کښې چلیږی نو کم از کم د هغه وخته پورې خو به مسلمانان د گناهونو نه ډکو چینلو نه بچ اوسي! اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ **مَدَني چینل** سل فیصده اسلامي چینل دې، نه په دې کښې موسیقي شته او نه پکښې د زنانه نُمائِش. په دې کښې کاروباري اِشتِهارونه (مشهوري) هم نه ښودل شي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دې اَخراجات [یعني خرچې] د مُخَیَّرو[1] مسلمانانو په عطیاتو [یعني چنده] پوره کیږي. په **مَدَني چینل** کښې څه دي؟ په دې کښې د فیضانِ قُرآن، فیضانِ حدیث، فیضانِ انبیاء، فیضانِ صحابه او د فیضانِ اولیاء معلوماتي رُوح تازه کوونکې سلسلې دي، په دې کښې

[1] دخیر په کارونو کښې د خرچ کوونکو

www.dawateislami.net

تِلاوتونه، نعتونه، منقبتونه او د دعوتِ اِسلامي مَدَني خبرونه او مَدَني خاکې دي، په دُعا او مُناجاتو کښې د ژړا او زارئ زړه نرموونکي او په عشقِ رسُول کښې د ژړلو او ژړوونکي رِقّت انګيز منظرونه دي، دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت، روحاني عِلاج، د سُنَّتو ډك **مَدَني ګلونه** او د آخِرت بهتر جوړَوَلو والا **مَدَني سپرلي** دي. په دې کښې د سُنَّتو ډك اِجتِماعات، مَدَني مُذاکرې، مَدَني مُکالَمې، د سحر په وخت کښې "کُھلے آنکھ صَلِّ عَلٰی کہتے کہتے" وغيره ډيرې سلسلې براهِ راست (LIVE) [يعني نيغ په نيغه] ښودلې شي. الغَرَض **مَدَني چينل** يو داسې چينل دې چه د دې په ذريعه انسان په خپل کور کښې ناست ښه ډير عِلمِ دِين زده کولې شي! د **مَدَني چينل** د مَدَني سپرلو به څه وائې! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **مَدَني چينل** په کتلو ډيرو غير مُسلِمو ته د اِيمان دولت نصيب شو، او خدائے خبر چه څومره "بيلـمانځه خلق"لـمونځ ګُزاره جوړ شو، ډيرو خلقو د ګناهونو نه توبه وکړه او د سُنَّتو ډك ژوند تيرول ئې شروع کړل. [هم دغسې] يو **مَدَني سپرلې** اُوګورئ.

چه کله ما ته د مَدَني چينل د کتلو سعادت نصيب شو

د **سردار آباد** (فيصل آباد پنجاب، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چه د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه يو لوفر او جنګيرې ځلمې ووم. اخلاق مې دومره کمزوري شوي وو چه په بدنظرئ [يعني غيرو زنانۀ ته په کتلو] کښې ما د هيڅ قِسم شرم نه محسوسولو، نه مې چا ته سلام کول غوښتل او نه مې د چا ادب کولو، غرض دا چه د سُنّتو د لارې نه ډير لرې د ګناهونو په خَټو کښې لت پت پروت ووم. آخِر د رحمتونو ډکې هوا زما کور ته هم مخه وکړه، هغه داسې چه يو ځل په خوش قِسمتئ سره ما ته د **مَدَني چينل** د کتلو سعادت نصيب شو، د خدائے شان اُوګورئ چه زما په شان په ګناهونو کښې د اخته انسان هم دا دومره خوښ شو چه ما هره ورځ د دې مختلِفې مَدَني سلسلې کتل شروع کړې. د **مَدَني چينل** د ټولو نه وړومبې اثر په ما دا ښکاره شو چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ما د **لـمانځه** د پاره جُمات ته تلَل شروع کړل. هلته مې يوه ورځ د يو عاشِقِ رسول د سُنّتو پابند يو مُبَلِّغِ دعوتِ اِسلامي سره ملاقات وشو، د هغوئي سره په

www.dawateislami.net

ملاقات کولو زما زړه ته ډېر سکون حاصِل شو. هغه اِسلامي ورور یوه ورځ زما دُکان ته تشریف راوړو او ما ته ئې د "**نیکئ دعوت**" راکړو. د هغه د "نیکئ د دعوت" په بَرَکت ما په ژوند کښې وړومبي ځل د **دعوتِ اِسلامي** په هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شِرکت وکړو. هلته کیدونکي تِلاوت، نعت شریف، د سُنَّتو ډك بیان، د ذِکرُالله آوازونو ما ته ډېر خوند راکړو، د اِجتِماع په آخِره کښې کیدونکې رِقّت انګیزه [یعني ژړوونکي] دُعا خو زما دومره خوښه شوه چه زه په **دعوتِ اِسلامي** عاشِق شوم، د هغې نه پس زما داسې حالت شو چه چرته به مې د شنې عمامې او سپین لِباس والا **عاشِقانِ رسُول** لیدل نو سترګې به مې یخیدلې. بیا د مَدَني ماحول په بَرَکت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ما د **سرکارِ مَدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **محبَّت** نښه ګِیره مُبارکه هم پرېښودله. د **الله** تعالٰی په رَحمت مې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك (۱۴۳۰ھ) کښې د دعوتِ اِسلامي په انتِظام کښې کیدونکي د یوې میاشتې په اعتکاف کښې د ناستې سعادت هم حاصل کړو. خپل دوه ورِیرونه مې هم په مَدرَسَةُ الْمَدینه کښې د قُرآن شریف د حِفظ کولو د پاره داخِل کړي دي، ما په خپل دُکان کښې دَ **فیضانِ سُنَّت** درس هم شروع کړې دې. **الله** تعالٰی دِ دعوتِ اسلامي ته شپه او ورځ ډېره زیاته ترقِّي ورکړي ولې چه دوئې دومره ښکلې **مَدَني چینل** جاري کړې دې چه زما په شان په ګناهونو کښې د اخته کس اِصلاح پرې وشوه، زما وړو وړو بچو ته د **مَدَني چینل** کتلو په وجه شاید دومره معلومات دي چه هغه ما ته اوس په دې عُمر کښې حاصل شو. "**واه څه به وائې د مَدَني چینل.**"

مَدَنی چینل سُنّتوں کی لائیگا گھر گھر بہار — مَدَنی چینل سے ہمیں کیوں والہانہ ہو نہ پیار
مَدَنی چینل کی مُہِم ہے نفس و شیطاں کے خلاف — جو بھی دیکھے گا کریگا اِن شاءَ اللہ اِعتِراف
راہِ سنّت پر چلاکر سب کو جنّت کی طرف
لے چلے بس اِک یہی ہے مَدَنی چینل کا ہَدَف (وسائلِ بخشش ص۶۰۵)

مَدَني چینل به جاري کړي کور په کور درسِ سُنّت
نو ولې به مونږ نه کړو د دې سره محبّت
د مَدَني چینل مُهِم دې د نفس او د شیطان خِلاف
څوك ئې چه هم ګوري نو کوي به اِن شآءَ الله اِعتِراف

www.dawateislami.net

چه روان کړي په لار ټول د سُنّت د جَنّت په طرف
ټول بوځي بس هم دا دې د مَدَني چينل هدف

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د بني اِسرائِيلو د تباهئ اسباب

د **حضرتِ** سَيِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه **د دواړو جهانو د سردار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد دې چه: په **بني اِسرائيلو** کښې چه د ټولو نه مخکښې په (دِين کښې) نقصان راغې هغه دا وو چه د يو کس به د بل سره ملاقات کيدو او (د هغه د يوې ګناه ليدلو په وجه به ئې) هغه ته وئيل: د **الله** تعالٰى نه وَيَريږه او داسې مه کوه ولې چه دا ستا د پاره حلال نه دي. صبا به ئې په ګناه کولو د ليدلو باوجود، د هغه سره د خپلو تعلُّقاتو، [د يو ځائ] خوراك څښاك او ناستې ولاړې په وجه هغه نه منع کولو، چه کله (عام طور) هغوئ داسې وکړل نو **الله** تعالٰى د هغوئ زړونه د يو بل سره ګډوَډ کړل. (يعني د نافرمانه خلقو د سپيره والي په وجه د فرمانبردارو زړونه هم د هغوئ په شان شو) بيا **حُضُور سرورِ کائِنات** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د دې حديث] په تائيد کښې د قُرآنِ کريم دا آيتونه ولوستل:

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۹﴾

(پ: ٦، المآئدة: ٧٨، ٧٩)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: لعنت کړې شوې دې په هغوئ چا چه کُفر وکړو په بني اِسرائيل کښې د **داوٗد** او د **مريم** د ځوئ **عِيسىٰ** په ژبه، دا بدله ده د هغوئ د نافرمانئ او سرکشئ. چه هغوئ به نه منع کولو يو بل د بدو کارونو نه، ضرور ډېر بد کارونه به ئې کول.

بيا سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: قَسم په خُدائے تعالٰى! تاسو [ته پکار دي چه] ضرور د نيکئ حُکم ورکوئ او د ګناهونو نه منع کوئ او ظالِم د ظُلم نه منع کوئ او هغه د حق خبرې طرف ته راښکاريئ، ګنې **الله** تعالٰى به ستاسو زړونه هم ګډوډ (يعني د نافرمانه خلقو د سپيره

www.dawateislami.net

والي په وجه د هغوئ په شان) کړي او په تاسو به هم لعنت اُوفرمائي، څنګه ئې چه په هغوئ لعنت فرمائیلې وو. (اَلسُّنَنُ الْکُبْرٰی لِلْبَیْهَقِی ج۱۰ ص ۱۵۹ حدیث ۲۰۱۹۶، ابوداؤد ج٤ ص ۱٦۲، ۱٦۳ حدیث ٤۳۳٦، ٤۳۳۷)

د بیان شوي حدیثِ مبارکه نه لاندې په "مِراٰةُ المَناجِیح" کښې دي چه: سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمّت اِختیار لرونکي او عُلَماء مُتَنَبِّه (یعني خبردار) کړل چه تاسو له د داسې کولو نه ځان ساتل ضروري دي او د بدئ کونکو لاس نیول ضروري دي، د مُنافَقَت (یعني د بدئ ختمولو د قدرت لرلو باوجود د یې ننګئ) او مُداهَنَت (یعني د لالچ یا د جانبدارئ په وجه د خاموشه پاتې کیدو) نه د کار اغستو په ځائ د غیرتِ اِیماني مُظاهَره کول او د اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر په باره کښې خپلې ذِمّه وارئ پوره کول ضروري دي، د ظالِم لاس نیول او هغه د حق په لاره راوستل ضروري دي ګنې تاسو به هم د بني اِسرائیلو په شان د لعنت حقدار وګرځئ. (مِراٰةُ المَناجِیح ج٦ ص ۵۱۳)

یا خدا ! نیکوں سے الفت نیکیوں سے پیار دے
جو کرے بدیوں سے نفرت وہ دل اے غفّار دے

یا اللہ راکړې د نیکئ سره مِینه مَحَبّت راکړې داسې زړه چه کوي د بدئ نه نفرت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دِین دوه حِصّې دِ ضائِع کړې

د اَمِیرُ المُؤمِنِین، اِمامُ الْعَادِلِین، مُتَمِّمُ الْاَربَعِین، حضرتِ سیِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په خِدمتِ بابَرَکت کښې یو کس حاضر شو او عرض ئې وکړو چه: زه د دوو نه علاوه د نیکئ ټول کارونه کووم. وئې فرمائیل: هغه دوه کارونه کوم کوم دي؟ عرض ئې وکړو: (۱) زه چا ته د نیکئ حُکم نه ورکووم او (۲) څوك د بدئ نه نه منع کووم. ارشاد ئې اُوفرمائیلو: تا د دِین دوه حِصّې لرې [یعني ضائِع] کړې، اوس د اللہ تعالیٰ خوښه ده که ستا بخښنه کوي او که تا په عذاب کښې اخته کوي. (اَحکامُ القُرآن لِلْجصاص ج۲ ص ٦۱۲)

اللہ میں دیتا ہی رہوں نیکی کی دعوت
ایسا مجھے جذبہ دے پئے شاہِ رسالت

www.dawateislami.net

الله چه ورکووم زه هر دم د نیکئ دعوت راکړې جذبه داسې په خاطر د شاهِ رِسالت

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

بې وسه مسلمانان

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه د نیکئ دعوت پرېښودونکې او نور خلق د بدو نه نه منع کونکې په ډېر غټ نقصان کښې دي. نن صبا چه د مسلمانانو څنګه حالت دې هغه د چا نه پټ نه دې، هر طرف ته د بې عَمَلئ دور دوره ده، عُموماً څوك يو بل په خطاګانو باندې د رټلو د پاره تيار نه دي، مسلمان عملي طور د تَنَزُّل [يعني مخ په ښکته] جَوَرې کندې ته په تيزئ سره غورزيږي، د پاك و هِند د مسلمانانو حالت خو شايد اوس هم غنِيمت دې که نورو **اِسلامي مُلکونو** ته لاړ شئ نو د مسلمانانو په حالت ليدلو که د وِينو اوښکې توئ کړئ نو هم کمه ده.

اولاد ته سُنّتونه زده کړئ ګنې پښيمانه به ئې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ رَجَبُ الْمُرَجَّب ۱٤۰٦ھ کښې سګِ مَدِينه عُفِيَ عَنْهُ ته د کربلائے مُعلّٰی او بَغداد شريف وغيره د مُقَدَّسو ښارونو د حاضِرئ سعادت نصيب شو، خو آه! د هغه ځائ د مسلمانانو د خراب حالت د بيانَوَلو مې ژبه او قلم طاقت نه لري، خو بيا هم يو څو خبرې د دې د پاره عرض کووم چه مونږه د **الله** تعالٰی د قهر و غضب نه وَيَريږو او **الله** تعالٰی دِ وکړي چه **د نيکئ د دعوت** عام کولو د پاره ملا وتړو، هسې نه چه زمونږه راتلونکې نسلونه تباه او برباد شي او ډېر بد انجام ته ورسي! ځکه چه حالت هم دغسې دې. موجوده تعليمي اِدارې او د هغې ماحول، د مور او پلار صرف يو خواهِش وي چه بچې مې دُنياوي تعليم حاصِل کړي او پوره ماډرن جوړ شي او ښه ډېر دولت وګټي، اګر چه [کيدې شي] چه د مغرِبي تهذيب [رسم و رواج] خوښونکې ماشوم چه کله ځلمې شي نو د مور او پلار نه مخ واړوي، يا د ځلمي کيدو نه مخکښې د مرګ غيږې ته لاړ شي او د مور او پلار د هغه د دولت ګټلو او خوړلو ارمانونه په خاورو کښې ګډ شي، د دې نه علاوه زمونږ د

www.dawateislami.net

ملك ذرائِعِ اِبلاغ (MEDIA) هم د اسلام په ښکلو اُصولو مسلسل خطرناکې حملې کوي، که هم داحالت وو نو زمونږه د راتلونکو نسلونو د هلاکت نه د بچ کیدو په ظاهِره څه لاره نه ښکاري.

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وَقتِ دُعا ہے — اُمّت پہ تِری آ کے عَجب وقت پڑا ہے
جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے — پردیس میں وہ آج غریبُ الغُربا ہے
وہ دین ہوئی بزمِ جہاں جس سے فَروزاں — اب اُس کی مجالس میں نہ بتّی نہ دِیا ہے
ڈر ہے کہیں یہ نام بھی مٹ جائے نہ آخر — مدّت سے اِسے دَورِ زماں مَیٹ رہا ہے
فریاد ہے اے کشتیٔ اُمّت کے نگہباں
بَیڑا یہ تباہی کے قریب آن لگا ہے

د شعرونو ترجَمه: (۱) اے په رسولانو کښې خاص رسوله! د دُعا وخت دې، ستاسو په اُمَّت باندې ډېر عجیبه وخت راغلې دې. (۲) کوم دِین چه په لوئ شان سره د وطن نه وَتلې وو، په پردیس کښې نن د هغې هیڅ تپوس نشته. (۳) هغه دِین چه په هغې ټول جهان روښانه شوې وو، نن د هغې په مجلِسونو کښې نه رڼرا شته او نه ډیوه. (٤) ویره ده چه آخِر چرې د دې دا نوم هم ختم نه شي، ولې چه د ډیرې مودې نه د دې د ختمولو کوشش کیږي. (٥) اے د اُمَّت د کِشتئ نګهبانه! فریاد دې، دا کِشتئ غرقیدو ته نِزدې شوې ده.

د عِراق د مسلمانانو زړه خُوګوونکې داستان

اوس د عِراق شریف د یو څو ورځو د سفر په باره کښې هغه خبرې بیانووم چه د هغې په اوریدو د اسلام د درد لرونکي ځیګر ټُکړې ټُکړې کیږي. چنانچه مونږه **درې اِسلامي ورونړه** په عِراقي جهاز کښې د بابُ المَدینه (کراچئ) د بَینَ الاقوامي اډې [اِئر پورټ] نه سواره شو، جهاز دوه ګینټې ناوخته والوَتو، جهاز لا په هوا کښې وو چه د ماښام د لـمانځه وخت شو، مونږه په جهاز کښې اذان وکړو او د جَمعې سره مو لـمونځ ادا کړو، د لـمانځه نه چه فارِغ شو او خپلو سِیټونو طرف ته راتلو نو عِراقي مسافرانو مونږ ته په ډیره حیرانتیا کتل او په لـمانځه کولو ئې مونږه ته د لـمانځه د قبولیَّت او د بَرَکت دُعاګانې کولې، لکه مونږه چه چرې ډیر غټ کمال کړې وي! په دې مونږ ته دا اندازه وشوه چه دوئې لـمونځ نه کوي خو لـمونځ خوښوي ضرور او عِراق شریف ته

www.dawateislami.net

چه ورسیدو او جُماتونه مو خالي ولیدل نو هم دا اندازه راته وشوه چه په زرو عِراقیانو کښې به چرې یو نِیم مسلمان لـمونځ کوي!!

د لـمانځه په ځائ کښې سندرې او سازونه

چه کله مونږه د عُرُوسُ الْبِلاد بغداد شریف په بَیْنَ الاقوامي مَطار [یعني اِئیر پورټ] کوز شو او د ماسخُتن د لـمانځه لپاره د مَطار (AIR PORT) یو جائے نَماز [د لـمانځه ځائ] ته ورغلو نو تاسو یقین وکړئ چه د هغه جائے نَماز [د لـمانځه ځائ] په دننه چت کښې سپیکر لګیدلې وو او باقاعِده د **سازونو** سره پکښې سندرې غږیدلې.!! آو بالکل هغه ځائ د لـمانځه د پاره مخصوص وو او په هغې ئې بهر په ښکاره الفاظو کښې لیکلي وو: هٰذا بَیْتُ الله یعني "دا د الله تعالیٰ کور دې." مونږه حیران پاتې شو مونږه ناشنا مسافر وو، په زړه کښې د بدو ګنړلو نه سِوا مو څه کولې شو! په داسې موقع باندې د بدو نه په منع کولو چه څوك قدرت نه لري نو هغه ته پکار دي چه هغه بد کار په زړه کښې ضرور بد وګنړي. څنګه چه په حدِیثِ پاك کښې دي: "چه کله په زمکه ګُناه وکړې شي نو چه څوك هلته موجود دې خو هغه بده ګنړي هغه د هغه **په شان** دې څوك چه هلته نشته. او څوك چه هلته نشته دې خو په هغې راضي دې هغه د هغه **په شان** دې څوك چه هلته حاضِر دې." (سُنَن ابی داؤد ج٤ ص ١٦٦ حدیث ٤٣٤٥)

کیا تَماشا ہے کہ اب ناقہ سُوارانِ عرب — پیروی کرتے ہیں یورپ کے حُدی خوانوں کی

څه تماشه ده چه اوس په اُوښه سوَرو عربو — انداز اختیار کړو د یورپ د سندر غاړو

د کُوفې په جامع مسجد کښې جُمُعه نه کیږي

آه! د کُوفې هغه جامِع مسجِد چه د هغې سره لګیدلې د حضرتِ مولائے کائِنات، عَلِیُّ الْمُرتضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم مزارِ مُبارك دې، هلته د زیارت د پاره مونږه د جُمعې د لـمانځه په وخت کښې حاضِر شو، د زیارت کونکو ډیره زیاته ګنړه وه. چه تپوس مو وکړو نو معلومه شوه چه دلته یو لـمونځ هم د جَمعې سره نه کیږي، تر دې چه د جُمعې لـمونځ هم پکښې نه کیږي .....!!

www.dawateislami.net

ټول ګِیره خَرَوونکي

په **بغدادِ مُعَلّٰی** کښې مونږ ته د دې خبرې ډېر زیات اِحساس وشو چه د دې ځائ مسلمانان د **مُسلماني شعائِرو** سره بالکل نابَلده شوي دي، ځکه چه عام طور یو مقامي اوسیدونکې کس د سره ګِیره نه پرېږدي، تر دې چه اِمامان، مُؤَذِّنان وغیره ټول ګیره خَرَوونکي وو!! ولې چه مونږ درې واړه ګیرو والا وو او عمامې مو په سر وې ځکه به چه مونږه د بغدادِ مُعَلّٰی کوڅو ته اُووَتلو نو خلقو به مونږ ته په ډېره حیرانتیا سره کتل او کله کله خو به دا نوبت راغې چه زمونږ نه به راتاو شو او دا عجِیبه تپوس به ئې را نه کولو: "هَلْ اَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ؟" یعني آیا تاسو مسلمانان ئې؟ چه کله به مونږه اِقرار وکړو چه "اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نَحْنُ مُسْلِمُوْنَ" یعني اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ مونږه مسلمانان یو" نو هغوئي به خوشحاله شو او مخکښې به تیر شو.

د شهادت په خوشحالئ کښې د زنانۀ ګډا

یو ځل "بابُ الشَّیخ" یعني د شَهنشاهِ بَغداد، **حضورِ غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د مزار مبارك والا په کوڅه کښې یو ډېر زیات بې هوده او شرمناك منظر وو، ډولکي وهل شو، سُرني غږېدل او د خلقو ډېره ګنړه وه او په مینځ کښې ئې بې پرده زنانه ګډېدلې، څه کسانو جنازه راغستې وه. دا منظر مو چه ولیدلو نو مونږه ډېر حیران شو. چه تپوس مو وکړو نو معلومه شوه چه دلته دا دَستور دې چه کله یو مسلمان د عِراق او اِیران په روان جنګ (چه په هغه ورځو کښې جاري وو) کښې شهید شي، د هغه اقرِبا [یعني خپلوان] د هغه شهید جنازه د حضور سَیِّدُنا **غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه روضې مبارکې ته د حاضِرئ د پاره راوړي او د هغه مَردِ مُجاهِد د "**شهادت په خوشحالئ**" کښې د هغه د خاندان زنانه دغسې په سرکونو باندې د جنازې سره سره په روانه روانه ګډا کوي.!!

درسِ قرآن اگر ہم نے نہ بھُلایا ہوتا　　یہ زمانہ نہ زمانے نے دِکھایا ہوتا

درسِ قُرآن که هیر کړې نه وو مونږه　　په زمانه کښې به رُسوا شوې نه وو مونږه

www.dawateislami.net

د قُرطبه په جامِع مسجِد کښې په لـمانځه کولو پابندي ده

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د عِراقي مسلمانانو په حالت لیدلو مې زړه ډېر خفه شو، کاش! چه هلته څه داسې مَدَني تحرِیك راپورته شي چه هغه **د نیکئ دعوت** عام کړي او یو ځل بیا هلته **سُنّتونه** عام شي او مسلمانان خپل پخواني شان و شوکت بیا حاصِل کړي. په **قُرطُبه** کښې نن چه کوم ځائ جامِع مسجِد موجود دې، په دې ځائ د بُت پرستو په زمانه کښې د هغوئي عبادت خانه وه، چه کله په اِسپین کښې عِیسائي مذهب خور شو نو هغوئي هغه ورانه کړه او په دې ځائ ئې **کلِیسا** [د عِیسایانو عِبادت خانه] جوړه کړه. چه کله مسلمانانو **قُرطُبه** فتح کړه نو کلِیسا د صُلح د شرائِطو مطابِق په دوه حِصُّو کښې تقسیم کړې شوه په یوه حِصّه کښې مسلمانانو "کلِیسا" پرېښوده او په بله حِصّه ئې "جُمات" جوړ کړو. خو چه کله **قُرطُبه** د مسلمانانو دارُالسَّلطَنت [دارُ الخِلافه] وټاکلې شوه او د دې ځائ [د مسلمانانو] آبادي په تیزئ سره زیاته شوه نو د جُمات حِصّه د مسلمانانو د پاره تنګه شوه تر دې چه کله د **عَبدُ الرَّحمٰن اَلدَّاخِل** حکومت راغې نو هغوئي ته د جامِع **قُرطُبه** د توسِیع [د فراخئ] سوال وړاندې کړې شو، کلِیسا په جُمات کښې د شامِلولو نه بغیر جُمات غټول نه شو کیدې، د دې د پاره عَبدُالرَّحمٰن اَلدَّاخِل د عِیسایانو نه زمکه په بیعه واخسته. غټه زمکه حاصِلولو نه پس هغوئي د جامِع قُرطُبه مسجِد تعمِیر د نوي سر نه شروع کړو، د جُمات نقشه ډېره عظِیمُ الشّانه وه او د هغې سر ته د رَسَولو د پاره ډېره موده پکار وه خو عَبدُالرَّحمٰن اَلدَّاخِل دوه کاله کښې (په ۱۷۲ھ) کښې وفات شو د هغوئي نه پس د هغوئي ځوئ **هَشّام** تعمِیر جاري وساتلو، وروسته بیا د **بني اُمَیَّه خُلَفاؤ** د دې جُمات نوره توسِیع [غټول] ډېر ځله وکړه، تر دې چه تعمیري کار په ۳۹۲ھ بمطابِق ۱۰۰۲ء کښې مُکَمّل شو، دغسې د قُرطُبه د تارِیخي جُمات په تعمِیري [یعني د جوړولو په] کار کښې زیات و کم **د دوو سوو کالو** موده ولګیده. **د قُرطُبه عظِیمُ الشّان مشهور جامِع مسجِد اګرچه د تارِیخي آثار په حیثِیَّت اوس هم موجود دې خو افسوس په کړونو افسوس! د مسلمانانو د بدو اعمالو په وجه هلته په لـمانځه کولو پابندي ده، خو سَیل کوونکي (TOURIST) صِرف د کتلو د پاره راتلې شي.**

د اَتلّسو کالو نه د کم عُمر ځلمو جُمات ته داخلیدل بند

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! افسوس! زمونږ د گُناهونو سپیره والي ورځ په ورځ زیاتیږي، د دُنیا په یو داسې مُلك کښې چه هلته د مُسلمانانو آبادي ۹۰ فیصَده بیانیږي، هلته د بې عَمَلۍ داسې زبردست سیلاب راغلو چه اوس د رَجَبُ الْمُرَجَّب ۱٤۳۲ھ جون ۲۰۱۱ء د یو اخباري رپورټ مطابق د اتلّسو کالو نه د کم عُمر ځلمو د پاره په جُمات کښې په لـمانځه کولو قانوني طور پابندي لگولې شوي ده!!!

آہ! اِسلام ترے چاہنے والے نہ رہے جِن کا تُو چاند تھا افسوس وہ ہالے نہ رہے

آه! دِینِ اِسلامه ستا مِینه لرونکي پاتې نه دي
ته ئې سپوږمۍ ستا ستوري ځلیدونکي پاتې نه دي

د جُماتونو وجودونه ختمولې شي

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! افسوس چه!! د لـمونځونو نه زمونږه د لرې والي په وجه یعني د الله تعالیٰ د عِبادت نه د بې رغبته کیدو په وجه د اسلام دُښمنانو خباثت شروع کړې دې او هغوئي مسلمانان د دِین نه د لرې کولو د پاره نوي نوي سازشونه کوي. هغوئي نه غواړي چه مونږه لـمونځونه وکړو او نیك عمله شو ځکه ئې زمونږه په دیني مرکزونو یعني جُماتونو پسې راغستي ده او زمونږه حال دا دې چه مونږه د دُنیاوي مال جمع کولو نه نه وزگاریږو! بعضې زړه خفه کوونکي خبرونه واورئ او که زړه مو ژوندې وي نو پرې خفه شئ: ❁په یو مُلك کښې غیر مُسلِمو **۱۵۷ جُماتونو** ته جندرې [تالې] واچولې او جماتونه د تجارتي او د اوسیدلو د مقصد د پاره غیر مُسلِمو ته حواله کړې شو ❁د سرکاري قبضې په بهانه ۳۲٤ جُماتونه د لـمونځ کوونکو د پاره بند کړې شو ❁د یو مُلك په یو ښار کښې ۹۲ جُماتونه په کورونو او د څاروو په غوژلو کښې بدل کړې شو ❁هم دغسې د یو مُلك په یوه علاقه کښې په جُمات باندې ناجائِزه قبضه وکړې شوه او په هغې کښې ئې د خپلو باطِلو معبودانو بُتان کیښودل ❁هم دغسې په یو اخبار کښې دا خبر ورکړې شو چه په یو ښار کښې د تُرك مسلمانانو [جوړ کړي] یو جُمات ته اور ورکړې شو او شهید

www.dawateislami.net

کړې شو ۞ د یو ملك یو مُفتي صاحِب اُووئیل چه د "کمیونِسټ انقِلاب" نه مخکښې زمونږ په مُلك کښې دولس سوه جُماتونه موجود وو چه په هغې کښې اکثر د غیر مُسلِمو په عبادت خانو، ګودامونو او عَجائِب خانو[1] کښې بدل کړې شو.

"جُمات ډك کړئ تَحریك" وچلوئ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د جُماتونو په شړیدو ډیر خفه شئ، او په ډیره جذبه **"جُمات ډك کړئ تَحریك"** وچلوئ او په یو یو بیلـمانځه اِنفِرادي کوشش وکړئ او لـمونځ ګُزاره ئې جوړ کړئ او دغسې د خپلو جُماتونو حِفاظت هم وکړئ ځکه چه په کوم کور کښې د هغې اوسیدونکي موجود وي په هغې هیڅ څوك هم قبضه نه شي کولې، ګنې په خالي کور خلق قبضه کوي څنګه چه د فارسئ مَتَل دې *خانۂ خالی را دَیو مِی گیرَد* یعني "په خالي کور باندې پیریان قبضه کوي" بهرحال چه کوم جُمات په لـمونځ ګُزارو آباد وي د هغې طرف ته په ناپاکه اِراده د کتلو نه مخکښې به دُښمن ٤٢٠ ځله سوچ کوي. دلته دا یوه مسئَله یاده ساتئ چه په یو ځائ یو ځل شرعاً جُمات جوړ کړې شو نو هغه به تر قِیامته پورې جُمات وي. د **تَحتَ الثَّریٰ** (یعني د ومې زمکې د لاندې) نه واخله د عرشِ مُعَلّٰی چه هغه د ووه واړو اسمانونو نه هم پاس دې د هغه ځائ پورې د هغې ټوله فضا [یعني هوا] هم جُمات دې. اوس که **مَعاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ په هغې سرك جوړ کړې شي یا پرې مارکیټ جوړ کړې شي، هغه ځائ به د قیامته پورې صِرف د جُمات په حُکم کښې وي او د هغې اِحتِرام به هم برقراره وي. چنانچه **زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د "**تنویرُ الاَبصار او دُرِّ مُختار**" په حواله نقل کوي: **وَلَوْ خَرِبَ مَا حَوْلَهٗ وَاسْتُغْنِیَ عَنْهُ یَبْقٰی مَسْجِداً عِنْدَ الْاِمَامِ وَالثَّانِیْ اَبَداً اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ وَبِهٖ یُفْتٰی** او که د هغې (یعني جُمات) اخوا دیخوا [ځائ] شړ شي او د هغې ضرورت پاتې نه وي نو هُم جُمات به [په خپل ځائ] پاتې وي او د اِمام صاحِب (یعني اِمام اعظم ابُوحَنِیفه) او اِمامِ ثاني (یعني اِمام ابُو یوسُف) په نِزد همیشه د قیامته پورې [هغه ځائ

[1] هغه ځائ کوم ځائ چه عجِیبه او نادِر څیزونه ایښودل شي.

www.dawateislami.net

جُمات دې]، او هم په دې فَتوىٰ ده. (تَنوِيرُ الاَبصار و دُرِّمُختار ج٦ ص٥٥٠، فتاوٰی رَضَوِيّه ج٩ ص٤٧١) **وَقَارُ المِلَّت** حضرتِ عَلّامه مولانا مُفتي **مُحَمّد وَقارُ الدِّين قادِري رَضَوي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "کوم ځائ چه یو ځل جُمات جوړ کړې شي هغه د قیامَته پورې داسې جُمات شي چه بره د عرشه پورې او لاندې د **تَحتَ الثَّرىٰ** پورې جُمات دې په دې کښې یو اِنچ ځائ (هم) نه شي کمیدلې." (وقارُ الفتاوٰی ج٢ ص٢٩٧)

کر مسجدیں آباد تری قبر ہو آباد
فِردوس عطا کر کے خدا تجھ کو کرے شاد

آباد کړه جُماتونه ستا دِ قبر شي آباد
فِردوس دِ شه نصیب، الله دِ کړي تا ښاد

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د اِنفِرادي کوشش بَرَکت

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اِسلامي جُماتونه آبادوي، تاسو هم په جُماتونو آبادَوَلو خپل خفه زړه خوشحاله کړئ، د خپل ربّ تعالیٰ د یادَوَلو د پاره پینځه وخته جُمات ته د حاضریدو جذبه حاصلولو د پاره او د خپل زړه وران کور په عَشقِ رسُول آبادَوَلو د پاره د **دعوتِ اِسلامي** د مَدَني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ. په **مَدني قافِلو** کښې د سُنَّتو ډك ډیر ډیر سفر کوئ او د "**فِکرِ مَدینه**" په ذریعه هره ورځ د مَدني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائ د دعوتِ اسلامي ذمّه دار ته جمع کوئ، راځئ چه ستاسو د ترغیب او تحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلي** واوروم: د بابُ المَدینه (کراچئ) اوسیدونکي د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده چه: زه د ګناهونو په دریاب کښې ډوب ووم او د خپل ژوند "قیمتي ملغلرې" مې د غفلت په وجه بربادَوَلې، **د نیمې نیمې شپې پورې د دوستانو سره په ګپ شپ کښې مصروفه اوسیدل زما معمول وو.** په ١٨ رَمَضَانُ الْمُبَارَك ١٤٢٩ھ بمطابق

www.dawateislami.net

۱۹ ستمبر ۲۰۰۸ء د خپل معمول مطابق مونږه ټول دوستان راجمع شوي وو او په ټوقو ټقالو کښې مشغول وو، **په دې وجه زمونږ په مجلِس کښې د ټق ټق خندا جاري وه،** په دې کښې د دعوتِ اسلامي سره تعلُّق لرونکي یو عاشِقِ رسُول زمونږ خوا ته تشریف راوړو، هغوئي سلام وکړو او کښیناستلو ، د هغوئي د راتګ سره زمونږه په محفِل کښې لږه سنجِیدګي راغله، هغوئي مونږ ته ډیر ښکلي مَدَني ګلونه واورَوَل، **د هغوئي د ښکلي آواز او د مَدَني انداز په وجه مونږه د هغوئي په خوږو خبرو کښې ورک شو.** لږ ساعت پس هغوئي د بیرته تلَلو د پاره پاڅیدلو نو مونږه ورته عرض وکړو: وروره! لږ ساعت نور کښینئ! او مونږ ته ښې ښې خبرې وښائې، د نیکئ د دعوت جذبه لرونکي اسلامي ورور زمونږه درخواست قبول کړو. د خبرو په دوران کښې د فِکرِ آخرت او د اِصلاحِ اُمَّت په موضوع هم خبرې وشوې، د هغه عاشِقِ رسُول د تاثِیر نه ډك **اِنفِرادي کوشش** زمونږه په زړونو ډیر اثر وکړو. بله شپه مونږه بیا هم په هغه ځائ محفِل جوړ کړې وو او د هغه اسلامي ورور په اِنتِظار وو، زمونږ د اُمّید مطابق هغوئي تشریف راوړو او مونږ ته ئې د دعوتِ اسلامي عالَمي مَدَني مرکز **فیضانِ مدینه** ته د تلَلو دعوت راکړو، د هغوئي د کِردار او ښکُلو خبرو په وجه کم از کم ما خو انکار ونکړې شو او د هغوئي سره د **فیضانِ مدینه** پاکې فضا ته ورسیدم. د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جذبه په زړه کښې رابیدارَوَلو والا او رُوح تازه کوونکي مَدَني ماحول زما په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو او دغسې د هغه عاشِقِ رسُول د "**اِنفِرادي کوشش**" په بَرَکت ما ته د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول را نصیب شو.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مُحَدِّثِ اعظم پاکستان اِنفِرادي کوشش

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! د اِنفِرادي کوشش څومره زبردستې نتیجې را اُوځي! د سګِ مدینه عُفِیَ عَنْہُ خپله تجربه هم دا ده چه اِجتِماعي بیان ډیر ځله د اوریدو سره هم چه په چا کښې تبدیلي [بدلون] نه راځي، هغه په لږ شان **اِنفِرادي کوشش** بدل شي. د نیکئ په دعوت کښې د اِنفِرادي کوشش خپل یو جُدا مقام دې. انبیاءِ کرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام چه څنګه د تبلِیغ

www.dawateislami.net

دِین د پاره اِجتِماعي کوششونه فرمائیلي دي هم دغسې ئې اِنفِرادي کوششونه هم کړي دي او یو یو ته ئې جُدا جُدا هم د اسلام پیغام رسولې دې. بُزُرگانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین هم **د نیکۍ د دعوت** د پاره ښه ډیر ډیر اِنفِرادي کوششونه کړي دي چنانچه مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت علّامه مولانا سردار احمد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په مدینةُ الاولیاء ملتان شریف کښې وو، په دې دوران کښې درې ځلمي د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مُریدان جوړ شو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هغوئي ته په مسلكِ اهلِسُنَّت باندې د قایم اوسیدو، د دې دَ تبلیغ کولو او پینځه وخته لـمونځ د جَمعې سره د کولو نصِیحت وکړو. بیا ئې هغوئي ته د **کِیرې** پرېښودَلو او د بریتو وړو کولو په ډیر ښکلي انداز کښې داسې حُکم اُوفرمائیلو چه څنګه په لـمانځه کښې وِتر واجِب ګنړئ هم دغسې کِیره غټول هم واجِب وګنړئ، یو موټې کِیره پرېښودل واجِب دي د دې خِلاف کولو یعني وړه کولو باندې به ګناه او عذاب کیږي، د حضرتِ مُحَدِّثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ښکلي نَصیحت په هغوئي ډیر اثر وکړو او هغوئي کِیرې پرېښودلې. اوس هغوئي بِحَمدِہٖ تعالٰی د شَرِیعت پابند دي او ډیر عِزّت لرونکي جوړ شوي دي.
(حیاتِ مُحَدِّثِ اعظم ص ۸۹)

سرکار کا عاشِق بھی کیا داڑھی مُنڈاتا ہے!
کیوں عشق کا چِہرے سے اظہار نہیں ہوتا (وسائلِ بخشش ص ۲۳۴)

د حضور عاشِق هم خَرَوي ګنې کِیره د عِشق نښه ئې په مخ ولې نه ښکاریږي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مرګ نه مخکښې د ځلمي کِیره د کور کسانو وخَرَئِیله

په کروړونو اَفسوس! حالات ورځ په ورځ خرابیږي، که یو طرف ته د مغرِبي تهذِیب طوفان، فیشن پرستي، او د فِلمونو [ډراموِ] کتلو د پاره کور په کور تې وي او وي سي آر دې نو په بدقِسمَتۍ سره بل طرف ته تش د نوم مسلمانان سُنّتونه بد ګنړي! د دعوتِ اسلامي سره تَعَلُّق لرونکې د اورنګي ټاؤن بابُ المَدینه کراچۍ یو **ځلمي عاشِقِ رَسُول** چه د هغه عُمر به په مشکله شل کاله وو، کِیره ئې چه د کله نه راغلي وه پرېښودي ئې وه، غریب د وِینې په کینسر (BLOOD CANCER) کښې

www.dawateislami.net

اخته شوې وو. زه (یعني سګِ مدینه) د هغه د پوښتنې د پاره اسپتال ته ورغلم، غریب د ژوند او مرګ په کشمکش کښې وو..... ژبې ئې کار پرېښودې وو..... ګیره ئې په مخ نه وه، زه حیران شوم..... هغه مظلوم خپل مخ طرف ته په ډیره مشکِله خپل لاس پورته کړو او په اِشاره کښې ئې فریاد وکړو..... زه دومره پوهه شوم لکه چه هغه وائي "**مَعَاذَ اللہ** عَزَّوَجَلَّ **ما نه ده خَرَئیلي**" زما د کور کسانو د خوب یا د بې هوشۍ په حالت کښې زما ګِیره خَرَئیلي ده.! آه! یو څو ورځې پس هغه غم وهلې د دُنیا نه رُخصت شو. **الله** تعالیٰ دِ د مرحُوم بې حِسابه بخښنه اوُفرفائي او د هغه ګِیره خَرَوونکو ته دِ د توبه کولو توفِیق ورکړي. اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

رُوح میں سَوز نہیں، قَلب میں اِحساس نہیں　　کچھ بھی پیغامِ محمد کا تمہیں پاس نہیں

احساس نشته نه په قَلب او نه په ځان کښې　　د پیغامِ محمّد هیڅ پروا نشته په انسان کښې

د نوم مسلمان د سُنّتو نه لرې

افسوس په کروړونو افسوس! څنګه نازك دور راغلې دې چه نن د مسلمان نوم لرونکې خلق خپل اولاد په زور د **سُنّتونو** نه منع کوي بلکه په **سُنّتو** باندې د عمل کولو په وجه ورته کله کله قِسما قِسم **سزاګانې** ورکوي، **الله** مو دِ وساتي داسې داسې واقعات پیښیږي چه د مسلمان **زړه ورسره خفه شي. ډیر ځلمي اسلامي ورونړه** چه کله د مَدَني ماحول نه مُتَاَثِّره شي او ګِیره پریږدي نو بس لکه په ټول خاندان کښې چه **زلزله** راشي!! که په دباؤ او رټلو وهلو ونشي نو د ګیرې پرېښودو په وجه بې وَسه د کورونو نه وِیستلې شي، د عاشِقانِ رسُول نه په اُودو په قینچیانو ګیرې اووهلې شوې، د دعوتِ اسلامي د مَدَني کار د شروع کیدو نه مخکښنۍ واقِعه ده، یو ځلمې د سګِ مَدِینه عُفِیَ عَنْہُ خوا ته تګ راتګ او ناسته ولاړه شروع کړه، په هغه د ماحول اثر پریوتل شروع شو. هغه کور ته په وتلو ننوتلو کښې "اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ" وئیل شروع کړل، کله کله به ئې د خبرو اترو په دوران کښې "اِنْ شَآءَ اللّٰہ تعالیٰ" اُووئیلو! په مور او پلار باندې ئې سخته راغله! او تپوسونه ئې ترې شروع کړل، چنانچه په کور کښې ترې دا تپوس وشو چه ځویه! څه وجه ده چه تا نن صبا

www.dawateislami.net

سلام کول او اِنْ شَآءَاللہ تعالیٰ وئیل شروع کړي دي، هغه غریب د سُنّتو د اَدنیٰ خادِم سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ نوم واغستو، بیا ئې هغه په سختئ سره منع کړو چه خبردار! د نن نه پس به د هغه "**مُولا**" په صُحبت کښې نه اوسیږې! آخِر دا چه هغه غریب ماړن جوړ شو.

وہ دور آیا کہ دیوانۂ نبی کیلئے ہر ایک ہاتھ میں پتھر دکھائی دیتا ہے

داسې وخت راغې چه په عاشِقِ رسُول پسې هر یو راخستې دې په لاس کښې کانړې

د مَدَني ماحول نه ئې منع کړلو نو هیروئني جوړ شو، پلار ئې پښیمانه دې

هُم د دې په شان یوه بله عِبرت انګیزه واقِعه واورئ، چنانچه د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده چه (د حیدرآباد، بابُ الاِسلام سندھ پاکستان) یو ځلمې غالِباً په ۱۹۸۸ء کښې د دعوتِ اسلامي په **مَدَني ماحول** کښې شامِل شو. د لـمونځونو د پابندئ سره سره ئې ګِیره مبارکه هم پرېښودله، عِمامه شریفه ئې هم په سر کړه. هغه په مَدرَسۃُالْمَدینه (بالِغان) کښې سبق وئیل هم شروع کړل. د هغه تعَلُّق د یوې ماړنې او مالدارې کورنئ سره وو، د هغه په ژوند کښې **مَدَني اِنقِلاب** راتلَل د هغه د کور د کسانو خوښ نه شو. چنانچه د هغه مخالَفَت شروع شو، په څو څو شانه به ئې د هغه زړه ازارولو، په سُنّتو باندې عمل کولو کښې به د هغه مخ نیوې کیدلو او دا کوشش به پرې کیدلو چه دا مجبوره شي او د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول پرېږدي. هغه به چه کله کله ډیر بې وسه شو نو وئیل به ئې چه ما د مَدَني ماحول نه مه جُدا کوئ ګنې بیا به پښیمانه ئې، خو د هغه خبرې ته چا څه توجُّه ورنکړه. د مخالَفت دا سلسله تقریباً درې کاله وچلیده، آخِر ډیر تنګ شو او د کور د خلقو خبرې ته ئې غاړه کیښوده، ګِیره ئې وخرئیله او د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول ئې پرېښودو. مشر ورور ئې ډاکټر وو ځکه ئې هغه هم د **سردار آباد** (پنجاب، پاکستان) په یو میډیکل کالج کښې داخل کړو. هلته هغه د هاسټل د بدو صحبتونو په ګندونو کښې ګیر شو، چرس څښل ئې شروع کړل او سخت بیمار شو، کور والؤ هغه بیرته حیدرآباد ته راوستو. والِد صاحِب ئې په عِلاج باندې لکونه روپئ ولګولې خو نه جوړ شو او نه سم شو بلکه بیا هغه د هیروئنو [یعني پوډرو] نشه

www.dawateislami.net

شروع کړه. د ډیرو نشو کولو په وجه هغه وچ لرګي شو، سپین غاښونه ئې تك تور شو او اوس د دې لِیك د وخته پورې د هغه حالت د لیونو په شان شوې دې. د **الله** په رَحمت اوس ئې والِد صاحِب د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شوې دې او غریب سخت پښیمانه دې چه کاش! ما ته هغه وخت د دعوتِ اسلامي اَهَمِیَّت معلوم شوې وو او ما خپل ځوئ د دعوتِ اسلامي د **مَدَني ماحول** نه نه وو لرې کړې نو شاید نن به ما دا ورځ نه وه لیدلي. خو "د ورخه تیري اوبه په بیرته نه راځي" **الله** تعالیٰ دِ هغه ځلمې د نشو د بد عادت نه خلاص کړي او یو ځل بیا دِ ورته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د شامِلیدو توفِیق ورکړي. **اٰمِین بِجَاہِ النّبِیِّ الاَمِین** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د اولاد صحیح تربِیَّت کوئ ګنې پښیمانه به ئې

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په دې رښتیني حِکایت کښې د هغه مور او پلار د پاره ډیر زیات عِبرَت دې څوك چه خپل اولاد د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت کولو، په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو د سعات نه، د عاشِقانِ رسُول د صُحبت نه او د ګِیرې پرېښودو او عمامه شریف په سر کولو نه او د سُنّتو ډك لِباس نه منع کوي او په سُنّتو باندې په عمل کولو ئې بیا بیا رتې بلکه د مَدَني ماحول نه جُدا کیدو باندې ئې مجبوروي، یاد ساتئ! ستاسو خوږ ځوئ ستاسو د ځیګر ټُکړه او د خپلې مور د سترګو ستورې سهي خو دا مه هیروئ چه هغه د **الله** تعالیٰ بنده، د هغه د خوږ حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّتي او د اِسلامي معاشرې یو نفر دې. که ستاسو تربِیَّت هغه ته د **الله** تعالیٰ په صحیح طریقه باندې عِبادت، د سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنّتونه او د اسلامي معاشرې ذِمّه واري ونه شُو ښودلې. نو بیا دا خوبونه هم مه وِینئ چه هغه به ستاسو فرمانبرداره ځوئ جوړ شي، ځکه چه هغه صِرف اِسلام دې چه هغه یو مسلمان ته د خپل مور او پلار د فرمانبردارئ او د هغوئ د حقونو ادا کولو درس ورکوي. دا لیدلي شوي دي چه کله د اولاد په تربِیَّت کښې د غفلت کولو اثرات ښکاره شي نو بیا هُم دا مور او پلار د هر یو په مخکښې د خپل اولاد د ورانیدو ژړاګانې کوي، هغوئ دِ دا خبره نه هیروي چه اولاد دې ځائ ته رارَسَوَلو کښې د هغوئ خپل قصور دې. هغوئ خپل اولاد ته ABC خو اُوښودل خو قُرآن ئې ورته ونه ښودو، مغرِبي [یعني فِرنګي]

رسم و رواج خو ئې ورته ښودلي وو خو د رسُولِ عَرَبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّت ئې ورته نه وو زده کړي، د جنرل نالِج (يعني د عامو معلوماتو) په اِهَمِّيَّت خو ئې په ګينټو ګينټو پوهنه ورکړې وه خو د فرض عُلومو د حاصلولو رَغبت ئې نه وو ورکړې، د هغه په زړه کښې ئې د مال محبّت اچولې وو خو د عِشقِ رسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمع ئې پکښې نه وه روښانه کړې، د هغه په زړه کښې ئې د دُنياوي ناکامو ويره اچولـي وه خو د قبر و حشر د ناکامۍ د خطرناکو نتيجو نه ئې نه وو يَرَولې، هغه ته ئې "هيلو! هاؤ آر يو" زده کړي وو خو د سلام کولو صحيح طريقه ئې ورته نه وه ښودلي.

د ګناه کولو عامه آزادي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! ياد ساتئ! د ګناه کولو عامه آزادي، د کيبل، وي سي آر او انټرنيټ په آسانۍ سره په لاس راتلَل، د ګډا او سندرو د محفلونو د آبادۍ او خراب کورنې ماحول، دا هر څه چه راجمع شي نو د کردار عظمتونه بې انتِها داغداره کړي او بيا د داسې انسان د لاسه ښه کارونه کيدل که نامُـمکنه نه وي نو ډير زيات مشکِل ضرور وي. ځکه مور او پلار ته پکار دي چه د خپل اولاد د ظاهِري ښکلا، ښو ښو خوراکونو، ښو جامو او د نورو ضرورتونو د پوره کولو سره سره د هغوئي د **مَدَني تربِيَّت** د پاره هم کوشش کوي او صِرف د اولاد نه بلکه د خپلې اصلاح هم فکر کوي ځکه چه څوك پخپله په ډوبيدو وي هغه به بل ډوبيدو والا څه بچ کړي! څوك چه پخپله د غفلت په خوب اُوده وي هغه به بل څه راپاڅوي، څوك چه پخپله مخ په ښکته ارغړي هغه به بل اوچت والي ته څه ورسوي! لِهٰذا پخپله هم نيکۍ کول، رضائے اِلٰهي حاصلول، خپل ځان د ګناهونو نه بچ کول پکار دي او ځان د جَهَنَّم د سختو عذابونو نه د بچ کولو کوشش پکار دې [ولې چه پخپله هم] د **الله** تعالٰی په رحمت جنَّتُ الفِردوس ته تلل دي. او خپل خوږ خوږ اولاد هم په دې لار روانَوَل دي. د دې مقصد د حاصلولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول زبردست نِعمَت دې. د قرآن، احاديثو او د بزګانو د اقوالو په رڼا کښې د اولاد د تربِيَّت په طريقه باندې ځان پوهه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مَكتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوې د ۱۸۸ صفحو کتاب "**تربيتِ اولاد**" ضرور ولولئ.

سُونا جنگل رات اندھیری ،چھائی بدلی کالی ہے
سونے والو جاگتے رہیو چوروں کی رَکھوالی ہے (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: زما د آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې شعر دا معنٰی کیدې شي چه اے مسلمانانو! د دې دُنیا ځنګل خاموشه او شړ دې، بالکل توره تِیاره شپه ده او د پاسه تورې تورې وریځې خورې دي، په داسې خوفناك حالت کښې اول خو خوب راتلې نه شي او که بیا هم اوده شوې ئې نو فوراً وِیښ شه او پاڅه ځکه چه د دې ځائ حِفاظت کوونکي به ستا څه حِفاظت وکړي، دوئي خو پخپله ډاکوان دي. یعني هر طرف ته د غفلتونو او نفساني خاهِشاتو تورې تِیارې خورې دي، دا نفس او شیطان چه ستا سره هر وخت یو ځائ دي دوئي خپل خیرخواه مه ګڼړه دا محافِظان نه دي بلکه غله دي. خبردار! هوښیار او بیدار اوسه!!! چرې دوئي ستا **اِیمان** غلا نه کړی.

چند روزہ ہے یہ دنیا کی بہار — دل لگا اِس سے نہ غافِل ذی نَہار
عُمر اپنی یوں نہ غفلت میں گزار — ہوشیار اے مَحوِ غفلت ہوشیار

ایک دن مرنا ہے آخِر موت ہے
کر لے جو کرنا ہے آخِر موت ہے

دا دُنیا ده د یو څو ورځو بهار — دې غافِله محبَّت د دې بیکار
عُمر مه خرابوه خپل په غفلت کښې — هوښیار شه اے غافِله شه هوښیار
یوه ورځ به ځې دنیا نه آخر مرګ دې — څه چه کړې هغه کوه آخر دِ مرګ دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آیا ځوئ هم کله خپل پلار وهي؟

په تَنبِیہُ الْغافِلِین کښې دي چه د "سمر قند" د یو عالِم دِین حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو حَفْص رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوا ته یو کس راغلو او وئیل ئې: "زما ځوئ زه وهلې یم." هغوئي حیران شو او تپوس ئې ترې وکړو چه آیا ځوئ هم کله خپل پلار وهي؟ هغه اُووئیل: آو! بالکل هم دغسې شوي دي. حضرتِ سیِّدُنا اَبُو حَفْص رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ترې تپوس وکړو: آیا تا کله هغه ته دِیني عِلم او ادب زده کړي دي؟

هغه کس اُووئیل: نه. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه تپوس وکړو: قُرآنِ کریم دِ ورته زده کړې دې؟ هغه اُووئیل: نه. بیا ئې ترې تپوس وکړو نو بیا هغه څه کوي؟ هغه اُووئیل: زمینداري کوي. حضرتِ سیِّدُنا **اَبُو حَفْص** رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه ورته اُوفرمائیل: خبر ئې چه! ته هغه ولې وهلې ئې؟ هغه وئیلې: نه. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیْه د اِصلاح د پاره هغه ته د رټلو په انداز کښې اُوفرمائیل: شاید هغه به د سحر په وخت کښې چه کله په خر سور روان وو، غوَیا به د هغه نه مخکښې او سپې به وریسې وروسته روان وو، قُرآنِ پاك خو هغه له لوستل نه ورځي چه څه روحانِیّت ورته نصیب شوې وو بس دغسې په غفلت کښې به ئې په بنګ بنګ کښې څه [سندره] وئیله، په دې کښې به ته د هغه مخې له راغلي ئې، د هغه به دا خیال شوې وي چه غوَیا مخې له راغې او د غوئي د زغلَوَلو د پاره به ئې په څه څیز د هغه سر وهلې وي! شکر دې چه ستا سر نه دې مات شوې. (تَنْبِیهُ الغافِلین ص ٦٨)

په محشر کښې به په وهلو ټکولو د پلار څرمن او غوښې ورژیږي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! خپل اولاد ته د اسلامي تربِیت نه ورکوونکي انجام تاسو ولیدو! نن به هم داسې بیشمیره پلاران وي چه هغوئي به دا شِکایت کوي چه زمونږه اولاد مونږ ته کنزلې کوي، ما ته خبرې اَورَوي، د کور نه د وِیستلو دباوونه راباندې اچوي. بس د مور او پلار د دُنیا او آخِرت خیر هم په دې کښې دې چه د سُنَّت او شریعت مطابق دِ د اولاد تربیت وکړي. ګنې که دُنیا ئې آباده هم شي نو په آخِرت کښې به د خیر حاصلیدل مشکل وي. د اولاد د صحیح تربِیَّت نه کوونکي د یو پلار مُتعَلِّق یو یَروونکې رِوایت واورئ چنانچه فقِیه اَبُو اللَّیث سمرقندي عَلَیْهِ رَحْمَةُاللهِالْقَوِی نقل کوي: رِوایت دې چه د نارِینه سره تعَلُّق ساتونکي څیزونو کښې مخکښې د هغه ښځه او اولاد دې، دا ټول (یعني ښځه او بچي به دَ قیامت په ورځ) د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې عرض کوي: اے زمونږه **ربّ** عَزَّوَجَلَّ! مونږ له د دې کس نه زمونږه حق راکړه، ځکه چه ده کله هم مونږ ته **د دِیني اُمورو تعلِیم** نه دې راکړې او ده به په مونږه **حرام** خوړل چه د هغې نه مونږ نه وو خبر، بیا به هغه کس په حرامو ګټلو دومره اُووهلې شي چه د هغه غوښې به ورژیږي بیا به هغه د میزان (یعني د تلې) خوا ته راوستې شي، فرښتې به د هغه د غر هُمره نیکئ راوړي نو د هغه په عیال (یعني

www.dawateislami.net

بال بچو) کښې به یو کس رامخکښې شي او وائي به: "**زما نیکۍ کمې دي.**" نو هغه به د هغه د نیکو نه [حِصّه] واخلي، بیا به بل راشي او وائي به: "**تا په ما سُود خوړلې وو.**" او د هغه د نیکو نه به [حِصّه] واخلي، دغسې به د هغه د کور کسان د هغه ټولې نیکۍ یوسي او هغه به د خپل اهل و عیال طرف ته په ارمان او غم ګوري او وائي به: "اوس زما په غاړه هغه ګناهونه او ظلمونه پاتې شو کوم چه ما ستاسو د پاره کړي وو." فرښتې به وائي: "دا هغه بد نصیبه دې د چا نیکۍ چه د هغه د کور کسانو واغستې او دې د هغوئي په وجه جَهَنَّم ته لا رو." (قُرَّةُ الْعُيُون ص٤٠١)

څوك چه د کور د کسانو په وجه د مَدَني ماحول نه لرې وتل

معلومه نه ده چه څومره اسلامي ورونړه به داسې وي چه هغوئي به د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول نه د مُتاثِره کیدو په وجه ګِیره مبارکه پریښې وي، په نورو فرائِضو واجِباتو او سُنَّتو باندې به ئې د عمل کولو ترکیب جوړ کړې وي خو د کور د کسانو یا د بل چا د طرف نه شوي مخالَفت په وجه به ئې زړه بیلَلې وي او د دعوتِ اسلامي د **مَدَني ماحول** نه به لرې وتې وي. د داسې [اسلامي ورونړو، خویندو] په خِدمت کښې د سګِ مدینه عُفِيَ عَنْهُ لاس په نامه **مَدَني عرض** دې چه دعوتِ اسلامي ستاسو خپل د سُنَّتو ډك تحرِیك دې، مهرباني وکړئ! د دې نه مخکښې مخکښې را وګرځئ چه مرګ راشي او تاسو د دُنیا د رنګینو نه اوچت کړي او د قبر کندې ته مو کوز کړي او بیا دا ارمان کوئ چه کاش! په دُنیا کښې مې زیاتو نه زیاتې نیکۍ ګټلې وې. پاڅئ او هِمَّت وکړئ! د ګناهونو نه د حِفاظت او په نیکو باندې د اِستِقامَت موندَلو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډك **مَدَني ماحول** سره یو ځل بیا تړون وکړئ. کیدې شي چه اوس مو څوك مخالَفَت ونکړي او که وي نو کیدې شي چه د مخکښې نه کم وي ځکه چه د وخت سره سره حالات او خیالات بدلیږي، خو یاد ساتئ چه د مخالفت په صورت کښې هم تاسو صرف د نرمئ نرمئ او نرمئ نه کار اخلئ او په خپل کِردار او عادتونو او طور طریقه کښې داسې مَدَني اِنقِلاب راوَلئ چه د کور کسان پخپله

www.dawateislami.net

اووائي چه: "**واه څه به وائې د دعوتِ اسلامي!**" ستاسو د ترغیب او تحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** اورووم، چنانچه

غورزیدو ته نزدې شوې ووم خو بچ شوم

د پنجاب (پاکستان) د ضِلع مُظفَّر ګړه د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه کله زه د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول نه مُتَاَثِّره شوم او ګِیره غټول مې شروع کړل نو په کور کښې د مَدَني ماحول نه کیدو په وجه مې داسې مخالفت وکړې شو چه **معاذَالله** بیرته مې ګیره وخَرَئیله خو د دعوتِ اسلامي سره مې تَعَلُّق مات نه کړو. د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې به مې کله کله حاضري کوله، د دې سره به لکه چه زما "بیټري چارج" کیدله او د لـمونځونو پابندي مې جاري ساتلې وه. څه موده تیریدو نه پس مې بیا جذبه راپورته شوه، ذِهن مې جوړ شو او بیا مې **ګِیره** غټول شروع کړل، بیا مې مخالَفت شروع شو، دا ځل مې د مخکښې په مقابله کښې زیاته موده مخالَفت تیر کړو خو بیا مې هِمّت اوبیلَلو او **اَستَغْفِرُ الله** بیا مې ګیره وخرئیله. آخِر دا چه هِمَّت مې وکړو او دریم ځل مې **ګِیره** پرېښوده، دا ځل د کور د کسانو د طرف نه ډیر معمولي مخالَفت وشو او **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زه په ګیره پرېښودو کښې کامیاب شوم. تر دې چه د عمامې تاج مې هم په سر کړو او د دعوتِ اسلامي د **مَدَني ماحول** سره مې پوخ تړون وکړو او مَدَني کار کول مې هم شروع کړل. نن (د دې لیك د وخته پورې) تقریباً څوارلس کاله کیدو والا دي، ګیره مبارکه مې د هغه وخت نه تر اوسه پورې په مخ ده او په سر مې د شنې شنې عمامې تاج هم موجود دې، **الله** تعالیٰ دِ ما ته دا سُنّتونه قبر ته هم ځان سره د وَرَلو سعادت رانصیب کړي. اٰمِین. نن سوچ کووم چه که د ګیره خَرَوَلو په حالت کښې زما مرګ راغلې وې نو زما به څه انجام کیدلې! **الله** تعالیٰ دِ د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډك مَدَني ماحول ته ډیره زیاته ترقي ورکړي، ځکه چه دې [تحرِیك] زه د تباهۍ د کندې نه را اُووِیستم او د جنّت په لاره ئې روان کړم او زما ظاهر او باطِن ئې په مَدَني رنګ داسې رنګ کړل چه اوس زما د کور کسان هم د دعوتِ اسلامي د بَرَکتونو قائِل شوي دي.

اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ تم آجاؤ دیگا سکھا مَدَنی ماحول
تُو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے نہیں ہے یہ ہرگز بُرا مَدَنی ماحول
سَنور جائے گی آخرت اِن شاء اللہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص۶۰۴)

که لرې جذبه د سُنّتونو زده کولو راشه چه در زده ئې کړی دا مَدَني ماحول
ته کِیره پریږده عِمامه په سر کړه نه دې اُوګوره بد نه دې دا مَدَني ماحول
جوړ به دِ شي آخِرت اِن شآء الله ته خپل کړه همیشه دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د مرګ نه پس د انجام خطرناك منظر

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! او اے عاشِقانِ رسُول! دا عَهد [یعني پخه اِراده] وکړئ چه: که هر څومره سختي راباندې وکړې شي خو دَ **مکّي مَدَني آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سُنَّت کِیره مبارکه به پریږدم او د ځان سره به ئې قبر ته هم وړم. یاد ساتئ کِیره خَرَئیل او د یو موټي نه وړوکي کول دواړه حرام دي. د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوې رِسالې "**کالے بچھو**" صفحه ٤ نه شروع شوې زړه درزَونکې مضمون بِالتَّصَرُّف وړاندې کیږي. په ډیر غور ئې واورئ: اے غافِل اسلامي وروره! لږ په هوش کښې راشه!! د مرګ نه پس به ته هیڅ هم نه شې کولې، **ستا قدردان خلق** به ستا نه د تن جامې هم اُوباسي. ته که هر څومره غټ مالدار ئې، تا ته به هم هغه **ساده دَ لټې کفن** واغوستې شي کوم چه د لارې په غاړه مړ شوي یو لاوارثه کس ته اغوندي. که ستا موټر وي نو هغه به هم په ګیراج (GARAGE) کښې ولاړ پاتې شي. ستا قیمتي جامې به په بکس کښې پرتې پاتې شي. ستا په مال و متاع او په ډیره خوارئ ګټلي مال به ستا وارثان قبضه وکړي. "**خپل خلق**" به اوښکې تویوي او "**پرَدي**" به خوشحالئ کوي. ستا قدردان به تا په اُوګو واخلي او یو داسې شر ځائ ته به دِ یوسي چه ته کله د خاموشئ دې خوفناك ځائ ته خصوصاً د شپې کله هم یواځې نه وې راغلې او نه راتلې شوې بلکه په داسې سوچ کولو به هم ستا بدن رپیدو. بیا به دِ په یوه جوره کنستي شوي کنده کښې **د منونو خاورو لاندې** خخ کړي او ټول عزیزان به دِ بیرته

www.dawateislami.net

روان شي، ستا خوا ته به څوك يوه شپه خو څه يوه ګينټه هم پاتې کيدو ته تيار نه وي. اګرکه ستا **ګران ځوئ** وي، هغه به هم وتښتي. ته به په ډير اَرمان خپلو عزيزانو [خپلوانو] او دوستانو ته ګورې او هغوئي به ستا د سترګو نه پناه کيدو والا وي، زړه به دِ په ډوبيدو وي. په دې کښې به **دوه د خوفناکو شکلونو والا فرښتې** (مُنکَر نَکِير) په خپلو اُوګدو اُوګدو غاښونو د **قبر** ديوالونه وخِيري او مخې ته به دِ راښکاره شي، د هغوئي د سترګو نه به د اور شُعلې را اُوځي، تور تور هيبَت ناك ويښته به ئې د سر نه د ښپو پورې زوړند وي، تا به په زور کښينوي او په ډير زيات سخت انداز کښې به داسې تپوسونه کوي: "مَنْ رَبُّكَ؟" (يعني ستا ربّ څوك دې؟) "مَا دِيْنُكَ؟" (يعني ستا دِين څه دې) په دې کښې به ستا او د مَدِينې تر مينځه موجودې ټولې پردې لرې کړې شي او مخامخ به درته د چا ښکلې دِلرُبا او خوږ خوږ صورت ښکاره شي، يا به هغه عظيم او ښکلې هستي پخپله تشريف راوړي. عجيبه نه ده! چه ستا سترګې د شرم نه ښکته شي! کيدې شي چه ته په سوچ کښې پريوَځې چه که سترګې پورته کړم نو څنګه ئې پورته کړم! چه دا خپل وران مخ ورښکاره کړم نو څنګه ئې ورښکاره کړم! دا خو هم هغه **مَدَنِي آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې د چا به چه ما کَلِمه وئيله، ځان ته به مې د دوئي غُلام هم وئيلو، خو ما دَ مَحَبَّتِ رسُول نښې يعني ګيرې مبارکې سره څه کړي دي! خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو دا فرمائيلي وو چه: "**بريت ښه واړه کړئ او ګِيرو ته معافي ورکړئ او د يهوديانو په شان صورت مه جوړوئ.**" (شرح مَعَانِيُ الآثار لِلطَّحاوِی ج٤ ص٢٨) خو هائے زما بدبختي چه! زه د دُنيا د يو څو ورځو په ښکُلا کښې ورك شوم او فيشن مې بيړئ چپه کړه، د آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سختئ سره د منع کولو باوجود ما کِيره وخَرَئيله او خپل مخ مې د يهوديانو يعني د مَدَنِي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُښمَنانو په شان جوړ کړې وو! هائے اوس به څه کيږي! هسې نه چه **سرکارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما دا وران مخ اُووِيني او مخ مبارك رانه واړوي او دا اُوفرمائي چه "**دا خو زما د دُښمنانو په شان مخ دې زما د غلامانو په شان مخ خو نه دې!!**" خدائے دِ نه کړي که داسې وشي نو سوچ وکړه چه هغه وخت به په تا څه تيريږي!

نہ اُٹھ سکے گا قِيامت تلک خدا کی قسم　　اگر نبی نے نظر سے گرا کے چھوڑ دیا

قَسم په خُدائے پاڅيدې نه شي تر قيامته هغه　　څوك چه نبي محرومه پاتې کړو د خپل نظره

www.dawateislami.net

خو نه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی داسې به نه کیږي او بالکل به داسې نه کیږي. ځکه چه ته اوس ژوندې ئې، د خوږ **آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سُنَّتو روان شه! په خپل کمزوري بدن رحم وکړه! او فوراً اوس په دې ساعت تیار شه! انګریزي فیشن او فِرنګي رسم و رواج له درې طلاقه ورکړه او خپل مخ د خوږ خوږ آقا، مکّـی مَدَنـی مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په پاکو **سُنّتو** ښائِسته کړه او **یو موټې ګِیره** پریږده. بالکل هیڅ کله هم د شیطان په دې دوکه کښې مه راځه او دې وَسوَسو ته توجُّه مه کوه، چه **"اوس خو لا زه د دې قابل شوې نه یم، زما عُمر لا اوس دومره نه دې! زما عِلم هم دومره نه دې! که چا رانه د دین په باره کښې تپوس وکړو نو زما سره به جواب نه وي، زه چه کله قابِل شم نو بیا به ګِیره پریږدم."** یاد ساته! دا د شیطان ډیر زیات کامیاب وار دې چه اِنسان په خپله باره کښې دا وګنړي چه **"آو اوس زه قابِل شوې یم."** یاد ساتئ خپل ځان "قابِل" ګنړل د "ناقابِلیّت" د ټولو نه غټ دلیل دې. عاجزي اختیار کړه! غټ غټ **عُلَمائے کرام** هم د هر سوال جواب نه ورکوي نو آیا د هر سوال د جواب ورکولو تا څه ذِمّه واري اخستې ده؟ د نفس بهانې مه منه! او [دا نصیحت] اُومنه چه، که مور مې منع کوي او که پلار مې منع کوي، که معاشره مې مخ نیوې کوي، یا مې په واده کښې څه رُکاوټ راځي، که هر څه کیږي خو د **الله** تعالٰی او د هغه د خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم به منم، منم او منم، تسلّي ساته! که جوړئ دِ په لوح محفوظ کښې لیکلي شوي وي نو ستا واده به ضرور کیږي او که نه وي لیکلي شوي نو د دُنیا یو طاقت هم ستا واده نه شي کولې. [او یاد ساته چه] د مرګ هیڅ ساعت معلوم نه دې.

ګِیره خَرَئیلو سره سمدَست مرګ

چا سګِ مَدِینه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ (یعني لیکونکي) ته څه داسې واقِعه اَورَوَلي وه چه په **بنګله دیش** کښې یو ځلمي ګِیره پریښودې وه، چه کله ئې د **واده** وخت نزدې راغې نو مور او پلار په **ګِیره** خَرَئیلو مجبوره کړو. په نه زړه د نائي دُکان ته لاړو او ګِیره ئې وخرئیله، بیرته چه کور ته راروان وو او په سړک تیریدو نو یو تیز رفتاره ګاډي اُووهو، مور او پلار بچ نه کړې شو! او په حق ورسیدو او د **واده** ارمانونه ئې د خاورو سره ګد شو، **واده** ئې هم ونشو او **ګِیره** ئې هم وخرئیله. **نو خوږه اسلامي ورورہ!**

www.dawateislami.net

په هوش کښې راشه! په **الله** تعالیٰ تَوَکُّل وکړه او اوس په دې ساعت د ګِیرې خَرَئیلو نه توبه وکړه، عهد [یعني پخه اِراده] وکړه چه د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَحَبَّت کښې زما څټ خو پریك کیدې شي خو نور مې د **ګیرې** پرېښودو نه د دُنیا یو طاقت هم نه شي منع کولې. شاباش.....! مبارك شه.....! مبارك شه.....!! مبارك شه!!!

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زلف و رِیش میں
واہ! دیکھو تو سہی لگتا ہے کتنا شاندار (وسائل بخشش ۳۹۹)

د حضُور عاشِق په عمامه او زُلفو ګِیره کښې واه! اُوګوره ښکاري څومره ښکلې او شاندار

د ګیره خَرَوونکو نه د سرکار ﷺ د نفرت عِبرتناکه واقِعه

سګِ اِیران خُسرو (پرویز) ته چه د حضرت **عبدُالله** بِن حُذافه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په لاس د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نیکئ په دعوت مُشتَمِل خط مبارك ورسیدو نو هغه ګُستاخ رسُول چه څنګه هغه مبارك خط ولیدو نو په غُصّه کښې ئې [خط مبارك] شهید کړو او هغه بد زبانه دا بکواس وکړو چه.....: (..... د پرویز هغه بې ادبانه جُمله د لیکلو هِمّت نه لرم، لِهٰذا هغه حذف [یعني د لیکلو نه پرېښودلې] شوه.....) د هغې نه پس سګِ اِیران خُسرو (پرویز) **باذان** ته چه هغه په **یَمَن** کښې ګورنر وو او د عرب ټول ملك د هغه د اِقتِدار نه لاندې ګنړلې شو دا حُکم ولیږو چه..... (دلته هم د سګِ اِیران پرویز بکواس حذف [یعني د لیکلو نه پرېښودلې] کیږي) **باذان** یوه فوجي ډله مُقرره کړه،چه د هغې د افسر نوم **خَر خَسره** وو او د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اثر و رُسوخ باندې ئې د جَوَر نظر ساتلو د پاره یو مُلکي افسر هم د هغه سره کړو چه د هغه نوم **بانُویه** وو. دا دواړه افسران چه کله د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې پیش کړې شو نو د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُبُوَّت د رُعب په وجه د هغوئي د مَرئ رګونه رپیدل. **دا کسان آتش پرَست** (د اور عبادت کوونکي) **وو. ځکه ئې ګِیرې خَرَئیلې وې او بریت ئې دومره زیات غټ پرېښودي وو چه په هغې ئې شونډې پټې شوي وې** او خپل بادشاه پرویز ته به ئې "**رب**" وئیلو. د هغوئي مخونه ئې چه ولیدل نو **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته تکلیف ورسیدو، د کَرَاهَت یعني بیزارئ په انداز

www.dawateislami.net

کښې ئې ورته اُوفرمائیل چه: "**تاسو لره دِ هلاکت وي،** د داسې شکلونو جوړَوَلو تاسو ته چا وئیلي دي؟" هغوئي جواب ورکړو چه: "زمونږه رب پرویز." **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل:"**مکر زما رب تعالٰی خو ما ته دا حُکم فرمائیلي دي چه کِیره غټه کړم او بریت وتراشم.**" (تاریخُ الخَمیس ج۲ ص۳۵، فتاوٰی رضویه ج۲۲ ص ٦٤٧ مُلَخَّصاً)

د قِیامت زړه درَزَوُونکي منظر

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په دې واقِعه باندې غور وکړئ! که پوهه شوي پرې نه ئې نو دوباره ئې ولولئ! ښه غور وکړئ! دوه داسې کسان چه غیرمُسلِمه دي، مسلمانان شوي نه دي. د شریعت د احکامو نه ناخبره هم دي. خو ولې چه هغوئي د فِطري [یعني قُدرتي] شان سره زیاتې کړې وو، د مخ قدرتي ښکُلا ئې برباده کري وه. د **سرکارِ مدینه** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارَك طبیعت باندې د هغوئي دا کار (یعني کِیره خَرَئیل) بد ولګیدل او د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِین کیدو باوجود ئې ورته اُوفرمائیل چه: "**تاسو لره دِ هلاکت وي.**" لږ سوچ وکړئ! غور وکړئ! چه کله به د قِیامَت په میدان کښې ټول جمع وي، د نَفسی نَفسی عالَم به وي، مور به د خپل ځوئ نه او ځوئ به د خپل پلار نه تښتي، هغه وخت به صرف یو پاك هستي زمونږه خوږ نبی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وي چه د ګنهګارو د اُمّید ځائ به وي، هم د هغه **سرکارِ نامدار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت مبارك کښې به ټول حاضریږي. **یاد ساتئ! څوك چه په څه حال کښې مري، هم په هغه حال به د قِیامت په ورځ راپاځي. کِیرې والا به سره د کِیرې راپاځي او کِیره خَرَوونکي به کِیره خَرَوونکي راپاځي. اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **سُنّت د خپل مخ نه لرې کوونکو!** که خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو نه تپوس وکړي چه: "**آیا تاسو زما سره محبَّت کولو؟**" ښکاره خبره ده چه اِنکار خو کولې نه شئ، هم دا به عرض کوئ چه: یارَسُولَ اللہ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زمونږه هر څه تاسو ئې، مونږه تاسو د خپل مور او پلار، مال اولاد د هر چا نه زیات ګران ګنړو. خوږه آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږه خو به په دُنیا کښې ډیره په مِینه دا عرض کولو چه:

مرے تو آپ ہی سب کچھ ہیں رَحمتِ عالَم ! میں جی رہا ہوں زمانے میں آپ ہی کے لئے

www.dawateislami.net

زما خو تاسو ئې هر څه اے رَحمتِ عالَم! زه په دُنیا کښې ژوندې اوسم صِرف تاسو لره

خوږه آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږ خو په تاسو پسې داسې بیتابه وو چه په ډیره بې قرارئ کښې به مو داسې عرض کولو چه:

غلامِ مصطَفٰے بن کر میں بِک جاؤں مدینے میں محمد نام پر سَودا سرِ بازار ہو جائے!

چه غُلامِ مصطفٰی شم، او خرڅ شم مدینه کښې سودا مې وشي په بازار کښې په نوم د خوږ محمّد

اے خوږه آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! چه کله به مو د محبّت جوش نور زیات شو نو دا به مو وئیل:

جان بھی میں تو دے دوں خدا کی قسم! کوئی مانگے اگر مصطَفٰے کے لئے

قَسم په خُدائے چه دا خپل ځان ورکړمه که څوك ئې غواړي مصطفٰی لپاره

چه دا هر څه واوري او (الله دِ نه کړي) آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بِالفرض دا ارشاد اُوفرمائي چه: اے زما غلامانو! که واقعي تاسو د خپل مور او پلار، مال او اولاد نه د ټولو نه زه ډیر نزدې ګنړلم او صرف زما د پاره په دُنیا کښې ژوندي اوسیدئ او زما په نوم باندې د خرڅیدلو د پاره او د خپل ځان قربانولو د پاره تیّار اوسیدلئ نو بیا **آخِر څه وجه وه چه شکل او صورت مو زما د دُښمنانو په شان جوړوَلو؟** آیا تاسو ته زما دا فرمانونه نه وو در رسیدلي چه: (۱)"بریتونه ښه واړه کړئ او ګِیرو ته معافي ورکړئ (یعني غټې ئې کړئ) او د یهودیانو په شان شکل مه جوړوئ." (شرح مَعَانِیُ الآثَار لِلطَّحَاوِی ج۴ ص۲۸) (۲) "څوك چه زما سُنَّت اختیار کړي هغه زما دې او څوك چه زما د سُنّتو نه مخ واړوي هغه زما نه دې." (اِبنِ عساکِر ج۳۸ ص۱۲۷) (۳) "څوك چه زما په سُنَّت عمل ونکړي هغه زما نه نه دې." (اِبنِ ماجه ج۲ ص۴۰۶ حدیث ۱۸۴۶)

که آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم خفه شو نو بیا.....!

په فیشن باندې ځان قربانَوونکو! د دې ارشاداتو دریادَوَلو نه پس خدائے دِ نه کړي که **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خفه شو نو څه به کوئ؟ د چا نه به د **شَفاعت** سوال کوئ؟ بل به څوك وي چه د **الله** تعالٰی د قَهر او غضب نه مو بچ کړي؟ اوس موقع ده، تر څو مو چه په بدن کښې ساه ده تر هغې پورې وخت شته دې، فوراً توبه وکړئ، خپل مخ د **ګران ګران او خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په

خوږو خوږو سُنّتو ښکُلي کړئ، **د محبَّت نښه** په خپل مخ پرېږدئ. دا خوبونه مه وِینئ چه اوس خو زما عُمر کم دي؟ بیا به ئې پرېږدَمه، د **واده** نه پس به ئې پرېږدَم! **زما ساده ساده اسلامي ورونړو!** د شیطان خبرې مه منئ! که هغه د هر څومره نزدې خپل کس په خُله تا ته د دې یقین درکولو کوشش وکړي چه اوس ستا عُمر د **ګِیرې** پرېښودو نه دې، بیا ئې وروسته پرېږده. یقین وکړئ دا د شیطان ډېر غټ او بد ګُزار دې، په دې ګُزار خو هغه مردُود ډېر خلق برباد کړي دي. **راځئ چه تاسو ته یوه عِبرتناکه واقِعه واوروم.**

د مرګ نه مخکښې بدقِسمَتي

یو ځلمې تقریباً یو کال د **"دعوتِ اِسلامي"** په مَدَني ماحول کښې شامِل وو او ګِیره ئې هم پرېښودي وه. بیا معلومه نه ده چه څه خیال ورغې! شاید چه د بدو خلقو سره ئې دوستي جوړه کړه. **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ګِیره ئې وخرڅِیله. په شَبِ جُمُعه د دَعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې هم غیر حاضر پاتې شو. دَ **جُمُعې** په ورځ د دوستانو سره د بابُ المَدینه (کراچئ) د سمندر غاړې ته سَیل له لاړو. او آه! د ګِیرې خَرَئیلو نه صرف پینځلس ورځې پس غریب په سمندر کښې ډوب شو او د مرګ کندې ته کوز شو.

ملے خاک میں اہلِ شاں کیسے کیسے — مکیں ہو گئے لا مکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے — زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے!
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے — یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

ګډ شو په خاورو کښې ډېر د شان مالِکان — بې کوره شو ډېر د کور خاوندان
ډېر نوم لرونکي وو، نه لري اوس نِشان — وخوړل زمکې د لوئ شان ځوانان
دا دُنیا د زړه لګولو ځائ نه دې — ځائ د عِبرت دې د تماشو ځائ نه دې

د فیشن پرستو د صُحبَت سـ یره والې

د هغه مرحُوم ځلمي اِسلامي ورور عُمر به په مُشکله شل کاله وو، څه عُمر وو [یعني ډېر کم عُمر وو]! د خلقو خبره شائِد چه د **ګِیرې** پرېښودو عُمر ئې لا نه وو راغلې! چرې په هم دې خیال خو

www.dawateislami.net

به ئې **ګیره** نه وه خَرَئیلي [چه لا اوس مې د ګیرې پریښودو عُمر نه دې]! نه بالکل نه، بس د غریب نصیب! او د بد صُحبت اثر! **الله** تعالیٰ دِ دَ مرحُوم بخښنه اُوفرمائي. هغه ډوب شوي ځلمي زمونږه د ټولو د رابیدارولو د پاره ډیر عِبرت پریښودلو! څوك چه د **دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول** د پریښودو سوچ کوي یا د سیلونو د شوقیانو سره دوستاني جوړوي، هغه ته پکار دي چه په دې عِبرتناکه واقعه ښه غور وکړي چه چرې زما هم داسې عبرتناك انجام ونشي! هسې نه چه زما فیشن پرست دوستان پخپله هم تباه شي او ما هم د ځان سره تباه کړي! او غور دِ وکړي چه چرې زما د ژوند شپې ورځې خو په ختمیدو نه دي ځکه شیطان زما خِلاف خپل پوره زور لګوي، چرې د یو څو ورځو د بد صُحبت د سپیره والي په وجه راله شیطان د ژوند ټولې نیکئ بربادې نه کړي. د بیلمانځو او د فاسِقانو صُحبت اختیاروونکو! خبردار!!! رَبُّ الاَنام جَلَّ جَلالُهٗ په وومه سِیپاره سُورَةُ الْاَنْعَام آیت ٦٨ کښې ارشاد فرمائي:

وَ اِمَّا یُنْسِیَنَّكَ الشَّیْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۶۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او که چرې شیطان درنه هیر کړي نو د رایادیدو نه پس د ظالِمَانو سره مه کښینه.

کِیره صِرف د مُصطفٰی ﷺ د خوښې پریږده

اے د مَدَني محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سره محبَّت لرونکو!** اُومنئ! په خپله ځوانئ مه نازیږئ! د دُنیاوي مجبوریانو بهانې مه جوړوئ، راشئ! راشئ! اے عاشِقانِ رسُول! راشئ! د رسُولِ اَکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم والا مبارکې لَمَن پورې ونښلئ! **د هغوئ د پروردګار، ربِّ غَفّار** عَزَّوَجَلَّ نه هم د بخښنې خیرات اُوغواړئ. د هغوئ نه هم مُعافي اُوغواړئ! دا دَ کرم والا بارګاه ده د دې ځائ نه یو سوالګر هم مایوسه نه ځی، د **سُنَّتو** خیرات ترې واخلئ او د خپل مخ نه د خُدائے او د مُصطفٰی د دُښمن د سپیره والي نښه د همیشه همیشه د پاره لرې کړئ او په خوږ خوږ **سُنَّت** [یعني ګیره] باندې خپل مخ ښائِسته کړئ خو خیال کوئ شیطان ډیر چالاکه او مکّار دې، هسې نه چه د عیسائیانو او یهودِیانو نه خو خپله لَمَن راخلاصه کړئ او **ګیره** هم پریږدئ خو شیطان مو بیا د بل طرف نه

www.dawateislami.net

ګېر کړي او د فرانسیسیانو په ښپو کښې مو غوزار کړي. مطلب دا چه چرې "فرنچ کټ" یعني **وړه وړه ګېره پرېږ نه دئ ځکه چه ګېره خَرَئیل او د یو مُوتې نه وړه کول دواړه حرام دي. ګېره پرېږدئ او ضرور ئې پرېږدئ خو د خوږ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د خوښې ګېره پرېږدئ یعني یو موتې پوره پرېږدئ.**

دَ ګېره خَرَوونکي دیرش سزاګانې

په **فتاوٰی رَضَوِیّه** جِلد ۲۲ کښې د ګېرې د خَرَوَلو او د یو موتې نه د وړه کولو په غندنه کښې د "**لَمْعَةُ الضُّحٰی فِیْ اِعْفَاءِ اللُّحٰی**" په نوم یوه رِساله ده او د هغه رِسالې په آخِره کښې یعني **فتاوٰی رَضَوِیّه** جِلد ۲۲ صفحه ۶۷۵ او ۶۷۶ کښې د ګېره خَرَئیلو یا د یو موتې نه د وړه کولو مُتَعَلِّق د قُرآن او حدیث په رڼړا کښې د دیرش **سزاګانو**، وعِیدونو او غندنو فهرست درج کړې شوې دې (د اُوګدوالي د یرې مې حوالې پرېښودي دي که څوك ئې کتل غواړي، د هغه ځائ نه دِ ئې اُوګوري) ❁ګېره خَرَوُونکي د **الله و رَسُول** جَلَّ جَلَالُہٗ و صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نافرمانه دي ❁د شیطان لعِین **مَحکُوم** (یعني منُونکي) دي. ❁ سخت اَحمق [یعني بې وقوفه] دي ❁ **الله** (تعالٰی) ترې نه ناراضه دې ❁ **رَسُولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې ناراضه دې. ❁ **رَسُولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې صُورت لیدل بد ګڼري ❁ د یهودیانو په شان صورت لري ❁ د نصارٰی [یعني د عِیسایانو] په طریقه دي، د فِرنګیانو مشابه دي (یعني د هغوئ په شان ښکاري) ❁ د **مجوسیانو** (اور ته د سجده کوونکو) پیرو (یعني په نقشِ قدم) دي ❁ د هِندوانو په صُورت، د مُشرِکینو په سِیرت دي ❁ د مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ډلې نه نه دي ❁ هم د هغوئ هَم صورتو نصارٰی و یهُود و **مجُوس** و هُنُود د ډلې نه دي ❁ واجِبُ التَّعزِیر (یعني د سزا لائِق) دي، د ښار نه د شَړلو قابِل دي ❁ **مُبَدِّلِین فِطرت** (یعني فِطرت بدلَوونکي) دي **مُغَیِّرِ خَلْقِ الله** (یعني د الله د جوړ کړو ورانوونکي) دي ❁ زنانه **مُخَنّث** (یعني هِیجړاکان) دي ❁ د خُدائے عهد شِکَن (یعني وعده ماتوونکي) دي ❁ ذلیل و خوار دي ❁ د کرَکې او نفرت قابِل دي ❁ مَردُودُ الشَّهادة (یعني د ګواهئ د پاره نالائِقه) دي ❁ په اِسلام کښې پوره نه دي داخِل شوي ❁ په هلاکت کښې دي، د بربادئ مُستَحِق دي ❁په دِین کښې محرومه او په آخِرت کښې بې نصیبَه دي ❁ د عذابِ اِلٰهي په اِنتِظار کښې دي ❁ **الله** ته سخت دُښمنان او مبغُوض دي ❁ سحر هم د **الله** په غضب کښې دي او

www.dawateislami.net

ماښام هم د الله په غضب کښې دي ۞ د قِیامت په ورځ به د هغوئي شکلونه وران کړې شي ۞ د الله و رسُول مَلعُون [یعني لعنت کړې شوي] دي، په دُنیا او آخِرت کښې مَلعُون [یعني لعنت کړې شوي] دي، د الله او د فرِښتو او د انسانانو د ټولو پرې لعنت دې، فرِښتو د هغوئي په لعنتي کیدو باندې اٰمِین وئیلې دې ۞ الله تعالیٰ به په هغوئي نظرِ رَحمت نه فرمائي ۞ هغوئي به جَنَّت ته نه ځي ۞ الله تعالیٰ به هغوئي په جَهَنَّم کښې اچوي.وَالعِیَاذُ بِاللّٰه تعالیٰ (یعني او (د دې نه) د الله تعالیٰ پناه)

مکرِ شیطان میں مت آؤ بھائیو! رخ پہ تم داڑھی سجاؤ بھائیو!
چھوڑ دو فیشن مان جاؤ بھائیو! خود کو دوزخ سے بچاؤ بھائیو!
بالیقین دنیا تِری ہے بیوفا اِس سے تم مت دل لگاؤ بھائیو!

د شیطان نه مه دوکه کیږئ اے وروڼړو په مخ ګیره پرېږدئ اے وروڼړو
اُومنئ، فیشن پرېږدئ اے وروڼړو ځان د دوزخ نه بچ کړئ اے وروڼړو
بِالیقین دنیا ده ستاسو بې وَفا دې سره زړه مه لګوئ اے وروڼړو

زه د ډېر زیات خراب کِردار مالِك ووم

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د محبّتِ رسُول نښه ګیره مبارکه د پرېښودلو جذبه موندلو د پاره، په سر باندې د عِمامې شریفې تاج په سر کولو د پاره، د عِشق رسول په جذبه کښې د زُلفو د پرېښودلو په سُنَّت باندې د عمل کولو د پاره، په مَدَني حُلیه باندې د اِستِقامت موندلو د پاره او د قُرآنِ کرِیم لوستلو او نورو ته د وئیلو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تعَلُّق مضبوط ساتئ. د سُنَّتو ډکو مَدَني قافلو کښې د سفر کولو معمول جوړ کړئ او د مَدَني اِنعاماتو مطابق د خپل ژوند شپې ورځې تیروئ. ستاسو د تحریص [یعني د نیکو د حِرص راپیدا کولو] د پاره یو مَدَني سپرلې وړاندې کوُوم. د بابُ المَدِینه (کراچئ) اوسیدونکي یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده چه: مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه د ډېر زیات خراب کِردار مالِك ووم، د نیمې شپې پورې به د دوستانو په محفل کښې په ګپ شپ کښې مصروفه ووم، نه به مې د مور او پلار عِزّت کولو او نه راته د خپل قیمتي وخت د ضائِع کیدو احساس وو، د هر طرف نه راباندې

www.dawateislami.net

غفلتونه راخواره وو. د کور کسان زما د وران کارۍ په وجه سخت پریشانه وو او زما د اِصلاح کولو په کوشش کښې به مصروفه اوسیدل ځکه چه د نیك اولاد په وجه په معاشره کښې هم د مور او پلار نیك نامي کیږي. یوه ورځ زما ورور د یو **عاشِقِ رسُول** سره زما ملاقات وکړو، هغوئي ډیر د محبّت په انداز کښې د دعوتِ اسلامي په **هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع** کښې د شِرکت کولو دعوت راکړو او په **مدرسَةُ المَدینه** (برائےبالِغان) کښې ئې د داخِله اغستلو رغبت راکړو او په احکامِ شریعت باندې د عمل کولو بَرَکتونه او فضِیلتونه ئې راته بیان کړل. د هغوئي زبردست **اِنفِرادي کوشش** زما په زړه باندې دومره اثر وکړو چه ما اِنکار ونکړې شو. ما په **مدرسَةُ المَدینه** (برائےبالِغان) کښې داخِله واغسته. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ په **مدرسَةُ المَدینه** (برائےبالِغان) کښې راته په صحیح مخارجو د حُروفو د صحیح ادائیګۍ سره د قُرآنِ مَجِید فُرقانِ حمید د لوستلو سعادت نصیب شو او د **سُنَّتِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مطابِق ژوند تیرولو والا **عاشِقانِ رسول** د صُحبت په بَرَکت مې د دِین سره داسې محبَّت پیدا شو چه د نن صبا په دې خراب دور کښې، چه هر طرف ته د فیشن پرستۍ دور دوره ده ما کِیره مبارکه هم پرېښودله او د عِمامې شریفې تاج مې هم په سر کړو، پخپله هم د سُنّتو مطابق د ژوند تیرَوَلو کوشش کووم او د سُنّتو د عام کولو کوشش هم کووم. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د دې لِیك د وخته پورې ما ته د ذِیلي مشاوَرَت د نِګران په حیثِیَّت دَ مَدَني کارونو د کولو ذِمّه داري راکړې شوې ده.

بُری صحبتوں سے کَنارہ کشی کر
کے اچّھوں کے پاس آکے پا مَدَنی ماحول

تَنَزُّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی
ترقّی کا باعث بنا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۶۰۴)

وکړه ډډه ته له بدو صُحبتونو راشه د ښو خوا ته حاصل کړه مَدَني ماحول
د پستۍ په جورو کندو کښې چه وو د هغوئي د ترقۍ باعِث جوړ شو دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د دعوتِ اِسلامي د جامِعاتو او مَدرسو شمیر

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په دې مَدَني سپرلي کښې د اِنفِرادي کوشش او د **مدرسَةُ المَدینه** (برائےبالِغان) د بَرَکتونو ښکاره ذِکر دې چه د دې په وجه یو لوفر ځلمې پخپله هم په سُنّتو باندې روان شو او نورو ته هم د سُنَّتو لار ښودونکې جوړ شو. ټولو اسلامي وروڼو او اسلامي خویندو ته زما مَدَني عرض دې چه په خپله خپله **مدرسَةُ المَدینه** (برائےبالِغان و بالِغات) کښې ضرور داخِله واخلئ او که قرآنِ مجید مو نه وي وئیلې نو وئې لولئ او که په تجوید سره مو وئیلې وي نو د خپل تنظِیمي ذِمّه دار په مشوره ئې نورو ته وئیل شروع کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما د معلوماتو مطابق د دې لِیك د وخته (یعني ١٤ رَمَضانُ المُبارك ١٤٣٢ھ/ 15،اگست 2011ء) پورې صِرف په پاکستان کښې د حِفظ او ناظِرې د مَدَني ماشومانو [هلکانو] تقریباً ٧٦٦ او د مَدَني ماشومو [جِینکو] تقریباً ٣١٦ **مَدارِسُ المَدینه** چلیږي او په هغې کښې دَ مَدَني ماشومانو [هلکانو او جِینکو] ټول شمیر تقریباً ٧٢٠٠٠ دې. او د **مَدرَسةُ المَدینه بالِغان** شمیر (چه عام طور د ماسخُتن د لـمانځه نه پس تقرِیباً ٤٠ مِنَټه لګي د دې مدرسو شمیر) تقریباً ٣٣١٦ دې او د اسلامي خویندو د **مَدرَسةُ المَدینه بالِغات شمیر** تقریباً ٣٩٣٨ دې (چه د دې وخت عام طور سحر د اته بجو نه واخله د مازدیګره پورې په مختلفو وختونو کښې، یوه ګینټه او دولس مِنټه وي). او (١٠ رَجَبُ المُرَجّب ١٤٣٢ھ 2011-6-12) د اسلامي وروڼو د درسِ نِظامي د **جامِعاتُ المدینه** شمیر تقریباً 90 او د اسلامي خویندو د **جامِعاتُ المدینه** شمیر تقریباً 72 دې، د طَلَبه شمیر تقریباً 6671 او د طالِباتو شمیر تقریباً 2841 دې. په دې ټولو **جامِعاتُ المدینه** (لِلبَنِین ولِلبَنات) کښې فِیْ سَبِیلِ الله تعلیم ورکولې کیږي او د دې اَخراجات د مُخَیَّرو اسلامي وروڼو په عطیاتو [یعني چنده] پوره کیږي. هر مسلمان ته صحیح قرآنِ کریم لوستل او د فرضو دِیني عُلومو زده کول ضروري دي.

د تعلِیمِ قرآنِ کریم مُتعَلِّق دوه اهم مَدَني ګلونه

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اِداري مَکتَبَةُ المَدِینَه چاپ شوي د ١٢٥٠ صفحو کتاب "بهارِ شریعت جِلد اوّل" صفحه ٥٤٥ او ٥٤٦ کښې دي: (١) د یو آیت حِفظ کول په هر مسلمان مُکَلَّف (یعني عاقِل او

www.dawateislami.net

بالِغ) باندې فرضِ عَین دي او د پوره قرآنِ مجید حِفظ کول فرضِ کِفایه او سورۂ فاتِحه او یو بل مُختَصر سورت یا د هغې په مِثل، مثلاً درې مُختصر آیتونه یا یو غټ آیت حِفظ کول واجِبِ عَین دي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۳۱۵) (۲) په قدر دَ ضرورت د فِقْه مسائِل زده کول فرضِ عَین دي او د حاجت نه زیات (مسائِل) زده کول د حِفظِ جَمیعِ قرآن (یعني د حافظِ قرآن جوړیدو) نه غوره دي. (رَدُّالمُحتار ج۲ ص۳۱۵)

یہی ہے آرزو تعلیمِ قراں عام ہوجائے
تلاوت کرنا اپنا کام صُبح و شام ہوجائے

ارمان مې دا دې چه تعلیم د قُرآن عام شي چه هر یو کور کښې ئې تِلاوت سحر ماښام شي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آیا فیشن پرست عِزّت مند دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فِکر وړ خبره ده چه! آیا نن دُنیا "ډیر غټ څیز" نه ګنړلې شي؟ آیا نن صبا د مسلمانانو د ګنړ شمیر د زړونو نه د اسلام حقیقي رُعب او دبدبه نه ده وتلې؟ آیا د نیکئ دعوت ورکول او د بدئ نه منع کول نه دي پرینبودې شوي؟ آیا په خپل مینځ کښې د کنزلو او ردو بدو سلسله ډیره عامه نه ده؟ په کړوړونو افسوس! نن د ګنړ شمیر مسلمانانو د ژوند د انداز نه هم دا ظاهریږي چه دُنیا ته د آخِرت په مقابله کښې ډیر اَهَمِیَّت ورکولې کیږي، د شریعت او سُنَّت نه مَعاذَ الله عَزَّوَجَلَّ خلق ورځ په ورځ لري وَځي، د سُنّتو نه لري والې او په فِرنګي فیشن پسې لیوني کیدل به آخِر دا معاشره کوم طرف ته بوځي!

د دُنیا مَحَبّت د ټولو ګناهونو جرړه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په هوش کښې راشئ او د مرګ نه مخکښې خپله اِصلاح وکړئ! یقین وکړئ! دا ټوله تباهي د دُنیا مَحَبّت راوستې ده، د دُنیا د مَحَبَّت په وجه نن خلق د سُنّتو نه ډیر لري وَتي دي، **سرکارِ مدِینه** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: حُبُّ الدُّنْیَا رَأْسُ کُلِّ خَطِیْئَةٍ یعني د دُنیا مَحَبَّت د

www.dawateislami.net

ټولو ګُناهونو جرړه ده. (کِتابُ ذم الدنیا مع موسوعة الامام ابن ابی الدُّنیا ج۵ ص۲۲ حدیث۹) په کروړونو افسوس! نن مونږه د جَنَّت د نه ختمیدونکو نعمتونو د حاصلولو د پاره د یو څو ورځو د پاره د کور د معمولي غوندې سهولتونو پرېښودلو ته تیار نه یو چه لاړ شو او د سُنّتو د تربِیّت د پاره د **الله** تعالیٰ په لار کښې سفر وکړو خو بل طرف ته د فاني دُنیا د عارضي دولت ګټلو د پاره د خپل کور والؤ نه د کلونو د پاره جُدا کیدو او په زرګاؤ مِیلونه لرې تلَلو ته فوراً تیاریږو. آیا د مسلمانانو په دِیني اِعتِبار سره تباهي او د غیر مُسلمو په دوئي باندې غالِب کیدل، د جُماتونو شړیدل، د سینماګانو او د عیش و عِشرت د اډو آبادیدل، د فرنګي رسم و رواج عام کیدل، د مغرِبي فیشن عام کیدل، د فِلمونو ډرامو کتلو د پاره کور په کور تې وي او وي سي آر[او انټرنیټ]، هر طرف ته د ګناهونو عام کیدل او د مسلمانانو د یو ډیر ګنړ شمیر بد کِردار، آیا دا هر څه مونږ ته په چغو چغو د فِکر کولو دا دعوت نه راکوي؟ چه **"مونږ ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح د کوشش کولو د پاره د مَدَني قافِلو ضرور او ضرور مسافر جوړیدل پکار دي."** نن مونږ ته په ژوند کښې په یو مخ دولس میاشتې او په هرو دولسو میاشتو کښې په یو مخ د یوې میاشتې او ټول عُمر هره میاشت د درې ورځو د پاره د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د **عاشِقانِ رسُول** سره د سُنّتو ډك سفر کول ډیر ګران معلومیږي. سوچ خو وکړئ که په مونږه کښې هر یو په خپلو مجبوریانو کښې نښتې پاتې شي نو آخِر څوك به په مَدَني قافِلو کښې سفر کوی؟ څوك به د ټولې دُنیا خلقو ته **د نیکئ دعوت** رَسَوي؟ د تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ خوږ اُمّت سره به څوك ښیګړه کوي؟ څوك به د اغیارو په فیشن باندې فخر کونکو نادانو مسلمانانو ته په سُنّتو د عمل کولو دعوت ورکوي؟ څوك به دوئي ته د دې مَدَني مقصد د خپلولو ترغِیب ورکوي چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰہ تعالیٰ. **اے کاش** چه! هر یو اسلامي ورور دا نِیَّت وکړي چه زه به په ژوند کښې په یو مخ دولس میاشتې او په هرو دولسو میاشتو کښې به مسلسل د یوې میاشتې او ټول عُمر هره میاشت د درې ورځو د پاره د **عاشِقانِ رسُول** سره د دعوتِ

www.dawateislami.net

اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو ډك سفر کووم اِنْ شَآءَاللّٰه‌تعالٰی. د **مَدَني قافِلې** په بَرَکتونو باندې د ځان پوهه کولو د پاره یو **مَدَني سپرلې** اُوګورئ، چنانچه،

بدترین، عزیز ترین څنګه جوړشو؟

د **لاسي ګوټه** (بابُ المَدینه کراچۍ) اوسیدونکي یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې چه: زه ډیر زیات خراب اِنسان ووم، د فِلمونو او ډرامو شوقین کیدو سره سره د لوفرانو هلکانو سره دوستانې او د نیمې نیمې شپې پورې د هغوئي سره بې فائِدې ګرځیدل زما په معمولاتو کښې شامِل وو. زما د غلطو حرکتونو په وجه زما د ټول خاندان کسان بلکه زما خپل مور او پلار به هم زما نه ډډه کوله، هیڅ چا به هُم خپل کور ته زما ورتلَل نه خوښول او نورو ته به ئې هم زما د صُحبت نه د بچ کیدو نصیحت کولو. معامله دې حد ته رسیدلي وه چه زما والِد صاحِب د کور نه زما شړلو ته تیار شوې وو. زما د ګناهونو نه ډك خزان وهلې ماښام د سحر په سپرلي کښې د بدلیدو څه داسې وسِیله جوړه شوه چه یو مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي په ډیره زیاته نرمئ او مهربانئ په ما **اِنفرادي کوشش** وکړو او ما ته ئې د پاکستان په مشهور ښار کوئِټه کښې په صوبائي سطح باندې کیدونکي د دوه ورځو **د سُنَّتو ډکه اِجتِماع** کښې د شرکت کولو دعوت راکړو. ما معامله د والِد صاحِب اجازت ته وسپارله. د نیکۍ د دعوت د جذبې نه ډك هغه اسلامي ورور زما په دې فیصله ډیر خوشحاله شو ځکه چه والِد صاحِب خو مې د مخکښې نه د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره ډیره مِینه لرله. چه کله هغه مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي موقع اُومونده نو زما په والِد صاحِب ئې اِنفِرادي کوشش وکړو او زما د پاره ئې ترې په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو اِجازت اُوغوښتو. والِد صاحِب دا زما د اِصلاح ذریعه وګنړله او سره د خرچ ادا کولو ئې ما ته په خوشحالئ په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو اِجازت راکړو. په مُقرّره تارِیخ د **عاشِقانِ رسُول** سره په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو سعادت رانصیب شو. په اِجتِماع کښې کیدونکي د سُنَّتو ډکو بیانونو،ذِکرُالله عَزَّوَجَلَّ او رِقَّت انګیزې دُعا زما په زړه ډیر اثر وکړو. بیا چه په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړې شو نو زه سمدستي د عاشِقانِ رسُول سره د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافِلې مسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په مَدَني قافِله

کښې د **عاشِقانِ رسُول** صحبتونو او مهربانئ زما په شان د ګنهګار او وران کاري اِنسان په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو. د ګناهونو نه توبه کول رانصیب شو او په زړه کښې مې د سُنّتو مطابق د مَدَني لِباس جذبه پیدا شوه، د مور او پلار د حقونو نه ادا کولو [د احساس پیدا کیدو] په وجه مې د هغوئي نه د معافئ غوښتلو ذِهن جوړ شو، په مخ مې د سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یعني د ګِیرې مبارکې پریښودَلو او د شنې شنې عِمامې شریفې تاج په سر کولو نِیَّت جوړ شو. د **مَدَني قافِلې** نه چه څنګه بیرته کور ته راغلم نو والِد صاحِب ته په ښپو پریوتم او په ژړا ژړا مې ترې معافي اُوغوښتله. او دغسې زما په شان ګنهګار او بې فائِدې کس د سُنّتو په خِدمت کښې مشغول شو. کومو خپلو خپلوانو به چه مخکښې زما نه ډډه کوله نن هغوئي ما له غیرِه راکوي. مخکښې زه په خپل خاندان کښې "بدترین" ووم، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول په بَرَکت نن زه د هغوئي په نِزد "عزیز ترین" جوړ شوې یم.

جب تک بِکے نہ تھے کوئی پوچھتا نہ تھا　　تم نے خرید کر مجھے انمول کردیا!

تر څو چه نه ووم خرڅ، چا مې تپوس هُم نه کولو　　تاسو چه واغِستمه نو اوس شومه بې بها

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د کور کسانو ته د نیکئ د دعوت ورکولو تاکِید

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! د عاشِقِ رسُول د اِنفرادي کوشش په بَرَکت د معاشرې د ناسُور په شان "بد ترین" انسان د ټولو د سترګو تور او "عزیز ترین" مسلمان جوړ شو. مونږ ټول که هر یو ته د لـمانځه نصیحت کوو، د سُنَّتو ډکې اجتِماع [کښې د شرکت کولو] دعوت ورکوو او په مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو ترغِیب ورکوو نو ډیر زر به په معاشره کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته شي! خاص طور د خپل کور کسانو ته هم د نیکئ دعوت ورکول او هغوئي د ګناهونو نه بچ کول پکار دي. چنانچه د حضرتِ سَیِّدُنا زَید بِن اسلم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې آیتِ مبارکه تلاوت اُوفرمائیلو:

قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا (پ۲۸، التحریم: ٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ.

صحابۂ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: یا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ د خپل کور کسان څنګه د اور نه بچ کړو؟ **حُضُورِ پُرنُور** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: هغوئي ته د هغه کارونو حُکم ورکړئ کوم کارونه چه د **الله** تعالٰی خوښ دي او د هغه کارونو نه ئې منع کړئ کوم چه **الله** تعالٰی ته ناخوښه دي. (تفسِیر دُرِّ منثور ج۸ ص ۲۲۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د خوفِ خُدا اِیمان تازه کوونکي حِکایت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په بیان شوي حدیثِ پاك کښې چه زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سیپاره ۲۸ سُوْرَةُ التَّحْرِيْم د آیت ٦ د کومې حِصّې تِلاوت فرمائیلې دې د هغې د تفسِیر نه مخکښې یو اِیمان تازه کوونکي **حِکایت** واورئ چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د ۱۰۱۲ صفحو کتاب **"جهنّم میں لے جانے والے اعمال"** جِلد ۲ صفحه ۸۸۱ کښې دي چه. حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي چه کله **الله** تعالٰی په خوږ خوږ مکّي مَدَنی آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیتِ مبارکه نازِل کړو:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ (پ۲۸، التحریم: ٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ چه د هغې خشاك انسانان او کانړي دي.

نو شَهَنشاهِ مَدِینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو صحابۂ کرامو رِضْوَانُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن په مخکښې د دې تِلاوت اُوفرمائیلو نو یو ځلمي بیهوشه شو او اوغورزیدو. حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه په زړه باندې خپل لاس مُبارك کیښودو نو هغې حَرَکت کولو. حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

ارشاد اُوفرمائیلو: ”اے ځلمیه! لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ اووایه.“ هغه [کلِمه] اُووئیله نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د جَنَّت بِشارت (یعني زیرې) ورکړو، صحابۂ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: یا رسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا زمونږ د مینځه نه؟ (یعني په مونږه کښې چه د بل یو داسې حالت شي نو؟) خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: آیا تاسو د اللّٰه تعالٰی دا فرمان نه دې اوریدلې:

ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِیْ وَ خَافَ وَعِیْدِ ﴿۱۴﴾ (پ:۱۳، ابراهیم:۱٤)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: دا د هغه د پاره دې څوك چه وَیَریږي زما په بارګاه کښې د ودریدو نه، او وَیَریږي د هغې نه کوم د عذاب حُکم چه ما اورَوَلې دې

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحاکِم ج۳ ص۹۳ حدیث ۳۳۹۰ ، اَلزَّواجِر ج۲ ص۴۷۱)

دَ عذاب نه ئې څنګه بچ کړي؟

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خَزائِنُ الْعِرفان کښې د دې آیتِ مبارکه یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا نه لاندې فرمائي: ”د اللّٰه تعالٰی او د هغه د رسُول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمانبرداریٔ اختیارَوَلو، په عِبادت کولو، د ګناهونو نه په بچ کیدو او د کور کسانو ته د نیکئ په هِدایت او د بدئ نه په منع کولو او هغوئ ته په عِلم و ادب زده کولو.“ (اے اِیمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ)

د کور کسانو ته د نیکئ خبرې وښایه

حضرتِ مولائے کائِنات، عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم د بیان شوي آیتِ کریمه لاندې فرمائي: پخپله هم د نیکئ خبرې زده کړه او د خپل کور کسانو ته هم د نیکئ خبرې او ادب زده کړه. (جَمْعُ الْجَوامِع لِلسُّیُوطی ج۱۳ ص۲٤٤ حدیث ٦٧٧٦)

د بالِغ اولاد د اِصلاح مُتَعَلِّق د اعلٰی حضرت فتوىٰ

د فتاوٰی رَضَوِیّه جِلد ٤٢ صفحه ۳۷۰ نه مې یوه معلوماتي فتوىٰ د وړاندې کولو کوشش کړې دې، وئې ګورئ:

سُوال: بالِغ اولاد ته د نیکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول په مور او پلار باندې فرض دي که واجِب؟

الجواب: د کوم یو فِعل (یعني کار) چه څه شرعي حیثیت دې د مور او پلار د پاره شرعاً هُم هغسې حُکم دې یعني په فرض باندې فرض، واجِب باندې واجِب، سُنّت باندې سُنّت، مُستحَب باندې مُستحب خو په شرط د قُدرت په قدر د قُدرت، د فائِدې په اُمّید (یعني چه څومره قُدرت لري د هغې مطابِق دِ د اِصلاح خبره کوي هله چه د فائِدې اُمّید لري) ګنې (حُکمِ قرآني واضِحه دې چه)

عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ ؕ (پ:۷، المآئدہ: ۱۰۵)

مفہوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: تاسو خپل فِکر کوئ، ستاسو هیڅ نُقصان نه شي کولې هغوئ څوك چه بې لارې شو، چه کله تاسو په هِدایت ئې.

(فتاوٰی رضویہ ج۲۴ ص۳۷۰)

د جَهَنَّم تعارُف

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! مونږه ته د خپل ځان او د کور د کسانو په اِصلاح باندې خصوصی توجُّه ساتل پکار دي او هغوئ او خپل ځان دَ جَهَنّم د تورو تِیارو او خوفناك اُور نه د ساتلو پوخ کوشش جاري ساتل پکار دي. قسم په خُدائے چه! د جَهَنّم اور بیحده سخت دې، هغه به څوك په هیڅ صورت برداشت نه کړې شي. په فرض لـمونځ، زکوٰة او حج کښې سستي کونکو، مور او پلار خفه کونکو، د خپل اولاد د شریعت او د سُنّت مطابِق تربِیَّت نه کولو والؤ، خپل ځامن د ګیرې پرېښودو نه منع کولو والؤ او پخپله هم ګِیره خَرَونکو، ګِیره د یو مُوټي نه کمولو والؤ، په مال کښې ګډه [یعني مِلاوټ] کونکو او په دوکه خرڅولو والؤ، په سودا خرڅولو کښې دوکه ورکونکو، غلو، ډاکوانو، جیب وهونکو، په ټي وي، وي سي آر او اِنټرنیټ فلمونه ډرامې کتلو والؤ، د سندرو او سازونو اوریدونکو، د خپل کور کسانو ته د دې سهولت ورکونکو، په خپلو کورونو باندې د فِلمونو کتلو د پاره ډِش انټینا لګولو والؤ، خلقو ته د فِلمونو لِیږ یا کیبل ورکونکو! او په قِسم قِسم ګناهونو کښې د اخته خلقو د پاره د فِکر مقام دې. یقین وکړئ چه په

www.dawateislami.net

تِیارو کښې ډُوب د جَهَنَّم تور تور اور به څوك برداشت نه کړې شي، په **تِرمِذي** شریف کښې د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُریره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه د سرکارِ **مَدِینۀ منوّره** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عِبرَت نِشان دې: د دوزخ اور زر کاله بل کړې شو تر دې چه **سُور** شو، بیا زر کاله تود کړې شو تر دې چه **سـ ین** شو، بیا زر کاله تود کړې شو تر دې چه **تور** شو پس اوس هغه ډیر زیات **تور** دې. (سُنن تِرمِذی ج٤ ص ٢٦٦ حدیث ٢٦٠٠)

د جَهَنّم لړزوونکي قِصّه د جِبرئیل د خُلې نه

قسم په **خُدائے** چه! د جَهَنَّم اور به هیڅ څوك هم برداشت نه کړې شي. حضرتِ سَیِّدُنا اِمام حافظ ابو اَلقاسِم سُلیمان طَبَراني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي چه: یو ځل د **سرکارِ نامدار**، مَدَنـي تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې **حضرتِ جِبرئیل** عَلَیْهِ السَّلَام حاضِر شو او عرض ئې وکړو: یارسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغه ذات مې دِ قَسم وي! چا چه تاسو صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نبیِ برحق رالیږلي ئې، که جَهَنَّم د ستنې د ستوِمې [یعني د ستنې د سُوري] همره بیرته کړې شي نو ټولې زمکې والا به د هغې د ګرمئ نه هلاك شي، که **د جَهَنَّم والؤ یوه کپړه** د زمکې او د آسمان په مینځ کښې زوړنده کړې شي نو ټول د زمکې والا به د مرګ کندې ته کوز شي [یعني مړه به شي]. آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه ذات مې دِ قَسَم وي! چا چه تاسو د حق سره مبعوث کړي ئې که په جَهَنّم باندې مُقرّرو فرښتو کښې یوه **فرښته** د دُنیا والؤ مخې ته راښکاره شي نو د هغې د هیبته به ټول زمکې والا مړه شي. آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه لوئي ذات مې دِ قَسَم وي! چا چه تاسو رسُولِ برحق رالیږلي ئې، د جَهَنّم د **زنځیرونو** یوه ګړئ چه د هغې ذِکر په قُرآنِ کریم کښې فرمائیلې شوې دې که هغه د دُنیا په غرونو باندې کیښودې شي نو هغه به ریزه ریزه شي او **تَحْتَ الثَّرٰی** ته (یعني د وومې زمکې نه لاندې) به ورسي. سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: اے جِبرئیل (عَلَیْهِ السَّلَام) بس کړه هُم دومره تذکِره کافي ده چرې داسې ونشي چه زما زړه وچوِي او زه وفات شم. **خوږ آقا** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ولیدو چه **سَیِّدُنا جِبرئیل** عَلَیْهِ السَّلَام ژاړي، وئې فرمائیل: **اے جِبرئیل** (عَلَیْهِ السَّلَام) **ته ولې ژاړې؟** تاسو ته خو په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ کښې یو خاص مقام حاصِل دې.

www.dawateislami.net

عرض ئې وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه ولې ونه ژاړم، چرې داسې نه وي چه په عِلمِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ کښې د موجوده حال په ځائ زما څه بل حال وي، چرې د **اِبلِیس** په شان زه هم په اِمتِحان کښې وا نه چولې شم، چرې د **هارُوت** و **ماروت** په شان زه هم په ازمیښت کښې اخته نه کړې شم.

راوي وائي چه: رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په ژړا شو او حضرتِ سیِّدُنا **جِبرئیل** (عَلَیْهِ السَّلَام) هم ژړل. دواړو حَضَراتو ژړل، آخِر آواز راغې: "**اے جِبرئیل** (عَلَیْهِ السَّلَام) **اے محمد** (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی تاسو دواړه د خپلې نافرمانئ نه محفوظه کړي ئې." **سیِّدُنا جِبرئیل** (عَلَیْهِ السَّلَام) آسمانونو طرف والوَتلو. د **مَدِینې تاجدار،** رَسُولِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر ته تشریف راوړو. د بعضو اَنصارو صَحابۂ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان په خوا تیریدلو چه هغوئې خَندل او لوبې ئې کولې. وئې فرمائیل: "تاسو خاندئ او ستاسو شا ته جَهَنّم دې، که تاسو ته هغه خبرې معلومې وې کومې چه ما ته معلومې دي نو تاسو به لږ خندلې او زیات به مو ژړلې او تاسو به خوراك څښاك پریښودې وې او د غرونو طرف ته به وتلې وې او ښه په ډیرو مَشَقَّتونو برداشت کولو به مو د اِلٰهی (عَزَّوَجَلَّ) عِبادت کولې." آواز راغې اے **محمد!** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما بندګان مه مایوسه کوه، ما تاسو خوشخبري اورَونکي جوړ کړي لیږلي ئې او تنګي کولو والا جوړ کړي مې نه ئې لیږلې. پس رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: په سمه لار روان اوسئ او میانه روي اِختیار کړئ.

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوسط لِلطَّبَرانِی ج۲ ص۷۸ حدیث ۲۵۸۳)

افسوس! زمونږه زړه نه لړزیږي!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! غور وکړئ زمونږه **خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِ د معصُوم کیدو بلکه د **سَیِّدُالْمَعْصُومِین** کیدو باوجود او **سَیِّدُنا جِبرئیل اَمِین** (عَلَیْهِ السَّلَام) دِ هم د معصوم کیدو او د معصومو فرښتو د سردار کیدو باوجود هم د جَهَنَّم د ذِکر کیدو په وخت کښې د **الله** تعالٰی د یَرې نه ژړا فریاد کوي. او زمونږه حال دا دې چه د ګناه د پاسه ګناه کوو خو د جَهَنَّم د یَرَوونکي تذکِرې اوریدو باوجود نه زمونږه زړه لړزیږی نه مو بدن رپیږي او نه مو سترګې لـمدیږي.

افسوس! د عذابِ جَهَنَّم د خوفناکو خبرو اوریدو نه پس هم مونږه نه [په خپلو ګناهونو] پښیمانه یو نه پرې پریشانه یو، نه پرې شرمِنده یو او نه پرې افسوس کوو.

ندامت سے گناہوں کا اِزالہ کچھ تو ہو جاتا
ہمیں رونا بھی تو آتا نہیں ہائے ندامت سے (وسائلِ بخشش ص ۲۳۸)

یعني که مونږ په ګناهونو څه پښیماني لرلې نو څه ګناهونه به مو معاف شوي وو خو افسوس مونږ ته خو په پښیمانئ ژړا هم نه راځي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د شپې په ځان له ځائ کښې د آیتونو په اوریدلو وفات شو

زمونږ د بُزُرګانِ دین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ الْمُبِین به دا حالت وو چه د جَهَنَّم په ذکر اوریدلو او یا د جَهَنَّم د عذابونو په بیان مُشتَمِل قرآني آیتونو اوریدلو سره به بې هوشه کیدل بلکه د ځینو خو به روحونه اُووَتل. چنانچه **حَضرتِ** منصور بِن عمامه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه: د حج د سفر په دوران کښې د کوفې په یوه کوڅه کښې زما شپه وه. د شپې په توره تِیاره کښې د څه ضرورت د پاره بهَر اُووَتلَم، د یو کور نه د رِقَّت انګیز [ژړوونکو] **مُناجاتو** څه داسې آواز راغې: اے زما پروردګاره! ستا په عِزَّت او جلال مې دِ قَسَم وي! ما په خپلو ګناهونو کښې ستا د مُخالَفت اراده نه وه کړې، خو دومره ضرور ده چه د ګناه کولو په وخت کښې ستا نه بې خبره نه ووم، بس زما نه ګناه وشوه او زه ستا د طرف نه راکړې شوي د پرده پوشئ مُهلَت په ګناه باندې زړَوَر کړم او زما بدبختئ په ګناه کښې زما مدد وکړو او زه د خپلې نادانئ په وجه [ستا] په نافرمانئ کښې اخته شوم. اوس زه ستا په فَضل اُمّید لرم چه ته به زما عُذر قبول کړې. که تا زما عُذر قبول نه کړو او په ما دِ رحم ونکړو نو هائے زما د اُوګدې مودې د عذاب غم! چه کله هغه خاموشه شو نو ما د اَته ویشتمې سیپارې د سُوْرَةُ التَّحْرِیْم شپږم آیتِ کریمه ولوستلو:

www.dawateislami.net

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓىِٕكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمْ وَ يَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ۝٦ (پ:۲۸، التحرِيم:٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ چه د هغې خشاك انسانان او کانړي دي. په هغې سختې او کرّه فرښتې مُقررې دي، چه د الله د حکم نافرماني نه کوي او چه څه حکم ورته وشي هُم هغه کوي.

د آیتِ کریمه لوستلو نه پس ما یوه تیزه چغه او د غورزیدلو آواز واوریدو او بیا خاموشي خوره شوه او د هیڅ قِسمَه حَرَکت آواز نه محسوسیدو. بیا زه د خپل کار پوره کولو نه پس بیرته خپل د اوسیدو ځائ ته راغلَم. بیا چه سحر هغه طرف ته لاړم نو خلق د تعزِیَّت [یعني دُعا] د پاره راجمع شوي وو او د ژړا آوازونه راتلَل، هلته مې یوه بوډئ ولیدله چه په ژړا ژړا ئې داسې وئیل چه: الله تعالیٰ دِ زما د ځوئ قاتِل ته جزائے خیر ورنکړي چه هغه زما ځوئ ته د عذابِ اِلٰهي آیتِ کریمه تِلاوت کړو، او هغه برداشت نه کړې شو او د الله تعالیٰ د یَرې نه راپریوتو او وفات شو. حضرت منصور بِن عمامه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه وائي چه: په دغه شپه ما یو کس په خوب کښې ولیدو، هغه ما ته ئې وئیل چه: "زه هغه یم چا چه ستاسو د خُلې نه د سُوْرَةُالتَّحْرِیْم د شپږم آیتِ کریمه تِلاوت اوریدلې وو او د خوفِ خدا عَزَّوَجَلَّ په سَبَب ترې ساه ختلـي وو." ما ترې تپوس وکړو: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ [یعني] الله تعالیٰ ستا سره څه مُعامَله وکړه؟ هغه جواب راکړو چه: الله تعالیٰ زما سره هغه څه وکړل څه ئې چه د شُهداءِ بَدَر سره کړي وو. ما ترې تپوس وکړو چه، هغه څنګه؟ هغه اُووئیل: هغه داسې چه الله تعالیٰ هغوئي د کافِرو په تُورو شهیدان کړي وو او زه ئې د خپل عِشق په تُوره [شهید کړم]. (بِتَغَیُّر مَوَاعظه حسنه ص۴۲، ۴۳)

خدایا ترے خوف کا ہوں میں سائل — سدا دل رہے تیری الفت میں گھائل
گناہوں سے ہر آن ڈرتا رہوں میں — فقط نیک ہی کام کرتا رہوں میں
تُو کر در گزر مجھ کو ہر معصیت سے — نواز اے خدائے کریم مغفِرت سے

خدایا ستا نه ستا خوف زه غواړم — ستا محبّت کښې زخمي زړه غواړم

www.dawateislami.net

د ګناهونو نه ستا ویره غواړم فقط نیکي درنه زه ډیره غواړم
زما ګناهونه ته کړې معاف یا کریم وکړې زما بخښنه ته یا رحِیم

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د کور کسانو ته هم د نیکئ دعوت ورکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه: د خائفِینو (یعني د **الله** تعالٰی د ویره لرونکو) هم څه ښکلي شان وي! کوم آیتِ کریمه چه هغه خوفِ خُدا لرونکي بنده اوریدلې وو او ساه ئې ختلي وه، په هغې کښې د خپل ځان سره سره د خپل کور د کسانو هم د جَهَنَّم د اور نه د بچ کولو حکم ورکړې شوې دې. هر یو کس له پکار دي چه پخپله نیکئ کوي، د ګناهونو نه ځان ساتي او د کور د کسانو هم د اِصلاح بندوبست کوي. حضرت عَلَّامه قُرطُبی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حضرت سَیِّدُنا اِلکِیا رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ قول نقل کوي چه: په مونږ فرض دي چه خپل اولاد او کور والؤ ته دیني تعلیم ورکړو، ښې خبرې ورته زده کړو او د هٰغه ادب او هُنر تعلیم ورکړو چه د هغې نه بغیر ګزاره نه وي. (تَفسیرِ قرطُبی ج۹ ص۱۴۸)

ماشوم ته د ټولو نه اوّل دین زده کړئ

صَدرُ الشَّرِیعَه، بَدرُالطَّرِیقَه حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتِي **مُحَمَّد اَمجَد عَلی اَعظَمِی** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د ټولو نه مخکښې خبره دا ده چه ماشومانو ته قرآنِ مجید زده کړې شي او د دِین ضروري خبرې ورزده کړې شي، روژه، لـمونځ، طهارت [یعني د پاکئ مسائل] او د اخستلو او خرخَوَلو او د اُجرَت وغیره اغستلو، ورکولو او د نورو مُعامَلاتو مسائل چه د هغې هره ورځ حاجت پیښیږي او د لاعِلمئ په وجه د خلافِ شرع کارونو کولو په جُرم کښې اَخته کیږي د دې خبرو تعلیم دِ ورکړې شي. که دا محسوسه کړئ چه ماشوم د عِلم حاصلولو شوق لري او هوښیار هم دې نو د عِلمِ دِین د خِدمَت نه بل ښه کار نشته او که طاقت نه لري نو د صحیح عقیدو د تعلیم او د

www.dawateislami.net

ضروري مسائلو تعلیم ورکولو نه پس ئې چه په کوم جائز کار کښې لګوئ [تاسو ته] اختیار دې. (بهارِشریعت ج۲ ص۲۵٦) لور ته هم د عقیدو او د نورو ضروري مسائلو تعلیم ورکړئ او بیا ورته د یوې زنانه نه د جامو ګنډلو او نقش و نګار وغیره داسې کار زده کړئ چه اکثر د هغه کارونو زنانۀ ته ضرورت پیښیږي او د پخلي او نور د کور کارونه هغې ته په ښه طریقه د زده کولو کوشش وکړئ ځکه چه په ښه طریقه د کور کارونه کونکي زنانه چه څنګه ښه ژوند تیرولې شي هغسې بیکاره زنانه نه شي تیرولې. (ایضاً ص ۲۵۷ ، رَدُّالمحتار ج۵ ص ۲۷۹)

اولاد ته د سخاوت او اِحسان تعلیم ورکول واجِب دي

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې مَکتَبَۃُالْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۱۱۹۷ صفحو کتاب "**بهارِشریعت جلد۳**" صفحه ٦۸ کښې دي چه: امام ابو منصور ماتُریدي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په مؤمِن باندې خپل اولاد ته د **جُود** (یعني سخاوَت) او **اِحسان** تعلیم ورکول داسې واجب دي څنګه چه پرې د توحید او ایمان تعلیم ورکول واجِب دي ځکه چه د **جُود** و **اِحسان** سره د دُنیا **مَحَبَّت** د زړه نه اُوځي او هم د دُنیا **مَحَبَّت** د هرې ګناه جرړه ده. (دُرِّمُختار ج۸ ص٥٦۸)

بې اولاده ته چه کله اولاد نصیب شو

وائي چه: د یو مالدار کس اولاد نه وو، هغه د دې د پاره ډیرې طریقې اختیار کړې خو کامیاب نه شو، چا ورته مشوره ورکړه چه **مَکَّۂ مُکَرَّمه** زَادَھَا اللّٰہُ شَرَفًاوَّتَعْظِیْمًا ته لاړ شه او په مَسجِدُالحرام کښې د **مقامِ اِبراهیم** خوا ته دُعا اُوغواړه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ستاسو کار به وشي. هغه هم دغسې وکړل او **الله** تعالٰی هغه ته د سپوږمۍ په شان ښکُلې ځوئ ورکړو. هغه په ډیره زیاته مینه او **مَحَبّت** د هغه پالنه وکړه، د موره یو ځوئ سره به ئې د حد نه زیاته مینه کوله خو صحیح تربِیَّت ئې ونکړې شو، په دې وجه هغه لوفر او فضول خرچه جوړ شو. پلار ئې هله په خود کښې راغې چه اوبه د سره تیرې وې، بیا ئې خپل وران کاري ځوئ ته پیسې ورکول بند کړل، په دې وجه هغه د خپل پلار خلاف شو او په کوم ځائ کښې ئې چه پلار د اولاد د پاره دُعا غوښتې وه او د هغه دُعا په نتیجه

www.dawateislami.net

کښې (دا هلك) پیدا شوې وو، هغه نالائقه ځوئ هم هغه ځائ یعني **مَکَّۀ مُکَرَّمه** زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًاوَّتَعْظِیْمًا ته لاړو او د **مقامِ اِبراهیم** خوا ته ئې د خپل پلار د مرګ دُعاګانې وکړې، د پاره د دې چه د پلار د مرګ نه پس ورته د هغه مال او دولت په په میراث کښې پاتې شي.

د اولاد غوښتونکو په خدمت کښې د نیکئ دعوت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کوم خلق چه د بې اولادئ ژړا کوي! د هغوئي د پاره په دې **حکایت** کښې ډیر لوئ عِبرَت دې، د **الله** تعالیٰ نه صرف د "اولاد" سوال نه بلکه د **عافیت** [یعني د خیر] **والا اولاد** سوال کول پکار دي ګنې چرې داسې ونشي چه اولاد خو پیدا شي خو سخت بیمار یا معذوره وي یا په آپریشن پیدا شي یا د پیدا کیدو په وخت کښې د خپلې مور د مرګ وجه جوړ شي لکه څنګه چه د وړومبي ماشوم په پیدائِش کښې ډیرې زنانه وفات کیږي وغیره. کله داسې هم کیږي چه ماشوم لوئ شي نو بیلـمانځه وي، مور او پلار تنګوي، د بد صُحبت په وجه په نشو کښې اخته شي، یا په معاشره کښې غل، ډاکو جوړ شي، یا د بدعقیده خلقو سره د ناستې ولاړې په وجه بدمذهبه شي، تر دې چه کله کله داسې هم کیږي چه **مَعَاذَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ګستاخ رسول جوړ شي یا صَرِیح [یعني ښکاره] کُفریه خبرې کوي یا د اسلام نه واوړي او **مُرتَد** شي. بهرحال د چا دُنیا ته "راتلل" د دُنیا او آخرت په ډیرو ډیرو او ډیرو زیاتو امتحانونو کښې اَخته کیدل دي. په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د ۶۹۲ صفحو کتاب "*کُفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب*" صفحه ۵ نه ٦ پورې ورکړې شوې مضمون ډیر عبرتناك دې، هغه د تَصَرُّف سره عرض کووم: په حدیثِ مُبارَکه کښې د اُمَّت د زیات والي ترغیب ورکړې شوې دې او زمونږه خوږ آقا **مُصطفٰـی جانِ رحمَت** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د قِیامَت په ورځ د دې اُمَّت په زیات شمیر خوشحالیږي او د نورو اُمَّتونو په مقابَله کښې به پرې فخر کوي، لِهٰذا د اولاد د حاصلولو په خواهش کښې د دُنیا او آخرت د ښیګړو د حاصلولو د پاره ښه ښه نِیَّتُونه کول پکار دي. نن چه په دُنیا کښې کوم بې اولاده خپل زړه خوري او د اولاد د پیدا کیدو د پاره ډیر ډیر کوششونه کوي، هغه دِ ښه غور وکړي چه که د هغه د اولاد حاصلولو اصل مقصد صرف د کور ښائسته

www.dawateislami.net

کول او د دُنیا خوشحالي وي او په اولاد حاصلولو کښې ئې د آخرت د فائِدې ښه ښه نیتونه نه وي، نو داسې ده لکه دا بې اولاده کس چه په بې خیالئ کښې د "یو چا" په دُنیا کښې د پیدا کیدو او بیا د هغه په ډیر غټ امتحان کښې د اخته کیدو خواهِش کوي! زما په دې خبره هغه کس پوهیدې شي چه هغه پخپله د "بدې خاتمې ویره" لري. د یو خوفِ خُدا لرونکي بُزُرگ **حضرت** سَیِّدُنا فُضَیل بن عَیاض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د فرمان خلاصه ده: **زه د غټو نه غټ نیك بنده** [په قِسمَت] **باندې هم رشك نه کووم** [یعني د هغه قِسمَت د ځان د پاره نه غواړم] **ځکه چه هغه به د قیامت سختئ وِیني، زه په هغه رشك کووم چه هغه "هیڅ هم" نه وي.** (یعني هډو پیدا شوې نه وي) (حِلیَةُ الاولیاء ج۸ ص۹۳ رقم ۱۱۴۷۰ مُلَخَّصاً)

اَمِیرُالمُؤمِنین حضرت سَیِّدُنا **فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ **د یرې دَ غَلَبې** په وخت کښې اُوفرمائیل: کاش! **چه زه د موره هډو پیدا شوې نه وې!** (اَلطَّبَقاتُ الکُبْرٰی لِابنِ سعد ج۳ ص۲۷۴) **دَ اللّٰه** تعالٰی **دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وشي.** اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

کاش! کہ میں دُنیا میں پیدا نہ ہُوا ہوتا — قبر و حَشر کا ہر غم ختم ہوگیا ہوتا
آہ! کثرتِ عِصیاں ہائے خوفِ دوزخ کا — کاش! اِس جہاں میں نہ بشر بنا ہوتا
آہ! سَلبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے
کاش! میری ماں نے ہی مجھ کو نہ جنا ہوتا (وسائلِ بخشش ص۲۵۶،۲۵۸)

کاش! چه زه په دُنیا کښې نه وې پیدا شوې
د قبر او حشر غم به مې ټول وې ختم شوې
آه! ډیرې زیاتې نافرمانئ، هائے د دوزخ ویره
کاش! چه په دې جهان کښې زه بشر نه وې جوړ شوې
آه! د بدې خاتِمې، یرې وخوړمه زه
کاش! چه زه د موره، نه وې پیدا شوې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

د یو عالِم پلار عِبرت ناک انجام

دا صحیح ده چه د مور او پلار په حق کښې اولاد کله نعمت هم ثابتیږي خو کله داسې هم کیږي چه د مور او پلار د اولاد په صحیح اسلامي تربیت باندې د تَوَجُّه نه ورکولو په وجه اولاد د ډیرې غټې پریشانئ او زحمت باعِث هم جوړیږي، په دې خبره باندې د پوهه کیدو د پاره په **حِلیَـةُ الاولیاء** کښې ورکړې شوې دا حِکایت ولولئ. چنانچه حضرت سَیِّدُنا مالِك بِن دینار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: **منقول** دي چه په بني اسرائیلو کښې به یو **عالِم صاحِب** په کور کښې اجتِماع کوله او په هغې کښې به ئې بیان کولو، یوه ورځ د هغوئ ځلمي ځوئ یوې ښکلـي جینئ ته په سترګه اشاره وکړه، دا منظر هغه عالِم صاحِب ولیدو نو وئې وئیل چه: "**اے ځویه صبر وکړه.**" د دې وینا سره عالِم صاحِب د خپل تخت [یعنیSTAGE] نه پړمخ راغوزار شو تر دې چه د هغه د هډوکو بعضې جوړونه هُم مات شو، د هغه د ښځې حمل اوغورزیدو او د هغه ځامن په جنګ کښې مړه شو، **الله** تعالٰی د هغه وخت نبي عَلَیْهِ السَّلَام ته وحي اُوفرمائیله چه فُلانکي عالِم ته خبر ورکړه چه زه به د هغه په نسل کښې کله هم **صِدِّیق** پیدا نه کړم، آیا زما د پاره صرف دومره ناراضه کیدل پکار وو چه هغه ځوئ ته [صرف دا] اُووئیل چه: "**اے ځویه صبر وکړه.**" (حِلیَةُ الاولیاء ج۲ ص۴۲۲ رقم ۲۸۲۳) **یعني** مطلب دا دې چه په خپل ځوئ ئې سختي ولې ونکړه او هغه ئې د دې بد حرکت نه په صحیح طریقه وَلې منع نه کړو؟ په دې روایت کښې د "صِدِّیق" ذِکر دې، د اولیائے کرامو د ټولو نه افضل قِسَم ته صِدِّیق وائي. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ زمونږه **غوثِ اعظَم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه صِدِّیق وو.

د پِنسِل د غلا نه د پانسئ د زندئ پورې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اولاد داسې تربیت کول پکار دي چه هغوئ د وړوکوالي نه د ښو خبرو سره مینه کوي او بدې خبرې بدې ګڼړي، که داسې ونکړې شو نو کیدې شي چه ماشوم وران شي او چه بیا لوئ شي نو ډیر غلط کار وکړي لکه څنګه چه وائي چه **یو خطرناك ډاکو** ګرفتار کړې شو او مقدمه پرې وچلیده او د ډاکې وهلو او د قتل او بربادئ مختلف جرمونه

www.dawateislami.net

پرې ثابِت شو او د هغې په وجه ورته د **پاڼسۍ سزا** واورَوَلې شوه، کله چه د پاڼسۍ وخت نزدې راغې نو د هغه نه د هغه د آخِري ارمان پوښتنه وکړې شوه، هغه د خپلې مور سره د ملاقات خواهش بیان کړو، چنانچه د هغه مور راوستې شوه، **چه څنګه ئې خپله مور ولیدله، نو یو دَم ئې پرې حمله وکړه او وهل ټکول ئې شروع کړل،** په ډیوټۍ موجودې عملې په څه طریقه زخمي مور د بې رَحمه ځوئ نه خلاصه کړه، د هغه ډاکو نه د دې ظالِمَانه حرکت تپوس وکړې شو نو هغه اُووئیل چه: زه د پاڼسۍ تختې ته هم دې مور رارَسَوَلې یم، در اصل قِصّه داسې ده چه په وړوکوالي کښې د ناپوهتیا په دَوَر کښې ما یو ځل د سکول د یو طالِبِ عِلم نه **پِنسل غلا** کړو، کور ته مې راوړو او مور ته مې اُوښودو، نو پکار خو دا وه چه مور ما ته د دې غلط کار نه نفرت راکړې وې خو دا صرف مُسکۍ شوه او ما ته ئې هیڅ هُم ونه وئیل، هغه وخت زه څه پوهیدم! ما وئیل ګنې چه ما څه ډیره غټه کارنامه کړې ده! ځکه زما حوصله زیاته شوه او ما نورې پنسلې او کاپیانې غلا کول شروع کړل، چه کله غټ شوم نو د **غلا** عادت مې ښه پوخ شوې وو او زړه مې ښه غټ شوې وو لِهٰذا ما **ډاکې وهل** شروع کړل، د دې لوټ مار په دوران کښې زما د لاسه بعضې قتلونه هم وشو او زه ډیر "**خطرناك ډاکو**" جوړ شوم. آخر پولیس ګرفتار کړم او نن به لږ ساعت پس د خپلې نالائقې مور د غلط تربِیَّت په وجه زما په مرئ کښې د پاڼسۍ رسۍ واچولې شي.

د آخِرت د سزا په مُقابَله کښې د دُنیا سزا هیڅ هم نه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د ماشوم والي غلط تربِیَّت څه وکړل! کیدې شي چه څوك دا سوچ کوي چه مونږه د خپل اولاد څه غل خو نه جوړوو ! ټِیك ده ټول مور او پلار "د غلا عامه طریقه" یعني باقاعده د نورو مال د غلا کولو تعلیم نه ورکوي خو ګناه صرف غلا خو نه ده، نور هم داسې ډیر ګناهونه دي چه هغه مور او پلار خپل اولاد ته زده کوي مَثَلاً په دروغو او په دوکه او په کم ناپ تول خپل مال خرڅول وغیره. نو آیا د سُود لین دَین کول، خپل خراب مال د نورو په نظر کښې د ښه ښکاره کولو طریقې او [په دوکه] د هغې د خرڅولو طریقې زده کول یا ځوئ د ګِیرې پریښودو او لور د شرعي پرده کولو وغیره نه منع کول ګناه نه ده؟ آیا داسې کونکي

www.dawateislami.net

[خلق] د مُعاشرې" **تهذیب یافته غله او په سپینه جامه کښې ډاکوان**" نه دي؟ آیا په دُنیا کښې عِزَّت مند ښکاریدو والا دا خلق به ګنې په آخِرَت کښې هم د عِزَّت حاصلیدو اُمِّید لري! قَسَم په خدائ چه! هغه ډاکو ته د پاڼسئ کوم دُنیاوي تکلیف ورسیدو او د هغه مور ته چه هغه د لږ ساعت تکلیف ورسیدو نو د دې [دُنیاوي تکلیف] په مُقابله کښې به اولاد ته د ګناهونو د تربیت ورکولو کوم عذاب چه [مور او پلار ته] ورکولې کیږي نو د هغه عذاب کروړمه حصَّه به هُم [د دې دُنیاوي تکلیف نه] کروړونه همره زیات سخت او تکلیف ورکوونکي وي. اَلاَمان وَ الْحَفِیظ

د پلار د سیزلو د پاره لرګي راوړم

زمونږه په موجوده معاشره کښې پیښه شوي یوه عجیبه او افسوسناکه واقعه چه واورئ نو حیران به پاتې شئ چه د مور او پلار د طرف نه د سُنَّتو ډك تربیت نه کولو په صورت کښې اولاد څنګه عجیبه کارنامې کوي! چنانچه د حیدرآباد ښار (پاکستان) د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه په 2001ء کښې زمونږ په ځائ کښې یو غټ مالدار سَیټ مړ شو. خلق د هغه په عالیشانه بنګله کښې جمع وو، د مرحوم د ۱۹ کالو ځوئ چه هغه په یو ماډرن سکول کښې سبق وئیلو، هغه چرته د تلو د پاره یو دم په ډیره تادئ پاڅیدو، چا ترې د تادئ کولو تپوس وکړو نو هغه اُووئیلې چه: "زما پلار به زما سره ډیره مینه کوله، ما دا سوچ وکړو چه په آخري وخت کښې په خپلو لاسو د هغه څه خِدمت وکړم، نو زه ځم او د هغوئ د مړي سوزَوَلو د پاره پخپله لرګي راوړم." خلقو چه دا خبره واوریدله نو ډیر زیات حیران شو ځکه چه د ده پلار خو مسلمان وو نو بیا ولې دا د هغه د سوزَوَلو د پاره په لرګو پسې ځي! خلقو چه سوچ وکړو نو په دې نتیجه ورسیدل چه دې نادان به د غیرمُسلمو په فِلمونو کښې د مړو د سوزَوَلو نظارې لیدلي وي او د ده په دِماغو کښې به هم دا خبره پرَتَه وي چه هر څوك مړ شي نو سوزَوي به ئې، دا د فلمونو شوقین د دې نه هم نه دې خبر چه مُسلمانان مړي سوَزَوي نه بلکه خَخَوي ئې. بهرحال د هغه مرحوم پلار خخ کړې شو. چه د فلمونو د دې خوفناك غلط اثر دا واقعه د هغه علاقې خلقو ته معلومه شوه نو هغوئ ته عِبرت حاصل شو، ډیر ځلمي په جوش کښې راغلل او"کیبلې" ئې کټ کړې. د څه

www.dawateislami.net

وخته پورې خو هم دا حالت وو خو ورو ورو نفس او شیطان بیا غالِب شو او کیبلې ئې بیا ولګولـي!

سروَرِ دیں! لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیّدا کب تک دباتے جائیں گے (حدائقِ بخشش شریف)

شرح کلامِ رَضا: زما د آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې شعر معنٰی ده: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زمونږ د کمزورو غلامانو د ګناهونو نه حِفاظت اُوفرمائې، اے آقا! مونږ به د ګناهونو د مرض نه آخِر کله شِفا مومو! آخِر دا نفس او شیطان به د څو پورې مونږه په ګناهونو کښې اخته کوي! (د نفس او شیطان د شر نه د بچ کیدو بهترینه طریقه دا ده چه د یو پیرِ کامِل مُرید جوړ شئ ولې چه په هغه جامِع شرائط پیر باندې د نفس او شیطان وار نه شي چلیدې نو د هغې په بَرَکت به د هغوئې د مُریدانو هم د حفاظت وسیله جوړه شي. یو سرائیکي شاعر څه ښه وئیلي دي)

پیر دے ہتھ وِچ ہتھ کُوں ڈے کر
نفس دی بانہہ مَروڑتاں توں ہِک تھیویں

(یعني خپل لاس د یو پیرِ کامِل په لاس کښې ورکړه او [د هغوئې په زور] د نفس مړوَند تاؤ کړه چه تا ته د فَنا مقام حاصِل شي)

د ایصالِ ثواب انتِظار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې عجیبه واقعه کښې عِبرت او ډیر عِبرت دې. اګرچه نن تاسو ژوندي ئې خو صبا به یقیناً مړه کیږئ، که تاسو خپل ځوئ ته صِرف او صِرف دُنیاوي تعلیم ورکړو، دولت ګټل هم ورزده کړل، ډیرې سندرې هم ورته واورولې، قِسم قِسم فِلمونه مو پرې وکتل او دیني تعلیم مو پرې ونه وئیلو او نه مو ورزده کړو، د جُمات لار مو ورته ونه ښودله، د هغه په زړه کښې مو د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت شمع روښانه نه کړه، د مَکّي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نښه خوږه خوږه مُبارکه ګیره مو پرې پرې نه ښوده بلکه ښه فیشني مو ترې جوړ کړو نو یاد ساتئ! نه به هغه ستاسو د جنازې لـمونځ وکړې شي او نه به هغه ته ستاسو د پاره د **اِیصالِ ثواب** کولو طریقه ورځي! حالانکه د مرګ نه پس به تاسو ته د اِیصالِ ثواب ډیر زیات

www.dawateislami.net

حاجت وي. د **سرکارِ نامدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشادِ مُشکبار دي: د مړي حال په قبر کښې د ډوبيدونکي انسان په شان دې ځکه چه هغه ډير زيات اِنتظار کوي چه د پلار يا مور يا ورور يا د يو دوست دُعا هغه ته را ورسي او چه کله د چا دُعا هغه ته ورسي نو د هغه په نِزد هغه دَ دُنیاوَمَافِیْہا(يعني دُنيا او څه چه په دې کښې دي د هغې) نه غوره وي. **الله** تعالٰی قبروالؤ ته د هغوئي د ژوندو مُتَعَلِّقينو [يعني تَعَلُّق لرونکو] د طرف نه هَدِيَّه شوې ثواب د غرونو په شان ورکوي، د ژوندو هَدِيَّه (يعني تُحفه) د مړو د پاره د "بخښنې دُعا غوښتل" دي. (شُعَبُ الایمان ج٦ ص ٢٠٣ حدیث ٧٩٠٥)

ہر بھلے کی بھلائی کا صدقہ
اس بُرے کو بھی کر بھلا یا رب! (ذوقِ نعت ص٦٠)

د هر نيك کس د نيکئ په خاطِر دا بد هم نيك جوړ کړه ته يا ربّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

زه خپل پلار برباد کړم!

يو ځلمي سګِ مدينه عُفِيَ عَنْہُ ته يو اوګد او درد ناك خط ورکړو، هغه په تَصَرُّف سره پيش کووم، چنانچه د هغه ځلمي بيان دې چه: زه د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې نوې نوې راغلې ووم، يو ځل مې د شپې په اولنئ حِصّه کښې په خپله کوټه کښې دننه لاس اوچت کړي وو او په ژړا ژړا مې د خپلو **ګناهونو نه توبه** ويستله. زما د ژړا آواز ئې چه واوريدو نو والِد صاحِب مې وَيَريدو او زما کوټې ته راغلو. د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول نه د بې خبرئ او لرې والي په وجه هغوئي زما په ژړا او زارئ پوهه نه شو، هغوئي زه د لاسه ونيولم او پا ئې څولم او لاس نيولې ئې خپلې کوټې ته بوتلم، هلته ئې کښېنولم او تِې. وِي ئې راته چالو کړو او وئيل ئې: پوره **مُولا** مه جوړيږه، دا هم ګوره. ما اګرچه د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول په بَرَکت د نورو ګناهونو سره سره د فِلمونو، ډرامو، سندرو او سازونو نه هم توبه کړې وه، خو پلار په تې.وي کتلو مجبوره کړم، هغه وخت په تې.وي يوه "ډرامه" روانه وه، د بې حيا جينکو بې حيا اداګانو زما په جذباتو کښې جوش راپيدا کول شروع کړل، آه! اوس لږ ساعت مخکښې ما د **الله** تعالٰی د يَرې نه ژړل او اوس....اوس....

www.dawateislami.net

نفساني خواهشاتو په ما یو دم غلبه وکړه، شیطان هم موقع اوموندله او خپل وار ئې وچلوَلو او هم هلته په ناسته ناسته په ما "غسل فرض" شو! د دې واقعې نه پس زه یو ځل بیا د ګناهونو په دلدل کښې خخ شوم. ولې چه د **ظالـمې معاشرې** بې ځایه رسم ورواج زما په نکاح کښې یو غټ رُکاوټ جوړ شوي دي ځکه ما د شَهوَت پوره کولو د پاره په خپلو لاسو خپله ځواني بربادَوَل شروع کړل او اوس خبره دې حد ته رسیدلـي ده چه د ګنده حرکتونو په وجه زه اوس د واده قابل پاتې نه یم. [حضرت صاحِب تاسو] اووائې! چه **مُجرِم څوك دې؟ زه پخپله که زما والِد صاحِب؟**

د حقیقي مَدَني ماشوم خوفِ خُدا

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څنګه نازك دور راغلې دې چه نن مور او پلار د "هلاك کونکي مهربانئ" په ذریعه په خپلو لاسو خپل اولاد د جَهَنَّم کندې ته غورزَوي تر دې که اولاد پخپله خپله اِصلاح کول غواړي هم نو د هغوئ [د نیك جوړیدو د] لارې د بندولو کوشش کوي، داسې مور او پلار لکه چه په خپل داسې کار کولو دا اِعلان کوي چه: "مونږ جَهَنَّم ته یواځې ولې لاړ شو خپل اولاد به هم د ځان سره بوځو(مَعَاذَالله)." یو دور هغه وو چه د **الله تعالیٰ** یَره لرونکي مور د رحمت نه ډکه غیږه کښې لوئ شوو او د عشقِ مُصطفٰی لرونکي پلار د مهربانئ په تربِیَّت کښې غټو شوو **مَدَني ماشومانو** به په معاشره باندې داسې نښې پرېښودې چه د هغوئ ښکلې اداګانې نن هم زمونږ زړونه ځان ته راښکاږي، چنانچه د څلورو کالو یو **حقیقي مَدَني ماشوم** سَیِّد زاده په بازار کښې په چغو چغو ژړل، یو صاحِب چه د آلِ رسول د خدمَت جذبه ئې لرله ورته عرض وکړو: شهزاده! خیر خو دې؟ که د څه څیز ضرورت وي نو ما ته حکم وکړئ چه اوس په دې ساعت ئې درته راوړم. دا ئې چه واوریدل نو د مَدَني ماشوم د ژړا آواز نور هم اوچت شو او وئیل ئې: کاکا جانه! د **الله تعالیٰ** د غضب او د جَهَنَّم د عذاب د یرې نه مې زړه رپیږي! هغه صاحِب ورته په مِینه عرض وکړو: شهزاده! اوس خو لا تاسو ډیر وړوکې ئې، د اوس نه دومره ولې یَریږئ؟ خاطر جمعَ (یعني په اطمینان سره) اوسئ! ماشومانو ته به عذاب نه ورکولې کیږي. دا ئې چه واوریدل نو مَدَني

www.dawateislami.net

ماشوم د خپلې يَرې حال نور هم ښکاره کړو او په ژړا ژړا ئې اُووئيل چه: کاکا جانه! ما ليدلي دي چه د غټو لرګو سوَزَوَلو د پاره د هغو نه واړه واړه لرګي او چخچي راتاؤ کړې شي، دا واړه لرګي زر اور اَخلي او د دې سره بيا غټ لرګي اور واخلي او اوسوَزي! زه يَرېږم چه هسې نه کله چه د ابوجهل او ابولَهَب په شان غټ غټ کافران په جَهَنَّم کښې سوزَوَل کيږي نو د هغوئي د سوَزَوَلو د پاره د وړو لرګو په ځائ ما اور ته غوزار نه کړي! **خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو خبر ئې چه هغه د څلورو کالو حقيقي مَدَني ماشوم څوك وو؟ هغه بل څوك نه وو! بلکه زمونږ د زخمي زړونو درمان او د اهلِ بيتِ اَطهار د سترګو ستورې حضرت سَيِّدُنا **امام جَعفر صادِق** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وو.

(بِتَغَيُّر اَنيسُ الواعِظين ص ۷۵)

تیری نسلِ پاک میں ہے بچّہ بچّہ نور کا
تو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: زما آقا اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې شعر کښې فرمائي: **يا نُورَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو خو ئې نُور بلکه نُورٌ علٰی نُور (يعني په نُور د پاسه نُور ئې). ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مُبارَك نسل کښې چه به د قيامته پورې خومره بچي وي يعني ساداتِ کرام، هغوئي هم ټول نُور دي. اے د نور والا خوږ خوږ آقا! ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله کورنۍ نُور، نُور او بس نُور ده.

نور اندر نور باہر گھر کا گھر سب نور ہے
آگیا وہ نور والا جس کا سارا نور ہے

بَهر نُور کور کښې نُور هر طرف ته نُور دې راغلو هغه نُور والا، ټول نُور چه د چا نُور دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د دين په کارونو کښې د حوصله ماتولو والا مور پښيمانتيا

مور او پلار له پکار دي چه خپل اولاد ته د شروع نه د نيکو او د سُنَّتو ډك **مَدَني ماحول** ورکړي، ګنې د بد صُحبَت په وجه د ورانيدو په صورت کښې وار د لاسه تلې شي. سګِ مدينه عُفِيَ عَنْہُ ته د هغه مَشرې خور اُووئيل چه: يوې اسلامي خور د خپل ځوئ د اِصلاح د پاره په ژړا ژړا د

www.dawateislami.net

دُعا عرض کړې دې، غریبې وئیل چه، هائے! هائے! ما د خپله لاسه هغه برباد کړې دې، هغه مو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُالمَدینه کښې د حِفظ د پاره کښینولو خو هغه غریب به چه کوم سُنَّتونه زده کړل او بیا به ئې هغه په کور کښې بیانول نو مونږه به په هغه پورې ټوقې کولې. آخِر دا چه د هغه زړه مات شو او هغه مَدرسةُالمَدینه ته تلَل پرېښودل، اوس د بدو دوستانو په صُحبَت کښې د اوسیدو په وجه لوفر شوې دې، په خوش قسمتۍ سره اوس ما ته د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول نصیب شوې دې اوس زه ډیره زیاته پښیمانه یم، هائے زما سره به څه کیږي!

صُحبتِ صَالِح تُرا صالِح کُنَند　　صُحبتِ طالِع تُرا طالِع کُنَند

(یعني د ښه [کس] صُحبَت به تا ښه جوړ کړي) (د بد صُحبَت به تا بد جوړ کړي)

د سُنَّتو ډکې اِجتِماع فضیلت

خپل اولاد ته هم د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شریك کیدو رَغبت ورکوئ او پخپله هم د حاضریدو سعادت حاصلوئ، د داسې اِجتماعاتو د برکتونو به څه وائې! چنانچه د **نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظیم دې چه: د قیامَت په ورځ به څه خلق داسې وي چه نه به اَنبیاء وي او نه شهیدان، (خو) د هغوئ د مخونو نُور به د کتونکو سترګې بریښوي. اَنبیاء او شهیدان چه د هغوئ مقام او د **الله** [په بارګاه کښې] نزدیکت اُووِیني نو خوشحالي به ښکاره کوي. په صحابۂ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان کښې یو صحابي عرض وکړو: **یارسولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا به څوك (خوش نصیبه) وي؟ ارشاد ئې اُوفرمائیلو: دا به د مُختلِفو قبیلو او استوګنو خلق وي څوك به چه (په دُنیا کښې) د **الله** تعالٰی د ذِکر د پاره جمع کیدل او پاکې خبرې به ئې داسې راټولولې څنګه چه د کجورو خوړلو والا بهترینې کجورې راټولوي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب لِلْمُنذری ج۲ ص ۲۵۲ حدیث ۲۳۳٤)

یقیناً مقدَّر کا وہ ہے سکندر
جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی
دِلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول　　(وسائلِ بخشش ص۶۰۲)

www.dawateislami.net

یقیناً د مُقَدّر هغه دې سِکندر چا ته چه نصیب شو په خیر دا مَدَني ماحول
دلته ده موقع د سُنّتو زده کولو در به کړي تا ته خوفِ خُدا مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

غافِل ځلمي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خوفِ خدا نه د زړه لړزَوَلو د پاره، په عشقِ مُصطفٰی کښې روح بې قراره کولو د پاره، د ګناهونو عادت ختمولو او د نیکو جذبه زیاتولو د پاره او خپل ځان د سُنَّتو نمونه جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره خپل تعَلُّق مضبوط ساتئ، هره میاشت کم نه کم د درې ورځو د پاره د سُنَّتو د تربِیَّت په **مَدَني قافله** کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر کوئ. او په مَدَني اِنعاماتو د عمل مطابق د خپل ژوند شپې او ورځې تیروئ. راځئ چه! ستاسو د جذبې زیاتولو د پاره تاسو ته یو "**مَدَني سپرلې**" واورَووم، چنانچه د **گلزارِ طیبه** (سرګودها، پنجاب، پاکستان) یو اسلامي ورور د خپلې توبې احوال بیان کړي دي، د هغې خُلاصه وړاندې کووم: د دعوتِ اسلامي د پاك او خوشبوداره مَدَني ماحول نه د بَرَکتونو حاصلولو نه مخکښې زه د ځوانئ په نشه کښې مَست ووم او د لوفرانو دوستانو په صُحبَت کښې مې د خپل ژوند قیمتي وختونه بربادول، په مُعاشره کښې کیدونکي داسې یوه ګناه نه وه پاتې چه زه به په هغې کښې نه ووم اخته شوې، په جینکو پسې شا ته شا ته تلَل، په هغوئي پسې آوازونه کول، شپه په **کلب** کښې او ورځ د تاش او بِلیَرڈ (د اسنوکر په شان یوه لوبه) په لوبیدو کښې بربادول او د کور والؤ په نصیحت کولو هغوئي ته کنزلې کول زما عادتونه جوړ شوي وو. ژوند مې هم دغسې په ګناهونو او غفلت کښې تیریدلو چه په خوش قِسمتئ سره د یو عاشقِ رسول د **اِنفِرادي کوشش** په برکت د دعوتِ اسلامي خوشبوداره مَدَني ماحول رانصیب شو. د عاشقانِ رسول د صُحبَت په وجه ما ته په نیکو باندې د عمل کولو او د ګناهونو نه د لرې اوسیدو جذبه نصیب شوه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ماکِیره پرېښوده او شنه عِمامه مې هم په سر کړه، د مَدَني کارونو شوق رانصیب شو او د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي اِدارې مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه مَدَني رسالې په کوڅو او کور په کور د تقسیمولو ذِهن مې هم جوړ شو.

www.dawateislami.net

مرا ہر عمل بس تیرے واسطے ہو کر اخلاص ایسا عطا یا الٰہی

زما هر یو عَمل دِ وي دا ستا د پاره کړې داسې اِخلاص را عطا یا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د دې مَدَني سپرلي په باره کښې د نیکئ دعوت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! د "**اِنفِرادي کوشش**" هم څه ښکلي سپرلي وي! په ګناهونو کښې مست اوسیدونکې غافِل ځلمې په **عشقِ رسول** کښې مَست شو. مونږ ته هُم په هر چا باندې اِنفِرادي کوشش کول پکار دي، که څوك زمونږه خبره اُومني او که نه زمونږ د پوهه کولو ثواب چرې هم نه ځي! زمونږ د اِنفِرادي کوشش په وجه که څوك په سمه لار روان شو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی زمونږه به هم بیړئ پوریوځي. د **بد صُحبَت** نه همیشه لرې اوسیدل پکار دي ځکه چه د دې په وجه اِنسان خرابیږي او په قِسَم قِسَم ګناهونو کښې اخته کیږي او ښه صُحبَت همیشه ښه اثر کوي چنانچه د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارې **مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه** چاپ شوي د ۵۶ صفحو کتاب "**اچھے ماحول کی برکتیں**" صفحه ۱۸ او ۱۹ کښې دي چه: په یو حدیث شریف کښې دي چه، د حضرتِ ابُو رَزین رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه هغوئي ته **رَسُولُ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: آیا زه تا ته د هغه څیز اصل لار ونه ښایم چه ته په هغې د دُنیا او د آخِرت ښیګړه اُومومې (پس هغه اصل څیز دا دې چه) ته د ذِکر کوونکو مجلس اختیار کړه. (شُعَبُ الایمان ج٦ ص٤٩٢ حدیث ٩٠٢٤)

د دې حدیثِ پاك نه لاندې مشهور مُفَسِّر **حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه د (ذکر والؤ د) مجلس نه مراد د عُلمائے دِین او اولیائے کامِلین، صالحین و واصلین (یعني د **الله** تعالٰی د نیازبین بندګانو) مجلسونه دي ځکه چه دا مجلسونه د جَنَّت باغونه دي څنګه چه په دویم حدیث شریف کښې دي چه. دا مجلسونه خواه که مدرسې وي یا د درسِ قرآن و حدیث مجلسونه وي یا د حضراتِ صوفیائے کِرام مِحفَلونه وي. دا فرمان ډیر جامِع دې. په کوم مجلس

کښې چه د الله تعالیٰ ویره او د حُضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِشق او د اِطاعتِ رَسول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شوق پیدا شي هغه مجلس اِکسیر (یعني فائده مند) دې. (مِراٰۃُ المَناجیح ج ٦ ص ٦٠٣ تا ٦٠٤)

سَمَنور جائے گی آخِرت اِن شاء اللہ تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول
بَہُت سخت پچھتاؤ گے یاد رکھو نہ عطّار تم چھوڑنا مدنی ماحول

(وسائل بخشش ص ٦٠٤)

ښکلې به دِ شي آخِرت اِنْ شَآءَاللّٰه — ته مضبوط ونیسه دا مَدَني ما حول
شې به ډیر زیات پښیمانه یاد ساته — ته عطّارؔ مه پریږده دا مَدَني ما حول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

کَلِمۂ طَیِّبه به فائِده ورکوي ترڅو پورې چه.....

د حضرت سَیِّدُنا اَنس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د رسولانو سالار، د نبیانو سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشادِ فرمائي: "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ (مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللہ)" به همیشه خپلو لوستونکو ته فائِده رَسَوي او د هغوئي نه به عذاب لرې کوي تر څو چه د دې حق سپك ونه ګنړي. صحابۂ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کَلِمۂ طَیِّبَه حق سپك ګنړل څه دي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: یَظْهَرُ الْعَمَلُ بِمَعَاصِی اللّٰهِ فَلَا یُنْکَرُ وَلَا یُغَیَّرُ یعني (د "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللہُ" حق سپك ګنړل دا دي چه) د الله تعالیٰ د نافرمانئ کارونه لِیدل شي [خو] نه هغه منع کړې شي او نه بدل کړې شي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب ج ٣ ص ١٨٤ حدیث ٣٥٣٨)

د اِسلام ٨ حِصّې

د حضرت سَیِّدُنا حُذیفَه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه د اِسلام اته حِصّې دي: (١) اِسلام (٢) لـمونځ (٣) زکوٰۃ (٤) د رَمَضان روژه (٥) حَجِّ بَیتُ الله (٦) د نیکئ حکم ورکول (٧) د بَدئ نه منع کول او (٨) د الله تعالیٰ په لار کښې جِهاد کول. او هغه کس کامیاب نه دې د چا چه څه حِصَّه نه وي. (شُعَبُ الایمان ج ٦ ص ٩٤ حدیث ٧٥٨٥)

په دُنیا کښې به هم سزا ورکوله شي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کوم قوم چه د طاقت لرلو باوُجود ګناه کوونکي د هغې نه نه منع کوي، اندیښنه ده چه هغه نه منع کوونکې قوم د مرګ نه مخکښې په دُنیا کښې په عذاب کښې ګرفتار شي. چنانچه د حضرتِ سَیِّدُنا جَرِیر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه **د دواړو جهانو سردار** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي چه: که په یو قوم کښې یو کس په ګناه کښې اخته وي او د قوم خلق باوجود د قُدرته [یعني د طاقت لرلو باوجود] هغه د ګناه نه منع نه کړي نو **الله** تعالٰی به د هغوئ د مرګ نه مخکښې په هغوئ باندې خپل عذاب نازِل کړي. (سُنَنِ اَبُو داؤد ج ٤ ص ١٦٤ حدیث ٤٣٣٩)

په آخِرت کښې به هم سزا ورکولې شي او په دُنیا کښې هم

د دې حدیثِ پاك لاندې په "مِراٰةُالمَناجِیح" کښې دي چه: په کوم قوم یا ډله کښې چه بعضې خلق په بدئ کښې اخته وي او هغه قوم د منع کولو د طاقت لرلو باوُجود هغوئ منع نه کړي نو هغوئ به هم د **الله** تعالٰی د عذاب حقدار وي او دا عذاب به هغه خلق د مرګ نه مخکښې په دُنیا کښې اُووِیني. حضرتِ شیخ عبدُ الـحق مُحَدِّثِ دِهلوي (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) فرمائي چه د بدئ په بدلَوَلو [یعني منع کولو] کښې کوتاهي کول د نورو جُرمونو په مُقابَله کښې په دې وجه جُدا دي چه د نورو ګناهونو **سزا** به په آخِرَت کښې ورکولې شي خو د دې کوتاهئ **سزا** به په دُنیا کښې ورکولې شي او د آخِرَت عذاب به د دې نه علاوه وي. (مراٰةُ المَناجِیح ج ٦ ص ٥٠٧)

ستاسو زړه نه لړزیږي!

د جَنَّت د همیشه همیشه اوسیدونکو نعمتونو طمع لرونکو **اسلامي ورونړو!** ستاسو زړه نه لړزیږي؟ تاسو نه یَریږئ؟ چه **الله** تعالٰی خو بې نیازه دې، هغه څه پرواه لري چه خلق دِ هغه ته سجده وکړي، یقیناً که ټول مخلوق هم د هغه په بارګاه کښې سرونه ښکته کړي نو بیا هم د هغه په ذات باندې د چا احسان نشته، مونږ ته د هغه د بې نیازئ او پټ تدبیر نه یَریدل او د هغه د

عذاب نه پناه غوښتل پکار دي، آخِر په دُنیا کښې به تر څو پورې مزې کوئ! یاد ساتئ! یوه نه یوه ورځ به هر یو ته مرګ راځي، د تورو تِیارو قبر ته به کوزیږې، او د خپلو کړو بدله به مومي.

اَلْمَوْتُ بَابٌ كُلُّ نَفْسٍ دَاخِلُهَا　　اَلْمَوْتُ قَدَحٌ كُلُّ نَفْسٍ شَارِبُهَا

یعني مرګ یوه داسې دروازه ده چه په هغې به هر ساه لرونکې تیریږي او مرګ یو داسې جام دې چه هر یو به ئې څښي.

جی لگانے کی جا نہیں دنیا　　کس کو حاصِل دَوام ہوتا ہے

دا دُنیا نه دې ځائ د زړه لګولو　　دلته هیڅ څوك نه وي مُدام ژوندې

د مړي بې وَسي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! هغه وخت به بنده څنګه بې وسه وي چه روح به ئې د بدن نه وَتلې وي او هغه وخت به څومره د بې وسئ عالَم وي چه د بدن نه به ئې قیمتي جامې وِیستلې شي، غَسَّال[یعني غسل ورکوونکې] به غسل ورکوي، د لَتّې کفن به وراغوستلې کیږي، څنګه د افسوس ساعت به وي چه جنازه به ئې پورته کیږي، هائے! هائے! هغه دُنیا چه د هغې د ښائسته کولو د پاره ئې ټول عمر منډې وهلې وې، د هغې د پاره ئې د شپې خوبونه قُربان کړي وو، د دې د پاره د قِسماقِسم خطرو سره مخامخ شوې وو، د حسد کوونکو د رُکاوټونو جوړولو باوُجود ئې مقابله کړي وه او د دُنیا مال ئې ګټلې وو، ښه ډیر دولت ئې جمع کړې وو،کوم کور ئې چه مضبوط جوړ کړې وو او بیا ئې په قِسما قِسم فرنِیچر ښکلې کړې وو، هغه هرڅه به ترې پاتې وي او دې به رُخصَتیږي. آه! قیمتي جامې به ئې مُوکې [هَینګر] ته زوړندې پاتې شي، که موټر ئې وو نو هغه به ترې هُم په ګیراج کښې ولاړ پاتې شي، د لوبو سامان، د عیش او عِشرت سامانونه او د هر قِسمه مال او اسباب به ترې په ځائ پاتې شي، هغه وخت به د **مړي بې وَسي** اِنتِها ته ورسیږي چه کله د هغه قدر کوونکي خلق هغه په خپلو اُوګو د پاسه واخلي او د دې بې وَفا دُنیا د عارضي خوشحالو

www.dawateislami.net

او په رنړاګانو ځلیدونکي فاني کور نه ئې اُوباسي او د تِیارو نه ډك قبر کښې د هغه د خخولو د پاره اَدِیرې [یعني مقبرې] ته روان شي.

عالمِ انقلاب ہے دُنیا چند لمحوں کا خواب ہے دُنیا
فخرؔ کیوں دل لگائیں اِس سے نہیں اچّھی، خراب ہے دُنیا

د شعر ترجَمه: یعني د دُنیا حالات ډیر زر زر بدلیږي، دا دُنیا بس د لږ ساعت خوب لیدل دي.د دې سره زړه لګول نه دي پکار، ځکه چه دا دُنیا ښه نه ده خرابه ده!

د قبر زړه درزوُونکې د نیکئ دعوت

حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدالعزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د یوې جنازې سره مقبرې ته تشریف یوړَلو، هلته د یو قبر خوا ته کښیناستلو او په سوچ کښې ډوب شو، یو کس عرض وکړو: یا اَمِیرَ المُؤمِنین! تاسو رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه دلته یواځې ولې ناست ئې؟ وئې فرمائیل: اوس اوس یو قبر ما ته غږ وکړو او وئې وئیل: اے عمر بن عبد العزیز (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه)! زما نه دا تپوس ولې نه کوې چه کوم خلق زما غیږې ته راشي زه د هغوئ سره څه سلوك کووم؟ ما هغه قبر ته اُووئیل: ما ته ضرور اووایه. هغه [قبر] اُووئیل: کله چه په ما کښې څوك خخ کړې شي نو زه د هغه **کفن اوشلوم** او بدن ئې ټکړې ټکړې کړم او د هغه غوښې اُوخورم. آیا تاسو به زما نه دا تپوس نه کوئ چه زه د هغه د جوړونو سره څه کووم؟ ما اُووئیل: دا هم راته اووایه. نو هغه [قبر] اُووئیل: ''لاسونه ئې د مړوَندونو نه، زنګونان ئې د پنډو نه او پنډئ ئې د ښپو نه جُدا کووم.'' د دومره وئیلو نه پس حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدالعزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سلګو سلګو په ژړا شو، چه لږ په هوش کښې راغلو نو څه داسې د عِبرَت ''مدني ګلونه'' ئې پیش کړل: **اے اسلامي ورونړو!** په دې دُنیا کښې زمونږه اوسیدل د ډیر لږ وخت د پاره دي، څوك چه په دې دُنیا کښې د اِقتِدار خاوند دې هغه به په (آخرت کښې) ډیر زیات ذلیله او خوار وي، څوك چه په دې دُنیا کښې مالدار دې هغه به (په آخِرت کښې) فقیر وي. د دې [دُنیا] ځلمې به بُوډا شي او څوك چه ژوندي دي هغوئ به مړه شي. دَ دُنیا ستاسو طرف ته راتلَل تاسو په دوکه کښې اخته نه کړي، ځکه چه تاسو ته معلومه ده چه دا ډیره زر رخصتیدو والا ده. څه شُو د قرآن مجید تلاوت کوونکي؟ څه شُو د **بیتُ الله** حج کوونکي؟ څه شُو د

www.dawateislami.net

رَمَضانُ المُبارك روژې نیولو والا؟ خاورو د هغوئي د بدنونو سره څه وکړل؟ د قبر چینجو د هغوئي د غوښو څه انجام وکړو؟ د هغوئي د هډوکو او جوړونو سره څه سلوك وشو؟ قَسم په خدائے! کوم (بې عمله) چه به په دُنیا کښې په نرمو نرمو بِسترو پراته وو اوس هغوئي د آرام او سکون نه پس د خپل کور او وطن نه لرې په تنګۍ کښې دي، د هغوئي اولاد په کوڅو کښې خوار و زار ګرځي ځکه چه د هغوئي کونډو [ښځو] بیا نکاح ګانې وکړې او خپل کورونه ئې آباد کړل، د هغوئي خپلوانو د هغوئي په کورونو قبضه وکړه او د هغوئی میراث ئې په خپل مینځ کښې تقسیم کړو. **وَاللّٰه!** په هغوئي کښې بعضې خوش نصیبه هم دي چه په قبرونو کښې مزې کوي او بعضې داسې هم دي چه په عذابِ قبر کښې اخته دي.

افسوس په کروړونو افسوس! اے نادانه! نن چه ته [د هغوئي] د مرګ په وخت کښې کله د خپل پلار، کله د خپل ځوئ او کله د خپل سَکه ورور سترګې بندوې، په هغوئي کښې چا ته غسل ورکوي، چا ته کفن اَغوندې، د چا جنازه په اُوګو کوې او څوك د قبر په تنګه او توره تِیاره کنده کښې خخوې، (یاد ساته! صبا دا هر څه ستا سره هم کیدونکي دي) [بیا ئې اُوفرمائیل] کاش! چه ماته عِلم وې چه (په قبر کښې به) اول زما کوم یو رُخسار سخا کیږي بیا حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په ژړا شو او په ژړا ژړا کښې بې هوشه شو او یوه هفته پس ئې د دې دُنیا نه تشریف یوړو [یعني وفات شو]. (اَلرَّوضُ الفَائق ص۱۰۷)

حُجَّةُ الاسلام حضرت سَیِّدُنا امام ابو حامِد محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په "**اِحیاءُ العُلوم**" کښې نقل کوي چه: د وَفات په وخت کښې د حضرتِ سَیِّدُنا عمر بن عبد العزیز رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په ژبه دا آیتِ کریمه جاري وو:

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِیْنَ لَا یُرِیْدُوْنَ عُلُوًّا فِی الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِیْنَ۝ (پ۲۰ القصص:۸۳)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: دا د آخِرت کور مونږ د هغوئي د پاره ګرځوو څوك چه په زمکه تَکَبُّر نه غواړي او نه فساد، او عاقِبت یواځې د پرهیزګارانو د پاره دې.

(اِحیاءُ العُلوم ج۵ ص۲۳۰)

یاد رکھ ہر آن آخِر موت ہے بن تُو مت اَنجان آخِر موت ہے
مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی عاقِل و نادان آخِر موت ہے
کیاخوشی ہو دل کو چَندے زِیست سے غَمزدہ ہے جان آخِر موت ہے
مُلکِ فانی میں فنا ہر شَے کو ہے سن لگا کر کان آخِر موت ہے

بارہا عِلمی تجھے سمجھا چکے
مان یا مت مان آخِر موت ہے

هر وخت یاد ساته آخِر دِ مرګ دې مه جوړېږه بې پروا آخِر دِ مرګ دې
مري شپه او ورځ په زرګاؤ انسانان عقلمند او هُم نادان آخِر دِ مرګ دې
څه به شُو خوشحاله په دې لږ شان ژوند زړه مې دې غمګِین چه آخِر مرګ دې
هر شې به فنا شي ده فاني دُنیا واوره په ډېر غور آخِر دِ مرګ دې
څو ځله مې پوهه کړې ته اے عِلمیؔ که منې او که نه آخِر دِ مرګ دې

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

عِزَّت والا به ذلیله کړي

حضرت سَیِّدُنا جَرِیر بِن عَبدُاللّٰه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: که په یو قوم کښې مُعَزَّزِین یعني عِزَّت والا خلق داسې بدي منع نه کړي چه د هغې په منع کولو هغوئي قدرت لري نو **الله** تعالٰی هغوئي ذلیله کړي. (تَنبِیهُ الْمُغْتَرِّین ص ۲۳۶)

د غوڅو شوو غوږونو والا کُونړ

حضرت سَیِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: څوك چه واوري چه فُلانکې کس په بد کار (یعني ګناه) کښې اخته شو او بیا (د طاقت لرلو باوجود) هغه ګناه کوونکې منع نه کړي نو د قیامَت په ورځ به هغه **د غوڅو شوو غوږونو والا کُونړ وي**. (اَیضاً)

www.dawateislami.net

د ګناه نه نه منع کول کله ګناه ده

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په بیان شوو دواړو رِوایتونو باندې بیا بیا غور وکړئ! د طاقت لرلو باوجود ګناه کوونکې د ګناه نه د نه منع کوونکي د پاره د ذِلَّت او په آخِرت کښې د "غوڅو شوو غوږونو د کانړه" په حالت کښې د راپاڅیدو سزا ده، دا مسئله ښه یاده ساتئ چه کله یو کس ګناه کوي او د لیدونکي غالِب ګمان دا وي چه که منع ئې کړم نو منع به شي نو اوس به منع کول **واجِب** شي که منع ئې نه کړي نو ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې. بنده ته تقریباً هره ورځ داسې موقعې پیښیږي چه بعضې خلق د لاعلمئ په وجه یا د غفلت په سَبَب "بې خونده ګناه" کوي. اوس که غور وکړې شي نو ډیر ځله داسې فِکر جوړیږي چه که فلانکې پوهه کړم نو خبره به اُومني. خو بنده د سستئ یا شرم او لِحاظ په وجه هغه منع نه کړي او دغسې ګنهګار او د اور د عذاب حقدار وګرځي. زما خپله ذاتي تجربه ده چه **ناجائزه ګوتئ** په ګوته کوونکي، په غاړه کښې د وسپنې زنځیر اچولو والا وغیره مې چه کله پوهه کړي دي نو اکثرو هغه سمدستي لرې کړي دي، بعضې مې داسې لیدلي دي چه په جوش کښې راغلي دي او د سرو زرو زنځیر ئې مات کړې دې! صحیح ده چه هر یو داسې نه کوي او هر یو په نورو باندې دومره اثر هم نه لري خو څوك چه با اثره شَخصِیَّت وي د هغه د پاره د داسې قِسمه ګناهونو نه منع کول ګران نه وي او چه غالِب ګمان وي چه ګناه کوونکې به خبره اُومني نو په دې صورت کښې خو به منع کول **واجب** شي.

د سرو زرو ګوتئ د نارینه د پاره حرامه ده

شهزادۀ اعلیٰ حضرت، تاجدارِ اهلِسُنَّت، حُضُور مُفتئ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په داسې قِسمه معاملو کښې ډیر زیات مُتَحَرِّك وو [یعني فوراً به ئې منع کول] چنانچه **"مفتی اعظم کی اِستقامت و کرامت"** صفحه ۱٤٦ کښې د رَئیسُ القَلَم حضرت عَلَّامه ارشدُ القادري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په حواله نقل دي چه: د هغوئ (یعني سرکارِ مفتئ اعظم هِند) د پاره به د ټولو نه زیات تکلیف ورکوونکې هغه منظر وو چه کله به ئې یو مسلمان د اسلامي شریعت خلاف څه کار کول باندې ولیدو د **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف وَنَهْیٌ عَنِ**

اَلْمُنْکَر (یعني د نیکئ د حکم ورکولو او د بدئ نه د منع کولو) د **فرض** ادا کولو په وخت کښې به هغوئ وړوکي او لوئ، مالدار او غریب او حاکِم او مَحکوم کښې هیڅ فرق نه کولو. د هغوئ د دربار دا عام معمول وو چه که د غټ نه غټ مالدار به وو یا د اوچتې نه اوچتې عُهدې لرونکې افسر به وو، د هغوئ په خدمت کښې د حاضریدو په وخت کښې به که د هغه په ګوته کښې د **سرو زرو ګوتئ** وه نو فوراً به ئې پرې لرې کوله او په ډیره مینه اومحبَّت به ئې هغوئ ته نصیحت کولو چه په شریعتِ محمَّدي (عَلٰی صاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام) کښې د نارینۀ د پاره (په ډیرو صورتونو کښې) د سرو زرو استعمال حرام دې. بیا به ئې په ډیر زړه راښکونکي انداز کښې ارشاد فرمائیلو: ځینې ګناه یو ساعت دوه ساعته یا یوه ګینټه یا دوه ګینټې وي خو د سرو زرو د ګوتئ ګناه داسې ده چه ترڅو پورې د چا په ګوته وي مسلسل ګناه او ګناه ده. (د ګوتئ په باره کښې تفصیلي احکام د دې باب د صفحه ۵۰۸ نه واخله ۵۱۱ کښې اُوګورئ)

مفتیٔ اعظم سے ہم کو پیار ہے ان شاءَاللّٰہ اپنا بیڑا پار ہے

مُفتیِ اعظم سره لرو مونږ محبّت
اِنْ شَآءَاللّٰه ډیر به مو ښه وي عاقبت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د شادو او د خِنزِیر په شان مخونو والا

د **بیلمانځو**، ردې بدې وئیونکو، د غیبتونو او چغلئ عادت لرونکو، د فلمونو او ډرامو کتونکو او په قِسماقِسم ګناهونو کښې د اخته خلقو په صحبت کښې اوسیدونکي او د طاقت لرلو باوجود هغوئ د ګناه نه نه منع کوونکي دِ وَیَریږي ځکه چه د **اللّٰه تعالٰی محبوب** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: په هغه ذاتِ پاك مې دِ قَسَم وي د چا په قبضۀ قدرت کښې چه د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ساه ده! زما په اُمَّت کښې به بعضې خلق د خپلو قبرونو نه د **شادو** او **خِنزِیر** په شکل

www.dawateislami.net

کښې پاڅي، دا به هغه خلق وي چا چه د ګنهګارانو سره تعَلُّقات ساتل او د قدرت لرلو باوجود ئې هغوئي د ګناهونو نه منع نه کړل. (تفسِیر دُرِّ منثُور ج۳ ص ۱۲۷)

د شادو او د خِنزِیر په شان مخونه

هم دغه رنګ د مخونو مسخ کیدلو یعني ورانیدلو مُتعَلِّق یو بل روایت اُوګورئ او فکرمند شئ چنانچه حضرت سَیِّدُنا اَبُو اُمامَه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه د دې اُمَّت نه به بعضې خلق د قیامت په ورځ د **شادو** او **خِنزیر** په شکلونو کښې پاڅي، ولې چه هغوئي د نافرمانو [خلقو] سره کښیني پاڅي او هغوئي (د ګناهونو نه) نه منع کوي **حالانکه** هغوئي د هغوئي د منع کولو طاقت لري. د دې روایت نقل کولو نه پس حضرت عَلّامه عبدُالوهاب شَعرانـي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: زه وایم چه د نافرمانه خلقو سره د ناستې ولاړې ساتلو والؤ به دا حال وي چه هغوئي به پخپله غافِله هم نه وي او په ګناهونو کښې به اخته هم نه وي نو د هغه خلقو به څه حال وي د چا چه خپل اندامونه د ګناه نه نه بس کوي! مونږ د **الله** تعالٰی نه د هغه د مهربانئ سوال کوو. (تَنبِیهُ المُغْتَرِّین ص ۲۳۷)

نن مو د مخ دانې او نښې پریشانه کوي خو.....

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو دا دواړه رِوایتونه ولوستل! آیا تاسو سره څه غم پیدا نه شو؟ لږ سوچ خو وکړئ! نن که د چا په مخ دانې وغیره راوخیژي یا ئې په مخ څه نښه جوړه شي نو هغه به څو څو ځله ډاکټرانو له لاړ شي یعني بنده د خپل مخ په رنګ او ښائِست کښې معمولي غوندې او هغه هم عارضي خرابي نه شي برداشت کولې نو غور وکړئ چه که څوك په ګناه کولو اُووِینو او غالب ګمان مو دا وي چه که پوهه ئې کړم نو منع به شي بیا هم هغه د هغه ګناه نه د نه منع کولو په وجه مې که صبا د قیامت په ورځ **مَعَاذَاللهُ** مخ وران شي او د **شادو** او د **خِنزیر** په شان شي نو څه به کووم! دا خو د ګناه نه د نه منع کوونکي د صُحبت اختیاروونکي حال دې او څوك چه پخپله ګناه کوي نو معلومه نه ده چه د هغه به پخپله څه انجام کیږي!

زما د تِیارو لارې روښانه شوې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د جَنَّتُ الفِردَوس د ګټلو د پاره او نور خلق هم په دې لاره باندې د روانوَلو د پاره، د دوزخ د عذاب نه ځان د بچ کولو د پاره او نور هم د هغې نه د يَرَوَلو د پاره **د نیکۍ د دعوت** په مَدَني کار کښې هر دم مشغول اوسئ. هره ورځ د فِکرِمَدِینه په ذریعه د **مَدَني انعاماتو** رساله پخپله هم ډکوئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکوئ، پخپله هم هره میاشت د درې ورځو په مَدَني قافله کښې سفر کوئ او نورو ته هم د دې دعوت ورکوئ، ستاسو د ترغیب او [د نیکۍ د] حِرص زیاتولو د پاره تاسو ته یو **مَدَني سپرلې** اورَووم: د **حافِظ آباد** (پنجاب، پاکستان) اوسیدونکي یو اِسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه: د **دعوتِ اسلامي** دَ مَدَني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه د ګناهونو په جوړه کنده کښې ورځ په ورځ خخیدم. فلمونه ډرامې کتل، سندرې او سازونه اوریدل، د بې حیائې نه ډکې ناولې [یعني قِصّې] لوستل زما د ژوند معمول جوړ شوې وو. زه داسې غټ لوفر ووم چه ټوله شپه به مې د کوره بهر د بدو دوستانو په صُحبت کښې د ژوند قیمتي ساعتونه بربادَوَل، زما د دې غلطو حرکتونو په وجه د کور ټول کسان سخت تنګ او پریشانه وو. د **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره تعَلُّق لرونکي زما مشر ورور به زما د اِصلاح ډیر زیات کوشش کولو خو د هغه د نصیحت په خبرو باندې عمل کول خو پریږده، زه د سره هډو د هغه خبرو اوریدو ته تیار نه وُوم. زما ورور په مستقِل مزاجئ سره په ما کوشش کولو. آخر د هغوئ فکرمندي پکار راغله. یوه ورځ قدرتي طور زما توَجُّه د هغه **خوږو خبرو** طرف ته لاړه، د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ نه ډکې د هغه خبرې مې چه واوریدلې نو په ما ډیر اثر وشو او د جذباتو نه په ژړا شوم. **اَلْحَمْدُلِلّٰهِ** عَزَّوَجَلَّ زما د سترګو نه د غفلت پرده لرې شوه او زما په زړه کښې خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ پیدا شو. ما د خپل ورور په مخکښې د ټولو ګناهونو نه په رښتیني توبه وکړه او د اسلامي ژوند تیرَوَلو وعده مې وکړه، د **الله** تعالیٰ په رحمت د خپل ورور سره د **دعوتِ اسلامي** په هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو سَعادت رانصیب کیدو ، **او د هغې په بَرَکت زما د ژوند د تِیارو لارې روښانه کیدل شروع شوې.** زما ورور ما ته د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په مدني قافله کښې د

www.dawateislami.net

سفر کولو د پاره اُووئیل نو ما د هغوئ په خواهش عمل وکړو او د دې لیك د وخته پورې اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په یوه مخه د ۲۶ میاشتو د مدني قافلې مسافِر یم. دا هر څه د یو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي یعني زما د خوږ خوږ مشر ورور په ما باندې په مُستَقِل مزاجئ سره کیدونکي د **اِنفِرادي کوشش** نتیجه ده چه زما په شان د دِین نه عملي طور ډیر لرې اوسیدونکې ګنهګار کس اوس د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح په کوشش کولو کښې عملي طور مشغول دې.

تمہیں لطف آجائے گا زندگی کا — قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول
نبی کی محبّت میں رونے کا انداز — چلے آؤ سیکھلائے گا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ٦٠٤)

تا ته به درکړي خوند دا خپل ژوند — ته راشه د نِزدې نه اُووِینه دا مَدَني ماحول
د نبی په محبّت کښې د ژړیدو انداز — ته راشه چه درته وښائي دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده چه! آخِر د مشر ورور په فکرمندئ سره مسلسل **اِنفِرادي کوشش** پکار راغې او کشر ورور د ګناهونو د دَلدَل نه را بهر شو او **د ۲۶ میاشتو د مدني قافلې** مسافِر جوړ شو. هر یو اسلامي ورور ته پکار دي چه هغه په کور کښې او د کور نه بهر په هر ځائ کښې د نورو خلقو د نیك جوړَولو د پاره ډیر ډیر اِنفِرادي کوشش کوي او ثوابونه ګټي، دا مَدَني کار دِ هیڅ کله نه پریږدي، **اِنفِرادي کوشش خو لکه د سرو زرو کان دې چه څومره ئې ګنئ هغه همره سره زر به ترې راأُوځي.** یعني چه څومره اِنفِرادي کوشش زیات وي هغه همره به ثواب هم زیات کیږي نو بَس د "ثواب سره زر" جمع کوئ، **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: که **الله** تعالٰی ستا په ذریعه یو کس ته هدایت ورکړي نو دا ستا دپاره د دې نه ښه دي چه ستا سَرَه **سره اُوښان** وي. (صحیح مُسلم ص ۱۳۱۱ حدیث ۲٤۰٦) که ستاسو په ذریعه چا هدایت اومومندو او مدني ماحول ته راغلو نو د هغې ثواب به د دې نه علاوه وي. که څوك د **مَدَني قافلې** مُسافِر جوړ شو نو د هغې ثواب جُدا او که څوك د **مَدَني انعاماتو** عامل جوړ شو نو بیا خو ستاسو مزې شوې! بس تاسو چه د څومره خلقو

www.dawateislami.net

د اصلاح سبَب جوړېږئ هغه همره به ستاسو ثواب زیاتیږي. بس هر وخت د نیکئ دعوت ورکوئ، **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي: اِنَّ الدَّالَّ عَلَی الْخَیْرِ کَفَاعِلِہٖ یعني بیشکه د نیکئ لار ښودونکي د **نیکئ** کوونکي په شان دي. (ترمذی ج٤ ص ٣٠٥ حدیث ٢٦٧٩)

جنتی ہے وہ جس نے سنّت کے
خود کو سانچے میں ڈھال رکھا ہے (وسائلِ بخشش ص ۳۵۷)

ترجَمه: هغه کس جنّتي دي څوك چه په هر عمل کښې په سُنّتو عمل کوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

یا رَبِّ مُصَطفٰی عَزَّوَجَلَّ په خاطِر د مُصَطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږه پخپله هم نیکئ کوونکي جوړ کړې او نورو ته هم د **نیکئ د دعوت** ورکولو توفیق راکړې، مونږه د ګناهونو نه وساتې او د نورو خلقو د ګناهونو نه بچ کولو والا مو جوړ کړې، یا **الله** عَزَّوَجَلَّ مونږه په جَنَّتُ الفِردَوس کښې بې حسابه داخل کړې او هلته راته د خپل خوږ حَبِیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښې ځائ را نصیب کړې. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مُعاف فضل و کرم سے ہو ہر خطا یا ربّ ہو مغفِرت پئے سلطانِ انبیا یا ربّ
بِلا حساب ہو جنّت میں داخِلہ یا ربّ پڑوس خُلد میں سرور کا ہو عطا یا ربّ
نبی کا صدقہ سدا کیلئے تُو راضی ہو
کبھی بھی ہو نا نہ ناراض یا خدا یا ربّ (وسائلِ بخشش ص ۹۸)

معاف مې په فضل او کرم کړې هر خطا یا ربّ کړې مغفرت مې په خاطر د مُجتَبٰی یا ربّ
ته بې حِسابه په جنّت کښې ما داخِل کړې ربّه جنّت کښې راکړې ته ګاونډ د مُصطفٰی یا ربّ
په صَدَقه د خوږ نبي را نه راضي شې ربّه کله هم نه شې ته ناراضه یا خُدا یا ربّ

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

”زه دعوتِ اسلامي سره مِينه کوُم“ د ۲۲ حروفو په نِسبَت دَ درسِ فيضانِ سُنَّت دوه وِيشت مَدَنی ګلونه

۞ **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”څوك چه زما اُمَّت ته يوه اِسلامي خبره ورسوي د پاره د دې چه د هغې په ذريعه سُنَّت قائم شي يا د هغې په ذريعه بدمذهبي لري کړې شي نو هغه جَنَّتی دې. (حِلْيَةُ الْاَولياء ج۱۰ص۴۵ رقم ۱۴۴۶۶)

۞ **سردار د مدينې** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دې: ” **الله تعالٰی** دِ هغه [کس] تر و تازه ساتي څوك چه زما حديث واوري، ياد ئې وساتي اونورو ته ئې ورسوي.“ (سُنن تِرمِذی ج۴ ص۲۹۸ حديث ۲۶۶۵)

۞ د **حضرت سَيِّدُنا اِدريس** عَلَيْهِ السَّلَام د نوم مبارك يو حکمت دا هم دې چه د کُتُبِ اِلٰهي په کثرت سره د درس و تدريس کولو په وجه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نوم اِدريس شو. (تفسير کبير ج۷ ص۵۵۰، تفسير الحسنات ج۴ ص۴۸)

۞ حضورِغوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: دَرَسْتُ الْعِلْمَ حَتّٰى صِرْتُ قُطْبًا يعني ما د علم **درس** حاصِلَوَلو تر دې چه زه د قُطْبِيَّتْ مقام ته ورسيدم. (قصيده غوثيه)

۞ دَ **فيضانِ سُنَّت** نه درس ورکول هم د دعوتِ اسلامي يو مَدَنی کار دې. کور، جُمات، دُکان، سکول، کالج، چوك وغيره کښې وخت مُقرر کړئ او هره ورځ د درس په ذريعه ډير ډير د سُنَّتو **مَدَني ګلونه** عام کوئ او ډير ثوابونه ګټئ.

۞ د **فيضانِ سُنَّت** نه هره ورځ کم نه کم د دوو درسونو ورکولو يا اوريدَلو سعادت حاصلوئ (په دې دوو کښې يو ”د کور درس“ ضرور پکار دې)

۞ د سيپاره ۲۸ سُوْرَةُ التَّحْرِيْم په شپږم آيت کښې ارشاد دې:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: **اے ايمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه اور نه وساتئ چه د هغې خَشاك انسانان او کانړي دي.**

خپل ځان او د خپل کور کسان د دوزخ د اور نه د بچ کولو يوه ذريعه د فيضانِ سُنَّت درس هم دې. (د درس نه علاوه د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري کړې شوې د سُنَّتو ډك بيان يا د مَدَنی مُذاکرې يو کيسټ يا V.C.D هم هره ورځ د خپل کور کسانو ته اورَوئ)

www.dawateislami.net

۞ ذمه دار دِ د کړئ وخت مقرر کړي او هره ورځ دِ د چوك درس اهتمام کوي مثلا د شپې نهه بجې **مدینه چوك** کښې، (نهه نیمې) بجې په **بَغدادي چوك** کښې وغیره. د چوټئ په ورځ د یو نه زیاتو ځائیونو کښې د چوك درس اهتمام کوئ (خو چه حقوقِ عامَّه ضائع نه شي مثلاً ستاسو په وجه د مسلمانانو لاره بنده نه شي کنې گنهگار به شئ)

۞ د **درس** د پاره داسې لـمونځ وټاکئ چه په هغې کښې د زیاتو نه زیات اسلامي ورونړه شریك کیدې شي.

۞ د **درس** والا لـمونځ هم په هغه جُمات کښې په اولني صف کښې د **جَمعې** او تکبیرِ اُولٰـی سره ادا کوئ.

۞ د **محراب** نه یو طرف ته (د جُمات په انگنړ وغیره کښې) یو داسې ځائ د درس د پاره مخصوص کړئ چه په هغه ځائ کښې نورو لـمونځ کوونکو او تِلاوَت کوونکو ته تکلیف نه رسي.

۞ د **ذِیلي** مُشاوَرَت نگران ته پکار دي چه په خپل جُمات کښې دوه خیر خواه مقرر کړي چه هغه د درس (یا بیان) په موقع باندې روان کسان په نرمئ سره حِصَاروي او ټول نزدې نزدې کښینوي.

۞ په **پرده کښې پرده** کوئ او د قَعدې [یعني د اَلتَّحِیَّات] په حالت کښې کښینئ او **درس** ورکوئ. که اوریدونکي زیات وي نو په ولاړه باندې یا د مائیك په ذریعه هم درس ورکولو کښې باك نشته، خو هله چه لـمونځ کوونکو او تِلاوَت کوونکو وغیره ته تکلیف نه رسي.

۞ آواز نه زیات اوچت پکار دې او نه ډیر کم، **حَتَّی الْاِمکان** په دومره آواز کښې درس کوئ چه صرف حاضرین ئې اوري. د دې خبرې همیشه اِحتیاط کوئ چه د درس و بیان په آواز کوم یو اُوده کس یا لـمونځ کوونکي یا په تِلاوت کښې مشغولو کسانو وغیره ته تکلیف نه رسي.

۞ **درس** په قلاره قلاره رفتار کښې او په درمیانه آواز کښې ورکوئ.

۞ چه کوم **درس** ورکوئ اول کم از کم هغه یو ځل لولئ چه غلَطئ پکښې نه کیږي.

۞ د **فیضانِ سُنَّت** مُعَرَّب [یعني زیر، زوَر، پیښ والا] الفاظ د اِعرابو مطابق ادا کوئ دغسې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د **تَلَفُّظ** صحیح ادا کولو عادت جوړ شي.

۞ **حَمد و صَلٰوۃ**، د درود و سلام دواړه صیغې، آیتِ درود او اِختتامی آیتونه وغیره یو سُنّي عالِم یا قاری ته ضرور واورَوئ، هم دغه شان د عربئ دُعاگانې وغیره مو چه تر څو سُنّي عالم ته نه وي اورَوَلي تر هغې ئې یواځې هم مه وائې.

www.dawateislami.net

۞ د فیضانِ سُنَّت نه علاوه د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَه نه شائع شوو مَدَنی رِسالو نه هُم درس ورکولې شئ.[1]

۞ درس سره د اِختِتامي دُعا په ووه مِنته کښې دننه دننه مکمل کړئ.

۞ هر مُبَلّغ ته پکار دي چه هغه د درس طریقه، آخِرې ترغیب او اِختِتامی دُعا په یادو زده کړي.

۞ د درس په طریقه کښې دِ اسلامی خویندې د ضرورت مطابق بدلون وکړي.

د فیضان سُنَّت نه د درس ورکولو طریقه

درې ځله داسې اعلان وکړئ: "نزدې نزدې تشرِیف راوړئ." [بیا درس ورکوونکې پخپله] د پردې د پاسه پرده وکړئ او د قعدې په انداز کښینئ او داسې شروع وکړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

د دِې نه پس داسې دُرود و سلام اووائې:

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

که په جُمات کښې ئې نو [پخپله هم او په نورو هم] داسې د اِعتکاف نِیَّت وکړئ.

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت وکړو)

بیا داسې اُووائې: خورو خورو اسلامی ورونړو! په تَوَجُّه او نظر ښکته ساتلو د اللّٰه تَعَالٰی د رضا د پاره د عِلمِ دِین حاصلولو په نِیَّت د "فیضانِ سُنَّت" دَرس واورَئ اخوا دِیخوا کتلو، په زمکه باندې په ګوته لوبې کولو، د جامو، بدن یا وِینښتو وغیره سَمَولو راسَمولو په وجه کیدې شي چه د دې بَرَکتونو ضائع شي. (د بیان په شروع کښې هم په دې انداز کښې ترغیب ورکوئ او [پخپله او په اوریدونکو

[1] (د اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د رِسالو نه علاوه د بل کتاب نه د درس کولو اِجازت نشته. **مرکزی مجلس شوریٰ**)

هم] ښه ښه نِیَّتونه کوئ) د دې وئیلو نه پس د **فیضانِ سُنَّت** وغیره نه په کتلو د درود شریف یو فضیلت بیانوئ او بیا داسې وائې:

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

څه چه لیکلي شوي وي هم هغه لولئ. د آیتونو او عربي عبارتونو صرف ترجَمه لولئ، د یو آیت یا د یو حدیث د خپل طرف نه بالکل هیڅ خُلاصه مه بیانوئ.

د درس په آخره کښې داسې ترغیب ورکړئ

(هر مُبَلِّغ ته پکار دي چه دا زبانی یاد کړي او د درس او بیان
په آخِره کښې بغیر د څه کمي یا زیاتی نه هم دغسې ترغیب ورکوي)

خوفِ خُدا او عِشقِ مُصطَفٰی حاصلولو د پاره په هر خیالي [یعني د اتوار په شپه] د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ مَدَنـي مُذاکره د کتلو او اوریدلو او په هر زیات [یعني د **جُمُعې** په شپه] د ماښام د لـمانځه نه پس د عاشِقانِ رَسُول د مَدَني تحریك دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتِماع کښې د ثواب په **نِیَّت** د ټولې شپې تیرولو عرض دې د ماسخُتن [د لـمانځه] نه پس هلته آرام وکړئ او که **الله** تعالٰی توفیق درکړي نو د **تَهَجُّد** لـمونځ هُم ادا کړئ هره میاشت کم از کم د درې ورځو په **مَدَني قافِله** کښې د سُنَّتو ډك سفر او هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذرِیعه "د نیك جوړیدو مَدَنـي نُسخه" [یعني] د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله [کښې خاني] ډکوئ او د هرې اسلامي میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دې په برکت به مو د سُنَّتو د پابند جوړیدلو، د ګناه نه د نفرت کولو او د ایمان د حفاظت د پاره د سوچ او فکر ذِهن جوړ شي.

په آخِره کښې په خُشُوع او خُضُوع (یعني د بدن په عاجزئ او د زړه په حاضرئ) او د قبلیدو د یقین سره په دُعا کښې د لاس اوچتولو د آدابو د خیال ساتلو سره بغیر د څه کمي او زیاتي داسې دُعا اُوغواړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ. **یا الله** عَزَّوَجَلَّ! په خاطِر د مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه، زمونږ د مور او پلار او د ټول اُمَّت بخښنه وکړي. یا الله پاکه! د درس غلطئ او زمونږه ټول ګناهونه معاف کړې، مونږه عاشِقانِ رَسُول، پرهیز ګاره او د مور او پلار فرمانبردار جوړ کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ!

www.dawateislami.net

مونږ ته په مَدَنی انعاماتو باندې د عمل کولو، په مَدَنی قافلو کښې د سفر کولو او د نیکئ د دعوت د عام کولو توفیق راکړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مسلمانانو ته د بیمارو نه، قرضدارئ نه، بې روزګارئ نه، د بې اولادئ نه ، د دروغژنو مُقَدَّمو نه، او د قِسم قِسم پریشانو نه خلاصې ورکړې. یاالله عَزَّوَجَلَّ! اسلام ته غَلَبه ورکړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د دعوتِ اسلامي په مَدَنی ماحول کښې استِقامَت راکړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د شین ګنبد نه لاندې ستا د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دِیدار کولو کولو کښې شَهادَت، په جَنَّتُ البقیع کښې خخیدل، او په جَنَّتُ الفِردَوس کښې د خپل مَدَنی حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصیب کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! د مدینې مُنَوَّرې د خوشبودارو او یخو یخو هواګانو په خاطِر زمونږه جائزو مرادونو باندې د رَحمت نظر اُوفرمائې.

کہتے رہتے ہیں دعا کے واسطے بندے ترے　　کردے پوری آرزو ہر بیکس و مجبور کی

(وَسائِلِ بخشش (مرمّم) ص۹۶)

وائې بندګان ستا، د پاره د دُعا یا ربّ　　پوره کړې د هر بې وسه او مجبوره مُدَّعا یا ربّ

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د شعر نه پس دا آیتِ مبارکه ولولئ:

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پ۲۲، الاحزاب: ۵۶)

ټول دِ دُرود اُووائې بیا دا آیتونه ولولئ.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ (پ۲۳، اَلصّٰفّٰت)

(په آخره کښې کَلِمه ولولئ او په سُنَّتو د عمل کولو په نِیَّت دواړه لاسونه په مخ راښکاړئ)

www.dawateislami.net

د درس د فائِدې حاصلولو د پاره د ثواب په نِیَّت (په ولاړه ولاړه نه بلکه) په ناسته په خوش اخلاقئ د خلقو سره ملاقات وکړئ، یو څو نوي اسلامی ورونړه د ځان سره نزدې کښینوئ او د **اِنفرادي کوشش** په ذریعه ښه په مُسکا مُسکا هغوئ ته د **مَدَنی انعاماتو** او **مَدَنی قافلو** بَرَکتونه بیان کړئ. (په ناسته ملاقات کولو کښې حکمت دا دې چه څه نه څه اسلامي ورونړه کیدې شي چه ستاسو سره کښیني ګنې په ولاړه ولاړه ملاقات کوونکي عام طور د تللو د پاره روان شي او دغسې د اِنفرادي کوشش د سعادت نه محرومه پاتې کیدې شئ)

تمہیں اے مُبلغ یہ میری دُعا ہے　　کیے جاؤ طے تم ترقی کا زِینہ

تا ته اے مُبَلِّغ دا زما دُعا ده　　روان اوسه په بره، ډیر په ترقئ کښې

دُعائے عطّار! یا اللہ عَزَّوَجَلَّ! زما او په پابندئ سره هره ورځ د فیضانِ سُنَّت نه کم نه کم دوه درسونه یو په کور کښې او دویم په جُمات، چوك، اسکول، وغیره کښې د ورکوونکي او اوریدونکي بخښنه وکړې او مونږه د حُسنِ اخلاق نمونه جوړ کړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مجھے درسِ فیضانِ سُنَّت کی توفیق　　ملے دِن میں دو مرتبہ یا اِلٰہی

ما ته د درسِ فیضانِ سُنَّت توفیق　　راکړې په ورځ کښې دو ځله یا اِلٰهی

د اِسراف تعریف

په غیرِ حق کښې خرچ کول. مثلاً د نافرمانئ په ځائ کښې خرچ کول.

(فتاوٰی رضویه ج۱ ص ۶۹۰)

د بُخل تعریف

د کوم څیز خرچ کول چه [په کوم ځائ کښې] شرعاً یا مُرَوَّتاً [یعني اخلاقي طور] ضروري وي هلته نه خرچ کول.　　(حدیقه ندیه شرح طریقة محمدیه ج۲ ص ۲۷)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د سنّتو سپرلي

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سنّت عالمګيرغيرسياسي تحريک **دعوت اسلامي** په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنّتونه زده کيږي او ښودلې شي، هره پنجشنبه (يعنې زيارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکې د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د توله شپه تيرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر، او هره ورځ د **"فکرِمدينه"** په ذريعه د مدني انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې په برکت سره به دسنّتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړيږي. **هراسلامي ورور دِ خپل دا ذِهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي،"** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په **"مدني انعاماتو،"** عمل او دټولې دنيا د اصلاح د کوشش د پاره په **"مدني قافلو،"** کښې سفرکول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

کوري

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net